د طبابت لنډ تاريخ

پوهاند عبدالحی مومني

Afghanic

Pashto PDF
2016

Funded by
Kinderhilfe-Afghanistan

ننگرهار طب پوهنځی
Nangarhar Medical Faculty

A Short History of Medicine

Prof A Hai Momeni

Download: www.ecampus-afghanistan.org

ننگرهار طب پوهنځی

د طبابت لنډ تاریخ

سی ډی سره

پوهاند عبدالحی مومني

خرڅول منع دي

۱۳۹۵

د طبابت لنډ تاریخ

A Short History of Medicine

پوهاند عبدالحی مومني

۱۳۹۵

Afghanic

Nangarhar Medical Faculty

Prof A Hai Momeni

A Short History of Medicine

Funded by
Kinderhilfe-Afghanistan

ISBN 978-9936-500-51-8

With CD

Not for Sale

2016

بسم الله الرحمن الرحيم

د طبابت لنډ تاریخ

پوهاند عبدالحی مومني

www.ketabton.com



د کتاب نوم　د طبابت لنډ تاریخ
لیکوال　پوهاند عبدالحی مومني
خپرندوی　ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی
وېب پاڼه　www.nu.edu.af
چاپ شمېر　۱۰۰۰
چاپ کال　۱۳۹۵
ډاونلوډ　www.ecampus-afghanistan.org
چاپ ځای　افغانستان ټایمز مطبعه، کابل

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځی پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کابل
تیلیفون　۰۷۵٦۰۱٤٦٤۰
ایمېل　textbooks@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.
ای اس بي ان　۹ ـ ۰ - ۹۸۷۳۱۷۲ ـ ۰ ـ ۹۷۸

د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردک څخه مننه کوم چې د کتابونو د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله منده یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنوال دوکتور فریده مومند

د لوړو زده کړو وزیره

کابل، ۱۳۹۵

د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمیر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

تر اوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، کاپیسا، کابل او کابل طبي پوهنتون لپاره ۲۲۳ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد او زراعت پوهنځیو (۹٦ طبي د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۱۰۰ طبي سره له ۲۰ غیر طبي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې Kinderhilfe-Afghanistan او ۴ نور غیر طبي د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنځیو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ویب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ ـ ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان نشي کولای عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پیدا کړي."

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هیواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړینه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي،

وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زمونږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو په واک کې ورکړو. همدارنګه د یاد شویو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه او نظریات له مونږ سره شریک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.

د مؤلفینو او خپروونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو په اساس برابر شي، خو بیا هم کیدای شي د کتاب په محتوی کې ځینې تیروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله مند یو تر څو خپل نظریات او نیوکې مؤلف او یا مونږ ته په لیکلې بڼه راولیږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی په تېرو کلونو کې هم د ننګرهار پوهنتون د ۱۰۰ عنوانه طبي او ۲۰ عنوانه غیرطبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه درلود.

په ځانګړې توګه د جي آی زیت (GIZ) له دفتر او Center for International Migration &) CIM Development) چې زما لپاره یې په تېرو پنځو کلونو کې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي دي، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له وزیرې پوهنوال دوکتور فریده مومند، علمي معین پوهنوال محمد عثمان بابري، مالي او اداري معین پوهنوال ډاکتر ګل حسن ولیزي، د ننګرهار پوهنتون د پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مؤلف څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو-کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو حکمت الله عزیز، احمد فهیم حبیبي او فضل الرحیم څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، اپریل ۲۰۱۶

د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰

ایمیل: textbooks@afghanic.org

د مننې پیغامونه

کله چې زما یو عنوان کتاب «تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان» په کال ۱۳۸۴ کې له چاپه راووت، د علومو اکادمی ځینو پوهانو هیله ښکاره کړه چې دغه اثر په پښتو ژبه واړول شي او ما هم د هغو سره هوډ وکړ چې دا کار به حتماً وشي او دا زما د پاره د لومړنۍ هڅونې پیل و.

وروسته کله چې د محترم د طبی علومو عالی داکتر پوهاند اکادمیسن محمد موسی وردگ د روغتیا مجله په خپریدو پیل وکړ ما هم مقالې لیږلې او د تحریر پلاوی په ډله کې هم وگمارل شوم. د محترم وردگ صاحب سره څه نا څه قلمي لیکنې هم دوام درلودلې. د دغو کارونو په دوام کې وردگ صاحب په ۱۳۸۶ کال زما څخه غوښتنه وکړه چې په پښتو ژبه یو کتاب ولیکل شي، د نظامي طبابت کادرونو څخه معلومات راټول شي او کیدای شی چې څو تنه د اثر په تالیف کې ونډه واخلي.

په لومړي سرکې د محترم دوکتور ولایت حبیبي سره چې د داخلي ناروغیو په خاصه توگه د زړه د ناروغیو پیاوړی داکتر او څو کاله د اردو د مرکزي روغتون او بیا د مسلحو قواو د طبي علومو اکادمي قوماندانې دنده د ده په غاړه وه، د هیواد څخه د باندې ورسره تماس ونیول شو خو هغه لیکنې مواد نه درلود او وعده یې وکړه چې کله افغانستان ته راستون شی څه نا څه لیکنی به منځ ته راوړي. خو تر اوسه پوری دا کار ونه شو.

د محترم وردگ صاحب سره په لاندی ټکو موافقه وشوه:

۱. د اسنادو، مدارکو او لیکنو را ټولول زما په غاړه و.

۲. د ليکنو تنظيمول او په پښتو ژبه اړول او د کمپيوتر چارې د مؤمنی په غاړه وو.

۳. مالی چارې د محترم وردگ صاحب له خوا تاديه کيږي.

د کتاب نوم، برخې او څپرکيو پلان جوړ او د وردگ صاحب له خوا تائيد شو.

په دی توگه لومړی د علومو اکادمی پوهانو او بيا د محترم وردگ صاحب څخه د زړه له کومی قدر داني او مننه کوم چې زه يې دې کار ته وهڅولم. د محترم وردگ صاحب مرسته په دغه ټکو نه خلاصيږي بلکې د نظامي طب په پوهنځي کې او وروسته زما سره ډيرې معنوي مرستې کړي دي لومړی دا چې د دوی په مرسته چې طبی علومو اکادمی مرستيال او نظامي طب پوهنځی قوماندان و او د محترم ډگروال انجينر محمد محسن اقبال چې د پوهنځي سياسی چارې ور په غاړه وې زما څلور عنوانه درسي او مسلکي کتابونه د اردو په مطبعه کې چاپ شوي دي. چې د هغو څخه مننه کوم محترم وردگ صاحب زما د پوهاند علمي رتبې د لاسته راوړلو په توگه ډيره همکاري راسره کړې او زما د علمي ترفيع لپاره يې ډير ښه نظر ښکاره کړی و.

دويم دا چې په ۱۳۷۹ کال په لومړيو کې محترم وردگ صاحب د ډيرو مصروفيتونو له کبله نشو کړای د افغانستان علومو اکادمی په جلسو کې اشتراک وکړي او د طبی علومو د مرکز کارونه پرمخ بوځي همدا و چې زه يې د يوې خوا د هغه لورنی او نيک نظر چې زما په برخه يې لرل او له بلې خوا پخوا کلونو کې د علومو اکادمی په سيمينارونو او نورو چارو کې مې اشتراک کړی و، زه يې د علومو اکادمي رهبري غړو ته معرفي کړم ترڅو د هغو سره په طبي چارو کې مرسته وکړم ځکه په هغه وخت کې د طبی علومو مرکز کې طبی کادرونه موجود نه وو، چې د وردگ صاحب دغه نيک کار زما څخه هېڅکله نه هيريږي.

د افغانستان په علومو اکادمی کې زما منل کېدل د محترم سر څېړونکی مرستيال محمد ناصر ناصر د علومو اکادمی علمی منشی او مولوی صاحب فيروزی د اکادمی رئيس په ډيره دلچسپی او خوښی سره ترسره شو. چې د هغو څخه د زړه له کومی مننه کوم.

محترم وردگ صاحب د ډيرو مصروفيتونو له کبله کوم تحريري سند يې و نشو کړای تهيه کاندی خو د کتاب لومړی برخې لپاره يې پراخه مالي مرسته کړې ده.

بيا د تورنجنرال الحاج دوکتور عبدالقيوم طوطاخيل سره تماس حاصل شو او د لومړي برخې په برخه کې په دري ژبه ليکنې راکړل او ضمناً د پاڼو د کمپيوتر کولو څخه وروسته د کتاب ځنې برخې تر نظره تير کړ چې لازمې لارښوونې او يادداشتونه يې پيشنهاد کړل چې د کتاب د محتوا د لا ښه کېدو لپاره گټور معلوماتونو وو.

محترم پوهاند محمد صديق رازقی نړۍ وال هغه ټولې ليکنې چې ورسره وې زما په اختيار کې کيښودلې چې دغه ليکنو د کتاب محتوا ډيره اوچته کړه او د عامی روغتيا وزارت پياوړی کادر محترم دوکتور عبدالولي غيور د کتاب د دويمی برخې وروستی څپرکی لابډای کړ.

د کتاب په ليکلو کې زما د کورنی ټولو غړو زمينه برابره کړی خو په خاصه توگه د کتاب د کمپيوتر چاری سره د دی چې نور مصروفيتونه يې هم درلود په ډيره حوصله مندی وليد جان مؤمنی په غاړه اخستي، د تکثير او نور مصارف يې يحيٰ جان مؤمنی او حامد جان مؤمنی په غاړه اخستی چې د خدای (ج) څخه دوی ته ښه صحت، د عمر اوږدوالی او په اړوندو وظايفو کې لا برياليتوبونه غواړم.

له امکان څخه لېری نه ده چې په دغه اثر کې نيمگړتياوې او اشتباه گانې موجودې نه وي. په دې اړوند د محترمو لوستونکو څخه هيله کيږي چې د دغه اثر د لا ښه والي، اصلاح او تکميلولو کې مرسته وکړي، ترڅو په راتلونکي کې داسې يو اثر چې د هېوادوالو تنده ور باندې ماته شي، وړاندی کړل شي.

په درنښت

لـــړ لـــيـــک

سر ليک **مخ**

د منني پيغامونه .... الف

سريزه ۱

لومړی برخه
په نړۍ کې د طبابت بهير
لومړۍ څپرکی

د طبيب او طبابت په هکله ځيني خبرې ۷

- طبابت تر ټولو غوره مسلک ۷
- د روغتيا او ناروغۍ سره د انسان اړيکي ۱۳
- د يو طبيب اخلاق، طبيعي کرکتر او کلتور ۲۵
- د ناروغ او طبيب خپل منځوني اړيکي ۲۹
- د طبابت سوګند نامې ۳۵

دويم څپرکی

په لرغونو پېړيو کې د طبابت ځانګړتياوې ۴۱

- په لومړنيو ټولنو کې د طبابت د ودی خصوصيتونه ۴۱
- د طبابت وده د مريي توب په ټولنه کې ۴۵
  - ➢ طبابت د سومريانو په زمانه کې ۴۶
  - ➢ د بابليانو په منځ کې طبابت ۴۷
  - ➢ د آشوريانو د طبابت څرنګوالی ۴۷
  - ➢ په لرغوني چين کې طبابت ۴۸
  - ➢ په لرغوني هند کې طبابت ۵۰
  - ➢ طبابت په لرغوني مصر کې ۵۲

➢ په لرغوني یونان کې طبابت ۵۷

دریم څپرکی

په منځنیو پېړیو کې د طبابت پر مختګ ۷۱
- طبابت په منځني اسیا کې ۷۷
- طبابت په اروپا او افریقا کې ۷۹
- د منځنیو پېړیو نامتو طبیبان ۸۳

څلوم څپرکی

په نویو پېړیو کې د طبابت پرمختګ ۱۲۷
- په نویو پېړیو کې پیاوړي طبیبان ۱۳۲
- په معاصر تاریخ کې د طبابت نوښتونه او پرابلمونه ۱۵۱

دویمه برخه
په افغانستان کې د طبابت تاریخ
لومړی څپرکی

تر اسلام د مخه د افغانستان طبابت ۱۷۵

دویم څپرکی

په افغانستان کې طبابت د اسلام له ظهوره د مغلو تر یرغل پورې ۱۸۹
- د طب او طبابت په باره کې د انجیل او تورات لارښووونې ... ۱۹۰
- د طب او طبابت په هکله د قرآن مجید حکمونه ۱۹۱
- طبابت د امویانو په دوره کې ۱۹۶
- طبابت د عباسیانو په دوره کې ۱۹۶
- طبابت د طاهریانو په عصر کې ۱۹۸

- طبابت د ساسانیانو په دوره کې ۱۹۹
- طبابت د غزنویانو په زمانه کې ۲۰۰
- طبابت د سلجوقیانو په زمانه کې ۲۰۱
- طبابت د غوریانو د واکمنۍ په دوره کې ۲۰۱
- طبابت د خوارزم شاهانو په زمانه کې ۲۰۱
- داسلامي طبیبانو خدمتونه ۲۰۶
- د اسلام تر ظهور وروسته د دې سیمې نظري او عملي خصوصیات ۲۰۸

دریم څپرکی

د افغانستان طبابت د مغل له یرغل نه د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې ۲۱۵

څلورم څپرکی

د افغانستان طبابت د شلمې پېړۍ له لومړیو څخه تر ۱۳۸۰ کال پورې ۲۳۳
- د امیر حبیب الله خان په دوره کې ۲۳۳
- غازی امیر امان الله خان په زمانه کې ۲۳۹
- د محمد نادر خان او اعلحضرت محمد ظاهر شاه په زمانه کې ۲۴۷
- د علي آباد سناتوریم ۲۵۷
- د روغتیا په اړوند خپرونې او د کلونو له مخې واقعات ۲۶۱
- د جمهوریت څخه تر لنډ مهالې دورې پورې د افغانستان طبابت ۲۸۰

پنځم څپرکی

طبابت د لنډ مهالې دورې څخه تر نن ورځې ۱۳۸۰-۱۳۸۹ .... ۲۹۳

دریمه برخه
په افغانستان کې د نظامي طبابت ځلانده تاریخ
لومړی څپرکی

په تاریخ کې د نظامي طبابت ریښې ۳۱۳

دویم څپرکی

نظامي طبابت او د هغه پرنسیبونه ۳۱۷

دریم څپرکی

د نظامي طبابت تشکیلات، ښوونه او روزنه ۳۲۳
- د اسلام تر مخه نظامي طبي تشکیلات ۳۲۳
- په اسلامي نړۍ (منځنیو پېړیو) کې د نظامي طبابت تشکیلات . ۳۲۵
- سدوزایانو (۱۱۶۰-۱۲۵۹هـ) دورې روغتیایي تشکیلات ۳۲۷
- په نظامي طبابت کې د هندي او ترکي داکترانو ونډه ۳۳۴
- نظامي طبابت د محمد نادر شاه په دوره کې ۳۳۹
- د محمد ظاهر شاه د سلطنت په دوره کې نظامي طبابت ۳۵۹
- نظامي طبابت د محمد داود خان د جمهوریت نه تر ۱۳۸۰ .... ۳۹۵
- په اردو کې د طبي اکمالاتو خصوصیتونه ۴۲۵
- نظامي طبابت د مجاهدینو د قدرت په وخت کې ۴۳۶

څلورم څپرکی

د مسلحو قواو طبي علومو اکاډمي ۴۴۱

پنځم څپرکی

د ملکي مدافعې عمومي ریاست روغتیایي څانګه ۴۵۳

شپږم څپرکی

د ۱۳۸۰ کال راهیسې د نظامي طبابت څرنګوالی ۴۷۱

اخځلیک ۴۷۳

نښلولې (ضمایم)

لومړۍ نښلولې:

په اردو کې د روغتیایي چارو مدیران، آمران او رئیسان ۴۷۹

دویمه نښلولې:

د کتابونو او آثارو فهرست چې د نظامي طبي کادرونو له خوا لیکل شوي دي ۴۸۱

د مؤلف لنډه پېژندنه

- پوهاند استاد عبدالحی مؤمنی ۴۸۹

ختم ۴۹۷

سریزه

تاریخ هغه علم دی چې د مکان او زمان په قید سره د بشري ټولنو د تکامل، جریان څخه بحث کوي. د ټولنې د پرمختګ او تکامل په جریان کې امکان لري داسې حوادث منځ ته راشي چې د انسانانو د افتخار وړ وګرځي او ممکن داسې حوادث هم تیر شوي وي چې آینده نسلونه ور باندی شرمیږي.

په هر صورت دواړه خواوې باید په دقیقه توګه تر مطالعې لاندې قرار ونیسي ترڅو موجوده وضع درک کړای شي او د زمانې او ټولنې په خواست سره مؤثر ګامونه واخیستل شي. په دې توګه مونږ خپل تېر شوی تاریخ د دی دپاره مطالعه کوو چې نننۍ اوضاع په صحیحه توګه درک کړو او د آینده له پاره خپله لاره پرانیزی و خو یوائې د خپلې ټولنې پر تاریخ باندې ځېړنه کفایت نه کوي بلکې سیمې او نړۍ پر اوضاعو باندې ځان اګاه کول اړین دی ترڅو زمونږ خپل تاریخ نورو خلکو ته روښانه شي.

په همدی دلیل ما هڅه وکړه ترڅو د افغانستان د طبابت تاریخ په مجرده توګه تر څېړنې لاندې ونه نیسم بلکې د سیمې او نړۍ پر تاریخ باندې هم رڼا واچوله شي. دغه اثر چې *«دطبابت لنډ تاریخ»* نومېږی په دریو برخو ویشل شوی دی.

لومړی برخه په نړۍ کې د طبابت بهیر تر غور لاندې نیول شوی چې لاندې څپرکي په برکی نیسي:

لومړی څپرکی – د طبیب او طبابت په هکله ځنې خبرې دي، طبابت تر ټولو غوره مسلک، د روغتیا او ناروغۍ سره د انسان اړیکي، د یو طبیب اخلاق، طبیعی کرکتر او کلتور، د ناروغ او طبیب خپل منځوني اړیکي او د طبابت سوګند نامې په بر کې نیسي. دغه څپرکی په حقیقت کې یو ښوونیز بحث دی چې طبي کارکوونکي څرنګه پخپل مسلک کې کولای شي د یو ناروغ او اړ انسان سره مرسته کولای شي. په دې توګه لومړۍ څپرکی د یو لاربښود په څېر روغتیایي کار کوونکو ته وړاندی شوی ترڅو هغوی پر خپل

مسلک باندې وویاړی او د هغه په رڼا کې د انسان سره په ډیره مینه مرسته ورسوي.

دوهم څپرکی چې په لرغونی پېړیو کې د طبابت ځانګړتیاوې دي، د طبابت د منځ ته راتلو او ودې شرایط تر غور لاندې نیول شوی او وروسته د مریی توب په دوره کې د بابلیانو، آشوریانو، چینایانو، هندیانو، مصریانو او یونیانانو طبابت تر څېړنې لاندی نیول شوې دې.

په دریمه څپرکی کې چې په منځنیو پیړیو کې د طبابت پرمختګ په بر کې نیسي زیاتره په منځنی آسیا، اروپا او افریقا کې د طبابت څرنګوالی تشریح شوی او د دغو پېړیو نامتو طبیبان هم په ګوته شوی دی.

څلورم څپرکی – په نویو پېړیو کې د طبابت پرمختګ تر غور لاندې نیول شوی چې په هغه کې په نویو پېړیو کې پیاوړی طبیبان او په معاصر تاریخ کې د طبابت نوښتونه او پرابلمونه په مشرح توګه توضیح شوی دی.

دویمه برخه – په افغانستان کې د طبابت تاریخ نومیږي.

په لومړی څپرکی کې تر اسلام نه د مخه د افغانستان طبابت توضیح شوی دی چې په دغه برخه کې د اوستا نقش په طبابت کې روښانه شوی دي.

په دویمه څپرکی کې په افغانستان کې طبابت د اسلام له ظهوره د مغلو تر یرغل پوری شرح شوی چې عمده ټکي یې د طب په باره کې د انجیل او تورات لارښوونې، د طب او طبابت په برخه کې د قرآن مجید حکمونه، طبابت په امویانو، عباسیانو، طاهریانو، ساسانیانو، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو، خوارزم شاهانو، د اسلامي طبیبانو خدمتونه او د اسلام تر ظهور وروسته د دې سیمې نظري او عملي طبابت خصوصیات په مشرح توګه توضیح شوی ده.

دریم څپرکی یې د افغانستان طبابت د مغل له یرغل نه د شلمې پېړۍ تر لومړیو پورې په بر کې نیسي چې دلته د امیرحبیب الله خان، امان الله خان، محمد نادر خان، محمد ظاهر شاه خان، د روغتیا په اړوند خپرونۍ او د کلونو له مخی واقعات او د جمهوریت څخه تر لنډ مهالې دورې پورې د افغانستان طبابت چې په هغه کې د شهید سردار محمد داود خان او نورو رژیمونو په برخه کې طبابت توضیح شوی دی.

په پنځم څپرکی کې طبابت د لنډ مهالې دورې څخه تر نن ورځې شرح شوی دی.

د کتاب دریمه برخه په افغانستان کې د نظامی طبابت ځلانده تاریخ څېړل شوی چې په لومړی څپرکی کې یې په تاریخ کې د نظامي طبابت ریښې، دویم څپرکی کې نظامي طبابت او د هغه پرنسیبونه، په دریم څپرکی کې د نظامی طبابت تشکیلات، ښوونه او روزنه شرح شوی چې لاندې موضوعګانې په بر کې نیسی:

د اسلام ترمخه نظامي طبي تشکیلات، په اسلامي نړۍ کې د نظامي طبابت تشکیلات، د سدوزیانو دورې روغتیایي تشکیلات، په نظامي طبابت کې د هندي او ترکي داکترانو ونډه، نظامي طبابت د محمد نادر شاه په دوره کې، د محمد ظاهر شاه په دوره کې، د سردار محمد داود خان د جمهوریت نه تر ۱۳۸۰ کال پورې او په اردو کې د طبي اکمالاتو خصوصیتونه په بر کې نیسي.

څلورم څپرکی کې د مسلحو قواو طبی علومو اکادمی په مفصله توګه توضیح شوې او په پنځم څپرکی کې د ملکي مدافعي عمومي ریاست روغتیایي څانګه شرح شوې ده. په شپږم څپرکی کې په لنډ ډول د ۱۳۸۰ کال راهیسی د نظامی طبابت ځرنګوالی په ښه شوی دي.

همدارنګه په دغه اثر کې دوه ښلولې چې په لومړۍ کې یې د روغتیایي چارو مدیران، آمرین او رئیسانو فهرست دی او دویمه ښلولې کې د کتابونو او آثارو فهرست چې نظامي طبي کادرونو له خوا لیکل شوی دي.

په دغه اثر کې ځنې برخې د «تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان» د پوهاند مؤمنی تالیف چې پښتو ژباړه یې محترم پوهاند رازقی صاحب کړې، کتاب څخه اقتباس شوی دی.

په درنښت

لومړۍ برخه
په نړۍ کې د طبابت بهير

لومړی څپرکی

د طبیب او طبابت په هکله ځینی خبری

طبابت تر ټولو غوره مسلک

درمل او درملنه هومره لرغونتوب لري څومره چې انسانی بشریت یې لري. لومړنی انسان د آفتونو لکه باد، اوربښت، طوفان، تودوښي، یخنۍ او وحشی ژوو څخه ځان ګوښه کاوه او کله چې به درد او ناروغي ورته پیښیده نو د ځان چاره یعنی درملنه به یې کوله.

لومړنۍ ښځه چې د خپل اولاد ځانګو یې خوځوله د ځان او اولاد د درملنۍ په فکر کې شوه. په دغه زمانه کې هغه طبیبه او درمل جوړونکۍ وه. په دې توګه داسې جوتیږي چې طبابت د ټولو طبیعي علومو په پرتله ړومبي توب لري، دا ځکه چې د لومړنیو انسانانو لپاره طبابت د جدي ضروریاتو څخه شمېرل کېده، او کله چې د تکلم او ناطقې قوه پیل کیږي او د اور کشف، د کار افزار ایجادېدل، د ښکار منځ ته را تلل، پر ځمکه باندې کار کول او د وحشي حیواناتو اهلي کول، دا هغه کشفیات دي چې د هغو له برکته د طبابت لومړني ګامونه واخیستل شول، او د زمانې په تیرید و سره یې خپل پړاونه ووهل تر څو چې اوسنی شکل یې ځان ته غوره کړ.

د طبابت علم او فن نسبت نورو علومو ته خاصې ځانګړتیاوې لري، دا ځکه چې دغه علم مستقیماً د انسان په خدمت کې قرار لري. او انسان د ټولو مخلوقاتو له جملې څخه الله پاک ته منلی او نږدې مخلوق دی، هغه ته یې د اشرف المخلوقات خطاب کړې او د ځمکې، هوا او بحر ټول نعمتونه یې د انسان د ګټې لپاره خلق کړیدی او هر هغه څه چې انسان ورته اړتیا لری په ځمکه کې پیدا کیږي لکه چې فرمایي: ترجمه «ستاسو د ژوندانه وسیلی مو په ځمکه کې پیدا کړې» (الاعراف - ۱۰) او د قرآن عظیم الشان په مختلفو آیاتونو کې راغلی چې: ترجمه «تاسو ته مو سیندونه او سمندرونه

مسخر کړل، څه چې په ځمکه کې دي او لمر او سپوږمۍ مو درته مسخر کړه، شپه او ورځ مو ستاسو په تسخیر کې در کړه او ټول کوم څیزونه چې په ځمکه او آسمان کې دی، هغه مو ستاسو په تصرف او تسخیر کې در کړل» (الجاثیه - ۱۲، ابراهیم - ۳۲، الحج - ۶۵، ابراهیم ۳۳، النخل ۱۲، الجاثیه - ۱۳).

پس د خدایﷻ لپاره په ټولو مخلوقاتو کې انسان ډیر معزز مخلوق دی. نو طبابت هم د انسان د ښیګڼی لپاره پیدا شوی او د هغه مخلوق په چوپړ کې دی چې پروردګار باندې ډیر ګران دی. نو ځکه دغه علم له فقی څخه وروسته منل شوی علم دی. د اسلام مقدس دین ارشادات د ښځې او نارینه لپاره دا امکانات مساعد کړ ترڅو چې د طبابت په هکله تحصیل وکړی او په همدې علت وو چې د عباسیانو په زمانه کې طبابت خپلې لوړۍ څوکې ته رسیدلې وو حال دا چې لویدیځه اروپا د جهالت په خوب کې ویده و.

په دی توګه دغه مخلوق (انسان) ته خدمت کول او هغه د ناروغیو او ناخوالیو څخه نجات ورکول دنیوي او اخروي ستر اجر لري. لکه چې د دې آیات کریم ترجمه داسې ده «چا چې ژوندی کړ یو نفس په تحقیق چې حیات ور کړیدی ټولو خلکو ته» (المائده -۳۲).

خبره داده چې د طبابت غړي کومې ځانګړتیاوې باید ولري، پخپل مسلک او رشته کې څه ډول د خلکو سره چلند وکړي د روغتیایي کارکونکو خپل منځي اړیکې څنګه وي او د دې سپیڅلی مسلک نوم او نښان څنګه لوړ وساتي، د لومړی څپرکی اساسی محتوا تشکیلوی.

په دغه برخه کې د طبیب او طبابت په هکله پوهانو خپلی نظریې څرګندې کړی چې په لنډ ډول وړاندې کیږي.

په اوستا کې چې د بلخی زرتشت له خوا منځ ته راغلی دی د طبیب کیدلو په برخه کې اوږده معلومات وړاندی شوی دی او په هغو شرایطو باندې بحث شوی دی چې دغه شرطونه د «تمدن زرتشتیان» په کتاب کې داسی لیکل شوی «اساسي شرط داو چې شخص باید طبابت په دقیقه توګه زده کړي، هغه باید د مطالعي خاوند وي، ښه حافظه ولري، د طبابت حرفې سره علاقه او مینه ولري او د ډیرې تجربې خاوند وي. داسې شخص باید د خپلو ناروغانو خبری په حوصله مندۍ سره واوری او غوږ ورته ونیسی، دهغه درد سره چې ناروغ یې زغمي ناراحته شي، د ناروغ د ټولو اندامونو په دندو باندې پوه وی، په آګاهانه توګه درملنه وکړي، خوږه ژبه ولري، ملایم، مهربان او د ناروغ روغیدو ته علاقه ولري او بالاخره د خپلې حرفې

شرافت باندې باوري اوسي، د مادي ګټې او پیسو لپاره کار ونکړی او له خدایه وډار شی...»۱.

همدارنګه د زرتشتیانو په زمانه کې ځنیی مقررات لکه د کار نحوه، فیس یا اجوره، د معاینې وختونه، ناروغ ته رسیدل او داسې نور د قانون په رڼا کې په دقیقه توګه معیین شوي وو.

په ایوروئید کې د طبیب په برخه کې داسې لیکلي «که طبیب غواړي چې په ورځني کارونو کې بریالی و اوسي باید چې د ښې روغتیا څخه برخمن وي، نظیف، د درناوی څښتن او برده بار وي، لنډه ږیره ولري، پاکوالی او صفایي ته علاقه ولري، نوکان یې نیول شوي وي، سپین کالی یې اغوستي وي، کله چې له کوره وځي په لاس کې باید امسا او پرسریې چترۍ وي، د ښځو سره لاپې ونه وهي او ټوکې ونکړي او په یو چېرکټ باندې د هغو سره کښې نه نې، خبرې یې ورو، مؤدبانه او امیندوار کوونکي وي، زړه یې پاک او د صداقت څخه ډک وي، کرکتر یې تل د راستۍ او صفا سره سینګار وی، مزاج یی سوړ او د نیک او ګټورو کارونو سرته رسولو لپاره هاند او کوښښ وکړی. «ښه طبیب دنده لری چې تل ناروغان ومنی، په دقیقه توګه یی معاینه کړی او ډارن او غیر مصمم نه وی او د دندی د اجرا کولو په وخت کې وارخطا نه شی»[۲].

«د سومریانو په زمانه کې د حمورابی قانون چې د بشریت په تمدن کې ډیر پخوانی قانون دی منځ ته راغلی چې پر یوه تیږه باندې چې دوه متره او پنځه څلویښت سانتی متر لوړ والی لری په متن کې یی د طبیب حق الزمه هم لیکلې شویده»[۳] همدارنګه په دغه قانون کې د طبیبانو د حق الزحمی سربیره د طبیبانو او قابله ګانو د جریمی په هکله هم لیکنی شوی دی، د بیلګې په توګه که د غاښو طبیب له خوا د ناروغ یو غاښ مات کړی شی طبیب هم د یو غاښ څخه محرومیږی یعنی د طبیب غاښ ایستل کیږی. او یا که طبیب د یو ناروغ سترګه چوی لاس یې پرې کیږی او که درملنه یې پر مرګ باندې ختمیږی باید یو غلام وپیری او ارباب ته ور کړل شی او که دایه د پلار او مور پرته له اجازی څخه بل ماشوم ته شیدی ور کړی د هغې تی پرې کیږی.

۱- عبدالحی مؤمنی - تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان ، مطبعه آزادی ، کابل ۱۳۸٤ - ص - ۷۰ .
۲- اثر فوق.
۳- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی - طب در گسترده تاریخ ، ۱۳۸۵ شاهمامه هالند ، ص - ٤۵ .

سینوهه د فرعون مخصوص طبیب په دوه ټوکو کې یو کتاب لیکلی چې په زړه پورې طبی مسایل پکی لیکل شوی دی. د بیلګې په توګه هغه وایي «په دارالحیات کې پوه شوم چې د طبیب په روزنه کې استعداد ډیر اهمیت لری. زه متوجه شوم هومره چې استعداد په روزنه کې اهمیت لری، تحصیلات د اهمیت وړندی. ځکه که محصل استعداد ونلری د دارالحیات څخه چې په نړۍ کې ډیره لویه مدرسه ده د یو واقعی طبیب په توګه د هغه څخه خارجیدلای نه شی. «څوک چې دارالحیات (د مصر د طبس په ښار کې لویه مدرسه وه) کې شاملیږی باید پر طب مین وی او د دې علم په لاره کې خپل هر شی قربان کړی او په لومړۍ درجه کې خپل استراحت باید قربان کړي»[1]. زه په دارالحیات کې پوه شوم چې د طبیب په هکله اعتماد ډیر مهم دی او ناروغ باید ایمان او عقیده ولری چې د هغه معالج طبیب حاذق او بصیر دی او د اشتباه څخه مصئون دی.

همدارنګه په لرغونو زمانو کې اصولنامی هم منځ ته راغلی چې د اطبا و مسلکی کارونه یی تنظیمول.

د بیلګې په توګه د مان (MANN) د قانون پر اساس کله چې د طبیب له خوا د ناروغ درملنه په درسته توګه صورت ونه مومی باید جریمه ور کړی.

هیپوکرات (بقراط) ۳۷۷ - ۴۶۰ ق م نامتو پوه او حکیم ډیر با ارزښته آثار د طبیبانو انسانی، ټولنیزی او مسلکی روزنی په برخه کې پری ایښی دی چې تر اوسه هیچا ندی پری ایښی. هیپوکرات به ویل «د هر ناروغ سره دی بې له د هغه د جیب حجم او د اقتصادی سطحې څخه مرسته وشی. او کله چې ضرورت وی د یو پردی، خارجی او فقیر ته باید مرسته ورسوی او هغه حتماً باید ورسوی، ځکه چیرته چې د انسان او انسانیت سره عشق موجود وی هلته د مسلک سره هم عشق موجود دی»[2].

نوموړی وصیت کوی چې د طبابت زده کوونکی باید یو آزاد سړی او د ښه طبعیت څښتن وی. په عمر کم او په ونه برابر او د متناسبو اندامونو خاوند وی، ښه ذکاوت او پوهه ولری او د مشورې او مصلحت په وخت کې دې د ښې رایې او د ښه فکر خاوند وی او باید زړه ور او پاک نفسه وی او خوږه ژبه دې ولری. په پیسو باندې مین نه وی، غبی نه وی، په ناروغ

۱- اثر فوق - ص - ۵۷ .
۲- عبدالحی مؤمنی - تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان ، مطبعه آزادی ، کابل ۱۳۸٤ – ص - ۲۱ .

باندې مهربان وی او د هغه راز دې پټ وساتی، ځکه چې راز راز ناروغان شته چې خپل راز طبیب ته وایی، خو نه غواړی چې د ده راز نورو ته ښکاره شی. که چیرې ناروغ ورته ښکنځلی وکړی باید هغه وزغمی، ځکه چې ځنی د برسام ناروغان شته دی چې دوی په سودا او وسواس باندې اخته وی او خلکو ته خوشې خوشې ښکنځلی کوی ...

سپینی، پاکی او پستی جامی واغوندی، ښه معتدل تګ وکړی یعنی نه دې منډې وهی او نه ورو ورو تګ چې د ځان د کهالت او لټی باندې دلالت وکړی. هر کله چې طبیب ناروغ ته ورشی باید چې پلتری ووهی او وروسته له هغه ډیر څوکه څوکه او ورو ورو د ناروغ د حال پوښتنه وکړی او خپل ځان دی ورته باثباته ښکاره کړی ...[١]

د هیپوکرات سوګند نامه چې تر اوسه خپل ارزښت یی له لاسه ندی ور کړی وروسته وړاندې کیږی.

هیپوکرات له طبیبانو څخه غوښتل چې هغوی باید عالی کرکتر ولری «او پریږ ده چې دی (طبیب) د خلق او عادت له نظره، عالی انسان، مهربان، ستر او انسان دوست وي»[٢] هغه څرګندوی چې عجله او وارخطایی سره د دی چې ګټور هم وی تحقیر کوونکی دی. هغه طبیب چې خپله خواخوږی په مسخره ګۍ او خندا سره اظهار وی او خوله یی بې مور ده په شوخۍ باندې خلاصه وی، فکر کیږی چې متاثر کوونکی دی او باید د هغه څخه په جدی توګه اجتناب وکړی.

د جالینوس (١٣١- ٢٠١م) د طبابت اساسی مقرره په دریو برخو کې خلاصه کیږي:

١- د روغتیا د ساتلو په خاطر لازمه ده چې د مشابه - مشابه پرنسیب څخه استفاده وشی.

٢- د ناروغۍ د درملنې په خاطر باید د ضد - ضد پرنسیب څخه استفاده وشی.

٣- په درملنه کې طبیب باید یواځی طبیعت سره مرسته وکړی، ځکه غالباً خپله طبیعت درملنه کوی.

١- پښتو آریانا دایرةالمعارف - لومړی ټوک ، ١٣٢٩ ، دولتی مطبعه ، کابل - ص - ٦٨٤ .
٢- عبدالحی مؤمنی - تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان ، مطبعه آزادی ، کابل ١٣٨٤ ــ ص - ٣٢ .

جالینوس یا ګالن داسې شمېرې چې د طبیب اساسي دنده دا ده چې د اورګانیزم دفاعي قدرت وساتي.

په منځینو پیړیو کې داسې طبیبان موجود وو چې د طبیبانو او درمل جوړونکو کړنې یې ستایلې وو او د دندو په ارتباط یې لکه هیپوکرات مقررات وضع کړي وو. د دغو له ډلې څخه یو هم تیوفراست پاراتیلزس یا پاراسلز (۱۴۹۳- ۱۵۴۱م) داسې لیکلي دي «د طبیب قوت په زړه کې دي، د هغه کار باید د الله پاک په لارښوونه سرته ورسیږي، د تجربې او زده کړې په روښنایي سره روښانه وي، ډېر ښه درمل د مسلک سره له علاقمندۍ او عشق څخه عبارت دي. دې زیاتوي چې طبیب نه باید ریا کار، مضر، دروغجن، بې مغزه او لاوبالي وي، بلکې مؤدب او راستکار سړی وي»[۱].

نامتو لیکوال چخوف لیکي «د طبابت څانګه د قهرمانۍ یو کار دی چې د ثبات، متانت او اندیشو د پاکوالي مستلزم دي. د عقلي له نظره صریح د اجتماعي برخورد له امله عادل او د فزیکي له نظره لطیف وي»[۲].

د نن ورځې طبیب یواځې دا دنده نه لري چې د مسلکي سطحې دانش لوړ بوځي، بلکې هم پخپله د ښووني او روزنې، کلتور او فرهنګ څښتن، او نورو ته د روغتیا او سعادت ناقل وي. همدارنګه خپل شاوخوا او د محیط لپاره لرونکې د نیک کردار او اطوار او د حمیده اخلاقو سره په ټولنه کې سرمشق وي.

ابن سینا لیکي چې طبیب باید منطق باندې پوه وي ترڅو د ناروغیو جنس او ډول (نوع) درک کړي او د فصل، خاصه او عرض په منځ کې فرق وکړي او په اخر کې علت وپیژني، ځکه تر څو چې علت پیدا نه شي درملنه صورت نه مومي ...[۳]

کله چې د لیندۍ د میاشتې ۲۹ مه په کال ۱۳۱۶ د طب د پوهنځي او درمل جوړولو عالي ښوونځي فارغ التحصیلانو ته دیپلومونه او برې لیکونه توزیع کیدل، پروفیسور بای حسن رشاد چې د پوهنځي رئیس و، اوږ ده وینا وکړه چې په لنډه توګه څو ټکو ته یې اشاره کیږي:

۱- اثر فوق - ص - ۳۲ .
۲- دوکتور شیر احمد زاهدی - نقش موثر تربیه خودی در حیات مسلکی یک طبیب - مطبعه اردو ، ۱۳٦۹ کابل، ص - ٤۷ .
۳- مجله خراسان دوره سوم ، سال ۲۷ - میزان – عقرب ۱۳۸٦ - ص - ۱۵ .

د پوهنځی رئیس د دیپلوم پر اهمیت باندې خبرې وکړې او د فارغانو څخه داسې غوښتنې لري:

۱- د اولو الامر اطاعت هیڅکله مه هېروئ.

۲- خپل علم او اقتدار پر مخ بوځئ. د مثال په توګه دایه که هر څومره شیدې رو دونکی ماشوم باندې مهربانه وی او ترې خوښ راشي، خو د اصلی مور شفقت نه لرې.

هر هېواد مکلف دی متقابلاً یو بل سره مرستې وکړې، خو د هیواد زامن دی چې خپل وطن د ترقۍ لوړو مدار جوته رسوی.

۳- هیله لرم زیار وباسئ چې خپل پوهنځی نړیوالو ته ور وپیژنئ.

۴- کله چې ناروغ ته غوښتل کیږئ هیڅکله د وفق او ملایمت څخه د باندې حرکت ونکړئ. د حق الزحمی اخستل ستاسو حق دی، ځکه علم مو مصرف کړیدی، خو کله چې ستاسو د حق الزحمی ور کولو توان ونلری، په دی وخت کې مادی منفعت ته سترګی مه نیسئ او د دغی مبارک حدیث (خیر الناس من ینفع الناس – یعنی بهترین خلک هغه دی چې ګټه یی خلکو ته رسیږي). ارشادات په نظر کې ونیسئ او د الله پاک د رضا د لاس ته راوړلو لپاره قدم کیږ دئ. پخوانیو ویلی «یو په پیسو او بل په دوعا».

د روغتیا او ناروغۍ سره د انسان اړیکي

د طبابت تاریخ د انسان د منځ ته راتلو سره جوخت پیل کیږی، ځکه انسان د ژوندی موجود په توګه د ژوندانه د دوام لپاره ضرورت لری او د خپل روغتیا د ساتلو په هکله هاند او کوښښ کوی. خو د انسان دغه غوښتنې تل د طبیعی عواملو او وحشی ژوو تر حملې لاندی راغلی او دهغو له کبله ناروغۍ او ټپونه منځ ته راغلی، او همدارنګه د تاریخ په پړاوونو کې قبیلوی جنګونه هم ټپیان منځ ته راوړی چې هرو مرو څارنی، مراقبت او درملنې ته یی ضرورت درلود، چې د تجربه لرونکو اشخاصو له خوا درملنې لاندی نیول شوی دی.

په دی توګه نشوکولای د طب او طبابت تاریخ په دقیقه توګه مشخص کړو چې انسانانو د درد، ناروغۍ او درملنې په هکله منځ ته راغلی شروع کړو، ځکه په دی توګه زمونږ په لاس کې مشخص تاریخ نشته او پر حدس

او گمان باندې تکیه کیدلای نه شی، ځکه تاریخ په مکان او زمان باندې مقید دی.

ځرنګه چې وویل شول درملنه د انسانانو د لومړنیو ضروریاتو څخه شمیرل کیږی او د تجربو پر اساس یې خپل فعالیتونه پر مخ بیولی دی، خو علم هم د انسان د تجاربو محصول دی. په دې توګه د تجربو پر اساس او د زمانی د تیریدو سره د ژوند پرابلمونه سره مقایسه شوی او په آخره کې یوه مطلوبه طریقه یی لاس ته راوړۍ ده.

انسانانو تر ټولو د مخه د غذا په توګه د بوټو څخه استفاده کوله چې د زرونو کلونو په درشل کې د ځینو بوټو درملی خواص یې وپیژاندل، خو کله چې خط (لیکل) منځ ته راځی د هغی راهیسی د انسانانو ټولی لاس ته راوړنی په لیکل شوی یا رسم شوی شکل وروستی نسلونو ته انتقال مومی.

روښانه ده چې انسان د یو ژوندی موجود په توګه د خپلې بقا او ژوند لپاره تندرستی او روغتیا ته ضرورت لری او د روغتیا د تامینولو لپاره د خپل خلقت څخه د ډیرو ناخوالیو سره سره د نورو علومو د تکامل او پرمختګ سره طبابت هم خپلی لاس ته راوړنې پرایښی دی.

په دې بحث کې د انسان ارتباط او پیوند د روغتیا او د تندرستۍ (سلامتي) پدیدو سره او هغه تعریفونه چې په دې هکله موجود دی تر څیړنی لاندی نیول کیږی.

د طب د علم هدف د فزیکی او روحی روغتیا تقویه، د ناروغیو درملنه، د روغتیا ساتنه، د معیوبتونو نه مخنیوی او د بیارغونې څخه عبارت دی چې د اساسی اسلوبو او موازینو له جملې څخه شمیرل کیږی.

ابو علی سینا د (قانون طب) په کتاب کې لیکلی چې د طب موخه د سلامتی په موقعیت کې د تندرستی حفظ یا ساتنه او د هغه اعاده د ناروغۍ په وخت کې دی.

معالجوی طب د ناروغیو علتونه، علایم، تشخیص او له درملنې څخه بحث کوی او وقایوی طب د ناروغیو اسباب، د سرآیت شکلونه، شیوع، توزیع او د مخنیوی او د کنترول له تدابیرو څخه بحث کوی. حال دا چې اجتماعی طب ټول هغه اجتماعی، اقتصادی، سیاسی، مذهبی او نور عوامل او فکتورونه چې د ناروغیو منځ ته راتګ، شیوع، دوام، دبیرته راګرځیدو (عود- نکس) کې رول لری په واضحه توګه رابرسیره کوی او د لاس رسی او اصلاحی شیوې یی روښانه کوی.

د یادونې وړ ده چې د طبی علومو دری واړه خواوی د یو بل لازم او ملزوم دی او یو د بل سره نه شلیدونکی او نږدی اړیکی لری. د بیلګې په توګه که وقایوی طب وجود ونلری او یا نیمګړتیاوې ولری، یواځی معالجوی طب نه شی کولای په پراخه توګه لاس ته راوړنې ولری او برعکس، که اجتماعی شرایط موجود نه وی او یا نیمګړتیاوې ولری بیاهم د طب هغه اهداف او ستراتیژی په عمل کې پیاده کیدلې نه شی.

نن ورځ د عصری ژوند په شرایطو کې د اجتماعی چاپیریال عوامل او فکتورونه د انسانانو روغتیایي ژوند باندې دومره تاثیر اچولی دی چې څیړونکی او پوهان د ډیرو پرابلماتیکو ناروغیو علل او انګیزه د ژوند د چاپیریال تاثیر بولی.

نن د طبی علومو هدف نسبت پخوانی نوم څخه چې طب او طبابت د انسانانو له خوا د استفادی وړ ګرځیدلې دی، ډیر وسیع او پراخ دی چې په حقیقت کې هماغه د تندرستی ساتنه او د روغتیا اعاده د سلامتی او تندرستی د نه موجودیت په صورت کې دی.

له دی کبله طب د تیوریکی او پراتیکی فعالیتونو مجموعه ده چې د هغه د اهدافو د تأمین په موخه او د انسان د روغتیا او سلامتی د اعادې په خاطر ور څخه کار اخستل کیږی. لومړی تر ټولو باید د صحت یا روغتیا په هکله معلومات وړاندی شی.

صحت یا روغتیا د نړیوالی روغتیایی اداری له خوا داسی تعریف شوی دی «عبارت ده له بشپړې بدنی، نفسی، ټولنیزی او روحی سلامتی څخه ... یوازی د ناروغۍ او جسمی کمزورتیا نشتوالی روغتیا نه ده».

هغه څه چې په دی تعریف کې د پاملرنی وړ دی، هغه بشپړه سلامتی یا عافیت دی نه له نمیګړی سلامتی څخه بحث کوی او دا هغه روغتیا ده چې مونږ یی غواړو چې انسان په بهترین حالت او د بدنی، نفسی، اجتماعی او روحی سعادت او سلامتی په لوړه درجه کې وی.

باید وویل شی چې روغتیا لکه نوری ټولینزی پدیدی د هغو شرایطو مولود ده چې شخص په هغه کې ژوند کوی او د دغه واقعیت پر اساس یو عالم د پرکوس (Perkus) په نامه داسی نظر وړاندی کړی دی.

«روغتیا د شاو خوا د محیط (چاپیریال) فکتورونو سره د یو متوازن حالت تینګول دی»[١] .

د پورتنی تعریف پر اساس ویلای شو چې محیطی عوامل او فکتورونه د انسان پر اورګانیزم او روان تاثیر کوی او کله چې دغه موازنه سر چپه شی ناروغی رامنځ ته کیږی. حال دا چې د انسان عضویت په شکل نه یو شکل عکس العمل ښکاره کوی چې موازنه بیرته د خپل ځان په ګټه مستقر کړی.

هغه عوامل چې د انسان پر روغتیا تاثیر اچوی ډیر زیات دی، خو په عمومی توګه ویلای شو چې ناروغی د انسان (میزبان) او سببی محیط فکتورونو عمل او عکس العمل دی.

باید وویل شی چې محیط یا چاپیریال زمونږ څلور خواوی دی چې په هغه کې ژوند او کار کوو یا د ژوند چاپیریال ټولی پدیدی او شیان چې زمونږ په شاو خوا کې شته او د هغوی څخه په یو ډول نه یو ډول ګټی تر لاسه کوو، د ژوند چاپیریال په نامه یادیږی.

هیپوکرات د انسان روغتیایي محیط او ماحول سره ارتباط ور کاوه او د غذایی موادو، هوا، اوبو او نور فکتورونه یی د انسان پر اورګانیزم تدقیق کړل. هغه د څلورو مایعاتو تعادل د انسان په اورګانیزم کې بیان کړل چې عبارت دی له وینی، مخاط (بلغم)، توره او ژیړه صفرا څخه. کله چې انسان روغ وی دغه مایعات په یو معیین تعادل کې قرار لری او کله چې دغه تعادل په عضویت کې ګډوډ شی ناروغی منځ ته راځی. د هیپوکرات په عقیده د یو طبیب اساسی دنده دا ده چې د دغو مایعاتو تعادل په عضویت کې برقرار کړی.

د چاپیریال د نه درک کولو او نه پیژندلو په نتیجه کې د یو طبیب لپاره به ډیره ګرانه وی چې روغتیا تقویه کړی، ناروغی کنترول او وقایه کاندی او د ناروغ بیارغونه وکړی. ځکه په روستی وخت کې داسی عقیده ده چې ناروغی د انسان او چاپیریال په منځ کې د موازنی یا تعادل ګډوډی ده.

١- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی - طب در ګسترده تاریخ - ١٣٨٥ - شاهمامه - هالیند ص ١٦ .

لکه چې علي ابن عباس زر کاله د مخه په لنډيز سره وايي «روغتيا د بدن اعتدال دی»[۱].

او ابن سینا هم زر کاله مخکی د دی توازن د دنیامکیت تعبیر پخپل قانون کتاب کې داسی تعبیر کړیدی «هغه اعتدال چې د انسان په فطرت کې اغږل شوی دی د دوو حدنو – افراط او تفریط – تر منځ حالت دي».

په دې توګه د چاپیریال فکتورونو کې د توازن نشتوالی د ایکالوجی محیط خرابیږی او په نتیجه کې د انسان، حیوان او نبات ژوند په خطر کې لویږی او په پای کې د انسانانو لپاره د ژوند چوکات او کړۍ تنګیږی او د ژوند د ډیرو ستونزو سره مخامخ کیږی خو باید وویل شی چې د انسانانو رول د ژوند د چاپیریال د توازن یا د توازن د نشتوالی په خاطر له هرڅه نه زیات د پام وړ او ارزښتمن دی.

هغه څه چې د بدی په صورت کې د روغتیایی موازینو د راټیټولو او یا د ښه والی په صورت کې دهغه د جګولو (ښه کولو) امکانات برابر وی، په انسان او چاپیریال کې د هغو عواملو مجموعه ده چې ابن سینا ورته «د انسان د بدن د حالاتو ساتونکی او بدلون ورکوونکی اسباب» بللی او لاندې عوامل پکی شاملوی. لکه هوا او مربوطات یی، خواړه، اوبه، څښاک، د فضلاتو څخه د بدن خالی کیدل، پرهیز کول، چاپیریال، ښار، مسکن او مربوطات یی، بدنی او نفسانی حرکات او سکنات، خوب، ویښتوب، عمر، د عمر او جنس اختلاف، مصنوعات او عادتونه»[۲].

علی ابن عباس بدنی روزنه یا سپورت، مساژ، حمام کول او اجماع یا جنسی اړیکی هم پکې ورزیاتوی او وایی که چیرې دا کارونه پخپل ځای، په موقع او د بدن د هری برخی د ضرورت پر اساس په مناسب کمیت، کیفیت، وخت او ترتیب سره استعمال شی، هر څه پخپل شکل ساتل کیږی او د انسان روغتیا دوام مومی.

دلته کولای شو دغه عوامل په دوو برخو یا مجموعو وویشو:

۱- داکتر محمد هیثم خیاط - د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کی - نړیواله روغتیایی اداره - پنځم مخ - ۱۹۹۷ کابل .
۲- داکتر محمد هیثم خیاط - د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کی - نړیواله روغتیایی اداره - پنځم مخ - ۱۹۹۷ کابل .

لومړۍ برخه چاپېریال دی چې ځنی عناصر یې په ټولو وګړو پورې تعلق لری لکه اوبه، هوا، خواړه، فضله جات او ځنی په انفرادی ډول په هر وګړی پورې مربوط دی لکه کور، صنعت او کار.

دوهمه برخه یا مجموعه چې د روغتیا پورې له اړوند سلوک څخه عبارت دی او د ابن سینا او علی ابن عباس په وینا دا د ژوندانه عادتونه او طریقی دی لکه خوراک او څښاک، خوب، ویښتوب، بدنی روزنه، بیکاری، ستونزی، سوکالی، تولنیزی او کناره ګیری، چې دا مجموعه کولای شو د بدنی او نفسانی حرکاتو او سکناتو په نامه یاد کړو او وروسته له هغی څخه کولای شو چې جنسی سلوک، طبیعی معالجه او بالاخره په روغتیا پورې اړوند د سلوک څرنګوالی او همدارنګه عمر او د جنس له پلوه اختلافات په نظر کې ونیسو.

د ژوندانه د دې سلوک او تګ لارې په هکله علی بن عباس وایی «د روغتیا د ساتنی په ټولو برخو کې لازمه ده چې عادتونو ته پاملرنه وشی ځکه چې نظر او فکر کول په دی هکله د روغتیا په ساتنه او د ناروغیو په تداوی کې زیات اهمیت لری او که موده یې اوږده شی لکه طبیعی شی داسی کیږي» دغه دوه مجموعی له هغو عواملو څخه دی چې په حقیقت کې په روغتیایي پوتانسیل یا په ګټه یا په زیان اغیزه کوی.

په دې توګه د انسان میزبان عمل او عکس العمل د محیطی عواملو او سببی عامل یوه دینامیکه جنبه لری او د هرم پرنسیب تعقیبوی یعنی روغتیا او ناروغتیا د هرم د اتکا د نقطی نتیجه او د دوو نهایاتو توازن دی. لذا یو کوچنی تغیر په هر یو نهایاتو کې او یا د هرم د اتکا پر نقطه باندی، د دغه توازن د منځه تللو موجب ګرځی.

نومیالی یوه زیګموند فروئید د دغه دینامیک توازن له منځه تلل ته د روانی له نظره د انسان د دفاع نه موجودیت د خواستو او تمایلاتو په مقابل کې بولی او وایی کله چې تمایلات او خواستې د هغه د آرزو سره سم لاس ته ورنه شی، روانی عقدۍ منځ ته راځی او کله چې دغه عقدۍ زیاتې شی د انسان روان سر چپه کیږی او د نورمال حالت څخه غیر نورمال یا انارمل وضعیت ته اوړی، کیدای شی چې د دغو عقدو د سپړلو په نتیجه کې انسان لومړنی نورمال حالت ته واوړی. همدارنګه د انسانانو غیر نورمل حالت د هغه روزنې پورې تړی. په دې توګه چې ټولنیز چاپیریال د انسان په روزنه باندې عمل کوی او د انسان کرکتر او شخصیت منځ ته رواړی. په دي هکله پوهان ادعا کوی چې که دوه ماشومان په دوو متفاوتو اجتماعی شرایطو کې

تولد شی د بیلګې په توګه یو د پاچاهی په قصر کې او بل په یوه ځنګله کې په وحشی بومیانو کې چې د انسان د تمدن څخه لیری وی، او دغه تولد شوی ماشومانو محل او ځای ته تغیر ور کړو، او کله چې هغوی رشد او تکامل وکړی وحشی بومی به یوه متمدنه شهزاده وی حال دا چې متمدن شهزاده یو وحشی بومی منځ ته راځی.

دغه پوهانو د چاپیریال او د روزنی نقش د انسان د شخصیت پربنسټ برازنده او تعیین کوونکی بولی.

د پورتنیو دری ګونی عواملو یعنی سببی فکتورونه، چاپیریال فکتورونه او انسان میزبان د مطالعی په اثر چې د هر یو په موازنه کې کوم تغیر او تحول منځ ته راشی د ناروغۍ د منځ ته راتلو باعث ګرځی. داسی معلومیږی چې د طب او طبابت هدف د دغه توازن ایجادونکی دی تر څو مسئله د روغتیا په ګټه تمامه شی.

باید وویل شی چې سببی عوامل ساکښ او بی سا عناصر دی چې د حساس میزبان په عضویت کې او د مناسبو شرایطو تر اثر لاندې د ناروغیو منځ ته راتګ زمینه برابروی او دغه سببی عوامل په بیولوژیکی، غذایی، کیمیاوی، فزیکی او میخانیکی باندې تصنیف کیږی. او د چاپیریال سببی فکتورونه فزیکی، بیولوژیکی او اجتماعی – اقتصادی چاپیریال څخه عبارت دی.

د انسان میزبان عوامل هم پخپل وار سره د روغتیا په څرنګوالی او د ناروغۍ په ایجاد کې په آګاهانه او غیر آګاهانه صورت سره برخه لری. دغه میزبان انسان عوامل په دوو ګروپو یعنی داخل المنشأ یا ارثی او خارج المنشأ یا محیط سره جدا کیږی چې د ناروغۍ د منځ ته راتللو کې انکار نه منونکی رول لری.

په دې برخه کې ضروری بلل کیږی ترڅو د روغتیا، ناروغۍ او درملنې په هکله اسلامی نصوصو ته مراجعه وشی.

د درملنې یا معالجی په برخه کې باید وویل شی چې حضرت پیغمبر ﷺ د تداوی اساسات تثبیت کړی او د هغه امر یې کړی دی، لکه څنګه چې ابی داود له اسامه ابن شریک څخه په صحیح حدیث سره روایت کوی چې «تداوی وکړئ» او د ترمذی په راویت یی فرمایلی «بلی ای د خدای ج بندګانو تداوی وکړئ». پیغمبر ﷺ پخپلو مبارکو فرمایشونو سره د ناروغانو پرمخ د شفا د هیلو دروازی پرانستی، لکه څنګه چې په بل حدیث کې له ابی

هریره څخه امام بخاری روایت کړی «لوی خدای ج هیڅ ناروغی نه ده راوستلی، ترڅو يي د هغی شفایی نه وی را استولی»[۱].

په دې ډول یی طبیبان د درمل لټولو او دوا ته د لاس بری لپاره د علمی څېړنو پرمخ بیولو ته هڅولی دی. لکه څنګه چې د مسلم احمد په روایت له جابر څخه په حدیث کې راغلی «لوی خدای ج هر ناروغ ته شفا راواستوله، هغه چا وپیژندله چې پوه شو او هغه څوک چې پوه نشو ویی نه پیژندله».

د تداوی (درملنې) په برخه کې بله د پام وړ خبره دا ده چې پیغمبر ﷺ د «روحانی طب» په نامه پر ضد را پاڅیدلی؛ ملاحظی، تجربی، اسبابو او مسبباتو پورې اړوند طبابت ته یی ارزښت ورکړی، او هغه څه چې یی د جاهلیت په دوران کې د عربو او غیر عربو په منځ کې د ناروغۍ د علتونو په باب خپر ول، چې د ناروغیو ظاهری اسباب او طبیعی عوامل به یې پرېښودل، او په پټو نامعلومو اسبابو باندې به یې تکیه کوله، باطل وګر ځول، لکه د مریو او صدفونو ځړول، بی معنی سحر او جادو او افسون، بی مفهومه غوذی او شعبده بازی، چې د جادوګرو، ساحرانو او تیرایستونکو له خوا یې رواج موندلی وو. په دې اړوند حضرت پیغمبر ﷺ داسی فرمایلی دی «هر چا چې (په دې مقصد) مرۍ په غاړه ځړولی وی داسی لکه چې شرک یی راوړی وي» (د امام احمد په روایت له عقبه بن عاصر څخه).

اسلامی امت بلکی نور ملتونه هم په دې متفق دی چې شریعت د پنځه ګونو اړتیاوو د ساتنی لپاره عبارت دی له دین، نسل، نفس، مال او عقل څخه، وضع شوی دی. او دا هماغه د انسان اساسی حقوق دی چې د هغو له جملې څخه د دریو ساتنه چې هغه نفس، نسل او عقل وی، د روغتیا او سلامتیا له ساتنی پرته نه بشپړیږی. خو د روغتیا ساتنه پخپله د دغو اساسی اړتیاوو د ساتنی لپاره لازمی خبره ده. «د نورو اړتیاوو او د ژوندانه د اساسی حاجتونو د پوره کیدو پرته چې هغه خواړه، څښاک، کور، کالی، خاوند یا میرمن، د حمل و نقل وسایل، امنیت، تعلیم او لګښتونو منبع او مدرک دی، د روغتیا ساتنه تر سره کیدای نه شي»[۲].

۱- داکتر محمد هیثم خیاط - د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کی - نړیواله روغتیایی اداره - پنځم مخ - ۱۹۹۷ کابل .
۲- داکتر محمد هیثم خیاط - د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کی - نړیواله روغتیایی اداره - ۹ مخ - ۱۹۹۷ کابل .

حضرت پیغمبر ﷺ روغتیا ته لومړی درجه ارزښت ور کړی او فرمایی «له خپل خدای ج څخه روغتیا او سلامتی وغواړی، ځکه چې هیچا ته وروسته له ایمان نه تر روغتیا او سلامتی غوره شی ندی ورکړ شوي» (د ابن ماجه په روایت له ابی بکر څخه)، او هم یی فرمایلی دی «شتمنی هغه چاته چې پرهیزګاره وی بده نه ده خو روغتیا د پرهیزګار لپاره تر شتمنی غوره ده» (دغه حدیث ابن ماجه، حاکم او احمد له معاذ بن عبدالله بن خبیب له پلار څخه یی، له تره څخه روایت کوي). او بیا فرمایی «هر څوک چې له تا سو څخه چې روغ ځان له خوبه راویښ شی، په خپله کورنۍ کې په امن وی او د ورځی روزی هم ولری داسی ده لکه ټوله دنیا چې یی په واک کې وي» (د ابن ماجه په روایت له عبدالله بن محصن انصاری، له پلار څخه).

همدارنګه د خپل تن (جسم) په ساتلو کې ارشادات موجود دی لکه چې آن حضرت ﷺ فرمایلی «په یقین سره چې جسم دی پرتا حق لري» (متفق علیه عبدالله بن عمرو څخه).

وروسته له هغو چې اسلام انسانی حقوق تثبیت کړل څوارلس پیړۍ وروسته د نړۍ خلکو وکړای شول د بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه صادره کړی. خو د جسم او جسد په باب یې لا تر اوسه هم کومه اعلامیه نده صادره کړی چې جسم پر خپل خاوند حق لری، چې لوږی په وخت کې ورته خواړه ور کړی، د ستړتیا او ستومانتیا په وخت کې باید راحت ور کړی او له اذیت او ناروغۍ له عواملو څخه یی په تنظیف او وقایه کې پاملرنه وکړی. که په ناروغۍ اخته شوی، نو تداوی او معالجه یی وکړی، او له توان څخه لوړ کارته یی مجبور نکړی، هغه څه چې وویل شول هر یو یی واجبی حق دی چې اسلام له نظره د نورو حقوقو په وړاندی که څه هم د الله ج له حقوقو څخه وی، اهمال او له یاده ایستل یی جائز ندی.

لکه چې مخکی وویل شول روغتیا د بدن اعتدال دی، نو په اعتدال کې د دی روغتیایي توازن د ساتلو لپاره له خلل څخه یې د ژغورنی، او د اختلال په صورت کې د اعتدال لوری ته د هغه دبیر ته راوستلو لپاره لازمه ده چې انسان روغتیایي استعداد ولری. له ابن عمر رض څخه د بخاری په روایت حدیث «له خپلی روغتیا څخه یی خپلی ناروغۍ ته سپما وکړه» همدی ټکی ته اشاره کوی.

دغه روغتیایي استعداد یا وړتیا کله د ښی تغذیی په معنی ده، کله هم د ښه مقاومت د وړتیا د لرلو په معنی، او احیاناً هم پر جسم باندې د رسیدلو

فشارونو او د سختو تکلیفونو په مقابل کې د رواني آرامۍ لرلو په معنی ده، او حقیقت هم دا دی چې هر اړخیز روغتیايي استعداد او وړتیا دا ټول په ځان کې راټولوي.

نن د نړۍ په روغتیايي سازمان کې چې د پیړۍ له انکشافاتو څخه بلل کیږي د روغتیا په باب له دوو اړخونو څخه بحث کوي لکه روغتیايي بیلانس (Health Balance) او روغتیايي استعداد یا وړتیا (Health Potencial).

د روغتیايي بیلانس په اعتدال کې روغتیا ساتنه یا حفظ الصحه (Health Protection) او د روغتیايي وړتیا د زیاتوالي لپاره لارو چارو ته د روغتیا تقویه (Health Promotion) وايي. د همدې دوو اړخونو په چوکاټ کې نړیواله روغتیايي اداره فقط پنځوس کاله د مخه د روغتیا تعریف داسې اعلام کړ:

«روغتیا له بشپړې جسمي، نفسي او اجتماعي سلامتۍ او عافیت مندۍ څخه عبارت ده، یوازې د ناروغۍ او کمزرتیا نشتوالی ته روغتیا نه ویل کیږي».

دا خبره هغه حدیث را په یادوي چې پیغمبرﷺ وفرمایل «له خدای څخه روغتیا او سلامتي و غواړئ، ځکه چې له ایمان نه پس هیڅ ته تر روغتیا او سلامتۍ غوره شی نه دی ور کړ شوي» (د ابن ماجه په روایت له ابی بکر رض څخه).

د روغتیا په باب د نړیوالې روغتیايي ادارې تعریف د پام وړ وګرځید، ځکه چې مخکې به طبیبانو هغه د بیمارۍ نشتوالی تعریفاوه، لکه چې ځینې ژوند هم د مرګ یا مړینې نشتوالی بولي. د لویدیځ پوهان د تیرې پیړۍ تر لومړۍ نیمایي پورې د هغه څه څخه چې د عربي اسلامي تمدن طبیبانو په سلګونو کلونو مخکې ویلي و غافله او بې خبره وو.

ابن الرشد چې اسلامي فقیه طبیب وو د نن څخه اته سوه کاله مخکې د روغتیا په هکله داسې ویلي وو «دا په بدن کې هغه حالت دی چې د هغه په وسیله د بدن غړي پخپل طبعیت سره یو عمل سرته رسوي او یا د یوه فعل څخه منفعل او اغیزمن کیږي چې طبیعي دی»[1].

۱- داکتر محمد هیثم خیاط - د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کې - نړیواله روغتیایي اداره - ۱۱ مخ - ۱۹۹۷ کابل .

دغه راز علی ابن عباس زر کاله مخکی پخپل کتاب «کامل الصناعه» کې د روغتیا تعریف داسی کړیدی «روغتیا د بدن هماغه حالت دی چې د هغه په وسیله افعال پخپله طبیعی مجرا کې سرته رسیږی».

ابن النفیس پخپل کتاب «موجزالطب ص-۳۸» کې اوه سوه کاله مخکې روغتیا داسی تعریف کړیده: «په بدن کې هغه حالت دی چې د هغه په موجودیت سره اړونده فعلونه پخپل ذات کې صحیح وی او ناروغۍ یی ضد حالت دی».

په دې ډول روغتیا د طبی پوهانو په نزد اصل او اساس دی او ناروغۍ د هغه ضد صورت دی. خو د دی نعمت ساتنه د روغتیا په مراقبت او د هغه د بقا او بهبود په عواملو باندې د عمل کولو له لیاری تر سره کیږی. پس هر هغه څه چې طبیبان او د مسلک خاوندان یې د روغتیا ساتنی لپاره یادوی، انسانانو ته په هغو باندې عمل کول له همدی مبدأ څخه لازم ګرځی.

سر بیره پر دی الله ج په کتاب او د هغه د رسول ص په سنتو کې زیاتی لارښوونی بیان شوی چې د جسم د روغتیا ساتنی لاری چاری په عامه توګه، او د هر غړی روغتیا ساتنه په جلا جلا توګه بیان شوی دی.

د ناروغۍ د خپریدو موضوع په ضرر او اضرار کې شاملیږی. ځکه نو مسلمان ته نه ښایی او ورته حرام دی چې اجازه ور کړی ناروغۍ یی بل مسلمان ورور ته ورتیره شی، یا د خپلی ناروغۍ په مخنیوی کې سستی وکړی یا په ټولنه کې د ناروغۍ د خپریدو عوامل برابر کړی.

پیغمبر ص فرمایلی «کله چې په کوم ځای کې د طاعون ناروغۍ له وجود څخه خبر شوۍ هغه ځای ته مه ننوځۍ، او که چیرې ستاسو د استوګنی په سیمه کې طاعون پیدا شو له هغه ځای څخه بهرته مه ځۍ» (د بخاری په روایت له اسامه بن زید څخه).

د غور خبره دا ده چې انسان پوه شی چې د ناروغۍ خپریدل د خدای ج تقدیر دی او د هغه په مقابل کې مبارزه هم د لوی خدای تقدیر دی. لکه څنګه چې ناروغۍ د خدای ج د قضا او قدر په اساس ده نو د هغه وقایه او تداوی هم الهی تقدیر دی.

په پایله کې باید وویل شی چې په ځینو آثارو کې د کلدانی، یونانی، هندی، اسلامی، اولسی، یا کورنی او نوی یا عصری طب په هکله لیکنی شوی دی. خو د عصری علومو لکه کیمیا، فزیک او بیالوژی زیات انکشاف

په مرسته او د تجربی په اساس نوی طب منځ ته راغلی دی. اوس هم د تغییر او انکشاف په حال کې دی. د وجود د عناصرو کمبودی او زیاتوالی او د مکروب، باکتریا او ویروس له منځه وړل او د هورمونو، ویټامینو، معدنی مالګو او نورو موادو په واسطه د وجود تقویه کول او د هغه تعادل ساتل د دی طب اساس دی.

په تشخیص کې د برقی، کیمیاوی، صوتی، لایزری، میخانیکی او نورو عصری وسایلونه او په معالجه کې د ستن وهلو نه هم کار اخلی. د علومو پراختیا او د بشری پوهی د انکشاف او د نوو اختراعاتو او انکشافاتو په برکت دې پوهنې زیاته پراختیا موندلې ده، او مختلف شقوق او بیلې بیلې څانګې یې پیدا کړی دی، چې دری مهمی چانګی یی وقایوی اجتماعی او معالجوی څانګې دی.

د علم په تاریخی جریان کې دا د پخوانو پوهنو یو متکامل او مترقی شکل دی چې په اصولو او جزیاتو کې اکثراً د پخوانی طب سره مخالف او کله کله موافق لویږی. خو په هر صورت معاصر پرختللی ساینس په مستقل ډول خپل پرمختنګ ته دوام ور کوی او د زاړه تمدن په کنډوالو باندې نوی پاخه تعمیرونه جوړوی.

د طب د بیالوژی د پراخو علمی پرمختګونو په نتیجه کې د یوی خواته غذا او تغذیه او طبی بوټو مختلفو برخو او محصولاتو څخه استفاده د طب په خواکی ځانته خپل خاص اهمیت پیدا کړی دی د بلی خوانه «د غذا او بوټو په ذریعه معالجه» هم ځانله نظریه ګرځیدلې ده.

«اوس کوښښ کیږی چې د اجتماعی طب د اساساتو له مخی د ناروغیو عمومی عوامل چې د نورو اجتماعی شرایطو پوری هم ارتباط نیسی له منځه یوړل شی څو چې د ناروغتیا بیخ ووځی او د روغتیا ګلان و غوړیږی»[۱].

بیا د غذا او حفظ الصحی له مخی د وجود د توازن د ساتلو توصیه او تبلیغات کیږی او دا خبری په مدنی ژوند کې ځائیږی. بیا هم که څوک ناروغ شو د هغه د غذا او چاپیریال شرایطو په اړولو یی علاج کیږی او په ډیره مجبوری کې له دوانه (درمل) کار اخستل کیږی، چې د اجتماعی طب اوسنی مترقی علمی جریان په دغه لار روان دی.

۱- کابل مجله - ٤۳ کال، ۸ ګڼه ، پر له پسی ګڼه ٦٤٥ - ۱۳٥۲ کال - ۲۱ مخ .

باید زیاته شی چې د شلمی پیړۍ دویمه نیمایي او د یویشتمی پیړۍ په لندو لومړیو کې د طبی علومو او طبی تخنیک ډیر اوچت او په چټکتیا سره ګامونه پورته کړیدی، او ننی بشریت د نورو علمی او تخنیکی پرمختګ په څنګ کې د طبابت په ټولو رشتو او اختصاصی څانګو کې د تعجب وړ انکشافات منځ ته راغلی دی. د غړو پیوندول، د جراحی ډیر مغلق او ظریف عملیاتونه، د جینو یا کروموزوم مطالعه او په معالجی کې استفاده، د ناروغیو د تشخیص، تحقیق په هکله نوی او مدرن وسایلو منځ ته راتلل، نجات ورکوونکی واکسینونو کشف او داسی نور لکه د انسان د جنین مشابه جوړول دا ټول د طبابت پراختیا بیانوونکی دی.

د یو طبیب اخلاق طبیعی کرکتر او کلتور

د نړۍ د لیکوالو په آثارو کې ذکر شوی دی چې طبابت د قهرمانیو یو کار دی او د ثبات، متانت، روانی ستر والی او د اندیشو د پاکوالی مستلزم دی، چې د عقل له نظره صریح او د اجتماعی برخورد له نظره عادل او د فزیکی له نظره نظیف وی. ځکه ننی طبیب نه یواځې دنده لری چې خپل شخصی پوهې ته ارتقا ورکړی بلکې هم د ځان لپاره او هم نورو ته د ښوونې او روزنې، کلتور او فرهنګ، روغتیا او با سعادته ژوند لامل وی. یعنی طبیب باید د نمونی مثال معیار وی او خپل محیط او ماحول ته د نیک کرداره او په ټولنه کې د حمیده اخلاقو سر مشق وی.

روښان فکر (روڼ اندي) لاتینی Inteligo کلمی څخه اخستل شوی او کلتور د تربیت او یا فرهنګ مانا ارایه کوی چې په واقعیت کې دواړه په یو ځایی شکل یو واحد تعبیر ارایه کوی. په دې توګه د یو طبیب عمومی کلتور خاصه په دی ډول تفسیر کړیدی. د نظر وسعت، د پوهی د سطح لوړوالی سره علاقه ولری او هغه طبیب چې یواځی د خپل مسلک سره سروکار لری په حقیقت کې یو ساده کاسب دی، ځکه څنګه چې لازمه ده د ژوند ټول اړخونه فقط د یوی تنګې مسلکی زاویې په چوکات کې ګوری. د انسانانو د نیک بختۍ ژوند په خاطر مبارزه باید په خلاصو سترګو نظر واچوی، انسانان درک کړی او په ټولو مواردو کې د هغوی سره مینه ولری.

د یادولو وړ ده چې نن ورځ طبابت په چټکی سره مخ په وړاندی روان دی نو ځکه د متداوله علومو لکه ریاضی، کیمیا، فزیک، سوسیالوژی او نورو زده کړه ضروری بریښی. خو که یو با کلتوره طبیب نه غواړی چې نوموړی علوم ئی زده وی، نو لازمه ده چې اساسی پرنسیبونه او لاس

ته راوړني يي له پامه ونه غورځوي، خصوصاً هغه طبيبان چې په مختلفو ساحو کې په علمي تحقيقاتي مطالبو باندې مصروف دي. لازم دي چې د علومو متقابلو تأثيراتو باندې پوه وي او د هغو څخه ګټه واخلي، ځکه چيرته چې مختلفې رشتې سره په تماس کې وي هلته د پرمختګ او پراخوالي ټکې موجودي وي چې په هغو کې د پوهي نوي افکار سر را پورته کوي.

په دې توګه با کلتوره انسان بايد د نړۍ ښايسته توب، عالي افکارو او انساني احساساتو سره معرفت او آشنايي ولري. په همدې ارتباط يو با کلتوره انسان خصوصاً يو طبيب پوهيږي چې خارجي ډير سخت تنبهات د هغو له جملې څخه صوتي تنبهات پر عصبي سيستم باندې ناوړي اغيزي اچوي او په مقابل کې طبيعي خواږه او په زړه پوري آوازونه زيانمنې کموي.

ځني طبيبان ځکه د ستايني وړ دي چې په فعاله توګه خپلو علمي مسلکي نظرياتو او خاصتاً علمي او مترقي افکارو ته تکامل ورکوي او په محتاطانه او عيني شکل نوي عيني پديدو سره برخورد کوي، او پخپل مسلک او ټولنيزي پوهنې (جامعه شناسي) علم باندې په کافي اندازه مسلط وي او د خپل مسلکي پوهې په ارتقا کې کوښښ کوي، د روشنفکري (روڼ اندي) عالي سويه ولري او قادر وي ترڅو د ژوند ټولې پديدې د طبابت په هکله درک کړي.

هغه څه چې د طبيبانو ورځني پراتيک او عمومي کلتور باندې مهم رول لري هغه انساني، اجتماعي، دندي، فاميلي، شخصي اړيکې او د نورو مراعاتول دي او د عمومي قواعدو په وړاندي د هر ډول تخلف څخه په واضح او بر بنډ شکل ځان وساتي.

په کلتور باندې د پوهاوي نه لرل او هغه نه مراعاتول، او د کلتور نه لرل ممکن په ورځني عادي حالاتو کې لکه د کور په چاپيريال کې، د پولي کلنيک په محيط کې، په ديپارتمنت کې، دهليزونو، د باغ په ساحه، چمن، دفتر، اداره، مغازه، ښوونځي، ډوډۍ خوړلو خونه، ډوډۍ پخولو مواردو په نظر کې و نه نيسي او هيڅکله د کار نواقصو، کردار او رفتار، خشونت، بې نظافتي، او خپل لباس ته توجه نه لري، او خپل نامطلوب سر او وضعي ته اجازه ورنکړي.

د نړۍ په مترقي هيوادونو کې ډير زيات مطالب لکه د برخورد طرز په کور کې، ټولنه، رستورانت، سيمينار، د کار محل، په کلي او ښار، کتابتون او نشراتو کې وجود لري چې بايد د دغو نشراتو او مطروحه

قواعدو سره په کامله توګه آشنایی ولری او هغه څنګه چې لازمه ده او د ټولو له خوا قبول شوی دی په عمل کې پیاده کړی.

په آثارو کې راغلی دی ډیر ښه شخص هغه ته ویل کیږی چې با نزاکته، با ادبه، متواضع، فروتن او د محسناتو خاوند وی او برعکس نامطلوب هغه شخص ته ویل کیږی چې متکبر، خود خواه، د ځان څخه راضی، بی ادبه، بی نزاکته، حسود او احمق وی.

د اجتماعی ادابو په روابط داسی توصیه کیږي: شاوخوا کې لاړی توکول، په لوړ آواز پر نجیدل، د پوزی خالی کول، په سپوږمو کې ګوتی وهل ښه کار ندی، بلکی تل باید منظم وی، نوکان یی لنډ وی، لاسونه یی پاک منځلی وی او د میز تر شاه نیغ ناست وی، پر میز باندې تکیه ونکړی، پر میز باندې په لاسونو ډول ونه وهی، پښی یی ډیر سره نختی نه وی او کوښښ دې وکړی تر ټولو د مخه په وارخطایی غذا له میز څخه وانخلی، او شوروا په پوکولو سړه نکړی ترڅو هری خواته ونه پاشله شی. غټه مړی دی په خوله کې نه نباسی، او کله چې غذا یی په خوله کې وی خبری دې نه کوی، په دې حالت کې ویښتان په ګوتو ګو منځ نکړی، ګوتی د ژبی سره تماس ورنکړل شی، هډوکی ونه زبیښل شی، د چاړه په څوګه غاښونه پاک نکړی او د غاب په شاوخواو کې هډوکو او د ډوډۍ له پارچو څخه درمن جوړ نه شی، پاسنی ځنی شیان ممکن تکلیف راوړونکی وی، خو په عمومی توګه کله په ګټه هم تمامیږی.

باید له یاده ونه باسو چې د هر طبیب د کلتور عالی سطحه د اخلاقی موازینو سرشت سره مستقیمی اړیکی لری. په دی هکله د یو اروپایی مشهور فیلسوف طبیب بیګان سکی خبری چې وایي: هغه کسان چې ښه انسانان نه وی، ښه طبیب هم نه شی کیدلای. تر ټولو د مخه هغه سړی ته ښه شخص ویلای شو چې د خلکو مقابل کې صاف نیت ولری، خیر خواه وی، د خلکو غم، درد او خوشحالی احساس کړی او که ضرورت وی د عمل او خبروله لاری بې د کوم پاداش ځنې د خلکو سره مرسته وکړی.

د انسان سره علاقه او انسان دوستی، پراخ تندی او د خندا څخه ډکه خوله هغه اوصاف دی چې طبیبان یی باید په نظر کې ونیسی. ښه معاشرت او نږدی اړیکی د ناروغ سره بې له شکه د هغه په روغیدو باندې تأثیر لری او هیڅوک له مور څخه نږۍ ته طبیب ندی راغلی. ځنی انسانان غیر مناسب او ځنی بی له عیبه او با کفایت وی. مونږ هر یو په عمومی تعلیماتو کې

نواقص او یا په خپل فکری سیستم کې خلاوې لرو، کله کله داسی هم کیږی چې مونږ یو کار کوو چې نه باید هغه موکړی وای.

که نور خلک زمونږ نیمګړتیاوی او خطاګانو ته متوجه نه شی، نو مونږ باید پخپله هغو ته توجه وکړو او د ځان څخه یی لیری کړو، ټول نامطلوب او خراب فکرونه باید له ماغزو وباسو او د هغو سره په منطقی او شعوری توګه مبارزه وکړو. اصل مطلب او خبره دا ده چې د ټولنی ننني او د سبا ورځې طبیب داسی تربیه کړو چې د یو طبیب ټول خصلتونه او مسئولیتونه د ځان سره ولری. د هغه نه په غیر مونږ به انسان د خپل آرزو مطابق داسی تربیه کړو چې دردناکه او عبرت انګیزه آینده به په راتکونکی کې ولری.

د نمونی په توګه د ژوندانه ترخه درسونه چې له بده مرغه زمونږ په ټولنه کې شته دی یو ځای سره مطالعه کوو:

که د یو طبیب اوصاف د پول پرستۍ حرص او وچ کرکتر سره تشکیل کړی، سره د دی چې پخپل مسلک کې ډیر شهرت هم ولری او د هر ناروغ څخه د ټاکل شوی نورم څخه زیات فیس واخلی یعنی زمونږ د وطن د اقتصادی شرایطو په نظر کې نه نیول ډیری پیسی واخلی، نو خدایۍ دی پر ناروغ باندې رحم وکړی، او که یوه ورځې یو ناروغ چې پخپله هم طبیب وی د لوړ طبیب کتنځی ته مراجعه وکړی او هغه قسم خوړلی وی چې ناروغ بی له فیسه معاینه نکړی، او له بلی خوا څرنګه چې طبیب دی د هم مسلکی له پلوه فیس نه شی اخستلای نو د خپل پرنسیب بر اساس مجبور دی چې مجانی ناروغ (طبیب) بی له معاینی له خپلی کتنځی څخه رخصت کړی او یا دا چې نسخه یی لیکلی وی او ناروغ د فیس پیسی ونلری او هغه نسخه څیری کړی او هغه له معاینه خانی څخه وباسی. بیشکه چې دا د طبابت د اخلاقو سرغړونه ده او داسی اشخاصو ته خدایۍ د نیکۍ هدایت ور کړی.

په وروستی برخه کې څو ټکی د یادونی وړ دي:

۱. د بنی آدم شخصیت ته ځکه احترام کیږی چې هغه مهربان، با نزاکته او با ګذشته انسان دی، او کله چې د چا سره یو ځای ژوند کوی نه وایی چې ستا سره ژوند کول زما د پاره ګران دی.

۲. ښه انسانان په عمومی توګه سپیڅلی وی او رښتیا وایي، له دروغ ویلو څخه کرکه لری، ځکه دروغ ویل مقابل سړی توهینوی او دروغ ویونکی ډیر سپک او مبتذل معرفی کیږی.

۳. تربیه هغه شی نه دی چې رسم یی کړو په هغه ډول چې کور کې دی او په کوڅه او بازار کې په هماغه ډول وی او لازم دی چې د لاپې شاپې څخه خودداری وشی او ترڅو چې پوښتنه وجود نه لری، ځواب یی هم ضرور نه دی.

۴. د شخصی ګټې لپاره نورو حیثیت ته باید لطمه ور نکړل شی او د نورو شیطانت ته غوږ و نه نیول شی.

۵. نه شی کیدای چې تربیت په پیسو واخستل شی.

په یاد باید ولرو چې: با استعداده او با تربیه خلکو ته هر څوک احترام کوی او د هغو راحت لپاره تل کوښښ کیږی. باید چې پخپل نهاد (باطن) کې ادب او معاشرت تربیه کړو او رشد ور کړو او د دی د پاره چې تربیه د محیط له سطحی په ټیټ حالت کې را نه شی ضروری دی چې شپه و ورځ زحمت وګالی، مطالعه وکړی او پوهه زده کړی.

د ناروغ او طبیب خپل منځونې اړیکې

په بیلا بیلو زمانو کې د مختلفو پوهانو له خوا د ناروغ او طبیب خپل منځی اړیکې په هکله لکه ارسطو، مولر، تولستوی او نورو ځنی جملې قید شوی دی چې عبارت دی له ښه عاقلین، په ښو کې ډیر ښه او ځنی یی خشن، تند، کلک او نوری کلمې ذکر کړی دی.

په اوسنی عصر کې د طبیب او د ناروغ اړیکو په برخه کې ډیری لیکنی شوی دی او داسی ښودل کیږی چې یو مترقی او با کلتوره طبیب باید تل د خپلو ناروغانو سره د دوستی، ورور ګلوۍ، او ملګرتوب برخورد په نظر کې ونیسی او د ناروغ سره مرستی په وخت کې مکلف دی چې د هیپوکرات له پرنسیبونو څخه چې ناروغ ته ضرر ونه رسوی سپارښتنو څخه پیروی وکړی.

په پخوانیو آثارو کې د طبیب کلام او خبری ډیر خاص ځای یی ځانته غوره کړی دی او په بل ځای کې ژبه او خبرې یی لومړۍ مقام ځان ته اختیار کړی دی چې د طبیب تاثیر د ناروغ په روح او فکر باندې اغیزه

وکړی او حتی په ځینو حالاتو کې د هغه محبوبیت د ناروغانو په منځ کې په ربښتیا سره چې د یو شاعرانه وصف سره د هغوی د درملنې باعث هم شوی دی.

له بلې خوا داسې واقعی هم په نظر راغلی چې د طبیب یواځی کتل د ناروغ سترګوته تل پیام راوړونکې، د ځواکمنۍ او قوت ناقل، شادابیت، اعتماد او بالاخره د ناروغ روغتیا په مکمل ډول منځ ته راځی. د ولتر په خبره «روغیدلو ته امید د روغتیا نیمایی ده». د تعجب وړ خبره نه ده چې حتی ناروغ طبیبان د دغو خوشبینیو تر تاثیر لاندې راځی.

په ټولو حالاتو او شرایطو کې د یو طبیب ډیر ښه او موثر کلام پر ناروغ باندې باید رعایت شی چې عبارت دی له زړه سواندی، مهربانۍ او د شفقت روابط د ناروغ سره برقراره شی.

د یو اروپایی پیاوړی طبیب یانوش په عقیده زړه سواندی او مهربان هغه شخص ته وایی چې د یو بل په برخه کې تصور او پیژندګلوی ولری او کولای شی احساس وکړی چې بل شخص څه احساس لری، دغه د شفقت ځخه ډک خصلت دی چې زمونږ ډیر ښه طبیبان د نورو سره بیلوی.

ځینی طبیان پر ناروغانو باندې د کلام د منفی اغیزو په اړه لږ فکر کوی، مونږ اکثراً له یاده وباسو چې د یو طبیب خبری نه یواځی پر ناروغۍ باندې غلبه کوی بلکې په ځینو مواردو کې د ناروغ د خرابی سبب، د ناروغۍ اوږدوالی او یا حتی د ناروغۍ د نورو اضافی اعراضو موجب هم ګرځی.

د ناروغیو د اعراضو پیدا کیدل چې علت یی خپله طبیب وی ډول ډول دی. د بیلګې په توګه د طبیب د نه توجه او بی احتیاطی، د ناروغ په وړاندی د ناروغۍ د سیر او وصف په هکله غیر ضروری خبرې، د ناروغ پوهېدل پر لابراتواری، رادیولوژیکی او اختصاصی معایناتو، د ناروغۍ ډیر شدید او غټ ښکارول ناروغ ته او داسی نور.

ټول پورتنی شیان خصوصاً د حساسو ناروغانو سره د نارامی احساس، بی اعتمادی، اضطراب، منځ ته راوړی چې په نتیجه کې د روحی تشویش او حتی د هغو د مړینی سبب کیږی.

څرنګه چې مشهور جراح «تشوته» وایی په حقیقت کې یو د ارادی کلک ښوونکی چې د مری د سرطان په ناروغۍ اخته وو او کله چې خبر شو ځان یې مړینی ته اماده کړ او د ژوند په اخر سلګیو کې یی ویل: ولی

طبیب ماته وویل چې ته د سرطان پر ناروغۍ اخته یی، سره د دی چې ما د هغه څخه خواهش کړی و چې حقیقت راته ووایی خو د منفی ځواب په انتظار کې وم. د سرطان او نه علاج کیدونکو ناروغانو سره خبرې اترې باید تل خوشحالوونکې، قوت بخښوونکې او تلقین ورکوونکې وی.

د ویزیت په وخت اکثراً طبیب ناروغ ته وایی چې د هغه معدی سقوط کړی دی او حتی د حوصلی تر ناحیی پوری رسیدلۍ ده، په نتیجه کې ناروغ د غذا خوړلو څخه انکار کوی ځکه د هغه په نظر څرنګه چې معده یی تر حوصلی پوری رسیدلی ده نو څنګه باید غذا څخه استفاده وکړی.

پورتنی مثالونه یو شی مونږ ته را زده کوی چې د طب پرسونل باید د ناروغانو سره عاقلانه او محتاطانه برخورد وکړی.

هغه اساسی پرنسیبونه چې د طبیب او ناروغ مناسبات بیانوی او د ناروغ د روحی او جسمی بهبودی باندې تاثیر لری د طبابت په پرنسیبونو کې یو بیل فصل دی چې د دیانتولوژی (د وظیفوی مسئولیت تعلیمات) په نامه یادیږی، دلته یی یواځی ځنی خصوصیات وړاندی کیږي:

۱- په لومړۍ سرکې ناروغ د طبیب څخه د مرستې انتظار لری، د یو عاقل حساس او زړه سواندی انسان قادر دی چې ناروغ ته مرسته ورسوی. د ناروغۍ په حالت کې د طبیبانو څخه یو لړ تقاضا وی موجودی دی چې:

تر ټولو د مخه ناروغ غواړی پوه شی چې طبیب په دی فکر دی چې په واقعی توګه د مرستې رسولو فکر ورسره شته دی او ناروغ دا امید لری چې د ویزیت په وخت کې یواځی د هغه فکر د شکایاتو اوریدلو او د اضطراباتو د له منځه وړلو په خاطر وی او بس.

برسیره پر هغه د ناروغ ټول شاوخوا فضا او ټول مؤظف پرسونل حرکات، سکنات او اکت او نور د ناروغ سره باید داسی احساس پیدا شی چې طبیب غواړی یواځی د هغه سره مرسته وکړی او د امکاناتو په چوکاټ کې ناروغ د ناروغۍ او عذاب څخه خلاص کړی. د پورتنیو ټکو په مراعاتولو سره د ناروغ سره اعتماد منځ ته راځی او د طبیب د هر ملاقات سره د ناروغ جسمی او روانی حالت بهبود خواته ځی.

برعکس د طبیب په بی تفاوتی، بی اعتنایی او د ناروغ شکایات او مشکلات نه اوریدل، د هغه اضافی صحبتونه، د د پردیو شکمن لغات او

کلمات استعمالول د طبیب اوتوریته ښکته راولی، بې اعتمادی او بې احترامی د هغه په مقابل کې زیاتیږی.

په دې توګه د ناروغ انسان مقابل کې هر طبیب باید دقیق، محتاط او دلسوز وی. د طبیب خارجی قیافه او ظاهری وضعی سره د ناروغ لپاره د دقت وړ دی چې دغه موضوع هم د نارینه او هم ښځینه طبیبانو لپاره د توجه وړ باید وی.

هیڅ یو ناروغ دا نه خوښوی چې د اوږدو او تیره نوکانو سره هغه قرع شی، د هغه لاسونه سوړ وی او یا خیرن او لانده وی. له همدی سببه هغه طبیبان چې د نوکانو د آرایش مشتاق وی، لاسونه یی سوړ، خیرن او لانده وی ځان ته اجازه ورنکړی چې د ناروغ جسم جس او قرع وکړی.

۲- دویمه موضوع چې د طبیب څخه غوښتنه کیږی عبارت له دی څخه دی چې د خپلی درملنې موثریت پر ناروغ باندې ثابت کړی. په دې ځای کې طبیب نه یواځی کامل علمی او پراکتیکی آمادګی ولری بلکی تر ټولو د مخه هغه باید ناروغ ته د تللو او نږدی کیدلو توان ولری، د ناروغ سره د تماس برقرارول او د ناروغ فزیکی او معنوی ذخیروی قوت څخه په استفادی سره د ناروغ د ناروغۍ د مبارزی په مقابل کې توانایي ولری.

ځکه هر ناروغ ځان ته مشخص خصوصیات لری او که فردی خصوصیات په نظر کې ونه نیول شی د ناروغ تشخیص او درسته درملنه به صورت ونه نیسی او له بلی خوا هیڅکله دوه مطلبه یعنی مطمئن والی او مشکوک والی باید سره اشتباه نه شی ځکه دغه دواړه دوه مختلف مفهومونه رانیسی. یعنی اعتماد پر ځان او مطمئن والی د یو طبیب مثبت اوصاف دی او شک او تردید د هغه د منفی خصایصو په شمیر کې حسابیږی.

هر طبیب د پوهې د لاسته راوړلو او د تجربی حاصلولو په اثر پرځان اعتماد لاس ته راوړی او شک او تردید د فضیلت فروشی، د ځان د انتقاد مصدومیت او بی نزاکتی زمینه منځ ته راوړی. مطمئن والی او علاقه نه یواځی د یو طبیب عالی وصف دی چې د ناروغ لپاره د هغه د اوتوریتی لوړوالی کې نقش لری بلکې یو صفت دی چې د یو طبیب شخصی او طبی حیثیت په تحکیم او لوړوالی کې مستقیم دخالت لری.

۳- دریمه موضوع چې ناروغان یی له طبیبانو څخه غوښتنه لری هغه دا دی چې هر طبیب باید ناروغ ته د یو انسان په توګه احترام وکړی.

نن ورځ په بشری پرمختللی ټولنو کې د انسان د شخصیت ارزښت احساسول ارتقا کړی دی او هغه تفاوتونه چې په مختلفو عرصو کې د انسانانو په منځ کې موجود وو له منځه تللی دی. حال دا چې په ځینو وروسته پاتی هیوادونو کې طبیبان مجبوریږی چې د پیسو په خاطر پیسه لرونکو ته غوړ مالی وکړی او ظاهری تعظیم وکړی او برعکس هغه کسان چې په جیبو کې څه نه لری په مسخرگی سره د هغو څخه مخ گرځوی.

اصول دا دی چې د طبیبانو برخورد د ناروغانو سره چې د هری ډلی څخه وی یعنی څه ځوان او زوړ، څه شیک پوشه او یا زوړ پوشه، نر وی او که ښځه د یوه ناروغ په توگه په یو واقعی، مسلکی او عاطفی نه ډک په څیر بې له هر تبعیض څخه برخورد وکړی.

په همدی ترتیب غواړم چې تاسی د یوې کلمی سره چې په تأسف سره ځینو طبیبانو له خوا د ناروغ د معاینی په وخت کې صورت نیسی ستاسو توجه جلب کړم چې هغه کلمه عبارت له ته (تو) څخه دی او یا د ناروغ څخه په بې اعتنایي سره پوښتنه وشی چې څه شکایت لری (داري) دغسی یو برخورد هر یو محترم او تحصیل کړی شخص ته خوش آینده نه دی او د تاثر وړ به وی.

په اوسنی عصر کې دغسی عمل په طبابت کې ځای نه لری او د ناروغ مقابل کې هیچاته باید اجازه ور نه کړل شی ځکه د ناروغانو تحقیرول او غیر دوستانه او خشن برخورد په ټولو اشکالویی په یوه انسانی او بشر دوسته ټولنه کې منع کړل شوی دی.

بې ځایه به نه وی چې د ځینو ناروغانو تصوراتو باندې چې د ضرر څخه خالی نه دی تاسو ته یادونه وکړو. د بیلگې په توگه ځینی ناروغان وایی چې پلانی طبیب ډیر ښه لاس لری او یا پلانی طبیب ښه لاس نه لری چې د پولی کلینکونو او یا روغتونونو په چاپیریال کې غوږوته رسیږی. او باید وویل شی چې دغسی ارزښتونه تل بی ارزښته او بې اساسه هم نه وی. ځکه داسی طبیبان هم شته دی چې بعضی د شق پروسیجرونه او بې له درد څخه معایناتو سره عادت نه لری او بې له درد څخه د پروسیجرونو او معایناتو اجرا کول نه یواځی د ناروغ او طبیب تر منځ نورمال مناسبات لاپسی تحکیموی بلکی د طبیب د کار نتیجه هم آسانه کوی او گټور واقع کیږی. د بیلگې په توگه د یو ناروغ دگیډی د جس کولو طرز باندې رڼا اچوو. که د ناروغ گیډه غیر سستمیک او په شدت سره اجرا شی طبیعی ده چې بې له احساسولو له درد څخه او د گیډی د عضلاتو تقلص ځینی نور شی

لاس ته نه راځی، او که د جس عملیه د سمیولوژی د قانون سره سم په مهربانی او نرمش سره صورت ونیسی حتماً د ګیډی د جوف اعضاو په هکله درست او صحیح معلومات لاس ته راځی.

او یا که د پوستکی لاندې په زړی او پنډی ستنی باندې او په نامناسب ځای کې زرق اجرا شی ډیر زیات درد ناک وی او که باریکه، تیره، نوی او ښه تعقیم شوی ستنی ښخه کار واخستل شی البته چې بی له درد او اختلاط ښخه وی.

په ننی طبابت کې ډیر نوی او عصری زیات میتودونه منځ ته راغلی چې اوس د تطبیق وړ دی چې که د هغو ښخه په ښه توګه او په موقع سره استفاده صورت ومومی حتی ډیره لږه ناراحتی چې د احساس وړ وی هم منځ ته نه راځی فقط هغه ښه چې لازم او د توجه وړ دی، هغه دا ده چې باید هغه زده کړه شی او د استفادی وړتیا په ځان کې منځ ته راوړی.

اوس وګورو چې ناروغ د معالج طبیب سره ځنګه برخورد وکړی او اړیکې ولری. تر ټولو د مخه ناروغ باید خپل معالج طبیب ته احترام وکړی او په پوهې مسلکی تجربی او د معاینی طرز باندې اعتماد او باور ولری، په دې توګه باید هغه ته ډیر زیات احترام وشی، د هغه صداقت او راستکاری ته د قدر په سترګه وکتل شی او هغه د یو خبره متخصص او مسلک ته یې احترام وشی.

هر ناروغ ته لازم دی چې د طبیب ټول هدایات، توصیی او مشوری په دقت او په خوښه سره اجرا کړی. باید وویل شی چې نن ورځ په نړۍ کې ډیري ناروغان د دغه او یا هغه ناروغۍ او حتی د نوو درملو استعمال په هکله معلومات لری.

په دې توګه طبیبان باید د خپلو اضافی معلوماتو په رڼا کې د درملنې ګټورتوب، د درملنې میتودونه په مفصله توګه او قانع کوونکې شکل خپلو ناروغانو ته روښانه کړی تر څو د ناروغۍ ټول اشکال په ښه توګه محدود (مهار) شی.

د پخوانیو ښخه داسی معمول ده چې په هره ناروغۍ کې دری نیروګانی یعنی یو ناروغۍ، بل طبیب او دریم خپله ناروغ په مستقیم او مکمل ډول دخالت لری. او که ناروغ او طبیب یو بل سره لاسونه ورکړی هرومرو دریم ګړی پخپله له منځه ځی.

د طبابت سوګند نامي

په طبی سوګند ناموکې اخلاقی نورمونه او اساسی پرنسيبونه چې د طبيب په فعاليتونو کې د لارښود په توګه استعماليږی، منعکس شوی دی.

طبيبان په ډيرو هېوادونو کې د تحصيل نه وروسته او د ديپلوم د اخستلو په وخت کې سوګند (قسم) پرځای کوی. د ټولو سوګند نامو متن د هيپوکرات د سوګند نامی څخه منشأ اخستی چې د يو طبيب د فعاليتونو خصوصيات، د هغه مکلفيتونه، د ناروغ د تکاليفو د له منځه وړلو لپاره آمادګی، د ناروغ سره زړه سوځوونکی رويه، د طبی راز خوندی ساتل او نور احتوا کوی.

د هيپوکرات سوګند نامه:

د هيپوکرات سوګند نامه چې تر اوسه هم خپل ارزښت له لاسه ندی ورکړی، طبی کارکوونکو ته داسی لارښوونې کوي:

زه پر لوی ذات الله ج، پر روغتيا او ټولو کائناتو او مقدساتو سوګند يادوم او هغوی د شاهد په توګه قبلوم چې لاندې مسئوليتونه په ټول توان، قدرت، هوښيارۍ او پاک وجدان سره مراعاتوم او هم يې عملی کوم.

۱- ټول هغه کسان چې د طبابت دغه فن يې ماته زده کړی دی لکه خپل مور او پلار ورته احترام کوم، د هغو سره په ژوند کې شريک کيږم او د لزوم په صورت کې د هغو سره مادی مرسته کوم د هغوی اولاد لکه خپل ورور وګڼم او که وغواړی چې طبابت زده کړی، زه هغوی ته بې له کومې اجورې او مکافات او بې له کوم قرارداده ور زده کوم.

ټول قواعد، اصولنامی او علمی تدريسی پرنسيپونه خپل اولاد، د استادانو اولادونو او هغه زده کوونکو ته چې دغه سوګند نامه او د طبابت مسئوليتونه رعايت کړی، انتقالوم او نه بل شخص ته.

۲- د خپل توان او قضاوت سره درملنه د ناروغ انسان په خدمت کې قرار ورکوم او هيڅکله د هغه د ضرر او بدۍ لپاره اقدام نه کوم.

۳- زه به هيچاته زهری مواد چې زما څخه وغواړی ور به يې نه کړم او د دغه موادو کوم پلان او د استعمال طرز يې چاته نه ښيم.

۴- زه به هيڅکله بلاربۍ ښځۍ ته د سقط درمل نه ورکوم او د هغه د منځ ته راوړلو طرز هم نه ښيم، برعکس د خپل مسلکی قدسيت او انسانی کرامت په نظر کې نيسم.

۵- هر کورته چې وغوښتل شم هلته به لاړ شم او هلته یواځې د ناروغ سره مرسته زما په نظر کې وی، د ټولو منفی ارادو خصوصاً د معاشقه بازۍ څخه که نر وی او یا که ښځې سره او یا آزاد سړی وی، پاک اوسم.

۶- د درملنې په وخت کې او یا د درملنې د ساحی څخه د باندې هغه څه چې اورم او یا یې وینم په دې مانا چې هیڅ شی می نه لیدلی او یا مې نه دی اوریدلی، یعنی هر شی زما سره پټ ساتل کیږی.

۷- زه بې له شکه په دغه تعهد باندې عمل کوم، ځکه دغه ماته حیاتی او مسلکی سعادت بخښی او عمل نه کول پر هغه باندې واضح ده چې معکوسه نتیجه به ور کړی.

د هیپوکرات په سوګند نامو کې ځینی هېوادونو کې نوری ټکې هم ور زیات شوی دی لکه د طبیب سره کینه نکول او د پرسونل خطاوی په عام محضر توضیح او تشریح نه کول او د طبیب او محصل څخه فیس نه اخیستل.

په ۹ پیړۍ کې د هیپوکرات څخه وروسته په اسلامی نړۍ کې ځینی پوهانو آثار لیکلی دی چې په هغو کې داسی راغلی دي:

طبیب باید عفیف، سپیڅلی او وفادار وی، د بې خدایانو سره رابطه و نه لری او سرو کاریی د علم و فن د اهل سره وی، د بخښنی استعداد ولری، دقیق او صلح خوښوونکی وی، د ناروغ په سوالونو بې حوصلی نه شی، د ناروغانو سره یو ډول کار وکړی، وخت وپیژنی، د فیس مقابل کې مجادله و نه کړی، حاملی ښځې ته د سقط درمل ور نکړی، د ښځو مقابل کې د عفت څخه کار واخلی، د ښځو په معاینه کې دریم ګړی هم حاضر وی، یو طبیب باید پوه شی چې څومره دغه اوصاف لری او په هغو سنبال وی.

د افغانستان سوګند نامی

په کال ۱۳۱۶هـ.ش د لیندی د میاشتی په ۲۹ مه نیټه د طب پوهنځی او درمل جوړولو لومړۍ دوری فارغانو ته د دیپلومونو او بری لیکونو د توزیع کیدلو په وخت کې لاندې سوګند نامی هم د محصلینو له خوا لوستلی شوی دي:

طبی سوګند نامه:

دا چې د خدای ج په فضل می د افغانستان د طب په پوهنځی کې تحصیل کړی دی او نن د دیپلوم پراخستلو باندې مشرف کیږم، که څوک د درملنې لپاره ما وغواړی فقیر وی او که غنی، د هر ملت څخه چې وی د مسلک د آدابو سره سم او په پاک نفسۍ سره د ناروغ سرته حاضریږم او دهغه په تشخیص او درملنه کې دقت کوم. په غیر د ضرورت څخه چې د مسلک له رویه د هلاکت موجب ګرځی د سقط لپاره درمل نه ورکوم او هم مداخله نه کوم.

د تشخیص په وخت کې که اشتباه او تردد ما سره موجود وی د طبی مشاوری څخه سر نه غړوم. که څوک روغ یا ناروغ وی داسی درمل نه ورکوم چې د هغه ژوند په خطر کې اچوی. د عملیاتو په وخت کې له احتیاط څخه کار اخلم. د ساری ناروغیو ناروغانو د خدمت څخه ډډه نه کوم.

د سمی درملو تحریر کې له امانت داری او احتیاط څخه سرغړونه نه کوم. د صنعت اسرار د مسلک په ارتباط نه افشا کوم.

هغه شیان چې د سرکار له خوا ما ته سپارل شوی دی د حق او عدل څخه نه وځم. په پای کې خپل حکومت ته بی قید و شرطه مطیع یم او په لنډه توګه وایم چې پر پاسنی موادو د ایمانداری پر اساس صادق یم.

و الله، با الله، تا الله

د درمل جوړوونکو سوګند نامه:

دا چې د خدای ج په فضل د درمل جوړولو فنی ښوونځی می چې د طب پوهنځی پوری اړه لری شامل شوی او نن د تحصیل د فراغت سند مې حاصل کړ. په ایمانداری او خپل دیانت باندې توکل کوم او وروسته تر دی د طبیب له هدایت څخه پرته چاته درمل نه ورکوم او د جنین د سقط لپاره پخپل سر درمل نه ورکوم.

سرکاری مالونه په صداقت او امانت داری سره محافظه کوم او د هيچا څخه د درمل د اصلی نرخ څخه زياتی پيسی نه اخلم.

خپل دولت او حکومت ته تل مطيع اوسم. د خپل د دين او ايمان د امر په اساس پاسنی مواد چې زما د څانګی (مسلک) سره تطابق لری صادق يم.

و الله، با الله، تا الله

هندی سوګند نامه:

دغه سوګند نامه ۲۸۰۰ کاله مخکې منځ ته راغلی ده.

۱- طبيب نه يواځی نفسانی خواهشاتو، قهر، بد بينی، دروغ ويلو، سستی او بد نامی څخه پرهيز کوی بلکې هر هغه عمل چې د طبيب نيک نوم لکه دار کوی هم ځان ژغوری.

۲- په مساعد وخت کې خپل نوکان واخلی (پری کړي)، سپيڅلی کالی واغوندی، د استادانو احترام ولری او خپل نږدی ناروغانو ته وړيا درمل ورکړی.

۳- طبيب بايد لايق ښکاری وی او د ناکسو څخه ځان ليری وساتی.

د يو مسلمان طبيب سوګند نامه:

ای لويه خدايه! تا چې زه دی د يو طبيب په توګه غوره کړی يم ما سره مرسته وکړه تر څو خپله دنده په ښه شکل سره اجرا کړم او ما د حرص او حسادت څخه وساته، ما ته قدرت راکړه چې بې له تبعيض څخه ناروغانو ته کار وکړم او په حرمت سره ناروغانو سره ژوند وکړم.

خدايه هرڅه چې ما ته موبخښلی دی قناعت ور باندې وکړم او د طب د علم د ښوونې او روزنې په لاره کې کافی وقت زما په نصيب کړه تر څو په دغه رشته کې خدمت می کړی وی.

د نړۍ د طبيبانو نوی سوګند نامه:

کله چې طبيب شوم ناروغ ته خدمت کوم، د طبابت راز پټ ساتم او د هغه په ساتلو کې هڅه کوم. همدارنګه ناروغ لکه خور او ورور وګڼم، بې له تبعيض څخه کار وکړم او د انسان ژوند سره علاقه ولرم.

د شوروی د یو طبیب سوګند نامه:

د یو طبیب پر افتخاره نوم حاصلول او د طبابت شرافتمند کار شروع کولو سره د زړه له کومی سوګند یادوم:

- ☜ زه خپله ټوله پوهه او ځواک د ناروغ انسان د روغتیا په ساتنی او ښه کولو کې، د ناروغیو درملنه او وقایه کې مصرف کړی او د پاک وجدان له رویه هر کله چې اجتماعی ګټی ایجاب وکړی کار او مبارزه کوم.
- ☜ د مسلکی او طبابت فن د پوهی سطحی لوړ والی په هکله کوښښ کوم، هغه مسلکی قابلیت چې لرم د طبابت علم او پراکتیک ته یې انکشاف ورکوم.
- ☜ په عمل کې د مرستی رسولو په هکله هیڅکله سرغړونه نه کوم. د ناروغانو سره دقیق او زړه سوزونکی برخورد کوم او د طبابت رازونه هیڅکله نه افشا کوم.
- ☜ کله چې ضرورت وی د ناروغ په ګټه د خپلو ملګرو سره مشوره کوم او زه هم نورو ته د مشوری ورکولو څخه انکار نه کوم.
- ☜ تل د خپل وطن د طبابت عنعنی ساتنی او تکامل په هکله کار کوم. خپل ټولو اعمالو کې د هېواد معنوی او عمومی خصوصیات په نظر کې نیسم او تل د شوروی د طبیب لوړ نوم، د شوروی د خلکو او دولت په مقابل کې مسئولیت به په یاد لرم.

د دغی تعهد نامی حقیقت باندې قسم خورم چې په ټول عمر کې هغه عملی کوم.

د ژنوا مصوبه:

د اطباو د انجمن په عمومی اسامبله کې (۱۹۴۸ د سپتامبر په میاشت) د ژنو د مصوبی په نامه لاندې متن تصویب شوی دې:

د هغه شیبی څخه چې د طبابت د مسلک عضویت اجازه ما ته راکول کیږی، زه رسماً تعهد کوم چې خپل ټول ژوند د بشریت د خدمت لپاره وقف

کوم، خپلو استادانو ته احترام کوم او د هغو څخه سپاسګذار يم. زه خپل مسلک سره په اګاهانه او شايستګی توګه مشغوليږم.

زما لومړنی هدف او دنده د ناروغ روغتيا وی. هغه اسرار چې پر ما اعتماد شوی دی پټ يی ساتم. ټول هغه امکانات چې زما په لاس کې دی د طبابت مسلک حيثيت او نجيبه سنن حمايه کوم. هم مسلکان زما ورونه دی. زه نه پريږدم چې مذهبی عقايد، ملی، نژادی، سياسی او يا اجتماعی موقف زما د ناروغ او دندی په منځ کې خنډ شی. زه د انسان حيات ته د تشکل له لحظی څخه په ژوره توګه احترام کوم. زه له خپل طبی پوهې څخه حتی د انسانی ضد قوانينو تر تهديد لاندی هم استفاده نه کوم. زه دغه تعهد په آزاده توګه او د خپل وجدان موافق په رسمی توګه منم.

دویم څپرکی

په لرغونو پیړیو کې د طبابت ځانګړتیاوې

په لومړنیو ټولنو کې د طبابت د ودې خصوصیتونه

د ناروغیو درملنه د پخوانیو انسانانو د مبرمو اړتیا وو څخه شمیرل کېده، حتیٰ په لومړنیو ټولنو کې د طبابت نطفې څرګندې شویدی. د لومړنی ټولنی لویې لاس ته رواړنی د ناطقی قوی او د تکلم د منځ ته راتګ، د اور د کشفولو او پیدایښت، د کار د لومړنیو افزار ایجاد، د ښکار ظهور، پر مځکه باندې کار، د وحشی ژوو (حیواناتو) د اهلی کولو څخه عبارت دی. د دی کشفیاتو تر تاثیر لاندې د طبابت او درمل جوړولو لومړنی ګامونه چې په هغه وخت کې یو له بله سره بیل نه وو پورته شول.

عمده او اساسی خبره د انسان د پاره د تکلم منځ ته راتګ وو چې هغه یې د نړۍ د حیواناتو څخه متمایز کړ «د اور کشف د محیط (طبیعت) څخه د انسان وابستګی (تړاو) کمه کړه او د نړۍ په زیاترو برخو کې یې د هغوی د استوګنی امکانات برابر کړل».[1]

په دې پیړۍ کې تجربوی طبابت چې د هغو اساس تجربی (امپریزم) تشکیلاوه ظهور وکړ او دا پخپل ذات کې د یو مشخص ټولنیز چاپیریال محصول و، چې د انسان د درد او رنځ د سپکولو د پاره هڅه یې، په ډله ایز (کولکتیوي) شکل میسره کړه.

د پورتنیو جملو څخه دا نتیجه ترلاسه کیږی چې یوازې اجتماعی تولید کولای شول چې د انسانی ټولنې د طبابت وده رامنځ ته کړی.

طب د لومړنی ټولنې د ودې او تکامل په ډیرو لیرو مرحلو (لومړنیو) کې ظهور وکړ.

له بوټو څخه د غذا په حیث ګټه اخستنه د زرګونو کلونو په اوږدو کې، د هغی دوری انسان د هغوی سره آشنایی پیدا کړه چې د غذایی خواصو د تشخیص برسیره د نباتاتو د شفایي توب تاثیر یې هم وټاکه. د ګیاه ګانو د زیاتې تنوع په منځ کې، انسان متوجه شو چې د هغوی یوشمیر د کانګو (استفراغ)، د معدې، کولمو د تشوشاتو، د دردونو د تسکین او داسې نورو باعث ګرزی. کوم شفا بخش نباتات چې لومړۍ ځل د پاره وپیژندل شو د درد د لیرې کولو (انلجزیکونه)، د هضمی سیستم د منبهاتو څخه عبارت وو.

۱- ملی نی چینکو، تاراسووا، سیمینووا، فارمسی چارو اورګانزیشن، ماسکو ۱۹۷۲، ۳۲،۷ مخ.

د بوټو د شفا بخښوونکې خواصو روښانه کېدلو په حیواناتو کې د زخمونو د سیر او یا د هغوی د ناروغۍ مشاهده یې هم مساعده کړې ده.

د سهیلی امریکی په پخوانیو کیسو کې راغلی دی چې د کنینو طبی خواص هغه وخت ولیدل شو چې یو حیوان د کنین د بوټی ریښې وخوړلې او له تبې څخه روغ شو.

د عربو د کیسو له مخې د قهوې تنبه کوونکې قوه د وزو په مرسته کشف شوی ده.

د نباتاتو شفا بخښونکې خواصو مطالعه بالاخره انسان په دې مکلف کړی دی چې د هغوی لومړنی ښوونکی طبیعت دی او د درملی موادو منبع نباتات (بوټي) دی.

د بوټو د طبی خواصو په باره کې معلومات او پوهه ورو ورو پراختیا موندلی او له یو نسل یې بل نسل ته انتقال کړیدی. پدی ډول لومړنی انسانان د خپلو تجسسونو په اساس د مرضونو څخه د ارامتیا او د خپل محیط د چاپیریال د مختلفو موادو له ضرر څخه د ژغورنی په خاطر په تیره بیا بوټی یې د استفادی لاندې نیول. او څرګنده ده چې د بوټو د علاج کوونکو اغیزو څخه استفادی په دی دوره کې د انسانانو د کولکتیفی یا ډله ایزو غیر شعوری لویو تجربو نتیجه ده.

د مور واکی د غوړیدني په دوره کې دا تجربی د ښځو په تجربو کې ذخیره کیږی، ځکه چې په دی وخت کې د ناروغیو د درملني وظیفه ښځو په غاړه اخستلی وه. د خوراکی موادو د برابرولو دنده اساساً په لومړنی ټولنه کې د ښځو په واسطه ترسره کیدله، هغوی تر هرڅه د مخه د یو شمیر بوټو په معالجوی خواصو پوهېدل او په مختلفو تداویو کې یی تری ګټه اخستلی ده.

تصادفی خبره نه ده چې په داستانونو او کیسو کې د ماهرو طبیبانو په صفت تر ټولو د مخه ښځې معرفی شویدی چې مشهوری یی په لاندې ډول دي:

بیریګینیا Beregenia د لرغونو سلاویانو په نزد، پولی دمنه Polydamna په لرغونی مصر کې، احمیدا او ارتمیدا Ahmeda & Artmeda په یونان کې، کازا Kaza د چکیانو په نزد، هیرتا Herta په پخوانی جرمنی کې، مارینا Marina په کیف او داسی نورو هېوادونو کې.

په دې ډول د انسانی ټولني د تکامل په لومړنی مرحله کې یعنی د مور واکی په عصر کې نباتات د علاج کوونکو موادو څخه وو.

په وروستنیو مرحلو کې هغه وخت چې نیزه او لینده راوج شول او ښکار رامنځ ته شو نو د ښځې د سابقې شرایطو هم په ټولنه کې بدلون وموند او د ښکار غوښه د انسانانو همیشنۍ غذا وګرځیدله او ښکار د نارینه و د کار او زحمت مهمه برخه شوه. نو دا وه چې د خوراکی موادو برابرول د نارینه و په غاړه شول او په ټولنه کې د ښځو ونډې دوهم مقام ونیو. پدې توګه څرګنده ده چې د طبابت رول هم ورو ورو نارینه و ته منتقل شو.

په دې وخت کې دی چې د نباتاتو سره یو ځای چې د هغوئ درملی اغیزی د یوی اوږدی زمانی په پړاو کې لیدل شوی وی نو په تجربوی ډول د حیوانی محصولاتو د

معالجوی (درملی) خواصو څخه ګټه واخستل شوه او د طبابت په مقصد د نباتاتو تر څنګه د حیواناتو له ځیګر، تازه وینی، وازګی او د هډوکو څخه هم استفاده رامنځ ته شوه.

هغه وخت چې انسانانو د ښکار مرحله تیره کړې او د حیواناتو په اهلی کولو شروع کوی د ښکار کسب خپل ځای د حیواناتو اهلی کولو ته پریږدی. د سفالی چاری (کوزه ګری) او له فلزاتو څخه استفاده د تجربوی طبابت په تکامل کې ستر ټوپ پیل کوی او درمل جوړونه هم لوړو انکشافاتو ته ور پورته کیږی.

شپانه د خپلو څارنو او مشاهداتو په اساس پر حیواناتو باندې د نباتاتو د اغیزی تجربی حاصلوی او همدا خبره ده چې تر ټولو د مخه په دی مرحله کې د جراحی اساس کیښودل کیږی. د دې په خاطر چې شپون مجبور و چې د خپل زیان رسیدلی څاروی جرحه یا زخم وګنډی، ارجاع یا د خلعی رد ترسره کړی، ماتی شوی برخی تثبیت او تداوی کړی، کوم چې د وحشی او داړونکو حیواناتو او نورو عواملو په واسطه مصدوم شوی وو.

د اهلی حیواناتو مشاهده د نباتاتو درملی اغیزی په برخه کې د پوهی پراختیا برابره کړه. «د اهلی حیواناتو د پاره د کمک تطبیق، په ترضیضاتو او جراحاتو کې د جراحی لومړنی اساس یې کیښود، چې دا تجربی په کرار کرار سره په انسانانو باندې تطبیق شوې».[1]

«لومړنی انسانان داسی کسان وو چې د اطرافو نامکمله قطع او د کوپړی د سوری کولو تجربه به ئی کوله».[2]

د حیواناتو د معالجوی تجربو په اثر بالاخره دا تجربی د انسانانو د تداوۍ دپاره هم په کار ولویدلی. د حیواناتو د روزلو وده او تکامل نه یوازی په اقتصاد کې یو ټوپ رامنځ ته کړ بلکې د انسانانو د شعور په وده کې یې هم ارزښتناک نقش ولوباوه. همداشان دی عمل د نارینه و نقش په راتلونکو نسلونو کې برجسته کړ او د کولالۍ د چارو رامنځ ته کیدو سره د کولالۍ د لوښو ایجادولو لپاره زمینه برابره کړه، چې په دغه لوښو کې نه یوازی انسانانو خوراکی مواد جوشول بلکې هغه مواد چې درمل تری لاس ته راتلای شو هم جوشول.

څرنګه چې انسانان په لومړنیو مراحلو کې د طبیعی حوادثو په مقابل کې کمزوری وو، نو له دی کبله په دغه وخت کې انمیزم وده کوی، یعنی مرضونه لکه جزا او کیفر هغو خلکو ته چې خپلو نیکونو ته بې احترامی او بې ادبی کوی شمیرل کیږی. انسانانو فکر کاوه چې د هغوی د نیکونو اروا د بې ادبو انسانانو په وجود کې ځای نیسی او هغوی ناروغ کوی. د نیکونو پرستش ورو ورو په عقیده بدلیږی او حتی د ډیرو خلکو په نزد د نباتاتو معالجوی خصوصیتونه مافوق قدرت پوری تلقی کیږی، نو په دې وخت کې د تداوۍ پروسه د اورا د خوانو په واسطه ایجادیږی.

د عقایدو د ودې پراساس د تدواۍ میتودونه لکه دعا، د خبیثه روح ایستل، د خبروکولو او مجلس کولو له لاری، داغول، د وحشت او ویری د ماسکونو استعمالول او طلسم رامنځ ته شول.

۱- کریکوف، اورګانیزشن و اقتصاد فارمسی طبع ۱۹۷٦ ص-٥ .
۲- دوکتور سیاووش، تاریخچه اورتوپیدی افغانستان و جهان ۲۰۰٦ کابل ص-۱ .

د بیلګي په ډول د هند او چین بومیانو د ملاریا ناروغی داسی تشریح کاوه چې د شپې له خوانه په ځنګل کې له ونو څخه د دې ناروغی خبیثه اروا پر انسان پریوزی (زمونږ په ګران هېواد کې له ګنو ګنو ونو لاندې ویده کیدل داسی تلقی کیږی چې یوې بلا په سرې اغیزه کړی او هغه یې ناروغ کړیدی. حالانکې چیر ته چې ګڼې ګڼې ونی موجو دی وی، شپې له خوانه هلته اوکسیجن کمیږی او د تنفس د اخلال سبب کیږی، او داسی فکر کیږی چې پر سرې باندې بـلا را پریوتی ده) (مؤمني) انسانانو د اروا د اغیزی طریقی لکه د ژوندیو حیواناتو پلټنه کوله. په همدې توګه د هغې زمانې خلکو له جادوګری او افسونګری، مختلفو استدعا وو، طلسم او نورو څخه پراخه استفاده کوله. له استدعا او عبادت څخه مقصد او غایه د خبیثه اروا څخه د انسان د وجود ساتنه ده چې د ناروغی باعث ګرزی، د دې مطلب لپاره حتی د انسان د قربانی عمل هم تطبیقیدله.

لکه چې د مخه یادونه وشوه، انسانانو د ډارولو له میتودو لکه د وحشتناکو ماسکونو اغوستل، ډول وهلو، په خبیثه اروا باندې د حملو صحنه سازیو او داسی نورو تدابیرو څخه استفاده کوله. د دې خرافاتی خطرناکو میتودونو څخه کار اخستل، د انسان په عضویت باندې لوی زیانونه رامنځ ته کول.

په پراتیک کې د تداوی نور میتودونه هم په کار لویدلی دی لکه په میخانیکې ډول د قیح چوشل (په دې مانا چې په دې کار خبیثه اروا له سرې څخه جلاکیږي) چې د هغه وخت د طبابت له بیلګو څخه قبول شوی وو.

له مساژ څخه هم د خبیثه اروا د ماتولو په خاطر هم کار اخستل شوی دی.

د وجود په بیلا بیلو برخو باندې د تودی او سړی داغ ورکول د کولالی کوزی د ایښودلو په اثر و چې طبی کدوګکونه را پیدا شول. (زمونږ په هېواد کې دغه ډول میتود په هماغه لومړنی شکل په کار اچول کیږي) (مؤمني). د لومړنی ټولنې په راتلونکو پړاونو کې وو چې د اورا د خوانۍ مرحله را څرګنده شوه چې د بدوی طبابت لومړنی علاماتو له دې څخه رامنځ ته شوی دی. په لومړۍ سرکې دا ډول تداوی د دینی کیش سره هیڅ تړاونه درلود، خو په راتلونکو مرحلو کې د دعا خوانۍ رول ورسره ګډ شو او دلته وو چې د تداوی میتودونو د پرستش (لمانځنی) په مرسته را څرګند شول او د درملو په غرض مشخصو خدایانو ته رجوع وشوه او د اوراد خوانی فعالیتونو په طبی فعالیتونو کې نفوذ وکړ. دا وه چې کلیسایی او دعا خوانۍ طبابت ظهور وکړ او د دې ډول تداوی په خوا کې د وګړنیز طبابت د تجاربو غنا هم ادامه وموندله چې دغه تجربوی طبابت حتی د مور واکې په لومړنی مرحلې کې ظهور کړی وو.

د وګړنیز طبابت اهمیت د تجربوی مشاهداتو په یو ځای شویو ذخیرو کې پټ دی. په دې ډول طبابت کې د بلا دونا اتروپا (انګشتک)، یاسمن ګلانو، پسرلنی غرنی ګلونو، پانی، د کنین دونی ریښی او یو شمیر زیات نباتات چې په هغه وخت کې له هغوی څخه په پراخه توګه استفاده کیدله شهرت درلود. د دې سره سره د هغه عصر په طبابت کې زیان رسوونکي او غیر معقولی درملنې هم زیات رواج درلود چې د هغی زمانی د ناپوهې او خرافاتو انعکاس ورکوونکي وو.

د دې برخې په نتيجه ګيرۍ کې بايد وويل شي چې د علمي طبابت وظيفې په دې کې پرتې دي چې د وګړنيز تجربوي طبابت اسناد او مدارک په دقيق ډول بررسي او وکتل شي او په علمي شکل د مستدلو مدارکو په اعتبار له هغوی څخه ګټه واخستل شي.

په دې توګه طبابت د بشري ټولنې په لومړنيو مرحلو کې د تجربوي طبابت په توګه د ځانګړو اشخاصو د فعاليتونو په نتيجه کې نه بلکې د لومړنی ټولنې د ډله ايزو فعاليتونو په نتيجه کې ظهور کړی دی.

د لومړنی ټولنې انسانانو د طبابت پوهه د چاپيريال او طبيعت سره د مستقيم تماس له لیارې ترلاسه کړی ده.

هغه واقعي علت چې د طبابت په ظهور او وده کې ټاکونکې برخه درلود له د انسانانو د ژوندانه د مادی شرايطو د تغيير څخه عبارت وو چې د توليدی نيروګانو او توليدی مناسباتو د ودې او تکامل سره يې نږدې تړاو درلود.

د طبابت وده د مريي توب په ټولنه کې

د مريي توب په دوره کې د کار ويش فوق العاده پراختيا ومونده، او نوی حرفي رامنځ ته شوې چې يويې هم طبابت و. د هغې زمانې د کلتور د سترو برياوو څخه د ليک پيدايښت و چې د ده پواسطه د غلامي د ټولنې د معنوی او مادی ژوند په متعلق زمونږ. تروخته پوری يو شمير پاڼې راپاتې شويدی چې د دې يو شمير زياتو پاڼو په منځ کې د طبابت او فارمسی د پراختيا د وضعې په باره کې زيات معلومات او نظريات هم ليکلې شوی دی.

 څرګنده ده چې د ټولنيز جوړښت بدلون په طبابت کې هم بدلون راووړ چې په دې وخت کې د طبابت لومړنی مسلکي مکتبونه رامنځ ته شول او په دې دوره کې تعبدی طبابت پوره رونق پيدا کړ چې معبدونو خپل رول په اعظمي ډول وساته.

په دې مرحله کې تعبدی (خدايي) طبابت تفوق او برتری حاصله کړه چې د هغې پربنسټ بيلا بيل مذهبي آئينونه، دعا خوانی (استدعا او زاری کول) او د خدايانو لمانځنه موجوده وه چې د دې په مرسته هڅه کيدله ترڅو چې مرضونه تداوی کړی.

د هغې زمانې يو شمير پاڼې اوس هم موجودی دی چې د مريي توب په مرحله کې په لرغونی ختيځ هېوادونو کې د ليک ليکنې په ايجادولو شهادت ورکوی. او په تفسيرونو، رسالو او کتابونو کې د ناروغی او د هغوی د درملنې د ميتودونو په اړوند يادونی شوی دی.

همداشان په دې دوره کې د معالجوی تاثير له نقطه نظره د درملو لومړنی دسته بندی رامنځ ته شوه، او په يو شمير هېوادونو کې (لکه بابلستان، لرغونی چين او داسی نورو) د مريي توب د ټولنې په لومړنيو مرحلو کې د هغو طبيبانو او دعا خوانانو د معالجوی چارو د پرمخ بيولو د څرنګوالي په اړوند قوانين تدوين کړی وو.

د دې قوانینو څخه د یو قانون په موادو کې چې ۱۸ پیړۍ تر میلاده د مخه په بابلستان کې تر اجرا لاندې نیول شوی داسې یادونه شویده «هغه طبیب چې د درملنې په اثر ناروغ ته ضرر ورسوی جزایی د لاسونو پریکول دي».[1]

د غلامۍ په عصر کې د طبابت تړاو د عقایدو سره په حقیقت کې د ناروغیو د حقیقي عواملو پیلامه وه، په دې عصر کې انسانانو فلزي افزار ایجاد کړي وو، د حیواناتو روزنې پراختیا موندلې او کرنه منځ ته راغلې وه، کسبګرۍ هم وده کړې او په دې ډول د پورتنیو ټولنیزو قشرونو ترمنځه د کار ویش رامنځ ته شوی و، او د تولید د طرز بدلون د طبابت په تکامل باندې پوره اغیزه اچولې وه، طب او فارمسي په دې وخت کې د عقیدې سره نږدې ارتباط پیدا کړی او زیاتره اوراد خوانان په عین حال کې طبیبان هم وو.

«په دې مرحله کې ټولنیز طبابت د وخت په تیریدلو سره د پروفیشنل په شکل وده وکړه او وتلو طبیبانو لکه هیپوکرات، ګالن او ابن سینا د ناروغیو حقیقي عوامل کشف کړل».[2]

طبابت د سومریانو په زمانه کې:

سومریان لومړنی قوم و چې په بین النهرین، کې د څلور زره او پنځه سوه تر دری زره او پنځه سوه کاله مخکې له میلاد څخه، په ښار کې ژوند اختیار کړی دی او د سومریانو د تمدن بنسټ یې کیښود. دوی حکومتي نظام درلود چې پاچا د لښکرو په تشکیلولو او د آزوقې په تامینولو کې مصروف و. همدارنګه د سومریانو د عدالت د تامین په نتیجه کې د روغیتا د سلامتیا په ساتنه او د مړینې وخت په تاخیر اچولو کې خاص تدابیر نیولې وو او زیاتی دعا ګانې یې کولې.

هغه څه چې د طب او طبابت روغتیا ساتنې او د انسانانو د سلامتۍ په برخه کې بحث کیږی هغه دا دی چې د دغې تاریخي دورې څخه وروسته د تغذی له نظره د انسان د سلامتۍ په تامین کې بل ټولنیز ژوند ته داخلیږی چې د هغوی د عمر اوږد والی او روغتیا ساتنې په هکله حدس وهلی شو.

په دغه دوره کې د ژوند مفهوم یواځې د خوړو لاس ته راوړل وو او د غذا د تهیه کولو په موخه په ښکار باندې مصروف ول. او کله چې لس زره کاله مخکې حیوانات یې اهلی کړل زراعت او د تخمونو کرل هم رونق پیدا کړ او د غذا کمیت او کیفیت ښه والي وموند او د ښه ژوندانه زمینه برابره شوه.

څرنګه چې سومریانو په بین النهرین کې ژوند کاوه او د سامي قوم د عربستان د ټاټو وزمې څخه بین النهرین ته مهاجرت وکړ چې د اکدی او سومری اقوامو د ترکیب څخه د بابل قومونه منځ ته راغلل چې بابل د هغوی پلا زمینه وګرزیدله او د دولت د تشکیل مقدمات

۱- کریکوف، اورګانزیشن او فارمسي اقتصاد طبع ۱۹۷۶ ص - ۵ .
۲- اثر فوق، ص - ۵ .

منځ ته راغلل او په اخیر کې حمورابی دغه دولت یې جوړ کړ. د حمورابی قانون ډېر لرغونی مدنی قانون دی چې په بشری ټولنه کې منځ ته راغلی دی.

د حمورابی قانون د یوې تیږی پر ستن چې دوه متره او پنځه څلویښت سانتی متر ارتفاع لری په منظم او ښایسته ډول لیکل شویدی. په کال ۱۹۰۲م کې د شوش د ښار په ورانیو کې موندلې شوی او د پاریس د لوور په موزیم کې ساتل کیږی.

د دغه قانون متن ۲۸۲ مادی او یوه مقدمه لری. د حمورابی قانون د لاندنیو مسایلو په برخه کې تنظیم شوی دی.

«افترا، په دروغو قسم خوړل، قاضی ته رشوت ورکول، د شاهدانو پیرودل، د قضاتو بی عدالتی، د مالکیت پر ضد جنایت، د رعیت او ارباب روابط، د تجارت حقوق، د کورنی حقوق، ظلم او تعدی پر اشخاصو، د طبیب حق الزحمه، د معمار حق الزحمه، کښتی جوړونی، د کښتیو اجاره، د حیواناتو کرایه او تاوانونه چې لدی بابت څخه حاصلیږی او متقابل حقوق او تکالیف د ارباب، غلام او کنیز په منځ کې».

طبابت د بابلیانو په منځ کې:

په بابل کې د درملنې په اړوند مسایل نږدی شپږ زره کاله د مخه یعنی تر څلور زره کلونو څخه زیات له یونان څخه پیل شوی دی. د هغوی د ټولنیز نظام اصلی بنه په هغه زمانه کې د زیات شمیر خدایانو په موجودیت بنا وه. د دې خدایانو څخه یو شمیر د بندګانو د ګناهونو د جزا له کبله چې مرتکب کیدل هغویی ناروغه کول او بله ډله یی د هغو نیکو اعمالو په بدل کې چې یی ترسره کول شفایی ورکوله.

بابلیانو خپل علمی او تمدنی مطالب د خاورو په لوحو باندې لیکل او وروسته یی هغه په کوره کې پخول. اته سوه لوحې د بابلیانو څخه لاس ته راغلی چې د طب او درملنې د پوهې په برخه کې خبری کوی او دا پخپله د بابل د خلکو پاملرنه د طبابت پوهې ته را ښئی. ویل کیږی چې یونانیانو د ریاضی، نجوم او طب پوهه له بابل څخه یونان ته وړی دی.

لکه چې مخکې لیکل شوی د حمورابی په قانون کې د اطباو د حق الزحمی په مورد کې په زړه پوری لیکل شویدی او همدارنګه د اطباو او قابله ګانو د جریمی په برخه کې په مشخصه توګه یادونه شویده. د مثال په توګه د ناروغ د یو غاښ ماتیدل، مجازات د طبیب محرومیدل له یو غاښ څخه وو. که طبیب یوه سترګه چووله لاس یی باید پری شوی وای او که درملنه یې د مړینی باعث کېده باید بل مریی و پیری او ارباب ته ورکړی او که دایه د مور او پلار بې له اجازی څخه بل ماشوم ته شیدی ورکړی د هغی تې پری کېده.

د اشوریانو د طبابت څرنګوالی:

آشوری قوم د سامی اقوامو په جمله کې راځی. هغه وخت چې آشوریانو پر بابلیانو تسلط پیدا کړ او دا حاکمیت یې چې ۱۲۷۰ کاله تر میلاده مخه پیل او په ۵۳۸ق.م کې بشپړ شو د بابلیانو اعتقادات او معلومات ورو ورو د آشوریانو په ټولنه کې نفوذ وکړ او هغوی هم

په دې عقیده شول چې روغتیا او ناروغتیا د خدایانو له طرفه په بندګانو راوستل کیږی. او د دې عقایدو پر بنسټ د ناروغیو دری «الهی» رامنځ ته شوی چې د نری رنځ د ناروغی الهی، د ځیګر ناروغیو (داخله ناروغیو) الهی، د جنینو د سقط، د ماشومانو د مرګ او مړنی د الهی څخه عبارت دی. د دې ناروغیو څخه ژغورنه زیاتره د دعا او جادو په طریقی صورت مونده.

په لنډه توګه ویلای شو چې آشوریانو د طبابت مهم ټکی عبارت دی له:

- له بابلیانو څخه د آشوریانو د طبابت وروسته پاتی توب.
- د هغو کسانو له خوا د پاداشونو او مجازاتو ټاکل چې د طبابت له علمه یې خبر نه درلود او په دې کار یی لاس پوری کړی و.
- د عمومی حفظ الصحی د مفکوری پیداینت و، لکه ښځه وروسته له زیږونی څخه ناپاکه محسوبیدله او په هرڅه چې یې لاس واهه هغه یی هم ناپاکه کول.

همدارنګه هغوی بوټی، د حیواناتو غوړ او نفت اثر یې په درملنه کې مؤثر ګڼل.

هغه کیندنی چې د نینوا په ښار کې شوی دی په میخی خط باندې لیکنی کشف شویدی چې په هغو کې د طب او درملنې یوزر دستورونه شامل دی، او لازمی دعاګانی د ناروغیو په رفع کولو کې ذکر شوی دی. همدارنګه ځنی قوانین یی لرل چې د ساری ناروغیو، زخمونو او سفلیس، جذام او نورو په ټولنه کې د له منځه وړلو په برخه کې وو.

طبابت په لرغونی چین کې:

چین د ډیر لرغونی کلتور درلودونکی و. او د خط لیکلو علامی تقریباً څلور زره کاله تر میلاده دمخه په چین کې ایجاد شوی دی. د چین طبابت او فارمسی ډیر په زړه پوری و، چې د چینایانو علمی طبابت تر میلاده زر کاله دمخه منځ ته راغی. حتی په دغه زمانه کې زیاتره هغه درملونه چې له نباتاتو، ونو، دانه لرونکو نباتاتو، مینرالونو او حیواناتو څخه تر لاسه کیدل د پیژندنې وړ ګرزیدل.

چینایانو د درملو په هکله ډیر پخوانی کتابونه یو یی د «ننئی څزین» په نوم او بل کتاب یې «د انســـان د داخلی اعضاوو» په هکله لیکلی دی، چې په هغوی کې د نبـــاتی درملو مترادف نومونه، د طبی بوټو فهرست، د راټولونې نیټه، جغرافیوی موقعیت، فارمکولوژیکی اغیزی او له ۹۰۰ ډولو نباتاتو څخه د استفادی طریقی یادې شوی دی.

له میلاده نږدې ۵-۶ پیړۍ د مخه په چین کې نامتو طبیب د بن ځیاو په نوم ژوند کاوه. نوموړی د غوږونو او سترګو ناروغۍ تداوی کولی، د ناروغیو د تشخیص میتودیی د ضربان په طریقه کشف کړی دی. د دعا خوانو او حقه بازانو (شارلتان) پر ضد یې سخته مبارزه کوله او له ده څخه د معالجی علمی میتودونه په میراث پاتی شوی دی.

بن ځیاو داسی محاسبه کوله «د ټولو ناروغیو له منځه هغه ناروغی نا امیده کوونکی ده چې خلک په دعا خوانانو عقیده ولری نه په طبیبانو»

تر میلاده دوه پیړۍ ترمخه د نباتاتو او ریښو په هکله یوه رساله لیکلی شوی وه چې په دې رساله کې د ۳۶۵ طبی بوټو معالجوی خواصو انعکاس موندلی وو.

د میلادی پیړۍ په لومړنیو کې چینایی طبیبانو د تیفو (محرقه یا وچکۍ) په هکله یوه رساله ولیکله چې په هغی کې د مصاب ناروغ د تداوی میتودونه پیشنهاد شوی وو. همدا شان د نبض په باره کې رساله لیکلی شوی چې په دی کې د تشخیص په برخه کې د نبض د ضربان تحقیقاتی میتودونو انعکاس موندلی وو. او یوبل کتاب یی د نسخو مجموعه یا کلکسیون چې محتوا یې د زیاتو ناروغیو معالجوی مشورو تشکیلوله هم تدوین کړ.

یو بل چینایی طبیب د «خوی تو» یا «خواتو» په نوم (۱۱۲-۲۱۲م) خپل ناروغان د بیهوشی په واسطه عملیات کول، چې تر عملیاتو د مخه یې مریض ته دوا ورکوله او د هغی په واسطه یی احساس له لاسه ورکاوه.

د پخوانیو زمانو راهیسی په چین کې د تداوی د ستنی، داغ کولو، مساژ او معالجوی ورزشونو په واسطه وو. د تداوی په چارو کې د طبی نباتاتو څخه پراخه ګټه اخستل کیدله، په تیره بیا د «ژن شین» (د حیات ریشه) د بوټو د ریښو څخه د بیلا بیلو ناروغیو لکه کم خونی، نری رنځ (توبرګلوز) او نورو په معالجه کې استفاده کیدله. همدا شان په پراخ ډول د بیلا بیلو ناروغیو د تداوې په خاطر له لیمو، رواش، هندی بنګو، چای، پیاز، اوړی، اکونیت، بمبوک (بانس) او داسی نورو څخه ګټه اخستل کیدله، او دهغو درملو څخه چې حیوانی منشأیی درلودله لکه حیوانی مشک، ځیګر، وینی او د ببرد داخلی غړو او نورو څخه استفاده کوله او د مینرالی موادو څخه معمولاً سیماب، پلمب (صرب)، سلفر او اوسپنی څخه په ډیره زیاته پیمانه ګټه پورته کیدله.

چینایي طبیبانو ډیره لویه قاعده یعنی «له ناروغی مخنیوی (وقایه) تر درملنې ډیره غوره ده» اصل يې د طبابت ډګر ته را وایست. د دې طبیبانو د درملنې میتودونه پرلویو تجربو باندې ولاړ وو، هغوی د سفلیس په تداوی کې د سیمابو، د جلدی ناروغیو (جرب او خارښت ناروغی) په معالجه کې له سلفرو، د ویتامین لرونکو طبی نباتاتو څخه یی د راشیت او داسی نورو ناروغیو په تداوی کې کار اخیست.

په اوسنی وخت کې تر ۵۰ ټوکو زیات هغه آثار چې د لرغونی چین د طبیبانو له خوا د دوايي موادو او د معالجی د میتودونو په هکله لیکل شوی وو. اوس د بشر په واک کې دی. په کال ۶۵۲م کې «د زرو طلایی ادویو» په نوم کتاب چې د داکتر «سون- سو - میاو» له خوا لیکل شوی و چاپ شو.

په کال ۶۵۹م کې لومړنی رسمی دولتی فارمکوپی (کودکس) په ۵۳ ټوکو کې چاپ شوی چې په هغه کې ۸۴۴ دواګانی په مشرح ډول یادی شوی دی.

په نهمه میلادی پیړۍ کې د لومړۍ ځل لپاره په چین کې دولتی انستیتوت پرانستل شو چې په هغه کې د بیلا بیلو څانګو طبیبان تربیه کیدل.

په همدې ډول د نړۍ د نورو هېوادونو د متخصصینو څخه د مخه د درملو د برابرولو او خرڅولو او د هغو موسساتو چې د درملتونونو سره یې مطابقت درلود متخصصین رامنځ ته شول. د چینایانو د لاسته راوړنو څخه یو هم د ستنی طبابت دی چې په لرغونی چین کې

رواج درلود. خو د دوهمی عمومی جګړې څخه وروسته په دغه برخه کې ښېرنی وشوی او ګټوری نتیجې یی لرلې.

په اوسنی وخت کې په جاپان کې ډیرش زره متخصصین پدی هکله موجود دی چې په لوړو تحصیلی موسسو کې دری کاله تحصیل څخه وروسته د دغه مسلک صلاحیت لاس ته راوړی، او ۲۵۰۰ کسان په هر کال کې د شاملیدلو په موخه نومو نه ثبتوی.

اوس اوس د ستنی طبابت متخصصینو دری موسسی موجودی دی چې څلویښت زره غړی لری. پدی ترتیب د ستنی طبابت یا اکوپنچر په پراخه پیمانه په ځینو هیوادونو خصوصاً چین او جاپان کې د استفادی وړ ګرزیدلی دی.

طبابت په لرغونی هند کې:

له ډیرو پخوانیو آثارو څخه چې ۱۵۰۰ق.م کې لیکل شوی او د هند نور لرغونی کتابونه د هغې دوری شاهد دی چې هندوستان دهغه وخت ناروغیو په باره کې پیژندل شوی دی لکه جزام، نری رنځ او داسی نوری.

هغوئ د خپل وطن پر نباتاتو پوهیدل او د یوسل اوه ډوله بوټی چې د ناورغیو په درملنه کې کاروړل کیدل پرستش کاوه. د طاعون او وبا ناروغانو ته یی درمل ورکاوه او هم یې خپل لاسونه د مذاهبو مشرانو ته وړاندې کول او مرسته یی ځینې غوښتل. د مارچیچلو ځای یې چوش کاوه او وروسته به یې هغه ځای سوځاوه. د وبا او طاعون د ناروغیو په سرایت باندې پوهیدل، د اندامونو په قطع کولو، د غوړونو، پوزی، شونډو ناروغیو او د ماشوم را ایستل د مور له نس څخه تجربې لرلی.

په هندوستان کې د اجتماعی ژوندانه په ټولو برخو کې په خدایانو عقیده درلودل. د مثال په توګه وارونا (Warona) د اوبو خدای، رودرا (Rudra) د مړینی، معجزی او حاملګی خدای، او ژوارا (Juara) د ملاریا د تبې خدای په نامه نومول شوی دی.

په همدې ډول په هغه وخت کې د مارانو او نور چیچونکو حشراتو په هکله ارقام هم موجود وو، په دغه کتاب کې د هندوستان د هغو درملو فهرست هم شامل وو چې حیوانی، نباتی او منرالی منشأ یې تشکیله کړئ وه چې د قیمتی احجارو معالجوی خواص هم پکې لیکلی شوی وو لکه سیماب، طلا (باریکی ورقی)، نقره، مس، اوسپنه، صرب او داسی نور فلزات.

د لرغونی هند او د سیمی (افغانستان) طبابت د تاریخ په باره کې د معلوماتو بنسټ له دوو لاندنیو کتابونو څخه عبارت دي:

- ایوروئید (د ژوندانه پوهه).
- دمان یا مانو Mann یا Manu د قوانینو مجموعه.

چې له دې منځه د ايوروئيد کتاب ډېر زيات په زړه پورې دی او د داکتر «سوشروتا» له خوا (شپږ پيړۍ د ميلاد څخه ترمخه) تأليف شوی دی، چې په هغه کې د ٧۶٠ عنوانو نباتی درملو څخه نومونه اخستل شوی دی.

په هند کې د هغی زمانی درملونه په منبهاتو، سرﮦ ونکو، خارجوونکو او داسی نورو باندې ويشلې شوی دی. د دی درملو د استعمالولو طريقی داسی ښودل شوی دي:

د پودر په شکل، پيلول، عصاری (شيرې)، جوشاندی، مرهم، مښلو، انشاق، چلم (لوګی راکښلو) او داسی نور.

د درمل د تجويز په وخت کې د کال موسم، د هوا وضعه، د ناروغ د حرارت درجه، د هغه عمر او د ناروغی کرکتر په نظر کې نيول کيده.

حتیٰ په ميلادی دريمه پيړۍ کې د طبی نباتاتو روزنه رواج درلود.

د هند فارمکوپی د نباتی دوايی په ٨٠٠ موادو مشتمل وو، چې د هغوی يو زيات شمير په اوسنی وخت کې هم استعماليږی.

د هندی طبيبانو د پاره د زهرياتو او ضد سموم موادو پيژندنی ډېر اهميت درلود، په تيره بيا هغه زهرياتو چې د زهر لرونکو مارانو د چيچلو پوری يی اړه درلودله. او دې مسئلی د هندی طبابت په حفظ الصحه کې مهم مقام درلود.

«په هندی پخوانيو ادبياتو او مذهبی کتابونو کې د مجروحينو د تداوی ميتودونه هم ښودل شوی دی. لکه چې په ايوروئيد کې يو مبحث د انسان په بدن کې د نيزو د څوکو او د فلزی اجنبی اجسامو تشخيص او له بدن څخه د مقناطيس په واسطه د هغو د ايستلو په باره کې معلومات وړاندی شوی دي».[١]

همداشان په نوموړی کتاب کې د يوه طبيب په باره کې مفصلاً معلومات ورکړل شوی چې په لومړۍ څپرکی کې ورڅخه يادونه شويده.

په هماغو پخوانيو زمانو کې، ځينی نوری اصولنامی هم موجودې وې چې د طبيبانو مسلکی چاری يی تنظيمولی لکه د Mann د قانون له مخی د ناسمی تداوی په صورت کې بايد چې طبيب ورځنې جريمه ورکړی.

د هند په تيره بيا د تبت د طبابت د تجربو څخه د آسيا د قاری خلکو استفاده کوله او د لرغونی تبت په طبابت کې کامفر، سپين ګل، زعفران، د خردل ګلانو، پيازو او مختلفو دواګانو چې نباتی منشأ يی درلودله رواج درلود.

د تبت طبابت د ناروغيو په درملنه کې غذايی رژيم ډېر مهم ځای درلود.

په دی ډول د لرغونی چين او هند طبابت او په همدی ډول د نورو آسيايی هيوادونو طبابت زياته پراختيا موندلی وه، زياتی تجربې يې راغونډې کړې چې د هغوی زده کړه او تعميم په اوسنی عصر کې د ډيری دلچسپی وړ موضوعګانی دی.

١- اکادميسن پروفيسور محمد موسی وردګ – جراحی حرب، اريانا مطبعه کابل ص -٢ .

طبابت په لرغونی مصر کې:

د لرغونی مصر طبابت تر میلاده څو پیړۍ دمخه خپل موجودیت ښيئ، چې د نباتاتو زیات شمیر تصویرونه او د هغوی په متعلق یاد دښتونه د معبدونو په دیوالونو او تابوتونو باندې پیدا شوی دی. د هغه محل په مورد کې چې د لومړۍ ځل د پاره هلته درمل استعمال شوی دی. د څېړونکو او لیکوالو په منځ کې سخت اختلاف نظر موجود دی. ځنی یې عقیده لری چې دا ویاړ د مصریانو په برخه شوی دی ځکه چې هم دوی وو چې په نړۍ کې یې د لومړۍ ځل لپاره د دردونو د درملنې په خاطر له راسن څخه استفاده وکړه او دا هغه لومړنی درمل وو چې د ګټې ورکولو وړ و ګرځیده (د کشف الظنون د دوهم ټوک د ۱۲۶ مخ په حواله).

راسن یوه مصری کلمه ده (ژیړ رنګی ګل دی چې تر یو حده زهرناک هم دی – محسن جاویدان). دی ګیاه ته اروپائیان هلنیوم Helenium وایی.

یوه بله ډله پوهان د افریقا د شمال د نورو برخو نومونه هم اخلی، او وایی چې لومړۍ ځل د پاره د هغوی له خوا نه درمل بشر ته الهام شوی دی. ځینی مورخین دا محل د رودس Rhodes، کنیدوس Cnidos او کس Cos ټاپوګان ګڼی او عقیده لری چې دغه الهام د خوب لیدنې له لارې صورت موندلی دی. او بالاخره یوه بله ډله د جالینوس څخه په پیروی سره عقیده لری چې په دی باندې اګاهی یعنی د درملو په نوم له مادی څخه استفاده لکه قرآنی ایتونه د مستقیمی وحی په ډول دی، ځکه د بشر د پاره هیڅکله د دی امکان موجود نه وو چې خود په خودی په داسی مهم او حیاتی کار باندې پوه شی.[1]

مصریانو دوه زره کاله مخکې له میلاد څخه د یریس Iris فرښته یې د طب د علم بانی او هرمس Hermes فرښته یې د طبی دستوراتو لارښوونکی په توګه پیژندل او ټول دستورونه په دوه څلویښتو کتابونو کې په معابدو کې مذهبی مشرانو ته سپارل شوی وو.

مصریانو پر اناتومی ښه پوهیدل، ځکه د هر مړی نس به یی خلاصول او ګیډه به یی په معطرو او خوشبویو موادو ډکول او بیا هغه به یی مومیایی کول. هغوی د خوک او میږی غوښه ناروا ګڼله.

مصریانو ښایستوب ته ډیر ارزښت ور کاوه، عطر او د پوستکی د نرمولو په موخه ملهم یی استعمالول او بدن به یی په غوړو مساژ ورکول. پدی توګه د غذایی رژیم او کسمتیک (آرایش) نسخی هم لیدل شوی دی.

د لرغونی مصریانو فکر کاوه چې زیاتره ناروغی له پرخورۍ څخه پیدا شوی او توصیه یې کوله چې په منظم ډول د هری میاشتی په دریمه ورځ باید جولاب استعمال کړی، ترڅو معده او کولمی یې پاکی شی او د کثیفی وینی د ایستلو په خاطر به خپل رګ واهه.

۱- دکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۹۷۱ تهران.

هغه ارزښتناک آثار چي د لرغونی مصر په اثاروکه شهادت ورکوی هماغه د مصر پاپیروسونه دی چي یویی ۲۰/۲۳ متره اوږدوالی او ۳۰ سانتی متر ارتفاع لری. او د میلاد څخه دمخه د ۱۵۷۰ کال پوری تعلق لری. دا پاپیروسونه د المانی پروفیسور ایبرس Ibers په نوم- له خوا په کال ۱۸۷۲م کي لیدلی شوی دی او د پاپیروس ایبرس نوم یی ځان ته غوره کړی دی.



د لرغونی مصر د پاپیروسونو یوه برخه

پاپیروس د یو کتاب نوم دی (د وجود د ټولو غړو د پاره درمل اعمال او برابرول) چي په مشرح ډول ۸۰۰ درملی نسخی پکي لیکل شوی دی. دا رساله ۱۱۰ مخونه لری چي په هغو کي د معالجوی ادویه جاتو نسخی، تنفسی، غوږ، ستونی، پوزی، سوختګی، د سترګو ناروغی او د پوستکی د درملني طریقی پکي لیکل شوی دی.

دا نسخی معمولاً د زیاتو اجزاوو (تر ۳۷ قلمو) درلودونکی وی چي اساساً نباتی منشأوئ لرلی. په دی نسخو کي د حیوانی او منرالی موادو څخه ډیره کمه استفاده شوی ده.

په هغه زمانه کي ټول درملونه د هغوی د فارمکولوژیکی خواصو له نقطه نظره، مسهلاتو، کانګی راوړونکو او داسی نورو تصنیف او تقسیم بندی کیدل.

شات د سترګو د تداوی د پاره اغیزمنه ماده پیژندل شوی وه.

د هغو موادو ترڅنګه چي نباتی منشأیی درلودله له مینرالی موادو لکه سلفر، رانجه، دوده (د څراخ لوګی او هغه ایره چي د لوګی څخه لاس ته راځی مؤلف)، خټه، ښوره او همداسی هغه مواد چي حیوانی منشأ یی درلودله هم استفاده کوله.

بل د اسمیت پاپیروس چي ډیر لرغونی طبی مهم سند دی چي په هغه کي د لرغونی کتابونو او مراجعو څخه استفاده شوی ده. دغه پاپیروس ۴/۵ متره طول او ۴۶۹ سطرونه لری. په دغه پاپیروس کي د طب او طبابت په هکله ښه اطلاعات له ۱۶۰۰م مخکی له میلاده څخه راټول شوی دی. په دغه طومار کي د سر د جراحی ۴۸حالتونه چي د سر د کسر څخه نیولی تر نخاع شوکی (شمزی) جراحی پوری پکي ذکر شوی دی.

بل پاپیروس د خانون په نامه یادیږی چې په ۱۸۹۵ کال کې د یو انګلیسی باستان شناس چې فلیندرس پتری نومیږی د خانون په قصر کې کشف شوی دی. دغه مدرک د ۱۸۰۰ تر ۱۸۵۰ مخکی له میلاد څخه اړه لری او طبی ډول ډول اطلاعات پکې ذکر شوی دی. د خانون پاپیروس د طبابت او وترنری ډیر لرغونی اثر دی چې د هیروغلیف په خط لیکل شوی دی.

د پاپیروسونو له مندرجاتو څخه جوتیږی چې د لرغونی مصر طبابت پوهه د نن ورځی څخه ۳۰۰۰ تر ۴۰۰۰ کاله دمخه خپلی لوړی څوکی ته رسیدلی وه. پدې رسالو کې د انسان د جسم د جوړښت، د ناروغیو د علایمو او داسی نور طبی اطلاعاتو څخه یادونه شوی ده. د ناروغ په معایناتو کې د مشاهدی، لمسولو او استماع څخه استفاده کوله.

نوری لیکنی چې د مصر د طبابت تاریخ یی غنی کړی دی دوه زره کاله مخکې له میلاد څخه څو کتابونه دی چې د هغو له جملې څخه د (سینوهه Sinouhe چې د مصر د فرعون مخصوص طبیب وو) کتاب په دوو ټوکو کې دی او ۱۳۵۰ کاله مخکی له میلاد څخه پخپله د سینوهه له خوا لیکل شوی دی.

نژدی ۳۰۰۰ کاله تر میلاده دمخه د مصر په یو شمیر ښارونو کې من فیس، سایس او داسی نور د طبیبانو د روزنی په خاطر مکتبونه جوړ شوی وو.

چا چې غوښتل مدرسه کې شامل شی دری کاله مقدماتی درسونه یی د امون معبد (آمون د مصریانو خداي) کې لوستل او وروسته د طب مدرسه کې شاملیدل.

د طب مدرسه د طبس په ښار کې واقع وه چې د دارالحیات په نامه یادیدله. چې ډیره لویه مدرسه په نړۍ کې شمیرل کیدله هغه ناروغان چې شدیده ناروغی یی لرله او نور طبیبان د هغه علاج نشو کولای دی مدرسی ته به یې استول. د دې مدرسی ځینی درمل یی د تجربی په شکل پر روغانو (بی وزلو) تطبیقول. د دی مدرسی استادان سلطنتی طبیبان وو چې د فرعون له مقام څخه خاص القاب او درجات یی لرل او د بډای او سترو دولتی خلکو درملنه به یې کوله. سینوهه د خپل پلار د دوست په مرسته چې د سلطنتی سر (کوپړۍ) سوری کوونکې وو د دارالحیات په مدرسه کې شامل شو او تحصیل یی سرته ورساوه.

سینوهه لیکلی: کله چې طبیبانو غوښتل جراحی عمل اجرا کړی او یا د سرکوپړۍ سوری کړی د بیهوشی له درمل څخه یی استفاده نه کوله دا ځکه چې دغه درمل ډیر ګران وو، چې بې وزله کسانو د هغه د اخستلو توان نه درلود او په دې سبب کله چې انسان دارالحیات ته داخلیده نو دلخراشه چیغی او فریادونه یې اوریدل، خوبډایو خلکو ته به یې د تریاکو عصاره په عروقو کې داخلوله ترڅو ناروغ بیهوشه شی او وروسته به یې عملیات اجرا کاوه.

د یورتنی مطلب څخه داسی جوتیږی چې د دارالحیات په مدرسه کې ۱۵۰۰ کاله مخکی له میلاد څخه د ګیډی په خلاصولو (عملیات) اقدام کیده چې د تاریخ له نظره ډیر زیات قدامت لری.

په دارالحیات کې د تحصیل دوره اوږده وه دا ځکه چې محصلین باید برسیره د طب پر علم د سر او د ګیډی سوری کول او د سږو، ځیګر، بډوډو، مثانی او د ښځو ناروغیو او

ولادت باندې پوه وی او لازم وو چې د ټولو درملو تاثیر باندې هم پوه وی او باید پوه وی چې د بوټو څخه څرنګه درمل لاس ته را تلای شی او څه وخت دغه بوټی باید ټول او په څه ترتیب باید وچ شی، محصل باید پوه وی چې دغسی بوټی چیرته موجود دی، په کوم فصل کې ټولیږی او باید چه خپله ګیاه او وچ شوی یی وپیژنی. سینوهه وایي: د مثال په توګه دیرش ډوله د بوټو ریښی به یی ګډی کړی او بیا به یی محصل ته ویل چې دغه ریښی سره بیلې کړی.

په دارالحیات کې د ګوتو په ذریعه د ناروغی تشخیص وو چې په دی ټوګه ویلای شو چې د ناروغ جس د ګوتو په واسطه صورت نیوه چې دغه میتود تر اوسه پوری هم په تشخیص کې د ارزښت وړ دی.

په دارالحیات کې دوه ډوله ناروغی یعنی جسمی او روحی ناروغۍ ترخیړنی لاندې نیول کیدی. جسمی ناروغی د پخی شوی (سره کړې غذا) غذا او زړښت څخه پیدا کیږی او روحی ناروغی ده یعنی روح د ناروغی مولد دی. په دارالحیات کې تر ټولو دمخه محصل باید د نظافت او پاکوالی په شرایطو پوه وی او دغه شرایط باید مراعات کړی. او د تعقیم شرایط د هغو په مغزو کې باید نغښتی وی ځکه ترڅو چې چاړه یاتیږه (د تیری تیږی په وسیله عملیاتونه اجرا کیدل) یی په اور کې نه وی ایښی هغو څخه هیڅکله کار وانخلی. پدې توګه ویلای شو چې په هغه زمانه یعنی څلور زره کاله مخکې له نن څخه اطباوو د طبی سامان آلاتو پر تعقیم باندې عقیده درلوده. او هغه وسایل او مالزمی چې په اور کې نه ایښودل کیدلې په اوبو کې چې ښوره اچول شوی وه ایشول کیدلې.

ځینی ناروغان چې پر سریی ضربه وارده شوی وه او خبری یی نشوی کولای (یعنی د کوما په حالت کې وو) یا عقلی مشکلات یی لرل د سر کوپړی به یی سوری کوله وینه او نور شیان یی له ماغزو څخه ایستل، په هغه زمانه کې مصریانو صرعه، مرګی (Epilepsie) پیژندله او هغو ته به یی مالش ور کاوه او په خوله کې به یی لرګی یا زړوکی ایښوده ترڅو ژبه یی قطع نشی.

په مصر کې وروسته تر عملیاتو راپور د پاپیروس پر کاغذ باندې لیکل کیده.

په دارالحیات کې څوارلس تخصصی رشتی موجودی وی او د اجسادو مومیایی یې په طبابت پوری نه تاړه. سینوهه پخپل کتاب کې لیکلی چې مصنوعی غاښ د فیل د عاج څخه جوړاوه خو سینوهه د نورو مادو څخه استفاده کوله، او د غاښونو په پوښ کې له طلا څخه ګټه اخستله.

مصریانو په زرګونو کلونو مخکې ساری ناروغی پیژندلی لکه طاعون، وبا، کوی او داسی نور، د تانسلونو ایستل هم د سینوهه له خوا اجرا کیدل، او د لوړ فشار په وخت کې به یی رګ واهه او د ناروغ وینه به یی ایستله.

جلدی ناروغان به یی د سلفرو د اوبو په ذریعه تداوی کول. په درملنه کې د کوپړۍ سوری کولو په براخه توګه رواج درلود، چې مثبته نتیجه به یې ډیره لره وه. دغه دود وروسته هم رواج درلود. څرنګه چې اسکندر دری پیړۍ مخکې له میلاد څخه مصر ته لاړ هلته ناروغ شو. کله چې طبیبان د هغه پر سر حاضر شول وی ویل د هغه کوپړی باید

سوری شی ترڅو بخار دهغه څخه خارج شی. د اسکندر منشی سترابون د خپل سفرنامی کتاب کې لیکی: «ما پری نښودل چې د هغه کوپړۍ سوری کړی ځکه پوهیدم چې د هغه د مړینی سبب کیږی. او د اسکندر درملنه وشوه، دا چې په مصر کې یی درملنه شوی ده د شکرانی په توګه د مصر لوی خدای امون یی خپل پلار وګاڼه. پدې توګه اسکندر د دوه پلرونو څښتن شو چې یویی (زئوس) د یونان د خدایانو څخه او بل (آمون) د مصر لوی خداي».[1]

یوبل اثر چې د مصر زرکاله له میلاد څخه مخکی د ناروغانو د درملنې په هکله رڼا اچوی د «فرزند نیل» په نامه یادیږی چې مؤلف یی هوارد فاوست دی. دغه کتاب په حقیقت کې د موسیٰ[ع] پیغمبر پر ژوندانه لیکل شوی دی.

هوارد فاوست لیکلی چې موسيٰ پیغمبر د هغو روشونو څخه چې په مصر کې رواج درلود د سترګو او جلدی ناروغیو درملنه کوله. د سترګو په درملنه کې یی په اوبو کې د زیتون څو پاڼی اچولی او هغه ته به یې جوش ورکاوه چې وروسته د سړیدو څخه ناروغ باید خپلی سترګی ورباندئ ومنیځی او یا د خپلوانو په سترګو کې وڅڅوی.

موسیٰ[ع] پوهیده چې د سترګو ناروغی د دښتی له غبار او مچانو څخه پیدا کیږی، او مچان د انسان او حیوان له غایطه موادو څخه مینځ ته راځی او دستور یې ورکړ چې د هر نر، ښځی او هلک په ملاکی وړوکی میتی (کلنګ) زوړند وی ترڅو وروسته د قضای حاجت څخه ځمکه وکنی او مدفوع خاوری لاندې کړی ترڅو مچان پیدا نشی.

په لرغونی مصر کې د مدفوعاتو لپاره ځاه موجوده نه وه، خو د فضلاتو لپاره لاره موجوده وه چې د نیل سیند ته رسیدله، څرنګه چې خلک د نیل د اوبو څخه ګټه اخستله اکثراً به ساری ناروغیو د اپیدیمیک په شکل ډیر خلک له منځه وړل.

د دې کتاب د لیکنی پر اساس موسیٰ پیغمبر د میدیان خلک چې د مصر د شاوخوا یوه برخه وه د اوبو، ایری او پستی شګی پواسطه تداوی کول، او خلکو ته به یې ویل چې اوبه له څاه څخه وباسی لمر مخې ته یې کیږدی ترڅو ګرمی شی او ایره او نرمه شګه په اوبو کې مخلوط کړی او ځان پری ومینځی چې په دې توګه ناروغی تکلیف تخفیف پیدا کاوه.

هوارد فاوست پخپل کتاب کې لیکی جشر د صفورا پلار چې د موسیٰ پیغمبر ښځه وه یو کاهن وو او د مار د چیچلو په درملنه کې خاص میتود یې پکار ووړ چې نن دری زره کاله وروسته هم د استفادی وړګرځی. هغه روش داو چې که کوم غړی مار چیچلی وی پاسنی برخه یې کلک وتړلو ترڅو د مار زهر پورته لاړ نشی او بیا د مار چیچلو نقطه یی سوری کاوه ترڅو وینه جاری او وروسته یې چش کاوه ترڅو زهر خارج شی. چې دغه روش تراوسه پوری رواج لری. همدارنګه موسیٰ پیغمبر د نقرص په درملنه کې د سورنجان (کولشسین) ځوښ کړی عصاره توصیه کاوه. فرعون هم دغی عصاری څخه څو ځلی استفاده کړی او درد یې لړ شو.

۱- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی، طب در گسترده تاریخ، شاهمامه، هالند ۱۳۸۵ ص- ۶۴ .

مصر په لرغونی طبابت کې ډیر لوی مرکز و چې د مړی سپړلو، او توپسی او اناتومی کې استاد وو خو د درملو په پیژندلو کې نورو هېوادونو ته نه رسیدل. د بابل هغی زمانی خلکو د طبی بوټو په پیژندلو کې ډیر زیات مهارت درلود.

ځینی پوهان په دې عقیده دی چې لرغونی مصریان د وینی لمف جریان او اپاندکس یې پیژندل کله چې به اپاندسیت ناروغی تشخیص شو نو مخکې له عملیات څخه د جراحی ټول سامان به یی په اور کې ایښودل او کله چې به سوړ شول ورڅخه کار اخستل کېده.

مصری طبیبان پوهیدل چې کومه ګیاه د بدن د عضلو د خوساکیدو مخه نیسی، ځکه چې جسدونه یی مومیایی کول خو پدی نه پوهیدل چه کومه ګیاه د سردرد ښه کوی. له همدې کبله کوپړئ یی سوری کاوه. د دی علت داو چې مصری طبیبان زیاتره جراحان و او د هرئ ناروغی درملنه یې د جراحی څخه غوښتل، خو په بابل او ختیځ کې جراحی رواج نه درلود او طبیبان یې د درملو یعنی د بوټو د عصارو څخه کار اخیست، او په دې لاره کې دومره مخ په وړاندې لاړل چې د ډیرو بوټو طبی خاصیت باندې پوهیدل. اوس هم هغه درملونه چې نباتی منشأ لری د تائید وړ دی. نن ورځ هغه درملونه چې نباتی منشأ لری، شاید له لسوزرو څخه هم زیات وی.

هغه تثبیتیه جهاز چې په مومیایی شوو اشخاصو کې میندل شوی دی دا ښئ دغه سپلینتونه Splints د بانکس، دروی، لرګی یادونی له پوستکو څخه جوړ شوی دی او د کتان پارچو پواسطه تړل شوی دی. شواهد دا ښیئ چې په هغه زمانه د تخرګ لاندې لرګی څخه استفاده شویده «وروستنی معلومات چې زمونږ په لاس کې دی د تخرګ لاندې لرګی تقریباً ۲۸۳۰ کاله مخکې له میلاد څخه د هیرکوف مقبره کې کشف شوی دي».[۱]

طبابت په لرغونی یونان کې:

د لرغونی یونان طبابت چې د لرغونی مصر له طبابت څخه اقتباس شوی دی، پخپل وار سره یی د لویدیزی اروپا هېوادونو د طبابت په وده او پراختیا کې هم خپلی اغیزی په ځای پرایښی دی. د معلوماتو له مخی د یونان پخوانی طبابت د میلاد څخه دولس پیړئ دمخه زمانی سره تعلق لری، چې په دې زمانه کې طبابت یو آزاد شغل و چې په میراثی ډول د طبابت پوهی د یو نسل څخه بل نسل ته انتقال مونده.

د لرغونی یونان طبابت هم د تعبدی طبابت په شکل پراختیا وموندله. له دی ځایه په دې شکل سره د لرغونی یونان طبابت د دین او مذهب سره نږدی تړاو درلود. د یوه روایت له مخی فیسالی اسکولیپ (اسکولاپ) Esculape چې ۱۱۴۳ کاله مخکې له میلاد څخه یې ژوند کاوه، د یونان ډیر مشهور طبیب و. هغه ته د اپولون Apollon زوی چې د رڼایی او هنر خدای وو پیژاندل، نوموړی چې د یونان پاچا هم و د درملنې یو فوق العاده صنعت ته شهرت ورکړ چې په هغه کې یې خدای د اصلی معالجه کوونکې په حیث اعلان کړ.

۱- دوکتور سیاووش، تاریخچه اورتوپیدی در افغانستان و جهان، ۲۰۰۶ ص- ۲ .

اسکولاپ ۱۱۴۳ق.م کې ژوند کاوه

د اومی پیړۍ مخکې له میلادنه را وروسته تعبدی طبابت په کلیسایی شکل په یونان کې رامنځ ته شو چې د هغه په اساس د اسکولیپ آئین پیدا شوی دی.

په همدغه زمانه کې د یونان په ښارونو کې د اسکولیپ په ویاړ معبدونه ودان شول چې په هغوی کې اوراد خوانانو د معالجه کوونکی په توګه میدان ته راووتل. دغو اورا دیانو نه یوازی د اسکولیپ په ویاړ دوعاګانی لوستلی بلکې ناروغان یې هم له هر پلوه تداوی کول.

تعبدی طبابت د تلقین په اساس بنا شوی و. د مثال په توګه ناروغ د خپل لوازم سره د شپی تیرولو په خاطر په یو (کوټه) محل کې ځای په ځای کېده. هغه خوب چې په دې شپه ناروغ وینی له پاسه ورته داسی تلقین کیږی چې دعاخوان ته یې د خدایانو د ارادی د توضیحولو او د تداوی د طریقو په مقصد تکان ورکاوه.

اسکولیپ په ډیرو قوی خبرو سره ناروغان معالجه کول، هغه د عصبی ناروغانو لپاره ورزش، تفریحی کارونه او موسیقی توصیه کوله، څرنګه چې هغه پر تناسخ عقیده درلوده، نو د غوښی خوړل یې منع کړل. د هغه شاګردانو پماد او مرهم یې په کاروړل او کله به یې زخم ته داغ ورکاوه، اماله او د کانګی درمل یی استعمالاوه، وینه یی اخستله، او شیدو او ماستو خوړل یی سالم فکر کاوه. مزمن امراض به یې پر ورزش او حمام تداوی کول، مات شوی هډوکی به یې پر ځای کول او د کیدی اوبه یې ایستلی. ویل کیږی چې اسکولیپ دوی لوڼی درلودلی چې د هغوی شغل طبابت و.

لومړنی لوریی چې هیجیایا هوګیایا یاهی ژیایا نومیدله وقایوی مشوری به یې ورکولی او د حفظ الصحی د پوهې او د روغتیا حامی او ملاتړ کوونکی وه. نو ځکه هغه یی د روغتیا ساتنی او تندرستی الهی په نوم یادوله چې د روغتیا ساتنی – حفظ الصحی (Hygiene) اصطلاح تراوسه د هغی د نامه سره پیوند لری.

هیجیا داسی تمثیلیږی چې پیاله (جام) یې په کیڼ لاس کې نیولی او مار له پیالی څخه ګرد چاپیر راتاو شوی اوله هغې پیالی څخه یې څښی، همدغه تمثیل له هماغه وروسته یعنی پیالی د مار سره د طبابت سمبول یا نشان وګرزید، او په بل مأخذ کې داسی راغلی دي:

«اسکولیپ هم ځان ته د خدایي مقام ورکړی و او د هغه لپاره معابد او د پرستش ځایونه جوړ کړی وو. د اسکولیپ مجسمه چې د روم په موزیم کې محفوظه ده، د هغه د امسا په شاوخوا کې مار تاو شوی دی. مار په پخوانی زمانه کې د عقل او ادراک نښان او د پرستش وړ و. او ویل کیده چې د مار د غوښې خوړل د عقل د زیاتوالی سبب ګرځي. له همدې کبله دی چې مار د طبابت د سمبول په توګه پیژندل شوی دی».[1]

د اسکولیپ دویمه لورپاناځی د درملو په واسطه د معالجی حامی او پشتیبانه وه، یعنی د معالجی او تداوی چاری یی د درملو په واسطه پرمخ بیولی.

په لرغونی یونان کې د تداوی او کلیسایی (تعبدي) معالجی د میتودونو ترڅنګه، ګډ (اجتماعي) روغتونونه هم موجود وو، چې په هغوی کې طبیبانو د ناروغانو سره لازمی مرستی ترسره کولی. د دې روغتونونو په یوه برخه کې د درملی موادو د ساتنې د پاره یو محل مشخص کېده چې د (Apotheke په نوم چې د Appo لاتینی کلمی (د – از)، theke (صندوق) څخه مشتق شوی وه، یادیده.

دا اصطلاح د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې رواج شوه او د دوایی موادو د تیارولو، اعمال، او خرڅلاو د پاره د یوه مشخص محل مفهوم یی غوره کړ، چې اوس زمونږ هېواد کې ورته درملتون ویل کیږي.

په یوشمیر سترو روغتونونو کې د طبیبانو کورنی ښوونځی، او په اجتماعی، ملکی او معبدونو کې ښوونځی جوړ شوی وو چې په هغوی کې طبیبان او اوار د خوانان روزل کیدل. په یو شمیر ښارونو کې ټولنیز طبیبان موجود وو، چې فقیر او نیستمن خلک یې په وړیا ډول تداوی کول.

داکتر سریل الکود په خپل کتاب «تاریخ پزشکی ایران راجع به پیدایش و رشد طبابت در یونان» خپل نظریات په لاندې ډول ښودلی دی. «تر میلاده دمخه ۷۰۰ کلونو په شاوخوا کې موږ په یونان کې د غوره فرهنګ د یو نمونی په ډول برخورد نه کوو. خو ناڅاپه ۲۰۰ کاله وروسته یعنی ۵۰۰ کلونه تر میلاده دمخه ګورو چې د طبابت علم هسته هسی پرمختیا پیدا کړی ده چې سقراط وکولای شو چې مشهوری طبی رسالی ولیکی. او د طب د پلار په لقب معروف شی.

په ډېر زحمت سره باور کیدای شی چې یونانیان په دې بریالی شوی دی چې د دوو پیریو په اوږدو کې په یوازی ډول او پرته د نورو د مرستی یو داسی د یادونی وړ پرمختګ وکړی او د یو داسی سیستم ایجادونکی ګرزیدلی دی چې نن ورځ د سقراطی سیستم په نوم یادیږی.

د سقراط میتود یوه بیخی نوې طریقه ده چې په یونان کې یی په مخکینو کلونو کې بیلګې نه لیدل کیږی. د سقراط په دی لیکنو د انسان د بدن د زیاترو برخو نومونه په هندو اروپایی نومونو لیکل شوی او نور پاتی نومونه یی بې کم وکاسته په بابلی ژبه دی.[2]

۱- دوکتور محمد انور ترابی، طب در گسترده تاریخ، طبع شاهمامه هالیند، سال ۱۳۸۵ ص-۷۸ .
۲- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۹۷۱ تهران ص-۴۲ .

دموکریت Democrite : مادی فیلسوف و چې په ۴۶۰- ۳۶۰ مخکی له میلاد څخه یې ژوند کاوه نوموړی د اتم فرضیی بنسټ کیښود. او هم جسم د وړو زراتو د اتوم په نامه چې تقسیم کیدونکې نه دی او تل حرکت کوی، پوهېده. د موکریت د نبض، پړسوب، او هاری (لیونی سپی ناروغی) په هکله هم لیکنی کړی دی.

اپیکور Epicure فیثاغورث (Pythagore) چې ۶۰۰ کاله مخکې له میلاده یې ژوند کاوه. او اقلاطون (Platon) چې ۴۰۰ کاله مخکې له میلاده یې ژوند کاوه. هغوی عقیده درلوده چې روغتیا او ناروغتیا هم خدایان تعیینوی.

دموکدس- دموسدس (Democedes): وایي د هغو عواملو څخه چې په ختیزو خاورو کې یی د یونان طبابت ته نفوذ ورکړ یویی هم د موسدس د کرتورا Crotora له اوسیدونکو څخه و، چې داریوش یې تداوی کړی وو (داریوش د ښکار په وخت کې له خپل آس څخه پر ځمکه وغورځید او د پښی بجلک یې خلع شو. په دی وخت کې داریوش د یو مصری طبیب تداوی لاندې ونیو خو روغوالی یی حاصل نه کړ او پاچا اوه شپی او ورځی له ډیر درد څخه ویده نه شو ترڅو چې په اتمه ورځ د موسدس چې د بندیانو په ډله کې و ورته راوست، نوموړی اول د مصری طبیب د تداوی نیمګړتیاوی رفع کړی او بیایی پاچا تر درملنې لاندې ونیو او جوړشو. همدارنګه د کوروش لور (اتوسا) او ښځه یی چې پرسینی یی غدی وې او له هغوی څخه رنځیدلې، هم تداوی کړې.

ارسطو (Aristo) ستر یونانی فیلسوف او طبیب په کال ۳۳۱ تر میلاد دمخه چې سکندر ایران او بیا افغانستان ته مخه وکړه د اکارنانینا (Acarananinaa) له اهالی څخه د ده د ناروغی دوست فلیپ چې تل یی په طبابت کې د نایابو درملو څخه استفاده کوله ملګری و. د پلوتارک د لیکنو له مخی سکندر د ځوانی په وخت کې د درملو د تهیی طرز له ارسطو څخه زده کړی و. نو دا وه چې هغه ګیاوی پیژندلی کومی چې د ځینو ناروغیو تداوی او حتی د مسمومیتونو د پاره مفیدی وی.



داسی تصور کیږی چې سکندر خپل ژوند د ارسطو د زیرکی او ذکاوت مرهون ګڼی. ارسطو سکندر ته لیکونه لیکل چې په هغوی کې یې سکندر ته توصیه کړی وه چې د خپلې سلامتۍ ډیر زیات خیال وساتی.

په دې لیکونو کې ارسطو د سمی موادو د ناآګاهانه څښلو څخه سکندر ته خبرداری ورکړی و.

ارسطو، سکندر ته نصحیت کړی و چې هیڅکله د یوه طبیب د درملو څخه استفاده ونه کړی، بلکې همیشه د طبیبانو څخه یوه شورا جوړه کړی او د دوی په ګډ دستور عمل وکړی. په دغو زمانو کې داسی عقیده موجوده وه چې

یوه نجلۍ په زهرو هغو مره تغذیه کیدای شی چې وروسته په یوه خطرناک سمی موجود بدله شی، چې د هغی ښکلول او یا ورسره ویده کیدل د مړینی سبب کیږی. ابن سینا د یوی نجلۍ څخه کیسه کوی: «چې هغه هغو مره له زهرو اشباع شوی وه چې که زهری حشراتو به هم چیچله پخپله حشرات به له مینځه تلل».[1]

جرجانی هم وایي «پادشاهانو هم عادت درلود چې د دښمنانو له لاسه د ژغورنی د پاره، یوه ښکلی وینځه چې کلونه به دسمی ګیاوو په واسطه تغذیه شوی وه هغوی ته وربخښلی».[2]

د غزنوی (ابوالحسن غزنوی – کشف المحجوب) په لیکنو کې هم د یو شمیر مطالبو سره مخامخ کیږو چې وایي: د هندوستان له عجایبو څخه یوه هم د «البیش» په نوم یوه ګیاه یادولای شو، چې یوازی په هغه هېواد کې موندل کیږی چې زهرناکه او وژونکی ده. ماته وویل شو هغه وخت چې د هند پاچا د یو حاکم مرګ ضروری وبولی، نو یوه نوی زیږیدلې نجلی انتخابوی. او د دی تر زانګو لاندې د دی ګیاه څخه یوه اندازه غوړځوی. او بیا د هغی څو پاڼی ورته دوشک لاندې ږدی، او وروسته یی د جامو د لاندې ورته ږدی. بیا وروسته هغه ګیاه ورته په شیدوکې ګډوی، ترڅو چې نوموړې نجلۍ په تدریج سره غټه شی او پرته له کوم ضرره د هغې ګیاه څخه یو څه و خوړلای شی، نو بیا دغه وخت نجلۍ د یو زیات شمیر سوغاتونو سره مورد نظر حاکم ته واستوی او هغه حاکم د دی نجلی سره د هم خوابه کیدلو سره سم مری.

وایی چې سکندر یو هندی راجا څخه څلور تحفی ترلاسه کړی:

یوه نجلۍ - یو فیلسوف - یو جادویی جام او یو طبیب.

څرنګه چې ارسطو، سکندر یې د ښکلی نجونو له نږدی والی څخه ډارولی و اوله هغی څخه حتی د یوی مچی، یا د بدن د خولو په واسطه وژل کیدای شو. نو نجلی یې قبوله نه کړه.

باید وویل شی چې یونانی فرهنګ، علم او ژبه په آسیایی هېوادونو کې ترویج شوه، په تیره بیا تر ډیره وخته پوری آسیایی پوهانو خپل کتابونه په یونانی ژبه لیکلی دی.

کله چې مقدونی سکندر ختیځ او مصر ته د یونان تمدن ته هلته توسعه ورکړه د اسکندریی ښار د یو علمی او تجارتی مرکز په توګه منځ ته راغی چې د ۳۰۰- ۴۰۰ مخکی له میلاده یې ډیر ښه تمدن درلود.

پوهان لکه اقلیدس (Euclide) ریاضی پوه، ارشمیدس (Archimed) فزیک پوه په دې ښار کې سررا پورته کړل. د اسکندر یې کتابتون اوه سوه زره ټوکه کتابونه لرل. د طب علم په خاصه توګه تشریح او جراحی په دې ښار کې ډیر پرمختګ وکړ.

۱- قانون کتاب، څلورم کتاب، شپږم فصل.

۲- الحاوی، نهم کتاب ... ص-۲ .

هروفيل (Herophile) او ارازيسترات (Erasistrate) چې دوه سوه کاله مخکې له ميلاده يې ژوند کاوه د اسکندرۍ د مکتب معروف طبيبان وو، چې د اوتوپسي يا مړينې سپړنې له رويه د تشريح علم ډېر ښه اساس او پايه کېښودله.

کله چې په اسکندريه کې ګناهکاران په اعدام محکوميدل وروسته له اعدام څخه به يې د طبيبانو په اختيار کې کېښودل او د هغوی پر جسد باندې به يې اوتوپسي کاوه او د تشريح او اناتومی علم ته يې رونق ورکړ.

ارازيسترا د حرکي او حسي اعصابو په منځ کې اختلاف کشف کړ مغزيي د فکر، حس او روح مرکز وګڼل، ځکه تر هغې زمانې دغه مرکزونه يې په زړه کې تصور کاوه.

د هومر طب او درملنه:

د ميلاد ترمخه معروف شاعر دی چې طبي اطلاعاتو او معلوماتو د ده په اشعارو کې ښه انعکاس موندلی دی. هغوی د جنګ زياتې تجربې او د زخمونو تړلو او درملنه کې زياتې تجربې لرلې. هغه خلک پوهيدل چې څرنګه خپلو اندامونو باند غوړو مبنی. ځنی کسان وو چې انحصاری کار يې طبابت وو او خلکو د هغو قدر کاوه. د طبابت عمده کار عبارت له جراحی څخه و، خو داخلی امراضو باندې لاس رسی درلودل. يو لړ ښځې د طبابت په برخه کې معلومات درلودل او د پرستاری، د طبي بوټو تهييه کول او همدارنګه خوب راوړونکی او مخدر مواد و تهيه کول د دوی په غاړه و.

د هومر منظومه پر اشعارو کې يوسل او پنځوس کلمې يواځې اناتومي پورې اړه لری او د هومری فزيولوژی يوه برخه اوس هم زمونږ په ژبه کې شته، دوی د حيات جوهر حجاب حاجز ګڼل.

د هومر په اشعارو کې نورو اعضاو لکه زړه او شاوخوا شيان د عقل مرکز ګڼل کېده. پخوانی يونانيانو لکه چې اوس مونږ زړه استعمالوو هغوی هم د زړه (Phren) کلمه کاروله.

د الکمـــايون طب:

نومووړی د حسی اعضاو خاصتاً پر سترګو تحقيقات کړی دی. او که د (خلکيديوس) خبری باندې باور وکړو، الکمايون لومړنی سړی دی چې د سترګو عمليات يې کړی دی. هغه داسی ادعـا کوله چې د سر ماغزه د ټولو حواسو مرکز دی او خاصی لاری او مجراوی د مغز او حسی اعضاوو ترمنځ موجودی دی. که دغه لاری قطع شی (د مثال په توګه د زخم له امله رابطه د مغز او حسی اعضـاو ترمنځ قطع شی) حواس له کاره لويږی. دغه د تفکر طرز د روان شناسی تجربی لومړنی زړی ايښودونکی دی. د الکمايون د طبی بهترينه نظريه دا ده چې تندرستی په بدن کې د دوو قواوو تعادل بولی، که يو د دغو قواوو غالب شی تعادل له منځه ځی او د مستبده حکومت حالت ايجادېږی او انسان ناروغ کيږی.

هیپوکرات Hippocrates (۴۶۰- ۳۳۷ق.م):

بقراط په ۳۳۷ مخکی له میلاده د طبیبانو په زادګاه د کوس ښار کې زیږیدلی دی او د خپل پلار هیراکلیدس (Heraclides) او هیرودیکوس (Herodicus) څخه د طبابت حرفه زده کړی دی. نوموړی د طبابت په وده او تکامل کې ډیر لوی رول لوبولی دی، چې د یونان د طبابت پلار نوم ورکول یې حق دی. نوموړی د لومړی ځل د پاره د طبابت په تاریخ کې زیار وایست ترڅو د طبابت او مشاهدی پوهې ته تعمیم ورکړی. هغوی یې په یو واحد سیستم کې شامل کړل، او فلسفی استدلالات یې ورته ورکړل. همدا وو چې طبابت یی د مذهب او مذهبی عقایدو له تاثیراتو څخه آزاد کړ. د نوموړی فردی درملنه د تجربو له طریقه ډیر زیات اهمیت لری د شکسته بندی طرز او د مفاصلو د خلعو ردول یی تکمیل کړ. هغه د صرعی یا میرګی ناروغی یې مغز پوری ارتباط ورکاوه.

د هیپوکرات د تألیفاتو مجموعه ۶۰ ټوکو کتابونو ته رسیږی چې د ناروغیو او د هغو د معالجی په برخه کې دی. هیپوکرات د انسان صحت ته د محیط او چاپیریال سره ارتباط ورکاوه، د خوراکی موادو، هوا، اوبو او داسی نورو فکتورونو اغیزی یې د انسان پر اورګانیزم څیړلی، ده د یو طبیب اساسی فعالیت د ناروغ په مشاهدی او په هغه باندې د درملو اغیزی ګڼلی. په نړۍ کې د لومړۍ ځل د پاره هیپوکرات د ناروغیو د تداوی د میتودونو د منځ ته راتللو د عواملو لوحه لاس ته راوړله. د هیپوکرات زده کړی د ناروغیو د ظهور د عواملو او د تداوی میتودونو په ارتباط – پر فلسفی نړۍ لید د انسان په عضویت کې د څلورو اساسی مایعاتو د تعادل په باره کې ولاړی دی چې دغه څلور اساسی مایع د وینی، مخاط، بلغم، ژیړی او توری صفرا څخه دی، خپل تاثیر بخښی.

کله چې یو انسان روغ رمټ وی دا مایعات په یوه ټاکلی تعادل سره په عضویت کې قرار لری او بیا کله چې دغه تعادل ګډو ډکیږی ناروغتیا ظهور کوی. د هیپوکرات په عقیده د یوه طبیب اساسی وظیفه هغه ده چې د انسان په عضویت کې د دی مایعاتو تعادل برقرار کړی.

په اورګانیزم کې د مایعاتو متقابل تاثیر په ارتباط هیپوکرات ټول انسانان په لاندنیو ټیپونو باندې ویشلی دي:

- سنګوینیکونه (د وینی زیاتښت)

- هلوریکونه (د پانقراص د عصارۍ د زیات مقدار سره)
- فلیګمانتونه (د مخاط د زیات مقدار سره)
- میلانکولیتونه (د تورې صفرا زیات مقدار په ارګانیزم کې)

د طبابت مشخصه هیپوکرات داسې تعیین کړه چې «طبابت د طبعیت د ګټور تاثیر تقلیدي صنعت دې»[۱] نوموړي داسې حساب کاوه چې نباتي درملونه بنایي داسې استعمال شي لکه طبعیت د هغوی په واک کې ورکړي دی.

د هیپوکرات دا نظریه څو پیړۍ تر اجرا لاندې وه، ده په خپلو لیکونو کې ویل چې د ناروغیو عوامل طبیعي دي او هر ناروغ خپل طبیعي عامل لري.

هیپوکرات د معالجې او تداوي د شیوو او طریقو پلټنه پخپله د انسان د قدرت څخه د استفادې په برخه کې د انسان عضویت ته د طبیب خاصه پاملرنه راګرزولې او وایي باید د اورګانیزم سره مرسته وشي ترڅو په ناروغی او رنځوري بریالیتوب ترلاسه شي.

نوموړي په همدې ډول دوایي موادو ته زیات ارزښت قایل وو، ده د درملو مغلق شکل نه پیژانده او لیکي: «درمل او د هغه ساده خاصیتونه بنایي په ذهن کې وساتي، د دې له منځه باید په هغو پوه شي چې د عمومي رنځونو پوري تړاو لري او په دې هم پوه شي چې دغه درملونه څومره او په کومه طریقه په مشخصو ناروغیو باندې اغیزناک دي، د دې ګردو په باره کې باید لازم معلومات ولري».[۲]

هیپوکرات او د هغه شاګردانو شخصاً په خپله درملونه برابرول، په عین وخت کې یو طبیب درمل جوړونکی هم و. په هغه وخت کې په پراخه توګه د جلابو، شیدو، شاتو، د خوړو د مالګې او داسې نورو څخه ګټه اخستل کیده، همدا شان د خولې راوړونکو موادو په حیث د تودو نوشابو او په توده بستر کې د ناروغ د ویده کولو څخه پوره استفاده کیدله.

د کانګې راوړونکې په توګه له سرکې، تودو اوبو او داسې نورو څخه استفاده کیدله.

د مدرر په حیث له پیازو او د نرکوتیکو موادو په توګه د کوکنارو پاڼو او د تخمونو او داسې نورو موادو څخه ګټه اخستل کیدله.

د دوایي موادو ښه او سمه ساتنه او محافظت او په دقیق ډول د هغوی تهیه کول د هیپوکرات په نزد خاص ارزښت درلود.

د هیپوکرات د دوایي موادو په مجموعه کې تر ۲۵۰ زیاتو نباتي موادو او له ۵۰ حیواني موادو څخه یادونه شویده.

په همدې ډول له هیپوکرات او د هغه له شاګردانو څخه لوی لوی آثار راپاتې شوي دي چې د یونان د طبابت د علمي څیړنو بنسټ تشکیلوي او زیاته موده د نړۍ طبیبانو پخپلو فعالیتونو کې د هیپوکرات له پراتیک او ایدیه ګانو څخه استفاده کوله. د دې عالم او حکیم څخه د طبیبانو مسلکي روزنې، ټولنیزي او انساني تربیې په لاره کې ګټور آثار باقي پاتې دي

۱- کریکوف، اورګانزیشن او فارمسی اقتصاد، ۱۹۷۶ لیننګراد، ص-۱۳ .
۲- اثر فوق، ص -۱۴ .

چي تراوسه پوری د هغوی ساری (نظیر) نه دی لیدل شوی. چي په لومړۍ ځپرکی کي ورته اشاره شوی ده.

«د هیپوکرات او ګالن د هغو کټورو او د یادونی خدمتونو له مخی چي د طبابت او درمل جوړولو په برخه کي کړیدی. هیپوکرات د طبابت پلار او ګالن (جالینوس) ته د فارمسی پلار ویل کیدای شي».[1]

د هیپوکرات نظریات د عظامو او مفاصلو کسورو په مورد کي، د قحف جروحات او د فقراتو د ابتدایی پتالوژی تقسیمات د نن ورځی د طبابت د حرکی اتکا سیستم اساس او بنسټ تشکیلوی. د عضد خلعی ارجاع دا وړی په مفصل کي د هیپوکرات په میتود حتیٰ نن ورځی هم د تطبیق وړ دی.

نوموړی د اورتوپیدی بوټانو څخه استفاده کاوه چي د سؤ اشکال د اصلاح کولو لپاره د هغه څخه یادونه شوی ده. حمام او لمر د هغی زمانی د فزیوتراپی میتودونه وو.

نوموړی د ترکشن یا مستقیم او معکوس کشش په هکله پوهېده.

د هیپوکرات په مجموعه کي د اورتوپیدی په ارتباط ډیر بخشونه موجود دی لکه د اوږی د مفصل خلع او د ارجـــاع مختلف میتودونه یی، د Acromioclavicular, Temporomandibular، زنګون، څنګل مفصلونو د خلعو ارجاع تشریح شوی دی.

د لرغونی یونان د طبابت په هکله که هر څومره زیات ولیکل شی بیا هم لږ دی. دا دی دلته دا موضوع داردو د مجلی په اقتباس داسی ادامه پیدا کولای شی چي د «مختصری به تحقیقات یک طبیب یونانی» تر عنوان لاندي راغلی دي:

یونانی طبیب «اساماتیدیس» په ۱۹۴ میلادی کي وپوهېده چي ځینی ناروغان چي د وینی د فشار په زیاتښت اخته دی او د مزاج د سټریا په نسبت پخپله ورځنی غذا کي د زیتون (ښوونې) د غوړو یوه اندازه ورزیاتوی چي دوینی فشاریی ورو ورو کمښت مومی. نوموړی طبیب له هغی راهیسی ځیرنی ترسره کړی او د ښوونې پانی یی جوش کړی د هیپرتانسیون مصاب شوو ته یی د تجربی او مطالعی لاندې ونیولی. په لومړی سرکی یی د ښوونې ۶۵-۷۰ پانی په ۱۲۰۰-۱۳۰۰ ملی لیترو اوبو کي تر هغی وجوشولی چي اندازه یی نیمایی ته راټیټه شوه، تر سرښت وروسته یې مخکی ترخوړو د ښوروا خوری یوه یوه کاشوغه نوموړی ناروغانو ته ورکړه.

تر ده وروسته د دوو نورو پوهانو نونو (NONO) او کاپرتی (Caparty) په نوموړی موضوع کار وکړ او په زړه پوری نتایج یې لاسه ته راوړل.[2]

۱- دوکتور محمود رفیع زاده، داروهای جالینوس، ۱۳۴۰ تهران، ص-۲ .
۲- ریاست نشرات اردو، مجله اردو – شماره دلو ۱۳۳۵ مطبعه اردو، ص-۸۹ .

طبابت په لرغوني روم کې:

د لرغوني یونان تر سقوط وروسته د نړیوال کلتور مرکز روم ته انتقال شو چې طبابت دلته د یونان په نسبت زیاته وده او پراختیا وموندله.

د پخواني روم د طبیبانو په منځ کې یو زیات شمیر وتلي طبیبان موجود وو چې د هغوی له منځه اسکلیپیاد، سلز، سوران ایفسکي، دیوسکورید، لوکرس، ګالن او داسې نور نومونه یادولای شو.

لوکرس Luerecc (۹۶-۵۵ق.م):

ډیر مشهور شاعر وو چې پخپل اشعارو کې داسې ویلي دي: «ټول ځایونو کې ذرات موجود دي چې د ناروغۍ او مړینې سبب ګرځي. دغه ذرات د انسانانو خواته پرواز کوي، هوا مسمومه وي، په ډوډۍ، اوبو او د انسان په غذا کې داخلیږي. د صحرا ګیاوې آلوده کوي او سړوته لاره پیدا کوي او په دغه طریقه ده چې ساري ناروغي شیوع پیدا کوي».[1]

اسکلیپیاد:

د روم مشهور طبیب وو چې د لوکرس سره په یوه زمانه کې ژوند کاوه د اپیکور اتمي فرضیه او د لوکرس ویناوې قبول کړیدي چې د انسان بدن د اتم د متحرکو ذراتو ترکیب دی چې پخپل منځ کې سوري او خلاوې لري او کله چې دغه سوري وتړل شي، د اتم ذرات خپل حرکات له لاسه ورکوي او مرض تأثیر کوي.

له همدې کبله دی چې نوموړي حفظ الصحی (روغتیا ساتنې)، استحمام، ورزش او فزیکي معالجو ته ډیر اهمیت ورکاوه.

همدرانګه د لرغوني روم نامتو طبیب او ګیاه پیژندونکي د یو سکورید دی چې په لومړنۍ میلادي پیړۍ کې یې ژوند کاوه. نوموړي د خپل عصر او د طبابت د تاریخ د پخوانیو زمانو د درملي موادو په باره کې یې اساسي او مهم تالیفات کړیدي چې د Materiamedica په نوم یادیږي. په دې اثر کې د زیات شمیر نباتاتو او د هغوی خصوصیاتو په متعلق ډیر څه لیکلي دي، او دا تصنیف د اروپا په ډیرو ژبو ژباړل شوی او د ۱۵ پیړیو په اوږدو کې څو کرته نوی نوی چاپ شوی دی.

کلاودی ګالین یا جالینوس (۱۳۱-۲۰۱م):

د میلادي پیړۍ په اوایلو کې په غرب کې د طبابت د علمي څیړنو مرکز پخواني روم و. په دې وخت کې د طبابت او فارمسي په تکامل چې ډیره ستره سرمایه رامنځ ته کړه هغه پخواني روم وتلي او نامتو فیلسوف ګالن څخه عبارت دی.

۱- دوکتور محمد انور ترابی، طب در گسترده تاریخ، شاهمامه هالیند ۱۳۸۵ – ص-۸۲ .

ګالن یا جالینوس (۱۳۱- ۲۰۱ م)

جالینوس د نړۍ بیلوبیلو هېوادونو او ښارونو ته مسافرت وکړ او په عملی طبابت باندې بوخت و. د ده له ۴۰۰ عنوانونو اثارو چې یی لیکلی دی نیمایی یی د طب او فارمسی په باره کې دی چې د انسان د اناتومی او فزیولوژی په برخو کې یی زیات کار کړی دی.

نوموړی شپږ کاله د ګلیادیاتور په مکتب کې د پراتیکی زده کړی په شکل تیر کړی دی، او د مړو د جسدونو د تسلیخ، (د مړی پرانستل) او مطالعی توان یی درلود.

د ناروغیو او د هغو د تداوۍ په مسایلو کې ګالن د هیپوکرات په نسبت لاوړاندی ګامونه اخستلی او هغه یی بشپړ کړی او پراختیایی ورکړۍ ده.

ګالن وایي «ناروغی هغه وضعه ده چې په هغې کې د عضویت د مایعاتو اساسی عنصرونو درست او صحیح مخلوط مختل کیږی. د ناروغیو د تداوی د پاره باید غذایی درست رژیم او د دوایی مواد چې متقابلی اغیزی لری (وچوالی لمده بل وژنی او تودو ښه سرښت) تطبیق شي».

په همدې ډول ګالن عقیده درلودله چې معالجه د اناتومی او فزیولوژی د پوهې په اساس ده او باید چې په دی ساحه کې زیات کار ترسره شی. نوموړی په دی برخه کې پر حیواناتو باندې زیاتې تجربې وکړۍ او زیاریې وویست چې د اورګانیزم ساختمان او د هغه په متقابل تاثیر باندې پوه شی داځکه چې په دغه زمانه کې د انسان پر کالبوت دغسی کار (اتوپسی) منع وو.

د ګالن له خوا وینی ته زیات ارزښت ورکول کیده، د ده په عقیده وینه د څلورو واړو عنصرونو چې د نړۍ تشکیلوونکی دی (هوا، اوبه، اور او خاروه) انتقالوونکی ګڼل کیږی. خو نور مایعات لکه مخاط، زیړه او توره صفرا د یوه عنصر په توګه شمیرل کیږی.

په لویدیز کې د لومړی ځل د پاره د ګالن په واسطه ضربان د تشخیص پر اینبودلو په مقصد عملی کړ او د لومړۍ ځل د پاره یی د عصبی سیستم فزیولوژی د زیاتو تجربو له لاری تر کتنی لاندې ونیو او پر ناروغ یې مشاهده رامنځ ته کړه.

ګالن حساب کاوه چې د ناروغانو په تداوۍ کې د طبیب اساسی دنده هغه ده چې د اورګانیزم دفاعی قدرت خوندی وساتی، چې هغوی په خپله کوښښ کوی ترڅو په اورګانیزم کې د ګرمۍ، سردۍ، لوند والی او وچوالی بنسټیزو خصوصیتونه تعادل ټینګ کړی او درملی مواد د دی خصوصیتونو انتقالونکی دی.

کله چې په عضویت کې وچوالی زیاتیږی په کار دی چې درمل تجویز شی چې د هغه انتقالونکی ضد یعنی لوند والی دی.

د هیپوکرات د نظریی په تفاوت سره ګالن عقیده درلودله چې په نباتی درملی موادو کې دوه منشأ یا پیل موجود دی «لومړنی تاثیر کوونکی» معالجوی اغیزه اچوی او هغه بل «منشأ- پیل» بې ګټې او یا د عضویت د پاره زیانمن وی.

ګالن په دې اساس درمل د دم ورکولو په طريقه لاس ته راوړل او د استفادې وړ يې ګرزول، يعنی د منشأ يا پيل د پاره يی د طبيعی موادو څخه استفاده کوله. نوموړی د دی ميتود په مرسته غوښتل درمل له بلاست (سرباری) څخه آزاد کړی، ښه او پاک درمل ناروغ ته ورکړی.

د ګالن په عقيده په نباتاتو او حيواناتو کې ګټور مواد شته دی چې ښايی له هغوی څخه ګټه واخستل شی او همدارنګه په هغوی کې زيان رسوونکی مواد شته دی چې بايد ليری وغورځول شی. په دی ارتباط نوموړی د درملی موادو د لاس ته راوړلو په خاطر په پراتيک کې له طبيعی موادو څخه يوه پيچلی تکنالوژی پرمخ بيايی.

ګالن هم د لومړنيو موادو او د درملو د تهيه کولو د ساتنی او ذخيری د پاره په روغتون کې يو مخصوص ځای تجهيز (تيار) کړ چې د درملتون په نوم يادېږی.

د جالينوس نسخې معمولاً د ترکيب له مخی پيچلې وې چې تر لسو برخو زيات يې رانيول، نوموړی د درملو څوشکلو ته لکه پودرونه، پيلولونه، مرهمونه، عصارې، جوشاندې، محلولات، مايعات، مکسچرونه، نباتی نوشابې، ايتری او شحمی روغنيات، کسمتيک (آرايشی) مرهمونه او داسی نور چې له شلو فورمونو او شکلونو څخه زيات به يې رانيول او تهيه کول.

په همدې ډول پلسترونه او نور درملونه چې په خپل ترکيب کې نباتی، حيوانی او مينرالی مواد يې درلود اعمال او تهيه کول.

ګالن د درمل په جوړولو کې د وزنی او حجمی ميتود او د هغه سره متناسب له عصارو، جوشاندو، او داسی نورو څخه استفاده کوله. د دې ډول درملونو اعمال اوله نباتاتو څخه د ګټورو موادو را ايستل د اروپا د ټولو طبيبانو په منځ کې عموميت پيدا کړ، چې په ۱۶ مه پيړۍ کې د ګالن د نظرياتو مخالفان هغه د «کلينکی مرکباتو» په نوم يادول چې د انوم تراوسه پوری د درمل جوړولو په اصطلاحاتو کې د خپل پخوانی برم څخه برخوردار دی.

ګالن مخکی له دې چې روم ته سفر وکړی د ګلاډياتور پهلوانانو جراح وو.

ګالن د سپورت د طبابت پلار پيژندل کيږی. نوموړی يوه مجموعه د اسکليت او عضلو په مورد کې چې هغو ته حرکت ورکوی، لری. په خاصه توګه د دماغ څخه ارسال شوی سيالی او دهغو حرکت محيط ته معلومات ورکړی دی. نوموړی لومړنۍ پوه وو چې د رقبی اضلاعو Cervical Ribs په برخه کې توضيحات ورکړ. هغه په اوستيو ميالیت کې د عظامو د تخريب او تجزيې په برخه کې دستورونه توصيه کړی دی. او همدارنګه په ځينو حالاتو کې د هغو Resection يې پيشنهاد کړی دی.

ګالن لومړنی سړی وو چې د Kyphosis, Lordosis & Scoliosis لغات چې د هيپوکرات په مجموعه کې توضيح شوی وو د استفادی وړ وګرځاوه او هغه يی شرح کړل. همدارنګه هغه د سؤ شکل اصلاح مختلف ميتودونه پيشنهاد کړی وو.

په دې عصر کې تلاش کيده چې مصنوعی اعضاوی د استفادی وړ وګرځی. څرنګه چې شواهد لاس ته راغلی د لرګيو پښی، فلزی لاسونه په هغه عصر کې د تائيد وړ دی.

ويل كيږى چې انتيلوس په دريمه پيړۍ كې د مفاصلو د اطراف تضييقات ازادول د Tenotomy څخه استفاده كوله، هغه دوه ډوله د كتګوت او كتانى تارونو څخه په دى پروسه كې پكار وړل. د برمو، ارى، اسكنى مختلف ډولونه د دى زمانى د ابداع څخه دى چې د هغى زمانى په طبابت كې د استفادى وړ ګرزيدلى دى. د روم د امپراطورى په زمانه كې طبيبانو معاينه خانى لرلى چې ناروغان يې هلته منل درملنه او جراحى به يې كوله.

برسيره پر هغه د لرغونو پيړيو له طبيبانو څخه كولاى شو د ايم هوتپ (Imhotep) نه چې درى زره كاله مخكى له ميلاده په مصر كې ژوند كاوه نوم واخلو چې په يو پاپيروس كې د هغه جراحى فعاليتونه ياد شوى دى.

هوانګ تى په لرغونى چين كې په ۲۶۰۰ مخكې له ميلاده ژوند كړى او يو كتاب يى د طب په باره كې ليكلى دى چې د ده نوم ته ارتباط وركړ شوى دى.

د فرعون د دربار يو بل كوپړى سورى كوونكى پاتور دى چې سينوهه له هغه څخه يادونه كړى ده.

دغابنونو يو طبيب د اترومكى په نوم ياد شويدى چې پنځه پيړۍ مخكې له ميلاد څخه ژوند كړى او طلايى پروتزيى اجرا كړى دى. د نوموړى قبر د روم د ښار په ۳۳ كيلو مترى كې پروت دى.

شاناق (Chanaky):

د هندى نوميالى طبيب او د چندرا ګوپتا طبيب وو. چې د دريمى پيړۍ په وروستيو او د ميلاد څخه ترمخه د څلورمى پيړۍ په لومړيو كې ژوند كړى دى. د هغه يو كتاب چې د سمومو په برخه كې دى چې د هارون الرشيد په زمانه كې د هندى څخه په فارسى ژبه د يحى بن خالد برمكى لپاره ترجمه شوى دى.

هيروفيل د اسكندريى ډير نامتو په تشريح كې وو چې د ارازيسترا سره په يو وخت كې ژوند كاوه.

د روم د امپراطورى په زمانه كې په اروپا كې د طبابت او درملنې مختلفى شيوۍ موجودۍ وۍ. د مثال په توګه د فنيقيانو، كارتاژيانو، اتروسكها، سلتها او نورو قومونو كې معالجوى شيوۍ موجودۍ وۍ.

همدارنګه د اروپايى يهوديانو طبابت هم د مجربو او نوميااليو طبيبانو له خوا پرمخ بيول كېده چې تر ډيرى زمانى دوام درلود.

دریم څپرکی

په منځنیو پیړیو کې د طبابت پرمختګ

په اروپا کې د مریي توب او فیودالیزم ترمنځه تاریخی پولی د لویدیز روم د سقوط (۴۷۶م) سره منلی شوی دی.

په بیلا بیلو هېوادونو کې د فیودالیسم جوړښت په مختلفو زمـــانو کې منځ ته راغلی دی، لکه چې په چین کې (په ۲ق.م) په لویدیزه اروپا کې (۵ او ۶ پیړی) په روسیه کې (۹ میلادی پیړۍ) کې دې عصر په زینو پښه اینودلی ده.

دی پیړۍ له ۱۲-۱۳ پیړیو پوری دوام کړی دی.

کیمیا په منځنی پیړۍ کې وزیږیدله، کیمیا پوهانو عقیده درلودله چې د طبعیت اسرار د پیژندلو وړ دی او هغه رهبری او اداره کیدلای شی، دا پلټنې او تفحصات حقیقی وو خو په ګمراه کوونکو اشتباهاتو او پدیدو باندې پیل شول پرته له دی چې د حوادثو (پدیدو) او جریاناتو ماهیت وپیژندل شی. الشمیکانو زیاتې تجربې تر سره کولې «څه رنګه چې عالمانو د هر شی تجربه په تجربی سرته رسوله نو په حقیقت کې کیمیاګری د زمانی ستره زیږنده ده، کیمیاګران یا د اروپائیانو په قول» الشمیستانو (Alchemists) فلزات مرکب اجسام فکر کاوه او عقیده یې درلودله چې دوی کولای شی هغه یو پر بل تبدیل کړي».[1]

د الشمیکانو اساسی مقصد دا و چې غیر قیمتی فلزات په طلا تبدیل کړی، هغوی په ټول توان هڅه کوله چې یو عمومی ګودر پیدا کړی ترڅو وکړای شی یو شی په بل شی تبدیل کړی، د ګودر دا ډول اسرار «د فلسفی تیږو» نوم ځان ته غوره کړه.

۱- داکتر محمود رفیع زاده، دواهای جالینوس سال طبع ۱۳۴۰ ص- ۲ .

هغوی فکر کاوه ممکنه ده داسی شیان ترلاسه شی چې ناروغان په صحت مندانو او بوډایان په ځوانانو بدل کړی. دفعالیتونو په جریان کې چې د تجربو له لیاری پرمخ تلل د کیمیا د علم لومړنی عناصر یی کشف کړل. هغوی ډیر ګټور شیان وموندل چې څو پیړی وروسته د انسان په خدمت کې په کار واچول شول.

د نهمی پیړۍ تر پنځلسمی پیړۍ پوری اروپایی الشمیک یوشمیر ځیرونکې رامنځ ته کړل چې د منځنیو پیړیو په تاریخ کې یی ډیر مهم مقام نیولی دی لکه دایمون لولیا (۱۲۳۵-۱۳۱۵م)، ارنالدو دی ویلانوف (۱۲۵۰-۱۳۱۳م) د سمومو په هکله د یو کتاب مؤلف، البریک ولیک (۱۱۹۳- ۱۲۸۰م) د فلزاتو او منرالونو په باره کې د رسالی لیکوال، فرابوناوینتور (۱۲۱۴-۱۲۷۴م) د دې واقعیت تثبیتوونکی دی چې نقره په اسید نتریک کې، طلا په سلطانی تیزابو کې د انحلال قابلیت لری.

د درملو د تولید د تکنالوژی پیچلتیا، د درملو د قلمونو زیاتښت او د طبابت وروستی انکشاف د درملتونو د منځ ته راتلو شرایط مساعد کړل. چې په ۷۵۴م کې لومړنی درملتون په بغداد کې تأسیس شو او په اروپا کې لومړنی درملتون په ۱۱ او ۱۲ پیړیو کې د سولرنو او تولید و په ښارونو کې پرانستل شول. په ۱۳ او ۱۴ پیړیو کې شخصی درملتونونه د فرانسی، انګلستان او هالیند په ښارونو کې پرانستل شول.

په منځنیو پیړیو کې د لویدیز د طبابت د اندیشو مرکز هغه مکتب وو چې په سالرنو کې واقع وو په ۱۱۴۰م کې لومړی کودکس چې نوم یی (انتی دوتاري) ؤ جوړ کړ.

همداشان په دې پیړۍ کې دولتی تکس هم راووت.

په منځنیو پیړیو کې د طبابت چارو د تنظیم په غرض یو شمیر قوانین او فرمانونه رامنځ ته شول او په عین وخت کې داسی طبیبان هم موجود وو چې د طبیبانو او دواسازانو اعمال او کرداریی توصیفاوه او د هغوی د دندو په باره کې لکه د هیپوکرات غوندی مقررات وضع کول.

د دې پیړیو د طبیبانو له جملی څخه تیوفراست پاراتیزس یا پاراسلز (۱۴۹۳-۱۵۴۱م) ښی لارښوونی کړی چې په لومړۍ ځپرکی کې توضیح شویدی.

پاراسلز د یاتروشیمی بنسټ اینبودونکی د شپاړسمی پیړۍ د متبحر عالم څخه عبارت دی.

د ده په عقیده د انسان اورګانیزم د کیمیاوی موادو د مجموعی، د انسان ناروغتیا په اورګانیزم کې د کیمیاوی تعادل ګډو ډیډلو، او تداوی په اورګانیزم کې د کیمیاوی موادو د تطبیق څخه عبارت دی، چې دا کیمیاوی مواد د انسان په وجود کې د کیمیاوی تعادل شرایط منځ ته راوړی.

نوموړی به ویل «ناروغ انسان ته د اورګانیزم د پاره ټول ضروری مواد باید دلته د هغه په چاپیریال کې قرار ولري»[1].

پاراسلز په تداوی کې د منرالی شیانو، د هغو کیمیاوی مختلفو مشتقاتو چې د هغو په مینځ کې د سموم او شدیده سموم زیاته اندازه شامله وه پراخه استفاده کوله. ده به ویل «ټول مواد سمی دی هیڅ شی نشته دی چې سم نه وی، ټول کار او فعالیت د دوز پوری تعلق لری او صحیح دوز سمی مواد غیر سمی باندې تبدیلوي»[2].

د پاراسلز اشتباه په دې کې وه چې نوی درملونه یې په حیواناتو باندې نه تجربه کول او له همدې بابته وو چې په ۱۵۶۶م کې د هغه درملونو زیات مسمومیتونه مینځ ته راوړل چې د پاریس د پارلمان له خوا د هغو استعمال منع کړی شو.

پدې توګه ویلای شو چې په منځنیو پیړیو کې یعنی د میلادی پیړۍ په پیل کیدو سره طب او طبابت په هکله د کوچنی آسیا او اروپا خلکو کې بل تفکر پیدا شو، په خاصه توګه د عیسی (ع) د معجزاتو څخه وروسته او د هغه د پیروانو عملکرد په وروستیو پیړیو او منځنیو پیړیو کې طبابت د کلیسا تر تاثیر لاندې خپل ژوند ته ادامه ورکړه.

د جذامی شخص روغیدل د عیسی (ع) په لاس چې په لوقا انجیل کې ذکر شویدی او ویل کیږی چې لوقا طبیب و او برسیره پر هغه تاریخ لیکونکی هم و. د عیسی مسیح کارونه ورځ په ورځ د خلکو ژبو ته لویده او ډلی ډلی خلک به دهغه پیغام اوریدلو لپاره راتلل ترڅو د هغه پیغام واوری او د ناروغیو څخه شفا پیدا کړی. پدی توګه ډیر خلک د دوی د تبلیغاتو تر تاثیر لاندې راغلل او په مرور زمان سره د کاتولیک کلیسا او د هغه قدرت ورځ په ورځ زیاتوالی په اثر د ژوند ټولی برخی طب او طبابت هم د هغه تر تاثیر لاندې راغلل.

۱- ملی نی چینکو او سیمینووا، تاراسووا، اورګانزیشن امور فارمسی، ۱۹۷۲ مسکو، ص- ۷-۳۲ .

۲- کریکوف، اورګانزیش اقتصاد فارمسی، ۱۹۷۶ مسکو، ص- ۱۵ .

په منځنیو پیړیو کې په خاصه توګه په څوارلسمه او پنځلسمه پیړیو کې ساری ناروغی لکه طاعون، وچکی، کوې، جذام او سفلیس په اروپا کې شیوع وموندله چې د ملیونونو انسانانو ژوند یی واخیست.

په ۱۳۴۶ او ۱۳۵۲ میلادی کلونو کې طاعون په اروپا کې شیوع پیدا کړه چې یو پر څلورم د اروپا جمعیت له منځه لاړ. په ۱۴۹۴ او ۱۴۹۵ میلادی کې د ناپل د ښار په محاصره کې چې د فرانسوی نظامیانو له خوا صورت نیولی و د سفلیس ناروغی د اپیدیمیک په ډول یې ظهور وکړ په همدی سبب و چې فرانسویانو د ناپل ښار یې په دې ناروغی ونوماوه.

د ساری ناروغیو او طاعون د مخنیوی لپاره د لومړی ځل له پاره په څوارلسمه پیړی کې د «ونیز» او «ژن» دوو ښارونو کې قرانتین برقرار شو. د کښتیو مسافرین به معاینه کیدل او څوک چې به په ناروغی مشکوک وو د څلویښتو ورځو لپاره په قرانتین کې ساتل کیدل.

د قرانتین کلمه د ایتالیایی کلمی «کرانتا» څخه مشتق شوی چې ۴۰ مانا ورکوی، ځکه په منځنیو پیړیو کې کله چې په کښتیو کې یی د طاعون په ناروغی مصاب وو د څلویښت ورځو لپاره قرانتین لاندې نیول کیدل او مسافرین یی د ښار تللو څخه منع کول. وروسته دغه تشکیلات په لندن، پاریس اوتورنبورګ کې هم تاسیس شول.

برسیره پردې نور تدابیر هم ونیول شول د مثال په توګه په هغه ځایونو کې چې د طاعون، جذام، سفلیس او نوری ناروغۍ منځ ته راتلی د هغه محل څخه به یې دیوال تاواوه. د مړو کوټه او د هغه ټول اثاثی ته یې اور آچاوه، فلزی شیان لکه سکی او نور به یې په سرکه کې ایښودل، او اخته شوی کسان به یې «لازارت» یعنی د تجرید ځای او روغتون ته انتقالول.

د دیو هوټل (Hotel Dieu) یا د خدای میلمستون لومړنی روغتون و چې په شپږمه پیړی کې په پاریس کې تاسیس شو، او وروسته نورو ښارونو کې د لازارت په نامه ایجاد شول.

د جذام، سفلیس او نورو ناروغانو دنده لرله ترڅو په تګ او راتګ کې په خپل غاړه کې زنګ زوړند کړی، ترڅو خلک ورڅخه څنډې ته شی او تماس ورسره پیدا نشی. څوک چې ښارته ننوتل هغوی به یې په دروازو کې معاینه کول او ناروغان به یې د ښار ننوتلو څخه منع کول. طبیبانو به په طاعون اخته ناروغانو معاینی په وخت کې پرمخ او سر باندې ماسک اښودل او مخصوصی جامی به یې اغوستلې.

د نوی جراحی بنسټ ایښودونکی امبروازپاره (Ambroisepare) دی چې په ۱۵۱۰-۱۵۹۰ کلونو کې ژوند کاوه، فرانسوی جراح و چې د لاسونو او پښو په قطع کولو کې تکمیلی اصلاحات منځ ته راوړل. د پرې شوی شریان د سو ځولو پر ځای تړل او غوټې اچول یې رواج کړل، نوموړی پوهیده چې اور لرونکی ګولۍ عفونت نه لری نو پر زخمونو باندې د جوش کړی غوړی چې په هغه وخت کې مروج وو پر تېپ باندې اچول یې منع کړل شو. او تپ به یې د چرګی د هګی ژیړی برخی، د سره ګل غوړی او تربانتین سره پوښل او زړو کې یا کتانی پارچې باندې تړل.

د طب لومړنۍ مدرسه د پوهنځی په توګه په نهمه میلادی پیړۍ کې په بیزانس کې تاسیس شوه، وروسته په یوولسمه پیړۍ کې په سالرنو (سالرن) او دیارلسمه پیړۍ کې د طب پوهنځی او پوهنتونونه په بولونی، مونت پلیه، پاریس، پادوا او اکسفورد کې پرانستل شول.

د طبابت زده کړه ایجاباوه ترڅو د طبیبانو تعداد زیات شی، چې دغه کار د سالرنو او پادوا پوهنځیو ترسره کړل چې دلته یوازی د سالرنو پوهنځی په هکله لنډ معلومات وړاندی کیږی. څرنګه چې په آسیا کې پوهنتون ډیره سابقه لری او ګندیشاپور یا چندی شاپور پوهنتون د میلادی په دریمه پیړۍ کې فعالیت درلود، او په اروپا کې شپږ سوه کاله وروسته لومړنۍ د طب پوهنځی په سالرنو (Salerno) کې چې ایتالیا کې موجود دی تاسیس شو.

د سالرنو طبی مدرسه د تحصیل، تدریس او تحقیق یواځنی پایګاه وه چې په هغه کې یونانی، لاتینی، مسلمانان او یهودیانو په تحصیل او تدریس باندې مشغول وو.

پروګرامونه یی ډیر پرمختللی او بریالی وو چې وروسته د اروپا نورو پوهنځیو د ده پروګرامونه یی تر اجرا لاندې ونیول، برسیره پر نرانو ښځو هم په دې مدرسه کې د طبابت علوم او د قابلګی فن یې زده کاوه او همدارنګه ښځو د پرستارۍ علوم هم په دې مدرسه کې زده کول.

د دې پوهنځی ډیر مشهور اثر د قابلګۍ په هکله چې د دولسمی پیړۍ په لومړیو کې لیکل شوی وه چې عنوان یې «د تروتولا رایی د ښځو د ناروغیو په درملنه کې» وو. څیرونکی په دې عقیده دی چې «تروتولا» یوه ښځه وه چې د قابلګۍ په فن کې مهارت درلودله او هغی د سالرنو په مدرسه کې تحصیل کړی، ځکه دغه رساله د ده په نوم منتشره شویده.

که د تاریخ له نظره د روغتونونو موجودیت او خصوصیت باندې نظر واچوو ګورو چې ډیره زیاته سابقه نلری. او کیدای شی د ناروغیو د درملنې، د ناروغانو ساتنه، جنبی خدمتونو لکه د طبابت زده کړه او د علمی، څیړنو له نظره تیر کړو.

ویل کیږی چې د شلمی پیړۍ په لومړیو پوری روغتون په ټوله نړۍ کې په لومړۍ قدم کې یوه خیریه ټولنه وه او همدارنګه د بیوزلو، زړو خلکو، دربه دره خلکو، معلولینو او ورته انسانانو د ساتلو مرکز هم و.

خو د اوسنی زمانی د روغتون سره ډیر زیات تفاوت لری. په لومړیو کې روغتون په فرانسه کې د خدای میلمستون (Hotel Dieu) ګڼل کیده او دغه کلمه چې نن د انګلیسی په ژبه کې (Hospital) او په فرانسوی کې (Hopital) ورته ویل کیږی د میلمه پالنی څخه نیول شوی دی.

په منځنیو پیړیو کې روغتون یا د روانی ناروغانو مراقبت لپاره یو محل د مسلمانانو له خوا تاسیس شو چې د روانی ناروغانو مراقبت او درملنې ته اختصاص درلود.

په اروپا کې لومړنی روغتون د اسپانیا په یو ښار کې په کال ۱۴۰۹م کې تاسیس شو. په ختیځ کې مخکې له اسلام څخه ډیر پخوانی روغتون جندیشاپور پوهنتون ګڼی چې د ساسانی لومړۍ شاپور (۲۳۸ میلادی) زمانی پوری تړی چې دغه روغتون وروسته د اسلامی طب مرکز وګرزید. او د هجری د دریمی پیړۍ تر وروستیو خپل فعالیت ته دوام ورکړ.

ویل کیږی چې خسرو د ساسانیانو لومړۍ پاچا د یونان څخه استادان د جندی شاپور مدرسې او روغتون ته غوښتی وو. وروسته تر دی چې په بغداد کې روغتون تاسیس شو خپل اهمیت یې له لاسه ورکړ.

طبابت په منځنۍ اسيا کې

کله چې د روم امپراطورۍ په کال ۳۹۵م کې په ختيځ او لويديز وويشله شوه، د شرقی روم امپراطوری چې د بيزانس په نامه يادېږی تر ۱۴۵۳م پوری دوام درلود چې د يو زر کالو په موده کې ډيری لاس ته راوړنی لرلی چې د هغی زمانی طبابت هم ښه رونق پيدا کړی و چې د بيزانس ډير غښتلی طبيب «الکساندر دوترال» و چې په شپږمه ميلادی کې د دولسو ټوکو کتابونو خاوند وو.

همدارنګه په منځنی آسيا او نورو ځايونو کې علمی مرکزونه منځ ته راغلی چې د بخارا او خوارزم علمی مرکزونه يادولای شو. په دې وخت کې طبابت د طبيبانو او اوراد خوانانو په غاړه و. په همدې شان عطارانو هم درملونه خرڅول. بايد زياته شی چې د لسمی پيړۍ طبی خطی نسخی په ارمنستان کې موجودی دی چې د هغو په برخه کې لاندې معلومات ورکړل شويدی.

په هغه آرشيف کې چې د ماتی نادران په نوم د ارمنستان په مرکز ايروان کې موقعيت لری تر ۲۵۰۰ زياتی د طبی آثارو خطی نسخی موجودی دی چې د هغو زياتره برخه د لسمی ميلادی پيړۍ پوری تړاو لری او د اناتومی، فزيولوژی او پتالوژی په باره کې ليکلی شوی دي[1].

په منځنيو پيړيو کې خاص مقام عربی طبابت احتوا کاوه «د اسلامی خلفاوو د تسلط د زمانی څخه د تجربی دوران پيل کيږی، د منصور په زمانه کې يو علمی تحقيقی مرکز يا اکادمی په بغداد کې تاسيس شوه، او په هغه زمانه کې د منځنی آسيا څخه پوهان (افغانستان، ايران او ماورالنهر) څخه را څرګند شول چې د دوی له منځه د ذکريای رازی او ابن سينا نوم اخستلای شو»[2].

په همدې شان په ۷۵۴م کې لومړنۍ عربی درملتون چې د نړۍ لومړنی درملتون بلل کيږی په بغداد کې پرانستل کيږی. عربو د لومړۍ ځل لپاره درمل په حيواناتو تجربه کړی دی.

د کيميا او فارمسی په وده او تکامل کې د عربو نامتو پوهانو لکه جابر ابن خيام (۷۲۱-۸۱۵) او ابو منصور معافون لوی تاثير درلود، چې

۱- مجله سباوون شماره اول حمل ۱۳۶۱ کابل.

۲- دکتر محمود رفيع زاده، دارو های جالينوسی، سال ۱۳۴۰ ص-۱ .

هغوی د مایعاتو د تقطیر طریقی لیکلی دی او یوه اندازه تیزابونه یی لاس ته راوړی دی.

د سلفر، کاربن، ارسنک، پلمب، سرب، زنک او نورو فلزاتو خواص لیکلی دی. په همدې شان ارجن نیترات، کامفر، الکول او یو شمیر نورشیان یی هم لاس ته راوړی دی.

د ساسانیانو په دوره کې د هغوی سلاطینو په خاصه توګه خسرو او انوشیروان ایرانی طب ته یې ښه رونق ورکړ او څرنګه چې برزویه د هغی زمانی ډیر مشهور طبیب و د جندی شاپور ښوونځی یې د انوشیروان په زمانه کې تأسیس کړ. دغه ښوونځی د ایرانی او یونانی طبیبانو او پوهانو د تجمع محل وګرزید.

په خاصه توګه کله چې د شپږمی میلادی پیړۍ د نیمیایی په لومړیو کې د بیزانس امپراطور (ژوستی نین) عیسوی مذهب ته واوښت ډیر پوهان له دغه هېواد څخه وتښتیدل او د جندی شاپور په روغتون کې د ناروغانو په درملنه یی پیل وکړ.

ویل کیږی چې برزویه د یوی پلاوی په مشری هندوستان ته سفر کوی، طبی او اخلاقی کتابونه د ساسانیانو دربار ته راوړی. لیکونکی لیکی چې برزویه خپل ژوند لیک پخپله لیکلی او د کلیله او د منه د کتاب په مقدمه کې ذکر شویدی.

رازی هم پخپلو لیکونو کې پر برزویه اشاره کړی ده. برزویه د خپلو مشاهداتو نتیجه چې په هندوستان کې یی لاس ته راوړی دی په یو کتاب کې لیکلی چې وروسته په عربی ژبه او بیا په ۱۰۷۰م کې په یونانی ترجمه شویدی. ویل کیږی چې برزویه شطرنج له هندوستان څخه ایران ته راوړی او بیا لویدیز ته تللی دی.

داسی جوتیږی چې مخکی د اسلام څخه د منځنی آسیا طبابت نه یوازی د یونانی او رومی طبابت تر تاثیر لاندې وو بلکې د هندی، لرغونی چین طبابت هم خپله اغیزه لرله. او زرتشتی، بودایی او برهمنی مذاهبو موجودیت په دغه منطقه کې طبابت هم د پورتنیو مذاهبو تر تاثیر لاندې و.

طبابت په اروپا او افریقا کې

اروپا ته د اسلامي علومو د ورننوتلو لاره هغو سیمو کې پرانستیل شوه چې د مسلمانانو تر تسلط او نفوذ لاندې وه. دا سیمې یوه اسپانیه او بله یې د سیسیلي ټاپو و چې البته اسپانیې زیاتره اهمیت درلود.

په سیسلي کې لوی ګامونه د دوهم فریدریک د حکومت په زمانه کې واخستل شو. دې پاچا د پاپ سره ښې اړیکې نه درلودلې. هغه پوهان او عالمان چې پاپ له خپل هېواد څخه تبعید کړي وو هغویې خپل دربارته راوبلل، چې له دې ډلې څخه یې ډېر مشهور میخائیل سکات Michelscot دی، چې (۱۱۷۵-۱۲۳۲م) کلونو تر منځه یې ژوند کاوه. نوموړی د یهودی اندریوی په مرسته د ابن سینا کتابونه په لاتین وژباړل.

د سیسیلي وروستنی ډېر لوی ژباړن فراغوت Farraguth نومیده چې په ۱۲۸۵م کې مړ شو. نوموړی نه یوازې د رازی کتاب په لاتین ترجمه کړ بلکې د «ابن جزلا» کتاب یې چې د جراحی په باره کې او د جالینوس د کتابونو له جملې څخه و او عربی حنین هغه ژباړلی و هم په لاتین وژباړه.

په لسمې میلادی پیړۍ کې چې د هجری څلورمې پیړۍ سره برابره ده په قرطبه کې عربی ډېر لوی جراح ابوالقاسم الزهروی چې د منځنیو پیړیو خلکو Abulcasis یا Albucasis په نوم پیژانده چې د اسپانیا د طبیبانو او جراحانو څخه و او د هغه وخت یو زیات شمیر د جراحی سامان الات شخصاً ده اختراع کړی وو او په طب کې د نوموړی مشهور کتاب «التعریف لمن عجزان لیف» دی چې په دیرشو مقالو مشتمل وو. دا طبیب د درباری طبیب ابن جلجل سره معاصرو، څوک چې د هشام بن حکیم بن عبدالرحمن د اندلس اموی خلیفه مخصوص طبیب و، د «زندګانی پزشکان و حکما» کتاب د ده د هستوونو څخه دی چې متاسفانه ورک شوی دی.

ابن الجزار د تونس د قیروان له خلکو څخه و چې د خپل شغل څخه ستړی شوی او په سمندری غل مشهور و، د خپلې زمانې د مشهور و او حاذقو طبیبانو څخه و، او یوشمیر کتابونه یی د طب او تاریخ په باره کې لیکلی او د یاقوت په قول د مصرالمعز الدین الله د فاطمی خلیفه له معاصرینو څخه و.

ابن رشد قرطبی چې د ده فلسفی شهرت پر طبابت یی څرخیده په دولسمه پیړۍ کې یې ژوند کاوه، او پخپله زمانه کې ډېر بلند اوازه سړی و. د فلسفی مسایلو په تحلیل کې ډېر غښتلی و او ډېر کتابونه یی تألیف کړی

دی. د ده آثار د اروپا په علمی نهضت کې ډېر اغيزمن واقع شول، نوموړی د اشبيليه د ښار قاضی او د قرطبه په ښار کې يې هم دا شغل درلود.

بل طبيب ابن الزهر نوميده او د هغو سترو طبيبانو څخه و چې په مصر کې اوسيده، بيا وروسته اندلس ته راستون شو. دا شخص د خپلی زمانی د طبيبانو په نسبت پياوړی او نامتو و. په همدې توګه د ده زوی، لمسی او نور پوهان د ده له کورنۍ څخه د طبابت په فن کې خپل اوج ته ورسيدل.

يو بل لوی عالم چې د ديارلسمی پيړۍ پوری يې تعلق درلود اونه شوکولای چې له پام څخه وغورځول شی لوی ګياه پيژندونکی ابن البيطار مالقی دی. نوموړی زيات مسافرتونه وکړل، يونان، کوچنی آسيا او مصر ته يې د طبی ګياهو د ترلاسه کولو د پاره سياحت وکړ. د ده آثارو په اروپا کې د دارويی موادو په هکله د سونتايمر او لکرک د هڅو په اثر شهرت وموند.

نوموړی دوه مشهور کتابونه لری چې يويی د مفرده درملو په باره کې جامع کتاب دی چې د ابن بيطار په مفرداتو مشهور او بل کتاب يې په طب کې «کتاب المغني» دی. ابن بيطار په ۶۶۴هـ کې په دمشق کې مړ شوی دی.

(مالقی د مالقه Malaga ښارته چې د اسپانيا په جنوب کې پروت دی منسوب دي).

اروپا، اسپانيا او د افريقا شمال ته د اسلامی طب د اصولو په انتقال کې لکه چې څرګنده وه د طليطله (توليدو) پوهانو اساسی نقش لوبولی دی. او په همدې ځاي کې ژرارد کرمون، ميشل اسکات هم د علم زده کړه کړی ده. او مسيحی اروپايانو هم د ده د پوهې څخه برخه اخستلی ده.

د توليدو د ډېرو نامتو ژباړونکو څخه يو ژرارد کرمانويی دی چې د (۱۱۰۷-۱۱۸۷م) کلونو په منځ کې ژوند کړی دی د ابن سينا د قانون کتاب يې په لاتين ترجمه کړ. نوموړی د عربی ژبو د يوشمير اشخاصو په مرسته او همکاری وکولای شو چې د خپل عمر په موده کې زياتی ژباړنی سرته ورسوی.

لکرک «د عربو د طب تاريخ» تر عنوان لاندې په خپل کتاب کې د ژرارد کرمانايی د کارونو فهرست راوړی دی، چې په هغه کې د ذکريای رازی د آثارو ژباړه (کتاب طب المنصوری) او د ابن سينا او د لويديزی خاوری د پوهانو لکه سرابيون او نورو د آثارو ترجمې ليدل کيږی.

د قانون د کتاب ترجمه يې دومره په دقيق ډول سرته رسولې ده چې د هغه کسانو د ټول کار د پاره يوه ښه مبنا ګرزيدلې.

تر قانون وروسته د ابن سينا ډير کتابونه او کوچنی رسالی هم په لاتين ژباړل شوی او هغو پوهانو چې دا کتابونه ترجمه کړی دی لکه ګوندی ساولوس Gundisavlus، ارمنګود Armengaud، ارنولد او ويلانووا Arnold of Villanova او اورس Averroes زيات شهرت وګاټه او د دوی نوم په تذکرو کې د هميشه د پاره ثبت شو.

تر هغی وروسته د اروپا ډير لوی پوهنځی په تيره بيا د دې دوو يوازی د رازی او ابن سينا له کتابونو څخه د طب په پوهنتون کې د تدريس په چارو کې استفاده کوله او اصولاً په اروپا کې د طب د پوهنتونو د اهميت په باره کې د سنجش او قضاوت معيار دا و چې ترکومی اندازی پوری د دوو پوهانو په تيره بيا د ابن سينا آثار تدريس کيږی.

دا دواړه پوهنتونونه د مونتپولير Montpollier پوهنتون او بل يی د بلونيا Bologna پوهنتون وو.

خو د ابن سينا او رازی آثار په خپل ډول کې هغومره بې رقيبه او د نورو ټولو کتابونو په سر کې قرار درلود چې مونت پولير د طب په علمی مرکز کې تر ۱۵۵۸م او د بروکسل د طب په علمی مرکز کې حتی تر ۱۹۰۹م پوری تدريس کيدل.

د عربی نړی نورو هيوادونو ته د شرق (منځنی آسيا) د طبابت د انتقال په باره کې بايد زياته شی چې منصور عباسی خليفه په خپل ټول عمر کې د خپلی بدی هاضمی له ناروغی څخه رنځيده او د ده ځانګړی طبيب ابن الاحلاج ونه شو کړای چې د ده تداوی وکړی. بالاخره خليفه د ده د درملنی نه نوميده شو نورو طبيبانو ته يی مخ واړاوه ترڅو يې (جرجيس بن بختيشوع) يې مرستې ته راورسيد چې د جندی شاپور له اهالی څخه او د هغه ښار په پوهنتون کې تحصيل کړی و، او د اسلام په سراسر عالم کې شهرت درلود، کله چې بختيشوع د خلافت مقرته احضار کيده د جندی شاپور د پوهنتون رياست يی په غاړه درلود. نوموړی د هغه رياست خپل زوی ته پريښود او د خپلو دوو تنو تکړه شاګردانو (ابراهيم او عيسی بن سهل آسا) سره بغداد ته لاړ. جرجيس (جورجيس) خليفه ته ډاډورکړ چې د ده ناخوښی د درملنی وړ ده او د خليفه درملنه د بشپړ بری سره مخامخ شوه او په نتيجه کې ده ته پيشنهاد وشو چې په بغداد کې د خلافت د دربار د طبيب په عنوان

پاتی شی او په دی دول د منځنی آسیا د تداوی علمی شیوی عربی نړۍ ته لاره وموندله.

دیر پخوانی اثر چې د طبابت په هکله د خارجي ژبی څخه په عربی ژبه ژباړل شوی دی د «کناش» په نوم دی چې د هغه لیکونکی «اهرن قس اسکندرانی» او ژباړونکی یې «ماسرجویه» دی، نوموړی د اسلام د ظهور په وخت کې په سوریه کې اوسیده او د کناش د کتاب ژباړه یوازنی اثر دی چې له دې څخه پاتی شوی دی. د دې کتاب ژباړه په دیر چټکتیا سره د غیر بدوی عربانو په منځ کې رواج وموند.

داکتر سریل الکود لیکی: تر کومه ځایه چې زه خبریم لومړنۍ کتاب د سترګو طبابت پوری لیکل شوی دی د ابو روح محمد بن منصور جرجانی مشهور په «زرین دست» (د زرو لاس) په واسطه لیکل شوی دی. د ده کتاب نورالعین نومیږی چې په ۱۰۸۸م کې لیکل شوی او یوازی دوه نسخې یې موجودی دی چې یوه یې په اکسفورد او بله یې په کلکته کې ساتل کیږي[1].

که چیر ته طبابت له ختیز څخه عربو او نورو هېوادونو ته انتقال موندلی دی د منځنی آسیا د روغتونونو ساختمانونه، تجهیزاتو او مفروشاتو د جوړښت شکل هم هلته رواج موندلی دی. لکه چې په مراکش کې د اسلامی له بهترینو روغتونونو څخه یې قرار درلود چې د ۱۲۰۰م کلونو په شاوخوا کې جوړشو.

عبدالواحد المراکشی د دې روغتون په باره کې لکیلی دی «... دا هغه روغتون دی چې تصور کوم چې ساری یې په نړۍ کې نشته دي».

هر روغتون یو افتخاری رئیس درلود چې د غیر طبی اشخاصو څخه و او د هماغه ښارونو یا سیمی د آمرانو د کورنی پوری مربوط و. خو واقعی رئیس یې خامخا د هغه روغتون د طبیبانو له جملې څخه و چې د «متولی» په نوم یادیده.

لکه چې پخپله رازی هم د «ری» د روغتون متولی او بیا هم د زوړ بغداد د روغتون متولی و، او جرجانی هم دا مقام د خوارزم په روغتون کې درلود.

۱- دوکتور سریل الکود تاریخ پزشکی ایران طبع ۱۹۷۱ ص- ۱۸۷ .

د روغتون رئیس دوه مرستیالان درلودل چې هغوی ته مشیر او قوام ویل کیدل[۱].

د منځنیو پیړیو نامتو طبیبان

ابانوپیترو (Abanopietroo):

یو ایطالوی فیلسوف او طبیب دی چې د پتروس او اپونو په نوم هم یادیږی. دا سړی د اومی هجری (۱۳م) پیړۍ له ډیرو نومیالیو طبیبانو څخه دی. نوموړی په پاریس کې یی د فلسفی او طب په تحصیل پیل کړی دی. نوموړی د خپلو لیکنو په ډول (سبک) کې د ابن الرشد او نورو عربی لیکوالو د لیکنو په لاره ډیر زیات تللی دی.

ارلیانس (سیلیوس) Aurelianus (Caelius):

نوموړی له سیکا له طبیبانو څخه دی چې سیکا په مدیا کې واقع دی. دې غالباً په پنځمه میلادی پیړۍ کې ژوند کړی دی. دې د سورانس دوه کتابونه چې د حادو او مزمنو ناروغیو په هکله لیکل شوی وو ترجمه کړی دی چې هغه ترجمې لاتر اوسه موجودی دی. برسیره پر دې د یو بل کتاب پارچې هم شته چې د صحت او د داخلی ناروغیو د پتالوژی په شاوخوا کې یې لیکلی دی.

ارنالدوس دوولا نوا Arnaldus Devilla- Nova (۱۲۳۵-۱۳۱۳م):

یو کیمیاگر، منجم او طبیب دی چې اصلاً اسپانوی او د عربو فلسفه یې مطالعه کړې ده.

د ده کلیات په ۱۵۰۴ او ۱۵۳۲م کې په لیون او په ۱۵۸۵م کال په با سل او په ۱۶۰۲م کال په فرانکفورت کې او آخر بیا په ۱۶۸۶ کې بیرته په لیون کې چاپ او نشر شو. دې د طبی کتابونو په تألیف کې هم شهرت لری.

ارنو (انتو) Arnault Anntion (۱۶۱۲-۱۶۶۴م):

په وی آرنو سره مشهور طبیب او د فرانس د الهیاتو عالم ؤ. نوموړی یو کتاب د فرکات کامینون په نامه تألیف کړی دی.

۱- اثر فوق ص- ۲۶۴ .

اریتا ئیوس Aretaeus:

یو یونانی طبیب دی چې د دویمی میلادی پیړۍ په دویمه نیمایی کې یی په روم کې ژوند کاوه. له ده څخه دوه طبی رسالی پاتی دی چې په ایونی لهجه دی او هره یوه یې څلور کتابونه دی. یوه رساله یې د حادو او مزمنو ناروغیو په اسبابو او علامو کې او بله یې د هغو د درملنی په باره کې بحث کوی چې په اختیاری مدرسی پوری ارتباط لری. نوموړی د پنوماتیک Pneumatic له نظریو څخه (چې زړه د روح او د حیات مرکز کڼی) هم واقف و. او احتمال لری هغه سړی چې عرب ورته آرثائیوس وایي همدا سړی وی.

اندرو ماخس:

د ترن د مشهور طبیب نوم دی چې د ۵۴-۶۸م کلونو ترمنځ یې په روم کې ژوند کاوه. دغه طبیب زیات شهرت درلود او مشهور تریاق چې عوام یې فاروقی تریاق بولی ده ته منسوب دی.

اق شمس الدین:

شیخ محمد د حمزه زوی د محمد بن شهاب الدین د کورنۍ له علما او مشایخو څخه دی چې په کال ۷۹۲هـ په دمشق کې زیږیدلی دی.

سلطان محمد فاتح د نوموړی علمی او معنوی کمالاتو او هدایاتو څخه استفاده کړی ده. په کال ۸۶۴هـ کې وفات شویدی. د نورو کتابونو په جمله کې د طب په رابطه یې هم یو کتاب تألیف کړی دی.

ابراهیم (۲۹۷-۳۳۵م):

ابو الاسحاق بن سنان بن ثابت بن قرة الصابی الحرانی نومیږی. نوموړی د طب، حکمت او د هندسی د علم پوه او فیلسوف و.

ابراهیم بن موسي:

په ابراهیم بن رئیس هم مشهور دی. د اسلام له منورو طبیبانونه دی او په مصر کې څرګند شو. او رئیس الاطبای ملک کامل بن ابی بکر مقرر شو او د قاهری په روغتون کې یې خدمت کاوه. په ۶۳۲هـ کې مړ شو. ابن ابی اصیبعه د عیون الا بنافی طبقات الاطبأ په کتاب کې دی یو پوه او خورا خوږ ژبی طبیب معرفی کړی دی.

ابراهيم بن ايوب ايرش:

د عباسی خليفی معتز بالله سرطبيب و. او د اسلام مشهور طبيب و، پلار يې ايوب ايرش نوميالی طبيب و. ډير يونانی ژبی کتابونه يې په عربی او سريانی ترجمه کړی دی.

ابراهيم بن بکس:

د مشهورو اطباو څخه دی چې د عباسيانو په اوله دوره کې ظهور کړی دی. د طب په علومو کې بر لاسی و او ډير کتابونه يې د طب په برخه کې تأليف او ترجمه کړی دی. څرنګه چې د سترګو بينايی له لاسه ورکړی خو دغه صنعت يی له لاسه ورنکړ او د عضدی په روغتون کې په تدريس مصروف و. د طب په برخه کې يی زيات کتابونه ليکلی او د قرا بادين په کتاب کې الحاقيه ليکلی دی.

ابن ابی ربيعه:

عبداله اميه بن ابی صلت نوميده او په طبابت او شعر کې يی هم معلومات درلودل. د اسلام تر ظهوره پوری لاژوندی و، خو ايمان يې رانه وړ، او رسول اکرمﷺ د ده په نسبت دا ډول فرمايلی دی (آمن شعره و کفر قلبه) يعنی د ده اشعارو ايمان راوړی دی او زړه يی کافر دی.

ابن ابی رمثه:

يو جراح طبيب و چې د رسول اللهﷺ په زمانه کې يی له رسول اکرمﷺ سره مجلس کړی دی، او په هغه وخت کې ده غوښتل چې د رسول اکرمﷺ اسلحه له شاڅخه ښکته کړی خو ده ته يې اجازه ورنکړه او په اخبار الحکما کې قفطی د ده د حال شرح همدومره ليکلی ده.

سعيد ابن بطريق:

د مصر د قسطاط څخه دی او خورالوی او حاذق طبيب و. نوموړی په ۲۶۳هـ کې د ذی الحجی په ۲۷ زيږيدلی دی. دې په اسکندريه کې د بطريقی رئيس مقرر شو. په اتوشيوس باندې مسمیٰ شو او شپيته کاله عمر يې تير کړ. اوه کاله يی د رياست منصب درلود. ابن بطريق د طبابت په فن کې خورا ډير مهارت درلود. او په پای کې په ۳۲۸هـ د رجب په مياشت کې وفات شو.

د عملی او علمی طب کتاب، يوه رساله، کتاب الجدل او کتاب النظم الجوهر د ده تاليفاتو څخه دی.

ابن بغونش:

ابو عثمان سعید بن محمد د اندلس د اطبا او فلاسفه و څخه و. په ۳۶۹هـ په طلیطله کې زیږیدلی دی. نوموړی د ظاهر اسمٰعیل ابن مطرف د طلیطله باچا ته ډیر مقرب و. په ۴۴۴هـ کې وفات شوی دی.

ابن بطلاوش:

د اندلس له علماو څخه و. په دین کې یهود و. خورا پوه طبیب و. په تیره په مفرده درملو کې یی ډیر معلومات درلودل. المجدولته فی الادویۃ المفرده. د ده د مشهورو تالیفاتو څخه دی. ده په بنی هواد کې خورا لوړ مقام درلود او پنځمه پیړۍ کې یی استوګنه کاوه.

ابن البناء:

ابو العباس احمد بن محمد بن عثمان له دی څخه و او د مراکش عالم و او په ۶۳۹ یا ۶۴۹ یا ۶۵۶هـ کې په مراکش کې زیږیدلی دی. د هئیت او ریاضیاتو په علومو کې او په طب او فقیه علومو کې یی خورا تخصص پیدا کړ. نوموړی په ۷۲۱ یا ۷۲۳هـ په مراکش کې وفات شوی دی. ابن البنا ته یی د ۷۴ کتابونو نسبت کړی دی چې له دې جملې څخه د تلخیص اعمال الحساب خورا مشهور کتاب دی.

ابن تلمیذ:

امین الدوله ابو الحسن هبت اله بن ابی الغنایم په (۴۶۶-۵۵۶هـ) ژوند کړی او په عربو کې یو مشهور طبیب و. د طبابت او ناروغیو د تشخیص او د تداوی په فن کې یی خورا مهارت درلود. په بغداد کې د عضدی د روغتون سرطبیب او مدیر ؤ. او د ژوند تر پایه پوری په دغه خدمت بوخت او اخته و. ده ډیر تالیفات کړی دی چې لس یی ډیر مهم دی.

ابن الجزار:

ابو جعفر احمد بن ابراهیم د هجری په څلورمه پیړۍ کې د اسلام له مشهورو طبیبانو څخه و. په قیروان کې زیږیدلی دی. تره او پلار یې هم له اطباو څخه وو. په طبابت کې یی خورا ښه معلومات درلودل. د ناروغانو په درملنی او د ناروغیو په تشخیص کې یی خورا مهارت درلود، او د طبابت د فنی انواعو په باره کې یی خورا ډیر مختلف کتابونه لیکلی دی. د ده کتابونه او آثار د ۲۵ څخه زیات ښودل شوی دی. نوموړی له ۸۰ کلونو زیات عمر درلود.

ابن جلجل:

ابو داود سليمان ابن حسان الاندلسی له ښو طبيبانو څخه و. د مفرده درملو په خواصو کې يی ښه بصير ت درلود. د معالجی د انواعو په باره کې يی ښه خبرتيا او معلومات درلودل، او په خپل صنعت کې به يی ډير ښه تصرف کاوه.

نوموړی وايی ما هم د يو مرکب درمل د تصحيح کولو له آمله خورا حرص او هڅه درلودله، ترڅو می د خاوند تعالی په فضل هغه درمل وپيژندل.

د درملو د نومونو تفسير د ديسقوريدس له کتاب څخه د ابن جلجل له تاليفاتو څخه دی، چې هغه يې د قرطبې په ښار کې په ۳۷۲هـ کال کې ليکلی دی. نوموړی يوه مقاله او يوه رساله هم لری.

ابن جميع:

شيخ موفق شمس الرياسته هبته الله بن زين بن جميع اسرائيلی له مشهورو اطباو څخه وو. د طب په صنعت کې يې خورا زيات کوشش او اجتهاد کړی دی. ډير ښه علاج به يې کاوه. په طب کې ده باندې سلطان ډير اعتماد او باور درلود. ښه کتابونه او مقالی لری.

ابن خلدون:

ابو مسلم عمر بن احمد حضرمی له اندلس د اشبيليه د مشهورو علماو څخه او د ابن خلدون د مشهور مورخ له کورنۍ څخه دی. په فلسفه، نجوم، هندسه او طب کې يې مهارت درلود. يو فيلسوف عالم و. په ۴۴۹هـ کال په اشبيليه کې مړ شوی دی.

ابن خياط:

ابوبکر عيسی بن احمد د اندلس له مشهورو علماو څخه دی او په حساب او هندسه، طب خصوصاً د هئيت په علم کې يې پوره لاس درلود. د سليمان بن حکم او نورو پاچاهانو په حضور کې يې خدمت کړی دی. په ۴۴۷هـ کال په طليطله کې مړ شوی دی.

ابن رشد (ابن الرشد):

ابو محمد عبداله بن ابی وليد د حکيم او فيلسوف (ابن رشد) زوی دی. ده هم په طبابت کې پوره مهارت حاصل کړی او د پلار د مرګ نه وروسته

د هغه ځای یی اشغال کړ او د ناصر بن منصور سرطبیب وو. دی یو اثر لری چې مقاله فی حیلة البره په نامه مسمیٰ دی.

ابن رشد:

ابو الولید محمد بن احمد ابن رشد یا ابن الرشد د پورتنی ابن رشد پلار دی. په ۵۲۰ کال په قرطبه کې زیږیدلی دی.

ابن اصیبعه لیکلی چې ابن الرشد لومړې په اشبیلیه کې او بیا په قرطبه کې د قضاوت په وظیفه شروع وکړ.

شمس الدین شهرورزی د تاریخ الحکماو په کتاب کې لیکلی دی چې ابن الرشد په مختلفو علومو کې لکه فقه، اصول، طب، منطق، فلسفه او داسی نور تر ۷۰ عنوانونه زیات کتابونه تالیف کړی دی چې زیاتره یی په لاتین یا عبری ژبه ترجمه شوی دی او اصل عربی یې له منځه تللی دی. خو یو لړ کتابونه یې هم اوس موجود دی.

ابن رضوان:

ابو الحسن علی د اسلام د لویو طبیبانو څخه یو طبیب و. د څلورمی هجری پیړۍ په اواخرو کې د مصر په جیزه نامی کلی کې زیږیدلی دی او په قاهره کې د علم په تحصیل یې شروع وکړ.

په ۴۵۳هـ کال کې مړ شوی دی. په طبابت کې یې پوره صداقت درلود او د فاطمیه پادشاهانو څخه د حاکم بامر الله سرطبیب و. د خپلو معاصرو طبیبانو سره به یې معارضی کولی او د خپلو اسلافو آثار به یې د اعتراضاتو د محک څخه ایستل.

نوموړی ۵۶ کتابونه، رسالې او مقالې لیکلی دی. د افلاطون، ارسطو، بقراط، جالینوس، فرفوریوس پر ځینو کتابونو او د یونانی حکماو پر مختلفو تالیفاتو یې مفید تعلیقات لیکلی دی.

ابن رومیه (۵۶۱-۶۳۷هـ.ق):

ابو العباس احمد بن محمد بن مفرج النباتی چې په ابن رومیه باندې مشهور دی او د اشبیلیه له خلکو څخه دی. او د دی ځای د لویو علماو څخه شمیرل کیږی. نوموړی په دینداری کې مصوف او طبابت کې محقق و.

د نباتاتو علم او د درملو د خصوصیاتو او قواو او منافعو معرفت او د دی درملو د شین کیدو ځای د تباین، او صافو د اختلاف معرفت یې د کمال

درجې ته رسولی دی. د ده تالیفات یې پنځه کتابونه دي چې یو قاموس یې ډېر مهم دی.

ابن زهر:

د مسلمانو علماو او پوهانو د یوې داسې کورنۍ کنیه ده چې د لسمې میلادي پېړۍ د لومړنیو نه د ۱۳ پېړۍ تر اوایلو پورې په اندلس کې پیدا شوي دي، دغې کورنۍ د عربستان نه مهاجرت کړی دی او نسب یې عدنان ته رسیږي. لومړۍ د اندلس په مغرب جفن شاطبه کې اوسیدلي دي او وروسته بیا د اسپانیې په نورو برخو کې خواره، تیت او پرک شوي دي. د دې کورنۍ مشهور او معروف کسان دا دي:

۱. د دې کورنۍ لوی نیکه (جدا علی) چې په اندلس کې و په زهر سره ملقب و. په ۸۶ کلنۍ کې په ۴۲۲هـ کال د طلبیرې په ښار کې مړ شو.

۲. مروان عبدالمالک: نوموړی بن محمد بن مروان بن زهر چې مشهورو طبیبانو څخه و. په علم طب او علم فقه دواړو کې ښه پوره معلومات درلودل.

۳. ابو العلا: ابو العلا زهر بن ابی مروان عبدالملک بن محمد بن مروان د مخکې ذکر شوي سړي زوی دی. د ناروغیو په تشخیص کې یې فوق العاده مهارت درلود.

۴. ابو مروان: نوموړی عبدالملک بن ابی العلا زهر د مخکې ذکر شوي ابو العلا زوی دی او معمولاً په ابو مروان بن زهر سره بلل کیږي. دی د اشبیلیه په ښار کې ۴۸۴-۴۸۷هـ کلونو ترمنځ زیږیدلی دی او وروسته تر دې چې فقه او ادبیات او شرعي علوم یې په کامل ډول زده کړل او د طبابت علم یې د خپل پلار نه زده کړ. دغه علم یې په لږه موده کې تر دې اندازې زده کړ چې د خپل استاد درجې ته ورسید او خاص بیا د خپلو ابتکاري تجربو په اثر په قرا با دین کې د تخصص خاوند شو. د ده تالیفاتو څخه یو کتاب (کتاب الاقتصاد فی اصلاح النفس و الا جساد)، بل یې (کتاب التیسیر فی المداداة و التدبیر) نومیږي. نوموړی د خبیث ناروغۍ په اثر په ۵۵۷هـ کال په اشبیلیه کې مړ شو.

۵. ابوبکر: ابوبکر محمد بن عبدالملک بن زهر د دغه ذکر شوي زهر زوی دی چې په حفید سره مشهور دی. په ۵۰۴هـ او په ۵۰۷هـ

کال کې زیږیدلی دی او ۵۹۵هـ کې مړ شوی دی. دې یو ماهر طبیب و خو په عملی برخه کې مشغول و او څه تالیفات یې ندی کړی. خو بیا یی هم د سترګو په طبابت کې یوه رساله د ځان څخه پرایښی ده.

۶. ابو محمد: عبدالله بن الحفید د مخکی ذکر شوی محمد زوی دی. په ۵۷۷هـ کال په اشبیلیه کې زیږیدلی دی. نوموړی د ماهرو طبیبانو څخه و چې د خپل پلار په مدرسه کې یې تحصیل وکړ. په ۲۵ کلنۍ کې هغه وخت چې مراکش ته روان و په ۶۰۲هـ کال په رباط الفتح کې مړ شو. کشر زوی یې ابو العلا د طب سره ډیر شوق درلود او د جالینوس د تالیفاتو څخه یې پوره معلومات درلودل او ښې ګټې ورځنی واخستی.

ابن سحنون:

ابو عبدالله محمد سحنون ندرومی د اندلس د ادیبانو او طبیبانو څخه و او په ۵۰۸هـ کال په قرطبه کې زیږیدلی دی. وروسته اشبیلیی ته لاړ او د ابن الرشد د شاګردانو په قطار کې داخل شو او د ځینو پادشاهانو طبابت یې هم کاوه.

ابن سرابیون:

د عباسیانو په دوره کې د سریانی مشهورو طبیبانو څخه شمیرل کیږی. یو حنا د ده کنیه نوم دی چې دوه کتابونه د الکناش کبیر او الکناش الصغیر په نامه په سریانی ژبه لیکلی دی، چې څو واری په عربی ژبه ترجمه شوی دی.

ابن سراج (۶۵۵-۷۲۹هـ):

محمد بن ابراهیم بن عبدالله بن رومین چې په ابن سراج غرناطی شاعر سره مشهور دی. ده په ډیرو فنونو او طب کې پوره مهارت درلود او د ده د تالیفاتو شهرت د دې سبب شو چې سلطان محمد بن محمد دی د خپل ځان مخصوص طبیب وټا کې. ده به د فقیرانو او بې وزلو خلکو علاج وړیا کاوه او د خپلوعوایدو دریمه برخه یې د دوی په غذا او دوا او نورو حوایجو باندې صرفوله. ده د طب په باره کې ډیر کتابونه لیکلی دی.

ابن سمح:

ابوالقاسم اصبغ بن محمد د اندلس د مشهورو رياضينو څخه و او په طب کې يې مهارت درلود. ډير ښه او زيات تاليفات لرى چې مهم آثار يې شپږ ښودل شوى دى. په ۴۲۶هـ کال کې مړ شوى دى.

ابن سمينه:

يحيٰ بن يحيٰ د اندلس د مشهورو طبيبانو څخه و. او د رياضى، نجوم په علومو او ادبياتو او نورو فنونو کې يى مهارت درلود. په قرطبه کې زيږيدلى او په ۱۳۵۰هـ کال کې مړ شوى دى.

ابن عبدربه:

ابو عثمان سعيد بن عبدالرحمان طبيب او شاعر دى. نوموړى اندلس څخه و. په طب، هئيت او نجوم کې يې لوى لاس درلود. د تبى د تداوى په باب يې مخصوص اصول درلودل. نوموړى په طب کې درى کتابونه لرى. د عمر په وروستيو وختونو کې ړوند شو او د ۳۴۵هـ کال په شاوخوا کې مړ شو.

ابن عذرا:

يا ابراهيم بن مير ابن عذرا يو يهودى عالم دى چې د اسپانيى په توليدو کې د ۱۰۹۳-۱۰۹۷ په سنو کې زيږيدلى دى او د ۱۱۶۷ د جون په ۲۳ مړ شوى دى. په طب، هئيت او فلسفى کې متبحر و. او يو لوى شاعر هم و. نوموړى ډير آثار ليکلى دى.

ابن عطار:

ابو الخير مسيحى د نيلى نصرانى طبيب ابى البقا زوى دى. د عباسى خليفه ناصر په زمانه کې اوسيده او د خليفه مخصوص طبيب و. په ۶۰۸ په بغداد کې مړ شوى دى. قفطى د تاريخ الحکما خاوند په طب کې د ده شاګرد و.

ابن القفطي:

ابو الحسن على بن يوسف قفطى چې په جمال الدين ملقب دى په ۱۱۷۲م کې د مصر د صعيد د توابعو د قفط په ښار کې زيږيدلى دى. د ابن قفطى د زياتو تاليفاتونه چې اکثر يې په تاريخ کې وو لکه تاريخ القاهره، تاريخ اليمن، تاريخ المغرب، تاريخ سلاجقه او نور پرته د يو کتاب نه چې

هغه هم د اختصار په ډول دی بل مونږ ته ندی رسيدلی، او داسی احتمال کيږی چې دا کتاب د اخبارالعلما او تاريخ الحکما په کتاب موسوم دی.

خو هغه مختصر چې روزنی له دې کتاب نه ليکلی دی په (الملتقطات من کتاب تاريخ الحکما) موسوم دی چې د ۴۱۴ کسو طبيبانو او ستورو پيژندونکو او حکماو پر شرح دی چې د پخوانيو وختونونه د مؤلف تر زمانی پوری دی. دا کتاب فوق العاده مهم دی ځکه چې يوه داسی سر چشمه ده چې د عربو د فرهنګونو او علومو او د هغوی د اطلاعاتو په باب کې پر يونانی تاليفاتو د ډيرو ښو معلوماتو لرونکی او منبع ده. بر سيره پرهغې د يونانی د آثارو يوه زياته برخه چې پخوانو کتابو کې ندی ويل شوی مونږ ته ښيئ.

ابن کرابا:

ابو سالم يو مشهور طبيب دی چې په اصل د يعقوبيی ملاطيی له طايفی نه دی او د سلجوقی پاچا علاوالدين کيقبا د طبيب او نديم و.

ابن کرنيب:

ابو احمد حسين بن اسحاق بن ابراهيم بن يزيد د طبيعينو د يو مشهور سړی کاتب و. ابن اصيبعه د عراق او جزيری په طبيبانو کې راوستی دی.

ابن ماسويه:

ميخائيل د ماسويه زوی او د يو حنا بن ماسويه ورور ؤ. د طب په ټولو چارو کې د يونانيانو پر لارې تګ کاوه. د خپلی پيړۍ او د مخکنيو د هيڅ يو طبيب سره يې موافقه نه درلود. مامون د ده خورا لمانځنه کوله او هيڅ يو درمل به يې چې د ميخائيل له خوا جوړشوی نه و نه يې خوړ. د بغداد ټولو طبيبانو د ده تمجيد او احترام کاوه.

ابن مامون:

ابو عمران موسی د ميمون زوی د عبيدالله طبيب لمسی وو. نوموړی په ۱۱۳۵م يعنی د هجری پنځمی پيړۍ په وروستنی نيمايی په قرطبه کې زيږيدلی و.

نوموړی په طبابت کې ساری نه درلود. او د صلاح الدين ايوبی د خاص طبيب په ډول په شاهی مقام کې شامل شو.

نوموړی حکیم د طبابت په باب تر ۱۸ زیات کتابونه لیکلی دی چې ځینی یې د پخوانیو حکمیانو او طبیبانو څخه لکه بقراط، جالینوس او ابن سینا د کتابو څخه د اقتباس په ډول ترجمه او تخلیص کړی دی او ځینی یې خپل مولفات دی.

ابن نفیس:

علاوالدین ابوالحسین علی بن ابی الحزم علاوالدین بن النفیس مصری قریشی دی. نوموړی طب په دمشق کې زده کړ. دی په طب کې د خپلی زمانی په وګړو کې ساری نه درلود. په ۶۸۷ کال مړ شو. ځینو د ده وفات په ۶۹۶ کال کې ګڼی چې اتیا کلن وو. ډیر تالیفات لری او له کتابو څخه یې ډیری نسخې پاتی دی. د حاجی خلیفه په وینا دروسوو ټوکو ته رسیدل او د اتیا ټوکو په تالیف بریالی شوی دی.

ابن النقاش:

مهذب الدین ابوالحسن علی د عیسيٰ زوی د اسلام د مشهورو طبیبانو څخه و. په بغداد کې زیږیدلی دی. دمشق او مصر ته تللی او په پای کې په دمشق کې میشت شو او د ملک عادل نورالدین محمود بن زنګی د طبابت او کتابت په خدمت بوخت شو او د دمشق روغتون یې اداره کاوه. په ۵۷۴هـ کال مړ شو.

ابن وافد:

د ابو المطرف عبدالرحمن بن محمد وزیر (۳۸۷-۴۶۰هـ) او د اندلس د مشهورو طبیبانو او غنیانو څخه و. په طلیطله کې یې هستوګنه درلوده. د ارسطو او جالینوس کتابونه یې ډیر کتلی وو. ډیر ښه آثار لری.

ابن هود:

ابو علی حسن د عضدالدوله زوی دی. په حکیمه، طب او د فلسفی په علومو کې یې لوی لاس درلود. په ۶۹۷هـ کال په دمشق کې مړ شوی او په ۶۳۳هـ کال په مرسیه کې زیږیدلی و.

ابن الهثیم:

عبدالرحمن د الحق زوی د اندلس د خورا مشهورو طبیبانو څخه و چې په قرطبه کې لوی شوی او زیات تالیفات لری. مهم تالیفات یې څلور دی. نوموړی په ۴۵۵هـ کال مړ شوی دی.

ابن ابی الاشعث:

ابو جعفر احمد د احمد زوی او د احمد ابی الاشعث لمسی چې اصلاً ایرانی دی. وروسته موصل ته تللی او زیاته موده یی هلته تیره کړې ده. په ۳۵۹هـ وفات شوی دی. کله چې د ناصرالدوله کوچنی زوی یې معالجه کړ ډیر مشهور شو او د زیات ثروت خاوند شو.

زیرک او با هوشه سړی و چې په فلسفه او طب کې یې ډیر شاګردان تربیه کړی دی.

محمد د ده د زامنو څخه و چې په خپل عصر کې مشهور طبیب و. د طب په برخه کې یې تالیفات ۱۴ ټوکو ته رسیږی.

ابن ابی اصیبعه:

موفق الدین ابو العباس د قاسم سعدی خزرجی زوی دی او د مؤلفینو په شرح حال باندې مشهور دی. په کال ۶۰۰هـ ق په دمشق کې زیږیدلی دی. نوموړی په کال ۶۳۴هـ کې د قاهری په روغتون کې کار پیدا کړی او وروسته د امیر عزالدین ایدمی په طبابت کې مقرر شوی او په کال ۶۶۸هـ کې وفات شوی دی.

د عیون الابنافی طبقات الاطبا په اثر کې د حکماو او مشهورو طبیبانو شرح حال یې لیکلی دی. برسیره پر هغه یې دری کتابونه تالیف کړی دی.

ابن ابی صادق:

ابوالقاسم عبدالرحمن د علی زوی د احمد لمسی او د ابی صادق نیشاپوری کړوسی دی. ډیر زبردست طبیب او فیلسوف و. په نیشاپور کې زیږیدلی او هلته تربیه شوی دی. نوموړی د دوهم بقراط په نامه پیژنی. خپل ټول عمر یې د جالینوس د کتابونو په تفسیر او تتبع کې تیر کړی دی.

د بقراط د جنین مسایلو شرح، شرح فصول یا فصوص د ده د تصنیفاتو له جملی څخه دی. د پاریس په ملی کتابتون کې د وروستی کتاب یوه نسخه او تقدمه المعرفه کتاب موجود دی.

ابن باجه:

ابوبکر محمد ابن یحيٰ بن باجه نجیبی یا بل نوم یی ابن الصایغ د عربانو یو مؤرخ دی چې په ریاضی او طب کې ډیر شهرت لاره. د هجری پنځمی پیړۍ په وروستیو کې سرقسط کې زیږیدلی دی. د عمر په وروستیو کې فارس ته تللی او په ۵۳۳هـ کې چې ځوان و مړ شوی دی. ځینی عربان وایي چې د طبیبانو د کینی او حسد په نسبت نوموړی مسموم شوی چې محرک یې ابن زهر ګڼی. د نوموړی ۲۶ اثرونه د افغانستان په دایرة المعارف کې درج دی.

ابن بختویه:

ابوالحسین عبدالله بن عیسيٰ د واسط ښخه دی. د اسلام مشهورو اطباو کې شمیرل کیږی. یو کتاب یې چې کتابه المقدمات چې د کنزالاطبا په نوم شهرت لری او په کال ۱۴۰هـ کې د خپل زوی په نوم تالیف کړی دی. نور معتبر آثاریی الذهد در فن جراحی کتاب، کتاب العضدالی معرفت العضد دی.

ابن بطلان:

ابوالحسن مختار بن حسن بن عبدون، بن سمدون ابن بطلان د بغداد د اهالیو ښخه دی. د تقویم الصحه کتاب چې لاتینی ترجمه یې په ۱۵۳۱م کال په استر اسبورګ کې نشر شوی دی. نور آثار یې دری ښودل شوی دی.

ابن جزله:

ابو علی یحی بن عیسيٰ طبیبی د بغداد ښخه دی. اروپا هغه د بن جنلا په نامه پیژنی. طبابت یې د سعید بن هبته الله ښخه زده کړی دی. د بغداد په کوی کرخ کې ژوند کړی دی او د کوی کرخ خلک یې مجانی تداوی کول او خوراک به هم هغو ته ورکاوه. نوموړی د شعبان په میاشت کال ۴۳۹هـ کې وفات شوی دی. هغه کتابونه چې له ده ښخه پاتې دی پنځو آثارو ته رسیږی.

ابن سینا:

ابو علی حسین بن عبدالله بن حسن بن علی بن سینا چې په شیخ الرئیس، ستر استاد یا د استادانو رئیس، د طبیبانو امیر، حجة الحق، شرف الملک باندې ملقب و. همداشان د معلم الثانی یعنی دویم معلم چې په تحقیق سره تر ارسطو وروسته مقام لری القاب ورکړ شوی دی.

ابن سینا د بلخ د اهالی د یوه تن زوی و، د مور نوم یې ستاره ده چې پلار یې د افشانه په کلی کې چې د بخارا د مربوطاتو د خرمیثن (د لمر

وطن) له کلیو څخه یو کلی و له هغی سره واده کړی، او ابن سینا هم د خرمیثن په کلی کې زیږیدلی دی.

«د ابن سینا پلار د اسمعیلیه له پیروانو او د بلخ له خلکو څخه او مور یې د بخارا د اطرافو د کلیو له اوسیدونکو څخه ده»[1].

نو ابن سینا (۹۸۰-۱۰۳۷م) زمونږ د ګران هېواد افغانستان د بلخ له اوسیدونکو څخه ؤ چې کورنۍ زده کړی یې تعقیبی کړی او تر ټولو علومونه مخکی یې د طبابت سره علاقمندی درلودله. په هر صورت تر کومه ځایه چې معتبرو اسنادو ته مراجعه شویده، نوموړی د بلخی ابن سینا په نوم پیژندل شوی او حتی تر ډیرو کلونو پوری په لویدیز کې دی د عربو له علماوو څخه شمیره. خو تاریخ داسی قضاوت ونه کړ او نه به یې وکړی.

په شپاړس کلنۍ کې د ابو سهل عیسیٰ بن یحیٰ المسیحی چې د جرجان له طبیبانو څخه و د توصیې په اساس د طب د علم په زده کړه یی پیل وکړ، او د دی منظور د پاره یی ابو منصور حسن بن نوح القمری په استادۍ غوره کړ.

ابن سینا د خپل شرح حال په یوه برخه کې لیکلی«په لومړي سرکې مې ناروغان صرف په دې خاطر معالجه کول چې د طب د علم سره مې مینه درلودله او مادی ګټه می له دې بابته په نظر کې نه وه». نوموړی زیاتوی «تر دې وروسته د طبابت د علم سره سخت علاقمند شوم او هغه کتابونه چې می په دې علم کې راټول کړی وو ولوستل، د طبابت علم د سختو علومو څخه نه دی او دا ده چې زه په ډیره کمه موده کې په دغه څانګه هم پیاوړی شوم»[2].

۱- ادوارد براون، طب اسلامی، ص-۷۴
۲- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ص-۲۷۰

لا اتلس کلن شوی نه و چې د ده ښه شهرت یوې هسې درجې ته ورسید چې د نوح بن منصور سامانی پاچا (۹۷۶-۹۹۷م) بستر ته یې احضار کړ. «د ابن سینا د طبابت فعالیت د سامانی نوح بن منصور له تداوۍ څخه پیل شو ځکه کله چې رسمی او درباری طبیبان د ده له تداوۍ څخه پاتی راغلل نو یې ځوان ابن سینا د ده د بستری (بالین) سرته راوغوښت او ده وکړای شو چې نوموړی امیر معالجه کړی، دا وه چې د خاص و عام د پاملرنی وړ وګرځید»[۱].

د ابن سینا آثار ډیرې زیاتې او زیاتره یی هم ډیر محجم او قطور دی. د ده ځینی مهم آثار شل جلده هم کیږی.

هغه بشپړ فهرست چې قفطی په لاس راکوی (چاپ لیبرت ص-۴۱۸) ۲۱ لوی یا مفصل آثار او ۲۴ یې کوچنی او مختصر آثار دی. چې د هغو موضوعات د فلسفی، طب، کلام، هندسی، د نجوم د احکامو، د ژبې پیژندنې او داسی نورو پوری مربوط دی.

هغه فهرست چې بروکلمان په خپل اثر چې Geschichte Der Arabischen Litter په نوم (کتاب اساسی عربی) لومړۍ جلد ۴۵۴-۴۵۸ مخونه دی او د ابن سینا په موجوده آثارو مشتمل دی له هغې بیخی زیات مفصل دی چې قفطی نقل کړی دی.او پر ۶۸ کتابونو د کلام او لومړۍ حکمت د علم په باره کې، د نجومی د احکامو، حکمت او طبیعی په باب ۱۱کتابونه، ۱۶ کتابه په طب کې، ۴ کتابه هم په شعری فنونو کې چې مجموعاً ۹۹ کتابونه کیږی.

«د ابن سینا څخه د دوو سوو څخه زیات آثار کتابونه، رسایل او مقالات په میراث پاتی دی چې د هغه عصر متداوله علوم او معرفت لکه فلسفه، طب، منطق، روان شناسي، سیاست، ښوونه او روزنه او ادبیات او نور دی په برکې نیسي»[۲].

«د تاریخ پوهانو ۲۲۰ کتابونه او رسالی د شیخ په نامه ضبط کړی دی چې ۱۶ یې طب پوری اړه لری. له دغی جملې څخه ۱۰۰ عنوانه چاپی او خطی یی اوس موجود دي»[۳].

۱- اثر فوق، ص-۲۷۰
۲- مجله آریانا، شماره ۳۷۶ سال ۱۳۸۱ ص-۶۱
۳- پښتو آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک ۱۳۲۹ چاپ ص-۷۶۵-۷۹۲

ابو الفرج بن عبری وایي «د قانون د کتاب د تنظیم او انشأ څخه دمخه د طب د علم مینانو او د دی رشتی محصلانو چې د علی بن عباس مجوسی اهوازی کامل الضاعه له کتاب څخه استفاده کوله خو د قانون د کتاب تر خپریدو وروسته کامل الصناعه په بشپړه توګه یوی ګوښی ته شو»[1].

دا اثر چې له یوه ملیون کلمو څخه زیاتیږی او د عربی د ګردو کتابونو او آثارو غوندی په مفصله توګه تقسیم بندی شوی په پنځو کتابونو تقسیم شوی دی.

«د ده د طب د علومو د قانون کتاب له پنځو برخو څخه تشکیل شوی دی، چې دیرش کرته چاپ شوی دی، او تر اتلسمی پیړۍ پوری له خاص اهمیت څخه برخورداره دي»[2].

«په منځنیو پیړیو کې د لویدیزی اروپا په هېوادونو کې په دی نسبت چې کاتولیک مذهب د جراحی، اتوپسی او نور عملیاتونه منع کړی و نو جراحی هغو مره پراختیا نه ده موندلی او وروسته پاتی وه او حتیٰ د سیر علمی په وخت کې د زخمیانو سره کومک د مذهب له مخی منع کړی شوی و. په هغو هېوادونو کې چې د کاتولیک مذهب موجود نه و په تیره بیا په منځنی آسیا په سیمو او خراسان کې د جراحی پرمختیا دوام وموند او په دې برخه کې د ابن سینا، رازی او نورو څخه یادونه کولای شو»[3].

«...یوازی یو شمیر زړه ورو او با استعدادو جراحانو په هغه وخت کې وکولای شول چې په جراحی کې طبی خدمتونه ترسره کړی. چې له دې جملې څخه د شرق جراح او طبیب ابو علی ابن سینا بلخی (۹۸۰-۱۰۳۷م) چې په اروپا کې اوس هم د ابن سینا په نوم یادیږی د طب په علم کې په تیره بیا په جراحی کې د قدر وړ خدمتونه ترسره کړل.

...ابن سینا د جراحی د عملیاتو په وخت کې د نرکوز څخه استفاده کوله او په هغه وخت کې د حس د ابطال د پاره یې ناروغ ته تریاک او یا کوکنار ورکول.

دې پیاوړی جراح او د شرق نابغه خبیثه تومورونه په پراخ صورت د نورمال نسج له ساحی څخه قطع کول او د تومور ځای یې د سره کړی او

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ص-۲۸۳
۲- و. دی. کریکوف، اوګانزیشن و اقتصاد فارمسی، سال ۱۹۷۶ ص-۱۶
۳- اکادمیسن پوهاند محمد موسی وردګ، جراحی حرب، سال ۱۳۶۷ ص-۳-۱۷

سپینی په واسطه سوزاوه چې حتی نن ورځ هم رواج لری. ابن سینا په خپل عصر کې حتی د کلیې (بډوډو) تیږې عملیات په ښه توګه اجرا کول او د نرمو کتیترونو څخه چې د حیوان له پوستکی څخه جوړیدل استفاده کوله»[۱].

ډیر غوره نقش د سل، توبرکلوز (نری رنځ) د ناروغی په انکشاف کې، د شرق نابغه او د بلخ ستر عالم یعنی ابو علی سینا درلود. نوموړی د قانون په کتاب کې د سل په باره کې یادونه کړی چې ډیره ارزښتمنده ده. ده په مفصل ډول د ریوی توبرکلوز سریری لوحه، پلوریتونه او میننجیتونه چې غیر وصفی Non-Specific عامل یې درلود لیکلی دي، ده د سل عامل یووړو کې میکرو اورګانیزم په ګوته کړی چې په سترګو نه لیدل کیږی او دا نظر تر ابن سینا څخه ۶۰۰ کاله وروسته چې مکروسکوب د لیوان هوګ له خوا اختراع شوی و څرګند شو.

ابن سینا وایي سل یوه انسانی ناروغی ده چې په نتیجه کې له وړو ژوندی شیانو څخه منځ ته راځی او د ناروغ انسان څخه سالم انسان ته سرایت کوی، «همدارنګه دغه د اروپا د طبابت شهزاده د قانون په کتاب کې د تبو په فصل (طاعون، کوی، شری او نورو) کې وایي چې دغی ناروغی د یو نامرئی موجود څخه منځ ته راځی»[۲].

ابن سینا په خپلو آثارو کې لیکلی دی چې د دی ناروغی د مساعد کولو عوامل آب و هوا، روحی او فزیکی ترضیضاتو له بدلونونو څخه دی. ده ویل چې د سل ناروغی د وجود په ټولو غړو کې خپریږی او له حاد شکل څخه مزمن شکل ته پراختیا مومی.

د سل د ناروغی د تداوۍ لپاره د اقلیمی تداوۍ، د لمر وړانګو په واسط تداوۍ Khiliotherapy د اقلیمی Climatotherapy او د طبی بوټو له خلاصه وو څخه کار آخیست. او د دې ناروغی د وقایې په خاطر د حفظ الصحی رعایت یې توصیه کاوه.

د ابن سینا ډیر ستر کار د طب د علومو قانون دی چې له ۳۰ کرتو زیات چاپ شویدی او د یوه کتاب په حیث تر اتلسمی پیړۍ پوری د طبیبانو او درمل جوړونکو د پاره اساسی لارښود و. نوموړی د سمی موادو او ضد

۱- پوهندوی دوکتور محمد نادر هادی او پوهنوال دوکتور عبدالحمید رحیمی، جراحی عمومی، سال ۱۳۶۴ ص-۳

۲- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی، اندیشمندان و دانشمندان علوم طب، سال ۱۳۸۵ چاپ هرات

سمی موادو په متعلق پراخ کارونه تر سره کړی دی او د خالصو اوبو استحصالول یې کشف کړی دی.

د ستر ابن سینا په هکله زیاتو پوهانو خپلی نظر یې ابراز کړی دی چې په دې اثر کې په لنډ ډول شرح کیږي:

«ابن سینا یو ساده شخص و چې پلار یې د نوح بن منصور په زمانه کې د بلخ څخه بخارا ته ولاړ او دنده یې د مالیاتو راټول و. ابن سینا په ماشوم توب او ځلمیتوب کې د پرمختګ ټولو امکاناتو څخه محروم و، سره د ټولو مشکلاتو او موانعو چې د هغه په مخ کې پراته وو ډیر ژر د علم او پوهې هغه درجې ته ورسید چې نه یواځی د ناحیې حکمران توجه یې ځان ته جلب کړه بلکې هر چیرته چې به لاړ ځو ورځی به تیری نه وی چې د هغه لوړ مقام پادشاهانو او حکمرانانو ته مکشوف شی او د احترام او اکرام وړ وګرځی. د نوموړی عمر سره د دې چې شپیتو کلو ته ونه رسید، خو هغه کتابونه چې ده لیکلی دی ډیر کلونه یې اروپا خپل نفوذ لاندې وساتله»[1].

دانته پخپل کتاب بهشت کې لیکلی چې ابن سینا عالی هوش او ذکاوت درلود او وایي چې نوموړی د سقراط او جالینوس په منځ کې قرار لری.

سکالیجر ابن سینا د جالینوس سره جوخت بللی او په فلسفه کې د جالینوس څخه لوړ ارزیابی کړی دی.

ویلیام هاروی شپږ سوه کاله د هغه له مرګ څخه وروسته خپل دوست او بری ته لیکي: «که غواړی څه شی زده کړی لاړشه د پوهنې د سرچینو څخه ګټه واخله او د ابن سینا، سیسرو او ارسطو کتابونه ولوله»[2].

ابو فرج بن عبری وایي «د قانون د کتاب تنظیم او انشأ څخه مخکې د طب د علومو ټول عاشقان او د دی رشتی زده کوونکی د علی بن عباس مجوسی اهوازی کامل الصناعه کتاب څخه استفاده کوله، خو د قانون د نشر څخه وروسته کامل الصناعه په کلی توګه څنډی ته شو»[3].

داکتر براون لیکی«نن د ابو علی سینا چې په صحیح توګه ووایم ابو علی حسین بن عبدالله بن سینا چې عموماً هغه د شیخ الرئیس په لقب یعنی

۱- پوهاند عبدالحی مومنی، تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان، ۱۳۸۴ اکادمی علوم، ص-۱۳۹
۲- اثر فوق، ص-۱۳۰
۳- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۹۷۰ ص-۲۸۳

لوی استاد یا د استادانو رئیس یادوی او هم ده ته معلم الثانی یعنی دویم معلم چې وروسته د ارسطو څخه قرار لری صحبت کوم.

د کار مشکل په دې کې دی چې د هغه په وجود کې عربی علم خپل لوړی څوکی ته ورسید او ګویا د هغه په جسم کې کاملاً مجسم شو او تجلی یې وکړه. هغه محدود وخت چې په اختیار کې لرم ممکن نه دی چې د هغه آثار په فلسفه او علم کې وشمیرم او یا د هغه د ژوند جزیاتو په برخه کې چې ده پخپله یادداشت کړی او تر یوویشت کلنی پوری چې زمونږ په لاس کې دی او وروسته د هغه دوست او شاګرد ابو عبید جزجانی لیکلی دی، بیان کړم»[1].

«دا چې ابن سینا څه مقام او فوق العاده د احترام وړ دی د څلورو مقالیو څخه چې په دولسمه میلادی پیړۍ کې تالیف شویدی ... نقل قول کوم ... هر چاته چې د قانون لومړۍ ټوک معلوم وی د طب اصول او د هغه کلیات هیچاته پټ نه پاتی کیږی، ځکه که بقراط او جالینوس ژوندی شی روا ده چې هغه ته د احترام سر ټیټ کړی ...»[2].

و. ای. کریکوف وایي «ابن سینا د یو سل په حدودو کې علمی آثار منځ ته راوړل چې د بشریت د پوهې ټولی برخی په برکی نیسی. خو د هغه عالی کار د طب او درمل جوړولو کې تمرکز پیدا کړی دی. د قانون کتاب د پنځو برخو څخه تشکیل شوی چې دیرش ځلی چاپ یې تجدید شوی او تر اتلسمی پیړۍ پورې یې خاص اهمیت یې درلود»[3].

مرحوم غبار لیکی «نوموړی د فلسفی ټولی اجزاوې چې دایرة المعارف حکم یې درلود په مختلفو کتابونو کې په ډیر روښانه اسلوب او واضح یې تحقیق لاندې قرار ورکړ.

منطق، طبیعیات، ریاضیات او الهیات چې د یونان څخه مأخذ او اسلامی اصولوته نژدی شوی وو، ټول یې پخپلو کتابونو کې په واضحه توګه تر بحث لاندې ونیول او د مختلفو مسایلو لکه منطق، خلقیات، د آیاتو فلسفی

۱- ادوارد براون، طب اسلامی، ۱۳۳۷تهران، ص-۷۴
۲- اثر فوق، ص-۷۹-۸۰
۳- پوهاند عبدالحی مومنی، تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان، ۱۳۸۴ اکادمی علوم، ص-۱۳۰

تفسیر او هم عرفانی موضوعات یې ولیکل او همدارنګه د پخوانی یونانی پر کتابونو یې شرحی ولیکلی»[۱].

پروفیسور پی. بی وچا هندی یوه لیکی: «... زه دلته هغه توانایی نه لرم چې د هغه سهمګیری د طب او ماوراءالطبیعه په برخه کې ارزیابی کړم هغه څه چې په دې لنډه مقاله کې چې د هغه استعداد او د تعجب وړ ذکاوت بیان او یادآوری کړم.

لومړۍ د یادولو وړ ده چې ابن سینا د پنځو- شپږو نابغو په منځ کې قرار لری چې نړۍ تر اوسه لیدلی دی ... ابن سینا یا اویسینا د ټولو نه ښه په اروپا کې پیژندل شوی دی. په یوه لنډه د ربړونو څخه ډکه دوره کې د منطق، ماوراء الطبیعی، طب، الهیات، ریاضیات او د نجوم په علومو کې تبحر حاصل کړ او هغو ته یې انکشاف ورکړ ...

دویم ټکی د یادولو د هغه د هوش او حیرانوونکی استعداد څخه دی چې د باور وړ نه دی.

وروستی غټ ټکی د ابن سینا د نظر وسعت او د اندیشی آزادی ده. د هغه اندیشه واقعاً عالمانه، استعداد یی منظم، تحقیقات یې حقیقی، موثر، معقول او د جرأت څخه برخمن دی ...

هیڅ تکبر او ځان ستاینه یې نه لرلو، بلکې متواضع، با حیا او مؤدب و»[۲].

عبدالله محب حیرت لیکی «ابن سینا په لومړۍ ځل نړۍ کې معدنی مواد یې طبقه بندی کړ»[۳].

د شوروی اتحاد د علومو اکادمی غړی یاولفسکی په خپله یوه مقاله کې ابن سینا یې لومړنی میکروب پیژندونکی معرفی کړی دی. نوموړی داسی خپل نظر اظهار وی «د میکروب د پیژندلو څخه څو پیړۍ مخکې بو علی اعلام کړی و چې ناروغی د کوچینیو نه لیدونکو حیواناتو چې په اوبو کې موجود دی اشخاصوته سرایت کوي»[٤].

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، سال ۱۳۴۶ ص-۱۶۴
۲- ژوندون شنبه ۱۵ سنبله ۱۳۵۹ دسامبر ۱۹۸۰ شماره ۲۳-۲۴ سال ۳۲ ص-۹
۳- اثر فوق، ص-۵۲
٤- اثر فوق، ص-۵۲

د ابن سینا د شاګردانو له جملې څخه ابو عبید د نوموړی په ژوند لیک کې لیکلی دی چې «شیخ په ځوانی کې تر ټولو ډیر ښایسته و. کله چې به د جمعی په ورځی جومات ته روان و، د ښار خلک به کوڅو کې سره راټولیدل او یو د بل څخه مخکې کیدل ترڅو د هغه د ښایستوب ننداره وکړي»[۱].

د ابن سینا د زرمی کالیزی په ویاړ د ازبکستان مطبوعات په کال ۱۹۷۹ ځنی مطالب یې د قانون د کتاب تر عنوان لاندې داسی لیکلی دی «ابن سینا په خپل طبی دایرة المعارف کې د منځنیو پیړیو طبابت په کمال سره طرح او د زرونو کلونو لرغونو پیړیو علم ته یی تعمیم ورکړ او هغه د نور سطحې ته ورساوه او د طبابت وروستی لاس ته راوړنی باندې حدس وهلی دي»[۲].

د نورو پوهانو سره په مقایسه کې د ابن سینا د یوی ارجوزی په پوښ کې داسی لیکل شوی دي: «طبابت معدوم و او بقراط هغه د عدم څخه منځ ته راوړ، وروسته مړو جالینوس هغه ژوندی کړ، وروسته بیا ړوند شو او حنین بن اسحق هغه بینا کړ، وروسته په ښارونو کې تیت او پراګنده شو او محمد بن ذکریای رازی هغه را ټول کړ».

علامه قطب الدین شیرازی وایي «باید وویل شی چې طبابت ناقص وو او ابن سینا هغه تکمیل کړ».

ابن صلاح:

نجم الدین ابو الفتوح احمد بن احمد په حکمیه او طبی علومو کې هوښیار و. نوموړی دوه اثره لری چې یو یې فی الشکل الرابع من اشکال القیاس مقاله او بل یې فی الفوذ الاصغر دی. نوموړی په ۵۴۰هـ کې مړ شوی دی.

ابن طبیب (۵۱۵-۶۲۷هـ):

مهذب الدین عبدالرحمن بن علی په دمشق کې د اطباو رئیس و. په طبابت کې ښه وارد و. دوه تالیفونه لری چې یو یې اختصار الحاوی او بله مقاله یې فی الاستفراغ ده.

۱- اثر فوق، ص-۵۲
۲- اثر فوق، ص-۵۲

ابن عین زرمي:

موفق الدین ابو نصر عدنان بن نصر د عین زربی له خلکو چې د شام نواحیو پوری اړه لری، څخه دی. د الکافی فی الطب کتاب چې په پاریس او اکسفورد کې موجود دی په ۵۱۰هـ کې په قاهره کې د هغه د تالیف څخه فارغ شو. یوه مقاله د سیاست په برخه کی، یو کتاب د منطق په مورد کې او څو طبی کتابونه په طب کې لرل. نوموړی په کال ۵۴۲ هـ ق کې وفات شوی دی.

ابن اللباد (۵۵۵-۶۲۹هـ):

موفق الدین عبدالطیف د یوسف زوی دی. په طب کې برلاسی و چې په بغداد کې زیږیدلی او هملته مړ شوی دی. د هغه تالیفات د ۷۵ په حدودو کې دی چې اکثریت رسالی او کتابونه یې د طب په هکله وو.

ابن اللبودی:

شمس الدین ابو عبدالله محمد د عبدان زوی چې د اسلام له مشهورو اطباو څخه دی. په طبابت کې ډیر ماهر او پوه و. په ۶۲۱هـ د ۵۱ کلونو په عمر وفات شو. د هغه تالیفات الرایی المعتبر فی معرفت القضاو القدر، د المخلص لابن الخطیب کتاب شرح چې د مفاصلو د خلعی یوه رساله وه، او د المسایل الحنین بن اسحاق کتاب شرح او نور دی.

ابن اللبودی:

د پورتنی ابن اللبودی زوی دی. په طب او نورو علومو کې نسبت پلار ته ممتاز و. په حلب کې زیږیدلي او په ورو کتوب کې له خپل پلار سره دمشق ته تللی او د علومو او فنونو طلب یې وکړ. تالیفات یی ۲۱ ته رسیږی چې اکثریت یې طب پوری اړه لری.

ابن المارستانیه:

ابوبکر عبدالله د علی زوی پوه طبیب و. د بغداد د عضدی په روغتون کې مدیر او سر طبیب و. د بغداد تاریخ چې ناقص پاتی شوی د دیوان الاسلام الاعظم په نوم یاد شوی او د عضدی روغتون تاریخ یې هم لیکلی دی.

ابن ماسویه:

ابو ذکریا یوحنا (یحیٰ) نصرانی طبیب و. پلار یې د جندی شاپور په ښار کې عطاری کوله. په طب کې د نوموړی استاد جبرئیل بن بختیشوع دی چې وروسته د مامون خاص طبیب شو او تر ۲۴۳هـ چې د مړینی کال یې دی په دې مقام کې د مامون د طبیب په توګه و. د هغه له شاګردانو څخه یو هم حنین بن اسحاق دی چې د النوا دارالطبیه کتاب یې د هغه په نوم لیکلی دی.

ابن ماسویه څو نورې رسالې هم لری چې ابن اصیبعه په خپل کتاب کې د هغو څخه یادونه کړې ده. تالیفات یی د ۲۳ عنوانو څخه زیات دی چې یوازی د البرهان کتاب یې ۳۰ ټوکه دی.

د ماسویه زوی میخائیل په طب کې د یونانی لاره تعقیب کړ. مامون د هغه قدردانی کاوه او هغه درمل چې د میخائیل له خوا تهیه شوی نه و، نه یې خوړ.

ابن المجوس:

علی بن عباس مجوسی اصلاً ایرانی دی او مشهور طبیب و. یو کتاب یې کامل الصناعه یا کناش ملکی دی چې د فناخسرو او عضد الدوله دیلمی ته یې ولیکه چې د هغه د شهرت باعث وګرځید.

ابن مسکویه:

ابو علی احمد د محمد زوی او د یعقوب لمسی دی. نوموړی لومړۍ فلسفه، طب او کیمیا ته متوجه شو او وروسته د تاریخ په باره کې یو کتاب ولیکل چې تجارت الامم نومیږی. ابن قفطی د هغه تالیفات یې په طب کې لیکلی دی.

ابن المیسحی:

ابو نصر سعید د ابی الخیر زوی مشهور طبیب و. د عباسی خلیفه ناصر الدین اله په نزد د احترام وړ و. د طب په فن کې دوه کتابونه یعنی الاقتضاب علی طریق المسفله والجواب او انتخاب الاقتضایی لیکلی دی پلار یې ابو الخیر بن عیسیٰ ابن المیسحی د لایقو طبیبانو له جملی څخه و. د ناصر الدین اله په زمانه کې چې سل کلن و په ۶۰۸هـ کې مړ شوی دی.

ابن ربن طبری:

ابو الحسن علی بن ربن طبری د هجری دویمی پیړۍ د وروستیو او دریمی پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې ډېر عالیقدر او مشهور طبیب و.

د هغه د مهمو آثارو څخه فردوس الحکمه دی. هغه روش چې په دې کتاب په کار وړل شوی ډېر منطقی دی او وروسته ستر پوهان لکه ابن سینا هم د دغه روش څخه ګټه اخستی او په کار یې وړی دی. ابن ربن طبری د طب او درمل جوړولو په برخه کې نور کتابونه هم لیکلی دی چې د هغو له جملې څخه د حفظ الصحی کتاب، الدین و الدوله کتاب ته اشاره کیږی. نوموړی د اسلامی نامتو طبیبانو په ډله کې حسابیږی.

ابن مطران:

موفق الدین ابو نصر اسعد بن ابی الفتاح الیاس او د جرجیس لمسی دی. پلار یې نصرانی طبیب و. په دمشق کې زیږیدلی او د مهذب الدین نقاش څخه طب زده کړی دی او د سلطان صلاح الدین ایوبی په خدمت کې قرار درلود. ډېر تالیفات لری چې د هغو له جملې څخه کتاب ادویه مفرده، المقاله النجمیه کتاب دی. د عامی روغتیا (روغتیا، سلامتی) په هکله او بستان الاطبا کتاب د ده له تالیفاتو څخه دی.

ابن مندویه:

ابو علی احمد د عبدالرحمن اصفهانی زوی دی. د طب په ساحه کې ډېر کار یی کړی دی. آثار او زیاد کتابونه یې د طب په برخه کې لیکلی دی. چې عبارت دی له کناش، المدخل فی الطب، الجامع المختصر من علم الطب المنبعث، کتاب فی الشراب، کتاب الاطعمه و الاشربه، نهایت الاختصار الاسفی چې القانون الصغیر په نامه هم یادیږی. برسیره پر دې څلویښت نوری رسالی هم لری چې د طبابت مختلف استقامتونه په هغو کې انعکاس موندلی دی.

ابن هندو:

ابو الفرج علی بن حسین د اسلام د مشهورو اطباو څخه و. د عضد الدوله منشی و. په ۴۲۰هـ کې په جرجان کې وفات شوی دی. د ده تالیفات دری دی. په فلسفه، طبیعی علومو، شعر، انشأ او کتابت کې لوی لاس درلود

ابن هیثم:

ابن هیثم د منځنیو پیړیو لاتینی آثارو کې د اونتان Aventan، اوناتهان Avennathan او زیات په الهازن Alhazen معروف دی او په بصره کې دنیا ته راغلی دی او په فزیک، ریاضی، نجوم او طب خصوصاً د سترګو په طب کې ډېر شهرت درلود.

نوموړی په خپله مقاله (علوم الاوایل) کې خپل آثار ۷۳ رسالې ښودلي دي. چې د هغو له جملې څخه ۴۴ په طبیعیات، طبابت او الهیات، ۲۵ په ریاضیاتو کې او یو اثر د ابتدایه علومو په برخه کې دی.

د هغه علم المناظر کتاب د منځنیو پیړیو د نور پیژندنی په برخه کې ډېر ښه اثر دی.

ابن طفیل (۴۹۴-۵۸۱هـ.ق):

ابوبکر محمد ابن طفیل اسپانیایی مسلمان طبیب، فیلسوف او ادیب و چې په مراکش کې مړ شوی دی. هغه د مراکش سلطان ابو یعقوب یوسف ابن عبدالمومن طبیب و. نوموړی د الهی او طبیعی علومو تصنیفونه لری او د ځان پیژندنی په برخه کې رساله یې لیکی ده.

ابوبکرمحمد بن ذکریای رازی:

د هغې زمانې د طبیبانو سره یوازی یو شخص د ابن سینا سره مقایسه کیدلای شی چې هغه هم محمد بن ذکریای رازی دی. دا عالم په مختلفو کتابونو کې د ابن ذکریا، ابوبکر رازی په نومونو نومول شویدی. اعرابو ورته الرازی او منځنیو پیړیو لاتینو مولفانو ورته Razes «رازیز» ویلی دی.

رازی چې په جالینوس العرب باندې هم ملقب و، په کال ۸۶۴ م کې په ری کې وزیږید او ځنی مولفان یې د زیږیدنی نیټه د۸۶۵ م د اګست ۲۷ بولی. او وفات یې په ۹۲۵ م کې دی. نوموړی د ۱۱۵ کلونو په شاوخوا کې تر ابن سینا څخه د

مخه دنیا ته راغلی دی. رازی فیلسوف، طبیب، په کیمیا او طبیعی کې یو متبحر عالم او په فلسفه کې د بلخی مشهور فیلسوف ابو زید احمدبن سهل شاګرد و.

د رازی علاقه طب په نسبت هغه وخت جلب شوه چې د ۳۰ کلنۍ د رشد عمر ته رسیدلی و. په دې وخت کې یې بغداد ته یو سفر وکړ او هلته ورته حَنی واقعی ور پیښې شوې چې د ده د ژوندانه مسیرته یی بیخی بدلون ورکړ، پدې ترتیب چې یوه ورځ یوازی د کنجکاوی له مخې د مقتدریه روغتون کتلوته ولاړ او هلته دیو بوډا درمل جوړونکی سره د خبروکولو وروسته د دی علم سره یې سخته مینه پیدا شوه اوهغه یې ډیر په زړه پوری علم وموند. بله ورځ بیا هلته ولاړ او اتفاقاً له یو طبیب سره مخامخ شو چې د دوه سری انسان جنین یې چې هماغه شیبه کې دنیا ته راغلی و، ده ته وښود. د دی جنین لیدنی په هغو مطلبونو ور زیات شو چې تیره ورځ یې د شراب خانی (درملتون) له سپین ږیری څخه اوریدلی و، نویې پریکونی تصمیم ونیو چې د طبابت په مطالعه لاس پوری کړی او داعلم ترهغی چې ورته ممکنه وی زده کړی.

کیدای شی چې رازی تریو وخته پوری په بغدادکی پاتی شوی وی ترڅو خپل تصمیم ته ادامه ورکړی شی. دا ده چې دطبابت څانګه کې یې ډیر لوی مقام ترلاسه کړ. مګر د قفطی عقیده دا ده چې دی د طبابت زده کړه په جدی ډول په ری کې بن سهل څخه کړی.

کله چې رازی د بغداد څخه راستون شو نو په ری ښار کې د روغتون متولی (رئیس) وټاکل شو.

بیا د دوهم ځل لپاره بغداد ته لاړ اوهلته د مقتدریه د روغتون مشر (رئیس) شو. بالاخره رازی د بغداد د ستر روغتون (یعنی مقتدریه روغتون) مسؤل شو. د ده په شرح حال کې راغلی دی چې زیاترې شپې به یې د جالینوس او سقراط د آثارو په مطالعه کولو سهار کېدې.

رازی د عملی کیمیا له پلوه یو بریالی عالم نه و، ده ټول عمر یوازی د هغې لارې په لټون تیر کړ چې څنګه مس (فلزات) په سر وزرو بدل کړای شی، مګر هیڅ نتیجه یې ترلاسه نه شوه. خو د دی ترڅنګه رازی دنظری کیمیا په څانګه کې ډیر زیات ارزښتمن اکتشافات او کارونه سرته رسولی دی. چې بیا وروسته هغه خارق العاده څرګند شواو د دې سبب شو چې داوتلی عالم نړیوال او همیشنی شهرت ترلاسه کړی.

د رازی آثار فلسفه، طب، کیمیا څخه عبارت وو او د ارسطو افلاطون پر آثارو يې د شرحی يو کتاب هم ليکلی و او کتاب يې د فيثاغورث د فلسفی په هکله و. د ده د تاليفاتو شمير له ۱۳۰ ټوکو څخه زيات و چې ډير مشهور اثر يی د الحاوی منصوری په طب کې او الفصول کتاب دی .

کله چې درازی آثاروته پام وشی دهغو دفهرست سره مخامخ کيږو، چې دا ډير پخوانی سند دی او په هغه کې ۱۱۳ مفصل اثار - ۲۸ لنډ آثار ليدل کيږی. پردی علاوه دوی منظومی هم ورته انتسا بوی او دا اثار يې ورک شوی دی.

«د رازی آثار ۲۰۰ تر ۲۷۱ کتابو او رسالو څخه تشکيل شوی چې په هغو کې مختلفی رشتی لکه طبابت، رياضی، شيمی، طبيعيات، ماوراء الطبيعه، الهيات، منطق او فلسفه شاملی دي»[۱] .

په همدې ډول رازی د شری او کوی په باب ارزښتناک کارونه ترسره کړی او په دې برخه کې يې يوه رساله ليکلی ده چې په کراتو مراتو په اروپايي ژبو ژباړی شوی او چاپ شوی ده.

د رازی بل يو مفصل اثر د صفرا د تيږی په باب دی. همدارنګه د قولنج، روماتيزم او نقرس په برخه کې ليکنی لری.

رازی پرته د خپلومفصلو رسالو د طبی کلی مباحثو په باره کې هم آثار ليکلی دی چې شمير يې ۱۰-۱۲ څخه زيات دی. لکه جامع، کافی، مدخل ملوکی او فاخر څخه يادونه کيدايی شی.

همدارنګه ابی اصيبعه په (عيون الابنافی طبقات الاطبا) کې ليکی چې رازی «لوړ فطرت در لود ، تيزهوش وو عبارتونه يی له ښيکنو ډک و، مهارت يې زيات او نظريې د طب په صنعت او دهغه په مباحثو کې پياوړی و.

د ابوريحان البيرونی په کتاب کې چې د سيدحسن برنی له خوا ليکل شوی د ابوبکر ذکريا رازی په هکله ليکی «چې د اسلامی طبيبانو په جمله کې يو وتلی شخص و او د درمل جوړولو او طبابت په فن کې يې د دوو سوو لويو او وړو کتابونو په شاو خواکی ليکلی دی، چې د هغه څو آثاره تر مونږه هم را رسيدلی دي».

۱- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی، طب در گسترده تاريخ، ۱۳۸۵ – ص-۱۴۰

د دوو پوهانو (رازی، ابن سینا) په هکله باید وویل شی که چیرته رازی د کار اصالت په عملی طب کې دی، همدا خصوصیت د نظری طب په باره کې د ابن سینا د پاره رښتونی دی. دا دواړه متبحر عالمان د جادوګرانو مخالف وو .

ابوعلی ابن مسکویه:

نوموړی په فلسفه، طب، کیمیا او اخلاقو کې د آثارو درلووونکی دی. دې هم فیلسوف اوهم مورخ وو په ۹۶۲ کې وفات شوی دی.

مسکویه په علمی مباحثاتو کې د البیرونی پیروو لکه چې ابن خلدون په تاریخ لیکنی کې له البیرونی څخه پیروی کوله.

ابوریحان البیروني:

ابوریحان محمد بن احمد بیرونی خوارزمی د هجری څلورمی پیړۍ د وروستیو او پنځمی پیړۍ د لومړینو د ریاضی سترعالم و چې په ۳۶۲هـ کې په خوارزم کې وزیږید او په ۴۴۰هـ کې په غزنی کې وفات شو.

نوموړی د علومو په بیلابیلو برخو کې د مختلفو کتابونو درلودونکی دی چې شمیریې ۱۱۳ جلدو ته رسیږی چې مختلف مسایل لکه هیئت، طب، کیمیا، حکمت، حساب، فزیکی بحثونه او داسی نورو په باره کې لیکنی کړی دی.

د طبابت له پلوه د البیرونی مشهور کتاب د صیدله «صیدنه» په نوم دی چې د هغه یوه نسخه د علیګړ په مدرسه کې شته دی. دا کتاب د طبابت د لغاتو په باره کې دی چې عثمان الکاشانی تر ۶۰۷ هـ (۱۲۱۱م) وروسته هغه په هندوستان کې ژباړلی دی.

ابوریحان وایي «د صیدنه د کتاب په تالیف کې می د خپلو مشکلاتو د حل کولو په خاطر شیخ ابو حامد بن احمد استهشقی ته مراجعه کوله ځکه چې دی د خپلی زمانی د خپل جنس له ابنا وو څخه د طب د لغت په پوهیدلو کې مستثنی وو».

ابو الحسن احمد طبری:

ابوالحسن احمد طبری د څلورمی هـ.ق پیړۍ له طبیبانو څخه دی. د هغه مشهور کتاب (المعالجة البقراطیه) موجود دی. دغه کتاب په لسو برخو چې د مختلفو ناروغیو درملنه پکې شامله ده لیکل شوی دی.

ابو منصور بخاری:

د څلورمی هـ.ق د لومړیو او ډیر و مشهورو اطبا و څخه دی. دهغه یو کتاب د (غنی و منی) په نوم دی چې دری مقالو کې تنطیم شویدی.

ابو لحجاج:

یوسف بن اسرائیل د اسلامی اطباو له جملی څخه و. دوه ډیر ښه آثار لری چې یو یې د فی ترتیب ادویه اللطیفة رساله او بله یې شرح الفصول البقراط دی.

ابو حرب غزنوی:

د غزنویانو د پنځمی پیړۍ مشهور طبیب دی. ځینی د ده نوم ابو حارث هم لیکلی دی. ابوحرب د غزنویانو په زمانه کې یو تن له طبیبانو څخه و او هغه وخت چې سلطان مسعود ابن سلطان محمود د مزمنی تبی په ناروغتیا باندې اخته و بیا د دغه پوه او حاذق طبیب له خوا معالجه شو. د ده شهرت خورا ډیر لوړ شو.

د ده په باره کې د مطرح الانظار مولف دا راز لیکی: چې ده د سلطان مسعود غزنوی په نامه حفظ الصحی په باره کې یو کتاب تالیف کړی دی.

ابو البرکات بن القفاعی:

یو مشهور طبیب و چې خلیفه الموفق بامرالله ده ته د ابوالبرکات لقب ورکړی دی. ده د سترګو د ناروغیو په علاج کې تخصص درلود او په دې

شق کې د خپلې زمانی د فضلاونه حسابیدلو. ده په مصر کې د ملک عزیز بن ناصر په دربار کې خدمت کړی او په ۵۹۸هـ کال په قاهره کې مړ شو.

ابوبکر بن البدر:

د اومی هجری پیړۍ د مشهورو طبیبانو څخه دی. خاص بیا د بیطاری په فن کې یې پوره مهارت درلود. په مصر کې د ملک ناصر په خدمت کې داخل شو او یو کتاب یې د کامل الصناعتین په نامه یې د بیطاری په فن کې دی د دوو فصلونو اولسو مقالونه مرکب دی، ولیکل.

ابوالحسن بصری:

محمد بن علی یو تن د اسلامی له مشهورو اطباو او متکلمینو څخه و. په بصره کې زیږ یدلی او په بغداد کې یې استوګنه غوره کړې وه او بیایې په تدریس پیل وکړ اوپه ۴۳۶هـ کال هملته مړ شو. د ده مهم تالیفات څلور دی خو نور تالیفات هم لری.

ابوالحسن بن هبل:

علی ابن احمد بن هبل یو تن د بغداد د مشهورو طبیبانو او حکیمانو څخه دی. زیږید نه او نشئت یې په بغداد کې شویدی. د ده اثر په طب کې یو کتاب دی چې څلور ټوکه لری او د المختار په نامه یادیږی. په ۶۱۰هـ کال د ۹۵ کلو په عمر وفات شوی دی.

ابوالحکم المغربی:

عبید اله او وایی عبداله بن المظفر بن عبداله بن محمد باهلی مغربی اندلسی عالم او ادیب و. دی پوهاند په طب او هندسه کې هم مهارت درلود .

ده دلته د سلطان محمود په معسکرو لشکرګاه کې یو سیار درملتون پرانیست چې د دغه درملتون سامان به د څلوېښتو او ښانو په ذریعه لیږد یدلو او دی یې طبیب و. وروسته له څو مودی دمشق ته راغی او دلته یې د خپل ژوند په اخیر کې د عطاری دوکان پرانیست چې تر مرګه پوری یې په دمشق کې طبابت کاوه .

ابوالحکم په ۵۴۹هـ کال په دمشق کې مړ شو. دی د اندلس په مرسیه کې په ۴۸۶هـ کال زو کړی. ځینی وایي نوموړی په اصل کې مریې و او په یمن کې زو کړی. د معرفت البیت په نامه یوه ارجوزه لری .

ابوالخیر هبت الله نصرانی:

نوموړی د صاعد بن هبة الله طبیب ورور دی. او هغه دواړه وروڼه په ابن مسیحی مشهور دی. د ده له آثارو څخه الافتضاب دی چې په هغه کې یې دقانون کلیات خلاصه کړی دی. وروسته هغه لامختصر کړی دی او په هغه یې د الافتضاب نوم کیښود. د شپږمی پیړۍ په آخرو وختو کې یې ژوند کاوه.

ابوسلیمان:

داود بن ابن المنی د هجری شپږمی پیړۍ یوتن له مشهورو طبیبانو څخه دی. په اصل کې نصرانی مذهب اوځای یې په قدس کې و.

د ده زامن چې ابوسعید، ابوشاکر، ابونصر او ابوالفضل نومیدل هم له مشهورو طبیبانو څخه وو. دوی دا یوبیه پاچایانو په مخ کې ډیر قدر او عزت درلودل.

ابوالصلت:

ابولصلت امیه بن عبدالعزیز یو تن د اسلام له حکماو او مشهورو اطباو څخه دی. د اندلس د دانیه په کلی کې زیږ یدلی دی او په اشبیلیه کې یې خپل تحصیلات کمال ته رسولی دی. نوموړی په ۵۲۹هـ کې وفات شوی دی. د ده یو لس آثار ثبت دی چې په طب او نورو علوموکی لیکل شویدی.

ابوطاهر بن البرحشی:

موفق الدین احمد بن محمد یوتن د اسلام له مشهورو طبیبانو څخه و او د ابن البرحشی په لقب یې شهرت موندلی دی. نوموړی په اصل کې د واسط دی. او د طب په علمی جنبوکی او همدا راز په حکمیه فنونو کې یې

خورا تام او بشپړ مهارت درلود. د خلیفه مستر شد باالله په زمانه کې یې ژوند کاوه او بیا په ۵۶۰هـ کال کې وفات شویدی.

ابوالعباس سرخشی:

احمد بن مروان د هرات له نامتو طبیبانو څخه و او د ادب النفس کتاب یې چې د ده له مولفانو څخه دی دالمعتصد عباسی خلیفه په نامه تالیف کړی دی. په ۲۸۶هـ کال مړ شوی دی.

ابوعثمان دمشقی:

سعید بن یعقوب د بغداد له معروفو طبیبانو څخه و. د علی بن عیسیٰ وزیر په خدمت بوخت و. دبغداد په روغتون کې چې دنوموړی وزیر له خوا تاسیس شوی و د مدیر په حیث مقرر شو. همدا شان د بغداد، مکی مکرمی او مدینی منوری ټول روغتونونه د ده تر نظارت لاندې و. په عربی ژبه یې ځنی کتابونه او ځه نور آثار ترجمه کړی. د جالینوس له آثارو څخه هغه مادی چې اخلاقو پوری اړه درلودلې راغونډی او کتاب یی تری ترتیب کړ. همدغسی د نفس په باره کې یوبل اثر لری.

ابوعلی بن زرعه:

عیسی بن اسحاق یو تن له مشهورو اطبا و څخه و. زیات شمیر د طب کتابونه یې په عربی ترجمه کړی دی. په ۴۴۸هـ کال کې وفات شوی دی. د ده تالیفات شپږ ښودل شوی او پرته له دغو تالیفاتو څخه ځنی نورې رسالې او ادبیه مقالې هم لری. نوموړی نصرانی دین درلود.

ابوالفدا:

اسماعیل بن علی بن محمود بن عمر شاهنشاه بن ایوب عمادالدین ایوبی د حمات امیر و. په ۶۷۲هـ کال په دمشق کې زیږ یدلی دی او د مصر له ایوبی کهول څخه دی. په فلسفه، طب او د هئیت په علومو کې یې هم خورا ښه معلومات در لود. په طب کې د الکناش او د الموازنی د کتابونو نسبت ده ته شوی دی.

ابوالفرج ابن طیب:

عبداله عراقی یو تن له مشهورو حکما و څخه دی. په منطق او حکمت او نورو طبیعیه علومو او طب کې یې ښه مهارت در لود. د افغانستان له فیلسوف ابن سینا سره معاصر و. د ده د طب د کتابونو په ابن سینا حکیم خورا ډیر تقدیر کاوه په ۴۳۵هـ کال کې وفات شوی دی.

نوموړی د عضدی روغتون له اطبا و څخه و. هلته بر سیره پر طبابت د طب د فن تدریس یې هم کاوه. اوله خپلی تدریس څخه یی مشهور اطبا لکه ابن بطلان غوندی اشخاص را وایستل.

نوموړی د ارسطو، بقراط او جالینوس پر کتابونو باندې مفصلی شرحی لیکلی دی مهم آثار یې ۳۶ ښودل شوی دی.

ابوالفرج بن القف:

امین الدوله بن موفق الدین یعقوب یو تن د عربو له مشهورو طبیبانو څخه و. نصرانی دین یې در لود. په ۶۳۰هـ کال په کرک کې زیږ یدلی دی. ده له ابن ابی اصیبعه او نورو مشهورو طبیبانو څخه د طب او نورو علومو تحصیل کړی دی. په دمشق او ځینو نورو ښار ونو کې په طبابت بوخت و. د ده تالیفات ۹ ښودل شوی او په ۶۸۵هـ کې وفات شویدی.

ابو قریش عیسی:

د عباسی مهدی خلیفه له طبیبانو څخه و. چې د طب او درملو جوړ ولو په فن کې یې خورا ښه مهارت در لود. په لومړیو وختو کې یې په بغداد کې یو درملتون پرانیست او په دغه وسیله یې خپل ژوند تامیناوه. نوموړی د مهدی له خوا د دربار د طبیبانو په ډله کې شامل کړ شو او د دویم طبیب په حیث یې مقرر کړ. او دجرجیس له مرګ څخه وروسته د طبیبانو رئیس مقرر شو. او د ځینو ناروغیو په تداوۍ کې ځینی لوی موفقیتونه له ده څخه نقل شوی دی، او د ده د عجیبو او غریبو معالجو په باره کې خورا ډیر حکایتونه نقل کوی.

ابو المجد ابن ابی الحکم:

افضل الدوله محمد بن عبداله با هلی د مغرب له مشهورو علما و څخه دی او د مغربی ابن الحکم چې له معروفو او مشهورو علما و څخه و زوی دی. په طب، فلسفه، ریاضی او نورو علومو او موسیقی په فن کې په خپله زمانه کې وتلی او یو غوره سړی و. نوموړی د عادل نورالدین محمود بن زنګی رئیس الاطبا په توګه مقرر شویدی. د لوی روغتون ریاست چې نوموړی پاچا له خوا تاسیس شوی و همدغه سړی ته وسپارل شو. د ۶۵۰ کال په دمشق کې مړ شو.

ابومنصور موفق هیروی:

موفق بن علی هروی د تاریخی له نظره د درمل پیژند لو لومړۍ کتاب یې لیکلی دی چې هغه یی په ۹۷۵م کې سر ته رسولی دی. دغه کتاب الابنیه عن حقایق الادویه په نامه یاد یږی چې د هیجا یی حروفو په ترتیب یې په فارسی ژبه لیکلی دی.

ابو منصور هغه سلطان منصور بن نوح سامانی پادشاه ته هدیه کړی دی. په دې کتاب کې ۵۸۵ ډوله درملونه توضیح شوی دی چې دا د هندی، ایرانی، سریانی او یونانی درملو یوه مجموعه ده. یوه خطی نسخه یی په، ویانا کې ساتل کیږی او شاعر اسدی په کال ۱۰۵۵م کې هغه بیالیکلی دی.

ابو منصور هند ته هم تللی دی او هندی طب یې په هغه ځای کې زده او تحصیل کړی دی او د هغه یوه عکسی نسخه د ایران د معارف په وزارت کې موجوده ده.

ابویحیی مروزی:

د بغداد مشهور طبیب دی. ده د ارسطو د لومړۍ او دویم انالو طیقا کتابونه تفسیر کړی دی.

ابی فتح هروی:

د عوفی په قول د ده نوم او کنیت ضیأ الدین عبدالرافع ابن ابی فتح هروی دی. ده په علم لغت او طب کې ښه مهارت در لود. د ژوندانه زمانه

يې د خسرو ملک سلطان غزنوی په دربار کې تيره کړی ده او ښه موفقيت يې در لود.

احمد بن علی:

ابن ابراهيم ابن الزبير الفسانی الا سوانی المصری چې په رشيد ملقب او کنيه نوم يې ابو الحسين و. د طب په چارو پوه او د نجوم مقنن و.

اسحاق بن سليمان اسرائيلی:

د ډيرو ښو طبيبانو څخه يو شخص او سر بيره په ډيره پوهه چې طب کې يې در لود يو منطقی او بليغ عالم او د ښو تصنيفونو او لوړ همت خاوند و.

د امام ابو محمد عبيداله مهدی د افريقا د پاچا خدمت يې د طبابت په فن کې په غاړه واخيست. له سلو کالو يی زيات ژوند وکړ او متأهل نشو.

اسحاق ابن سليمان اسرائيلی:

ابو يعقوب اسحاق په ۳۲۰هـ ق کې مړ شوی دی. يهودی فيلسوف او طبيب و چې په مصر کې زيږ يدلی دی. دوه سوه کاله يې عمر کړی او لومړنی سړی و چې يهوديان يې د يونان علم او فلسفی ته جلب کړ. د هغه آثار په مختلفو ژبو ترجمه شوی دی.

امام فخرالدين رازی:

امام فخرالدين رازی په (د روژی د مياشتی په ۲۵ د هـ.ق ۵۴۴) کال کې سترګې نړۍ ته بيرته کړی او په ۶۰۶هـ.ق کې يې له جهانه سترګی پټی کړی دی.

نوموړی د مطالعاتو په ترڅ کې د طب علم هم زده کړی دی او په دې څانګه کې يې پوره شهرت در لود.

د ده يو کتاب چې «د طب مسايل» تر عنوان لاندې دی او دوهم کتاب يې چې ندی تمام شوی «الجامع الکبيرفی الطب» عنوان لری. دريم

کتاب يې چې هغه هم ندی تمام شوی «التشریح من الراس الی الحلق» نومیږی. او بل کتاب يې د نبض په باره کې دی.

نومړی د کیمیا په ځانګه کې هم شغل در لوده مګر په دې برخه کې ګټوری نتیجی ته نه دی رسیدلی.

قفطی ویلی دی «پر ده اعتراض شویدی چې ده د کیمیا د کار شوق کړی او په دې کې يې زیاتی پیسی هم لګولی دی خو څه ګټه يې تر لاسه نه کړه»[1].

ابو عبداله محمد فخر الدین رازی په کال ۱۱۴۹م د ری په ښار کې دنیا ته راغلی دی او په ۱۲۰۹ م په شپیته کلنی وفات شویدی.

اسحاق بن عمران (طبیب):

اسحاق بن عمران یو مشهور طبیب او په بغداد کې زیږیدلی دی. دی ډیر پوه طبیب و او په تشخیص او درملنه کې يې قوی لاس در لود. او نزهة النفس کتاب او دالمالیخولیا، فصد و نبض يې داسی آثار يې تالیف کړ چې سابقه يې نه در لودله. د ده نور مولفات د ادویه مفر ده، کتاب عنصر و التمام فی الطب، په استسقا او د هغو شیانو په توضیح کې چې نورو هغه د ناروغیو د شفا سبب ګڼلی مقالې دی. همدارنګه نور شپږ تالیفات هم لری. دی د دریمی پیړۍ په وروستیو کې وفات شویدی. نوموړی د امیر زیاة اله له خوا بې موجبه په بې رحمۍ سره وینه یی استیل شوی او په دار یې زوړند کړی دی.

انطاکی داوود بن عمر الضریر:

د عربو د علما و او د طب او ادب د پوهانو څخه یو تن و چې په انطاکیه کې زیږیدلی دی. څرنګه چې په سترګو ړوند و نو په ضریر ملقب و. د خپلۍ زمانۍ رئیس الاطبا شو.

۱- علی محمد حسن العماری، فشرده شرح حال و آثار امام فخرالدین رازی، ۱۳۶۷، ص-۶۰-۶۷

په پای کې مکی ته لاړ او تقریباً وروسته له یو کال څخه په ۱۰۰۸-۱۰۰۹م کال کې هلته وفات شو. تقریباً د دولسو په حدود و کې مهم تالیفات لری.

اوحدالزمان:

ابو البرکات هبة اله بن علی بلدی د عربو نامتو طبیبانو څخه و. په بغداد کې زیږیدلی او عباسی خلیفه مستنجد باله په خدمت کې په طبابت بوخت و. په طبابت کې ښه مهارت در لود او ښې مجربې دواګانې به یې خلکو ته ور کولې. ډیر تالیفات لری چې ډیر مشهور یې شپږ ښودلی شوی دی.

ایلاقی:

محمد بن یوسف ایلاقی په شرف الزمان معروف دی. هغه طبیب و چې معروف کتابونه یې دری ښودل شوی دی.

بختیشوع:

په سریانی کې بخت عبد ته وایی او یشوع د حضرت عیسيٰ نوم دی. نو د دی کلمی معنی عبدالمسیح دی. بختیشوع د مسیحی کورنۍ نوم دی چې اصلاً شام او جندی یا پور یا کند شاپور (جندی شاپور) کې او سیدل. له دې کورنۍ څخه ډیر طبیبان را ووتل. دا نوم د هغو په واسطه چې ذکر یې په روښانه خط د اسلام د تمدن په تاریخ کې راغلی دی شهرت وموند.

په نهمه ، لسمه او یولسمه پیړۍ کې له دې کورنۍ څخه په طب کې اوه تنه نامتو کسان پیدا شول او ټول دبغداد په دار الخلافه کې مشهور شول. دا اوه تنه عبارت دی له جرجیس بن بختیشوع، بختیشوع بن جرجیس، جبرائیل بن بختیشوع، بختیشوع ابن جبرائیل، عبداله ابن بختیشوع، جبرائیل ابن عبداله او عبیداله بن جبرائیل. د دغه کورنۍ غږي طبابت یې له منځنۍ آسیا (جندی شاپور) څخه اعرابو ته او له هغه ځایه اروپا ته انتقال کړی دی.

ربیع:

ربیع ابن احمد اخوینی یا اجوینی بخاری چې د ابوبکر محمد بن ذکریای رازی شاګرد دی نوموړی د (هدایت المتعلمین فی الطب) کتاب مولف دی.

بدرالدین:

حکیم بدرالدین مظفر ابن قاضی مجدالدین عبدالرحمن ابن ابراهیم د اومی پیړۍ له طبیبانو څخه دی. دې په دمشق کې لوی شوی او هلته یې د طب فن ته ملاتړلی او دا فن یی له حکیم مهذب الدین عبدالرحیم بن علی څخه زده کړی دی او ژر تر ژره یې عملی او نظری تجربې په طب کې حاصل کړل. خپل وختونه به یې د طبی کتابونو او فلسفی کتابونو په لوست کې تیرول او پر بله پسی دخپل استاد حکیم مهذب الدین ملازم و.

بدرالدین د رقبه په روغتون کې د طبابت په شغل بوخت شو. بدرالدین د ډیر علم خاوند و. له همدی کبله یې څو موده له طبابت څخه لاس واخسیت او د فقی زده کړې ته متوجه شو.

مقالت فی مزاج الرقه، کتاب مفرح النفس او کتاب الملح فی الطب د ده له آثار وو څخه دی.

ثابت بن قره:

ثابت ابن سنان ابن ثابت ابن قره صابی حرانی په ابی الحسن باندې مشهور د خپل وخت یو ښه طبیب، مورخ او ادیب و. زیات تالیفات او ترجمې لری چې د ده آثار له سلو ټوکو نه زیات ذکر شوی دی. دهغه تخصص د طب په څانګه کې دی خو په نورو علومو کې زیاتې ترجمې لری.

دهغه ذخیره کتاب ډیر شهرت لری چې ققطی او ابن اصیبعه دهغه معجزی په طبابت کې ډیر مطالب لیکلی دی. دغه کتاب ۳۱ بابونه لری.

د ده یو بل کتاب هم د شام او مصر د خبرونو په باره کې په یو جلد کتاب کې لیکل شوی دی. دمختصر الدول د کتاب مولف وایي چې ثابت په طبابت باندې ډیر ښه پوهیدلو او د بغداد روغتون رئیس و.

داکتر لوکرک د ثابت بن سنان په باره کې وايي چې ده طبی روغتون کې د بقراط او جالینوس د ښوونو په نسبت تدریس کاوه. دهغه یوه لیکنه د یادونی وړ ده چې لیکی.

د زړو انسانانو لپاره تر ټولو مضر د ښه آشپز او ښایسته ملګری لرل دی. ځکه لومړنۍ هغه ډیر خوراک ته هڅوی چې عاقبت ناروغی منځ ته راوړی او دویم انسان عشرت ته را کاږی چې په نتیجه کې زوړ توب منځ ته را ولی. پس پوه شه چې د جسم سلامتی لړه غذا پوری تړلی ده او د روح سلامتی د ګناهونو څخه لری والی پوری ارتباط لری. د زړه ښادی د تشویش څخه په لری والی کې مینځ ته راځی او د ژبی د استراحت د باطلو خبرونه کولو نه مینځ ته راځی.

ثقفی:

حارث بن کدة بن عمر بن علاج ثقفی د عربو مشهور طبیب د ثقفی له قبیلی څخه دی. حارث د طبابت د فن د زده کولو لپاره ایران کې واوسید او حاذق طبیب په حیث مشهور او د ډیر مال خاوند شو.

جبرائیل:

جبرائیل د بختیشوع زوی، ګندیشاپور اوسیدونکی، د شامی نسطوری مسیحی کورنۍ څخه د عباسی زمانی مشهور طبیب دی.

جبرائیل په ۲۱۳هـ او په ۸۲۸م کال کې وفات شو او په مدائن په دیر سرجیوس کې ښخ شو. د ده تالیفات عبارت دی له: په خوراک او څکاک کې یوه رساله چې هغه یې د مامون دپاره و لیکله، د منطق په صناعت کې المدخل کتاب، په طب او کناشه کې یوه لنډه رساله، د بخورو په صنعت کې یو کتاب چې د مامون په امر یې تالیف کړ.

جرائیل بن عبداله:

جبرائیل بن عبداله بن بختیشوع چې یو ماهر طبیب و. نوموړی په یو ځای کې پاتی نشو ځکه د امیرانو او پاچایانو په درملنه کې بوخت و. معهد الدوله هغه یې اسلامی دایرة العارف وباله. نوموړی په ۳۹۶هـ د رجب د میاشتی په اتمه وفات شو.

جرجانی (سید اسمعیل جرجانی):

ابوالفتح یا ابو الفضایل زین الدین یا شرف الدین اسمعیل بن حسین بن محمد بن احمد لحسینی الجرجانی د اسلام له مشهورو طبیبانو څخه و. په ۴۳۴هـ کې زیږ یدلی او په ۵۳۰هـ کې مړ شوی دی.

دې په طب کې د بن ابی صادق عبدالرحمن بن علی بن احمد بن ابی صادق نیشاپوری او د مشهور طبیب ابن سینا شاګرد و. جرجانی د علاوالدین خوارزم شاه دربار کې پوره قدر او عزت در لود. ده په طب کې یو کتاب تالیف او هغه یې خوارزم شاه ته اهدا کړی دی.

نو لدی کبله دغه کتاب خوارزم شاهی ذخیره کنل کیږی. دغه اثر په ۵۰۴هـ کې لیکل شوی دی چې ۱۴۰۳ مخو نه لری او د ښو کتابو څخه تشکیل شوی چې ۵۷ مقالی او ۱۱۰۷ فصلونه لری. د ده یوه قلمی نسخه په ملی آرشیف کې او بله نسخه یې د انګلستان کمبرج پوهنتون کې موجود ده.

داکتر محمود نجم آبادی لیکلی چې له پورتنی تالیف څخه پرته جرجانی دوه نور طبی تالیفونه لری.

همدارنګه جرجانی په فارسی ژبه اعراض طب، یادګار د درملو په باره کې، د حفظ الصحی په باره کې دی.

جـــرجیس:

جرجیس بن بختیشوع د عباسیانو د خلافت د دربار یو مشهور طبیب و. په طبابت کې د ده پوهه او مهارت د ده له معالجو څخه ښه څرګند یږی. د عباسیانو خلیفه منصور یې تداوی کړ چې ډیر شهرت یې پیدا کړ. ابن ندیم وایی چې جرجیس له تالیف او ترجمې سره مینه در لود چې د منصور لپاره یې څو کتابونه له یونانی په عربی ترجمه کړل، همدارنګه یو شمیر کتابونه یې په سریانی ژبه هم تالیف کړل چې له هغې جملی څخه الکناش کتاب یې تر ټولو مشهور دی.

جیش:

د دمشقی حسن زوی یو مشهور مترجم او طبیب و چې له یونانی او سریانی څخه یې په عربی ترجمه کوله. د جیش له ترجمو څخه یوه هم په عربی سره د بقراط د عهد ترجمه ده او بل د الماء، و ا لهواء د کتاب تفسیر دی. بر سیره پر دی ۳۶ کتابونه او مقالې لری.

حاجی پاشا ایدنی:

د سلطان با یزید عثمانی د دربار طبیب و چې د ایدن په ښار کې زیږ یدلی دی. د مصر په روغتون کې مدیر ټاکل شوی دی او بیرته ایدن ته راغلی او د الشفا کتاب یې د محمد بیګ په نامه ولیکل او هم په طب کې په ترکی ژبه د تسهیل په نامه یو کتاب لری چې درې برخې لری.

حـرانی:

احمد د یونس زوی د اندلس د نومیالیو او مشهورو طبیبانو څخه و. ځنی داسی شربتونه او معجونونه یې په ډیر ښه ترتیب ترکیب کاوه چې دعوامو د استفادې وړ وګرځیدل حتی لس تنه درمل جوړوونکی یې استخدام کړل اوپه کار یې و اچول. بیوزلان او ضعیفان یې وړیا معالجه کول او د ناروغیو په تشخیص او علاج کې یې خورا ډیر شهرت وموند.

خویی تو:

چینایی طبیب خوی تو یا خواتو (۱۱۲-۲۱۲م):

ناروغانو ته یې د بیهوشۍ مواد و څخه په عملیاتو کې ګټه اخیستله. د عملیات څخه مخکې ناروغ د دغو مواد و د خوړلو په اثر خپل احساس له لاسه ور کولو.

سابـور:

سابور د ابن سهل زوی چې ۲۵۵هـ.ق کې مړ شوی دی. نومړی د جندی شاپور روغتون په سر کې و. د قرابا دین کتاب او الکبیر کتاب او نور کتابونه له هغه څخه پاتې دی. چې مشهور اثر قرابا دین دی.

ګوهــری:

سید صدیق د سید عثمان زوی په ۱۳۰۴هـ ق کال په بلخ کې زیږ یدلی او څه موده یې د زیاتې زده کړې د پاره په مزار شریف کې تیره کړی ده. په طب، فلسفه، حکمت او ادبی علومو کې یې ښه لیاقت وموند.

عبدالرافع هیروی:

ضیأ الدین عبدالرافع ابن الفتح هیروی د افغانستان د شپږمې پیړۍ د وروستیو وختونو کې ژوند کړی، په طب او لغت کې هم استاد و. دې د جلالیه نومی رسالې مولف دی د غزنوی پاچا خسرو ملک ته یې اهدا کړی دی.

علی بن ربن طبری:

علی بن ربن طبری د خزر د بحیری د جنوبی سواحلو د یوه ولایت اهل دی. القفطی په (۲۳۱ مخ کې) له ده څخه په لنډه توګه یا دونه کوی او وایي چې: دې یهودی و او کله چې د عباسی خلیفه خدمت ته راغلی اسلام یی قبول کر.

نوموړی په ۸۵۰م (۲۳۶هـ) د خپل معروف اثر چې «فردوس الحکمه» نومیده د طب او طبیبانو د بحثونو په باره کې و په تکمیدلو بریالی شو. دا عالم د محمد بن ذکریای رازی استاد دی. فردوس الحکمه ۵۰۰ مخونه لری په اوو نوعو، ۳۰ مقالو او ۳۶۰ فصلونو، باندې ویشل شوی دی. نوموړی هیپوکرات، ارسطو، جالینوس، یوحینابن ما سویه او حنین بن اسحاق ته اشاره کوی او د هغوی آثار د خپل کتاب د مطالبو مراجع او مأخذ بولی.

د دی کتاب اهمیت له دی کبله دی چې د موجوده لرغوني بشپړ طبی آثارو او د عربو د زمانې له باقیمانده څخه دی.

علی بن العباس:

د ده اثر کتاب الملکی نومیږی چې د «استفان حکیم» له خوا ترجمه شویدی او میشل دو کاپلا Michael do capella پر هغه شرح لیکلی ده او په ۱۲۵۳م کې په لندن کې چاپ شوی دی.

القفطی (۲۳۲مخ) د ده په خصوص کې لیکلی دي: «... دا اثر یو ډیر لوړ او برجسته اثر دی او یوه ګټوره، سفینه ده چې علم او عمل دواړه پکې را ټول شویدی او ښایسته ډول تنظیم شوی دي».

دې اثر خاص شهرت او محبوبیت وموند او همدارنګه د بوعلی سینا د قانون د تالیف تر وخته پوری دعمومو د مراجعی مواد وو. او قانون د دې سبب شو چې «الملکی کتاب» هیر شی. دغه کتاب د عملی طب له مخی پیاوړی دی او قانون د نظری طب له پلوه غښتلی دی. دهغه عربی متن تقربیاً څلور سوه زره لغتونو په شاه خوا کې لری.

شل مقالې چې هره مقاله په څو فصلونو مشتمله شوی ده. د دې عالم توصیی په وروستی فصل په روغتون کې داسی راغلی دي: «هغه چارې چې د دې حرفې په محصل فرض او واجب دی. چې دې باید مرتباً روغتون او خسته خانه ته سر ښکاره کړی او د هغو د اوسیدونکو له وضعی، حالاتو څخه کلکله پاملرنه اومرافبت وکړی.

د طبيب دا حضور او څارنه بايد د طب د ډيرو ماهرو استادانو او پوهانو په ملګرتيا تر سره شي. بايد له ناروغانو څخه د هغوی د حالت په اړوند پوښتنې وکړی. او هغه علايمو چې په هغوی کې بروز کوی د وخت له نظره تير کړی. او په پام کې دی ونيسی چې د دې علايمو په باره کې يې څه لوستلی دی اوله هغو څخه کومه يوه يې د مطلوب بدلون نښه او کومه يوه يې د نامطلوب تغيير علامه ده.

که چيرته دا دستورونه په کارو اچوی په خپل فن کې به لومړۍ او ممتازۍ درجې ته ورسيږی ځکه هغه څوک چې وغواړی بشپړ طبيب شی په کار دی چې دا دستورو نه په بشپړ ډول رعايت او پخپله د هغه څخه ځان بلد کړی چې په پورتنيو دستوورونو کې مې ويلی دی او هيڅکله هغه هير نکړی. که چيرته داسی و کړی نو معالجی يې په بری پای ته رسيږی او خلک پرده باور او د ده په نسبت مساعد نظر نيسی، او دې هم د هغوی محبت ځانته را جليبوی او نيک شهرت تر لاسه کوی او د دې په شرح کې د هغوی د ګټی او استفادی څخه څه شی له لاسه نه ورکوی او پاک خدای ډير ښه پوهيږی».

عزت مزاری:

نوم ملا عزت اله بن ايشان طوره بن خواجه خان دی او د مزارشريف په ښارکی زيږ يدلی دی. د عالی زده کړی د پاره بخارا ته لاړ. د حکمت او طبابت له زده کړی نه وروسته خپل هيواد ته راستون شو او په تدريس يې پيل وکړ. په کال ۱۳۲۲هـ.ق کې لدی نيمګړۍ دنيا څخه سترګې پټې کړی.

قسطا بن لوقا البعلبکی:

د حنين دلسمی پايی مشهور ترجمان او زياتره اختصاص يی د طب په علم کې و. ده د طب او نورو علومو يو شمير کتابونه له يونانی څخه په عربی ترجمه کړی چې پنځه اثره په بر کې نيسی قسطا پخپله هم په مختلفو علومو کې تاليفونه در لودل چې يو کتاب يې د الفرق بين النفس و الروح دی چې اوس هم شته دی.

محمد حسين (نور بخش):

محمد حسين ابن مير قوام الدين په هرات کې طب زده کړ، په طب کې د زياتو نظر يو او اطلاعاتو خاوند دی او د يو لړ ناروغيو نومونه يې هم را وړی دی. د خلاصة التجارب په نامه د يو کتاب مولف دی. نوموړی طب

یوه د خونی اسهال له کبله په ۸۸۰هـ کال وفات شوی دی. ده یخپل کتاب د ډول ډول ناروغیو په برخه کې خصوصاً د توری ټوخلی د شیوع په هکله چې دوه ځلی هرات کې شیوع پیدا کړی او تداوی یې هم ده او هم یو هندی طبیب تجویز کړ.

همدارنګه د سفلیس د ناروغی او درملنې په هکله مفصل معلومات ور کړی دی.

مهذب الدین:

دمشقی د سترګو داکتر په ۶۲۸هـ کال کې مړ شوی دی. نوموړی په طب، حکمت، ریاضیاتو، کې ښه لاس در لود او په داکتری کې یې لوړ مقام درلود د دمشق په لوی روغتون کې وټاکل شو. دوه تالیفات لری.

نصیر الدین طوسی:

ابو جعفر نصیر الدین محمد ابن حسن ابی بکر د ایران خورا نامتو پوه او عالم دی چې په طوس کې زیږ دیلی دی. نوموړی د طب، اخلاقو، ریاضی، او منطق په علومو کې استاد و او په دی برخه کې ډیر تالیفات لری او وایي چې ۱۳۰ کتابونه او رسالې تالیف کړی دی، چې مشهور یې نهه دی. په کال ۲۷۶هـ.ق کال کې وفات شوی دی.

نظامی عروضی:

ابوالحسن نظام الدین احمد ابن عمر ابن سمرقندی چې په نظامی عروضی سره مشهور و. د شپږمی هجری قمری پیړۍ له مشهورو شاعرانو او لیکوالو څخه دی. د ده چهار مقاله نومی تالیف د دری ژبی خورا غوره اثر دی.

نومړی په طب او نجوم کې هم تکړه عالم و او د شپږمی پیړۍ په دوهمه نیمایې کې مړ شوی دی.

نجیب الدین سمرقندی:

نجیب الدین ډیر پوه طبیب و چې مشهور اثر یې «الا سباب و المالومات» دی. نوموړی د چنګیز په حمله کې (۶۱۰هـ.ق) چې پر هرات یې وکړ هم په قتل ورسید.

څلورم څپرکی

په نویو پیړیو کې د طبابت پرمختګ

د منځنیو پیړیو څخه را وروسته پیړیو ته نویو پیړیو په نامه یادوی چې ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹ او ۲۰ پیړۍ په بر کې نیسی. ۱۹ او ۲۰ پیړیو ته معاصری پیړۍ (مدرنی پیړۍ) ویل کیږی او په نویو پیړیو کې ۱۵ او ۱۶ پیړیو ته د رنسانس دوری پوری تړی.

د نویو پیړیو یا د پانګوالی د صنعت لومړنۍ نښانی حتی په ۱۴-۱۵ میلادی پیړیو کې د مدیترانې د بحیری د غاړۍ په ښارونو کې رامنځ ته شوی. خو د پانګوالۍ دورې وده په اروپا کې د فیودالی ټولنې په خیټه کې په ۱۶ میلادی پیړۍ کې پیل شوه.

د مولده نیروګانو د پراختیا او تکامل، د ماشینونو او پیچلی میکانیزم رامنځ ته کیدل د مانوفکتورونو پرځای د فابریکو او کارخانو او د صنعتی ورکشاپونو د ایجادیدلو په اثر د کپیتالیزم د جوړښت د منځ ته راتلو باعث شول.

همدارنګه د اندیشې ازادی، د منځنیو پیړیو د دینی مسایلو اصلاح، د انسانی روابطو پراخوالی، د چاپ اختراع او داسی ډیرو عوامل د علمی طبابت د رشد زمینې برابرې کړې.

د ختیځی ملکونو طب او د هغو تجربی د طبابت د علم په رشد کې ډیره زیاته مرسته وکړه. د ابن سینا آثار د اروپا په پوهنتونونو کې د توجه وړ وګرځیدل او د ۱۸۰۰ تر ۱۸۵۰ میلادی کلونو کې د طب علم په اروپا کې شکل ونیو. په لومړیو کې زیاته توجه ښه پیژندنې او د ناروغیو طبقه بندی وه.

د منځینو پیړیو څخه وروسته طبیبانو د مسلکی (حرفه یي) ډلو تشکیل ته شروع وکړه او د علمی طبابت د اساساتو د پرمختګ سره د خلکو

عمومی عقیده طبابت اړخ ته او د دغی حرفې خاوندانو ته زیات شو. دغه تحول هغه وخت منځ ته راغی چې طبی هئیت نظری پوهې سره مجهز شو چې د حرفی د اقتدار اساس منځ ته راغی او د اطباو لاس رسی دغو اطلاعاتو ته، هغو ته په مسلک کې تسلط او د درملنې لپاره د عمل آزادی ور په برخه کړ. او په تدریج سره دغه امکان پیدا شو چې ناروغ وکولای شی طبیب د غیر طبیب سره فرق کړی. نوی طبابت د لرغونی یونان او د منځنیو پیړیو طبابت سره ځنی ځانګړتیاوی لری. نوی طب تجربی علومو باندې اتکا لری او مسلکی استقلالیت لری.

نوی طبابت یو وګړنیز سازمان دی، چې طبیب ته ثابت نقش ورکوی او کله چې طبیب خپل علم د ناروغ درملنې ته په کار یوسی، د هغه څخه حمایت کوی.

سره د دې چې د طبابت عمومی زده کړه د بقراط، ابن سینا او ډیرو نورو پواسطه شکل ونیو او د خاص هویت څښتن شو، خو هغه واقعی تحول چې د طبابت په نوی عصر کې لکه د میکروب او واکسین کشفیدل او په خاصه توګه د پاستور علمی فعالیتونه او نور بنیادی اکتشافات ایجاد شول. هغه واقعیتونه چې د طبابت لاس ته راوړنې یې بل ډول کړل او ډیر شیان چې واقعیت تصور کیدل باطل شول، د عمر طول زیاد شو او د ناروغانو جسمی او روانی زیاد دردونه التیام ومومند.

د X د وړانګی او د اسکنر Scanner د دستګاوو څخه استفاده د انسان د سلامتی لپاره د اطباو او د طبی تخنیک محققینو توانایي او قدرت زیات شو. په دغه دوره کې د پوهې ډیره زیاته برخه چې د علوم او فنونو پیژندلو کې اهمیت درلود د محققانو له خوا د ناروغیو څخه مخنیوی او درملنه په ډیر سرعت سره حاصل شو. لازم و چې د نورو علومو څخه د طبابت په علم کې د استفادی وړ وګرځی، لازم رشد پیدا کړی، دا ځکه بې له هغو څخه د انسان د بدن پتالوژی پیژندنه غیر ممکن و.

د رنسانس د دوری د پیل سره چې دوه نیمې پیړۍ په حدودو کې دوام وکړ په پنځلسمه پیړۍ کې مانوفکتورونو دستګاوی ایجاد شول چې تولید زیات شو او تجارت رونق ونیو. طولانی مسافرتونه نړۍ شاوخوا کې نوی بازارونه څرګند شول او راکړه ورکړه لیری ځایونو ته شروع شو نوی ځمکې کشف شوی چې د دی له برکته د درملو زیرمې لازیاتې شوی. د چین او هند څخه درمل، تریاک، کافور، صمغ او نباتی درملونه اروپا ته وارد

شول. د امریکا د کشف څخه وروسته د ګنه ګنه پوستکۍ، دالش لرګی، د چلپا ریشه، د کوکا میوه او داسی نور د درملو زیرمې زیاتې شوې.

د پنځلسمی پیړۍ په نیمایي کې د چاپ اختراع د لوستلو لپاره د خلکو او زده کوونکو تعداد زیات شو. کله چې بیزانس تسلط د ترکانو له خوا صورت ونیو د روم علماو او پوهانو دسته جمعی مسافرتونه غرب ته پیل کیړی او د لرغونی یونان او ختیځ تمدن اروپا ته انتقالیږی او د رنسانس یعنی د حیات تجدید په اروپا کې شروع کیږی او د کلیسا په مخالفت سره سره پوهانو نوی کشفیاتو باندې بریالی شول.

په نویو پیړیو کې نوی علوم لکه تحلیلی کیمیا، فیتوشیمی، د دوایی موادو عضوی سنتیز، مکروبیولوژی، شیموتراپی او داسی نور منځ ته راغلل چې پر طبابت یې ژوره اغیزه وکړه.

د ۱۸ پیړۍ په وروستیو کې د هافمان په واسطه د تداوی نوۍ تیوری د خالصو دوایی موادو د کوچني دوز په واسطه منځ ته راغله، په دې ډول یې د هومیو پاتی اساسی پرنسیب ایجاد کړ یعنی ناروغی د درملو په کم دوز سره تداوی کیدل؛ چې لوړو دوزونو په سالمو اشخاصو باندې مشابه تاثیر غورځاوه.

د پانګولۍ په ظهور سره د کیمیا او فارمسی په وده باندې لوی تاثیر پریوت چې د پانګولۍ په لومړنیو مرحلو کې د درملتونونو پوری مربوطو مسایلو په چټکتیا سره پراختیا ومونده. په دې وخت کې د درملتونونو مطلق اکثریت د هغه عصر په مجهزو کیمیاوی لابراتوارونو سنبال شوی وو.

د درملتون کارمند زیاتره د تجربی خاوند و، درمل جوړوونکی او کیمیا پوهان و او زیاترو پوهانو خپل علمی تحقیقات په درملتونونو کې پیل کړل چې دغه درملتونونه په علمی مرکزونو بدل شول لکه په کال ۱۵۸۴م د فلورانس دلاسکای په درملتون کې د دیلاکروسکا Dellacrusca اکادمی او د پاریس د ژافری په درملتون کې د روګال دوسیانس Rogale des sciences د علومو اکاډمی تاسیس شو.

د فیتوشیمی په وده او تکامل کې د سویدنی درملتون مالک کارل ویلهم شیلی Schelle ۱۷۴۲-۱۷۸۶م ستر کارونه سرته رسولی دی او یو شیمر مواد یې له طبی بوټو څخه لاس ته راوړل. نوموړی پنځوس غوره کشفیات سرته رسولی دی.

د شیلی سره په عین وخت کې په انګلستان کې پریستلی هم اوکسیجن کشف کړ. د شیلی فعالیتونو د څېړنو نوي طریقې رامنځ ته کړې او له نباتاتو څخه یې د ځانګړو موادو استحصال او د هغوی د خواصو په باره کې مساعد شرایط منځ ته راوړل.

مارګراف ۱۷۰۹-۱۷۸۲م د فوسفور د استحصال په لاروچارو کارو کړ، نوموړی د کیمیاوی څیړنو په پروسه کې بې له مکروسکوپ څخه استفاده وکړه.

«د درملو جوړولو علمی دوران د نولسمی پیړۍ له لومړنیو څخه پیل شو. د لوازیه (لاوازیه) Lavoisier له زماني څخه چې د شیمی بنسټونه یې کیښودل او تردی وروسته د درمل جوړولو علمی سرحد پیل شو»[1].

تردی وروسته یوه داسی مرحله شروع شوه چې مجهولات یو یو له منځه لاړل او د عناصرو د پیژندنی خو اته نوی دروازی بیرته شوې لکه چې د یو درملتون مالک د وکیلن Vauqulin (۷۶۳- ۸۲۹م) په نوم په پاریس کې د درمل جوړولو د ښوونځی مدیر چې په ۱۸۰۳م کې تاسیس شوی و، تر ۲۰۰ زیات کیمیاوی فعالیتونه سرته ورسول.

کورتوا Courtois (۱۷۷۷-۱۸۳۶) یو د یې چې په طبابت کې یې مهم نقش درلود کشف کړ. همدارنګه د یو شمیر کیمیاوی مرکباتو د تولید میتودونه یې وړاندی کړل.

بوسی Bussy مګنزیوم کشف کړ.

په کال ۱۸۰۳م دروسن یا شارل دیرازی Derosre (۱۷۸۰-۱۸۴۶م) په درملتون کې د مورفین او نرکوتین مالګې کشفی کړې او له ګنو (نیشکر) څخه یې د شکری د استحصال په میتود کاروکړ.

سوبیران درمل جوړونکی په کال ۱۸۳۱ کلوروفورم کشف کړ او د هغه خواص یې هم ولیکل.

درمل جوړونکی انتون بوخی (۱۷۲۸-۱۸۰۴م) د الکولو د غلظت د ټاکلو لپاره اریو متر جوړ کړ او د نوشادرو د تولیدولو میتود یې لاس ته راووړ.

۱- داکتر محمود رفیع زاده، دارو های جالینوس، ۱۳۴۰ ص-۲

پوځی درمل جوړونکی لوبیر کیمیاوی څیړنی د کنین د بوټو په ریښو پرمخ بوتلی او د لومړۍ ځل د پاره یې په فرانسه کې د سلفوریک اسید د تولید فابریکه تاسیس کړه.

پوځی درمل جوړونکی کوانتو Cavento له ایرو او د روغنیاتو د اضافی موادو څخه د صابون د استحصال میتود میدان ته راویست او درمل جوړونکی پلیت Pilletier سره یې یو ځای د خپل ژوند په وروستیو وختونو کې یوشمیر الکالوئیدونه کشف کړ.

د المانی درملتون مالک سرتیوریز په اوپیوم څیړنې وکړې او په کال ۱۸۱۷ کې یې الکالوئید مورفین له تریاکو (اپین) څخه استحصال یی کړ.

المانی کلاپ روت Klaproth (۱۷۴۳-۱۸۱۷م) یو اثر تالیف کړ چې په هغه کې یې یو لړ عناصر کشف کړی وو.

درمل جوړونکی مور (۱۸۰۶-۱۸۷۹) یو لړ سامان آلات یې د درملو د انالیز لپاره کشف کړ او د کیمیاوی حجمی انالیز هستونکی دی.

درمل جوړونکی سیګوئین د کنین پر پوستکی څیړنې اجرا کړې او د کنین درمل یې کشف کړ.

یوستوس لیبیخ (۱۸۰۳-۱۸۷۳) عضوی انالیز د میتود ایجادګر دی.

د علمی طبابت نوی استقامت ورکوونکی بنسټ ایښودونکی چې د طب په تکامل او د نولسمی پیړۍ په انکشافاتو یی لوی تاثیرو غورځاوه لویي پاستور (۱۸۲۲-۱۸۹۵)، جوزف لیستر (۱۸۲۸- ۱۹۱۲) او پاول ایرلیخ (۱۸۵۴-۱۹۱۵) دی.

د پاستور او د ده د شاګردانو کشفیات چې طب او جراحی ته یې په بشپړه توګه تغییر ورکړ په درمل جوړولو یې هم پوره اغیزه کړه، لکه چې مکروب یی د زیاتو ناروغیو په منځ ته راوړلو (د ناروغیو عامل) کشف کړ. پاستور د لومړۍ کرت د پاره په لومړۍ ځل د باکتریاو رول د ډیرو ناروغیو د مرک په حیث په خپلو څیړنو کې ثابت کړ.

لیستر د زخمونو د دیزنفکشن (اساسی تطهیر او تعقیم) میتود تهیه کړ.

ارلیخ د کیمیاوی موادو اغیزه په اورګانیزم کې د انفکشن په پروسه باندې څیړنی کړی او د شیموتراپی بنسټ ایښودونکی دی.

د لومړۍ ځل د پاره فليمنګ Fleming انګليسی عالم په ۱۹۲۹م کې د پنسيلين نوم د پنيسيليم د کشت په صاف شو يو محلول باندې کېښود، چې دا پيښه د شلمی پيړۍ د لومړنۍ نمايي د ډيرو سترو پرمختياوو څخه شميرل کيږی چې د درمل جوړولو صنعت يې د خپلې لوړتيا معراج ته ورساوه.

په نويو پيړيو کې پياوړی طبيبان

ابو عبدالله محمد بن شرف الدين ابی بکر:

د عزالدين له کهول څخه دی ۱۳۵۹ کې زيږيدلی دی. په قاهره کې طبيب او د فلسفی مدرس وټاکل شو. په ۷۱۹هـ (۱۴۱۶م) کال کې د وبا په ناروغي مړ شوی دی. د ده تاليفات خورا ډير دی په طب کې کتاب الانوار، شرح علی کتاب الانوار، نکت علی فصول بقراط، کتاب الجامع فی الطب او نور دی.

عبدالحی طبيب:

نظام الدين عبدالحی طبيب د هرات د تيموريانو ډير معروف طبيب و چې د پنځلسمی پيړۍ دويمی نيمايي کې د ښه شهرت څخه برخمن و. طبيب عبدالحی د امير علی شير نوايي په غوښتنه د روحانی پير خواجه اسرار درملنې ته وليږل شو. همدارنګه نوموړی د سلطان حسين بايقرا په دربار کې د عزت او مقام خاوند و.

طبيب عبدالحی د دربار طبيب په توګه د سلطنتی کورنۍ عيادت ته حاضريدلو او د طبابت د شغل له کبله حرام سرای ته لاره پيدا کړ.

د هرات د تيموريانو په زمانه کې ډير زيات طبيبان په هرات کې ژوند کاوه چې له هغو جملی څخه خواجه رشيد الدين، نجيب الدين سمرقندی، ابن نفيس قرشی، قطب الدين شيرازی، علامه شمس الدين، افضل الدين کرمانی، ابو زين کمال او نور يادولی شو.

پاراسلز Paraceles (۱۴۹۳-۱۵۴۱):

د سويس نامتو طبيب او کيميا پوه و چې د کليسا ډير سخت مخالف و. پاراسلز د نوی طبابت بنسټ ايښودونکی ويل کيږی. (دريم څپرکی ولوستل شی).

فراکاستور Fracastore (۱۴۷۸-۱۵۵۳):

ایتالوی نامتو طبیب دی چې د ساری او انتانی ناروغیو سرایت یې طرح کړی دی. ده ویل کوچنی اجسام دی چې ناروغی د یو ځخه بل ته انتقالوی. نوموړی د ساری ناروغیو په برخه کې دری کتابونه لیکلی دی.

وزال Vesale (۱۵۱۴-۱۵۶۴):

بلژیکی پوه، د پادوا د پوهنځی استاد او د اوسنی تشریح علم بنسټ اینبودونکی دی. هغه په پټه جسدونه یې غلاکول او تشریح کول یې او د تشریح اوه ټوکه د تصویرونو سره کتابونه لیکلی دی. کلیسا هغه تکفیر کړاو بیت المقدس ته لاړ ترڅو د تعقیب ځخه په امان کې وی. نوموړی پوه کله چې بیرته اروپا ته سفر کاوه په بحر کې ډوب شو. نوموړی د لومړۍ ځل لپار د زړه دریڅه کشف کړۍ او د وینی کوچنی ګردش یې توضیح کړ.

امبریوس پاری یا امبروازپاره Ambroisepare (۱۵۱۰-۱۵۹۰):

د شپاړسمی پیړۍ ډیر مشهور جراح دی چې د فراسی د جراحی پلار په توګه پیژندل شویدی. په کال ۱۵۳۲ کې د یو سلمان جراح شاګرد شو او څلور کاله یی د دیو Dieu په هوټل کې دنده اجرا کړ. په کال ۱۵۴۱ د سلمانی جراحی یا Batbersurgeon ماستر شو او څه موده یې په اردو کې کار وکړ. په کال ۱۵۶۴ پر جراحی کې یو اثر (Dix liversde la cheturgie) باندې کار وکړ چې دوه برخې لرل. په لومړۍ برخه کې په اناتومی او فزیولوژی او په دوهمه برخه کې د جراحی تخنیکونه شرح شوی دی. د نوموړی لاس ته رواړنی د قطع شوی لویي اوعیی تړل او د تور نکیت اختراع او نور دی.

ویلیام هاروی (۱۵۱۸-۱۶۵۷):

انګلیسی طبیب او فزیولوژی پوه و. هغه د وینی لوی او کوچنی جریان یی سره بیل کړ او په صحیحه توګه هغه یې توضیح کړ، چې نن هم په مهمو ټکو کې د حقیقت سره مطابقت لری. دری کاله د کمبریج په پوهنتون کې دنده اجرا کړی. وروسته د سن بارتلمو د روغتون ریاست یې انتخاب کړ او د لومړی چالز دربار کې طبیب و.

فالوپیو Garbriel Fallopio (۱۵۲۳-۱۵۷۶):

ایتالوی مشهور طبیب دی. سره د دې چې څلویښت کاله عمر وکړ خو پرثمره انسان و. د نوموړی د آثارو ځخه یو د «کالبد پیژندنی مشاهدات»

نوم لری. دغه اثر په حقیقت د وزال بې تصویره شرحه ده. ده په دغه اثر کې زیار ایستلی ترڅو د نوموړی کتاب نیمګړتیاوی رفع کړی.

نیکولاس اندری Nicholas Andry :

د پاریس د پوهنتون پروفیسور او په کال ۱۷۴۱ کې د Physick د پوهنځی مدیر و. د ۸۱ کلنی به عمر کې د Orthopaedia یا په کوچنیانو کې د سؤ تشکیلات د مخنیوی او درست کولو هنر کتاب یې په نشر ورساوه. په دغه کتاب کې اندری د Orthopaedia لغت معرفی کوی چې د یونانی دوو کلمو (مستقیم او ماشوم) څخه مشتق شوی دی. اندری ډیره زیاته مینه د وضعی نواقصو یا Postural Defec سره درلود او په مشهور تصویر کې چې د اندری د ونې په نوم یادیږی دغه موضوع انعکاس موندلی دی. شنی ونې تصویر کښل چې د یوی پا یې په ذریعه تړل شوی دی. نوموړی عقیده درلود چې اسکلیتی سؤ تشکیلات چې د وضعی Posturalنواقص او د عضلاتو لنډوالی د دغی طریقی پواسطه اصلاح شی. ځنی نوموړی د اورتوپیدی د پلار په توګه احترام کوی.

«کوچینانو درسته فزیکی تربیه» د کتاب په دویم ټوک یې اندری د بدن د اصلاح لپاره نارمل پوزیشن، (S) مانند انحرافی په هکله ولیکل، او لومړی کس و چې د کوچینانو ولادی خلع (CDH) او د پنډۍ مختلف سؤ اشکال ته متوجه شو او د کوچینانو سم تړلو او ډیر زر قدم اخستل ضرورنه یې توضیح کړل. او د دغه سؤ شکل د اصلاح لپاره یوه اوسپنیزه پلیت یې د ماوفه یا سؤ شکل سګمنت یې بنداژ کاوه او د خپلی نظریې د توضیح لپاره، د کږی ونې یوه سیخه (راست) پایه وتړل شی، رسم یې کړ او توضیح یې ورکړ چې که د ونی نشوو نمایی یا دودی پروسه کې سم لرګی وتړل شی د تنی د سؤ شکل څخه مخنیوی کیدلای شی. چې دغه رسم اوس د اورتوپیدی بین المللی سمبول پیژندل شوی دی.



ر.ر ويردين د اندرى د نظرياتو په توضيح کې ليکى: «اورتوپيدى د جراحى څخه يوه بيله شوى اختصاصى څانگه ده چى د ولادى او کسبى ټولو سؤ اشکالو، اطرافو، فقراتو، مختلفى پتالوژى گانى، تروماتيک آفات، د عظامو نرى رنځ او همدارنگه د حرکى سيستم اتکا ارجاع عملياتونه او مفاصل او د مفاصلو پروتيز مطالعه، تحليل او درملنه په برکې نيسى»[۱].

توماس سدنهام Thomas Sydenham:

د نوموړى کارونه د هيپوکرات سره شباهت لرى. هغه ته د انگلستان د طبابت پلار ويل کيږى. نوموړى چې د نقرص د ناروغى څخه رنځ وړ، مکمل او ښه تشريحات يې د ناروغى په هکله ليکلى چې په هغه کې د حملاتو وصف، د يو ريک اسيد تغييرات او د بډوډو تيرو سره د هغه ارتباط راغلى دى. هغه د حاد روماتيزم، Chorea او Scuravy ناروغيو په جريان کې مفصلى تغييرات او لس ناستى يې په مفصل ډول تشريح کړى دى.

پيرسوال پوت Percival Pott (۱۷۱۴-۱۷۸۸):

نوموړى د لندن څخه و او St.Bartholoews روغتون کې کار کاوه. هغه په کال ۱۷۶۳ کې د سلمانى جراحى د ښوونځى ديپلوم يې لاس ته راوړ. د هغه کسر په واسطه چې پخپله ورسره مواجه شوى و مشهور شو او له همدې کبله دغه ډول کسر ته Poots Fracture په نامه ياد شو او هغه لومړنى سړى و چې د دغه کسر په هکله چې د عنق الدم پر مفصل معلومات

۱- دوکتور سياووش، تاريخچه اورتوپيدى در افغانستان و جهان ۲۰۰۶ کابل، ص-۵۹

ورکړ دغه کسر د قصبی سفلی دریمی برخې مایل او مرکب کسر دی چې د آس د لویدلو څخه وروسته منځ ته راغلی و.

د نوموړی مشهور کار د سفلی طرف نیمه فلج په برخه کې دی چې د نخاعی توبرکلوز څخه منځ ته راغلی دی. ده ویل چې دغه فلج د نخاعی کانال باندې د فشار له کبله نه دی بلکې نخاعی ښنځی (آبسی) پوری مربوط دی چې عصبی جذورو باندې فشار راوړی او د پوت نیمه فلج یا Pootts Paraplegia په نامه یادیږی.

جان هنتر John Hunter (۱۷۲۸-۱۷۹۳):

نوموړی یو تحقیقاتی مرکز په London 's Golden Square کې تاسیس کړ او په Lencester Square کې لکچر ورکاوه ترڅو د زړه د آنژین له کبله مړ شو.

هغه یو علمی بنیاد د جراحی کارونو لپاره تاسیس کړ او خپل کاری پلانونه یې د خپلو نظر یا توپه چوکاټ کې د شلمی پیړۍ انکشافاتو لپاره تهیه کړ.

هغه به ویل (فکر وکړه، تجربه وکړه). هغه په دې عقیده و چې روغیدل د ناروغ درونی قدرت او توانمندی پوری مربوط دی. او د جراح دنده یوازې مرسته کول دی. له نظریاتو څخه یو هم دا و چې د هډوکو ناروغی میخانیکی درملنې ته ضرورت لری. هغه د اورتوپیدی په مختلفو برخو کې مطالعات وکړ. په کال ۱۷۹۴ کې یوه رساله د وینی، التهابی حالاتو، چې د مرمی له اصابت څخه منځ ته راځی په برخه ولیکل او د ګراف د ایښودلو عملیی یا د نسج ګنډلو ته مبادرت وکړ.

د هغه د نمونو مجموعه ۱۴۰۰۰ ته رسیدل، خو د لندن په بمباریو کې نیمایې له منځه لاړل. دغه نمونی د مختلفو سیستمو د انکشاف په مورد کې چې د ډیر ساده مجری څخه تر ډیرو مغلقو پوری معلومات ورکول.

جین اندری وینل Jean Andry Venel (۱۷۴۰-۱۷۹۱):

نوموړی د وراثت طبیب و چې په Montpellier کې د ۳۹ کالو په عمر جسد سپیړنه یې مطالعه کړ او په کال ۱۷۸۰ کې په Orbe کانتون وادت Canton Waadt کې د اورتوپیدی لومړنۍ انستیتوت یې پرانیست، دغه لومړنۍ روغتون و چې د کوچینانو سؤ اشکال چې د فلج اختلاط یې درلود، باندې کار کاوه. نوموړی چې د ټولو مروجو میتودونو څخه استفاده کاوه، ثبتاوه او په هغه زمانه کې نشر ته سپارل، له همدې رویه هغه لومړنۍ

واقعی اورتوپید په حیث پیژنی، او د اورتوپیدی د پلار په لقب پیژندل شوی دی. روغتون یې په اروپا کې یو مدل روغتون محسوبیده.

نوموړی د لمروړانګی پر موثریت او اهمیت ټینګار کاوه. تثبیتی ډیر سامان او لوازم جوړ کړی چې تماشاته ایښودل شوی وو.

ویلیام هیبردن William Heberdon (۱۷۱۰-۱۸۰۱):

په لندن کې زیږیدلی او ډیر عمر پراکتیک کارونو باندې مصروف و. لومړنۍ سړی و چې د Medical Transaction پر اختراع اقدام وکړ او وروسته د Heberden ‘s Node په مورد کې توضیحات ورکړل.

ویلیام هی Willam Hey (۱۷۳۶-۱۸۱۹):

نوموړی Leed ته نږدی په Pudsey کې زیږیدلی او په ۱۴ کلنۍ کې د جراح او درمل جوړونکی شاګرد شو. د مخدراتو یا اوپیوم د مطالعاتو په اثر نږدی و چې مړ شی. په لید Leeds کې د جراحی موسس و. د جراحی په برخه کې کتاب لیکلی چې څو فصلونه یې د اورتوپیدی په برخه کې و. د قصبی تحت الحاد اوستیو میالیت په برخه کې ځنې موضوعات لیکلی دی.

کله چې په ۱۷۷۳ کې د حمام څخه ووت زنګون یې ژوبل شو. او اکثریت افتخارات یې د مصدوم زنګون په هکله و او په دې برخه کې ډیر مطالعات کړی دی.

جیوبنیبتیستا مونیتجا Giobannibattista Monteggia (۱۷۶۲-۱۸۱۵):

د Magiore په جهیل کې زیږیدلی او په میلانیس کې پتالوژست و. هغه د اوتوپسی په جریان کې په سفلیس مصاب شو، او وروسته په میلان کې د جراح او د جراحی پروفیسور په توګه دنده اجرا کوله. هغه د یو کسر په مورد کې چې وروسته د هغه په نوم یاد شو مشهور شو (په مرفق مفصل کې د Ulna کسر او د Radius خلع).

کانت Kant (۱۷۲۴-۱۸۰۴):

المانی فیلسوف و او د لومړۍ ځل لپاره بریالی شو چې په قرع او انیق کې د انسان د وجود څخه د باندې د غیر عضوی موادو د ترکیب څخه یوه عضوی ماده د اسیدیوریک په نامه د تحقیق په اثر منځ ته راوړی.

داکتر ادوارد Jenner (۱۷۴۹-۱۸۲۳):

انګليسی طبيب و چې د خپلو مشاهداتو په نتيجه کې ومونده هغه ښځې چې په کوی اخته شوی غوا شيدی وځښی د کوی په ناروغی نه اخته کيږی.

ابراهام کوليس Abraham Colles (۱۷۷۳-۱۸۴۳):

نوموړی يوې بې وزلې کورنۍ کې په ايرليند کې زيږيدلی او په ۲۹ کلنی کې د دولين ښوونځی جراحانو کې د جراحی پروفيسور شو. لومړنۍ سړی و چې د تحت تر قوی اوعيه يې وتړله. په کال ۱۸۱۴ کې چې د Colles Fracture په اساس يی توضيحات ورکول، مشهور شوی چې تر اوسه دغه تيپ کسور (د ساعد د هډوکی سفلی ثلث ميتافيز) د ده په نوم مسمي' شو.

بارون ګاويلايوم دوپويترين Baron Guilaume Dupuytren (۱۷۷۷-۱۹۳۵):

د فرانسی په مرکز کې زيږيدلی دی. د ښايست له کبله يې چې درلود د يوی بدايې ښځې له خوا اختطاف او پاريس ته بوتلل شو او هلته يې زده کړه وکړ، د نيستۍ له کبله په زده کړه کې ديری سختۍ يې وګاللی په پای کې جراح شو او د Dieu په هوټل کې د جراحانو د آمر په توګه دنده اجرا کاوه، د تعجب وړ کارونو په نتيجه کې ډير بډای شو. نوموړی د اجتماعی له نظره د نظر وړ سړی نه و خو د ده کارونه ډير په زړه پوری و. د جراحی له قدرت نه د جراحانو په سرکې خو د اجتماعی برخورد له کبله د ټولو خلکو په آخر کې قرار درلود. اوتوپسی او پتالوژی ته ډيره علاقه درلود. هغه ډير موضوعات مطالعه او تشريح کړل. لومړنۍ کس و چې د هډوکی سرطان او Spina Ventosa ترمنځ توپير يې کيښود.

جيمز سايم James Syme (۱۷۹۹-۱۸۷۰):

هغه په Edinburgh کې زده کړه کړی او حتی د تحصيل په وخت کې په پورتنی پوهنتون کې د پلاستيک د ذوب کولو مؤثره طريقه يی پيشنهاد کړ. نوموړی لومړی د اناتومی ښوونځی او وروسته شخصی کلنيک يې پرانيست. په کال ۱۸۳۳ د جراحی پروفيسور په توګه ادنبورګ کې کار کاوه (هغه خپلو اجدادو ته لوړه کړی وه چې د تقاعد حقوق نه اخلی).

په ۱۸۳۱ کې يو ياد داشت نشر کړ چې د مټ د مفصل خلاصول يې؛ خصوصاً د مفاصلو وخيمو ناروغيو لکه نری رنځ او د مفاصلو جروحات، د قطع کولو پرځای ترجيح ورکاوه.

په کال ۱۸۴۲ کې د سفلی طرف قطع يې د قدم د ناحيې څخه توضيح کړ.

سر بينجامين برودی Sir Benjamin Brodie (۱۷۸۶-۱۸۶۲):

يو ملي شخصيت و او د Georges په روغتون کې جراح و. په کال ۱۸۱۹ کې د مفاصلو ناروغيو لومړی کتاب يې ليکلی او نشر کړی دی.

نوموړی په اورتوپيدی کې لويې لاس ته راوړنی لری. نوموړی په کال ۱۸۴۳م کې د سلطنتی کالج د ازموينو لپاره چې موخه يې د جراحانو د پوهې د لوړولو په خاطر و، مادی مرسته وکړه.

جان ريها بارتون John Rhea Barton (۱۷۹۴-۱۸۷۱):

نوموړی د امريکا په پنسلوانيا کې زيږيدلی او هلته يې خپل تحصيلات سرته رسولی دی. وروسته د فزيک په برخه کې کار کاوه (د امريکا د جراحی پلار) چې د هنتر له شاګردانو څخه دی. بارتون په دواړو لاسونو کار کاوه او يوځلی حاضر شو ترڅو پر هغه عمليات اجرا شی.

په کال ۱۸۲۶ کې د Subtorchanteric Osteotomy اجرا کړ. په کال ۱۸۳۴ کې بارتون د Patella يو کسر يې د سيم په واسطه ترميم کړ. او په کال ۱۸۳۵ د لاس د بند د ناحيې د کسر په باره کې توضيحات ورکړ چې وروسته د Barton Foactur په نامه ونومول شو.

رابرت ويليام سميت Robert William Smith (۱۸۰۷-۱۸۷۳):

په دوبلين کې زيږيدلی او هلته يې تحصيل کړی دی. نوموړی په دوبلين کې د جراحی پروفيسور و. سميت د پتالوژيستانو انجمن تأسيس کړ او په کال ۱۸۴۷ يو کلاسيک کتاب «بندونو نژدی مفاصلو» په هکله ليکلی دی. په کال ۱۸۴۹ د عصبی رشتو د سرطان تشخيص او درملنې په هکله يې يو کتاب ليکلی دی چې ډير حجم يې درلود. کله به چې دا کتاب خلاص شو د ډوډۍ خوړلو د يو ميز څخه لوی په نظر رسيده.

انتونيوس ميتيسن Antonaus Mathysen (۱۸۰۵-۱۸۸۷):

نوموړی په کال ۱۸۵۱ کې د هاليند په اردو کې د نظامی جراح په توګه کار کاوه، او د پلستر پاريس بنداژ يې د استفادی وړ وګرځاوه چې تر اوسه د تثبيتيه ډير عمده وسايلو په جمله کې په مختلفو کسورو کې حسابيږی.

ویلیام جان لیتل William John Little (۱۸۱۰-۱۸۹۰):

نوموړی د سلطنتی اورتوپیدی روغتون موسس و. هغه د مفصل یو مکمل راپور په کال ۱۸۶۲ کې لیکلی چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د اطرافو سؤ شکل اعراض او عقلی تاخر ورسره وی ولیکل چې وروسته د ده په نامه کلونه کلونه یادیده.

کلود برنارد Claude Bernard (۱۸۱۳-۱۸۷۸):

فرانسوی پوه و چې د فزیولوژی په رشته کې د نخاع دندی او د عکس العملونو د پیداینست څرنګوالی، د هاضمی جهاز د غدواتو او د پانګراس د دندو اهمیت، په ځیګر کې د ګلایکوژن ذخیره کیدو عمل او په بدن کې د ګلوکوز استقلاب، د نباتی اعصابو د دستګاه وظایف او د هغو تاثیر د وینی پر رګونو او نور یې کشف کړل. کلود برنارد ته د نوی فزیولوژی بنسټ ایښودونکی ویلای شو.

سر جیمز پجیت Sir James Paget (۱۸۱۴-۱۸۹۹):

په کال ۱۸۷۷ کې لومړی توضیحات یې د پتالوژی په مورد کې چې Osteitis Deformans په نامه یادیږی نشر کړ، چې اوس د Paget ناروغی په نامه یادیږی. هغه پخپلو یاد دښتونو کې د هډوکی د سرطان واقعات او د راس مختلف سؤ اشکال یې توضیح کړ. د هډوکو د پتالوژی په برخه کې ډیر لکچرونه ورکړی دی.

اریکسن Erichesen (۱۸۱۸-۱۸۹۶):

یو مشهور انګریزی جراح دی. پلار یې د کوپن هاګن یو سوداګر وو. اریکسن تقریباً خپل ټول عمر په انګلستان کې تیر کړی. د لندن د یونیورستی په کالج کې تحصیل وکړ او په ۱۸۳۹ کال د شاهی مدرسی د جراحانو غړی وپیژندل شو. او په ۱۸۵۰ کال د یونیورستی په کالج کې د جراحی پروفیسور او د روغتون جراح تعیین شو. په ۱۸۸۷ کال په نوموړی دارالعلوم کې رئیس وټاکل شو او د عمر تر پایه پوری په دغه رتبه پاتی شو. د وکتور یا ملکی فوق العاده جراح هم وو او په ۱۸۹۵ د بارونی رتبی ته ورسید. د ده خورا مشهور اثر دسانیس او چې د جراحی له فن څخه عبارت دی څو پلا چاپ او څو پلا ترجمه شو. د نخاعی ټکان او لړزیدلو په خصوص کې هم د Concissin of spine په نوم یې یو اثر لیکلی دی.

جين مارتين کارکوت Jean Martin Charcot (۱۸۲۵-۱۸۹۳):

د پاریس د Salperier څخه و او په ټوله نړۍ کې د نیورولوژۍ لومړنی پروفیسور په حیث پیژندل شوی دی. هغه یوه رساله د نقرص، مفصلی روماتیزم او اوستیوارتریت په هکله لیکلی دی. نوموړی د لومړي ځل لپاره د مفاصلو پتالوژی (Arthopathy) چې د هغه د شهرت سبب وګرزید، تشریح کړ. د لومړي ځل لپاره د اسکلیروزس په مورد کې چې د عضلاتو اتروفی په اثر منځ ته راځی، متناوب لنګش، منتشر سکلروزس، د ځیګر نوبتی تبه او Herpe Zoster یې ولیکل.

ادمز اندریولیت (۱۸۲۷-۱۸۸۲):

د طبیعیاتو یو سکاتلیندی عالم و. د عسکرو د جراحی د یو ډاکتر په حیث یې د طبی تاریخ په شقونو کې په هند، کشمیر، مصر، مالتا، جبل الطارق او کانادا کې مطالعات وکړل او د هډوکو او جماداتو د آثار په باب کې د ده مشاهداتو د مالتا په جزایرو کې د فیلانو د استخوان بندی د پاره ډیر زیات شهرت پیدا کړ.

ارلونګ (ستورنن) Arloing (Saturnin) (۱۸۴۸-۱۹۱۱):

د بیطاری او تشریح فرانسوی عالم دی د شاربن د ناروغی د علاج اصول یې کشف کړ. او د دغه ناروغی ضد واکسین یې را پیدا کړ. برسیره پردی د سل د ناروغی د درملنې په شاوخوا کې یې هم مطالعې وکړلې. دی د فرانسی د علومو د اکادمی غړی او د لیون د ښار د بیطاری د ښوونځی مدیر و.

سر ویلیام مکوین Sir William Macewen (۱۸۴۸-۱۹۲۴):

مکوین په ګلاسکاو کې خپل تعلیمات سرته ورسول. د جراحی او اورتوپیدی په برخه کې ډیری مرستی کړی دی. خو د هغه اساسی تحقیقات او علاقمندی د هډوکی د انکشاف او نشو ونما (ودی) په برخه کې متمرکز و.

په کال ۱۸۷۹ د هډوکی لومړۍ ګرافت یې اجرا کړ. نوموړی د عصبی، قلبی او صدری جراحی سرتاج و. او دماغی آبسو او تومورونو باندې کار وکړ او لومړنې Pneumonectomy یې اجرا کړی دی.

ریچارد وون ولکمن Richard Von Volkmann (۱۸۳۰-۱۸۸۹):

لومړنی کس و چې د لیسترانتی سپتیک میتودونه یې په جرمنی کې بنسټ کیښود. په کال ۱۸۸۱ کې ډېره مشهوره مقاله یې د عضلاتو اسکمیک فلج په برخه کې او عضلی کانتر اکتورونه یې لیکلی او چاپ یې کړل. جراحی ژورنال یې تاسیس، شعر یې هم ویل او افسانوی داستانونه یې لیکل.

ادوارد البرت Eduard Albert (۱۸۴۱-۱۹۰۰):

په بوهیمیا کې زیږیدلی او په ویانا کې تحصیل کړی دی. د هغه توضیحات د مفاصلو قفل کیدل او د اطرافو فلج د ده شهرت باعث وګرزید. پدی برخه کې په کال ۱۸۸۱ مقالې لیکلی دی. په لومړی ځل یې د اوږی پر مفاصلو او عنق الدم د فلجی په حالاتو کې او متکررو خلعو کې ارترودیز مفصلی یا د مفاصلو قفل سازی یې اجرا کړ.

هوف توماس Hugh Thomas (۱۸۳۴-۱۸۹۱):

د بریتانیا د اورتوپیدی پلار دی. پنځه واړه ورونو طبی تحصیلات درلودل چې د ټولو څخه مشر توماس وو. هغه به ډیر مصروف و او ناروغان یې په خپل کور کې منل او د شپی له خوا به یې لیکنې کولې. د جراحی نوی سامان آلات او تخنیک یې اختراع کړ. د مفاصلو د نری رنځ د پاره اوږد استراحت بی له مداخلی څخه پیشنهاد کړ. استحکامیه سیتمتونه، ترانسپورتی تثبیتیه جهاز یې پیشنهاد کړ چې د Thomas Splint په نامه یادیږی.

هارولد بینیت Harold Bennet (۱۸۳۷-۱۹۰۷):

نوموړی د پتالوژی هډوکو ډیرې نمونې را ټولی کړی او په کال ۱۸۸۲ کې د میتاکارپل کسورو په مورد کې رساله یې لیکلی ده. هغه د ایرلند د سلطنتی کالج د رئیس په توګه وظیفه اجرا کوله.

پاولوف Pavlov (۱۸۴۹-۱۹۶۳):

ایوان پتروویچ پاولوف د روسیی معروف پوه او فزیولوژست و. هغه د روسیی په ریازیان کې زیږیدلی او په ۱۸۹۷ کې د ماسکو د تجربوی طب انستیتوت استاد شو. هغه د کلود برنارد وروستی دقیق مریدانو څخه حسابیږی او ډیر غټ اکتشاف یې د غیر ارادی اعمالو موضوع ده.

د هغو لـه جملـې څخـه د سترګو د اوښـکو توئيدل، لعابي ترشحات او نور شرطی عکسی دی. دغه تيوری په کال ۱۹۰۴ کې پاولوف ته د نوبل جايزه نصيب کړ.

وروسته په سن پترزبورګ کې د نظامی طب اکادمی استاد شو. د پاولوف مشهور موزيم په دې ښار کې موجود دی.

بروډمان Brodmann:

يو طبی مؤلف او د کار د آسانتيا لپاره يې په دماغ کې مختلفی خواوی وښودلی دماغ يې په مختلفو ساحو باندې ويشلی دی. دا تصنيف په دماغ کې د بروډمان د ساحوی په نامه مشهور دی. بروډمان اساساً دماغ پر اته څلويښت تر دو پنځوسو اصلی ساحو پوری ويشلی دی. خو که اضافی تقسيمات هم په نظر کې ونيسو ممکنه ده دا ساحی به تر يوسلو ساحو پوری ورسيږی.

يو بل المانی مؤلف چې ليخت Licht نوميږی هم دماغ په خپل فکر پر مختلفو ساحو باندې جلا کړی دی.

براون مستشرق Browne Edvard Grenville:

پروفيسور ادوارد براون د شعبان په اومه په ۱۲۸۷هـ کال چې د ۱۸۶۲م کال د فبروری له اومی سره مطابقت لری زيږيدلی دی. هغه تر ۳۷ کلنۍ پوری خپل سوانح په يو کتاب کې چې (يو کال د ايرانيانو په منځ کې) نوميږی ليکلی دی.

د ايران د ادبياتو د تاريخ لمړی ټوک د ترجمی د ديباچی په حاشيه کې يو ويشت ماخذ د هغه شرح حال ښودلی شوی دی. په لمړی مرحله کې د پلار په غوښتنه په طب کې اشتغال درلود. خو د هغه طبيعی تمايل او فطری ذوق هغه ادبياتو ته کښاوه براون دولس نوی طبی کتابونه او دوه ويشت وړی طبی رسالی ليکلی دی. او د هغه له ټولو آثارو څخه د ايران د ادبياتو تاريخ ډير مشهور دی چې له ۱۹۰۲ تر ۱۹۲۴م کلو يې په څلورو ټوکو او دوه زره دری سوه صفحو کې طبع کړی دی او د خپلو آثارو فهرست يې هم دوه کاله تر مرګه دمخه په يوه رساله کې چاپ کړی دی.

د نوموړی یو کتاب چې طب اسلامی Arabian Medicine نومیږی لیکلی دی چې د مسعود رجب نیا له خوا په فارسی ژبه اړول شوی دی چې په ۱۳۳۷هـ کال کې په تهران کې چاپ شوی دی.

ادوارد براون د جمادی الاخر په شلمه په ۱۳۴۴ کال او د ۱۹۲۶ کال د جون په پنځمه نیټه مړ شو.

سیر ویلیام ابورتون لین Sir William Arbbrthont (۱۸۵۶-۱۹۳۷):

د کسورو په درملنه کې د داخل محراقی اوسیتونتیز د طریقی په استفاده کولو کې مشهور و. هغه د صحی تعلیماتو د پروګرام د رامنځ ته کیدو کې چې تر اوسه موجود دی لومړنی ګام یې اخستی دی. د میوو او ترکاریو صحی استفادی په موخه په روزنامو کې خلکو ته درسی موضوعات نشر ته سپارل.

فریدریچ ترندلینبرګ Friedrich Trendelenburg (۱۸۴۴-۱۹۲۴):

په برلین کې زیږیدلی دی د ترندلینبرګ علامه د هغه تګ سره ملګری دی چې یو ځای د Coxofemoral Joint نیمګړتیاوی په کال ۱۸۹۵ کې یې تشریح کړ. هغه ریوی امبولیو قطع یې پیشنهاد کړ او د ده شاګرد Kirshner د څو کالو څخه وروسته په کال ۱۹۲۴ کې بریالی شو چې پورتنی ذکر شوی پروسیجر په بریالی سره اجرا کړی.

فریتز کوویروین Fritzde Quervain (۱۸۶۸-۱۹۴۰):

په کال ۱۸۹۵ کې د وتر پوښ مزمن التهاب یې تشریح کړ د تائیروئید ناروغی یې لکه کوخر مطالعه کړ او د مالګی ایودایز شوی جدول یی معرفی کړ.

پاری میری Pierre Marie (۱۸۵۳-۱۹۴۰):

هغه د کراکوت سره کار کاوه ترڅو د اعصابو بهترین پروفیسور شو. هغه د Peroneal عضلی اتروفی په مورد کې توضیحات ورکړی دی. نوموړی په اورتوپیدی کې ډیر ستر کارونه کړیدی او په دې عقیده و چې د فلج ناروغی یا Poliomyelitis د انتاناتو څخه منځ ته راځی.

لویس زاوویر ادوارد لیوپو لداولیر Louis Xavier Edouard Leopold Ollier (۱۸۳۰-۱۹۰۰):

په کال ۱۸۷۷ کې پیشنهاد وکړ چې «د دې دپاره چې د عظامو سؤ تشکلاتو څخه مخنیوی وکړو، ممکنه ده چې د هډوکی د نشو ونما څخه د Epiphyseal د سطحی د قطع کولو سره مخنیوی وکړو». په ۱۸۹۹ کې د اولیر ناروغی یې تشریح کړ. هغه د هډوکی د نشو ونما په برخه کې پراخه تحقیقات وکړ او په دې عقیده و چې یو وختی ممکن به شی چې د غضروفو د تحریک له طریقه د هډوکی کلک کیدل په هډوکی کیدل سره ناروغ معالجه کړو.

ویلیام کونارد رونتوجن (رونتګن) William Conrad Rontgen (۱۸۴۵-۱۹۲۳):

څرنګه چې هغه د فزیک پروفیسور په توګه کار کاوه، خو د X یا Rontgenrays شعاع کشف یې طبابت او بالخاصه اورتوپیدی لپاره د اهمیت وړ دی.

لومړنی رادیوګرافی یې د دسامبر ۲۲ کال ۱۸۹۵ کې د خپلی ښځی لاس واخیست رونتګن په کال ۱۹۰۱ کې د نوبل جایزه وګټله.

ابیل (جان جیک ابیل) Abel John Jacobel:

یو امریکایې معروف درمل جوړوونکی او د کیمیا پوهاند و. په ۱۸۷۵ کال کې د کلیولند په ښار کې زوکړی دی. نوموړی د معلم په توګه په کار پیل وکړ او له ۱۸۷۹ کال څخه تر ۱۸۸۲ پوری د اندیانا د لومړنیو ښوونځیو مدیر و. ده په ۱۸۸۳ کې د مشیګان په دارالفنون کې تحصیل کړی دی. وروسته له هغه شپږ کاله له ۱۸۸۴ تر ۱۸۹۰ پوری د برلین، سیترازبورګ، ویانا په ښارونو او نورو پوهنتونو کې د کیمیا علم په مطالعه بوخت شو. په ۱۸۹۱ کال کې د درملو جوړولو او علم تشریح پروفیسور وټاکل شو او د نسجونو په کیمیاوی ترکیبو او د حیواناتو په مایعاتو کې یې ډیرې تجربې او ډیرې ازموینې وکړې.

رابرت اسکود (۱۸۷۳-۱۹۵۶):

د لومړۍ ځل لپاره هغه آفت چې په ځوانی یا کهولت کې د قصبی یا Tibia په وتلو یا Tubercle کې منځ ته راځی معرفی کړ چې اوس د Osgood Schlatter,S Disease په نامه یادیږی.

جورج کلمینز:

د جرمنی پوه په کال ۱۸۹۸ د لومړی اکسری په واسطه د پرتیز Perthes ناروغی یې معرفی کړ. خو د ده اسیستانت دغه موضوع تر ۱۹۱۴ کال پورې نشر نه کړ.

د جرمنی ځخه البرت هوفا (۱۸۵۹-۱۹۰۷):

په خپل کتاب کې چې په کال ۱۹۰۳ کې لیکل شوی دی ټینګار یې کاوه چې دورانه دراس قطع کول باید معمول نشی. هغه دې نتیجی ته رسیدلی و چې د ورانه دراس ناروغی توبرکلوز (نری رنځ) تشکیلوی.

جورج اکسهاوسین (۱۸۷۷-۱۹۶۰):

د جرمنی ځخه و او لومړۍ کس و چې د Aseptecneerosis کلمه یې استعمال کړ. باید وویل شی چې په هغه زمانه کې د عظامو نکروز واقعات ډیر زیات و، انتی بیوتیک هم په هغه وخت موجود نه و او د غیر انتانی نکروز په هکله هم څه معلومات نه و. یو مضمون چې اکسهاوسین په کال ۱۹۱۰ کې لیکلی دی ویلی و: «د کسورو ټولو نهایاتو کې نکروز منځ ته راځی چې وروسته د سمحاق یا Perioste نسجی تکثر پواسطه عوض کیږي».

بایدوویل شی چې فرانسوی Jacque Calve (۱۹۵۴-۱۹۷۵)، امریکایي ArthurT.Legg (۱۸۷۴-۱۹۳۹) او جرمنی Georgeperthes (په کال ۱۹۱۰) کې د Perthes ناروغی یې توضیح کړل.

Russell.A.Hebbs (۱۸۶۹-۱۹۳۲):

د نیویارک د اورتوپیدی روغتون کې کار کاوه په کال ۱۹۱۱ کې راپور یې د مزدوج کیدلو تخنیک نشر کړ. نوموړی لومړنی نخاعی امتزاج یې پر توبرکلوز او عین عملیه پر Scolilsis اجرا کړ.

Joel Godth Wait (۱۸۶۷-۱۹۶۱):

د بوستون ډیر ښه اورتوپیدو. هغه ډیره علاقه د دریدلو او په لاره تللو ډول ته درلود. او یوه نشریه یې هم خپره کړې ده.

Ser Robert Jones (۱۸۵۵-۱۹۳۳):

اکثرو دغه عقیده لری چې نوموړی د جراحی اورتوپیدی په بین المللی سطح کې ډیر ښه بنسټ ایښودونکی دی، چې تر هغه وخته د ده نظیر ندی لیدل شوی.

جویس تونیل Juies Tonel (۱۸۷۹-۱۹۵۲):

د پاریس د روین ښخه دی په لومړی نړیوال جنګ کې د اعصابو داکتر و چې د لومړۍ ځل لپاره د Tenil علامه یې په کال ۱۹۱۷ کې توضیح کړ.

پول مد مګنسن Paul Budd Magnuson (۱۸۸۴-۱۹۶۸):

په لومړی بین المللی جګړه کې د اورتوپیدی د څانګې انسیتانت و چې د تسلیخ په کوټه کې د قدر وړ تجارب یې لاس ته راوړ. د تروما او ترضیض په برخه کې زیات تجارب حاصل کړ. یو کتاب یې نشر کړ چې د کسور Fracture په نامه یادیدل.

Paul.N Jonson (۱۸۹۳-۱۹۴۹):

د جنګ په جریان کې امریکایي عالم دی چې دولکمن کارونه ته ادامه ورکړ او اسکمیک کانتراکتورونه په حیواناتو کې مطالعه کړ. یو کتاب یې چې په ۱۹۱۲م لیکل شوی دی یادونه کړې ده چې داسی کانتراکتورونه کیدای چې چټک غیر فشاری عملیاتونو سره اصلاح شی.

روسی عالم M.J.Arinkin:

په کال ۱۹۲۷ کې د چناغ (عظم قص) سوری کول د یوې تشخیصی پروسی په توګه، کله چې د لیننګراد اردو کلنیکونو کې کار کاوه، معرفی

کړ، چې کیدای شی د هډوکو میتاستاتیک ناروغیو کې د دغه میتود څخه استفاده وشی.

د جراحانو د ډلی څخه چې د Hugh Owen Thomas کارونه تعقیب کړ او د Robert Jones سره یوځای کار کاوه Thomas Porter Mcnurrayo دی چې د اورتوپیدی په عرصه کې (۱۸۸۸-۱۹۴۹) کلونو کې وارد شو. نوموړی په بیلفست کې زیږیدلی شوی خو په لیوارپول کې کار وکړ. د ده سرعت عمل او تیز لاسی دومره و چې د زنګون څیری شوی منسک یی د زنګون څخه لیری کړ او د هانش مفصل یی په لسو دقیقو خلاصاوه. نوموړی آثار او مقالی لری.

ریچارد کلیازی Recardic Galeazzi (۱۸۶۶-۱۹۵۲):

په میلان کې زیږیدلی د هانش مفصل ولادی خلعی او ساختمانی Scoliosis کې ډیرې تجربې لرلی، خو د نوموړی تشریحات د ساعد په کسورو کې په کال ۱۹۳۴ کې ډیر شهرت پیدا کړ او دغه کسرونه د ده په نوم مسمیٰ شول.

ویلیس کمبل Willis Campbell (۱۸۸۰-۱۹۴۱):

امریکایی طبیب و چې د Inter Positional Arthroplasty له طرفدارانوڅخه و. نوموړی یو ترانسپلانت د Fascialata د ناروغ دورانه د ناحیې څخه په دوو لایو استفاده وکړ چې نومه ساحه یې داخل طرف ته وه.

د هغه هدف د اناتومیکی ساحی اعاده نه وه بلکې غوښتل یې چې د هغه وظیفوی توانایي دوباره اعاده کړی.

ګریهارد کونسچر Gerhard Kunhscher (۱۹۰۰-۱۹۷۲):

په دویمه نړیواله جګړه کې د جرمنی په اردو کې کار کاوه نوموړی د عظامو داخل محراقی اوستیوسنتیز کې د کانال په داخل کې د میخ یا پیچ پواسطه پیشنهاد کړ. هغه غوښتل چې د اورتوپیدی په مسلک کې دې یو انقلابی تحول محاسبه شی، پدې توګه د هغه نوم د میخ او Nail سره مترادف دی.

مارتین گریشنر Martin Krischner (۱۸۷۹-۱۹۴۲):

نوموړی یو مخصوص سیخ اختراع کړ چې د Kirschner او یا K.Wire په نامه یادیږی، مشهور دی. لومړنی کس و چې د سړو آمبولی یې په بریالی توگه ایستلی دی.

سر ریجنیالد واتسون جونزSir Reginald Watson.Jones (۱۹۰۲-۱۹۷۲):

په دویمه نړیواله جگړه کې د لیوارپول مشهوره څیره وه. د استادانو په منځ کې هغه د کسورو په درملنه کې رهنما استاد و. نوموړی په کال ۱۹۴۰ کې د کسورو او مفاصلو جروحاتو په مورد کې یو کتاب نشر کړ چې د څو لسیزی لپاره په اورتوپیدی او تراوماتولوژی کې ډیر قوی مؤخذ و او په څو نورو ژبو ترجمه شوی دی.

Albert.J.Schein:

په کال ۱۹۴۲ یو مطلب یې د Gaucher ناروغي په هکله نشر ته وسپاره چې دورانه د ناروغیو یو اسباب گرزیده. دغه موضوع ډیره مهمه وه، ځکه په هغه زمانه کې اکثره دغه واقعات تفریقی تشخیص کې د Perthes Disease سره مغالطه کیده.

اوستین.تی.مور Austin.T.Moore (۱۸۹۹-۱۹۶۳):

امریکایي طبیب و چې د لومړۍ ځل لپاره دهانش مفصل یې په فلزی مفصل تعویض کړ.

د کلونو څخه وروسته نوی مصنوعی مفاصل طرح شول، او نوي تطبیقی پروسی او میتودونه ډیر انکشاف وکړ. خو اوس هم دغه ډول مصنوعی مفاصل موجود دی چې د Austin Moore په نوم اوس هم یادیږی او تر اوسه ور څخه استفاده کیږی.

کونت لیندوبلوم Kunt Lindoblom:

نوموړی په کال ۱۹۴۸ استاگهولم کې یوه موضوع نشر کړ چې د رادیو اوپک د زرق تخنیک یې نخاعی کانال په مورد کې و. دغه طریقه د Myelography په نامه یاد وی چې اوس هم په خاصو استطبابی مواردو کې د هغه څخه استفاده کیږی.

اج لوری رش H.Lowry Rush (۱۸۷۹-۱۹۶۵):

په کال ۱۹۴۹ کې کلک فلزی میخونه یې د عظام طویله کسورو په درملنه کې د استفادی وړ وګرځاوه.

سر جون چرنیلی Sir John Charnely (۱۹۱۱-۱۹۸۲):

په کال ۱۹۵۰ د مانچستر څخه کلاسیکی کتاب یې د غیر تهاجمی یا د کسورو بې عملیات څخه ولیکل (د عظامو تړلی کسور میتود). نوموړی دهانش مفصل مکمل تبدیل د سیستم تطبیق په اختراع کې مشهور دی.

رونالد لاوری هوکستیپ Roland Lawrie Huckstep:

په استرالیایی اوتوپیدستانو کې نوموړی د اورتوپیدی په بخش کې ډیر ښه استاد و. نوموړی په ۱۹۵۲ کې د لندن د Middlesex روغتون څخه فارغ شو. وروسته کمپالا د یوګندا په مرکز کې د پولیو ناروغی په مورد کې ډیر زیات خدمتونه وکړ. په یوګندا کې ډیر زیات عملیاتونه یی د هغو کسانو په نجات کې چې ولادي ناروغي او ولادی سؤ تشکلات درلودل اجرا کړل. نوموړی په لومړۍ ځل په ۱۹۶۷ کې فشاری میخونه او په کال ۱۹۷۹ کې بې له سمنتو څخه دهانش مفصل قفل کولو میتود یې اختراع کړ. په ۱۹۷۲ د New South Wales پوهنتون کې د جراحی اورتوپیدی او تراوماتولوژی د پروفیسوری کرسی بنیاد یې کیښود پنځه کتابونه یې لیکلی دی.

الن ګراهام اپلی Alan Grham Apley:

انګلیسی اورتوپیدی جراح په کال ۱۹۱۴ کې په لندن کې زیږیدلی دی.

په معاصر تاريخ کې د طبابت نوښتونه او پرابلمونه

د اتلسمی پیړۍ دویمه نیمایي کې د روسیي مسکو ښار کې د شکسته بندی یو ښوونځی پرانستل شو.

د اتلسمی پیړۍ په نیمایي کې ټول هغه معلوماتونه چې کوچنیانو او کاهلانو کې د ولادی او کسبی سؤ اشکال په حرکی سیستم اتکا کې د پروفیسور اندری چې په پاریس کې د فزیک د دیپارتمنت آمر ؤ په ۱۷۴۱ کې لیکلی دی چې په هغه زمانه کې د لومړۍ ځل لپاره د اسکلیت شکسته بندی ټول پخوانی معلوماتونه یې د اورتوپیدی یا د اسکلیت سؤ اشکال د فن وقایه او معالجه په کوچنیانو کې د مور او پلار له خوا او هغه څوک چې د کوچنیانو په روزنه کې سره کار لری، په پخوانی مباحثو کې توضیح ورکړل شول.

«د کوچینانو درسته فزیکی تربیه» د کتاب په دویم ټوک یې آندری د بدن د اصلاح لپاره نارمل پوزیشن، (S) مانننده انحرافی په هکله ولیکل، او لومړۍ کس و د کوچینانو ولادی خلع (CDH) او د پنډۍ مختلف سؤ اشکال ته متوجه شو او د کوچینانو درسته ترلو او ډیر زر قدم اخستل ضررونه یی توضیح کړل. او د دغه سؤ شکل د اصلاح لپاره، د کړی ونې یوه سیخه (راست) پایه وترل شی، سیم یې کړ او توضیح یی ورکړ چې که د ونې نشو د نمایی پروسه کې سم لرګی وترل شی د تنی د سؤ شکل څخه مخنیوی کیدلای شی. چې دغه رسم اوس د اروتوپیدی بین المللی سمبول پیژندل شوی دی.

ر.ر ویردین د آندری د نظریاتو په توضیح کې لیکی: «اورتوپیدی د جراحی څخه یوه بیله شوی اختصاصی څانګه ده چې د ولادی او کسبی ټولو سؤ اشکالو، اطرافو، فقراتو، مختلفی پتالوژی ګانی، تروماتیک آفات، د عظامو نری او همدارنګه د حرکی سیستم اتکا ارجاعی عملیاتونه او مفاصل او د مفاصلو پروتیز مطالعه، تحلیل او درملنه په برکې نیسی»[۱].

د مسکو د تراوماتولوژی کالج د ی.او.موخین له خوا چې د روس لومړنی تراوماتولوګ ویلای شو، تاسیس شو. نوموړی د تراوماتولوژ او اورتوپیدی په برخه کې شل کتابونه او مونوګرافونه ولیکل چې ډیر مشهور یې د «د هډوکو د علم اساسات ۱۸۰۶» دی چې کیدای شی د روسی ژبی لمړنی سیستماتیک درسی کتاب وی چې په هغه کې د خلع او کسرونو خلع،

۱- دوکتور سیاووش، تاریخچه اورتوپیدی در افغانستان و جهان ۲۰۰۶کابل، ص-۵۹

د درملنې میتود او د آمپوتیشن د عملی اجرا د لاستکونی په میتود چې تر اوسه د استفادی وړ دی، ځای ورکړل شوی دی. په کال ۱۸۱۳ په روسی ژبه دری ټوګه اناتومی یې ولیکل. لنډه دا چې د نولسمی پیړۍ په پیل کې د اورتوپیدی دوه ښوونځی په لیننګراد او په ماسکو کې د جراحی او اورتوپیدی طبی اکادمی وجود درلودل.

د روسیی یو ډیر مشهور عالم نیکولای ایوانویچ پیراګوف (۱۸۱۰-۱۸۸۱) دی چې د شوروی په طبابت کې یی د حرب جراحی بنسټ یې کیښود. نوموړی د کریمیا د جګړې په جبهاتو کې او در روسی او عثمانی ترکانو په جګړه کې د لومړۍ ځل لپاره د نرکوز په موخه دایتر ځخه او د پلاستر ځخه د معالجوی – ترانسپورتی تثبیت کوونکی په حیث استفاده وکړه. نوموړی د هیماتوم رول په Regeneration Reparative هډوکو کې یاد کړ.

نوموړی د تدریس لپاره له اناتومی او د اجسادو یخ وهلی اسکلیت اناتوموتوګرافی مقطعونه اماده کړل. د نوموړی د لاسته راوړونو ځخه یې یو هم د پیراګوف په میتود د قدم آمپوتیشن و چې د Sayme آمپوتیشن سره شباهت درلود، خو په یو تفاوت او Modificartion چې د -Talo navecular مفصلی سطحی قطع شوی مقطع د انبورقضی شعبی قطع شوی مقطع د اوستیو پلاستیکی سره په یو تماس کې قرار ورکول کیږی.

د نولسمی پیړۍ په منځنیو وختونو کې د پروتیز په هکله نوی معلوماتونه چاپ شول. په کال ۱۸۰۸ کې ی.پ.کولیبن لومړنی مفصل لرونکی پروتیز یې جوړ کړ. د انتی سپتیک په عصر کې د مختلفو اورتوپیدی عملیاتونو زمینه مساعده شوه. نیکولای دینی او نور چې ډول ډول عملیاتونه یې په عضلی مفصلی اپرات کې لکه Osteotomy, Resection او عظمی پلاستیک اجرا کړل. د نولسمی پیړۍ او یا یمو کلونو کې جراحاتو د مفاصل کاذب د درملنې طریقی پیشنهاد کړل او د مختلفو موادو سره اوستوسنتیز یې اجرا کړل.

په کال ۱۸۷۶ د درپیت انستیتوت د هډوکو مشهور جراح د ک.ک.رییر په نامه یو کتاب یې (د مفاصل کاذب د درملنې په باره کې او د مفاصل کاذب درملنې ناوړه نتایج) د دیفون باخ په میتود تشریح او تحلیل کړ. په کال ۱۸۹۲ کې پروفیسور و.ی.کوزمین د اوږدو هډوکو کسرونو په دوو واقعو کې د هډوکو په داخل کې د فلزی Screw ځخه استفاده وکړه.

د نولسمې پېړۍ په وروستيو کې رونتګن په ۱۸۹۵ کې د ايکس شعاع يې اختراع کړ چې د عظامو په تشخيص او درملنه کې موثر رول لوبولی دی چې د هغه په واسطه حرکي اتکا سيستم پتالوژی او تراوما په ښه صورت سره تحليل او ارزيابی شی او ورسره د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د اورتوپيدی مختلف کلنيکونه مينځ ته راغلل.

Lorenz د Club foot اناتوميک خصوصيات، د DH اطفالو ولادی خلع، Flat foot او Operative او Conservatioe درملنې يې توضيح او تشريح کړل.

په کال ۱۸۹۰ د لينګراد د نظامی طب په اکاډمی کې د لومړۍ ځل لپاره د پلاستر او جراحی حرب درسونو سيکل درسی پروګرام کې شامل شو. په کال ۱۹۰۰ کې د لينګراد نظامی طب اکادمی کې د تراوماتولوژی او اورتوپيدی لومړنی کافدرا بنسټ کيښودل شو چې په لومړيو کې ۶۰ بستريې درلود.

د هغی زمانی په روسيه کې د اورتوپيدی او تراوماتولوژی د ښوونځی بنسټ ايښودونکی ګنريخ ايوانويچ تورمز بللای شو. په کال ۱۹۳۱ يو انستيتوت يې د معيوبو کوچينانو فزيکی قابليت اعاده کولو په نامه جوړ کړ چې تر ۱۹۴۱ کال د ژوند تر وروستيو کلونو د دې انستيتوت دايرکتر و. د هغه عمده کارونه په لاندې ډول دي:

- د پلاستر نوی تخنيک
- د Patella سابقه کسرونو درملنه
- د فقراتو توبرکلوز
- د مارشی قدم کسور
- د فقراتو انومالی، په خاصه توګه Spina Bifida او Spondylolesthesis
- د کسورو په تداوی کې اسکليتی کشش او د هغه بدلول په پلاستر سره
- او د تورنر تجربی د عصبی سيستم رول د کسورو په تداوی او التيام کې، يادولای شو.

د لينګراد (سن پيترزبورګ) نظامی طبی اکادمی د اورتوپيدی او تراوماتولوژی کافدار چې د تاسيس څخه يې سل کاله تيريږی نړيوال پرستيژ

لری او ډېر عالی مقام استادان لکه سرګی ستیپانویچ تیکه چینکه، د یمیانوف، یسټربکوف، ګریتسانوف، شپه والوف، دولایوف، اوپرکیف، ابوشینکه، بالاووسوف، دیدوشکین، ګایدوکوف او نور یې تربیه کړی او د پخوانی شوروی اورتوپیدستانو کولکتیف او نړۍ ته وړاندی کړی دی.

سرګی ستیپانویچ تیکه چنکه Cirgi Stepanovich Teka Chenka:

پروفیسور تیکه چینکه په شوروی کې د نظامی اورتوپیدی او تراوماتولوژی یو له بنسټ ایښودونکو څخه دی د نوموړی علمی تحقیقات لاندې مسایل په برکی نیسی لکه عظمی پلاستیکونه، داخل عظمی انستیزی پر ناریوی تراوما، د عظمی Regeneration Reparative پروسی تسریع، د تثبیتی طریقو موثریت او ډولونه یې په حوصله کسورو او فقراتو پتالوژی کې د اختلاطاتو مخنیوی دی.

نوموړی د ۵۰۰ علمی آثارو مولف دی چې په جمله کې یې ۲۲ مونوګرافونه او درسی کتابونه شامل دی.

پروفیسور تیکه چینکه ۱۷۰ نوی لاس ته راوړنی او اختراعو مولف دی چې له هغو جملی څخه د فکساتور څو سوری لرونکی پلکونه د فقراتو کسور لپاره، حلقوی سیستم او سینتوسنتیز د محراقی څخه د باندې د خلفی Spondylosis میتود د وړاندیز شوی رادونو په واسطه چې د ده په نوم یادیږی او نورو څخه یادونه کولای شو.

نوموړی په نړیوال کانفرانسونو او کانګرسونو په امریکا، سویس او کیوبا کې اشتراک کړی دی. او مسلکی سفری کارونه یې څو ځلی بلغاریا، دیموکراتیک المان، هنګری، چک سلواکیا او افغانستان ته کړی دی. همدارنګه د مخترعینو په یو ځلویښتم نړیوال نمایشګاه کې (د افریقا -۹۲ په نامه) په بروکسل کې د طلایی مدال په اخستلو بریالی شو.

د افغانستان د نظامی اورتوپیدی او تراوماتولوژی بنسټ ایښودونکی لکه اکادمیسن پروفیسور محمد موسیٰ وردګ، محمد نصیر فیضی، دوکتور محمد رحمان، دوکتور محمد ایاز، دوکتور عبدالرزاق سیاووش، د دغی کافدارا شاګردان دی چې د اورتوپیدی او تراوماتولوژی مسلکی اساسات یې په دغه کافدرا کې زده کړی دی.

ک.خ خورن د پروفیسور رییر شاګرد په کال ۱۹۰۲ د اورتوپیدی یوې نوې موسسی د حرکی اتکا سیستم د ترضیضاتو درملنې لپاره چې د

پروتيز يو ورکشاپ يې هم درلود بنسټ کيښود خوتر پرانستلو د مخه له دی نړۍ څخه سترګې پټې کړی.

ويريدين له جنګ څخه په اورتوپيدی او تراوماتولوژی کې نوی لاس ته راوړنی لری چې د اورتوپيد په توګه د نړۍ په سطحه وپيژندل شو. نوموړی د عملياتو شل طريقی پيشنهاد کړی چې د هغو له جملی څخه د مفصل هانش Arthroplasty، د زنګون Halluxvalgus طريقی عمليات او د Flat Foot عملياتونه او د عنق الدم ارتروديز څخه نوم اخستلای شو. د ده د لارښونی لاندې پراکتيکی اورتوپيدی Text Book وليکل شو.

په کال ۱۹۰۷ کې د پروفيسور ک.ف ويګنر تر لارښونی لاندې په خارکوف کې طبی ميخانيکی انستيتوت پرانستل شو. همدارنګه د شوروی څخه باندنی هېوادونو په اورتوپيدی کې ډېر مهم انکشافات مينځ ته راغلل چې له دغو جملی څخه کولای شو د Tubersitas Tibia استحالوی اوستيو کاندروز د ناروغی تشريح په کال ۱۹۰۳ کې د Osgood او Shlater له خوا اخستلای شو.

همدارنګه په کال ۱۹۰۸ تر ۱۹۱۴ Keller د Navicular اسپتيک نکروز عظم د قدم د دويمی ګوتی راس ميتاترس تشريح کړل. په کال ۱۹۱۰ په کوچنيانو کې Legg Calveperthes د Sosteoeondropathy په نوم وليکل شو.

په کال ۱۹۲۱ Sheurmann او څه موده وروسته Mau په کال ۱۹۲۴ کې په کوچينانو کې د Dystrophic آفاتو په برخه کې مفصل توضيحات ورکړل شو.

په کال ۱۹۱۸ کې د کازان اورتوپيدی انستيتوت تاسيس شو او په کال ۱۹۲۱ په مسکو کې د ن.ی.پيروروف په ابتکار معالجوی موسسه او د مسکو پروتيز انستيتوت تاسيس شو. په ۱۹۴۰ کې په دغه انستيتوت کې ميتوديکی لارښود د ترومانيزم پر ضد مبارزه او د اورتوپيدی او تراوماتولوژی اختصاصی مرستو اورګانزيشن چاپ شو چې په دی اساس د دغه انستيتوت نوم د اورتوپيدی او تراوماتولوژی مرکزی علمی تحقيقاتی انستيتوت (سيتو) په نامه ياديږی.

په کال ۱۹۲۱ د خارکوف طبی انستيتوت د پروفيسور م.ی.ستيسنکه له خوا بنسټ کيښودل شو. نوموړی د کاذبو مفاصلو درملنه، عظمی استيوپلاستی، ناريه جروحاتو درملنه کې زيات زحمتونه ګاللی دی. د ی د لومړۍ ځل لپاره د کوچينانو د اورتوپيدی وقايوي- معالجوی مرکز بنسټ

کیښود چې په هغه کې نه یوازې درملنه صورت نیو بلکې د اورتوپیدی د کادرونو مسلکی روزنه هم کیدله. په کال ۱۹۴۰ کې وروسته د ده له مړینې د اوکرائین د اورتوپیدی او تراوماتولوژی علمی تحقیقاتی انستیتوت د ده په نامه ونومول شو.

د دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته اورتوپیدستانو کوښښ کاوه ترڅو داسې میتود پیدا کړی چې د هغه په واسطه د کسرونو ډیره ښه درملنه د میخواو فلزی سیمونو څخه استفاده وکړی. د فلزی الیاژونو معرفی ډیر ښه موثریت یې ثابت کړ، یو بل ګروپ د باکیفیته او ډیر ښه مصنوعی مفاصل چې ډیر مستحکم ولاس ته راوړل چې د کسورو د پرابملونو د حل او تداوی څخه برسیره، د مفاصلو په التهاب کې هم ورڅخه ګټه اخستل کیده.

انتی بیوتیک او د کسرونو او ناروغیو د تشخیص ښه هم انکشاف وکړ. پوهانو په وروستیو کلونو کې د عظامو التیام په ابتدایي او ثانوي شکل د عظمی نسج Regeration Reparative سوالونو حل ته ډیر مصروف شول. دغه پوهان عبارت وو له ا.و. روساکوف، ت.پ ووینو ګرادوف، ګ.ی لفریشوو، و.ی.استاسوولا، ی.ګ دبروف او نور.

د و.ا چرنوفسکی، ګ.س یوماشوف، م.و.ولکوف، او.ن ګودوشاووری علماو تحقیقات وښودل چې د کسورو په معالجه کې د Conservative او Operative میتودونو استفاده او استطباب مطلق نشی کیدلای، د هری طریقې استطباب باید په انفرادی ډول او د یو تعداد بیولوژیکی، میخانیکی، انذاری او ایتولوژیکی فکتورونو په نظر کې نیولو سره کیښودل شی.

پروفیسور الیزارووف Prof. Govril Abramovich Ilizarov (۱۹۲۱-۱۹۹۲):

پروفیسور ګاوریل ابراموویچ الیزارووف د ۱۹۲۱ کال د جون د میاشتی په ۱۵ نیټه د پخوانی شوروی اتحاد په کوسکاس کې زیږیدلی دی. د نوموړی مور او پلار بې سواده وو او تر ۱۱ کلنۍ پورې زده کړې باندې شروع نه دی کړی. دا ځکه چې د هغې زماني د ښوونځی بوټ، لباس او یونیفورم یی د اقتصادی کمزورتیا له کبله نشو تهیه کولای.

هغه په کال ۱۹۳۹ د Simpherl Medical School of Kerimia ښوونځی کې شامل او په کال ۱۹۴۴ کې فارغ شو او ډیر ژر د سایبریا د قورغان په منطقه پراکتیکی طبی مرحلی کې داخل شو. سره د دې

چې پـه رسـمی توګـه د جراحـی پـه برخـه کـې لازم تعلیمـات نـه ولیـدلی خـو یواځنی طبیب و چې په هغه منطقه کې په کار پیل کړی و. د دغی پراکتیکی دوری او په ۱۹۵۰ کلونو او د هغه څخه وروسته د اورتوپیدی ډیرو زیـاتو مختلفو واقعـاتو سره مخـامخ شـو او دا هغـه وخـت سره تصـادف کـوی چـې د کسورو په درملنه، سؤ اشکال او عظمی دیفکتونو طرح او اختراع کړ چې د اورتوپیدی په مسلک کې یو علمی انقلاب پـه توګـه محسوبیږی. پـه همدغـه کال د اوستیو سنتیز خارج محراقی په مورد کې د حلقو پـه واسطه او متقابل الراس سیخونو تیرولو راپور ورکړ خو د پاملرنې وړونـه ګرځید. پـه کـال ۱۹۶۰ کې د لومړی ځل لپاره د طویله عظامو دیفکت اوږدکولو تر ۱۰ انچو تجربـه کړ او ثابتـه یـې کـړه چـې د مکسـوره محراقـاتو Compression Destrution عملیـه د ده د ایـرات د اسـتفاده کولـو پـه صـورت کـې د التیـام پروسه تحریک کیدلای شی.

د دغه میتود په استفادی سره وی کړل شو چې د اولمپیک د لوړخیز یو قهرمـان چـې والـری بورمیل نومیده پارچـه یـې کسـر پـه کـال ۱۹۶۷ کـې تـداوی کـړی چـې دغـه قهرمـان د پنـدی یـو خـلاص کسـر ۱۴ ځلـی مخکـې د الیزارووف د وروستی مداخلی څخه عملیات شو. د پروفیسور الیزارووف میتود په کال ۱۹۸۱ د یو ایتـالوی طبیب Prof.A.Bianchi-Maioecchi پواسطه لویدیز ته انتقال شو.

نومـوړی نـه یـوازی د شـوروی اتحـاد اکادمیسـن پـه توګـه انتخـاب شـو بلکې د نړۍ د اورتوپیدی تر ټولو لوی روغتون چې په سـایبریا کـې موقعیت درلـود رهبـری کـړ. دغـه مرکـز د قورغـان د اورتوپیـدی او تراومـاتولوژی علمي- تحقیقاتی اتحاد یې په نامه یادیده.

نوموړی په کال ۱۹۵۲ لومړی ځل د سیخونو تیرول چې پـه عمـودی ډول د عظم د مقطـع څخـه تیر شـوی، متقابل الـراس زاوی یـې سـره مینځ تـه راوړلې او یاد شوی سیخونه د دستګاه په حلقوی سیستم کـې تثبیـت کیـدل چـې حلقـی د ارتبـاطی رادونـو پواسطه مرتبط کیدل، توضیح کړ. نومـوړی دغـه سیستم ته د محراق څخه د باندې اوستیوسنتیز (اوستیوسـنتیز خـارج محراقـی) یـا د عظمـی مکسـوره محراقـاتو دسـتګاه Compression-Destruction ونومـول. یـو کـال وروسـته دی او ګودشـاووری نـیم حلقـوی خـارج محراقـی سیستم ایرات یې پیشنهاد او ثبت کړل. دواړه د اورتوپیدی پـه مسـلک کـې د وخت د دولت د کار قهرمانان ډیری لوړی دولتی جایزی وګټلی.

په کال ۱۹۸۸ د ادیسه په ښار کې د اورتوپیدی او تراوماتولوژی نړیواله کنګره کې د الیزارووف اپرات د بیومیخانیک له نظره ډیر مقاوم، ډیر موثر د نورو پیشنهاد شویو اپراتو په پرتله وپیژندل شو. په لنډه توګه ویلای شو چې دغه اپرات د معالجوی کلاسیک تثبیت (پلاستر، اسکلیتی کشش، اوستیوسنتیز داخل محراقي) د دریو طبی تخنیکی ټول خصوصیات په ځان کې لری.

د الیزارووف د اپراتو عمده خصوصیات په دې کې دی چې دواړه حلقی په ځانګړی ارتباط سره او دا دوه حلقی د نورو حلقاتو سره په یوه مجزا ارتباط کې سره قرار نیسی چې په نتیجه کې ویلای شو د Monofocal (د یو مکسوره محراق تثبیت) Bifocal او یا د Trifocal او د هغه زیاتو څخه استفاده وشی.

نوموړی د سایبریا په قورغان کې ۱۵۰۰ بستریز تحقیقاتی انستیتوت یی اداره کاوه چې ډیر شاګردان یې روزلی چې د هغو له جملی څخه یو هم و.ی.استاسولادی د هغه ډیر برجسته شاګرد و.

دی برسیره پر مسلکی کارونو د دوما د مجلس غړی هم و. دی د ۱۹۸۵ کال څخه وروسته په نړیواله سطحه په ټولو اثارو او طبی لتیراتور کې پیژندل شوی شخصیت دی. نوموړی ۴۱ کاله د اورتوپیدی په عرصه کې کار وکړ ترڅو په ۷۱ کلنی کې په کال ۱۹۹۲ سترګی پټی کړی. په دغه موده کې ډیر زیات کلنیکی میتودونه یی د عظمی نسج درخوه انساجو اعاده، ترمیم او احیا، ته انکشاف ورکړ چې د ۲۰۰۰ نشریو څخه زیات په دغه انستیتوت کې چاپ شول چې ټول یې د الیزارووف د الی کلنیکی نتایجو، بیولوژیکی مطالعاتو، تخنیکی تحقیقاتو په مورد کې لیکل شوی دی.

نوموړی د نړی په سطحه د ۵۰۰ څخه زیات نشریی او لکچرونه د خپل تخنیک په هکله نړۍ ته وړاندی کړی دی. پر ځای دی چې نوموړی په اورتوپیدی کې د شلمی پیړۍ افتخار وویل شی.

په وروستیو کلونو کې نور عالمان او مولفین لکه و.ک کالنبرز، م.و ولکوف، ا.و اوکانیسیان، ک.م ساوش، س.س. تیکه چینکه، و.ی فیشکین، و.ا. اورکیف، و.س. ابوشینکه، ا.ی. ګریسانوف، اکادمیسن پروفیسور محمد موسیٰ وردګ، او نورو د دغی طریقی په تکامل او پراختیا کې د قدر وړ کارونه کړی دی.

د اورتوپیدی او تراوماتولوژی علماو ډیری مهمی لاس ته راوړنی د عظامو Auto, Homo, Hetro Plastic انکشاف دی چې په سرکی یې د

عظمـــی انســاجو ترانسـفر کـول، او تـوجن قـرار لـری. م.ی سـیتنکه، ا.ر ارویبیریدین، ن.ب نوا جینکه، و.د. چاکلین او نور د انکشاف پـه لاره کې یې د قدر وړ علمی تحقیقات کړی دی.

د شلمی پیړۍ شپږمه لسیزی کې د عظمی انساجو کانسرو شوی مړه انساج په بریالی سره په پراتیـک کې پلی شو. همدارنګه د هډوکو پـه بانـک کې د عظمی انساجولیو فلزی کولو لپاره د خلا د میتود څخه پـه ګټه اخستنی د مولف ګ.س. یوماشووف له خوا بنسټ کیښودل شو.

همدارنګـه و.م دیمیـانوف چـې پـه اتیـایمی لسـیزی کـې د روغتیـا د معـاذبرو لـه کبلـه د نظـامی برخـی څخـه تقاعد وکړ او د لیننګراد د کوچینـانو اورتوپیدی انستیتوت یې رهبری کـاوه د اورتوپیدی یو لړ زیـات اپراتونـه او تجهیزات یې اختراع کړی دی چې د هغو له جملی څخه یوه هم ګونیا (زاویـه سنج) ده چې د عنق فخذ پـه عملیـاتو کـې د استقامت پیدا کول دی چې عنق فخذ پـه اوستیوسنتیز عملیـات کـې د Smith Peterson Nail پواسـطه صـورت نیسـی. دا پـه هغـه وخـت کـې وی چـې فلورسـکوب موجـود نـه و. همدارنګه په معاصر طبابت کې تشخیص وسایلو هم پراختیا وموند لکه: اون بروګر Auenbrugger (۱۷۲۲-۱۸۰۰) د ناروغی د محراق د څرنګوالی په تشخیص کې قرع یا Percussion یې ور زده کړ. لائنیـک Laennec فرانسوی طبیب په کال ۱۸۱۰ کې استاتسـکوپ یـی د زړه او سږو د اوازو د تشخیص لپـاره پـه کـار یوړ. هلم هولتز Helmholtz پـه کـال ۱۸٥۰ کـې افتلمسکوب یې د قعرعین د مشاهدې او معاینې لپاره په کار یووړ.

د نولسمی پیړۍ په منځنیو کې چې برق کشف شو برقـی دستګاوی د مثانی د ننه لیدلو لپاره سیتستوسکوپ، د قصبـاتو داخل لپـاره برونکوسـکوپ، د مری د ننه لپاره ازوفاګوسکوپ، او د معدی لپاره ګستروسکوپ د ناروغیو د تشخیص لپاره په کار ولویدل.

کیمیا خصوصاً عضوی کیمیا په تـدریج سره تکامل وکړ او د ادرار، د معدی افرازات او ترشحات، وینـه او نـور پـه لابراتوارونـو کـې د تشخیص لپاره په کار یوړل شول.

د سپینو ګلوبولونو ډولونو تعیین (لوکوسیتر فورمول)، د ادرار شوکی نخـاع مـایع وینـی او نـور افـرازات د اجسـامو مشـاهده پـه لابراتـوار کـې د نـاروغیو د تشخیص لپـاره پـه کـار یـوړل شـول. همدارنګـه د تومـور نسج پـه میکروسکوپ (بیوپسی) کې مشاهده د تشخیص لپاره زیاته مرسته وشوه.

لنډه دا چې د نولسمی پیړۍ په وروستیو او شلمی پیړۍ په لومړیو کې د ناروغیو تشخیص وسایل دومره تکامل وکړ چې په بستر کې د ناروغ معاینه لابراتوار، اکسری خونی او نورو ته انتقال شو. ترڅو د ادرار، وینی، غایطه مواد او نور او د زړه، سږی، معده، بډوډو او نورو عکس اخستل درست تشخیص لاس ته راوړل شی.

د بیهوشی او نرکوز لپاره په کال ۱۸۴۱ کې جاکسون امریکایی طبیب دایتر د بیهوشی کولو تاثیر باندې پوه شو او په کال ۱۸۴۷ سیمسون د ښځو د ناروغیو انګلیسی متخصص د بیهوشۍ په موخه کلورو فورم یې په کار یوړل او د ایتراوکلورو فورم د کشف سره جراحی عملیاتونه بې له درد او ناراحتی څخه میسر شو.

ویلیام جی مور (۱۸۱۹-۱۸۶۷) انشاقی انستیزی یې عملی کړ.

زمل وایس Semmel Weiss (۱۸۱۸-۱۸۷۰) اتریشی نسایی ولادی متخصص د لومړی ځل لپاره پوه شو چې د نفاسی تبی علت د طبیب او قابلی د لاسونو، سامان او مالزمی د کثافت څخه دی چې عفونت رحم ته انتقالوی. پدې توګه زیمل وایس ته د میندونجات ورکوونکی ویل کیږی.

د میکروب د کشف څخه وروسته چې د پاستور له خوا صورت نیولې دی. میکروب زره بینی ژوندی موجود دی چې د عملیات څخه وروسته د زخمونو د عفونت سبب ګرځی، بل عالم د لیستر په نامه په کال ۱۸۶۷ کې د میکروبونو د وژلو لپاره اسید فنیک یې کشف کړ چې وروسته ډیر موثر درمل د هغه ځای وینو چې د لاسونو، د عملیاتو لوازم. د عملیاتو ځای په هره جراحی عمل کې ضد عفونی کول رواج وموند.

اتریشی جراح بیلروت او سویسی جراح کوخر د پروستات، مری، معدی او رحم عملیاتونه اجرا کړل. بیلروت د لومړی ځل لپاره یوه سرطانی معده عملیات کړ او ماوفه قسمت یې غوځ کړ او لیری واچاوه. فرانسوی (Roux) او سویسی کوردن د کوخر شاګردان و چې د نولسمی پیړۍ وروستیو کې وتلی جراحان ول.

په ۱۹ پیړۍ کې هم لکه پخوانیو پیړیو انتانی ناروغی، کوی، کولرا او وچکی په اروپا کې څو څو ځلی ظهور وکړ چې په سل ها ورزه انسانان تلف شول. په ۱۸۳۱-۱۹۰۶ کلونو کې د کولرا ناروغی څو ځلی اروپائي ونیو او حتی امریکا ته یې هم سرایت وکړ. په ۱۸۷۰-۱۸۷۲ کې د کوی ناروغی المان کې زیات تلفات منځ ته راوړ. په ۱۸۹۲ کال په ایران کې

زیات خلک ووژل. په همدې ترتیب په یاد شوی کلونو کې افغانستان او هندوستان کې کولرا زیات تلفات منځ ته راوړ.

څرنګه چې د ساری ناروغی عامل یعنی مکروب یې پیژندل شوی نه و، نو مخنیوی او وقایه یې هم غیر ممکنه وه. کله چې د پاستور له خوا مکروب کشف کیږی، د میکروبی او ساری ناروغیو مخنیوی او وقایی لپاره واکسین لاس ته راغی.

پاستور Pasteur (۱۸۲۲-۱۸۹۵):

فرانسوی کیمیا او بیالوژی پوه کله چې د شرابو تخمر څرنګوالی مطالعه کاوه، په کال ۱۸۵۴ کې ولیدل چې یو زره بینی ژوندی د تخمر سبب شوی دی. د دغه لوی کشف څخه په دې نتیجه ورسید چې زره بینی ژوندی موجودات کولای شی چې عفونی ناروغی منځ ته راوړی.

نوموړی وروسته له پلټنې څخه د استرپتوکوک میکروب چې قیح منځ ته راوړی او د تور زخم باسیل یې کشف کړ او پوه شو چې په حرارت سره د مکروب د سمیت شدت کمیږی. په دې طریق د تور زخم باسیل چې لږ سمیت لری د تور زخم واکسین یې تهیه کړ. د پاستور وروستی کشف د هاری واکسین وو.

روسی بیالوژی پوه میچینکوف (Metchinkov) په کال ۱۸۸۴ کې فاګو سیتوز یې کشف کړ. نوموړی د پاستور شاګرد و چې د ۱۸۴۵-۱۹۱۶ کلونو ترمنځ یې ژوند کاوه.

روبرت کوخ Koch په کال ۱۸۷۶ د تور زخم (سیاه زخم) د مکروب خالص کښت باندې بریالی شو، د میکروب رنګول یې په اتیلین زده کړ او همدغه پوه وروسته د نری رنځ او کولرا میکروبونه یې پیدا کړ، نوموړی ته د باکتریولوژی بنسټ ایښودونکی ویلای شو.

د ناروغی مولد اکثره میکروبونه د ۱۸۷۰-۱۸۹۰ کلونو ترمنځ کشف شوی چې د میکروبونو نومونه او کاشفین یې په لاندې ډول ذکر کیږي:

- ☜ د راجعی تبی اسپروکت د برلین طبیب ابرمایر Obermeier له خوا په کال ۱۸۷۳.
- ☜ یو سلولی آمیب د آمیبی اسهال مولد د روسی طبیب لش Lesch له خوا په کال ۱۸۷۵.

- ☜ د جـــــزام باسيل نـارويژی طبيب هـانزن Hansen لـه خوا پـه کال ۱۸۷۹.
- ☜ ګونوکوک يا سوزاک د مقاربتی نـاروغيو طبيب نايسر Neisser له خوا په کال ۱۸۷۹.
- ☜ همـاتوزونر ملاريـا د فرانسوی طبيب لاوران Lavran لـه خـوا پـه کال ۱۸۸۱.
- ☜ د نری رنځ ميکروب المـانی ميکروب پيژنـدونکی کوخ لـه خـوا پـه کال ۱۸۸۲.
- ☜ د کولرا يا وبا ميکروب د کوخ له خوا په کال ۱۸۸۳.
- ☜ دفتری باسيل د برلين د طب پوهنځی استاد لوفلر Loffler لـه خـوا په کال ۱۸۸۴.
- ☜ د محرقـی باسيل د سويسـی ميکـروب پيژنـدونکی ابـرت Ebert لـه خوا په کال ۱۸۸۴.
- ☜ پنومونوک د پنومونی ناروغی مولد د المانی طبيب فرانکل لـه خـوا په کال ۱۸۸۶.
- ☜ مينـنګوکـوک د مننژيـت نـاروغی عامـل د ويـن طبيـب وايـک سـيلبام Weichselbaum له خوا په کال ۱۸۸۸.
- ☜ د نـرم شـانکر باسيل د روم د مقـاربتی نـاروغيو متخصـص دوکـری Ducery له خوا په کال ۱۸۸۹.
- ☜ د انفلوانزا ويروس د برلين ميکروب پيژندونکی فـايفر Ferffer لـه خوا په کال ۱۸۹۲.
- ☜ د طـاعون باسـيل پـه فرانسـه کـې د حفـظ الصـحی اسـتاد يرسـين Yersin او جاپـانی ميکـروب پيژنـدونکی کيتاسـاتوKitasato لـه خوا په کال ۱۸۹۴.
- ☜ خونی اسـهال باسيل جاپانی ميکروب پيژنـدونکی شيګا Shiga او المانی ميکروب پيژندونکی کروزه Kruse له خوا په کال ۱۸۹۸.
- ☜ اسـپيروکت د سـفليس نـاروغی عامـل حيـوان پيژنـدونکی شـاودين Schaudin او جلـــدی او مقـــاربتی نـــاروغيو المـــانی هوفمـــان Hoffmann له خوا په کال ۱۹۰۵.

☜ د تيتـــانوس بـــاسيل المـانی طبيب نيکولاير Nicolaer لـه خوا پـه کال ۱۸۸۴.

پـه کـال ۱۸۹۲ روسـی فزيولـوژی پـوه د تنبـاکو پـه پـاڼو کـې يـو ډول نـاروغی د موزائيـک Mousaique ويـروس پـه واسـطه پـوه شـو. ځکـه د تنباکو ناروغی پاڼی وروسته د کښت څخه کله چې د صافی څخه تير شی بـاکتری سـاتی، چـې د موزائيـک د نـاروغی عامـل و. کلــه چــې وروسـته زوريکين Zworykin الکترونی ميکروسکوپ يې چې اجسام سل زره کرته غټ ښيئ کشف کړ د پورتنی ويروس مشاهده ممکنه شوه.

د پاستور له شاگردانو څخه کالمت Calmet ، د گرن Guerin پـه همکـاری سـره پــه کــال ۱۹۲۶ کــې د غــويي تضـعيف شــوی واکســين د (B.C.G) په نامه نوی زيږيدونکو کې تلقيح کړ ترڅو د نری رنځ نـاروغی مقابل کې معافيت پيدا کړی.

سالک Salk چې امريکايی دی په کـال ۱۹۴۵ کـې د کوچينـانو د فلـج (گوذڼ) واکسين چې د ناروغی مولد ويروس يې تضعيف کړی و، کشف کړ.

المـانی ميکـروب پيژنـدونکی برينـگ Behring او جاپـانی ميکـروب پيژنـدونکی کيتـا زاتـو پـه کـال ۱۸۹۰ د ژوو د وينـی پـه سـيروم کـې چـې د دفتری ضـعيف شـوی ميکـروب بانـدې واکسين شـوی و د دفتـری لـه نـاروغی څخه مخنيوی کوی او حتـی دفتـری نـاروغی معالجـه کـوی. دواړو پوهـانو د تيتـانوس انتـی توکسين يـې لاس تـه راوړل. دوی د سيروم پـه وسيله درملنـې بنسټ اېښودونکی دی.

فرانسوی پوه بکرل Becquerel د شلمی پيړۍ په پيل کې د لومړی ځل لپاره پوه شو چې په طبعيت کې راديواکتيف، اورانيوم، راديوم او نـور عناصر موجود دی چې لـه ځانـه د الفـا، بيتـا او گامـا شـعاعی ذرات پـه دايمـی ډول انتشار وی چې د هغوی هسته دماتيدلو په حالت کې دی.

فرانســوی دوه د فزيــک نــور پوهــان مــاری Marie او پيرکــوری Pierrecurie وپوهيدل هغه اجسام چې په دايمی توگه تشعشع لری او د اتم هسته يې د ماتيدلو په حال کې وی، د زمان په تيريدلو سره نورو عناصـروته تبديليږی.

په کال ۱۹۴۰ کې ايرن Irene او فريدريک ژوليو کوری Fredric Jolilcurie ثابته کړه چې نـور اجسـام هم کيدای شی د طبيعـی راديـو اکتيـو عناصر په مجاورت کې راديو اکتيوشی (د راديو اکتيوايزو توپونه).

د راديوم تشعشعات او د راديو اکتيوايزو توپونـه د اکس اشـعه يـی پـه څير د قوی فشار او ډير ولتـاژ سره د نفوذ قدرت لـری او د بـدن پـه انسـاجو کې عميق تاثير اچوی چې د سرطانی تومورونو پـه درملنـه کې پـه کـار وړل کيږی.

۱۸۵۰ کـال د ژنيکولـوژی (نسـايی او ولادی) علـم د نـوی فصـل پيـل ګڼل کيږی. لـومړنی ګـام د ځـوان جـراح جمس مـاريون سـميز James Marionsims لـه خـوا پـه امريکـا کې واخسـتل شـو. پـه هغـه زمانـه کې پـه مشکلو ولادتونو کې د فورسپس څخه کار اخستل کيده چې په ډيرو ښځو کې وزيکو واژنيال فستول منځ تـه راتـه او داکتـر مـاريون سـميز لـومړنی کـس و چې د جراحی په واسطه دغه فستول تـرميم کـړی. داکتـر سـميز او دوه ښـځی دورموس Dormus او استور Astor په نړۍ کې لومړنۍ د ښځو روغتـون د (د نيويارک د ښځو روغتون) په نامه په کال ۱۸۵۵ کې پرانستل شـو. دغـه روغتـون ديـرش بسـتره درلـود او د لرګيـو يـو ميـز عمليـات درلـود. لـومړنی ناروغ يوه ايرليندی ښځه وه چې په فيستول مصابه وه.

برسـيره پـر هغـه سـميز لـومړنۍ کـس و پـوه شـو چـې القـاح يـواځی د دولسمی تر شپاړسمی ورځی د مياشتی ناروغی څخه وروسته ميسره ده.

همدارنګه د اسپرم د معاينی طريقه يې ابداع کړ چې دغه موضوع پـه نړۍ کې شور او زوړ پيدا کړ او دغه څيرنـه پـه ټولـه نـړۍ کـې د سـميز تسـت په نامه ونومول شو.

نوموړی د اويا کلنۍ په عمر په کال ۱۸۸۳ کې وفات شو.

سـوبولوف Sobolew روسـی طبيـب پـه کـال ۱۹۰۱ کـې د لانګيرهانس جزاير د خوسکی په پانکراس کې د شـکری د نـاروغی درملنـې لپاره په بريالی په کار واچاوه.

بـان تينـګ Banting، بسـت Best او مـاکلود Maclod دری واړه کانادايي طبيبان پـه کـال ۱۹۹۲ کـې د لانګرهـانس جزيـرو هورمـون انسـولين يې کشف کړل.

فونـک Funk لهسـتاننی کيميـا پـوه پـه کـال ۱۹۱۲ د ويتـامينونو پـه موجوديت پوه شو او د ويتامين B_1 کيمياوی جوړښت يې تعيين کړ.

فلمينـګ Fleming انګليسـی ميکـروب پيژنـدوکی پـه کـال ۱۹۲۹ پنسلين يـې کشـف کړ او لـس کالـه وروسـته د ناروغـانو پـه اختيـار کـې قـرار ونيو.

واکسمان Wacksmann امریکایی طبیب په کال ۱۹۴۴ د بل انتی بیوتیک ستریپتومایسین په کشفولو بریالی شو چې د نری رنځ په درملنه کې استعمالیږی.

دوماک Domagk المانی طبیب په کال ۱۹۳۵ د سلفامید په کشفولو بریالی شو. لمړنی سلفامید د پرونتوزیل په نامه و.

لاندشتاینر Landsteiner د وینی میکروب پیژندونکی په کال ۱۹۰۱ کې د وینی ګروپونه یې وموند، نوموړی د اتریشی وینر Wiener عالم په مرسته بل عامل یې د ریزوس Rhesus په نامه وینه کې کشف کړ چې په کال ۱۹۳۹ کې د RH په نامه مشهور شو.

فیلاتوف Filatow شوروی پوه د لمړۍ ځل لپاره په کال ۱۹۱۳ کې د قرنیې په پیوندولو بریالی شو.

د شراینو او غټو اوردو د ګنډلو لپاره اتوماتیکه دستګاه د شوروی انجینرانو او طبیبانو (په سر کې یې ورنوژا Woronoj او ګودو Gudow) له خوا کشف شوه په کال ۱۹۴۵ کې د اعضاو پیوندول آسانه شو.

ولادیمیر دمی خوف Demechow شوروی جراح په کال ۱۹۵۰ د یو سپی باندې تجربې وکړې چې د زړه جراحی نوی امکانات ورباندی زیات شو. په کال ۱۹۵۷ د دوو سپیو سرونه د غاړی په برخه کې پیوند کړی چې دغه دوه سپی سرونو یوه میاشت ژوند وکړ. نوموړی پدی بریالی شو چې د یو سپی زړه د بل سپی د سینی په قفس کې پیوند کړی په دې توګه یو سپی د دوو زړنو خاوند و.

مریل Merril امریکایي جراح په کال ۱۹۵۴ د لمړۍ ځل لپاره د دوو غبرګونو ورونو بډوډی تعویض او پیوند کړی او تر اوسه په زرهاو د بډوډو پیوند صورت نیولی دی. په جراحی کې د اعضاو پیوندول بلې مرحلی ته داخل شوی او نوی سرحد یې خلاص کړی دی. په انسان کې د لاس، پښو، زړه، سږو پیوند خپلی ازموینی مخ ته بیایي.

په زړه کې د دسام متیرال جراحی لومړۍ د امریکایي جراح چارلز بیلی له خوا د ۱۹۴۷ په وروستیو کې صورت وموند، خو ناروغ سمدستی مړ شو. نوموړی څو ځلی دغه کارته ادامه ورکړه خو بریالی نه و. خو وروسته دغه عملیاتونه نتیجه ورکړه او د هغه د شهرت سبب شو. څه موده وروسته نور جراحان لکه دوایت هارکن Dwight Harken او په لندن کې

سير روسا بروک Sir Russa Brock دغه عمليات په بريالی سره تکرار کړ ترڅو د دسام مترال جراحی عمليات عملی شو.

وروسته د زړه د عملياتونو د پرمختګ په مسير کې د مترال تضيق د ابهر، تضيق او همدارنګه د دغو د سامو عدم کفايه جراحی د نړۍ په ټولو برخو کې معمولی امر ته تبديل شو.

کريستين برنارد د سهيلی افريقا طبيب د دسامبر په دريمه کال ۱۹۶۷ کې د جنوبی افريقا Cap په ښار کې د ګروت شور Groot Sehurr په روغتون کې يو سړی چې لوی واشکانسکی Louis Washkansky او ځلورپنځوس کاله يې عمر درلود او د شرائينو تصلب، ديابت ناروغی يې درلودل زړه يې ډير ناتوانه د مرګ په حالت کې د زړه پيوند يې صورت وموند.

څو ساعته وروسته په ځلورو ساعتو او پنځه ځلويښت دقيقو کې يو کليوالی جراح چې تر هغی زمانی نوم او نښان يې نه درلود. د يو انسان څخه بل انسان ته د زړه پيوند يې په واقعيت باندې بدل کړ او چيغ يې کړ چې «دغه زړه په لاره به ځی».

د زړه ورکوونکی يادونور يوه ځلورويښت کلنه ښځه وه چې د تصادف په پيښه کې مړه شوی وه. خو وروسته د اتلسو ورځو د انتان له کبله مړ شو.

دغه ځلی داکتر برنارد يو زړه يی د داکتر بيسبرګ ته پيوند کړ چې نولس مياشتی او پنځلس ورځی د داکتر بيسبرګ ژوند اوږد شو. او د زړه پيوندول د داکتر برنارد له خوا فتح شو.

په استراليا کې د سرطان د ډولونو او ايدز د درملنې لپاره د واکسين توليد په داسی حال کې پيل شو چې د ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ ډير ګټه ور او مفيد تحقيقات د استراليا د دوو پوهانو له خوا د کانبرا په ښار کې د جان کورتين John Cartin د طبی څيړنو پوهنتون کې سرته ورسيد چې په پايله کې غټ کشف ترسره شو. د دوی کشف د دې موضوع د درک سبب شو چې «د بدن معافيتی نظام څرنګه داسی سرنوشت ساز تصميم نيسی چې کوم سلول سالم دی او کوم سلول سالم نه دي». په واقعيت کې هغوی زمونږ فهم ته يې بنسټيز تغيير د معافيتی نظام څرنګوالی په هکله ورکړ. هغوی پوهانو سره مرسته وکړه ترڅو د مقابلی لارې چې د بدن د انساجو معافيتی نظام باندې وژونکی حملی کوی پيدا کړی لکه د ام.اس (مولتيپل اسکلروزس) او شکری ناروغيو کې دغه دوه استراليايی پوهان زينګرناګل او پيتر داهرتی دی.

زینګرناګل په کال ۱۹۴۴ په سویس کې د بال پوهنتون کې زده کړه وکړ او د طبابت درجه یې په کال ۱۹۷۰ کې واخست او وروسته د کانبرا ملی پوهنتون کې یې دوکتورا (پی. اچ. دی) ترلاسه کړ (کال ۱۹۰۶).

پیتر داهرتی د استرالیا ګوینزلند پوهنتون کې زده کړه وکړ او د دوکتورا درجه یې ادیثبور چې اسکاتلند کې پروت دی واخست (کال ۱۹۷۰). هغوی په ۱۹۶۹ کې د نوبل جایزه ترلاسه کړ.

وروسته پاستور تر ۱۸۹۲ کال ډیر زیات میکروبونه یې چې ناروغی منځ راوړی کشف کړل او ثابته شوه چې د ټولو تبی لرونکو انتانی او اپیدیمیک ناروغیو کوچنی زره بینی (میکروب) اجسام دی. پدې توګه انسانانو د مصابیت د مخنیوی او وقایې لپاره متوجه شول. ترڅو چې د نولسمی پیړۍ دویمه نیمایی کې د وقایوی طب په فکر کې شول چې وروسته د واکسینونو تهیه او د واکسیناسیون تطبیق د مصابیتونو شیوع او منځ ته راتګ مهار شو.

د وقایوی طب د پرمختګ سره د شلمی پیړۍ په طول کې ډیری ښی نتیجی منځ ته راغلی چې د انسانانو د عمر طول زیات شو. د درملو مختلفو ډولونو لکه انتی بیوتیکونه او د علومو رشتو ظهور او پراخوالی لکه فارمکولوژی، باکتریولوژی، فزیولوژی او داسی نور د صحت د پراختیا تامینولو زمینه مساعده شوه. د وقایوی طب د پراختیا او تکامل سره لومړۍ په اروپا او وروسته په نورو هېوادونو کې ساری وژونکی ناروغیو لکه جزام، سرخ باد، نری رنځ، وچکی (محرقه)، سفلیس، کوی (چیچک)، شری (سرخکان)، ملاریا، کولرا (طاعون) او نور تر کنترول لاندې راغلل او د شلمی پیړۍ په وروستیو کې د دغو ناروغیو ځینی نابود شول.

کله چې نړیواله روغتیایي اداره منځ ته راځی ډیر پراخه پلانونه په مخ په وړاندو هېوادونو کې لاس لاندې نیول کیږی چې په مجموع کې د وقایوی طب اهدافو ته رونق ورکوی او د دقیقو منظمو پلانونو سره د وژونکی، ساری او اپیدیمیک ناروغیو په محوکولو کې زیار باسی.

د شلمی پیړۍ دویمه نیمایي کې د عقل نه وتلی اکتشافات او اختراعات په ټولو علومو کې د تکنالوژی سره یو ځای منځ ته راغلل. سره د دی چې په دې دوره کې بشریت وکړای شو چې د ډیرو ساری او اپیدیمیک ناروغیو مخه ونیسی او نابود یې کړی لکه کوی او داسی نور. خو د ځینو وژونکو ناروغیو شیوع لکه ایدز او د چرګانو انفلوانزا نړۍ لپاره د تشویش وړ وګرځیدل.

د انسان د بدن غړو سرطان د ډیری پخوا زمانی څخه د نړی په سطحه د انسانانو د مړینی باعث ګرزیدلی دی. او په پیړیو پیړیو کې په مختلفو نومونو یادیده او هغه د نه پیژندلو په صورت کې ډیر خلک یې تباهی کندې ته واچول. خو د شلمی پیړی دویمه نیمایي کې پوهانو او علما و عمیقه توجه یې ورته واړلوله.

د رسمی ارقامو مطابق تقریباً دوه ویشت ملیونه او پنځه سوه زره کسان په ټوله نړی کې د سرطانی ناروغیو باندې اخته دی. او د یو مهلکه ناروغی په عنوان نړی تهدید وی. پدې وروستیو کې د سرطان ضد درمل، شموتراپی او رادیو ترابی او د تشخیص وسایل کشف شوی چې د دغی مهلکی ناروغی په مقابل کې لاس ته راوړنی منځ ته راغلی دی.

د شلمی پیړی اتیایمو کلونو کې د یو وژونکی ساری اپیدیمیک ناروغی عامل د ایدز په نامه وپیژندل شو. (نوم یی Human Immuno Deficieney Virus دی چې په H.I.V مخفف سره معروف دي) H.I.V یو ډول خاص ویروس دی چې ریترو ویروس (Retro Virus) په نامه یادیږی چې معمولی ویروسونو په پرتله ساده اورګانیزم لری او له منځه وړلو یې ډیر ګران کار دی.

په کال ۱۹۱۸ د امریکا لاس انجلس په ښار کې وژونکی اپیدیمیک ساری ناروغی کشف شوه. د کالیفرینا لاس انجلس تحقیقاتی مرکز ګزارش ورکړ چې پنځه تنه هم جنس بازه (هموسکسوال) ځوانان په پنومونی ناروغی لیدل شویدی چې چندانی عادی نظر نه لری. دغه موضوع طبیبان په تعجب واچاوه او متوجه شول چې اعراض او علایم یې کومه مشخصه ناروغی ته نسبت ورکړی په دې توګه د هغه نوم یې (اکتسابی معافیت نقص سندروم) وټاکه چې انګلیسی ژبی مخفف یې AIDS دی. همدارنګه په امریکا او فرانسه کې په دې ناروغی باندې تحقیقات صورت وینو چې په امریکا کې د روبرت ګالو او په فرانسه کې د لوک مونتانیه له خوا سرته ورسید.

د ۱۹۸۶ کال نوامبر میاشت کې پروفیسور مونتانیه د ایدز د ناروغی نوی ویروس کشف کړ چې د HIV ویروس په نامه اعلان کړ.

دغه ویروس د انسان د بدن معافیتی سیستم مصابوی چې د عضویت مقاومت له منځه ځی او د بدن انتانات د ناروغ د مړینی سبب ګرځی چې ایدز ته د شلمی پیړی بلا ویل کیږی.

په نړۍ کې تر اوسه ۲۸ ملیونه انسان چې په ایدز اخته و له منځه تللی دی. دغه ویروس د عضویت دفاعی سیستم مختلوی او ضعیفوی یې چې حتی یو کوچنی انتان د شخص د مرګ سبب ګرځی.

سره د دې چې د دغی ویروس پیژندلو څخه شل کاله تیریږی، تر اوسه هم هیڅ ډول واکسین د HIV د پاره کشف شوی نه دی.

نن ورځ په نړۍ کې ۴۲ ملیونه انسان د HIV ویروس باندې اخته دی چې ۳/۲ برخه د دغو د افریقا د صحرا په جنوبی برخه کې ژوند کوی. په دغه منطقه کې د هرو دریو کسو په منځ کې یو یې په ویروس سره ککړ دی. د نړیوالی اداری په راپور د ۷۰ په سلو کې د ایدز ناروغان افریقایي هېوادونو کې ژوند کوی.

د ایدز ویروس په شرقی اروپا او مرکزی آسیا کې نسبت نورو ځایوته تیتیدل یې سریع دی. او د بین المللی سازمان په نظر د یو اپیدیمی منځ ته راتګ انکارنه منونکی دی.

ځنی اطلاعاتی سازمانونه تخمین کوی چې تر ۲۰۱۰ کاله پوری په چین کې لس ملیونه او په هند کې ۲۰-۲۵ ملیونه کسان د HIV ویروس باندې اخته کیږی.

داسی ادعا کیږی چې په نړۍ کې د ۴۲ ملیونو مبتلا په ایدز پنځه ملیونه یی په ۲۰۰۵ کې په ناروغی اخته شوی او دری ملیونه له منځه تللی دی. دا ګزارش را ښیۍ چې د دغه ناروغی پراختیا په نړۍ کې په ډیر سرعت سره محسوس دی. او د دغی ناروغی په درملنه کې هم ډیر زیات ښه والی راغلی دی.

بل پرابلم چې په دی وروستیو د نړۍ خلکو د خپګان سبب ګرزیدلی دی د الوتونکو (چرګانو) ساری ناروغی والګی (انفلوانزا) دی. چې په آسیایی او اروپایی هېوادونو کې د مړینی واقعات په کراتو لیدل شوی دی. د دغی ناروغی ویروس چې د مرغانو څخه انسان ته انتقالیږی زیات وژونکی دی.

د مطالعاتو څخه داسی معلومیږی چې دغه ویروس احتمالاً په کال ۱۹۱۸ کې د مرغانو څخه انسان ته د والګی ویروس انتقال شویدی چې په همدغه کال کې د اسپانیایی انفلوانزا باندې مسمیٰ شو. یو ملیارد انسانان چې د هغې نیمایي برخه یې تشکیلوله په دغه ناروغی اخته شول.

د چرګانو والګی وروستی ویروس دی چې د خطر زنګ یې ټوله نړۍ کې غوږو ته ورسید. احتمال لری چې دغه عوامل د ډیرو پخوا زمانو څخه موجود وی خو په اوس وخت کې د ساحی څخه خارج شول. او یو لړ نور یې نوی ظهور پیدا کړی دی لکه HIV او د سارس د ناروغی ویروس (SARS).

خو د شلمی پیړۍ په لومړیو او وروستیو کې ډیری زیاتی لاس ته راوړنی، اختراعات او اکتشافات لری چې دغه اکتشافات د یویشتمی پیړۍ په پیل کې محیرالعقول په شکل منځ ته راغلی دی. د نمونی په ډول څو نمونو ته اشاره کوو.

په ۲۰۰۴ کال یوه رسمی اطلاعیه کې راغلی چې پوهان بریالی شول ترڅو د سرطان یو ژن له فعالیت څخه وغورځوی. پوهانو دغه ژن یې په موږک کې له فعالیت څخه وغورځاوه. د کالیفرنیا د استانفورد په پوهنتون کې محققینو د دغه ژن چې د میک (Myc) په نامه دی او د سرطان یو پیژندل شوی عامل دی د یو معمولی انتی بیوتیک پواسطه فعالیت ته یې توقف ورکړ.

ترڅو چې موږکانو ته دغه درمل ورکول کیده په سرطان نه اخته کیدل. همدارنګه دغه درمل سرطانی حجری عادی حالت ته وګرځاوه.

محققان وایي چې د موږک د ځیګر په سرطان برسیره چې تحقیق وشو. امکان لری د سینی، کولمو او پروستات کې هم صدق وکړی. ځکه دغه ټول سرطانونه د اپی تیلیال حجرو څخه منشأ اخلی.

کله چې دوکسی سکلین معیوب ژن (میک) یی د فعالیت څخه وغورځاوه او د سرطانی حجرو رشد مسدود شول او کله چې دوکسی سکلین قطع شو په موږکانو کې د کبد حاد سرطان پیدا شو. کله چې دویم ځل دوکسی سکلین موږکانو باندې تطبیق شو نه یواځی میک یی بیرته له فعالیت څخه وغورځاوه او د سرطان د رشد ادامه یې مسدوده کړه، بلکې سرطانی حجری یې عادي حالت ته را وګرځول.

د بریتانیا د سرطان د تحقیقاتی موسسی علمی اطلاعاتو مسوول داکتر ایلین ویکرز وویل «ثابته شویده چې د میک ژن په سرطانیو کې غیر عادی فعالیت لری. مطالعات ښئ چې دغه ژن یو پر اومه مواردو کې چې د ناروغ د مړینی سبب کیږی، نقش ولری. نوموړی د استانفورد تحقیقات ډیر په زړه پوری ولوستل او وی ویل چې دغه مطالعات داسی شاهدی وکوری چې د

میک د توقف ورکولو درمل په وروستیو کې د سرطان په درملنه کې موثر وی.

د پورتنی کشف او څیړنی څخه داسی لاس ته راځی چې د انسانانو د دری زرمی په پیل کې وروسته د ملیونونو قربانیو سره وی کړای شول چې د سرطان نامعلوم او مجهول عوامل ژن پوری ارتباط ورکړی، کشف کړل.

په کال ۲۰۰۶ د مارچ په میاشت کې د بریتانیا څیړونکو د محیطی یا ژنتیکی تاثیراتو په برخه کې چې د ناروغیو لامل ګرځی، ډیر پراخه تحقیقاتو ته آماده ګی نیسی. او د لسو، شلو یا دیرشو کالو په درشل کې مختلفی نظر یې د ناروغی پیژندنی په برخه کې ورکړی او په نتیجه کې د ناروغیو د مخنیوی لپاره اقدام وکړی.

د وژونکو ناروغیو لکه د زړه ناراحتی ګانی، د شکری او سرطان ناروغیو په مخنیوی او درملنه کې لاری کشف کړی چې کیدای شی د دی څیړنې لاس ته راوړنی وی.

په بریتانیا کې د جنین ژنتیکی ورته کولو لپاره د مجوزی صدور:

د ۲۰۰۴ کال د اګست په میاشت یوه ډیره عجیبه او با ارزښته اطلاعه د طبابت په کړۍ کې شور او زوږ پورته کړ او دا د بریتانیا د څیړونکو طبیبانو پیشنهاد و چې د بریتانیا دولتی اژانس له خوا د تائید وړ وګرځید.

د پوهانو دغه ډلګی د ژنیتیکی (کلون) ورته شوی جنین تولید د شکری د ناروغی آزمایښتی درملنې لپاره دولتی هئیت ته وسپارل.

د نیو کاسل پوهنتون پوهان قصد لری د جنین څخه بنسټیز سلولونو استخراج د شکری ناروغی لپاره آزمایښتی درملنه په کار یوسی.

الیسون مرداک د دغه ډلګی سرپرست وایي «د هغه هدف د پاره چې مونږ زیار باسو دا دی هغه کسانو ته چې د ځینی ناروغیو لکه الزایمر، پارکینون او دیابت چې جدی کمزورتیا منځ ته راوړی، رنځ وړی مرسته وکړو. اوږده لاره مخی ته لرو خو د تحقیق وړتیایي ډیره ښه ده او د همدې کبله ډیر خوشاله یو چې اوس مونږ کولای شو لمړی ګام پورته کړو».

دغه ټیم به قادر وی چې ورته شوی جنین د دوو اونیو لپاره پرورش ورکړی او وروسته بنسټیز جنینی سلولونه د هغه څخه استخراج کړی.

په همدې توګه د زړه د ناروغیو په هکله په تیره بیا انفرکتوس میوکارد په ځیړنه کې مثبت او امیدوار کوونکی پرمختګونه شوی چې ډیره ښه موثر درمل د دغه پرابلم د رفع کولو لپاره د تائید وړ ګرځیدلی دی.

د طبابت په نړۍ کې ډیر نا پیژندل شوی پرابلمونو په باره کې تحقیقات روان دی او پر له پسی د طبابت ډیر مشکل پرابلمونه بررسی کیږی او هره ورځ د امیدوارۍ زیری راکوی.

شلمه پیړۍ د طبابت په ساحه کې په پراخه توګه رشتی منځ ته راغلی چې هری رشتی ته د طبابت علومو رشتی ویلای شو. د دغه علومو په پراخو برخو کې هم په کلنیک او هم په پاراکلنیک کې په داخلی اورګانو کې، کاردیو لوژی، نفرو لوژی، اندوکرونو لوژی، درماتو لوژی، ګسترو انترو لوژی، افکو لوژی او نوری ځانګی او د جراحی په ځانګو کې لکه عمومی جراحی، د صدر جراحی، بطن جراحی، اوعیو جراحی، اورتوپیدی او تراوماتولوژی، د مغز او اعصابو جراحی، د فک جراحی او ستوماتولوژی، یورولوژی، انستیزی او نور. همدارنګه د پاراکلنیک ډیر مشخص او تخصصی ځانګی منځ ته راغلی چې د مستقلو رشتو په توګه د ډیر مدرن تخنیک او وسایلو سره سمبال دی د ناروغانو او مجروحینو په چوپړ کې قرار لری.

په دې ټولو برخو کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ځیړنی روانی دی او د انسان د صحت د تامین او اوږد عمر لپاره فعالیت لری. د زړه، مغز، اعصابو، کاسموتیک او نورو ډیر ظریف عملیاتونه صورت مومی. د لایزر د وړانګی څخه د سترګو په عملیاتونو کې استفاده کیږی. د انسان د اعضاو پیوند لکه د زړه، بډوډو او نورو اعضاو پیوندول د اجرا په حال کې دی.

د وګنیز او وقایوی طب په برخه کې پراخه فعالیت جریان لری. د محیطی صحت او روغتیا ساتنی پرابلمونه په خاصه توګه په وروسته پاتی هیوادونو کې مخ په کمیدو دی.

خیریه صحی موسسی د نړۍ سره صلیب په جنب کې او نړیواله روغتیایی اداره او یونیسف د پراختیا په حالت کې دی. ځنی نوری موسسی لکه M.S.F (بی سرحده دوکتوران)، Save the Children او نوری ټولی د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د انسان د روغتیا په موخه خدمت کوی.

دویمه برخه

په افغانستان کې د طبابت تاریخ

لومړی څپرکی

تر اسلام نه د مخه د افغانستان طبابت

افغانستان د لرغونی او اوږده تاریخ درلودونکی دی او د تاریخی شواهدو له مخې د افغانستان ټولنه تر میلاده شل زره کاله د مخه موجوده وه.[۱]

همداشان له دوو تر دری زره کاله تر میلاده دمخه افغانستان د پر مختللی کرنی او آبیاری درلودونکی ؤ، او تر میلاده زر لومړی کلونه دمخه په افغانستان کې لاسی صنایع، مسکوکات، طب، نجوم، نساجی او فلزکاری موجوده وه.

ځرګنده ده چې د ملتونو ډیر پخوانی تاریخ د طبابت تاریخ دی، ځکه بشر له هغی ورځی راهیسی چې ځان یی پیژندلی دی د دردونو سره یو ځای د واقعاتو او مصیبتونو سره مخامخ دی، نو له دې ځایه طبابت د انسان د موجودیت له لومړنی زمانی څخه په دې لرغونی خاوره کې موجود ؤ.

هغه پخوانی سند چې د افغانستان په تاریخ کې د طب او درمل جوړولو په اړوند موجود دی له نن څخه څه نا څه ۳۵۰۰ کاله د مخې زمانی ته رسیږی.

دا دوره د روحانیت مرحله کې شامله وه چې د طب علم د روحانیونو په واک کې ؤ. په زیاترو مذهبی کتابونو کې درملو ته اشاره شوی ده، لکه چې زرتشت په مذهبی کتاب کې د زند او اوستا په نوم د کتاب د وندیدا د برخه په طبابت پوری مختصه وه.

«سوما هغه مشروب دی چې له ګیاه څخه ترلاسه کیده او اوستا په کې تری یادونه شویده»[۱] اوستا هغه ډیر زیات پخوانی کتاب دی چې د بلخی

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۳۳

زرتشت یا زرتشترای بلخی له خوا منځ ته راغلی دی. که څه هم د اوستا د قدامت تعیینول گران دی خو بیا هم د اټکل له مخې ښودل کیدای شی چې اوستا اصلاً تر میلاده تقریباً یو زر کاله دمخه منځ ته راغلی دی. په دې صورت کې د برهمنانو د کتاب سرودونه (ریگویدا) چې تر میلاده د یو زر او پنځه سوو کلونو دمخه په منځ کې قسماً په افغانستان کې ویل شوی او بیا په هندوستان کې بشپړ شوی دی.

«اوستا د تاریخ هغه لیری ته نظر اچوی چې تر دغه وخته پوری د افغانستان خلکو سکه او پیسی نه درلودلی، د راکړی ورکړی معامله د جنس په شکل ترسره کیدله. په همدې شان د هغی زمانی تولنی مالگه نه پیژندله او په خط او کتابت هم نه پوهیدل، خو ښارونه، کلی، کرنه، آبیاری، مالداری، باغداری او پیشه وری لری. «فلزی آلات استعمالیدل، اوبدنه او وسله جوړول لری، نڅا او ورزش شته او طبیب موجود دي»[۲].

په اوستا کې د خلکو د درو طبقو لکه شفا بخش او معالج څخه بحث شوی دی او دوی عبارت دی له هغه چانه چې په دعا او دینی رسومو، او هغه چې په پرهیز او د اروگانو او ځینی نور چې په وسایلو او لوازمو شفا بخښی.

په بل عبارت دا دری طبقی عبارت له: مؤبدانو، طبیبانو او جراحانو څخه دی.

د دې وروستی ډلی په متعلق په وندیداد کې په زړه پوری عبارتونه شته دی، چې وایي: «هغه تازه کار طبیب مخکې تردې چې د نیکان مزدیسناکیش د یوه معالجه شروع کړی نو په کار دی چې دری کافران یې په بریالیتوب سره معالجه کړی وي»[۳].

د دې د پاره چې د زرتشتیانو طبابت او د هغه وخت د طبابت پرنسیبونه ښه روښانه شوی وی، زیات تحقیقات او لټونی ایجابوی چې دا دی په دی اړوند یوڅه لنډ معلومات وړاندی کیږی. ځینی مورخین زرتشت تر میلاده دمخه یوولسمی پیړۍ پوری مربوط گڼی، خو زیات احتمال لری چې اوه پیړۍ یې تر میلاده دمخه ژوند کړی وی.

۱- مجله اردو شماره ماه ثور، ریاست نشرات اردو، مطبعه اردو، سال ۱۳۵۰

۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۳۷

۳- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۲۶

د بلخی زرتشت کتاب اوستا نومیږی او دا کتاب په هغه شکل چې اوس زمونږ په واک کې دی څلور برخی لری چې د یسنا، یشت، وندیداد او بندهش د نومونو څخه عبارت دی. هغه څه چې نن له دی کتابونو څخه باقی پاتې دی د هغه کتاب یوه برخه ده چې وایي په یوویشت کتابونو او یا په یو ملیون برخو مشتمله ده.

زرتشتیان عقیده لری چې د اوستا کتاب د آهورامزدا (خدای) له خوا په زرتشت پیغمبر را څرګند شوی دی او هغه یې د بخارا د پاچا د ګشتاسپ په واک کې ورکړ او د ده دوه اصلی نمونی یوه یې د جمشید په تخت او بله یی په سمرقند کې کیښودله.

په دې کتاب کې د مندرج طبابت د مطالبو اصول په دې عقیده ولاړ دی، چې په نړۍ کې د ستیز او قانون یو نظام حکمفرما دی. د زردتشت په کیش کې شپږ د عالم قوه (موکلی فرشتي) موجودی دی چې هره یوه یې د خپل صلاحیت په دایره کې د عالم د اداری په امورو کې همکاری کوی. او هغوی د آهورامزدا (خدای) له یو صفاتو څخه شمیری او جاودانان یې ګڼی چې پنځمه یې د هئورتات (روغتیا) په نامه دی او د تندرستۍ مسکن او اوبو موکله ده.

د زرتشت کیش د اخلاقی او حیاتی پر درو اصلو هومته (نیک پندار)، هوخته (نیک ویل) او هوورشته (نیک کردار) بنا شوی دی.

«زرتشتیانو بدنی او روحانی نظافت، راستی او راستکاري، مروت او سخاوت او ټول نیک اخلاق یې مراعاتول»[۱].

د زرتشت په آئین کې د نیکۍ او بدۍ دوه اصله شته دی چې دا دواړه په متداوم ډول یو د بل سره په جګړه او کشمکش کې دی. د دې مکتب برجسته ټکي د طبابت په برخه کې په لاندې ډول خلاصه کیږي:

۱- په خیالی او ماوراء الطبیعه موجود باندې د ناروغیو د مولد په عنوان اعتقاد د ساسانیانو تر وخته پوری باقی پاتی شو. چې د هغه نتیجه د ناروغیو د درملنې بهترینه وسیله د مذهبی اوراد ویل او د ماوراء الطبیعه ځواک څخه د مرستی غوښتنه پیژندل کیدله.

۱- پوهاند عبدالحی حبیبي، تاریخ مختصر افغانستان از زمان قدیم تا خروج چنګیز حدود ۶۰۰هـ ، جلد اول ۱۳۴۶ ص-۱۳-۱۴

۲- د زرتشتیانو د اعتقاداتو له مخې مار د مخلوق ډېر لرغونی او ځواکمن دی چې په عین حال کې د طب د علم موجد او مخترع هم شمیرل کیږی.

۳- د هغو اعتقاداتو له مخې چې د بل پلوه هم موجود وو دا دی چې د ناروغیو پیدایښت کیدای شی د دښمنانو د کوډی (جادو) او یا د سترګو د نظرو د ضرر په علت وی.

۴- دا مطلب هم په ښه توګه څرګند وی چې فزیکی او طبیعی علتونه هم د ناروغیو په پیښیدو کې ښکاره نقش لری. لکه چې خلک لیدل سړښت، تودوخه، کثافتونه، ککړتیا، لوږه، تنده او بالاخره اضطراب او زړښت چې دا ټول د طبیعی او فزیکی عواملو څخه شمیرل کیږی هم کولای شی چې د یوه سړي د ناروغتیا موجب وګرزي. برسره پردې خلک پوهیدل چې افراط او تفریط او بد عادتونه درلودل هم د ناروغی د څرګندیدو سبب کیږی.

۵- د وینو نقش په بدن کې د ناروغی په خپرلو کې هم د پوره د پاملرنی وړ ګرزیدلی و. او زردشتی مؤبدانو به خلکو ته نصحیت کاوه چې د وینی خالص والی او پاکیزګي وساتي او هغه د ککړتیاو څخه لیرې وساتی.

۶- د زیږیدلو او مړینی پوری مربوطو مراسمو توصیف د اوستا د کتاب مهمه برخه تشکیلوی. په دې برخه کې د جنین سقط منع کړی شوی و. هغه ښځې چې سقط جنین یې کړی او یا یې ولادت کړی و نو په ګیمز (د غویی په متیازو) به یې تطهیر کاوه.

د جنین د سقط د پاره د ځینو د اروګانو خاصیت د هغی زمانی خلکو ته پوره معلوم او څرګند ؤ، خو هغو کسانو چې دا دوایی د نورو په واک کې ورکوله، ډیر زیات تنبه او مجازات کیدل. دغه درمل چې د اوستا په کتاب کې له هغو څخه نوم اخستل شوی دی له بنګو (شاه دانه)، شیتا (سره زر او یا احتمالاً د یو نبات نوعه او یا ژیړ رنګه مایع ده)، غنا (هغه درمل چې وژل کوي) فراسپاتا (چی میوه راوباسی او مرګ منځ تا راوړی)، چې د دوی له منځه بنګ یا شاه دانه معلومه ده او هغه نورې یې په سمه توګه معلومی نه دی چې څه شیان دی.

۷- د زرتشت په کتاب کې سپی نه یوازی د احترام وړ یو حیوان و، بلکې داسی فکر کیده چې یوه ناولی شی ته د هغه کتل له هغو څخه د خبیثه اروا د وتلو موجب ګرزی.

۸- د عامی روغتیا د روغتیاساتنی (حفظ الصحي) په باره کې زرتشیان ډیری لوړی څوکی ته رسیدلی و. د ټولنیزو د مراسمو د اجرا د څرنګوالی پوری مربوط قوانین هغو مره د ککړتیا او د ناروغیو د خپریدو د مخنیوی پوری مربوط قوانینو سره ګډ شوی چې د هغوی یو له بله بیلول ناممکن ؤ. د اوبو،خاورو، اور او ګیاګانو ناولی کول منع وو.

ګورو چې اور د سپیخلو موادو د څلورګونو برخو څخه یوه برخه شمیرل شوی، خو له بده مرغه له دې وسیلی څخه د ککړو شیانو د تعقیم د پاره غیر ممکن کیده.

۹- د مړی د جسد لمس کول د انسان د ککړتیا او ناولتیا سبب کیده او داسی څوک باید په بشپړه توګه ځان تطهیر کړی یعنی دا سړی چې د جسد سره یې تماس نیولی ښایي نه شپی پر له پسی ځان پر مینځی.

۱۰- د سیندونو اوبه زیاتره پاچاهانو څښلی او په مسافرتونو کې یې هم تری استفاده کوله. (د سپین ږیرو له خولی امیر حبیب الله خان د افغانستان پاچا چې به کله جلال آباد ته سفر کاوه نو به یې د سرخرود د سیند له اوبو څخه د څښلو په غرض استفاده کوله – مولف، مومنی).

۱۱- ورستوب او فساد هم د هوا او اوبو د ککړتیا سبب کیده او په کار ؤ چې له منځه وړل شوی وای.

د انسان د بدن هډوکی او یا دسپی په داسی حال کې چې له هغو څخه غوړی او یا د هډوکو ماغزه وبهیږی پر مځکه اچول جرم ګڼل کیږی.

۱۲- د مړی د جسد د خښولو د پاره به برجونه جوړیدل په داسی ډول چې هلته هیڅ حیوان ورننوتلای نشو.

په دې مقرراتو کې ویل شوی و «د سکوت برجونه د کلکی تیږی او کین (ملات خټه) څخه باید جوړ شی او په داسی شکل وی چې سپی، کیدړه یالیوه هغو ته ور ننوتلای نه شی، او د باران اوبه هم هلته راټولی نه شی»[1].

۱۳- د درملو نقلول او تجویز د ځانګړو اشخاصو په واک کې وو.

په دې ډول که څه هم د آشوریانو غوندی د طبابت د علم او مذهبی چارو تر منځه بیلوالی موجود و، خو بیا هم طبیبان د ټولنی د څلورګونو ډیرو لوړو طبقو څخه انتخابیدل.

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۳۵۰ ص-۲۹

مؤبدان او مغان یې په سرکې او نوری دری طبقی لکه پوځیان، بزګران او کسبګران، چې په دی چارو کې د واړو څلورو طبقاتو کې شامليدل ارڅی و. او د روحانیونو د طبقی ماشومانو په مذهبی چارو او طبابت کې مشابه تعلیم کاوه او د تحصیل د دوری تر ختمولو وروسته یې کولای شو په خپله خوښه تصمیم ونیسی یعنی غواړی چې زیاتره په مذهبی چارو مصروف شی او یا د طبابت په کارونو کې بوخت شی. د دې غبرګونی زده کړی طریقه تر اسلام وروسته څو کلونه هم دوام موندلی ؤ.

د منځنۍ آسیا د زیاترو ښارونو په روغتونونو کی، طبی درسونه تدریس کیدل، هغه درسونه چې زده کوونکو ته ور زده کول کیدل نظری او عملی علوم پکې شامل وو، چې څو کاله موده یې نیوله.

محصلین په نوموړی ځانګه کې خپل تحصیلات سرته رسول او بیا ورته «د سپیڅلتیا سره شفا بخښونګی»، «د قانون سره شفا ورکوونکی» او د «چاکو سره شفا ورکوونکی» نومونه ورکول کیدل، هغوی هم په ځانګړو ډلو ویشل کیدل. څرنګه چې طبیبان د ټولنی د پاسنۍ طبقی څخه وو، نو په کار ؤ چې د هغوی طبقاتی امتیازات د هغوی د اشتباهاتو په علت زیانمن نه شی نو ځکه په سپیڅلی کتاب کې د طبیب کیدلو د ایدیالو شرایطو په باره کې بحث شوی دی. دا شرایط د Manec Kjinusseruanji Dhalla له خوا په یو کتاب کې چې د «زرتشتیانو تمدن» نومیری په لومړۍ څپرکی کې بیان شوی دی.

۱۴- لمر د پیاوړی پاکونکی په عنوان پیژندل کیده. په یوه یشت کې لیکل شوی دی چې د لمر وړانګی ټولو موجوداتو ته پاکی ور بخښی.

۱۵- په تطهیر کې له متیازو (ادرار) څخه استفاده کیدله. د «امرات الصحه، دویم کتاب، لومړۍ او دوهم څپرکی» د مولف غیاث الدین د نظریاتو له مخې چې د میلادی پنځلسمی پیړۍ له لیکوالانو څخه ؤ، د ماشوم متیازی د سرخ باد، جرب، جذام او د پوستکی د داسی نورو ناروغیو دوا ده. او د اوښ متیازی د زیاتو جلدی او داخلی ناروغیو د پاره ګټور دی.

۱۶- په وندیداد کې چې اوبه د مړی د جسد د تماس په اثر څومره ککړتیا پیدا کوی په تفصیل سره پری بحث شوی دي: وایي ترڅو پوری چې د مړی جسد د سیندونو او ډنډونو په اوبو کې پروت وی، دغه اوبه هیڅ ډول لګښت د پاره مناسبی نه دی او د دی د پاره دغه اوبه دوباره د څښلو وړ وګرزی، لومړی باید جسد له هغو څخه راوایستل شی او بیا د هغه اوبو نیمایي برخه لیری وغورځول شی، نو بیا نیمی پاتی یې د څښلو وړ دی. خو

د روانو اوبو (ویالی او سیند) په باره کې داسی ویل شوی دی، کله چې د مړی جسد له دی ځایه نه وی راویستل شوی نو دوه ګامه مخکې، نهه ګامه پورته (پاس) او شپږ شپږ ګامه ښی او کینې خواته له هغه محله اوبه اخستل کیدای او مصرفیدای نه شی.

په همدې شان د ککړو اوبو په وسیله د ناروغیو څخه د وقایې او مخنیوی په غرض هم خاص دقیق مقررات شته دی. په هغو اوبو کې چې طهارت کیږی باید چې د ناولتیاو دور غورځلو څخه وساتل شی. پر دې برسیره هر چا وظیفه درلودله هر څوک چې به بیروني جسم په اوبو کې ولیده نو هغه به یې تری را ایسته که څه هم دا جسم د بل چا له خوا نه په اوبو کې اچول شوی ؤ.

یو طبیب چې په کوم ښار کې خپلۍ زده کړۍ ترسره کړی دی په هغه ښار کې به یې وظیفه نه اخستله او حتی په کوم ښار کې چې زیږیدلی و هلته هم نه شو اوسیدلای. دی ډول اشخاصو له یوه ښار بل ښار ته مسافرتونه کول او د ناروغانو درملنه به یې کوله.

د دې مؤبدو طبیبانو د کار وسایل چې د ځانونو سره یی وړلای شو دومره زیات او مهم نه وو. ډیره مهمه وسیله هغه لوښی و چې په هغه کې یې د هائوم څخه دوا سنبالوله. هائوم (اومان) یوه ګیاه وه سپیڅلی چې د درملنې زیات خاصیتونه یی درلودل.

په افغانی او هندی اسطورو کې هم د دی ډول درمل ساری لیدل کیدای شی چې هغه ته یی سوما (رُب) ویل کیږی چې د هائوم یا اومان شیره وه. که څه هم په ظاهره دغه ګیاه مخدره او سکر لرونکی وه خو سوما د دی سبب کیده چې ناروغ خدایۍ ته ډیر نژدی ځان حس کړی.

د زرتشتیانو د واکمنۍ د دوری په وروستیو کې د معجون په نوم یوه بله ماده له دی ګیاه څخه برابره شوه چې سپین رنګ یې درلود. په داسی حال کې چې د هغۍ پخوانی رنګ ژیړ و، او دا هغه مطلب دی چې د هغی دوری په مذهبی کتابونو کې قید شوی دی. په نوموړو کتابونو کې ویل شوی دی «د دې د اروګانو څخه ښایي یوازی د قیامت په ورځ (رستاخیز) استفاده وشی په هغه ورځ چې ټول مړی د دی دوا په واسطه بیا له سره را ژوندی شی»[1].

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۳۵۰ ص-۳۸

د زرتشتیانو په مقدس کتاب کې ویل شوی دی چې «آهورامزدا لس زره شفا بخښونکی ګیاه د ده په واک کې ورکړی دی»[۱].

د مؤبد طبیب د طبابت یوه بله وسیله یوه کوچنۍ قمچینه وه چې د هغه چا د تنبه کولو د پاره تری کار اخسته کیده چې مذهبی روغتیایی مقررات یې نه رعایت کول او هم د پیریانو د دفع او بالاخره د ناروغ د بدن څخه د ناروغۍ د دیو د ایستلو د پاره تری استفاده کیدله.

پردې برسیره نوموړی طبیب یوه بله وسیله هم درلودله چې هغه د مار او نورو مضرو موجوداتو څخه د ساتنی په غرض چاکو او امسا وه.

په طبي- مذهبی مراسمو کې د ګډون په وخت کې طبیب مؤظف و چې په خپل سریوه ټوټه ځړو کې واچوی، ترڅو چې په دې وسیله د اور، خوړو او د تنفس د ککړتیا څخه خوندی ساتل شوی وی. دا ټوټه ډیر زیات ماسک ته ورته والی درلود، چې نن ورځ هم جراحان د جراحی په کوټو کې خپل مخ او سر په هسی ټوټو تړی. په همدې شان یو شمیر نور مقررات لکه د طبیب د کار نحوه، د ناروغ د معاینی فیس (اجوره)، د معاینی وختونه او ناروغ ته ور رسیدل او داسی نور په قانون کې ټاکل شوی وو. باید وویل شی چې باید یو طبیب کافی خواړه، مناسب لباس او ښه آس ولرلای شی.

«د فیس یا اجوری اندازی د ناروغۍ د ډول، سختوالی او کمزورتیا او د طبیب د شهرت پوری تړاونه درلود بلکې د ناروغ د ټولنیزی وضعی او د دارایي د اندازی پوری یې تعلق درلود.

د مثال په ډول والی معمولاً څلور غوایان، ښاروال یو آس یا اوښ او بالاخره معمولی شخص یو پسه او حتی یو چرګ د اجوری په بدل کې ورکاوه»[۲].

د هغو تیت او پرکو معلوماتو له مخې چې په دې برخه کې مونږ ته راپاتی دی داسی نتیجه اخستلای شو چې په لرغونی منځنۍ آسیا کې د طبابت وضع د آشور په نسبت ډیره پرمختللی وه، نو ځکه له منطقه لیری خبره نه ده چې وویل شی، د منځنی آسیا خلکو (ایران- افغانستان) طبی اساسات چې په نړۍ کې د «یونانی طب» په نوم شهرت لری یونانیانو ته ور زده کړی وی.

۱- اثر فوق، ص-۲۴
۲- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۳۵۰ ص-۴۰

برسیره پردې د افغانستان د تاریخی دوری له بیلګو څخه دا دی چې د نړۍ د زړښتو زیاتو تاریخی مدینتونو سره آشنایی لری. په دی مانا چې د بین النهرین، د مدیترانی ختیځ سواحل، مصر او ایران، یونان او روم د مدنیتونو سره آشنا او ځنی یې یو له بله اقتباس شوی دی. په داسی حال کې چې د چین او هندوستان تمدن هر یو، یو له بله خپلواکه او مستقل دی.

په دې مابین کې افغانستان دی چې هم د مدیترانی د سواحلو د مدنیت سره آشنا دی او هم یې د هند و چین د مدنیتونو سره په زیاته اندازه په مدنی راکړی ورکړی داخل دی.

«باید پوه شو چې تر اسلام د مخه طب، د یونان د طب او د منځنی آسیا (افغانستان، ایران او ماورالنهر) او هند د طب مخلوط دی. منتها یونانی طب د هند او ایران له طب څخه په دې خاوره کې اثر درلودلی دی»[1].

د افغانستان د طبابت تاریخ تر اتلسمی پیړۍ او حتی د شلمی میلادی پیړۍ تر لومړیو پوری نه شی کیدای چې د ایران او ماورالنهر له تاریخ څخه جلا مطالعه شی. حال دا چې د چین او هندوستان طبابت په مستقلانه ډول خپلی پرمختیا او تکامل ته ادامه ورکړی ده.

په راتلونکو فصلونو کې به یې وګورو چې په دې هیوادونو کې زیاتره له تعصب څخه کار اخستل شوی او د افغانستان یو شمیر متبحر پوهان کله ایران، کله تاجکستان او کله ازبکستان د خپل ځان پوری تړلی دی. خو نه شی کیدای چې په تاریخی واقعیتونو پښه کیښودل شی او د نورو ملتونو پر حقوقو تیری وشی.

«د افغانستان تاریخ د مرکزی آسیا د تاریخ د ایران او شمالی هندوستان د هیوادونو د تاریخ سره کلک تړاو لری. خصوصاً افغانستان، ایران او ماورالنهر (خوارزم – بخارا) چې په پیړیو د یو ډول تمدن او پرمختګ نمایندګان وو. یو د بله سره د هغوی آمیزش د دوی د تربیت او تهذیب صفتونه یې تکمیل کړی دی»[2].

په دې ترتیب د دی خاوری ټول پوهان د دی سیمی د ټولو ملتونو سره تړاو لری او دوی هر یو نه یوازی د سیمی افتخار دی بلکې د ملتونو د

۱- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۹
۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۳۳

ټولنی د اصیلو پچیانو پوری مربوط دی. اما د زیریدنی د ځای په برخه کې په کار نه دی چې له تعصب څخه کار واخستل شی.

ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبی په خپل کتاب «پنجاه مقاله» یو ځل بیا د پوهانو پاملرنه دی مامول ته راګرځولی ده او لیکلی «د ایران، افغانستان په هېوادونو د تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، پاکستان، هند په جمهوریتونو کې – زمونږ د خاوری د ادبی، فکری، تاریخی او (طبابت – مولف، مومنی) ډیره لویه ذخیره شته دی چې زمونږ د ګردوګډ میراث دی او هر ملت پکې برخه لری، لکه چې همدا اوس مطبوع او یا مخلوطی نسخی یې د نړۍ په کتابتونونو او موزیمونو کې تر سترګو کیږی چې د هغوی تدقیق او څیړنه د یو شخص او یا حتی د یوه هېواد د پوهانو له وسی څخه د باندې خبره ده. بهتره خبره دا ده چې دی هېوادونو کې یو تحقیقاتی مرکز تاسیس شی او له بیلا بیلو هېوادونو څخه، اسناد او مدارک راټول شی او په دی تحقیقاتی مرکز کې تر غور لاندې ونیول شی او نتیجه تری واخستل شی چې ګران بیه آثار تری منځ ته راوړی»[۱].

په لنډ ډول باید وویل شی چې لرغونی خراسان چې یو علمی او فرهنګی ډیر لوی واحد و، اوس په درو سیاسی واحدونو لکه افغانستان، ایران او پخوانی شوروی د جمهوریتونو پوری تعلق ونیو او هغه څوک چې د دی خاوری تاریخ او حتی د اسلام او آسیا تاریخ مطالعه کوی ضرور دی چې د دی خاوری د خلکو د سیاسی، ادبی، علمی او فکری نهضتونو څخه خبر شی.

په دې ترتیب د طب په برخه کې د اوستا نقش او ارزښت تر هغه وخته پوری چې یونانیان په افغانستان کې ځای پر ځای کیدل په خپله ډیره لوړه سطحه کې قرار درلود، چې د ناروغانو په درملنه کې هم محلی طبابت یعنی د طبی مادی موادو (طبی بوټی او د حیواناتو اعضا) او هم د روحانیت (دعا او اوراد) څخه استفاده کوله.

کله چې تر میلاده څلور پیړی د مخه یونانیان پر ایران لښکر کشی وکړه، دریم داریوش (هخامنشي) (۳۳۸-۳۳۳ق.م) له دفاع څخه پاتی راغی او افغانستان ته مخه وکړه. خو افغانستان د خلکو د سخت قیام او مقاومت سره مخامخ شول.

۱- پوهاند عبدالحی حبیبي، پنجاه مقاله، ۱۳۶۲ ص-۴۷۳

د باختریان والی (بسوس) د استقلال اعلان وکړ او ځان ته د ختیزی خاوری پاچاووایه او داریوش د ده له خوا ووژل شو.

مقدونی سکندر د پخوانی نړۍ مشهور فاتح د ایران مالک شو او په ۳۳۰ق.م د افغانستان په استقامت یې په سوقیاتو پیل وکړ. په لومړی گام کې یې د بسوس ځواکونو ته ماتی ورکړه او هغه یې وواژه. په دی ډول د هخامنشیانو د مقتدر دولت له پښو وغورځید او افغانستان د تاریخ نوی صفحی ته ور داخل شو. «مقدونی سکندر څلور کاله د افغانستان او سغدیانه په تسخیرولو کې ډیر زحمتونه وگالل او په ډیرو جگړو اخته پاتی شو ترڅو یې وکړای شول له توس او هرات څخه قندهار او کابل ته او بیا بلخ او ماورای جیحون ته ورسید، وروسته له هغی چې له یونان څخه یې نولس زره تازه دم سپاهیان ونیول، د سلو زرو عسکرو سره له هندوکش دوهم کرت تیر شو او د افغانستان د ختیزو ولایتونو څخه یې په ۳۲۷ق.م هندوستان ته سوقیات وکړل»[۱].

افغانستان ته د سکندر او یونانیانو را ننوتل د یو شمیر یونانی پوهانو او هنرمندانو په ملگرتیا سره یې حرکت کاوه او دی تاریخی واقعاتو د افغانستان د خلکو په مادی او روح باندې ژوره اغیزه وکړه.

دی ستری پیښی زمونږ د هېواد تولنیز نظام او لرغونی تمدن او فرهنگ ته سخت ټکان ورکړ او د دواړو هېوادونو د خلکو د مدنیت او فرهنگ د سره خلطیدو په نتیجه کې زمونږ هېواد د خپلی لوړتیا یوی نوی مرحلی ته ور داخل شو، چې طب او طبابت هم د دی بدلونونو تر اغیزی لاندې راغلل.

یونانیان چې افغانستان ته را ننوتلی وو سپاهیان یې مجردان او آل او عیال یی نه درلود او هغه کسان چې له دوی څخه په افغانستان کې پاتی شول دلته یې ودونه وکړل او د دی هېواد د خلکو سره خلط شول، چې دی اختلاط دوی هم د افغانستان د فرهنگ، مذهب او عقیدو تر اغیزی لاندې راوستل او د دی ترڅنگه بې له شکه یونانی پوهانو او فرهنگیانو بالخاصه د طب او درمل جوړولو په برخه کې زمونږ په هېواد کې خپلی اغیزې پریښودلی.

هغه وخت چې مقدونی سکندر زمونږ له هېواده وځغلول شو د دوی څخه یو شمیر طبیبان د افغانستان په مختلفو سیمو کې هستوگن شوی او د

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۴۳

طبابت فن یې پرمخ بیوو. له همدې ځایه و چې زموږ په هېواد کې محلي طبیبان د یوناني طبیبانو په نوم هم یادیدل «ځنې پوهان په دې عقیده دي چې د ابن سینا طبابت ته یوناني طبابت ویل کیږي» (مولف، مومنی).

تر میلاده د مخه د دریمې پېړۍ په منځنیو کې چې په افغانستان کې د یونانو- باختري دولت استقلال اعلان شو د ختیز له جبهې څخه د هندوستان د موریانو ستر دولت د سند له سیند څخه تیر شو او د هندوکش تر جنوبه را ورسید او تر ټولو د مخه یې بودایي دین ته پراختیا ورکړله.

«په دې دوره کې (د یونانو- باختري دولت ۲۵۰-۱۳۵ق م) سوادګري او د پیسو دوران انکشاف وموند، ښارونه جوړ، د سرو زرو سپینو زرو او نکلو مسکوکات رواج شول. د باختریانو په بازارونو کې دوریښمو او ململو د پارچه بابو، د اروګانو، شیریني بابو، فلزي مسي، نقره اي شیانو، جواهرو او داسې نورو انواع د راکړې ورکړې میدان ته را ووتلل»[۱].

د هندوستان د موریاد دولت نفوذ له یوې خوا او دوریښمو له لارې د هندي مالونو تبادلې له بلې خوا محلي طبیبان د حکیم او حکیم جي په نوم زموږ په هېواد کې را منځ ته کړل او دا پدې لحاظ دی چې په لیر یو زمانو کې هندوستان د مستقل فرهنګ او تمدن درلودونکی و او د هغه تجارتي مالونه چې طبي بوټي او درمل هم په دې کې شامل وو دوریښمو له لارې لویدیز ته انتقال ورکول کیده. په دې توګه هندي طبابت هم زموږ په هېواد کې رواج پیدا کړ، په تیره بیا د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې د افغانستان پاچاهان او سلطانان مخکې له دې چې د ترکیې دولت سره خپلې اړیکې ټینګې کړي هندي طبیبان د سلطنتي کورنۍ د معالجو په حیث استخدام شول او د ارګ په روغتون (پل محمود خان) کې یې وظیفه اجرا کوله. هغوی هم له عصري طبابت څخه بې برخې وو او د ګلنیکي ادویه جاتو چې د دوی خپل ساخت و لکه جوشاندې، پیلولونه او نورو څخه یې استفاده کوله.

دوریښمو لارې چې د سمندري لارې تر کشف پورې د اوږدو پېړیو په اوږدو کې یې افغانستان د لویدیزو او ختیزو هېوادونو (هندوستان او چین) سره وصل کاوه، د فرهنګ او علومو خصوصاً طب او طبابت، د درملو او طبي بوټو د مشرق او غرب د هېوادونو په منځ کې د راکړې ورکړې ارزښتمن رول لوبولی دی. حتی وایي چې د چین ستر دیوال دوریښمې د

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۴۷

لاری د ساتنی د پاره هم استعمال شوی دی. د چین دیوال ۲۱۴ کاله تر میلاده پخوا جوړ شوی دی. د پورتنی لیکنی څخه دوریینمو د لاری تاریخی او اقتصادی اهمیت په ډېره ښه توګه جوتیږی.

د کوشانیانو د دولت په وخت کې (۴۰-۲۲۰م) د دی کورنۍ پاچا د رومی امپراطور دربار ته خپل نمایندګان ولیږل. ځکه چې رومیانو د مدیترانی اسیایی سواحل یعنی دوریینمو د تجارتی لاری پای نیولی وه.

څرنګه چې رومیان پولدار او تجملیان وو د چین دوریښمینو پارچو، عطریاتو او د هندوستان د درملو سره ډیره مینه وال وو، نو يې کولای شو چې د دی اجناسو په بدل کې د هغی ترانزیتی لار د افغانستان په لاس کې وه ډیر زیات سره زر د افغانستان بازارونو ته راتوی شی.

د یفتلیانو په دوره کې (۲۲۰-۴۵۰م) د چین، ایران او هند سره دا سوداګری او د درملی موادو تبادله روانه وه.

د پورتنی بحث څخه داسی نتیجه په لاس راتلای شی چې د افغانستان (منځی آسیا) طبابت تر اسلام د مخه د یونانی او هندی طبابت مخلوط و، او څرنګه چې دوریینمو د لار په سیر کې يې قرار درلود د نورو هېوادونو په نسبت خصوصاً عربان او حتی لویدیز هېوادونو چې ورو ورو د غفلت په خوب کې تلل زیات پرمختللی و. او د اسلام د سپیځلی دین تر ظهور وروسته چې د منځنیو پیړیو فرهنګ او کلتور لویدیز يې په خپله ناپوهي کې ډوب کړی و، د افغانستان طبابت په خپلو ډیرو لوړو مدارجو کې قرار درلود.

دویم څپرکی

په افغانستان کې طبابت د اسلام له ظهوره د مغلو تر یرغل پورې

لکه چې څرګنده ده طب تر اسلام نه مخکې د یونان، منځنی آسیا او د هند د طب یو مخلوط ؤ، منتهی یونانی طب د هند تر طب څخه د مخه په دې خاوره اغیزې ښیندلی وې.

د ساسانیانو په دوره کې که څه هم علومو دومره وده نه وه کړې خو د طب په باره کې سرشته درلودله لکه چې د ساسانیانو سترو پاچاهانو لومړی شاپور او دویم شاپور په وخت کې او تر دوی وروسته انوشیروان دادګر په وخت کې د یونان د استوګنو پوهانو ایران او افغانستان ته راغلل او د هغوی یو زیات شمیر چې د مذهبی اختلافاتو له مخی چې په شرقی روم کې پیښ شوی وو هغوی جلا وطنه کړی په ایران او افغانستان کې یې هستوګنه غوره کړې وه.

ساسانی پاچاهانو تر ټولو د مخه د هغوی درناوی کاوه او د هغوی له وجود څخه یې علمی ګټې اخستلې، چې د دوی مثمرو تلاشونو په نتیجه کې د جندی شاپور لوی پوهنتون او د هغه ضمیمه روغتون تاسیس شو. تر کومه ځایه چې څیړنی ښئ د دې پوهنتون وروستنی تحقیقاتی اثر هغه کتاب دی چې د درمل جوړولو په برخه کې د سالور بن سهل له خوا په ۸۶۹م کې ولیکل شو، دغه کتاب د خلفاوو د حکومت تر اداری لاندې سیمو کې رواج وموند او یقین ته نژدی احتمال سره دا لومړنی کتاب دی چې په نړۍ کې د درمل جوړولو په هکله لیکل شوی وی. «د جندی شاپور دغه لوی مکتب یو زیات شمیر طبیبان وروزل چې د هغوی څرګنده نمونه ال بختیشوع دي»[1].

لنډه دا چې د جندی شاپور پوهنتون د ساسانیانو په دوران او بیا وروسته تر دوی څخه د عباسیانو د خلافت تر منځنیو د یوی مودی د پاره

۱- دکتر ادوارد پراون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۱۰

خپل علمی نفوذ او اقتدار وساته. که څه هم د بغداد د خلفاو په واسطه بغداد د اسلامی هېوادونو مرکز وګرزید بیا هم جندی شاپور د طب په عالم کې زیات ارزښمند مقام درلود.

د طب او طبابت په باره کې د انجیل او تورات لارښوونې

مخکې تردې چې د اسلامی طبابت په هکله معلومات وړاندې شی لازمه ده چې د طب او طبابت په اړوند د انجیل او تورات لارښوونې هم په لنډ ډول وښودل شی.

انجیل د ناروغیو د پاره ډېر دلیلونه راوړی چې په لاندې ډول دی:

لومړۍ نظریه: ناروغی د بشری ګناهونو د جزا په عنوان مستقیماً د خدای له طرفه پر بندګانو نازلیږی. د انجیل په یو حنا کې راغلی دي: «هان! د جهان خالق وایي: ګناه مه کوئ ترڅو پر تاسی کمی ناروغۍ نازلې شي».

په یو بل ځای کې ویل شوی دي: «ای مومنانو! څوک ګنهکار دی پخپله یا مور او یا پلار یې چې د ړانده ماشوم غوندی دنیا ته راغلی دي»؟.

دویمه نظریه: دا ده د سالم (روغ) شخص په بدن کې د شیطان رسوخ د ناروغی علت دی. «یو شمیر خلک د ده د لیدلو د پاره وځغاستل چې له ډیری مودی مخکې یې شیطان په بدن کې نفوذ کړی و» (انجیل لوقا).

او په متی انجیل کې راغلی دی «ګنګ خلک یې د ده حضور ته وروستل چې د شیطان په تصرف کې وو».

دریمه نظریه: د اوسنیو موجوده لیکنو له مخې چې د ناروغیو په باره کې دی سحر او جادو ؤ. د انجیل په یوه برخه کې ویل شوی دي: «هغه ناروغۍ ګذرګا ګانو ته ولویدلی ترڅو چې د سپیڅلی پطرس په هغه ګذرګا ګانو تیر شو او د ده سیوری د ډیرو ناروغیو اثار له منځه یووړل».

پورتنیو نظریاتو قسماً په منځنی آسیا او د هغه وخت په افغانستان کې نفوذ کړی ؤ. دا نظریات د هغو نظریاتو سره مغایرت لری چې په تورات کې یې انعکاس موندلی دی. مثلاً د حضرت ایوب(ع) ناروغی د ده د ګناه د جزا په عنوان وه نه د ده په بدن کې د شیطان د رسوخ له امله دی. همداشان د هغوی تداوی هم د جادو او جنبل په واسطه نه ده شوی. خو سحر او جادو تل د هغوی په هېواد او په ګاونډیو سیمو کې ډېر زیات رواج درلود.

د طب او طبابت په هکله د قران مجید حکمونه

د ناروغیو په درملنه کې د اسلام د سپیڅلی دین شیوه په مادی او معنوی ډول ده. په قرآن عظیم الشان که په کراتو سره راغلی دي: چې لوی خدای(ج) هیڅ ناروغی نه ده پیدا کړی چې د هغی د پاره درمان او شفا نه وی او دا هماغه آیت دی چې بیا وروسته د دې په موجب طبیبان (چې په عین وخت کې درمل جوړونکی و) و هڅېدل چې د مختلفو درملو د لاری د موندنی د پاره زیات تلاشونه وکړی.

حضرت محمد(ص) فرمایي: «روغتیا په درو څیزونو مشروطه ده، شات، نشتر وهل او بادکش (حجامت کول، کدوګک یا ښکر لګول) چې سر خوږی او تبه د بادکش په واسطه درمان کولای شی. باید پاملرنه وشی چې بادکشونه باید د اورمیږ پرمخ کیښودل شی، ځکه چې د دې صورت نه په غیر کیدای شی ناروغ خپله حافظه له لاسه ورکړی. دا ځکه چې مخچه چې د خاطراتو او حافظو مرکز وی هلته قرار لري»[۱].

حضرت محمد(ص) پخپله ایمانی معالجه ترسره کوله، بی بی عایشه د ابوبکر صدیق لور او د آنحضرت(ص) ماندینه وایي: د اسلام پیغمبر خپل مبارک لاس د ناروغ پر بدن کیښوده او دعایی کوله، ای خدایا د ده درد ورځنی واخله او شفا ورکړه ځکه چې دا ته یې چې رنځورانو ته شفا وربخښی، په جهان کې چې کومه سلامتیا ده هغه ستا له خوانه ده او پرته له دې وجود نلری، هغه سلامتیا چې تر رنځوری وروسته نه وی، هغوی د دی طریقی په واسطه د زخمیانو د درملني د پاره هم استفاده کوله.

د عربانو په طبابت کې د زیاتو ناروغیو د تداوۍ د پاره له شاتو (عسلو) څخه کار اخستله کیده.

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۳۵۰ ص-۱۰۵

وایي یوه ورځ یو جادوګر حضرت محمدﷺ ته مراجعه وکړ او د هغه نظر یې وغوښت آنحضرتﷺ وویل: «زما له مخې لیرې شه او د مداوا کار هغه چا ته پرېږده چې کولای شي خپل ورونه تداوي کړي شي»[1].

د اسلام د مشهورو دستورونو له جملې څخه دا دي چې په ناروغیو اخته کېدو د مخنیوي په خاطر د خوګ د غوښې خواړه او د شرابو څښل منع شوي دي. پر دې برسیره ویل شوي دي چې د غوښې په خوړلو کې افراط کول د مسکراتو د څښلو په اندازه زیان رسوونکي دي.

په همدې ډول د اسلام د پیغمبر حضرت محمدﷺ زده کړې، خلک خیرات او مبراتو او د مال انفاق (نفقه) د خیر په لاره کې هدایت ورکړی دی. په دې ډول په اسلامي تمدن کې طب او طبابت تر سترګو شوي او د نورو علومو څخه زیات پرمختګ کړی دی.

باید زیاته شي چې د طب او حفظ الصحي (روغتیا ساتنې) په هکله د حضرت محمدﷺ حدیثونه په نهمه او لسمه پیړۍ کې (د هجري دریمه او څلورمه پیړۍ) راټول شوي دي، چې مربوط مسایل د موضوع له مخې تنظیم شوي او هرې یوې موضوع ته یې ځانګړی کتاب وویل او په هر سنت کې د باب نوم کېښود. که چېر ته دا حادیثو مجموعې له «صحیح» بخاري (د اهل تسنن د اخبار مدار په شپږو کتابونو دي چې هر یوه ته «صحیح» وتېولو ته یې «صحاح سته» وایي او د صحیح محمد بن اسمعیٰل بخاري کتاب له هغې جملې څخه دی چې دعامو په نزد ډېرو زیاتو صحیح کتابونو څخه دي) او دا حادیثو د ډېرې مشهورې مجموعې څخه ده مراجعه کوو. په پیل کې څلورم ټوک له دوو کتابونو څخه مرکب دی چې اتیا بابه لري او هغه د ناروغانو او د طبي چارو په هکله دي. او که چېر ته د هغو مطالبو ته ځیر شو و به ګورو چې په غیر د یوې اندکې برخې چې د طب، جراحي او درملو چارو پورې مربوط دي نور پاتې یعنې د هغې زیاتره مطالب یې د هسې چارو پورې تړاو لري چې د ناروغ سره د برخورد طرز، د ده تشویق او تلقین، د ناروغانو روحي غښتلتیا او تسکین، نظر یا بدې سترګې، سحر او طلسم، تعویذ او ادعیه (دعاګانې) او د ناروغ د ساتنې او حفاظت د پاره د عباداتو او داسې نورو پورې مربوطې دي.

حضرت محمدﷺ بیا نوې چې لوی او تبارک تعالی د هر درد د پاره چې په خپلو بندګانو یې نازل کړی دی د هغو د درملنې د پاره یې مناسب

۱- اثر فوق، ص-۱۰۶

درمل تعیین کړی دی. آنحضرت ﷺ فرمایی «علم دوه اړخونه لری، فقه او طب»[۱].

آنحضرت ﷺ خپل مبارک لاس د ماوفه په محل (حتی زخم) باندې کیښوده، د هغه د تماس او ښورولو سره یې دعا کوله. په اوسنی وخت کې د ماساژ د تداوۍ میتود پرته له تماس څخه رواج لری چې منشأ یې له هماغه وخته پیل شوی ده. مساژ پرته له تماس څخه د درملنې د ډیرو په زړه پوری طریقو یعنی د حیاتی ساحی په واسطه له تداوی څخه دی. چې د هغی نتیجی له اعجازه ډکی دی هغه ځوک چې ناروغان په دې شیوی سره تداوی کولای شی کنتراسنیز ورته ویل کیږی.

د درملنې دا طریقه چې په وروستیو کلونو کې یې سرو صدا راپورته کړی ده او پوهانو دغه میتود ته رجوع کړی ده ۱۴۰۰ کاله د مخه یعنی د اسلام په لومړنیو کې له دی میتود څخه حضرت محمد ﷺ استفاده کړی ده. په ځینو شمیر درملو کې چې تجویز شوی دی شونیز (سیا دانه) «Nigella-Sativa» ژیر صبر، رانجه (د سترګو د درد لپاره)، شیر خشت، ایره، سوی حصیر د وینی بندونکی یا قابض په عنوان قرار ورکړ شو.

د ناروغیو څخه چې نوم یې اخستل شوی دی سرخوږی، د شقیقی درد، د سترګو درد، خوره یا جذام، برص، تبه او طاعون چې وروستنی مرض د «زفیرجهنم» په صفت راغلی دی. آنحضرت ﷺ خپلو پیروانو ته توصیه کړی ده، په هغی خاوری مه ځی؟ چې هلته د طاعون مرض خپور شوی وی. او که چیر ته احیاناً په بې خبرۍ سره دغسی هېواد ته ولاړی له هغه څخه مه تښتئ.

دا لنډ مطالب چې په احادیثو، روایاتو، سیره او سنتو کې لړو ډیر موجود دی ګرده هغه مطلبونه تشکیلوی چې وروستنی لیکوالان هغه د «طب النبی» په نوم یادوی.

وایي چې تردې وروستیو پوری په هندوستان کې د پخوانی طب محصلین، دا ټول احادیث او سنتونه چې د طب النبی په هماغه نوم په یو کتاب کې راټول شوی او د ابن سینا د قانون د لنډی ضمیمی سره چې په «قانونچه» مشهوره ده د خپلی زده کړی په موده کې هغه مطالعه کوی.

په لومړنیو بدوی عربو په منځ کې لاهم عمومی اعتقاد او د معالجی وسیله د اورادو او ادعی په ویلو ؤ. غالباً د هغو په پای کې د ورد او یا دعا

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۳۵۰ ص-۸۴۵

لوستونکی د خولی لاړی د ناروغ په خوله کې اچولی کیدلی (توکیدلی). د دې وروستی عمل مثال په کتابونو کې راغلی دی د شاعرانو څخه یو تن چې «جریر» نومیده (نقایض- چاپ ایران ص-۸۴۰) خپله لور «ام غیلان» یې یو کوډ ګرته چې «ابلق» نومیده بوتله او نوموړی په همدې طریقه د سرخ باد څخه د هغه لور روغه کړی او هغه ته یې ور کړه.

(کوچنی ماشوم وم چې یو سړی زمونږ ځای ته راغی، کوچنیان یې د مول او دعایی ورته کوله او په آخره کې یې د خپلی خولی لاړی د هغو په خولو کې توکولی. ما د دعا خوان له دی کاره سر وغړاوه، پری می نښود چې زما خوله کې لاړه تو کړی او ورڅخه وتښتېدم – مولف، مومنی).

زومر Zwemer د عربستان یا د اسلام زانګو د کتاب په ۲۸۰-۲۸۴ مخونو کې په لنډ او موجز ډول د معالجو کیفیت او د معمولو طبی اعمالو په باره کې چې د عربستان د قبایلو، صحرا نیشنو، بیابان ګردو خلکو او ښاریانو په منځ کې ترسره کیدل داسی بحث کوی او هغه ستاینه چې لاس ته راکوی او تر هغی اندازی چې تری څرګندیږی په لرغونی زمانو کې د هغوی د ژوندانه د وضعی او رایجو معالجاتو، ښکارندوی دی.

د مولوی معنوی په مثنوی کتاب کې (طبع ۱۲۸۲- ص-۵) ذکر شوی دي: چې پاچا په خپله وینځه ګی مین شو او کله چې وینځه ګی ناروغه کیږی په لومړئ سرکې یې د مروجو درملو څخه استفاده وکړه خو کله چې درملو تاثیرونه کړ نو جومات ته لاړ او په دعا پاڅید.

شه چو عجز آن طبیبان را بدید　　　پـــــا برهنه جانب مسجد دوید

ای دوای نخوت و ناموس مـــــا　　　ای تو افلاتون و جالینوس مـــا

خو د عباسی خلیفه ګانو په زمانه کې طبابت یوی هغسی خپلی لوړی درجی ته ورسید چې نه یوازی یې د عربو ټولنی راونیولی بلکې منځنئ آسیا او لویدیزه اروپا هم د اسلامی طب تر اغیزی لاندې راوستلی.

له نیکه مرغه د اسلامی طب ستر نمایندګان زیاتره افغانی او ایرانی او منځنی آسیا څخه وو او دوی وکړای شول د اسلام تمدن په دوران کې په دې آسمان کې د لومړنئ قدر ستوری وو لکه رازی، ابن سینا، اهوازی، جرجانی (ګرګانی) د بختیشوع کورنئ او داسی نور.

«پر عجمو د اعرابو غلبه او هغه اجبار چې ليکوالانو د وخت په علمی ژبه يعنی عربی د کتابونو او تاليفاتو په ليکلو کې (لکه په منځنيو پيړيو کې په اروپا کې لاتينه ژبه) درلود د دی باعث شو چې ځنی تذکره ليکونکی او مورخين ټول اسلامی تمدن د عربو په حساب کې راوړی دی، په داسی حال کې داسی نه ده. ځکه د اسلامی تمدن زياتره پوهان غير عرب دی، او د مفتوحه هېوادونو د ملتونو څخه زيات شمير د اسلام او د قرآن مجيد د زده کړو په برکت په دې مهم چارو کې ګډون کړی و»[۱].

دلته لازمه ده چې په افغانستان، ايران او سيمه کې د يونان او روم د پوهانو هستوګن کيدل او عربی ژبی نفوذ روښانه شی.

مسيحی اروپا د هماغی ځلورمی پيړۍ راهيسی د يونان د علم سره مخالفه وه، ځکه چې په ټولنو کې د خرافاتو تقليد او تعصب حکومت کاوه. د همدې پيړۍ په وروستيو کې د کارتاژ دينی شورا د غير عيسوی آثارو لوستل تحريم کړل او په پنځمه پيړۍ کې د قسطنطنيی دينی شورا د اسقف نسطور او د کليسا نسطوريان چې عيسوی دين يې د يونان د فلسفی سره وفق ورکړی و د شرقی روم د امپراطوری د پايتخت څخه بيرون ته وايستل.

په شپږمه پيړۍ کې د شرقی روم امپراطور ژوستنين د اتن پوهنتون وتړه، عيسوی ملايانو هم لرغونی علمی کتابونو د پوستکی د پاڼو پرمخ موهومی دعاګانی او اوراد ليکل.

نو دا ده چې اروپا د منځنيو پيړيو په ژور او اوږده خوب کې تللی وه او د پوهی، علم او فرهنګ نور او روښنايی د منځنی آسيا په سيمو کې وځليدله او بالاخره خپل لوړ معراج ته ورسيدلی، خو د شرقی روم امپراطوری د و چې او اوبو څخه د ختيزو هېوادونو سره پراخ تجارت درلود د چين، افغانستان، ماورالنهر، ايران، هند، عربستان او حبشی مالونه او شيان د هغوی په بازارونو کې ورتوئيدل.

د شرقی روم او ايران د دولتونو د کمزورتيا او فساد په اثر و چې د عربو نوی ظاهر شوی ملت په دواړو يرغل وکړ او له ۶۳۳ څخه تر ۶۵۱م يعنی د ۱۸ کلونو په موده کې د ايران ټوله شنهشاهی ونيوله، سوريه، فلسطين او مصر يې هم د روم د شنهشاهی څخه جلا کړ.

۱- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۱۱

په داسې حال کې د اسلام دین دینی او معنوی د دواړو جنبو التزام کاوه دا وه چې په یوه لاس کې یې قرآن مجید او بل لاس کې یې توره درلودله.

که څه عربو د خپلې فرمان روایي په د ننه کې د خپلې ژبې په تعمیم او پراختیا کې فشار نه راوسته او په توره یې تکیه نه کوله، خو کله چې معنوی فرهنګ یې حاصل کړ ژبه او ادب یې پرمخ لاړ او د عربي ژبې خپریدل په آسانۍ سره مهیا شوی نو عربي ژبې د اسلامي هېوادونو په دفترونو او ادارو کې رواج وموند.

له دې ځایه و چې د منحنی آسیا د هېوادونو پوهان لکه ابن سینا بلخي، رازي، ګرګاني، هیروي کورنۍ او نورو خپل علمي او تحقیقاتي آثار زیاتره په عربي ژبه ولیکل. حال دا چې د هغوی څخه هیڅ یو عرب نه و.

طبابت د امویانو په دوره کې:

اموی دولت یو فاتح دولت و. د دې دولت دوران ته د جنګ، جهاد او په نړۍ کې د اسلام د دین او عربي ژبې د خپریدلو عصر ویلای شو. په دې عصر کې د عربو د ټولنې پوهان زیاتره په قرآن، تفسیر، حدیث او فقې باندې مشغول و، او تر اوسه پورې یې د نړۍ د لرغونو علومو سره سروکار نه درلود. خو د دوی پراخو فتوحاتو د عربو د ملت پیژندنه او آمیزش د نورو ملتونو ادیانو، فلسفې او علومو هنر او د نړۍ د مختلفو مدنیتونو سره ناګزیر کړل. او دا پخپله په آینده کې د یوه ګډ تمدن د منځ ته راتلو د پاره زمینه برابره کړه چې طبابت هم د دغه تمدن ډیره غښتلې برخه وه.

طبابت د عباسیانو په دوره کې:

د عباسیانو په دوره کې ۳۷ تنو له ۷۵۰-۱۲۵۸هـ پورې یعنې د پنځو پیړیو په اوږدو کې د اسلامي خلافت په سرکې قرار درلود. خو عباسي دولت یو عربي دولت نه بلکې یو بین الاسلامي دولت و چې په هغه کې د افغانستان، ایران، ماورالنهر، ترکانو او د مسلمانانو اکثرو ملتونو د شخصیتونو سیاسي نفوذ زیات تاثیر درلود.

په تيره بيا د افغانستان د شخصيتونو لکه خراساني ابومسلم چې د اموي دولت څخه يې عباسيانو ته سياسي قدرت ور انتقال کړ.

د نړيوال تمدن او فرهنګ له مخې عباسي دوران د اسلام په تاريخ کې يوه ځلانده دوره او د نړۍ په تاريخ کې يوه نوې پاڼه شميرل کيږي.

عباسي دولت نړۍ د لرغوني فرهنګ سره خاصه مينه لرله د هر ملت او مذهب پوهان يې د سياسي مخالفينو په استثنا پوره درناوی کاوه. د عباسيانو دربار په نړۍ کې د فلسفي او ديني مناظرې او مناقشې د پاره ډير ښه محل شميرل کيده.

په اوومه پيړۍ کې په هغه وخت کې چې د افغانستان سره د عربو تماس برقرار شو د افغانستان خلک د عربو په نسبت د اقتصادي له نظره، د پرمختللي کرنې، آبياري او پيشه ورۍ درلودونکي وو. ښارونه يې ډير ښه آباد او د سوداګرۍ لارې يې له هند، چين، مرکزي آسيا، ايران او افغانستان څخه تيريدلې، د کابلشاهانو دولت دا لارې په خپل واک کې درلودلې، په ښارونو کې د پيسو دوران تجارتي راکړې ورکړې اسانولې او د افغانستان د محلي حکومتونو مختلف مسکوکات په بازارونو کې رواج درلود.

«د هغې ورځې افغانستان د فرهنګ له نظره د رياضي، نجوم، طب او الهياتو سررشته درلودله. د يوناني او ساساني د علومو او د هندي فلسفې سره آشنا وو»[۱].

په کال ۶۷۰هـ کې پنځوس زره عربي عسکر د خانه کوچ په شکل د ربيع بن زياد په مشرۍ افغانستان ته راننوتل او تر بلخه پورې وړاندې لاړ، د دې پنځوس زرو عربو کورنيو ته د افغانستان په شمالي ښارونو کې هستوګنځې ورکړ شو.

د افغانستان د خلکو د عربو د خلکو سره نژديوالي، د يوه او بل پيژندنې او د خپلولۍ د اړيکو د منځ ته راتلو سبب شو او دا کار د اسلام د دين په خپرولو کې په تدريج سره پوره ګټور تمام شو.

څرګنده ده چې د عربو طبابت د خپل ابتدايي توب باوجود «يعنې عربو له ځانه څه شی نه درلودل او يوازې يو څه يې د نجوم، لرغوني طب، ګياه پيژندنې او بيطارۍ څخه له بابليانو څخه د صائبينو په واسطه اخستلې

۱- مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۶۶

وو. په همدې ډول دوی په فال نیولو، شوګون او جادو باندې عقیده درلودله»[۱] او دغه لاس ته راوړنې یې د افغانستان د طبابت سره یو ځای شوې.

د یوې پیړۍ په اوږدو کې د افغانستان ملت تریوی اندازې پورې د عربو د ملت ذوقونه ومنل د هغوی دین او ژبه یې د خپلې ژبې په خوندي ساتلو قبوله کړه. عربی ملت هم د افغانستان د لرغونې تمدن او فرهنګ سره آشنا شوی او دی دواړو ملتونو د اسلامی راتلونکی مدنیت په تشکیلیدلو کې پوره اغیزه واچوله.

«لکه څرنګه چې افغانستان د عربو دین او ژبه ومنله خپل ریاضیات، نجوم، انشاء او ترسل یې د هندوستان د طب او فلسفی سره هم عربو ته اهدا کړل. او په مجموع کې یې د اسلامی ګډ مدنیت په جوړیدلو کې موثر نقش ولوباوه»[۲].

طبابت د طاهریانو په عصر کې:

د طاهریانو په دوره کې طبابت او، د خلکو هوسایي ته ډیره خاصه پاملرنه کیدله. لکه چې عبدالله بن طاهر (د طاهری دولت موسس ۸۲۱-۸۷۲م) چې د بغداد حاکم و د خپل پلار څخه یې یو مفصل لیک تر لاسه کړ چې د هغه په یوه برخه کې لیکل شوی و «سپاهیان دی پیاوړی ولره، امنیت وساته، د خلکو سره په عدالت او ارامی رفتار وکړه – او د هغوی اړتیاوی او حاجتونه ترسره کړه، خپل برأت او سپیڅلتیا رعیت ته وښیه، او د ناروغانو د پاره روغتونونه جوړ کړه... دا هماغه د طاهر مکتوب دی چې مشهور طبری په «الامم والملوک» په تاریخ کې قید کړی دی.

۱- اثر فوق، ص-۵۹
۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۸۳

طبابت د سامانيانو په دوره کې:

سامانيانو چې (۸۷۴-۹۹۹م) د واکمنۍ چارې په لاس کې درلودلې، ترقۍ په لار کې يې مثبت ګامونه پورته کړي دي او د مرحوم غبار په قول دې مرحلې ته د مدنيت د ودې مرحله ويلای شو. ځکه چې په نهمه او لسمه پيړۍ کې په منځنۍ آسيا کې د اوبو رسولو چارې په مختللې وې، مالداري پراختيا موندلې، وريښمو، نساجي او کاغذ جوړولو صنعت پرمختيا کړې ده، سره زر، سپين زر، اوسپنه، قلعي، جيوه او مس، سرب او نوشادر د افغانستان او ماورالنهر له معدنونو څخه استخراج شوي و. وسلې جوړول، د کرنې آلات، لوښي، د آس براق او څرمن، صابون، شمع ريزي، د پوستکي ګنډل، قالين بافي او داسې نور صنعتونه رونق موندلی و.

«پراخه سوداګري د چين، هند، نژدې شرق، بلغاريا او روسيې سره منځ ته راغلې وه. د تجارتي مالونو مبادله لکه... کريمه احجار، درمل، حيوانات، کاغذ... رواج درلود»[۱].

سامانيان د علم او هنر هڅوونکي او حاميان وو. د دوی دوره کې، فاضلو او علم پالونکو شخصيتونو اشخاصو وده کړې وه چې د دې لاندنيو مشاهير څخه يادونه کولای شو.

ابوالفضل محمد بن عبدالله بلعمي، ابو علي بن ابوالفضل بلعمي، ابو عبدالله محمد بن احمد جيهاني، ابو علي بن ابو عبدالله جيهاني، ابو عبدالله احمد بن ابو علي جيهاني، ابو فضل محمد بن ابو عبدالله جيهاني، ابو منصور عبيدالله بن نصر جيهاني، ابو طبيب معصب، ابوالحسن عينتي او داسې نور.

د سامانيانو په وخت کې طبري تفسير لکه د طبري تاريخ، کليله او دمنه په دري وژباړل شول. عجايب البلدان ابوالموئيد بلخي، د منصوري منثوره شهنامه، مسعودي منظومه شهنامه، د جوزجاني حدودالعالم او د الابنيه فی حقايق الادويه کتاب د هيروي تاليف تخليق شول. او شاعران لکه شهيد بلخي، رودکي بخارايي، رابعه بلخي او داسې نورو شاعرانو ظهور وکړ.

د دې دورې فيلسوفان او پوهان لکه ابوزيد بلخي، ابو سعيد سجزي، ابو سليمان منطقي، ابو جعفر خازم، او الوفا جوزجاني چې تر ټولو زيات مشهور وو د نهمې او لسمې پيړۍ محصول ابو نصر فارابي او ابن سيناې بلخي دي.

۱- اثر فوق، ص-۹۹

«بخارا د سامانیانو پایتخت د خپل کتاب پلورنځی او سلطنتی کتابتون سره د منځنی آسیا د هغې زمانې علمی مرکز شمیرل کیده، ابن سینا په همدې ځای کې و چې د ارسطو او فارابی له آثارو سره آشنا شو»[1].

وایي چې د سامانیانو دربار ډیر پرتمین و او همیشه له اشرافو، خدمتګارانو، منجمانو، شاعرانو، طبیبانو او ټوکمارانو څخه ډک ؤ.

طبابت د غزنویانو په زمانه کې:

عزنویانو چې د (۹۶۲-۱۱۴۸م) پورې واکمنی کړیده، په تیره بیا سلطان محمود غزنوی (۹۹۸-۱۰۳۰م) په مذهبی چارو کې ډیر متعصب و. نوموړی پرته له اسلامه د هر مذهب او فلسفی سره مخالف و او له همدې ځایه دی چې د ده په وخت کې په افغانستان کې عقلی علوم ټپ ودریدل. او د سامانیانو د زمانې وسعت نظر له منځه لاړ.

د همدې عواملو له امله ؤ چې ابن سینا د غزنویانو پایتخت یعنی عزنی ته رانغی. «دا وخت د افغانستان په مدرسو کې بې له نقلی، ادبی علومو او یو څه د حساب، نجوم او طب څخه نور څه نه تدریس کیدل. په دې ډول د علم او فرهنګ انحطاط په نورو پیړیو کې دوام وکړ»[2].

په مخدره موادو اعتیاد مسئله د عزنویانو له زمانې څخه په تاریخ کې درج ده چې مسعود بن محمود (۱۰۳۰-۱۰۴۱م) برسیره پردې چې زیات شراب یې څښل کله کله یې اپین هم خوړ.

په ۱۰ او ۱۲ پیړۍ چې د غزنوی دولت سره مصادف دی «تجارتی لاری امن ناکی او کاروانسرایونه آباد وو. دې کاروانونو د افغانستان، چین، هند، ترکستان، ایران، عراق، مصر او شام (سوریه) تجارتی مالونه وړل د هغوی په مال التجاره کې... عطریات او ادویه شامله وه همداشان سرکه او شراب تولید کیدل»[3].

په دې زمانه کې شاهی دربار ډیر مفصل و او طبیبان هم د پوهانو په ډله کې دربار ته لاره موندلی وه.

۱- اثر فوق، ص-۹۹

۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۱۰۷

۳- اثر فوق، ص-۱۱۴

طبابت د سلجوقیانو په زمانه کې:

د سلجوقیانو په زمانه کې (۱۰۳۸-۱۱۵۳م) د طبابت په برخه کې څه نه دی لیدل شوی. هغوی هم د ادب د تشویق په باره کې له غزنویانو څخه پیروی کوله او مذهبی تعصب یې لازیاتښت وموند.

د دوی په زمانه کې د سوداګری د پراختیا عصر و چې د درملو تبادله هم پکې شامله وه.

طبابت د غوریانو د واکمنی په دوره کې:

د غوریانو دولت چې (۱۱۴۸-۱۲۱۴م) پوری یې دوام درلود هم د غزنویانو د تمدن او فرهنګ ادامه ورکوونکی ؤ. د صنعت او معماری د پرمختګ نمونه هماغه د هرات جامع جومات او د جام منار دی. کرنه د دوی په زمانه کې پرمختګ کړی او د سوداګری ساحه یې هم پراختیا درلودله.

طبابت د خوارزم شاهانو په زمانه کې:

په دې دوره (۱۲۱۴-۱۲۱۹م) کې چې ابوالعباس مامون بن محمد یو علم پالونکی پاچا ؤ. د هغی زمانی د نړۍ د ډیرو زیاتو مشهورو پوهانو څخه لکه ابن سینا، ابوریحان، ابوالحسن سهیلی او ابوالخیر خمار د ده په دربار کې هستوګنه درلودله او علمی کتابونه یې د ده په نوم لیکل. «اورګنج یا ګرګانج ښار د خوارزم پایتخت په دیارلسمه پیړۍ کې د منځنی آسیا د تمدن، فرهنګ او سوداګرۍ ډیر زیات لوی کانون او د پوهانو او دیو شمیر کتابتونو مجمع وه»[۱].

سید اسمعیل جرجانی (ګرګانی) د خوارزم شاهی د ذخیری کتاب مولف او د هغه خطی نسخه د افغانستان په ملی ارشیف کې موجوده ده. د خپل عصر د طبابت ډیر لوی شاهکار یې ایجاد کړی دی.

په ګرګان کې یو ښه روغتون د بهاءالدوله له خوا بنا شو چې د هغه ریاست تر یوه وخته پوری د جرجانی پوری تړاو درلود. او د دی وظیفی په ترڅ کې یې په خپلو یادداشتونو کې ولیکل «په دې پست باندې زما تر

۱- اثر فوق، ص-۱۹۸

تصدی وروسته روغتون ته د ناروغانو مراجعه هغومره زیاته شوه چې زیاتې راته د تالیفاتو د تکمیلولو فرصت پاتې نه شو»[۱].

که چیرته د خپل هېواد تاریخ ته راوګرځو نو کتلای شو چې د دې خاورې په هره ګوښه او څنډه کې د نړۍ ډېر سترو مدنیتونو خپل پلونه پرېښي دي. چې د دې مدنیتونو په څنګ کې د طبابت وده د علومو د نورو څانګو په نسبت هم یو مهم ځای درلودلی دی. وایي چې د زرنج ښار ډېر لوی، ودان، سمسور، د اوبو د ویالو درلودونکی، محکم دیوال او خندق درلود چې لویې دروازې یې لرلې.

په دې ښار کې د علومو او فنونو مختلفو ډولونو ښه وده کړې وه چې طبابت صنعت هم پکې شامل وو او د لومړنیو اړتیاوو څخه شمیرل کیدل – د ښار عایدات په دوهمه درجه د خلکو حفظ الصحی (روغتیا ساتنی) په خصوص کې په مصرف رسیدل.

«عمر لیث په زرنج کې یو بازار جوړ کړی و چې د ده په نوم یې شهرت درلود، او د بازار عایدات پر جومات او روغتون باندې مصرفیدل... د دوکانونو کرایه په ورځ کې تر یوزر درهمو هم رسیدله»[۲].

سایکس انګلیسی د سیستان په هکله لیکي «...که چیرته پخپله د سیستانیانو په قول یوسلوشل ورځې بادنه الوتلای نو سیستان د هستوګنې وړنه ؤ. له اپریل څخه د جون تر اخره پورې هلته زیات باد الوته که څه هم ګرم او نا مطبوع و خو بیاهم دغه باد د ملاریا عامل له منځه ووړ»[۳].

ساوج لیندر چې په ۱۹۰۱م کې یې د سیستان څخه لیدنه کړې وه د سیستان د خلکو د روغتیا ستاینه کوي. هغه وایي چې هغوی ښه سالم دي ګټوری ښځې، نران او کوچنی لری، د زړه ناروغی هلته هیڅ نشته دی، او د هغوی ځیګر پوره سالم دی (د پورتنی اثر د ۹۴ مخ په حواله).

که چیرته افغانستان د اسلام له ظهوره د مغلو تر حملې پورې په ډېره لنډه توګه تر ارزیابی لاندې ونیول شي، نو ویل کیدای شي چې افغانستان د اسلام تر ظهوره پورې ځان ته مخصوص خپل فرهنګ درلود، چې د یونان، هند او ایران له فرهنګ څخه متاثر و.

۱- سید اسمعیل ګرګاني، ذخیره خوارزم شاهي، ص-۱
۲- پوهاند عبدالحی حبیبي، پنجاه مقاله، ۱۳۶۲ ص-۶۷
۳- محمد اعظم سیستاني، سرزمین ماسه ها و حماسه ها، ص-۹۰-۹۱

د اسلام د مقدس دين تر ظهور او د اسلامی فرهنګ تر ودی وروسته د افغانستان فرهنګ د اسلامی نورو هېوادونو غوندی په شرق او غرب کې د اسلامی فرهنګ تابع وګرزيد چې د يوه خاص هېواد فرهنګ نه بلکې يو عمومی فرهنګ و چې د شرق او غرب له بيلا بيلو فرهنګونو څخه اقتباس شوی و.

عربو تر اسلام نه د مخه د انسان ژوند ته په خاص نظر کتل او کله چې د يوه شی له پوهيدلو څخه به پاتی راغلل هغه به يې ماوراء لطبيعه ته حواله کول او د دې نظر ترڅنګه په سحر او جادو يې عقيده پيدا کړه. د دی دوری دينی علوم د متحدنو ملتونو د علومو څخه د ترجمی له لاری ګټه اخستلی او سريانی، حرانی، افغانی، ايرانی، هندی او داسی نورو مترجمانو، د رياضياتو، نجوم، طب، طبعيات او د نورو ډير غوره اطلاعات په عربی ژبه وژباړل او اسلامی تمدن ته يې وړاندی کړل. دلته زياتره د سقراط، افلاطون، ارسطو، بطليموس، جالينوس، ارشميدس او نور اثار په عربی ژبه راواړول شوی وو.

د هندی آثارو ډير مهم مترجمان ابوريحان او د نورو ژبو ژباړونکی د بلخی برمکی، سهل سرخسی، ابن المقفع او ايرانی نوبخت کورنۍ وی. همداشان د بن موسی، بن شاکر منجم، آل بختيشوع کورنۍ، د عيسوی حنين کورنۍ د کرخی او داسی نورو کورنيو مترجمينو بيلا بيل علوم د بيلا بيلو ژبو څخه وژباړل.

د سور يې مسيحيانو د حران صائبينو (بين النهرين) او د جندی شاپور مدرسه د دی ټولو علمی ذخيرو وروسته لکه يونانی، رومی، اسکندريانی، سريانی، خراسانی، ايرانی، منبطی، هندی او نورو په اتمه او نهمه پيړيو کې د اسلامی هېوادونو د علومو د تکوين او تدوين موجب وګرزيدلی او په لسمه او يولسمه پيړۍ کې خپل اوج ته ورسيدل.

د دې پيړيو په موده کې عربی ژبی هېوادونه، افغانستان، ماورالنهر، ايران، مصر، المغرب او اندلس هر يو يې د اسلامی تمدن کانون ګڼل کيدل.

د علومو په دې غورو مرکزونو کې طبيبان او منجمان د دربارونو په لمړيو صفونو کې قرار درلودل. څه وخت چې مسيحی عالمان د ايتاليی او هسپانيی په جنوب کې د اسلامی تمدن او فرهنګ سره مقابل شول، نو سترګی يې خړی شوی او د اسلامی فرهنګ د آثارو ژباړی ته يی پام شو، د رياضی، ستوری پيژندنی، طب، طبيعی، فلسفی، علم النفس، منطق او مابعدالطبيعه کتابونه د ارسطو د تاليفاتو سره ترجمه شول. الکندی، فارابی،

ابن سينا، ابن باجه او ابن الرشد يې وپيژندل. تر هغه ځايه چې ايطالوی دانته «بلخی ابن سينا او اندلسی ابن الرشد ته د يونان د ډير معظمو حکماوو په رديف کې د خپل دوزخ په پاڼو کې ځای ورکړ»[1].

بيا وروسته طبيعی فلسفه او د ابن الصفا کتابونه د سيستانی ابوسليمان د پيروانو د منطق سره اندلس ته وارد شول او د فارابی تاليفاتو اغيزی د ابن سينا قانون د اغيزو سره يو ځای څرگندی شوی.

ښايي يادونه وشی چې د اسلام د ډيرو لويو فيلسوفان او عالمانو پسی لکه ابويوسف يعقوب بن اسحق الکندی، ابوبکر محمد بن ذکريا بن يحيی الرازی، ابونصر محمد بن محمد فارابی، ابوعلی ابن مسکويه، ابن الرشد، ابن خلدون، ابن الطفيل او ابن باجه غوندی – افغانستان هم اسلامی او نړيوال فرهنگ ته مشهور فيلسوفان او عالمان وړاندی کړل. لکه سرخسی، ابوزيد احمد بن سهل بلخی، ابوالحسن شهيد بلخی، ابوسليمان خجستانی، ابوالخير بن خمار، ابوريحان بيرونی، ابن سينا، ناصر خسرو بلخی او داسی نور.

د دولسمی پيړی په وروستيو کې د بلخ، مرو، نيشاپور، هرات، باميان، زرنج او غزنی ښارونه په منځنی آسيا کې د هغی زمانی د افغانستان د ډيرو لويو ښارونو څخه ممتاز گڼل کيدل. د دی ښارونو په بازارونو او کوڅو کې د معيشتی نورو محلاتونه علاوه حمامونه هم موجود وو په داسی حال کې چې په منځنی پيړی کې اروپا حمام نه پيژانده. په دې وخت کې سوداگر، صرافان، طبيبان، ملايان، شاعران، دبيران (مرزايان) د احترام وړ گڼل کيدل.

خو کله چې فقيانو او معتصبينو غلبه وموندله او د وخت د دولتونو ملاتړ له منځه لاړ. د گډوگډيو د ساتنی له مخی معقول علوم مردود وشميرل شول، د لوړی زده کړی او روزنی د افغانستان په مدرسو او جوماتونو د ادبی، شرعی، فقی، حديث، تفسير او عقايدو او قسماً د طب او نجوم په علومو منحصری شوی.

د افغانستان د دی فرهنگی انحطاط مقدمه لکه د نورو اسلامی هيوادونو غوندی له يولسمی پيړی وروسته راتوله شوه. داوه چې عقلی علوم او عالمان د پر له پسی ډيرو سختو گوزارونو لاندې راغلل، فلسفه او علوم

۱- مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۱۵۸

رياضی، طبيعی، هئيت او شيمی څخه رانيولی دا ټول د اسلامی شريعت ضديت واقع شول، وروسته علوم او فلسفه د علم التعطيل په نوم مشهور شو او منفور شول. يوازی د رياضياتو او طب څه برخی هغه هم د لوړی طبقی د محسوسو اړتياوو څخه ومنل شوی.

د اسلامی طبیبانو خدمتونه:

۱- اسلامی طبیبان عموماً د هیپوکرات او جالینوس حکیم شاګردان دی چې په ډیر غور او دقت سره یې د هغوی د طبی کتابونو مطالب زده کړی او په بریالی توګه د هغوی د شاګردۍ له عهدی څخه راوتلی دی. دوی ډیر زیات احترام، تواضع او فروتنۍ سره چې د یو شاګرد د پاره په کار دی د خپلو استادانو په باره کې ښایی قایل ؤ او منتها د هغوی څخه کورکورانه تقلید نه دی کړی.

مثلاً محمد ذکریای رازی د شکوک د کتاب پر هکله چې پر جالینوس یې لیکلی دی او په کال ۱۳۱۸هـ ش د «محمد ذکریای رازی شرح حال او مقام» د کتاب په ۲۴۷مخ تری یادونه شوی داسی راغلی دي:

د کتاب په مقدمه کې محمد ذکریای رازی د خپل کار په باب عذرغوښتلی او وایې د جالینوس مقام له هیچا څخه پټ نه دی او ممکنه ده چې ځنی لنډ فکران ما په دی کار ملامت او سرزنش هم کړی، خو هغه څوک چې فیلسوف او حکیم وی پر ما به په قارنه شی په دې دلیل سره چې په حکمت او فلسفه کې تقلید جایز نه دی. او په کار دی چې هغه د دلیل، برهان، صحبت او مباحثی له لاری منځ ته راشی. که چیرته شخصاً جالینوس ژوندی وای زما به یې په دې لیکنه ستاینه کړی وای (د ۱۳مخ په حواله).

۲- هغه وخت چې اسلامی طبیبان د خپلو استادانو په زده کړو ښه وپوهیدل، نو لږ لږ یې د هغوی پر عقایدو او تفکراتو هم په ډیری درناوی سره ایرادونه ونیول او بې له دی چې د خپلو استادانو په نسبت د بی احترامۍ مورد وګرزی دا ډول ګوتی نیونی یې په ډیر نظم او ډیرۍ ښۍ وجهی سره په خپلو کتابونو کې بیان کړی.

تر کومه ځایه چې د لویدیزی مځکی مورخانو تری یادونه کړی ده د هیپوکرات او جالینوس شاګردان د خپل سرشار ذکاوت او نبوغ په واسطه له خپلو استادانو څخه بیل شول او له هغویی نه مستغنی وګرزیدل.

۳- وروسته له هغۍ چې اسلامی طبیبانو وکړای شول د هیپوکرات او جالینوس د مکتب په دوام خپل تتبعات او تجربۍ د څرګندیدو ډګر ته راوباسی د هغوی فکری استقلال یوۍ داسی مرحلۍ ته ورسید چې په خپلو ټولو مطالبو کې یې د همدې فکری استقلالیت او په تجربه سره د هغوی د تطبیقولو په اثر – یو شمیر آثار له ځانه په یادګار پریښودل چې د پوهانو د شاباسۍ وړ وګرزیدل. لکه چې رازی په خپل مشهور کتاب چې «مرشد» یا

«فصول» نومیږی او د هیپوکرات له فصولو له مخی اقتباس شوی دی په مقدمه کې داسی وایي:

«څه رنګه چې د هیپوکرات د فصول کتاب د نظم او تفصیل د نه درلودلو له حیثه د طب د علم طالبانو او متعلمانو مشکل می ولید، له دی امله می تصمیم ونیو چې دا کتاب تنظیم کړم چې د طب د صنعت مدخل او د شاګردانو د پاره یوه اسانه طریقه وي»[1].

۴- د دې سیمی طبیبانو د یونانی کتابونو د ژباړنو تر دوران وروسته فکری استقلال حاصل کړ او د یونانی استادانو کتابونه یې حلاجی او زیرو زبر کړل او بیایې هغه نیمګړتیاوې چې په هغو کې ولیدل شوی په ګوته کړی او د هغوی په لیری کولو او بشپړولو مشغول شول چې دا مطلب د ابن سینا په خواږه بیان کې د ارسطو د «ما بعدالطبیعه» د کتاب په باره کې چې څلویښت کرته یې هغه ویلی او بیایې هم په هغو د پوهیدلو او درک کولو لاره نه ده موندلی، په ښه توګه څرګندیږی ترڅو چې بالاخره د «اغراض ما بعدالطبیعه» د ابونصر فارابی کتاب ګوری او د دې کتاب په مرسته د ارسطو په فلسفه او حکمت باندې پوهیږی.

... علی بن عباس مجوسی اهوازی ارجانی د «کامل الصناعه العبیته الملکی» یا د «ملکی» لیکوال د خپل کتاب په مقدمه کې دی نکتی ته اشاره کړی ده. په دی معنا چې د بقراط، جالینوس، اوریباسیوس، فولس الاجنطی، یوحنا بن سرابیون او حتی رازی له کتابونو څخه استفاده کړی او پخپله عقیده یې وروسته له هغه چې د هغوی کتابونه یې په غورسره کتلی په هر یو کتاب د نیمګړتیاوو په باره کې یې په مفصل ډول یکایک انتقادات بیان کړی دی.

۵- اسلامی استادانو او طبیبانو د ژباړنو د دوران د طی کولو او د یونانی استادانو د کتابونو د مطالبو د ښو زده کړو او د بشپړتیا د دوران وروسته شخصاً پخپله یې ګران بیه آثار او تالیفات ولیکل چې تر اتلسمی او نولسمی پیړۍ پوری یې د اروپا طب تر خپلی شعاع لاندې ساتلی ؤ. که په لنډه توګه یې یادونه وشی اسلامی طبیبانو په طب کې څلور مهم آثار له ځانه پریښودلی دی:

۱- یونانی تیت او پرک او مشوش طب یې مرتب کړ.

۲- طب یې له نظری صورت څخه راویست، علمی او تجربی طب یې ایجاد کړ.

۱- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۱۴

۳- علم الامراض (Pathalogie) ته یې پراختیا او وده ورکړه او ډیر هغه ناروغتیاوې چې تر دغه وخته پورې ترې چا خبر نه درلود د طب په نړۍ کې یې وارد کړ.

۴- د وظایف الاعضا له نظره یې په طب کې د درملو اغیزې واردې کړې.

د اسلام تر ظهور وروسته د دې سیمې نظرې او عملي طبابت خصوصیات

په دې مبحث کې به د هغه طرزالعملونو په باب چې د طبابت په برخه کې یې رواج درلود موضوعګانې شاملې دي، په کومو کې چې د طبیبانو د مبارزاتو په متعلق یې د حقه بازانو او استفاده جویانو په مقابل کې په لنډ ډول معلومات وړاندې کیږي. همداشان د هغوی پرمختیاوې هم یادونه کیږي چې د طب او درمل جوړولو په برخه کې په دې هکله منځ ته راغلي دي.

۱- هغه کسانو چې غوښتل طبیبان شي لازمي زده کړې یې ډیر ژر پیل کولې. لکه چې حنین له جندي شاپور څخه بغداد ته راغی یوازې اولس کلن و او تر دې وخته پورې یې د جندي شاپور مدرسه پای ته رسولې وه.

۲- د طبابت د څانګې محصلینو د طبابت د مسلکي درسونو برسیره باید نورې رشتې هم زده کولای لکه د دې رشتې څخه هندسه وه ترڅو چې د دې لارې وکړای شي زخمونه په سمه توګه تشخیص کړي او دا ځکه چې مدور زخمونه ډیر په ځنډ جوړیږي او کثیرالاضلاع زخمونه ژر جوړیدای شي.

همداشان ستورې پیژندنه هم طبیبانو ته ور زده کول ترڅو چې د درملنې مناسب ساعتونه کشف کړې شي.

او دا هم په کار وه چې د موسیقي په باره کې معلومات ولري ترڅو چې وکړای شي د ناروغ نبض په موشګافانه ډول ونیسي او د هغو له حرکاتو څخه پر ناروغۍ ښه وپوهیږي.

۳- خوانانو چې د طبابت په زده کړه پیل کاوه، د خپلو خپلوانو (پلار، کاکا، ماما او نور خپلوان) څخه چې که طبیبان وو کمک ته یې ترجیح ورکوله چې د دوی سره مرسته وکړي.

۴- د طبابت زده کړې ډیره ښه برخه په روغتونونو کې د محصل فعالیت ؤ.

۵- هغه چا چې غوښتل یی چې جراح شی پرته له طب زده کړو څخه به یې بیا د پیاوړو جراحانو تر لاس لاندې کار کاوه.

۶- محصلانو به د خپلو استادانو سره یو ځای لکه نن د ناروغانو څخه کتنه (ویزیت) کاوه او د ناروغانو د تشخیص او درملنی په باره کې به یې بحث کاوه.

۷- استادانو د طبابت د علم د تدریس د پاره هر یو ځانته خاص میتود درلود. لکه چې رازی به د تدریس لپاره تل پیچلی، وخیم او شدید ناروغان انتخابول. لومړۍ تازه کار او بیا پخوانیو شاگردانو خپل نظریات څرگندول او که و نه کړای شول ناروغی تشخیص کړی بیا به یې رازی ته وړاندی کاوه.

۸- د طب په مدرسه کې مروج کتابونه د سقراط، رازی او حنین کتابونه او مسایل وو. په دوهم کال د ثابت بن قره ذخیره، د رازی المنصوری او ذخیره سید اسمعیل جرجانی لوستله.

۹- پخوا تر دې چې به شاگردانو د طبابت په کار شروع کوله مجبور وو چې آزموینه ورکړی. همدارنگه په کال ۹۳۱م کې د طبیبانو څخه هم امتحان واخستل شو چې د سنان بن ثابت بن قره له خوا واخستل شو او ۸۶۰ تنه بریالی شول.

۱۰- د هیپوکرات د سوگندنامی له تطبیقیدو څخه کنترول ترسره کیده، کنترولر ته محتسب ویل کیده.

۱۱- معموله وه چې اصیل زادگان باید طبابت زده کړی چې په نتیجه کې د خلیفه، پاچا او یا حداقل د وزیر او د سپاهیانو د سرآنو او داسی نورو مخصوص طبیبان شی.

د پاچا په دربار کې پیاوړو طبیبانو ته حکیم باشی ویل چې نور حکیمان د هغوی تر لاس لاندې وظیفه اجرا کوله. د حکیم باشی وظیفه ډیره خطری هم وه چې د اشتباه په صورت کې ډول ډول جزاگانی حتی په اعدام محکومیدل.

۱۲- په هغه زمانه کې اختصاصی څانگی موجودی نه وی، خو ځینو د ښی درملنې په اثر شهرت ترلاسه کاوه لکه ابن سینا د اعصابو د ناروغی په درملنه کې زیات شهرت درلود.

جراحانو چې تعداد یې نسبت نورو ته کم و د استاد په نامه یاد دیدل. جراحان به د جالینوس اوه واړه د تشریح کتابونه او په اورتوپیدی کې د کناش په کتاب کې امتحان ورکاوه.

جراحانو به منحنی جراحی چاکو، مستقیمه جراحی چاکو، نیشتر، د هډوکو پرې کولو اره، د غوږونو پاکولو مخصوصه میله او د مثانې د خلاصولو لپاره مخصوص چاکو درلود. د دې سامانونو ترڅنګه به یې د پانسمان لوازم، مرهم او درمل هم شامل وو. د سترګو طبیبان رانجه جوړولو کې مهارت درلودل.

۱۳- فصادان (رګ وهونکی) هم د طبیبانو له جملې څخه شمیرل کیدل خو ټولنیز ارزښت او مقام یې نه درلودل دوی به د سلمانی چارې هم ترسره کولې. د غاښ ایستل د طبیبانو او جراحانو کار و خو وروسته دغه دنده سلمانیانو ته ورسیدله.

۱۴- د هغو کسانو ډیره ښکته طبقې چې به د خلکو تداوی کوله او عملاً یې طبابت له حرفې څخه هیڅ معلومات نه درلود په اصطلاح سره «دوره ګرد» طبیبان وو. دا خلک ډیر چالاکه او ناوړه خلک و چې په کلو کې ځان حاذق طبیب معرفی کاوه. خلک به په لومړۍ سرکې دوی ته مراجعه کوله او په بیلو بیلو پلمو لکه پیرې نیول، دعا لیکل، جادو او کوډې او داسې نورو په واسطه به درمان کاوه. خو چې درملنه یې نتیجه نه ورکوله بیا طبیب ته مراجعه کیدله.

همدارنګه د متیازو له لارې تشخیص کول هم معمول و. د صفرا بندولو په نامه هم موجود و. او د ملاریا په درملنه کې ناروغ به یې کلک وتاړه او په کوتکونو یې واهه او بدې ښکنځلې به هم ورته کولې.

په دې ډول خلک د راز راز ناروغانو درملنې کولې چې زمونږ د کابل په ښار کې د کریم مارګیر چې اوس زوی یې دغه کارته ملاتړلې نه یوازې مارچیچلې خلک یې تداوی کول بلکې دم او دعا یې کوله او همدارنګه د زیرې تداوی به یې هم کاوه.

زړوښځو هم به د ناروغانو درملنه کوله عطارانو هم د درملنې کار مخ ته بیوله او داسې نور.

ذکریا رازی د ډاکتر نماشیادانو د پراخه فعالیتونو په باره کې هغه وخت چې په بغداد کې اوسیده یوه مفصله شرحه لیکلې او د دوی دا اعمال یې تقبیح کړی دی.

۱۵- د ښځو درملنه تل د ستونزو ډکه وه خو رګ وهل مجاز ګڼل شوی و. د ناروغی ښی لاس مړوند به یې طبیب ته وړاندی کاوه (ښی لاس شرافتمندانه کارونه سرته رسوی په داسی حال کې چې کیڼ لاس د هر کار لپاره استعمالیده او ممکن ناپاک وی). د ناروغ د نبض نیولو او ادرار معاینی نه وروسته د ناروغی تشخیص کیده او لازم درمل به یې ورکاوه.

۱۶- د طبیب د حق الزحمی یا فیس په باره کې داسی رواج و چې که چیرته د شپی له خوا د ناروغ بستر ته غوښتل کیده د تداوی د شروع نه مخکې فیس ورکاوه او مزمنو ناروغانو څخه وروسته د درملنې څخه فیس اخستل کیده.

که چیرته به ناروغ روغتیا وموندله – دومره مشکل موجود نه و، خو که به مړ شو د وفات شوی شخص خپلوانو به ټولی نسخی د ښار د طبیبانو رئیس ته وړلی، د هغه تر کتنی او څیړنی وروسته به یې یا دا چې معالج طبیب ته برأت ورکاوه او د هغه تداوی به یې تائیدوله او که تداوی په چارو کې به یی تشخیص او معالجه درسته نه وه د مړو خپلوانو ته به یې ویل «له معالج طبیب څخه د خپل مړ شوی خپلوان خون بهادی وغواړی ځکه چې دی ؤ چې د خپلی بې خبرۍ له امله د خدای تعالی د یوه بنده د مرګ سبب ګرزیدلی دي» (د معالیم القرب د ۴۵ مخ په حواله).

سلمانیانو چې به هم د ماشومانو سنتګری ښه اجرا نکړه ممکن جریدمه کیده به (پورتنی اثر) د طب د فیس د اندازی په باره کې باید وویل شی چې دغه اندازه متفاوته وه. خو طبیبانو لومړی سرکی اخستل شوی فیس نه شمیره او حتی په دوهمه قدمه کې به یې په خپل لاس هغه نه اخستلی او دا کار یې د غلام بچه په لاس اخستلی چې د طبیب سره به یو ځای ګرزیده.

لکه چې په اوس وخت کې په ندرت سره لیدل کیږی ځینو طبیبانو به د ناروغ سره به چنه وهله او یا کله چې به یې د معاینی او تشخیص وروسته فیس نه تادیه کیده، نو ناروغ ته به یې نسخه نه ورکوله او هغه به یې څیروله. په پخوانیو زمانو کې د دی ډول پیښو زیات مثالونه لیدلای شو.

نقل دی چې د ابن وصیف په نوم یو طبیب د زیاتی چنی وهلو وروسته دی ته حاضر شو چې د (۷۰) درهمو په مقابل کې د یوه چا د سترګو د مروارید اوبه جراحی کړی، داځکه چې ناروغ ادعا کوله چې تر دی اندازی پورته د تادیی وسه نلری، خو د عملیاتو په جریان کې نا څاپه د

هغه له لستوڼی څخه د سکو ډکه کیسه ولویدله، کله چې ابن وصیف هغه ولیدله د عملیاتو په منځ کې یې د جراحی کار په نیمه پریښود[۱].

۱۷- د درملو څخه خبرتیا او د هغو په تهیه کولو پوهیدنه چې طبیب به تجویز کوله د اهمیت څخه ډکه یوه حرفه شمیرل کیدله. کله چې عربانو په دی پوه شول چې طبابت له درمل جوړولو څخه جلا دی. او هغومره مهم دی، چې د تبحر او تخصص پوری تړاو لری، چې د هغو سرته رسول د هغه چا د پاره میلاو نه دی چې فقط طبابت یې ویلی وی داځکه چې د هغه د اصولو د زده کړی د پاره یې هیڅکله وخت نه درلود. دی ډول افرادو د طبابت حق نه درلود.

۱۸- د عمومی حفظ الصحی (روغتیا ساتنی) پوری مربوط قوانین د خلیفه ګانو په زمانه کې وضع شول او د هغوی د تطبیقولو مسئولین هم د محتسبانو په غاړه واچول شول. په دی قوانینو کې د خوراکی موادو او مشروباتو – د ډله ایزو ناروغیو له سرایت څخه مخنیوی او عامه سلامتیاوی په دی قوانینو کې درج شوی وی. محتسبانو ته هدایت ورکړ شوی و چې ښه دقت وکړی ترڅو د ځښلو اوبه ککړی نشی. کوڅی او په تیږو فرش خیابانونه جارو شی او څرمن پخوونکی له بازارونو څخه د باندې د دباغی چاری ترسره کړی داځکه چې دباغت ډیر سخت بوی لری.

۱۹- د جراحی په باب باید وویل شی چې د هغی مطالب ډیر محدود دی او برسیره پر دی جراحان هم تر طبیبانو او درمل جوړونکو ډیر کم وو. د ځینی مذهبی ملحوظاتو له پلوه جراحی ونه کړای شو لکه چې ښایی وده وکړی، ځکه چې د ناروغ لوڅول یو ناروا کار ګڼل کیده. ابن سینا عقیده درلودله چې جراحی د هنر یو ډول دی او په کار نه دی چې هغه د طبابت یوه برخه وشمیرل شی، او له دی وخته راوروسته د طبابت او جراحی ترمنځه جلا والی پیل شو اود مغولو تر کلونو وروسته بشپړ شو.

په هر صورت د جراحی په باب ویل کیدای شی چې په کلی ډول جراحان په درو ډلو یا ډولونو باندې ویشل کیږي:

- ☜ د عروقو (رګونو) جراحان یعنی د دوی تخصص په رګ وهلو، وینی ایستلو او د دی رشتی پوری مربوطو مسایلو.
- ☜ دوهمه ډله هغه ده چې د عضلو په جراحی کې تخصص لری. یا په اوسنی عبارت عمومی جراحی وه.

۱- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۳۹۰

☜ دريمه ډله هغه جراحان وو چې د شکستګۍ، ترضيضاتو په واقعاتو کې يې تخصص درلود يا په ننني اصطلاح تراوماتولوګ او اورتوپيد وو.

پر دې برسيره يوه ډله يې د سترګو جراحان هم وو چې په بشپړه توګه د پورتنيو درو ډلو څخه مجزا شميرل کيدل.

د جراحی ډير مهم عمليات لکه د اوس وخت په شان د سرطان پوری مربوط د جراحی عمليات وو. ابن سينا د وخيمو تومورونو د شرح کولو په موقع داسی وايي: «يوازنۍ د دی ناروغی چاره او يوازی هغه اميد چې د هغی د بهبودۍ په باره کې شته دی هغه دا دی چې د سرطان غده د خپلی ودی په هماغه لومړنۍ مرحله کې غوڅه کړی شی. د دی غدی د پريکولو په عمل کې بايد چې هغه پراخه او ژوره له منځه يووړل شی او څه رنګه چې دا کار به دومره کافی تمام هم نه شی نو په کار دی چې د جراحی تر عمليات وروسته د سرطان د غدی لومړنی محل بايد و داغل شی او وسوزيږی.

خو د دې کارونو د سرته رسولو وروسته بياهم ابن سينا زياتوی چې د دی عملياتو د نتيجی څخه دومره توقع هم په کار نه ده. دا يوه ښځه مثال راوړی چې د دی تی يې د سرطان د اخته کيدلو له امله ايستلی و، خو له څو کالو وروسته د سرطان نوی غدی په بل تی کې را پيدا شوی.

د جراحی يوه رشته چې د منځنی آسيا خلکو پکې خاص تبحر درلود د سنګ مثانه د تيږی ايستلو جراحی وه. ابن سينا په دی باب ليکلی:

کله چې د درملو درملنه اغيزمنه تمامه نشی او تاسی تصميم ونيو چې د هغو تيږو څخه د خلاصون په خاطر چې ستا په مثانه کې را جمع شوی دی د جراحی له عمل څخه استفاده وکړی.

...ځينو جراحانو سنګ کليه (د بډوډو تيږه) هم عمليات کاوه، خو ابن سينا دا کار په بشپړه توګه منسوخ وګڼه. معمولاً په دې حالت کې به صبر کاوه چې تيږه له بډوډی څخه تيره او مثانی ته لاړه شی او بيا يې له مثانی څخه را ايستله.

د سنګ مثانی تر عملياتو علاوه يوه بله طريقه هم شته دی. لکه چې ابن سينا وايي «د مثانی د هغی تيږی چې د ادرار د جاری کيدلو مخه نيسی. د ايستلو له طريقو څخه يوه دا وه چې يوه نرۍ لوله يې د ادرارو په مجرا کې ورننه ايستله او بيا به يې هغه تيږه پری ماتوله (اوسنی بوژ). وړۍ او

ساده جراحی د سلمانیانو چې دلاکان نومیدل ترسره کیدلې او همدوی وو چې په دملو (دانو) به یې نشتر واهه، هلکان به یې سنتول او حتی د هغوی لوزی (تانسیلونه) به یې هم ایستلی.

د نسایی او ولادی د تداوی په متعلق زیاتی ستونزی موجودی وی. د ابن سینا په قانون کې یو ځانګړی فصل ته د ښځو د امیدوارۍ او زیږیدلو او د ښځو د تناسلی مجرا پوری مربوط مسایل له دی جملی څخه قبض البول ته اختصاص ورکړ شوی و او د جرجانی په ذخیره خوارزم شاهی کې هم د دی موضوعګانی په اړوند یادونی شوی دی.

د جنسی روابطو موضوع په هغه زمانه کې دومره عادی وه چې کله د پوهانو په کتابونو کې د عجیبو لیکنو سره مخامخ کیږو لکه چې ابن سینا د دی ډول د ډیرو زیاتو ساده او عادی مطالبو لیکل د یوه طبیب ټیټوالی نه دی ګڼلی «د نارینه د تناسلی آلی نفوذ او یا د ښځی د تناسلی الی تنګوالی چې له هغو څخه خوندوړی په متعلق د یوه طبیب صحبت کول نه رسوا کوونکی دی او بالخاصه ښه او شایسته دی، ځکه چې دا یو طبیعی کار دی چې زیږولو او زیږیدل ور پوری تړاو لری»[1].

په وروستنیو کلونو کې د ښځی او نارینه د جنسی روابطو (کوروالی) موضوع په تدریج سره د علومو یوه مستقله رشته وګرزیدله او د علم الباُ په نوم یاده شوه.

د جراحی د ستنی جوړول د ځانګړی صنف په انحصار کې و. دغه خلک د کار تر شروع د مخه او د دی ډول ستنی جوړولو په حرفی د پوهیدلو وروسته به قسم خوړ چې د اوسپنی ستنی به د پولادی ستنو په عوض نه خرڅوی او دواړه ستنی به سره نه مخلوطوی.

۱- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۴۲۵

دريم څپركی

د افغانستان طبابت د مغل له يرغل نه د شلمی پيړی تر لومړيو پوري

د اسلام د سپيڅلی دين ظهور ترمخه او د افغانستان پر خاوری د اعرابو تر حملو مخكې د خراسان مځكی خاصه فرهنگی او علمی وضع درلودله چې دا فرهنگ د يونانی، هندی او ايرانی فرهنگونو يو تركيب ؤ چې هر يوه د هغی زمانی د افغانستان په علم او فرهنگ باندې خپلی اغيزی غورزولی وی.

«د دې دوری په پيل كې د افغانستان خلک د فرهنگ له پلوه (په افغانستان باندې د اعرابو حملو د پيل راهيسی – مولف، مومني) د رياضی، طب، نجوم د علومو او الهياتو او د يونانی علومو او د هندی فلسفی سره آشنايی درلودله، د مختلفو دينونو معبدونو لكه زرتشتی، بودايی، شيوايی، ميترا پرستی په بلخ، بغلان، هډی او سيستان كې پيروان درلودل»[1].

د اسلام تر ظهوره را وروسته او د اسلامی مدنيت او فرهنگ د پراختيا پسی په افغانستان كې په فرهنگی وضع كې د يادونی وړ بدلولونه رامنځ ته شول، او په حقيقت كې د نورو اسلامی هېوادونو غوندی د خراسان فرهنگ د اسلامی فرهنگ يوه برخه وگرزيدله او په واقعيت كې اسلامی فرهنگ هم د شرقی هېوادونو د يو فرهنگ تركيب ؤ لكه چې د دی دوری زياتره علوم د متمدنو ملتونو د علومو له ترجمو څخه گټه واخستله افغانی، سريانی، ايرانی، هندی او نور ژباړونكو ډېر غوره اطلاعات له رياضياتو، نجوم، طب، طبيعيات، منطق، فلسفی، تاريخ او قصصو او تر سلو څخه په عربی ترجمه او عربی فرهنگ ته وړاندی كول.

په دې وخت كې خراسان چې په حقيقت سره د علومو تكامل او اسلامی فلسفی كانون ؤ نامتو فيلسوفان او عالمان يې د اسلامی او نړيوال

۱- افغانستان در قرن وسطي، ۱۳۶۹ ص-۱

ډگرته راوایستل چې د موسی بن جابر خراسانی، ابو مشعر بلخی، ابن قیتبه مروزی، احمد ابن طبیب سرخسی، ابوزید احمد بن سهل بلخی، ابوالحسن شهید بلخی، ابو ریحان البیرونی، ابو علی سینا بلخی، ابوبکر محمد بن ذکریایی رازی، ناصر خسرو بلخی او داسی نورو نومونه یادولای شو.

«په خراسانی مستقلو دولتونو کې د علومو د پراختیا د پاره زیاتره زمینه برابره شوه او په لسمه پیړۍ کې زیاتره علمی او ادبی آثار ایجاد شول. په یوولسمه او دولسمه پیړیو کې د دی پراختیا چټکتیا دومره زیاته وه چې افغانستان د علوم او فرهنگ د انکشاف له پلوه د نړۍ د هېوادونو په لومړنۍ قطار کې ودرید»[1].

په اومه هجری پیړۍ کې چې د میلادی دیارلسمی پیړۍ سره برابره ده د عربانو تمدن یا په بل عبارت اسلامی تمدن د مغلو د حملی په اثر داسی گوزار وخوړ چې شومی نتیجی یې آن ترننه پوری باقی پاتی دی او فلسفه چې د طب سره هسی تړلی وه چې اوس هم د حکیم عنوان د فیلسوف او طبیب دواړو د پاره استعمالیږی او د هارون الرشید د خلافت د دوری هغه رونق چې د زرین عصر په نوم یې شهرت درلودله لاسه ورکړی ؤ.

د خراسان په خاوره د چنگیز د هجوم سره د ټولنی د مادی او معنوی ژوند په ټولو ساحو کې د یادونی وړ بدلونونه په تیره بیا په معنوی ډگر کې منځ ته راغلل.

څه رنگه چې ښارونه د خاورو سره خاوری شول نو ځکه د پخوانی دوران د فرهنگی او هنری تاسیساتو څخه هیڅ څه پاتی نه شوه، زیاتی نه مدرسی وجود درلود او نه کتابتون، نه عالم پاتی شو او نه فاضل، هغو عالمانو او پوهانو چې په ندرت سره ژوندی پاتی شوی وو گاونډیو هېوادونو ته وتښتیدل.

د هېواد ښارونه لکه په بدخشان، تخارستان، بلخ، جزجان، فاریاب، مرغاب، مرو، هرات، نیشاپور، سیستان، زابل او کابل ښارونه چې د دی هېواد ۱۵۰۰ کلونو د کار محصول و د بشر د څو زره کلن د تاریخی سیر او تکامل د یوی برخی محصول او دا گرده له منځه تللی او د ځان سره هنر، فرهنگ او صنعت وړی ؤ.

۱- اثر فوق، ص-۲۲

«څه رنګه چې دا وخت مدرسه، کتابتون او ښار پاتې شوی نه ؤ، نو ژوندی او سلامت پاتې عالمان او پوهان د هند، ایران او نژدی ختیز هېوادونو ته وتښتېدل او یا یې خپله پیاوړتیا د دښمن په خدمت کې ولګوله»[۱].

پروفیسور شلوم مرژه د افغانستان د تاریخ په هکله د ۱۹۶۱ کال په کنفرانس کې داسې وویل: «...افغانستان لکه فارس او چینی ترکستان د نړیوالی تجارتی لویې لارې (د وریښمو لار) پرسر پروت و... د مغلو خرابکارۍ (دیارلسمه پیړۍ) دا مملکت (افغانستان) چې د اسلامی مدنیت په ډېره پرمختللې دوره کې ؤ او د البیرونی، ابن سینا او فردوسي نومونه د هغه ستر یادګار دی په بشپړه توګه له هستی څخه را وغورځاوه»[۲].

یو شمیر انسانان چې په درو او دښتو کې د مغلو د پوځی مرکزونو او عمومی معبرونو څخه لیرې او یا په هغو ځایونو کې چې دښمنان ورته رسیدلای نه شول هستوګنه درلودله ویې کولای شو چې په لومړنیو شرایطو او د ځان په اتکأ ژوند وکړی، او ځان وساتی او هم دوی وو چې افغانستان یې له ابدی انقراض څخه وژغوره، او راتلونکی ملت یې تشکیل کړ او په دې ډول سره د افغانستان د څو زره کلن تاریخ لړۍ د راتلونکی سره قطع نه شوله.

او طبابت په هره طریقه چې ؤ د نورو علومو په نسبت یې ښه رونق درلود او د دی دلیل دا و چې د مغلو حاکمانو او آمرانو معالجی او درملنی ته مبرم ضرورت درلودل. که څه هم هغه عالمان او طلاب چې ژوندی پاتې شوی وو او د لاځوان نسل پورې یې تړاو درلود تر یوه وخته پورې یې د علم او فضیلت د کسب صحیح سنت ته دوام ورکړ «خو د طب او تاریخ خپل نسبی مصوونیت د وحشی فاتحانو د تمایلاتو او خواهشاتو چې د خپلې سلامتیا او د شهرت ګټلو په خاطر ؤ مدیون دی»[۳].

او د طبیبانو سره یې د نورو پوهانو او انسانانو په نسبت په کمی بیرحمۍ سره رفتار کاوه. د دی توری دوری له طبیبانو او لیکوالانو څخه یو هم رشیدالدین فضل الله دی چې په کال ۱۲۴۷م په همدان کې چیرته چې ابن سینا ښخ دی، زیږیدلی او د اباقاخان ایلخان مغل د وخت په دربار کې یې د

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، مطبعه دولتی کابل، ۱۳۴۰ ص- ۲۳۰

۲- مجله اریانا ۱۰-۱۱ ګڼه، انجمن تاریخ ۱۳۴۰ مطبعه دولتی کابل

۳- دکتر ادوارد براون، طب اسلامي، ۱۹۵۶م ص-۱۰۷

طبیب په حیث وظیفه اجرا کوله. او د غازان خان په وخت کې چې مسلمان شوی ؤ د وزارت رتبی ته یې ارتقا وکړه.

«د دوه ویشتو کلونو په اوږدو کې چې د خطیرو او خطرناکو چارو مصدر ؤ، ځکه چې د ایلخانان مغل د وزیرانو په منځ کې ډیر کم وزیران په طبیعی مرګ مړه کیدل»[۱].

هغه شتمنی او اقتدار چې یې په واک کې و له هغوی څخه یې د روغتونونو، کتابتونونو، مدرسو او موقوفاتو په تاسیسولو کې، د علومو د طلابو او پوهانو د علم او تشویق په خاطر په پوره مطلوبه توګه ګټه واخستله.

هغه وخت د طبابت او درمل جوړولو عالمان (دا دواړه مسلکه یو تن پرمخ بیولی – مولف، مومني) د دی با وجود چې په هره لحظه کې یې خپل ځان په خطر کې لیده د دی سره یې د خلکو په خدمت کې قرار درلودل او له دی مسلک څخه یې د محتاجانو په درملنه او حتی د مغلو د اربابانو په درملنه کې استفاده کوله او دا عنعنی (طبابت او دواسازی) یې د تدریس او عملی کارونو له لاری راتلونکو نسلونو ته انتقالولی. او ځینو یې په دې لیار کې خپل خوږ ځان له لاسه ورکاوه.

د مغلو د حکامو د قساوت له جملی څخه یو وړوکی مثال داسی راوړل کیدای شی. «...کله چې چغتای خان ناروغ شو او بیا مړ شو، د ده ماندینی (بسلون) امر وکړ چې د هجیر ترکی د خان وزیر او پرستار او مجددالدین د خان معالج طبیب د خپلو ټولو ماشومانو سره له تیغه تیر کړی»[۲].

په هغو هېوادونو کې چې د مغلو له خوا فتح شوی وو، افغانستان د اقتصادی او ټولنیزی خاصی وضعی درلودونکی و، چې ساری یې تر یوی نیمی پیړۍ پوری په آسیا کې و نه لیدل شو په دې مانا چې ټول اقتصادی او فرهنګی ښارونه او مرکزونه یې وران شوی او د وریښمو د لاری کاروانونه د باختر په لویو ښارونو (بلخ، هرات، مرو او نیشاپور) کې استراحت کړی نه ؤ، بلکې د هغو ښارونو د ویرجنو خرابو د پاسه په پوره چوپتیا او افسوس سره تیریدل. په دې کاروانونو کې د مشرق زمین مالونه لکه چینی وریښم،

۱- اثر فوق، ص-۱۲۱

۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۳۳۱

هندي او د آسیا جنوب شرق درمل، د افغانستان، سیلون او هند کریمه ډبرۍ، د ماورالنهر فرشونه... او داسې نور وړل کېدل.

«باید یادونه وشي چې مغولو د طبابت او تاریخ په څنګ کې، د نجوم، ستورۍ پېژندنې او کیمیا سره هم مینه درلودل خو نورو علومو ته یې اعتنا نه کوله، د مغولي دولت په نزد د علم او فضل معیار یوازې په مغولي ژبه پوهېدل او د اویغوری خط ؤ»[1].

په افغانستان کې د مغلو د تسلط د پای ته رسېدلو سره او په خراسان کې د نیمه مستقل او مستقلو دولتونو د رویکارېدلو سره په تېره بیا د هرات د کرت دولت (۱۳۴۵-۱۳۸۱م) د یوې نیمې پېړۍ په اوږدو کې په تدریج سره ورو ورو یوځل بیا د هرات ښار د یوه ستر فرهنګي او ادبي کانون په توګه را منځ ته شو او د مملکت د علومو او فنونو علمبردار وګرزید.

د علومو د ودې او پراختیا ترځنګه مدرسې تاسیس، د کرنې او لاسي ضایعو الات ایجاد او طبابت هم نوې ساه واخستله او په همدې وخت کې د وسلې تولید شروع شو او هرات د پخوانې د نساجي صنعت را ژوندی کړ. «دا ده چې د هرات نوی ښار د بلخ او پخواني مروی په عوض د چین او ماورالنهر د تجارتي قافلو مرکز وګرځید»[2]. او بدیعه او فرهنګي زیات آثار ایجاد شول او د هرات ښار په دې علمي او فرهنګي خصوصیتونو سره وکړای شول چې حتیٰ د اکرت د کورنۍ د زوال نه وروسته د افغانستان د پایتخت په توګه قرار ونیسي چې دا فرهنګي او علمي نهضت هم د ګوډ تیمور (۱۳۸۰م) د هجوم او بریدونو په وجه یوځل بیا ودرید او د ده اخلافو (ځوارلسمه او پنځلسمه پېړۍ کې) بیا دا مشعل روښانه کړ او هغه ورانۍ چې د ګوډ تیمور په وخت کې منځ ته راغلې وې التیام یې ومونډ چې د دې دورې د فرهنګي ودې نمونې تر اوسه پورې د ډېرې دلچسپۍ وړ دي.

د تیمور د وختونو د پوهانو له ډلې څخه یو هم کرماني ابراهیم شاه طبیب ؤ چې متاسفانه د هغه آثار لاس ته رانه وړلای شو. په دې زمانه کې د طبیب او طبابت پوهانو د یو شمیر ناروغیو په هکله معلومات درلودل او هغه یې پېژندل. د دې ادعا د ثبوت د پاره کولای شو چې د افغانستان در مسیر تاریخ ۲۶۹ مخ ته مراجعه وکړو.

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۲۳۷

۲- اثر فوق، ص-۲۴۸

دالغ بیګ تر مړینی وروسته په افغانستان کې د تیموری شهزادګانو ترمنځه کورنیو جګړو زور واخیست او خلک له دې وضعی څخه په سپړ.مو راغلل په تیره بیا چې قحطی راغله چې د دی زیان له هغه طاعون ناروغۍ څخه زیات و چې د شهرخ میرزا په وخت کې په هرات کې خپور شوی و.

«د ابوسعید په وخت کې یو ځل بیا په هرات کې ډیره بده قحطی راغله او د دی په تعقیب په ۱۴۶۱م کې هلته د طاعون مرض پیدا شو چې زیات شمیر خلک یې ووژل»[۱].

لکه چې یادونه وشوه د تیمور له وخته وروسته علم او فرهنګ بیا په را ژوندی کیدلو پیل وکړ او ورو ورو عالمان او پوهان ډګر ته راتلل چې د کابل د سالنامه ۱۳۱۵ کال په ۴۰۸ مخ کې په نهمه پیړۍ کې د افغانستان د ادبیاتو د تاریخچې په باب داسی معلومات وړاندی شوی دی.

قطب الدین محمد آدم طبیب، شیخ الدین حبیب الله طبیب او سمرقندی نظام الدین عبدالحی طبیب چې د شاهی دربار د خاصو طبیبانو څخه وو د طب په علم او د پیچلو ناروغیو په درملنه کې یې ربنته زیات ربنتینولی درلودله. دی عالمانو د سلطان حسین میرزا په وخت کې په هرات کې اوسیدل.

پدې توګه د تیمور د مړکیدو څخه وروسته د ده اولادونه او لمسیان وکړای شول چې ترڅو د دغو مادی او معنوی ورانیو جبران وکړی. د شاهرخ میرزا او سلطان حسین بایقرا چې هرات د دوی پایتخت و ډیرو فضلا او عالمان راټول شول.

طب او طبابت هم د نورو علمی او فرهنګی مشخصاتو په څنګ کې ښه رونق پیدا کړی او اشراف او اعیان او بډایان خپلی درملنی ته ضرورت احساسول چې په دې توګه اطباو ته ډیر حرمت او احترام کول. د دې زمانی طبابت د یونانی، اسلامی طبابت څخه ترکیب شوی او د هند او چین طبابت هم ور باندې تاثیر درلود.

دولت شاه سمرقندی چې تذکره یې د امیر علی شیر په وخت کې تکمیله شویده د هغو عماراتو چې په هرات کې د امیر علی شیر له خوا جوړ شوی دی، په لاندې ډول شرح کوي:

۱- اثر فوق، ص-۲۷۱

«جامع مسجد، مدرسه، خانقاه، روغتون او عمومی حمامونه چې دا ټول د انجیل د نهر په څنګ کې اعمار شوی وو»[۱].

د دې څخه جوته کیږی چې د هرات تیموریانو د تسلط په زمانه کې په خاصه توګه د سلطان حسین بایقرا او د هغه پوه وزیر امیر علی شیر نوایي په وخت کې هرات د اطباو د تجمع محل و او لرونکی د روغتون و چې د مجرحینو او ناروغانو درملنه به یې کاوه.

د هغی زمانی طبیبان خواجه رشید الدین، نجیب الدین سمرقندی، ابن نفیس قریشی، قطب الدین شیرازی، علامه شمس الدین، افضل الدین کرمانی، ابو زین کمال او نور دی.

په نتیجه کې ویلای شو چې د ګورګانیانو په وخت کې فرهنګ (۱۴ او ۱۵ پیړۍ) که څه هم د فلسفی له پلوه جامدو چې د مغلو تر حملی مخکینی دوری ته نه رسیده خو د منځنی آسیا فرهنګی مرکز شمیرل کیده او له ایران، هندوستان او ماورالنهر څخه استادان، عالمان، شاعران او د علم او ادب اهل د هرات ښارته را تلل او د هرات مکتب د دی هېوادونو د مثال نمونه وشمیرل شو.

په لوړو مدرسو کې چې پوه استادان یی درلودل یو ولس زره شاګردان له هر مسلک څخه تدریس کیدل چې طبابت هم د دغو مسلکو څخه و «خو په اروپایی هېوادونو کې له مدرسی او مکتب څخه کومه خبره نه وه او هلته په منظم شکل د علومو په مختلفو ځانګو کې تدریس جریان نه درلود، چې دا موضوع په هغه زمانه کې چې هنوز په اروپا کې خصوصی او اشرافی تحصیلات وو، زیات ارزښت درلود»[۲].

په دې توګه کله چې مغول دی خاوری ته راننوتل د طبابت له مخی یې لکه مخکنی فاتحان یعنی عربان څه نه درلودل چې د دی سیمی طبیبانو ته یې ور زده کړی، خو بیا هم په بشپړه توګه د طبابت له علم څخه بې خبره نه و، او پخپله د تداوی د طریقو د یوی برخی درلودونکی وو چې زیات و کم جالب وو. خو په دې ځانګه کې د معلوماتو او پرمختګ اندازه ډیره ناڅیزه وه.

۱- پوهندوی دوکتور محمد انور ترابي، طب در گسترده تاریخ، ۱۳۸۵ شاهمامه هالند، ص-۱۶۶

۲- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۲۷۷

لکه چې د مخه یې یادونه وشوه د چنګیزیانو د قساوتونو څخه د اهل طب او طبابت په مقابل کې زیات مثالونه ښایي ولیکل شی لکه کله چې چنګیز خان د هرات په لور وخوزید او د هغه ځای په عامو وژلو کې یې نجیب الدین سمرقندی چې د یو شمیر کتابونو په تیره بیا د درمل پیژندنی په برخه کې لیکوال و هم وواژه.

د دې عالم لیکنی په سراسر اسلامی نړۍ کې زیات شهرت درلود. او مخصوصاً د «الاسباب و العلامات» په نوم د ده کتاب تر ټولو زیات نوم درلود.

په دې قتل عامونو کې یوازی د فخرالدین رازی زامنو نجات موندلی و. د مغولو د لومړۍ حملی څخه لږ وروسته یې د ستور ورکړ ترڅو چې د عامو وژنو په جریان کې نه یوازی د طبیبانو، آهنګرانو او صنعتګرانو سره څوک څه کارونه لری بلکې د هغوی سره مرسته هم کیده او بیا وروسته د مالیاتو ورکولو څخه هم معاف شول، او دومره موده لاتیره نه وه چې د مغولو په دولت کې د منځنی آسیا عالمانو ډیر مقامونه تر لاسه کړل، طب خپل خاص رونق وموند چې دا دی دلته د دوی په هکله یو څه مکث کیږي:

له فخرالدین رازی مشهور عالم او طبیب څخه یادونه شوی او باید وویل شی چې ده د ویترنرۍ سره خاصه مینه لرله او پخپل جامع العلوم نومی کتاب کې یې یو فصل ښکاری حیواناتو او د حیواناتو د ناروغیو د یوی برخی د درملنی په اړوند مختص کړی دی.

هغه څه چې د مغولو د استیلا په وخت کې تر بحث لاندې نیول شوی دی هغه د جنین د جنسیت او جنین پیژندنه ده. په دې مورد کې ابن سینا عقیده درلودله: چې د هغی سر منشأ نه یوازی په نطفه کې نغښتلی شوی بلکې د مورو پلار د وضعی پوری هم تړاو لری.

ځنی کسان یوازی د نارینه اولاد صاحب کیږی او په مقابل کې نور دلونیو.

«د هغه سړی چې اولاد یې یوازی هلکان وی هغه د ډیرو راوتلو عضلو درلودونکی نه دی خو دومره ډیر کمزوری هم نه وی. د دې ډول کسانو رګونه برجسته او مزاج یې تود وی هلک زیږونکی ښځه هم، داسی ده»[1].

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ص-۴۹۰

ابن سینا د جنین د خاورینی منشأ، چې د حضرت آدم^ع د پیدایښت د کیفیت شاخص دی د نادیده نیولو په ترڅ کې د جنین او د هغه د پیدایښت په متعلق نظر لري: کله چې د نطفی پرمخ د رحم خوله چې نارینه په هغی کې منی غورځوی وتړل شی نو لومړنی مرحله را رسیږی. په دې ترتیب چې په لومړۍ سرکې د هغی په منځ کې حفره منځته راځی، چې د زړه ځای دی.

وروسته په ښۍ خوا او په پورته خوا کې دوه آماسه (پړسوب) را څوګندیږی. که څه هم سر او آخر کې سره بیل دی خو له یوه وخت وروسته – یو ځای کیږی، اما بالاخره یو له بله بیلیږی، روښانه او څرګنده کیږی، لومړنۍ لخته ده چې قلب (زړه) جوړوی او دوهم د ځیګر بنسټ دی. د دې آماسونو (پړسوبونو) پیدایښت د جنین د ودی دویم مرحله ده. د جنین دریمه مرحله د اصلی اندامونو د تکوین او د زړه په فعالیت د راتلو مرحله ده او اندامونه په تدریج سره بشپړیږی.

منصور وایي: چې په شپږ ورځنی سقط شوی جنین کې زړه، ځیګر او ماغزه ښکاره دی. خو ابن سینا او د طبیبانو نور شمیر د قرآن عظیم الشان د مندرجاتو په پام کې نیولو سره د دیرشو ورځو په عدد عقیده لری. منصور او امام فخرالدین رازی عقیده درلودله چې زړه لومړنی اندام دی چې د تشخیص وړ دی. خو ناف (نوم) لومړنی اندام دی چې وده کوی. او رازی عقیده درلودله، ځیګر لومړی عضوه ده چې را څرګندیږی.

حقیقت دا دی چې ابن سینا په دی کې چې د بدن کوم یو غړی لومړی پیدا کیږی شک او تردید درلود. او په دې هکله یې مطالب ګنګ دی. دې وایي لومړنی اندام چې شکل نیسی او د تشخیص وړګرزی ناف (نوم) دی.

«خو د زړه، سږو او مغزو پړسوب د نوم د بند د تشکل ترنیولو د مخه ظاهریږی. په داسی حال کې چې هغوی د نوم د بشپړیدو وروسته هغه تکمیلیږی. واقعیت دا دی لومړنی غړی چې په جنین کې منځ ته رازی قلب دی»[1].

د اناتومی له مخی باید وویل شی د منصور د تشریح کتاب او د هغه نور آثار چې کاملاً مشهور دی، د اناتومی په برخه کې پوهان معمولاً په کور کورانه ډول د یونانیانو له تشریح څخه استفاده کول. د دی کار اساس د سقراط په واسطه ایښودل شوی دی.

۱- اثر فوق، ص-۴۹۱

نوموړی د چرگی د بچی د جنین د وضعی په څیړنی کی، د انسان د جنین په باره کې ولیکل چې تر ډیری مودی پوری د ټولو د منلو وړ و. چې په پای کې غیاث الدین سبزواری (شین ډنډي) د بطلان لومړی کرښه په دې اشتباهی عقیده وکښله او دی ویل: «هغه دلایل چې د چورگوړی او د انسان د جنینو تر منځه ورته والی په باب لیکلی دی فوق العاده کمزوری او نا سم دی ځکه چې د انسان او د چرگی تر منځه هیڅ ډول شباهت نشته دي»[۱].

د هرات د تیموریانو د وروستنی دوری او د صفویانو د دولت، له نامتو طبیبانو څخه محمد حسین نور بخش بهاءالدوله و چې د سیمی او هندی استادانو څخه یې په ری او هرات کې د طبابت د زده کړو وروسته د هندی طب سره زیاته علاقه پیدا کړه. نوموړی یو وخت هم د سلطان حسین میرزا د دربار له ملازمانو څخه و او د دی پاچا تر مړینی وروسته ری ته راستون شو، او د هغه ښار د طبیبانو په سرکی ودرید. نوموړی خپل یوازنی کتاب چې خلاصة التجارب نومیږی په ری کې ولیکه او په خپل ټول عمر کې یې د اسلامی طب ټول کتابونه مطالعه کړل چې خپل تجارب یې په دې کتاب کې ذکر کړی دی. ده په دغه خپل کتاب کې دولس کرته د سقراط نوم دیرش واره د جالینوس نوم او اوه ویشت کرته د ابن سینا نوم اولس ځلی د رازی نوم اخستلی دی. پر دې برسیره یې د ثابت بن قره، سید اسمعیل جرجانی، ابن بیطار او د طبابت د علم د نورو خبرگانو مطالب بیان کړی دی. نوموړی د خوتی اسهال د ناروغی په وجه مړ شو چې حاجی خلیفه د ده مړینه په کال ۱۵۰۷م کې درج کړی دی.

ده پخپل کتاب کې بیلا بیل مرضونه تشریح کړی دی لکه د توری ټوخلی (پخولی – سیاه سرفه) د خپریدلو په باب د ده توضیح بهاءالدوله په دې اړوند لیکی:

د پخولی او نورو ناروغیو ډولونه د هوا د خرابۍ په علت او کله هم د سږو د ناراحتۍ له امله چې د ککړی هوا استنشاق په اثر پیدا کیږی، دوه کرته دا ناروغی د هوا د ککړتیا له امله پیدا شوه او د دی سبب شوه چې ټول خلک پری اخته شول، پرته له دی چې د ذکام نښی پکې ولیدل شی.

ټوخی به دومره زور راته چې د کانگی کولو پوری نه ودریده، ناروغان ورځ په ورځ کمزوری کیدل، د زړو او کوچنیانو زیات شمیر به بې حاله شول او حتی په لومړی خپریدلو کې ځنی یې مړه کړه. بالاخره یو

۱- اثر فوق، ص-۴۹۴

هندی طبیب توصیه وکړه چې ټول خلک دی یو مثقال او له هغه څه زیات اومه زنجبیل په اوبو کې حل کړی او بیا دی وخوری.

دویمه عمومی نیونه یې په پسرلی کې را څرګنده شوه چې د لومړی وار څخه د تلقاتو شمیر بیخی زیات ؤ او خلکو به د خپلی تداوۍ د پاره وینی رانیول، جولاب به یې خوړل او زنجبیل به یې مصرف کاوه او داسی نور.

«زه پخپله او ټوله کورنۍ می په دی ناروغی اخته شوو، خو په پورتنی طریقه می وکړای شول چې د څو میاشتو په اوږدو کې ځان تداوی کړم، خو تر هغۍ پوری چې خپله آب و هوا می نه وه بدله کړۍ په بشپړه توګه می روغتیا حاصله نه کړه»[۱].

د مغلو او صفویانو دوره د درمل جوړولو طلایی زمانی ګڼل کیږی. د تاریخی اسنادو له مخی په فارسی باندې د درمل پیژندنی لومړنی کتاب ابو منصور موفق هروی ولیکه او هغه یې په ۹۷۵م کې پای ته ورساوه. دا کتاب چې الابنیه عن حقایق الادویه نومیږی او ابو منصور هغه سلطان منصور بن نوح سامانی پاچا ته اهدا کړی دی. په دې کتاب کې ۵۸۵ ډوله درمل توضیح شویدی چې د هندی، ایرانی، سریانی او یونانی دواګانو مجموعه ده. د هغه خطی نسخه په ویانا کې ده او اسدی شاعر په ۱۵۰۵م د هغه له مخی یو نقل تهیه کړی دی.

د درملو پیژندلو او جوړولو په برخه کې درمل جوړونکی هغه کتاب ته مخه وکړه او د ډول ډول ناروغیو د تداوۍ په خاطر د خاصو درملو د میندلو د پاره هڅی ورځنۍ موضوع وه چې په دی ترڅ کې چوب چینی (ریشه چینی) یا ژن شین د یو فوق العاده موثر تریاق په توګه د طبیبانو له خوا ومنل شو او دومره موده لاتیره نه وه چې ډول ډول دواګانو په ځانګړو خواصو سره زیاتښت پیدا کړ.

د ژان شین (د حیات ریشه) د ریشی څخه په لومړی کرت د عماد الدین نومی په کتاب کې یادونه شوی ده او ده پخپله سریزه کې لیکلی دي: دا ماده وروسته ایران ته راوړل شوی ده. نوموړی عقیده درلودله چې دا درمل د ټولو هغو ناروغیو د پاره مداوا ده چې د معدی، د لوزالمعدی او یرقان د ضایعاتو څخه پیدا شوی وی. حتی ده تصور کاوه چې د دی په واسطه سرطان هم تداوی کیدلای شی. د جلدی، د سرلغړ کیدل (طاسی سر)، جرب، استسقا، قلنج، او د رعشی په ناروغیو کې له هغی څخه استفاده کیدلای شی.

۱- داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ص-۵۱۱

همدارنګه په دغه زمانه کې د خر مهری یا زهر مهری (تیږی ته ورته ماده ده چې ځنی وخت دوا بنه خوړونکو حیواناتو چې آهو (غرڅه) ته ورته ده په لاس راځي) څخه یادونه شوی ده.

د دې مادی شهرت د آسیا او اروپا په سراسرو سیمو کې خپور دی او زیاتره خلک د نړۍ په زیاتو هېوادونو کې د هغې په معجزه آسا اغیزی باندې عقیده لری او ابن سینا د قانون په کتاب کې څو کرته د هغه خاصیتونو ته اشاره کړی ده.

د دې دوری د طبابت د نورو بیلګو څخه د هندی طب نه استفاده ده، وایي چې په لومړی سرکې د افغانستان او ایران (منځنی آسیا) طبابت د یونان پر طب ولاړو او بیا د عباسیانو په زمانه کې د یونان، پخوانی ایران او هند طبابت سره ټول ګډ شول او یو نوی جامع سیستم یې منځ ته راوړ. هندیانو ځنی کتابونه ترجمه کړل او هم پخپله په دې ژبه طبی کتابونه ولیکل خو وروسته په هندی کتابونو استناد کم شو.

د صفویانو په زمانه کې هندی طب او هندی طبیبان د پوهانو او د دی سیمی د طبیبانو د پاملرنی وړ وګرزیدل. بهاءالدین له یو شمیر هغو هندی طبیبانو یادونه کړی چې په ری او هرات کې اوسیدل او همداشان یی ویلی دي: چې د هندوانو زیات شمیر د معالجی د پاره ایران ته راتلل. له دی جملی څخه د هغو مرضونو او زخمونو چې په پخوانیو کتابونو کې یې یادونه شوی ده د نار فارسی په نوم یو زخم دی چې د معمولی سفلیس سره زیات ورته والی لری.

ابن سینا د خپل قانون په څلورم کتاب کې هغه شرح کړی او راتلونکو لیکوالانو هم د ده له وینا وو څخه یادونه کړی ده. یو زخم شته چې ملتهب دی او د «دمل» سره مشابه دی بهاءالدین د دی ناروغی او د هغه د درملنی په متعلق مفصل معلومات وړاندی کړی دی. څو موده وروسته یو بل کتاب تالیف شو چې د «شانکر» درملنه پکې شرح شوی ده. په دې کتاب کې د لومړی ځل د پاره دا ناروغی فرنګیه یا آبله فرنګی (فرنګی تناکه) بلل شوی ده.

دا کتاب په ۱۵۱۱م کې په هرات کې لیکل شوی دی او نوم یې جوامع الفواید دی. د دې کتاب لیکوال یوسف بن محمد بن یوسف دی چې د سلطان بابر په زمانه کې وزیرید. د دې پلار هم د نامتو طبیبانو څخه و چې د بحرالجواهر یا جواهرالغات د کتاب صاحب دی، او هغه یې سلطان جلال الدین ملک دینار ته هدیه کړی دی. د دې کتاب څو نسخی د اروپا په

موزیمونو او کتابخانو او د کابل په ملی آرشیف (مولف، مومنی) کې ساتل کیږی. د دې کتاب یوه برخه په عربی ده او د لغاتو او ځنی اصطلاحاتو یو فرهنګ دی چې په هغه کې طبی او صنعتی لغتونه او د ګیاه پیژندنی اصطلاح راوړل شوی دی.

یوسف د پلار پر خلاف ډیر کتابونه تالیف کړی دی چې له نیکه مرغه زیات شمیر یې مونږ ته را پاتی دی کتابونه یې زیاتره په نظم دی. ډیر مشهور غیر طبی کتاب بدیع الانشأ دی چې خپل زوی لپاره یی لیکلی دی، او طبی ډیر مشهور کتاب یې فواید الاخیار دی چې په ۱۵۰۷م کې لیکلی دی. نور کتابونه یې ریاض الادویه، علاج الامراض او یوسفی طب دی. (وروستی کتاب هم په ملی ارشیف کې شته دی – مولف، مومنی) یوسف د جلدی امراضو په مبحث کې سفلیس یې په مفصل ډول تر څیړنی لاندې نیولی دی. او درملنه یې سیماب (جیوه) ډیر مجرب ښودل شوی دی چې په لاندنیو بیتو کې وایي:

در دفع فرنګ چی درویش و چه شاه　　بـــــــــاید په حدیث بنده نیکخواه

یا از حب سیماب خورد یـــــا سفوف　　یا دود کند جیوه سخت شد کوتـــاه[1]

هیربریت چې په ایران کې د شرقی هند د شرکت د کارمندانو څخه ؤ طبیبانو ته لیکی: چې هغوی د پوهانو له آثاره لکه بقراط، جالینوس، ابن رشد، فارابی، این سینا، ابو اسحق، ابو علی محمد عبدالله بن الادیب، ابوبکر رازی، غزالی او مشعری بلخی او نورو څخه استفاده کوی.

په دې دوره کې ښوونه او روزنه موجوده وه او ادبیات، تاریخ، نجوم او طب د ممتازو طبقاتو له خوا زیاتره هرکلی کیده. خو ادبیات لکه د مغلو د دوری د مخه په شان لوړ کیفیت نه درلود. ځکه چې د مغلو د دوری فسادونو او وحشت د افغانستان د خلکو په عقلونو باندې ناوړه اغیزی غورځولی وی چې د هغه زیږنده نومیدی او ستومانتیا، د ژوند او د دنیا تحقیر او آخرت ته پاملرنه وه. په دې شرایطو کې تصوف ته میلان زیاتیږی چې وروسته تصوف او عرفان د قلندرۍ، مفتخوری، له ژوندانه بیزاری او په سپکه ورته کتل په ډول سرمشق شوی، شعر او ادب د نصیحتونو، پند او توصیی، د ژوند څخه د بدبینی په چوکات کې غورځیدلی و. څرګنده ده چې دی روش د

۱- یوسف، کتاب طب یوسفي، چاپ سنګی در هند، مارچ ۱۹۱۳م، ص-۵۸

طبابت په وده ناوړه اغیزه کړی خلک و همونو او خرافاتو ته ورکښیل شوی او د علم او پوهی دروازی تړل شوی دی.

زمونږ په وطن کې د ناروغانو د معالجی غیر علمی رواجو اغلباً په همدې وخت کې را منځ ته شوی او تر اوسه دوام لری. «خرافات او اوهام، جادو باندې عقیده، نذرو نیاز د مغلو د هماغی دوری میراث و»[۱].

افغانستان د شپاړسمی میلادی پیړۍ راهیسی د باندنیو هېوادونو تاخت و تاز لاندې راغی چې د دی پیړۍ له لومړنیو څخه شروع شو او تراتلسمی پیړۍ پوری دوام وموند.

شیبانی دولت په ماورالنهر کې په ۱۵۰۰م، صفوی دولت په ۱۵۰۲م په ایران کې او بابری دولت په ۱۵۲۵ په هند کې تشکیل شو.

د پردیو هېوادونو د حملاتو او د هېواد، تجزیه کیدو او انحطاط صورت وموند، مدرسی له مینځه لاړی او کوم مشوق هم پاتی نه شو او که چیرته کوم عالم په دې خاوره کې پیدا کیده هغه هم هندوستان ته تښتیده، ځکه چې هند په دې زمانه کې د علم او پوهی خریدار ؤ.

زمونږ په هېواد کې خارجی لاس وهنو ډول ډول شکلونه درلودل او په سیاسی سبوتاژونو کې زیاتره د طبیبانو څخه پراخه استفاده کیدله چې کیدای شی د انګلیسانو، روسانو او هندیانو نومونه واخستل شی. دلته یو شمیر مثالونه راوړل کیږی چې د طبیبانو په واسطه زمونږ په هېواد کې د سیاسی لاس وهنو او تروریستی فعالیتونو بیلګې دی.

د یوه تن انګلیس له قوله تیمور شاه په ۱۷۹۳م کې ممکن د زهرو په واسطه مسموم شوی وی.[۲] په همدې ډول د ۱۸۴۶ کال په ژمی کې وزیر محمد اکبر خان د ملاریا تبی ونیو او د یوه تن هندی طبیب د زهرو په ګولیو مسموم شو او څو ساعته وروسته د انګلیسی د دولت په ګټه یې له جهانه سترګی پټی کړې[۳].

امیر شیر علی خان چې په مزار شریف کې کله چې د روسیی د دولت سره د مذاکراتو انتظار ایسته او د انګلیس پر ضد د پریکونی جګړی د

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۲۷۷

۲- سرفریز ستنلر، وزیر مختار برتیانیه در کابل ۱۹۴۱م، سال طبع ۱۹۵۰ لندن

۳- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۳۵۶

پاره يې تياری نيوه په ناڅاپي ډول مړ شو. او ټولو ويل چې مسموم شوی دی، البته دا پلا د ده معالج طبيب روسی ؤ[1].

د هزارجاتو په پاڅون کې يوه هندۍ زړه ښځه وه چې ځان يې په ګياه پيژندونکی معرفی کړی او په هزارجاتو کې ګرزيدله، څرګنده ده چې د هزارجاتو دغه پاڅون ته دی لارښونه کوله. مير مسجدی خان د ۱۸۴۱م د نوامبر په ۲۶ مسموم او مړ شو چې د ده په دی ناڅاپي مړينه کې هم د خارجيانو لاس ؤ.

يو تن هندی د احمد جان خان حکيم په نوم سپه سالار غلام حيدر خان څرخی ته د طبيب په عنوان هيڅکله له ده څخه بيل نه شو، دی د هغه فعاليت په اساس چې په نورستان کې کړی و لومړۍ کلنل او بيا په کابل کې د سان او ځيری د دفتر مشر شو[2].

د امير حبيب الله خان د سلطنت په دوره کې د دی ډول مشکوکو اشخاصو شمير مخ په زيائيدو شو. په معارف او صحيه کې يې نفوذ وکړ او حتی د امير حبيب الله خان روغتيا او ځان د هندی ډاکتر الله جويا خان په لاس کې وو چې د افغانستان د غند مشرۍ رتبه يې درلود.

الله جويا به غير صحی او مقوی درمل په امير باندې خوړل ترڅو چې له طبيعی حالته راووت او نور يې د دولت چارو ته رسيدګی و نه کړای شو.

همداشان د امير حبيب الله خان په دوره کې د لاهور د کالجونو د متعلمينو يوه پنځلس کسيزه ډله د مهاجرينو او فراريانو په نوم له هنده کابل ته راغلل. او وروسته يو زيات شمير هندی افغانان او هنديان کابل ته راغلل چې له دی ډلی څخه داکتر فقير محمد خان بنويی، داکتر نور محمد خان، داکتر قريشی، داکتر سيد عبدالغنی شاه خان، داکتر محمد علی خان، داکتر جواهری، داکتر عبيدالله خان، داکتر سيد رشيدالدين خان، داکتر عبدالرووف خان، داکتر احمد علی خان، داکتر عبدالمجيد خان، داکتر دلاور خان، داکتر هاشمی او د حکيم اسلام خان نومونه يادولای شو.

افغانستان ته د هندوانو دا ډول راتګ د هند او پاکستان تر آزادی پوری مخ په زياتيدو و. دی کې شک نشته چې ځينو يې په صادقانه توګه د نظامی او ملکی طبابت له پاره په پاک زړه کار کاوه خو ځينو يې د

۱- اثر فوق، ص-۳۷۷

۲- اثر فوق، ص-۳۵۹

افغانستان وګټو پر ضد او یا یې جاسوسی وظیفه اجرا کوله او ځینو یې د خپلو درواغو او پور پاګندو په خپرولو سره د دولت وتلی غړی بدنامول چې له دی جملی څخه مولوی نجف علی خان یادولای شو. چې په خپله رساله کې یې د ځینو په باب د مدحی او ذم شعرونه ویلی دی او د خپلو ناولو ارزوګانو په خاطر یې د شاه امان الله په دوره کې د کابل د ښار او د هغه د اطراف پاک لمنی خلک چې په هغه وخت کې حتی د فحاشی نوم چا نه پیژانده بدنام کړل.

از جراثیم تفرج اکثری گشته مریض

در نواح شهر کابل بد هوا بس ناگوار

ځینو یې نه یوازی د افغانستان د ګټو پر ضد بلکی د هندوستان د ملی مصالحو پر ضد هم عمل کاوه. مثلاً د خپلواکۍ تر جګړی وروسته مولوی ظفر حسین خان مهاجر د هند د انقلابی جمعیت غړی په کابل کې پکتیا ولایت ته ولیږل شو چې د داکتر فقیر محمد خان بیطار په شان د افغانستان سپه سالار (محمد نادر خان) سره خدمت وکړی حال دا چې د هغه حزبی اسناد د انګلیس دولت لاس ته ورغلل.

په همدې ډول خارجی طبیبانو د خپلو مسلکی دندو د اجراکولو د پاره چې د خپل مملکت د هیئتونو سره او یا یې په یوځی قطعاتو کې وظیفه اجرا کوله څرګنده ده چې د خپلو وظیفو تر څنګه یې په افغانستان کې د خپلو هېوادونو د مروجه طبابت د خپرولو په چارو کې بې اغیزی نه وو او په مناسب محل کې ډله ایز طبابت د هغوی له خوا زمونږ په هېواد کې شلمی پیړۍ په اوایلو کې میراث پاتی شو چې د دی طبیبانو یو شمیر معرفی کوو:

داکتر برایدن یوازنی سړی ؤ چې د انګلیس د عسکرو د پنځلسو زرو عسکرو له جملی څخه زخمی په خپل زخمی آس جلال آباد ته ورسید.

«دکتر د ف د انګلیس جراح د دی جنګ له د هشت څخه خپل رګ په شلولو سره انتحار وکړ»[۱]. په کال ۱۸۷۸م هغه لوی هئیت چې د امیر شیر علی خان په وخت کې له روسیی څخه کابل ته راغی د داکتر یوراسکی

۱- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۴۶۱

په نامه هم په هئيت کې شامل و او کله چې امير د نزلی په ناروغی او د ملا په درد اخته شو نوموړی داکتر د امير د طبيبانو سره يو ځای د هغه درملنه وکړه.

د ګندمک تر معاهدی يوه مياشت وروسته (۲۶ می ۱۸۷۹م) کيوناری د انګليس د سفير په توګه کابل ته راغی چې د نورو اشخاصو په خواکی داکتر کيلی طبيب هم ورسره ملګری و.

د امير عبدالرحمن خان په زمانه کې يو انګليسی هئيت هرات ته لاړ چې يو انګليسی طبيب هم ورسره ملګری و او کله چې ديورند د معاهدی په خاطر کابل ته راغی د شپږو تنو افسرانو په جمله کې يو تن طبيب دوکتور فن په نوم هم ورسره ملګری و.

لکه چې مخکې وويل شو خارجی طبيبانو چې زياترو يې د خپل دولت سياست پياده کاوه، د دوی ځنی البته په صادقانه ډول د محتاجانو په تداوی مصروف وو او ځينو يې حتی په ډيرو ناوړو او زياتو بدو اعمالو ته لاس پوری کاوه او زمونږ خلک يې په مخدره موادو معتاد کړی دی. مثلاً د امير شير علی خان په دوره کې د مزار شريف په ښار کې يو مجهول الهويه سړی پيدا شو چې د ښار بهر کې اوسيده او هره اونۍ يې تغاره پرسر کې په ښار کې ګرزيده او په هغی کې به يې نذرتو لاوه دی سړی (تغاره شاه) ته به څوک ورغلل کوکنار، چرس او ترياک به يی ورته وړاندی کول.[۱]

امير عبدالرحمن خان د شنبی په ورځ ۱۹۰۱م له دی نړۍ څخه سترګی پټی کړی دی. تاريخ شاهدی ورکوی چې نوموړی د امير حبيب الله خان له خوا مسموم شوی دی.

ځينو خارجی طبيبانو د افغانستان د واقعاتو د روښانه کولو په برخه کې هم يو شمير تاليفات کړی دی. لکه چې يو تن چې له ۱۸۳۹-۱۸۴۰م پوری په افغانستان باندې د اندوس د مشهور لښکر په بريد کې ملګری و. انګليس جيمس انکن سن د بنګال د لښکر د جراحی مدير و چې د برتانيه په متهاجم لښکر کې يې د سرطبيب دنده په غاړه درلودله، نوموړی پوستر (بصير) مورخ او زمان پيژندونکی و چې خپل کتاب کې (په افغانستان کې لشکر کشی) وليکه چې په کال ۱۸۴۲م کله چې جګړه پای ته ورسيدله دغه کتاب په لندن کې چاپ شو. دا کتاب له هر پلوه د زښتی زياتی توجه او استفاری وړ دی ځکه چې د جنګ رينبی او د هيواد او خلکو اوضاع، د

۱- اثر فوق، ص-۶۰۶

شخصيتونو، مواضعو او داسی نورو په باب ډير ښکاره معلومات پکی وړاندی شوی دی. او په نولسمه پيړۍ کې د افغانستان په هکله په زړه پوری معلومات لري[۱].

دا جراح د هغه وخت د شاهی بالاحصار په هکله هم شرحی لری.

۱- پوهاند عبدالحی حبيبي، پنجاه مقاله، مطبعه دولتي، کابل ۱۳۶۲ ص-۱۰۸

څلورم څپرکی

د افغانستان طبابت د شلمی پیړی له لومړیو څخه تر ۱۳۸۰ پوری

د امیر حبیب الله خان په دوره کې

څرنګه چې لیدل کیږی د ابدالی احمد شاه د زمانی څخه تر امیر حبیب الله خان دوران د طب په برخه کې کوم پرمختګ په سترګو نه لیدل کیږی. حتی د امیر عبدالرحمن خان حکومت په زمانه کې پخپله د نقرص په ناروغی اخته و د طبیب او داکتر په نوم چې لږ تر لږه ناروغانو ته طبی مرستی ورسوی وجود نه درلود. د امیر عبدالرحمن خان مخصوص طبیب مورخ او ادیب میرزا ابراهم خان و. او امیر هیڅ یو بهرنی طبیب باندې اعتماد نه درلود چې د هغه درملنه وکړی.

خو د افغان او انګلیس د دویمی جګړی څخه وروسته په کال ۱۲۵۹ (۱۸۸۰م) کې د عصری طبابت او ملکی او نظامی روغتونو ته توجه پیدا شوه او په کال ۱۸۹۷م سردار حبیب الله خان او نصر الله خان په باغ بالا کې یو روغتون جوړ کړ چې مصارف یې خپله دوی په غاړه اخیستی وه. خو مخکې له هغه څخه په کال ۱۸۹۴ کې د لومړی ځل لپاره یو درملتون پرانستل شوی و.

امیر حبیب الله خان (۱۹۰۱-۱۹۱۹م) په افغانستان کې د نوی معارف او فرهنګ بنسټ کیښود. ده په ۱۹۰۲ کې چې د افغانستان خلک وچکالی او د کولرا ناروغی تهدیدول د سراج الملته والدین لقب ځان ته غوره کړی و او په یو عام مجلس کې وویل «چی د یوه دولت او ملت ترقی پرته د علم له

ترقۍ څخه ناشونی دی. او ما تصمیم نیولی دی چې په مملکت کې دی ښوونځی تاسیس شی»[۱].

د امیر حبیب الله خان د تمدن غوښتنی په اساس و چې د محبوسینو کوتوالی په کتاب کې یې په خپل قلم داسی ولیکل «سر له دی نیتی څخه (۱۳۳۰هـ ق د ذلعقدی ۲۹) د انسان ړندول منع دی او د دی پرځای دولس کاله بند، د غوږ و د غوځولو په عوض شپږ کاله حبس او د لاسونو د پری کولو په عوض کې په داسی حال کې چې غیر شرعی وی لس کاله بند مقرر شو».

امیر حبیب الله خان د خپل سلطنت په پیل کې دوه تنه هندی داکتران (جراحان) د غلام نبی او غلام محمد په نومونو کابل ته را استخدام کړل چې دوی د شاهی کورنۍ د ناروغانو د درملنی چاری په غاړه درلودلی. څرګنده ده چې د «امیر حبیب الله خان تر سلطنت نه د مخه جراحی د سلمانیانو په واسطه په غیر فنی او عنعنوی ډول اجرا کیدله»[۲].

دې دواړو جراحانو کولای شو چې ساده عملیات لکه د مثانی تیږه، کترکت او داسی نور عملیات اجرا کاندی.

حسین قلی خان چې د هډوکو د ماتیدلو په صورت کې د شکسته بندی کار له پلاره په میراث وړی و د دی دواړو ډاکترانو تر نظر لاندې زیاتی تجربی ترلاسه کړی، هماغه وه چې د حسین قلی خان تر څارنی لاندې د جراحی یو لومړنی کورس پرانستل شو او په هغه وخت کې د دی کورس د شاګردانو شمیر څلویښت تنه وو.

په کال ۱۹۰۳م کې په کابل کې لومړنی لیسه د حبیبی په نوم پرانستل شوه چې دری درجی یعنی ابتدائیه، رشدیه او اعدادی یې درلودلی. ابتدائیه څلور کاله وه، رشدیه دری کاله وه چې د نورو مضمونونو په څوا کې حفظ الصحه (روغتیا ساتنه) هم تدریس کیدله او اعدادیه هم دری کاله وه چې حکمت، طبیعی او کیمیا پکې تدریس کیدل.

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۰۰

۲ - پوهندوی داکتر علوم طب محمد نادر هادی، جراحی عمومی، ۱۳۶۴ ص-۱

د معارف په تشکیلاتو کې چې کوچنی و یو لابراتوار د بیت الحکمه په نوم او یو بیت العلاج (شفاخانه)، یو دفتر چې دوه تنه کاتبان یې درلودل او د هندی مشهورو طبیبانو څخه داکتر عبدالغنی خان او دوه ورونه یې وو[۱].

څه رنګه چې په دغه زمانه کې نری رنځ د ډیرو خطرناکو ناروغیو څخه شمیرل کیده نو دا ده چې د دې ناروغی سره سم او منطقی برخورد په افغانستان کې د نولسمی پیړۍ په وروستیو کې صورت وموند او دا هغه وخت ؤ چې د امیرانو ماڼی ته انګلیسی، روسی، ترکی او هندی دوکتورانو لاره پیدا کړی وه او هغوی د لومړی ځل د پاره د نری رنځ د تشخیص او درملنی د پاره له علمی برخورده کار اخستلی و.

«د امیر حبیب الله خان د دربار دوکتوران د نری رنځ د ناروغۍ معالجی د پاره د یوی مکفی، ارزښتناکی خوړو، بشپړ استراحت، اقلیمی تداوی یعنی په آزاده هوا کې ګرزیدل توصیه کړی وو»[۲].

په ۱۹۱۰م کې په کابل کې یتیم خانه (دارلاتیام) هم تاسیس شو چې هلته د صحی وضعی څارنه هم کیدله. په ۱۹۱۱م د کابل ملکی روغتون (د باغر خان په قلعه کې چې د میوند د روغتون په نوم یادیږی – مولف، مومنی) تاسیس او د ترکی داکترانو په واسطه فعال شو. «د دی روغتون مدیر داکتر منیر عزت (منیربیګ) نومیده چې یو ماهر جراح و»[۳]. په ۱۹۱۴ کې ځینی د ګیډی عملیاتونه د منیر بیګ له خوا اجرا کیدل. دی روغتون ۲۵ دایمی بستری او پنځه یې احتیاطی بستری لرلی. په دې روغتون کې د ننکیو د اوبو پرځای چې پخوا له هند څخه واردیدلی د خوسی څخه دغه د چیچک اوبه استحصالیدلی او د بقری (غوا) جدری تلقیح صورت نیوه.

«په لومړی کال کې د بستر شویو شمیر ۱۹۵ تنه، د وفیاتو شمیر ۱۸ تنه او د مراجعینو شمیر ۲۹۴۶۶ تنه و او په دویم کال یې شمیر ۵۱۸۲۹ تنو ته ور پورته شو»[٤].

پردې روغتون برسیره تر دی کوچنی یوه ځانګړی روغتون هم پرانستل شو چې په هغه کې هندی داکترانو کار کاوه (دا روغتون هماغه د

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۰۲
۲ - پوهنوال دوکتور عبدالعلیم کریم او د مولفینو ډله، کتاب توبرکلوز، ۱۳۶۱ ص-۲۴
۳ - افغانستان له ۱۵۰۴ څخه تر نن ورځی پوری ۱۳۶۸، ص-۲۱۹
٤ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۰۵

پل محمود خان او یا د اردو دویم لمبر روغتون دی چې د شاهی ارگ پوری یې تړاو درلود – مولف، مومنی).

البته دې روغتونونو په کابل کې موقعیت درلود خو د هغوی گاونډیو اوسیدونکو تری استفاده نه شوه کولای.

که څه هم د وبا ناروغی به هم خپریدله، لکه چې د کولرا په استیلا کې په ۱۹۱۵م کال یوازی د کابل په ښار کې په ۴۱ ورځو کې ۱۴۲۲ تنه په دې ناروغی اخته او له دی جملی څخه ۸۸۳ تنه له منځه لاړل په داسی حال کې چې دی وبا دری میاشتی دوام درلود.

همداشان د ۱۹۱۸ کال په انفلوانزا کې په افغانستان کې زیات شمیر خلک تلف شول. د ده خدایداد په کلی کې چې دری سوه تنه نفوس یې درلود ۲۵۰ تنه یی هلاک شول. په پغمان کې په ځلورو ورځو کې ۱۵۰۰ تنه تلف شول. البته په لغمان، کونړ، لوگر، پکتیا او د هېواد په نورو ولایتونو کې دا تلفات زیات وو، خو څه رنگه چې د کابل احصائیه نه اخستله کیدله نو یې د تلفاتو شمیر مجهول پاتی شوی دی.

له مصیبته په ډکو داسی ورځو کې د کابل طبیبانو چې د پخوانی طب څخه یې کار اخسته په صمیمانه ډول د خپلی وسی په اندازه د خلکو په خدمت کې زیار ایسته چې له دی جملی څخه د مرزا عبدالقدیر خان، مرزا عبدالطیف خان، مرزا تاج محمد خان، مرزا محمداسحق خان او څو نورو تنو نومونه یادولای شو[1].

د امیر حبیب الله خان په وخت کې د کابل ښاریانو د پاره د صحی اوبو د تهیه کولو په خاطر له پغمان څخه د اوبو رسولو د نل اساس کیښودل شو.

د امیر حبیب الله خان د داکترانو مشران لاندې کسان وو:

غلام نبی خان	د دربار داکتر
اله جویا خان	د پوځ داکتر
غلام محمد خان	د حرم سرای داکتر
منیر بیگ	د روغتون امر او د کابل ښار داکتر و.

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۰۵

«د امير په وخت کې ځنې طبی بوټی صادر شول چې په هغه وخت کې به روسيی ته صادريدل او د بيد انجير، کنځلی، زيری، کولمو او ترياکو څخه عبارت وو او وارداتو يې زياتره د صنعتی لوازمو اقلام و او له هندوستان څخه يی د نورو شيانو په خواکی درمل واردوله»[۱].

د محترم کانديد اکاډميسن پوهاند عبدالرحيم خوشدل سره چې په ۱۳۶۸/۸/۱۰ کال کې د افغانستان د معاصر طب او فارمسی په باره کې يوه مرکه کړی چې هغه وويل: «د امير حبيب الله خان د سلطنت په وروستيو کې يو هندی طبيب چې اعلی جويا خان نوميده افغانستان ته استخدام شوی و چې په حقيقت کې د سلطنتی کورنۍ او د دربار خاص طبيب او ځينی معتبر اشخاص به يی هم معالجه کول. د دې طبيب په واسطه په ارګ کې يو درملتون پرانستل شو چې د عطارخانی په نوم يادېده چې تر وروستيو پوری په دې نامه يادېده. په هغه زمانه کې د دی دواخانی چاری مير علی شاه خان پرمخ بيولی او د طبيب په توګه يې هم وظيفه اجرا کوله.

تر ده وروسته يو شمير نور هندی ډاکتران هم په اردو کې استخدام شول چې له نور محمد خان، ډاکتر قريشی او نورو څخه عبارت وو. دوی د بيطاريې د صحی يو کورس پرانيست او په ملکی ساحه کې يی د محمد حسين خان په نوم د کمپودری او دواخانی په ښانګه کې تربيه کړ، چې بيا وروسته د قلعه باغر خان (اوس د ميوند روغتون په نوم) په ملکی روغتون کې د کمپودر په حيث د دی درملتون چاری پرمخ بيولی. او بيا وروسته د هغه وخت د عامی روغتيا د هدايت له مخی د محمد حسين له خوا د کمپودرۍ ځنی کورسونه پرانستل شو چې هغه د خليفه محمد حسين لقب ځانته ونيو».

څرنګه چې د کمپودرانو سويه په ابتدائی سطح او ټيټه وه نو د عرفان د مجلی د ۱۳۱۱هـ کال د ليکنی له مخی د طب پوهنځی تاسيس شو چې د هغی په خواکی په همدې کال د درمل جوړلو عالی مکتب هم تاسيس شو.

دا پوهنځی او عالی ښوونځی د اولسو تنو ترکی پروفيسورانو او يو تن د کيميا داخلی استاد د انور علی خان په نوم په دارالامان کې چې د دارالفنون په نوم يې شهرت درلود په تدريس بوخت وو، چې د ترکی استادانو له دغو اولسو تنو پروفيسورانو له ډلی څخه يوولس تنه د درمل جوړولو او کيميا د ښانګی استادان وو.

---

۱ - افغانستان له ۱۵۰۴ څخه تر نن ورځی پوری ۱۳۶۸، ص-۲۲۲

د ۱۳۱۶ کال د عرفان د مجلی د لیکنی له مخی د دغو فارغانو لومړۍ ډله د طب د پوهنځی د اتو تنو داکتټرانو او درمل جوړولو د عالی ښوونځی څخه د دوو تنو فارغانو څخه مشتمله وه چې ټولنی ته وړاندی شول.

د درمل جوړو عالی لیسی تر ۱۳۲۷ کال پوری د بکلوریا په سویه لس دوری فارغی کړی. د کابل پوهنتون د فرانسوی استادانو په پیشنهاد او په هېواد کې د فارمسی امورو د خاص اهمیت له مخی د درمل جوړولو عالی لیسه لغوه او د فارمسی پوهنځی د تاسیسیدلو پیشنهاد یې وکړ. دی پوهنځی د ۳۰ کلونو په موده کې نه یوازی افغانی هلکان او نجونی تربیه کړی بلکې د خارجی هېوادونو لکه ایران، ترکیی او فلسطین نجونی او هلکان یی روزلی دی.

د غازی امیر امان الله خان په زمانه کې

امیر امان الله خان چې په افغانستان کې د پرمختګ او نهضت غوښتونکی و، غوښته یې چې طب ته لازیات رونق ورکړی. هماغه و چې د المان او ترکیې څخه یې باتجربه طبیبان راوبلل ترڅو د هندی تداوی میتود د اروپایي تداوی په سبک واړوی.

امیر امان الله خان د هغو مذاکراتو په ترڅ کې چې د ترکی طبیبانو لکه رفقی بیګ او دوکتور فواد بیګ سره ترسره کړل ارزوی یې درلودله چې په کابل کې یو طبی ښوونځی تاسیس کړی، خو د برتانیه د امپریالیزم د توطئی په اساس دا پاچا چې د بنیادی ریفورم غوښتونکی و له وطنه تبعید شو او د ضرورت له مخی په کال ۱۳۱۱هـ.ش د طب لومړنی پوهنځی په افغانستان کې د علم او پوهی د لوړو زده کړو لومړنی کانون د اتو تنو محصلینو په درلودلو سره بیا تاسیس شو[۱].

د دې د پاره چې افغانستان ته د ترکی دوکتورانو له راتګ څخه یوه ښه صفحه تشکیله شوی وی «افغانستان کې ترکی دوکتوران» هغی مقالی ته مراجعه کوو چې د پروفیسور جنرال دوکتور کمال روزبای له خوا لیکلی شوی او د کاندید اکادمیسن پوهاند دوکتور فقیر محمد زمری له خوا ترجمه او د «کار» د مجلی د ۱۳۶۹ کال په ۶-۷ ګڼه (میزان او عقرب) په ګڼو چاپ شوی ده:

«د دې دوو ورونو او مسلمانو هېوادونو (ترکیه او افغانستان) ترمنځه دوستانه اړیکی په تیره بیا کلتوری، فرهنګی او نظامی مناسبات، له انګلیس څخه د افغانستان د استقلال تر استرداد او د ترکیې د جمهوری رژیم تر تاسیس وروسته شروع شول. که څه هم د امیر حبیب الله خان سراج په وخت کې د یوه تن عسکری دوکتور څخه چې مسلک یې جراحی وه او د منیر بیګ (چې مونږ د امیر حبیب الله خان په دوره کې د منیر عزت په نامه ثبت کړی و) یادونه کړی وه، خو د نوموړی په باره کې زیات معلومات نشته دی. د هغی اوازی له مخی چې د ده په برخه کې په کابل کې خپره شوه، نوموړی دوکتور د جراحی په عملیاتو کې د فوق العاده ستونزو سره مخامخ و او خپل عملیات یې په هغه وخت کې د یوه میز د پاسه چې د شهزادګانو پوری مربوط و ترسره کول. د ده د ترکی میرمنی د مړینی وروسته یی د یوی افغانی نجلۍ سره واده وکړ، چې بیا وروسته د ده د مړینی څخه یې دغه افغانی میرمنی خپل زامن ترکیې ته بوتلل چې یویې هلته خبریال شوی و.

---

۱ - دوکتور محمد نادر هادی، جراحی عمومی بخش تاریخ تکامل جراحی، ۱۳۶۴ کابل، ص-۸

تر منیر بیګ نه وروسته یو بل ځوان دوکتور چې په حقیقت کې یو انقلابی او روشنفکر ؤ او فهیم بیګ نومیده د سلطان عبدالحمید په زمانه کې یې قاهری ته مهاجرت کړی او له هغه ځایه د محمود خان طرزی (د امیر امان الله خان خسر مولف، مومني) په مرسته افغانستان ته راغی او نوموړی په ډیره لنډه موده کې د طبابت په ډګر کې خپل ډیر لوړ شهرت ته ورسید او د شاهی کورنۍ د مخصوص داکتر په حیث مقرر شو. په پغمان کې یې یو مجلل کور ودان کړ او په انتیکوګران بیو وسایلو یې ښکلی کړ، چې بالاخره په یوه روحی بحران اخته شو. ده خپله ټوله شتمنی د طبابت په چارو کې ولګوله، دا ده چې ټوله دارایی له لاسه ورکړه او د طبابت چاری یې هم پریښودلی او په خپګان یې سر شو. د ترکیی د هغه وخت د سفارت په مرسته او مساعدت په هغه سفارت کې د ترجمان په توګه مقرر شو او د ستونزو څخه نجات وموند.

د ۱۹۲۱م کال د مارچ په لومړیو د تماسونو په پیل کیدلو د دواړو هېوادونو ترمنځه اړیکی ډیری ښې شوې او بالاخره په ۱۹۲۳م کې د افغانستان د وخت حکومت د طبابت په ډګر او دفاعی چارو کې د پروژو د طرح کولو او بشپړولو په خاطر فنی پرسونل ته ضرورت احساس کړ، له همدې امله خارجی هېوادونو ته د یو شمیر شاګردانو لیږل او په مختلفو څانګو کې د هغو د زده کړو بشپړیده تر بحث لاندې ونیول شو. دا وه چې د افغانی شاګردانو یوه ډله چې له هلکانو او نجونو څخه منشکله وه ترکیی ته ولیږل شول.

د روغتیا او سلامتیا له پلوه د خلکو په سرنوشت کې د دوکتورانو د بریاوو په درک کولو سره خپله عالمانه نظریه او اندیشه د وخت پاچا وړاندی کړه او بالاخره د طبی ښوونځی په تاسیسولو بریالی شو.

په دې ترتیب د ۱۹۲۸ د می د ۲۵ نیټی د دوستی او همکاری د تړون له مخی د دواړو هېوادونو دوستانه ژورو اړیکو لاقوت او ټینګښت وموند او ترکانو د افغانستان د اردو د پوځی زده کړو او روغتیایی چارو کې د یادونی وړ ونډه واخستله. افغانی محصلان او محصلانی په ترکیه او نورو اروپایی هېوادونو کې په کال ۱۹۲۷ کې په زده کړو بوخت شول. په دې وخت کې «جمال پاشاه، بدری بیګ، ضیأ بیګ، جنرال فخرالدین پاشاه، جواد بیګ او جنرال کاظم پاشاه دا ګرده د ترکیی کارپوه شخصیتونه وو چې افغانستان ته یی خدمت کاوه»[1].

---

[1] - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۸۸

خو د امان الله خان په وخت کې د داکترانو مشر، لوی طبی مشر – ترکی منیر بیګ او د ملکی چارو لوی داکتر – فهیم بیګ د امان الله خان داکتر رفقی بای وو.

په همدې دول د ۱۹۲۲ د اپریل په ۲۸ نیټه د افغانستان او فرانسی ترمنځه د سیاسی اړیکو د دوستۍ قرارداد وتړل شو چې فرانسویانو هم د افغانستان په فرهنګی او روغتیایی څانګو د یادونی وړ اغیزمنه برخه واخستله او افغانی طلاب په فرانسه کې په زده کړو بوخت شول.

د افغانستان د اساسی قانون په ۱۰۴ ماده کې (۱۹۲۱م) د روغتیایی خدمتونو په ډګر کې د ۱۲ فقرو په د ننه څرګندونی ځای شوی وی چې د خلکو د پاره په پراخه توګه د روغتیایی خدمتونو موضوع احتوا کاوه.

په همدې شان د افغانستان د لومړی اساسی قانون د ۶۸ مادی له مخی په فرهنګی چارو کې تر لومړنی درجی پوری زده کړه په اجباری ډول تامینیده. په پلازمینه کې د حبیبیی د لیسی، د امانی او امان د لیسو برسیره د فرانسوی، جرمنی پروفیسورانو او داخلی استادانو په واسطه تاسیس شول.

په همدې ډول د طبیه او مستوراتو مکتب او تر ۳۲۲ ابتدایی مکتبونو څخه زیات د هېواد په ټولو ولایتونو کې تاسیس شول چې د حفظ الصحی (روغتیا ساتنه) او روغتیا مسایل هم په درسی پروګرامونو کې شامل وو.

په ۱۹۲۵م په کابل کې د مستوراتو روغتون تاسیس شو چې دوکتوران یې خارجیان وو. «په دغه زمانه کې په عمومی ډول په روغتیایی او پوهځی چارو کې ترکانو او د معارف په چارو کې فرانسویانو کار کاوه»[۱].

د ۱۳۰۲ کال د دلوی د ۱۵ نیټی د افغانستان د اساسیه تشکیلاتو د نظام نامی د پنځمی مادی مطابق د اتو په شمیر وزارتونه موجود وو.

«د دی نظام نامی په شپږمه ماده کې داسی یادونه شوی وه: د طبییه مستقله اداره لکه نورو وزارتونو په شان د همایونی د اشرف حضور په مستقیمه توګه مسئوله پیژندل کیږي»[۲].

د دې نظام نامی په اومه ماده کې د حربیی وزارت د تشکیلاتو په باره کې راغلی دی چې د هغه تشکیل کې د طبیه مدیریت موجود دی. «په ۱۹۱۹ کې د افغانستان اجرائیه قوه په هسی ډول و چې د طبییه یو مستقل

---

۱ - دوکتور محمد انور ترابی، پیدایش و انکشاف طبابت (مقاله)، ص-۳
۲ - د افغانستان د علیه دولت اساسی نظام نامه د میزان ۱۴ کال ۱۳۰۲

مدیریت تشکیل شو چې د هېواد روغتیایي چارې یې په لاس کې وې او په مرکز او ولایتونو کې د روغتونونو او صحیې مستقلو مدیریتونو په تاسیسولو یې لاس پورې کړ چې د صحی مستقل مدیر سردار محمد کبیر خان ؤ»[1].

په هغه زمانه کې په هېواد کې (۹) اداري واحدونه موجود وو چې پنځه ولایتونه او ځلور اعلی حکومتونه یې تشکیلاوه او په دې نهو واړو اداري واحدونو کې د صحیې مدیریتونه شامل او فعالیت یې درلودل.

په لنډه توګه ویل کیدای شي چې اعلحضرت امان الله خان په دوره کې په کابل او ولایتونو کې ملکی او پوځی روغتونونه تاسیس شول.

کابل ته د اکسریز ماشین وارد شو، دارالمجانین او دارالاتیام په فعالیت پیل وکړ او د پغمان په بیګتوت کې سناتوریم تاسیس شو.

«د شلمې پیړۍ په لومړیو کې د اعلحضرت امان الله خان د امر له مخې د پغمان د ولسوالۍ د بیګتوت په کلي کې په نرۍ رنځ اخته وو ناروغانو د تداوۍ د پاره لومړنی مخصوص سناتوریم د تهداب ډبره کیښودله شوه، خو متاسفانه د طبي کدرونو د نشتوالي له امله نوموړی سناتوریم په کار شروع و نه کړای شو او بیکاره پاتې شو»[2].

د اعلحضرت امان الله خان په دوره کې د سوداګرۍ زیات شرکتونه تاسیس شول چې له دې جملې څخه یې یو په کابل کې د درملو تجارتي شرکت و.

شاه امان الله خان په هېواد کې د علمي – فرهنګي او اقتصادي پراخو پروګرامونو طرحې مطرح کړې او غوښتل یې چې په ډېر لنډ وخت کې افغانستان د ودې او پراختیا ډېرو لوړو مدارجو ته ورسیږي لکه چې په کال ۱۹۲۸م د پغمان د لویې جرګې تر ختمیدو څخه وروسته د کابل د ستور په چمن کې د ملکي او نظامي لوړ رتبه مامورینو او د افغانستان د یو شمیر مشهورو شخصیتونو په ګډون یو لوی مجلس تشکیل شو چې په دې مجلس کې د حکومت د راتلونکي ودې او پراختیا پروګرام تشریح شو او هغه څه چې د طبابت او د افغانستان خلکو ته د روغتیایي خدمتونه د عرضه کولو په

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۹۵
۲ - پوهنوال دوکتور عبدالعلیم کریم او د مولفینو ډله، کتاب توبرکلوز، ۱۳۶۱ ص-۲۴

باره کې وو ویی ویل: «د ښځینه روغتونونو پراختیا او نړیوالو سره صلیب اتحادیو کې د افغانستان شمولیت»[1].

په افغانستان کې د روغتونونو په تاسیسیدلو سره په افغانستان کې د عصری طبابت زړی راوټو کیدل او همدارنګه د درملو د تجارتی شرکت تاسیس کیدو هم تر یوی اندازی پوری د درمل جوړولو په چارو کې بدلون رامنځ ته کړ. لکه چې د طبی بوټو د راټولولو چاری تنظیم شوی او خارج ته صادر شول او د اړتیا وړ درمل له باندینیو هېوادونو څخه تورید شول.

د روغتونونو په درملتونونو کې تراوسه پوری متریک سیستم راغلی نه و. او زیاتره درملونه ګلنیکی درملونه وو چې پخپله په درملتونونو کې تهیه او اعمالیدل.

د دې د پاره چې د خلکو د روغتیا سره د امان الله خان د علاقمندی په متعلق مویوه کوچنی شمه وړاندی کړی وی د ده په هغه سفر کې چې کندهار ته یې کړی و «اعلحضرت امان الله خان غازی له وینا وو له کتاب څخه یوه وینا را نقلوو(دا کتاب سر محقق نصرالله سوبمن او محقق فرهاد ظریفی په واسطه په ۱۳۷۰ کې تهیه، تدوین او چاپ شوی دي).

«کسانیکه به تکلیف و زحمات سر دچار باشند به آنها معاونت و همدردی، مریضان را پرستاری و تیمادارای و درماندگان را دستگیری و دلداری نمائید که نتیجه و ثمره هر کدام ازین عملیات و رفتار اتحاد و اتفاق را بوجود می آورد» (خطبه ۷ عقرب ۱۳۰۴ روز جمعه در جامع فرقه نبوی).

د طبیه د تفتیش په باره کې وایي «بعد از انکه مفتشین لایحه تفتیش خود را حاضر آوردند یک روز خودم به اداره طبیه و شفاخانه رفتم، تفتیش نمودم. مدیر شفاخانه کاهل به نظر رسید و در راپورت که به مرکز داده عده مریضان را بیشتر نشان داده بود. اگر چه این افزونی موجب خللی نه می شد چونکه تداوی رایگان است مدیر موقوف گردید، داکتر در تداوی جدیت بکار نبرده بود یک هفته از معاش او قطع شد، از سبب نبودن تحویلدار مخصوص برای آن به تحویلدار اغذیه محول نموده است و این کار از کم توجهی مدیریت مستقله مرکز است به قطع سه روزه معاش مدیریت مستقله طبیه امر دادم، باقی از حیث عمومی کار و احوال طبیه قندهار که هنوز در

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۷۹۹

بدو امر است و نو تشکیل شده بود، بعضی سهویات و غلطی های جزوی که ملاحظه شده اصلاح گردید. (ص۳۱ پورتنی کتاب)

د امان الله خان له نطقونو او بیاناتو څخه څرګندیږی چې د افغانستان په اردو کې پوځی ګرځنده روغتونونه هم موجود وو. په پورتنی خطبه کې امان الله خان داسی وایي:

هغه څوک چې زخمیان کیږی بی له ځنډه په پوځی ګرځنده روغتونونو کې تر معالجی لاندې نیول کیږی. د کندهار په دې سفر کې امان الله خان د ښاروالی ستاینه داسی کړی وه «بلدیه شرکتی است که از طرف اهالی تشکیل میشود. وظیفه او بوجود آوردن صفایی و زیبایی شهر و فراهم آوردن موجبات حفظ الصحه و نگرانی خرید و فروش و نرخ اشیایی معموله و غیره است» (ص۶۸ مذکرات روز جمعه ۱۴ عقرب ۱۳۰۴ در سلام خانه ارگ قندهار).

شاه امان الله خان د خپل سفر په پای کې نیتجه ګیری ترسره کړی او د نوموړی کال د عقرب په ۲۲ نیټه د کندهار د وګړو، دولتی کارمندانو او د هغه ولایت وسله وال پوځ په وړاندی د یوی لنډی مقدمی وروسته یې تر ټولو د مخه طبی چاری تر غور لاندې ونیولی او په دې برخه کې یې وویل چې دا دی د هغی متن وړاندی کیږي:

«مدیر شفاخانه شما از کار نبود چنانچه که می شاید در ایفای وظایف خود اظهار فعالیت ننموده است در سال گذشته مریض ها زیادتر به شفاخانه آمده معالجه شده اند و امسال بجای اینکه زیاده معالجه می شدند کمتر شده اند اگر چه در موقع استفسار آنها اینطور جواب دادند که پارسال به واسطه افتتاح شفاخانه بیشتر نفری دوامی بردند و امسال چون اکثریت صحت دارند کمتر دوا گرفته اند. لیکن بدین جواب نباید یقین کرد، زیرا پارسال بواسطه افتتاح شفاخانه و ابتدای کار ممکن است کمتر نفری از آن اطلاع و خبر داشته برای علاج آماده باشند و امسال چون ممکن از شفاخانه و طرز معالجه آن اطلاع یافته اند می بایست نه تنها از شهر بلکه از اطراف و جوانب هم یکی بعد دیگری برای علاج حاضر شده یوماً فیوماً در تعداد شان زیادت به نظر می آمد و علاوتاً امراض این مملکت اکثریه امراض موسمی است که بلاناغه در موقع گرمی و هر کس نوبت خود را حتمی است در تب، چشم دردی و دانه و ریزش و دیگر امراض جلدی بگذراند.

بهر صورت هیچ یک دلیل معقولی نیست به قلت نفری شفاخانه دیده نمی شود، بجز اینکه ترتیبات و کار وایی مدیر شفاخانه اینطور نبود که

موجب مزید اثر و رسوخ زهر دل عزیزی شفاخانه می شد و هر روز در تعداد معالجه شده گان می افزود. علاوه برآن دیگر اغلاط جز وی نیز در شفاخانه تان به نظرم رسید که بیان نمودن آن بسیار وقت را می گیرد.

لیکن برای تسلی شما اینقدر می گویم که هیچ غدری و خیانتی در شفاخانه ندیدم برای اصلاح این خرابی و رفع این غلطی فقط به موقوفی مدیر شفاخانه اکتفی کردم. از داکتر شفاخانه بملاحظه ام پیوست که کورکورانه بهمرای مدیر در راپورت هایکه به کابل می فرستاد امضا نموده است و تقریباً سه هزار نفر را بیشتر به کابل رپورت داده اند. لذا نظر به این غفلت او که اولین مرتبه از و سر زده به موجب قانون یک هفته تنخواه او را قطع میکنم. بعضی چیز های دیگر هم نسبت به او شنیده ام اگر حقیقت داشته باشد البته گناه سخت است، خیر درین قدر مجلس بزرگ همین قدر سزا اگر عقل داشته باشد برایش مرگ است باید آینده چنین نکند.

یک خرابی دیگریکه در طبیه قندهار به نظرم رسیده که هر کس نام خود را طبیب مانده جان های شیرین شما را که به نظرم بسیار عزیز و قدردار و گران است تلف میکند. بنابرین یک نفر طبیب دانسته که دارای شهادت نامه باشد از کابل می فرستم تا به اتفاق یک جمعیت که من آنها را انتخاب خواهم کرد امتحان این طبیب ها را که خطر جان شما ملت عزیزم میباشند بگیرند.

اگر اهلیت و لیاقت علمی داشتند همانا که شهادت نامه های خود را گرفته معالجه اهالی را خواهند کرد، والی حتمی است دوکان های خود را تخته نموده دیگر کار و غریبی بنمایند و ملت عزیزم را دچار زحمت نه نمایند و اگر آینده در قندهار بدون شهادتنامه کسی به معالجه احدی اقدام کرده بود البته که بر طبق نظام نامه جزای عمومی مجازات خواهند دید.

یک چیز بسیار دیگری هم دیدم که روی کوچه ها و بازار ها هر کس نشسته به روی و گلو و پشت گردن و دست و پای اهالی شاخک شانده خون آنها را بدون تشخیص مرض و دانستن فایده و ضرر آن می کشند. شما خبر ندارید که خون های شما بالای من چقدر گران و قیمت دار است، حتی میان خون خویش و از شما هیچ تفاوتی نمی بینم و علاوه برآن شاخک و پاکی و دیگر اسباب آنهایکه خون می کشند به اصول درست پاک و صاف و نظیف نمی شود و همان شاخک و پاکی ناپاکی را بدان خون یک مریض را کشیده اند با دیگر مریض نیز استعمال می نمایند. باین وسیله امراض ساریه و متعدی یکی بوجود دیگر نقل مینماید. گمان میکنم که شما مضرات ضرر

و اضرار این شاخک چسپانی را بخوبی نخواهید فهمید. بطور مثال به شما میگویم در عوام این متل مشهور است به پاکی که سر کل را بتراشند نباید سر دیگری را تراشند والا آن هم کل میشود. حتماً همان مرض ساری و متعدی بوجود او هم لاحق میشود. بواسطه یک ناجور یک عالم ناجور می شود، لهذا منع نمودم تا آینده بدون اجازه و هدایت داکتر احدی به کشیدن خون تان اقدام نکند. و از خدا خواسته ام که این خون های حرارت ناک شما در راه خدا و اعلی کلمته الله ریختانده شود، نه اینکه جت زن های چتل و مردار بذریعه شاخک و پاکی چتل و مردار در روی کوچه و بازار خون های تانرا بریزاند.

بسیار خواهش داشتم تا شفاخانه شما از آن موضع که بین عمارات بوده آب و هوا و فضای درست ندارد به یک موضع خوش آب و هوا درست تبدیل شود.

اینک دولت سرای را به شفاخانه دادم درینجا بیائید و در آینده اگر امکان داشت یک شفاخانه بسیار اعلی برای شما خواهم ساخت. از خدای خود خواسته ام که همیشه دروازه های شفاخانه تان بند و همه تان صحت و عافیت بوده خرسند باشند (ص۹۵ اثر فوق).

د پوځی چارو د طبابت په باره کې محمد سرور خان کمپودر چې د ده کارونو هیڅ اساس او ترتیب نه درلود او د ملکی روغتون چاری په کراتو نسبت دی ته ډیری ښی وی د نظامی خدمت څخه طرد شو او د روغتون تحویلدار ۴۰ ورځی حبس شو.

لکه چې پورته وویل شو له یوی خوانه د خلکو روغتیا ته د شاه امان الله خان علاقمندی را جلب شوی ده، له بلې خوانه د هغی دوری د طبابت په باره کې یوه کوچنۍ شمه زمونږ په واک کې راغله چې د هغی زمانی طبابت په څه ډول ؤ.

وروسته له هغی چې امیر امان الله خان افغانستان پریښود او کورنۍ اله ګوله پیل شوه نو څرګنده ده چې هره کورنۍ جګړه پر خلکو باندې ډیر زیات مصیبتونه تحمیلوی.

د محمد نادر خان او اعلحضرت محمد ظاهر شاه په زمانه کې

کله چې په ۱۳۰۸هـ.ش کې محمد نادر خان د مملکت چارې په خپل لاس کې نیسی په هېواد کې اصلاحی ریفورمونه شروع کیږی او په لومړۍ سرکې د خرابیو بیا ودانول شامليږی. فرهنګی، علمی او اقتصادی اصلاحاتو ته اقدام کیږی، چې په دې ترتیب د ۱۳۱۱ د جدی د دریمی نیټی د افغانستان د علیه دولت اساسی اصول منځ ته راغلل چې په دې اثر کې هم له ۱۳۱۱هـ.ش کال را وروسته د افغانستان د طبابت او فارمسی مسایل تر بحث او څیړنی لاندې نیولای شو.

د پورتنی کال په اجرأتو کې د طبیه مستقل مدیر جلالتماب محمد اکبر خان و داسی یادونه شوی وه: په نادر شاهی عصر کې د طبیه مستقل مدیریت پراختیا وموند له او هغه نوی تاسیسات چې د وطن د پاره ګټور وو پرانستل شول او ځنی نیمګړتیاوی اصلاح او بیا تکمیلی شوی چې له دې جملی څخه د معاون داکتری د طبی مکتب تاسیسیدل دی چې د دوکتورۍ فن یکی زده کیده او د زده کړی موده یی دوه کاله وه، همداشان د کمپوندری د ښوونځی او د پرستاری د مکتب تاسیسول، د مستوراتو روغتون د پاره د قابلو تعلیم او تربیه کول، د ناروغانو د معاینی او تداوی د پاره دیسپانسر، د درملو تحلیل، تجزیه او ترکیب، د متخصصینو دوکتورانو استخداموال، د وړیا (مجانی) روغتون او د طبی مکتب د دویم ټولګی تاسیس. (د ۱۳۱۱هـ.ش د سالنامی په حواله)

د طبی فاکولتی د تاسیس په باب داسی یادونه شویده چې له نیکه مرغه د ۱۳۰۷ کال د کورنیو الوګولو په پای او د نادری ځلانده دولت په راختو سره ګورو چې د افغانستان په مملکت کې د دارالفنون د یوی څانګی پرانستل د طبی پوهنځی په نوم د دلکشا په ماڼۍ کې رسماً ترسره شول.

د افغانستان د دارالفنون د طبی پوهنځی افتتاح کول د نادر شاهی حکومت د فوق العاده تاریخی کارونو څخه شمیرل کیږی چې نه یوازی د هېواد اوسنی نسل بلکې د مملکت راتلونکی تاریخ به په ډیره قدردانۍ سره د تاجدار موجد نوم د افغانستان د شلمی پیړۍ د ډیرو غورو پیښو په ردیف کې نقل او یاد کړی. (د پورتنی سالنامی په حواله)

څرنګه چې د لوړو زده کړو د لومړنۍ موسسی (طب پوهنځی) تاسیس چې په افغانستان کې د معاصر طبابت او فارمسی د تاریخ مبداء او د زیات اهمیت وړ ده چې په راتلونکی کې یې د افغانستان د خلکو د اوسنی او راتلونکی ژوند سره یې کلکه غوټه خوړلی ده، نو له دی امله دا ایجابوی چې

د طب د پوهنځی او د درمل جوړولو د شوونځی تاسیس، د ترکی او نورو هېوادونو د متخصصانو نقش په باره کې یوڅه معلومات وړاندی شی.

دا دی د دی موضوع په اړوند د ۱۳۱۶ کال د قوس – حوت د میاشتو د آئینه عرفان له مجلی او د کار د مجلو د ۱۳۶۹ کال د شپږمی او اومی گڼی یوڅه معلومات چې په مفصل ډول پکې منعکس شوی دی په لاندې ډول اقتباس کیږي:

د طبی او د درمل جوړولو پوهنځی د فارغ التحصیلانو د ډیپلومونو د ویشلو په مجلس کې چې د وخت د پوهنې وزارت له خوا جوړ شوی و داسی جریان وړاندی شوی دي:

په دې مجلس کې صدراعظم شاه محمود خان، حربیه وزیر او نور وزیران د کابل په شاهی دربار کې د ترکیی لوی سفیر بای ممدوح شوکت، د پوهنې وزارت اراکین (د طب پوهنځی او د لوړو زده کړو نوری موسسی تر ۱۳۵۵ (۱۹۷۶م) پوری پوهنې وزارت سره تړاو درلود – مولف، مومنی) طلاب او مامورینو گډون کړی وو.

په دی مجلس کې د معارف وزیر سردار محمد نعیم خان، د پوهنځی رئیس پروفیسور بای حسن رشاد او صدراعظم خبری وکړی. همداشان فقیر محمد خان (پوځی محصل – مولف، مومنی) د فارغ شوو طلابو په نمایندگی خپله وینا واوروله.

سردار محمد نعیم خان د پوهنې وزیر په خپله بیانیه کې د طب د پوهنځی څخه چې ۱۳۱۱ کال د عقرب په میاشت کې تاسیس شوی او د شهید اعلحضرت له یادگارونو څخه دی او د هغی د معلومانو لکه رفقی بیگ او پروفیسور حسن رشاد بیگ له زیار ایستلو څخه یادونه وکړه.

بای حسن رشاد د پوهنځی رئیس د خپلی وینا په ترڅ کې وویل: چې د شهید محمد نادر خان له خوانه د طب د پوهنځی د تاسیس فرمان صادر شوی و، د هغه وخت د معارف وزیر علی محمد خان د شاهی طبیب دوکتور رفقی کامل بیگ سره مشوره کړی، لازم اساسات او قرار یې تثبیت کړی او شهید اعلحضرت ته یې وړاندی کړ، نو ځکه د ۱۳۱۱ د لړم په لومړی نیټه د دلکشا په ماڼۍ کې په خپله د همایونی ذات تر ریاست لاندې د دی پوهنځی د افتتاح مراسم پر ځای شول او د دی اداری او موسسی چاری دی بنده ته ورکړ شوی، بالاخره د مسافی دلیری والی له کبله د ۱۳۱۲ کال د قوس په پنځمه نیټه خپلی وظیفی ته ورسیدای شوم.

په هغه ورځ د اداری د هئیت او د طلابو د اباتی مخصوص ځای د دوو دایرو، د کیمیا د دوو لابراتوارونو د پاره له دوو کوټو، د بیولوژی د لابراتوار د پاره له دوو کوټو چې ټول یوه نیمه بنا وه عبارت وو. ده زیاته کړه چې د دې روغتیایی موسسی د ایجادیدلو په لار کې د دوقتور (دوکتور) زهدی بیګ جان فشانه هڅی پوره عامل بولم.

د طب د پوهنځی لابراتوارونه په علی آباد کې د عصری او فنی اصولو مطابق په ډیره چټکتیا او مخصوص فعالیت سره جوړ شول، سږ کال یی د تشریح او فزیولوژی لابراتوار هم بشپړ کړی او د راتلونکی کال د پاره هم د کیمیا او باقترلوژی (باکترلوژی) لابراتوار د تکړه مهندس (اویر مایستر هربیرمان) په واسطه تیار شوی او د پوهنځی دایری ته وړاندی شوی دی.

ده زیاته کړه هغه ژمنه چې رفقی بیګ کړی نن یې پری وفا کړی او عملی شوی او د کابل د طب د پوهنځی د تاسیس ورځ د ۱۳۱۱ کال د عقرب لومړی نیټه او د هغی د فارغ التحصیلانو د دپلومونو د ویشلو ورځ د ۱۳۱۶ د قوس ۲۹ ورځ به په زرینو لیکونو سره ثبت شی.

له دې مقدمی څخه څرګندیږی چې طب پوهنځی خپلو لوړو درجوته رسیدلی دی. دا ډله ځوان دوقتوران او دواسازان چې په هر هېواد کې چې دی درجی ته د رسیدلو په خاطر باید شپږ کاله زیار وباسی خو د هغو د خپل ذکاوت له مخی او د دوی د معلمینو د زحمت کشیو په نتیجه کې یې په پنځو کلونو کې د زده کړی مراحل طی کړی دی.

د دې دوری فارغ التحصیلان عبارت دی له: محمد اسمعیل خان، عبدالرحمن خان، فقیر محمد خان (نظامی فارغ)، عبدالغنی خان، نوروز علی خان، میر غلام حسین خان (نظامی فارغ)، محمد اسمعیل خان، عبدالرحیم خان، محمد رسول خان او محمد حیدر خان (ټول لس تنه) چې دا دواړه وروستنی دوکتوران دواسازان وو.

په پورتنی بیانیه کې د ځوانو فارغ التحصیلانو د زیار ایستنی څخه هم قدر دانی شویده. بای حسن رشاد د پوهنځی رئیس په همدی توګه زیاتوي:

بې مورده نه ده چې د لومړنیو تشکیلاتو او د محترم وزارت د طب د پوهنځی د معلمینو د بست له مخی چې په خپل غوره خدمت او غیرت سره امتیاز لری هم یادونه وکړم او هغوی په لاندې ډول دي:

۱- نور الله کیمیاګر (غیر عضوی، تحلیلی او صنعتی کیمیا).

۲- موسیومونو (فزیک).

۳- مولوی علی اخترخان بیولوژی (د فارماتو غتونه وی).

۴- صلاح الدین بیګ کیمیاګر (درمل جوړولو په فن کې، د دواسازی په کیمیا او د سپنچاری په فن کې او د تحلیلی او مقداری کیمیا په فن کې).

۵- دوقتور صایب بیګ کیمیاګر (عضوی او حیاتی کیمیا).

۶- او پراتور دوقتور نوری کامل بیګ (تشریح).

۷- دوکتور توفیق خلیل بیګ (آمبرولوژی، انساج ماتالوژی).

۸- پروفیسور دوقتور حسن رشاد بیګ (فسیولوژی).

۹- دوقتور زهدی بیګ (باقترلوژی، حفظ الصحه).

۱۰- دوقتور ادیب تومرقان بیک (فارمقودینامی، تدوای).

۱۱- دوقتور یعقوب چلپی بیګ (ناروغی او خارجه سریریات).

۱۲- دوقتور نوزاد اشرف بیګ (مرضونه او عصبی او عقلیه سریریات).

۱۳- دوقتور والتر (دولادت فن او نسایی ناروغی).

۱۴- دوقتور اشرف بیګ (مرضونه او عصبی او عقلیه سریریات).

۱۵- دوقتور فواد بیګ (مرضونه او عینیه سریریات).

۱۶- دوقتور حکمت بیګ (دغوړونو، ستونی او پوزی ناروغی).

۱۷- دوکتور عبدالرحمن بیګ (جلدیه او افر نجیه ناروغی).

۱۸- دوقتور شاکر بیګ (عدلی توفیتورلوژی طب).

پر دې ذواتو برسیره د یوه یوه سمستر د پاره لاندنیو استادانو هم وظیفه اجرا کړی ده:

۱- کیمیاګر انور علی خان.

۲- دوقتور ربیع حکمت بیګ.

۳- دوقتور نورزاد طوق کوز.

۴- دوقتورس زاهده خانم.

او مادام فریسه (فزیک)، پروفیسور کیمیاګر عمر شوکت بیګ دوه دوه تحصیلی سنی د کیمیا کرسی اشتغال کړی او خدمت یې کړی دی.

په راپوری وینا کې زیاته شویده:

د عمر شوکت بیګ په نسبت د طب پوهنځی مربوط د درمل جوړولو شوونځی یې تشکیل کړی دی. خپله وجدانی وظیفه شمیرم چې په ځانګړی توګه له هغه څخه تشکر وکړم.

د پوهنځی رئیس وویل: چې د لابراتوار صنفونو د نظری او عملی لوستونو برسیره چې د پوهنځی په وروستیو دوو کلونو کې یې د ښار په هریوه روغتون کې باید د سریریات د صنف وظیفه اجرا کوله هم داسی وشول، خو د وظیفی د اسانتیا د پاره په علی آباد کې د ملکی روغتون پرمخ هم د عصبی او عقلی ناروغیو د پاره یوه نوی ودانۍ جوړه کړی شوه، چې د دی صحیی موسسی د ایجادولو په چارو کې باید دوقتور نورزاد او اشرف بیګ مهم عاملین معرفی شی.

په دې بیانیه کې د عامی روغتیا د وزیر غلام یحی خان څخه هم په قدردانۍ یادونه شوی وه.

تر ده وروسته د پوهنځی رئیس د دپلوم د اهمیت په باره کې چې شاګردانو ته د طبابت حق ورکوی یو څو ټکی خپل نظر څرګند کړ. ده د فارغ التحصیلانو څخه د خپلو توقعاتو په متعلق وویل:

تاسی په یقین سره وکتل چې د دی موسسی تاسیسیدل د زیاتو ستونزو د ګاللو په نتیجه کې ترسره شوی او زمونږ محبوب حکومت په دې هکله هر ډول فداکارۍ منلی دی.

د پوهنځی رئیس د دیپلوم پر اهمیت باندې خبری وکړی چې په لومړۍ څپرکی کې ذکر شوی دی.

همداشان ده د ریاست د مرستیال دوقتور نورالحق چې څلور کاله یې په پوره صبر او متانت مقاوت کړی او د ځینو درسونو د ترجمانی دنده یې هم په خپله غاړه اخستلی د ده له غوره خدمتونو څخه د زړه له کومی مننه کوم.

د وخت د صدراعظم په بیانیه کې د طبی پوهنځی برياوی د ترکی پروفیسورانو زيار ګاللو نتیجه بلل شوی او ویل شوی دي: په رښتیا سره چې زمونږ ترکی ورونه چې زموږ اسلامی ورونه دی زمونږ سره يې غمشريکی درلودلی د افغانانو په شان يې په عسکری او معارف کې خدمت کړی دی.

لکه چې وويل شو فقیر محمد خان هم د فارغ التحصيلانو په نمايندګی يوه مفصله بيانيه ورکړه چې د هغی يوه کمه برخه را اخلو «...د شهید اعلحضرت د ډيرو قیمتی او تاريخی اقداماتو په لړ کې يو هم د طبی فاکولتی تاسیس دی چې د ۱۳۱۱ کال د عقرب په لومړی نيټه په خپل موجوديت مشرفه شوه په ابتدا کې د هغی د رياست په کفالت محترم جناب رفقی کامل بيګ د همايونی مبارک له حضوره مقرر شو او بيا وروسته يوازی دانشمند محترم جناب پروفيسور حسن رشاد بيګ د دی لوړی موسسی د رياست عهده دار شو». نوموړی د هغو پروفيسورانو او استادانو چې په بيلا بيلو برخو کې يې تدريس کړی دی يو يو نومونه واخستل شو او مننه يی تری وکړه.

د بری ليکونو د ويشلو د مجلس وروستی موضوع د طبی او دواسازی تحليف نامو ترسره کول وو چې په لومړۍ ځپرکی کې ورڅخه يادونه شوی ده.

بيځايه به نه وی چې د کابل د طب پوهنځی او ولاياتو طبی پوهنځيو پر تاسيسيدلو باندې رڼا واچوله شي:

په کال ۱۳۵۹ د کابل د طب پوهنځی د ابو علی سينا دولتی طب انستيتوت په نامه تغيير وخوړ چې په هغه کې معالجوی طب، ستوماتولوژی، اطفال او نظامی طب پوهنځی شامل شول. د شديدو جنګونو له کبله طب انستيتوت د څو مودی لپاره د عامی روغتيا وزارت پوری وتړل شو. د طب انستيتوت په دغه زمانه کې د دوو زرو څخه زيات محصلين درلود.

په کال ۱۳۸۲ کې د طب انستيتوت د کابل طبی پوهنتون ته ارتقا وکړه چې مستقیاً د لوړو تحصيلاتو وزارت په تشکيل کې شامل شو. او د معالجوی طب، ستوماتولوژی او نرسنګ پوهنځی د پوهنتون په تشکيل کې موجود دی. په ۱۳۸۹ کال کې نظامی طب پوهنځی بيا د کابل طبی پوهنتون تشکيل کې شامل شو.

په کال ۱۳۴۲ په ننګرهار (جلال آباد) کې د طب پوهنځی پرانستل شو. چې وروسته نور پوهنځی په کې زيات شول او د ننګرهار پوهنتون تشکيل شو.

په کال ۱۳۳۶ د نسوانو (ښځو) دری پوهنځی يعنی د ادبياتو، ساينس او د نسوانو د طب پوهنځی موجود وو.

په ۱۳۳۸ کال د ثور په ۱۹ نيټه د فارمسی پوهنځی تاسيس شو چې د فارمکولوژی، فـــارموستيک، ميکروبيالوژی، فـــارمکوديناميی، توکسيکولوژی، فارمسی شميک، فارمکوګنوزی، بيوشيمی او غذايی موادو ديپارتمنتونه يې لرل.

په کال ۱۳۵۲ کې د وترنری پوهنځی د کابل پوهنتون په چوکاټ کې پرانستل شو.

په کال ۱۳۶۷ کې د بلخ پوهنتون تشکيل شو چې اوس د طب پوهنځی لری.

په کال ۱۳۶۷ کې د هرات پوهنتون تشکيل شو چې اوس د طب پوهنځی لری.

په کال ۱۳۶۷ د قندهار پوهنتون چې څلور پوهنځی لری تاسيس شو چې طب پوهنځی هم د هغو پوهنځيو په جمله کې دی.

په کال ۱۳۸۱ د افغان پوهنتون د سرحد پوری غاړی څخه خوست ته انتقال شو چې د طب پوهنځی لری.

همدارنګه د البيرونی پوهنتون هم د طب پوهنځی په خپل تشکيل کې لری.

په افغانستان کې د ترکی دوکتورانو د بحث په ادامه بايد زياته شی چې رفقی بيګ د کابل د طب په پوهنځی کې د درسی چارو د پرمخ بيولو په خاطر، پروفيسور دوکتور حسن رشاد (سفندم) د استانبول د پوهنتون له استادانو څخه چې په ۱۹۳۳ کې د يونيورستی له ريفورم وروسته د علمی کدر څخه د باندې پاتی شوی و د جلدی ناروغيو د استاد په حيث او همداشان پروفيسور دوکتور عمر شوکت (ونجل) يې د بيو کيميا د پروفيسور په حيث کابل ته راوغوښتل شو او د دوی پسی يې په کلنيکونو کې د درسی چارو د پاره پروفيسور دوکتور زهيتو برګه او خليل بيګ هم کابل ته راوبلل او د دې

ترځنګه یی د طب د پوهنځی د بیولوژی د مضمون تدریس د علی اختر په نوم یو هندی پروفیسور چې مسلمان سړی ؤ وسپاره.

باید وویل شی چې دی وخته پوری د طبابت چاری د هندی دوکتورانو او افغانی محلی طبیبانو له خوا اجرا کیدلی. د ترکی دوکتورانو په خواکی چې د مخه تری یادونه وشوه د جلدی ناروغیو تدریس د دوکتور عمر درمان د نورو استادانو ترځنګه د طب په پوهنځی کې پرمخ بیوه.

د باکتریولوژی پروفیسور زهیتو برګه د باکترلوژیکی انستیتوت په تاسیسولو چې هر ډول معاینات یې اجرا کولای شول بریالی شو.

په دې انستیتوت کې د لومړی ځل د پاره د محلی واکسینونو مختلف ډولونه د دی جملی څخه د لیونی سپی د مرض واکسین په کابل کې تهیه کیدل.

د طب د هغو دوکتورانو چې په پوهنځی کې یې د ټاکلی خدمت موده پوره کیدله د هغوی په عوض یې له ترکیی څخه دوکتوران استخدامول لکه چې:

- ☜ د عدلی طب پروفیسور په حیث دوکتور شاکر تورال.
- ☜ د غوږونو ستونی او پوزی په سرویس کې دوکتور حکمت ارګون د فارمکولوژی او فزیولوژی استاد.
- ☜ په داخله سرویس کې دوکتور حسن تومرقان او دوکتور فاروق الحان.
- ☜ په عقلی او عصبی سرویس کې دوکتور یعقوب چلبی.
- ☜ د جراحی په سرویس کې دوکتور جواد ذکایی.
- ☜ په اناتومی کې دوکتور ادمام اتام.

دوکتور واحد همزه ګوغن په ۱۹۴۲ د دوکتور ذکایی (چی د تیفو په ناروغی اخته او مړ شو) پر ځای کابل ته راولیږل شو او دوکتور نوری رشتو یا سبز وظیفه اجرا کوله.

په افغانستان کې د مړی جسد باندې مساعی نه ترسره کیدله او اوتو پسی هم منع و. پروفیسور همزه ګوغن خپل افغانی شاګردان د هند د بمبئ په ښار کې د (J.J) روغتون ته لیږل چې هلته د مړی جسد باندې تطبیقات ترسره کیدل او اناتومی درسونه به یی په تطبیقی ډول زده کول. د دې مشکل

د حل له پاره دوکتور ذهتو برگه د وخت د معارف وزارت د اوتوپسی په هکله او د تشخیص او د اناتومی د زده کولو لپاره پر مړی باندې د څیړنی د پاره پیشنهاد وړاندی کړ. د افغانستان دینی علماو او روحانیونو د یوی فتوی د صادرولو په ترڅ کې پر مړی د څیړنی اجازه ورکړه چې تر اوتوپسی وروسته به جسد په خپل حالت راوړی. لومړی اوتوپسی د هغه سړی پر جسد د دوکتور غالب گوکر له خوا صورت وموند چې د مرمی د فیر په واسطه هلاک شوی و.

ترکی نجونو چې پلرونه یی په افغانستان کې وظیفه اجرا کوله د صدراعظم په امر د طب په پوهنځی کې منل شوی خو په دې شرط چې د هلکانو سره به په ټولگی کې درسونه د قره قلی خولۍ په سر کولو سره تعقیبوی. ترکی نجونو به د افغانی هلکانو سره په داسی حال کې چې سپینی چپنی به یی اغوستلی وی درسونه یې لوستل.

په افغانستان کې د ترکی دوکتورانو مقاولی، د طب په پوهنځی کې د تدریس د پرمخ بیولو او د هغه پوهنځی پراختیا په نظر کې نیولو سره او همداشان د هغو مصروفیتونو سره چې په روغتون کې یې درلودل، ځینی وخت به تمدیدیدل. لکه چې د اردو د صحی چارو سلاکار پروفیسور دوکتور سوریا تنای چې له ۲-۳ کلونو پوری مقاوله کړی وه د ده د کار نیته د پنځو کلونو د پاره اوږده کړای شوه. نوموړی وروسته ترکیی ته لاړ او بیا وروسته په ۱۹٥۴ کې مکرراً د طب پوهنځی ته د هستوپاتولوژی د پروفیسور په حیث کابل ته راغی، د همدې سره په نږدی وخت کې دوکتور غیاث اون سال د عقلی او عصبی پروفیسور په حیث، دوکتور ترگوت اقسوی د رادیولوژی د پروفیسور په حیث، دوچنت دوکتور دیندار برقان د فارمکولوژی د پروفیسور په حیث د کابل د طب پوهنځی ته راغلل او په تدریس یې پیل وکړ.

(دوکتور دیندار برقان په ۱۹٦۳ د کابل پوهنتون د فارمسی په پوهنځی کې هم زما استاد ؤ – مولف، مومنی) په همدې ډول دوکتور ډگرمن نجاتی اورال د داخله متخصص په حیث د داخله په کلنیک کې په کار پیل وکړ.

پوهنځی د وخت په تیریدلو سره پراختیا موندله، تشخیصی لابراتوارونه، او د هستوپاتولوژی موزیم، طبی ریفرنسی کتابتون، اناتومی موزیم، د اناتومی د تطبیقاتو د اجرا کولو په خاطر د جسد ساتنه، تیاره او د طب د شاگردانو د استفادی وړ وگرزیدله.

داکتر محمد حسن شرق کله چې محصل و د ترکی استادانو په تیره بیا د ثریا بیگ په هکله لیکلی «پروفیسور ثریا بیگ ترکی بود او در جمله وظایف دیگری که داشت طبیب شفاخانه هم بود. او از جمله استادان ترکی ما بود که بی نهایت علاقه به پیشرفت و آینده شاگردانش داشتند. در فاکولته طبی و مکتب طبی هم استاد بود. برای اینکه زمینه تحصیلات عالی را به تعدادی از بچه های لایق فراهم کرده باشد خیلی می کوشید»[۱].

د افغانستان د وخت دولت او د خلکو اکثریت د ترکی دوکتورانو څخه راضی وو. په لومړنیو مرحلو کې کله به چې کابل ته راتلل په باجه خانی سره په خاصو مراسمو دوی هرکلی کیده.

فقط تر ۱۹۴۳ وروسته ورځ په ورځ وضعی تغییر وموند او دا هغه وخت و چې یو شمیر محصلین اروپا ته تللی وو او تر تحصیل وروسته بیرته افغانستان ته راستانه شوی وو، نو د ترکی دوکتورانو په نسبت هغه پخوانی صمیمیت پاتی نشو او کله چې به په افغانستان کې د ترکی دوکتورانو د خدمت موده پای ته رسیدله، پر ځای به یې بل شخص افغانستان ته نه راالیږل کیده.

د افغانستان حکومت د خپل صحی کدرونو د تکمیل په خاطر نورو هېوادونو لکه فرانسی ته مراجعه وکړه، په دې توگه د ترکانو په ځای چې هغوی هم په افغانستان کې د طبی تاسیساتو موسس وو خپل ځای یې فرانسویانو ته پریښود.

«د ښه والی او خراب والی څخه که تیرشو او که په دی تړاو په مجموعی ډول قضاوت وشی نو د یادونی وړ دی چې د افغانستان خلک د ترکانو سره مینه لری او علاقمندی یې درلودله چې د ترکی متخصصینو د پاره هر ډول مادی او معنوی مرستی برابری کړی او د هغوی سره د یوه مسلمان ورور په څیر برخورد وکړي»[۲].

په همدې شان په ۱۳۱۱ رفقی بیگ په علی آباد کې سناتوریم (دری پوړیز د شپیتو ناروغانو د پاره) چې ډیره ښه موسسه وه او د اعلحضرت محمد نادر شاه غازی له خوا د ساری ناروغیو د اخته کسانو د پاره تاسیس شو. څرنگه چې دا موسسه هم په افغانستان کې د لومړنیو خیریه موسسو له جملی څخه ده نودا ایجابوی چې د دی موسسی په اړوند او په افغانستان کې

---

۱ - دوکتور محمد حسن شرق، کرباس پوش های برهنه پا از ۱۳۱۰-۱۳۷۰ هـ.ش، ص-۳۳

۲ - پروفیسور جنرال کمال روزبای، مجله کار اورگان شورای مرکزی اتحادیه ملی کارکنان افغانستان، ۱۳۶۹ ص-۵

د توبرکلوز (نری رنځ) د ناروغی د درملنی په باره کې یو څه زیات معلومات ورکړ شی.

د علی آباد سناتوریم

د کابل په ښار کې د طب د پوهنځی تهداب او بنسټ په ۱۳۱۱ کې کیښودل شو او دا هغه لومړنی مرکز و چې په علمی کیفیت او سم ډول یې د هېواد د پاره دوکتوران روزل او طبی کدرونو ته یې روزنه ورکوله.

په عین وخت کې د خاصو مراسمو په ترڅ کې د توبرکلوز د ناروغانو د درملنی او معالجی د پاره د لومړنی سناتوریم د تهداب تیږه کیښودل شوه، البته دا سناتوریم د علی آباد په بڼ کې د رفقی سناتوریم په نوم تهداب ګذاری شو.

د څو کلونو په اوږدو کې دا سناتوریم د هېواد هغه یوازنی مرجع وه چې په نری رنځ اخته ناروغان پکې معالجه کیدل، د فتیزیاتری وتلی کدرونه دلته تربیه کیدل او علاوه پردی د ناروغۍ د تشخیص او تداوی د پاره له ډیرو نوو میتودونو څخه استفاده کیدله، دا سناتوریم د طب پوهنځی د لومړی رئیس ترکی دوکتور چې رفقی بیګ نومیده تهداب ګذاری شوی ؤ.

د ده وړاندیز له مخی د سناتوریم د ودانۍ د پاره ۹۷۵۰۰ مترو مربع په شاوخوا کې یوه ساحه تخصیص شوه چې په هغی کې صحی اوبه موجودی وی او پردی برسیره یو لوی باغ چې ۳۰۰۰ متر مربع مساحت یې درلود هم موجود ؤ چې په دې باغ کې به ناروغانو د ورځی زیاتره برخه تیروله او چکری به یې په کې وهلی. د سناتوریم تعمیر په مودرن شکل ودان شوی و چې کافی لمر، برېښنا او د مرکز ګرمی سیستم یی درلود.

په دې سناتوریم کې د ۳۲ تنو په شاوخوا کې کار کاوه چې نیمایی یې طبی پرسونل ؤ. د بسترو شمیر شپیته (۶۰) وی چې د اکسریز د کوټو، عمومی لابراتوار، باکترلوژیک او مدیکل ریکارډ درلودونکی ؤ.

څرګنده ده چې په هغه وخت کې د ناروغانو درملنه په سیمپوماتیک یا عرضی تداوی پوری محدوده وه چې د دې ترڅنګه د ناروغانو د پاره د سناتوریم غذایی رژیم توصیه کیده. دلته د درملنی په خاطر د مکفی غذا لکه سوپونو (ښوروا) ډولونه، د چرګو هګی، پنیر، کوچ، شیدی، ماسته یعنی هغه خواړه چې زیاته کالوری او پروتین یې درلودل توصیه کیدله.

د افغانی طبی کدرونو د نشتوالی له مخی له ۱۳۱۱ تر ۱۳۲۵ پوری په دې سناتوریم کې ترکی دوکتوران لکه بدری بیگ، گلی بیگ او داسی نورو کار کاوه. له ۱۳۲۵ راهیسی هغه وخت چې د فرانسی طبی تیم د طب په پوهنځی کې په تدریس لگیا و په دې سناتوریم کې هم فرانسوی دوکتوران لکه پروفیسور بلانژی او نورو وظیفه درلودله.

د دې برسیره د پورتنی درملنی د توبرکلوز د ناروغانو په درملنه کې له ویتامینونو، کلسیم کلوراید او یو شمیر نورو درملو څخه کار اخیست. یعنی هغوی د عرضی تداوی په خواکی د ضد حساسیت درملنه هم پرمخ بیوله.

ستریپتومایسین په هغه زمانه کې یوه کم یافته او گران بیه درمل و او صرف د نری رنځ د ناروغانو د درملنی د پاره د ارتشاحی په شکل د نری رنځ یو آفت درلودونکی و کار اخستل کیده. لکه چې په ۱۳۳۶ کې ۳۱۵ گرامه ستریپتومایسین استعمال شوی و.

څو کاله وروسته زمونږ په هېواد کې د نری رنځ د ناروغی د درملنی د پاره له ایزونیازید (INH) او وروسته له P.A.S څخه استفاده وشوله.

د تداوی پروسی له ۵-۶ اونیو پوری احتوا کوله او بیا د یوه کال د پاره یې په پولی کلنیک کې معالجی دوام درلود. او د هرو دوو میاشتو په منځ کې رادیولوژیک او باکترلوژیک معاینات اجرا کیدل. له دی تداوی څخه یوازی د کابل خلکو گټه اخستله حال دا چې د نورو ولایتونو اوسیدونکی تری محروم وو او د عملی خوانه طبی مرستی په نورو ولایتونو کې هیڅ نه وی.

تقریباً د علی آباد د سناتوریم د ایجادیدلو سره په یوه وخت کې د میرمنو سناتوریم د شلو بسترو په درلودلو د نری رنځ د ناروغۍ د تداوی د پاره جوړ شوی ؤ، چې په دی دواړو سناتوریمونو کې د دوکتورانو یو واحد گروپ کار کاوه.

اوس د میرمنو د نری رنځ سناتوریم او یا (۷۰) بستری لری چې افغانی دوکتوران په دواړو سناتوریمونو کې فعالیت کوی او په کال کې د ۴۰۰-۶۰۰ په شاوخوا کې د نری رنځ د ناروغی پیښی تداوی شوی دی.

د نری رنځ د ناروغی پر ضد په مجادله کې عمده او اساسی ونډه د توبرکلوز ملی انستیتوت اخلی چې د لومړی ځل د پاره په ۱۳۳۳ د نړۍ د

روغتيايی اداری (WHO) د تصميم او مرستو له پلوه د کابل د نری رنځ د مجادلی مرکز تاسيس شو.

د نړۍ روغتيايی سازمان د مسلکی کدرونو د روزلو، پلان ګذاری او د نری رنځ پرضد د مجادلی اساساتو په برخه کې زياتی مرستی ترسره کړی دی. لکه چې د دی سازمان له خوا د توبرکلوز يو تن سلاکار او متخصص داکتر نيومان او د ده سره ملګری هئيت د کابل د نری رنځ د مجادلی په مرکز کې ډير ګټور خدمتونه ترسره کړی دی.

د دې موسسی د پروګرام فعاليت په کابل کې منحصر پاتی نه شو بلکې د هېواد په نورو ولايتونو اوسيمو کې د نری رنځ پر ضد د مجادلی پروګرام شروع شو.

په دې کلونو کې د لومړی ځل د پاره د توبرکولين تست رواج وموند چې د نری رنځ د ناروغی د تشخيص د پاره تری کار واخستل شو، د هغو چا په نزد چې د توبرکولين تست مثبت و د سږی را ديالوژيک معاينات او د بلغمو باکترلوژيک معاينی به يې اجرا کولی او دکومو اشخاصو په نزد چې دا تست منفی و نود (BCG) بی سی جی واکسين به يې ورته تطبيقول.

د کابل د شيوکيو په کلی کې يو صحی اپيديمولوژيک مرکز ودان شو چې موخه يې په هېواد کې د نری رنځ د ناروغی د اپيديمولوژيکی څيړنو ترسره کول.

اپيديمولوژيکو نتيجو وښودله چې د کلی له ۳۰۰۰ اوسيدونکو څخه ۱۰۳ تنه په فعال نری رنځ اخته و چې دا رقم د هېواد په نفوسو کې د نری رنځ د پراخو خپريدلو يو لوی رقم په ګوته کوی.

په ۱۳۵۰ د نری رنځ د ناروغانو د پاره اساسی څيره چې تر ننه پوری رواج لری طرح ريزی شوه او د هغی له مخی حمله وی تداوی متقطع تداوی او ورځنی تداوی ترسره کيدله.

تر ۱۳۵۱ پوری په اساسی ډول د نری رنځ د ناروغی پر ضد کوښښونه يوازی د کابل په ښار کې تر سره کيدل، حال دا چې له ۱۳۵۲ کال وروسته د کابل له ښار برسيره د نری رنځ د رنځوری پر ضد سخته مبادره د هېواد په ولايتونو کې هم پيل شوه.

په ۱۳۵۴ کې د نری رنځ د ملی پروګرام د چارو د څيرنی او بهتر کيدلو په منظور د نری رنځ ملی انستيتوت تاسيس شو. او په همدې کال په افغانستان کې د نړۍ روغتيايی سازمان له خوا د نری رنځ د ناروغی د

کنترول په مقصد په هېواد کې ملی پروګرام پیل شو چې په دی پروګرام کې د بی سی جی د واکسین د تطبیق په واسطه د نری رنځ د ناروغی پر ضد د هېواد په نفوس کې د معافیت ایجاد شامل و.

په ۱۳۵۷ کال د کابل په ښار کې د نری رنځ د ملی انستیتوت د نوی تعمیر بنسټ کیښود (زه هم دغه محفل ته بلل شوی وم – مومنی) چې دا ودانۍ د جاپان د دولت په تخنیکی او اقتصادی مرستو آباده شوی ده.

د نری رنځ د ملی انستیتوت اساسی او عمده دندی په لاندې ډول دي:

- ☜ د هېواد د اوسیدونکو په منځ کې د کتلوی معافیت ایجاد.
- ☜ د نری رنځ په ناروغی د اخته کسانو د پیښو تحری.
- ☜ په وړیا توګه د نری رنځ د ناروغانو تداوی د امبولاتور په شکل او یو څه د خوراکی موادو ویشل.
- ☜ د نری رنځ پر ضد د مبارزی په باره کې په ولایتونو کې د ناحیوی صحی مرکزونو تنظیم او لارښوونه.
- ☜ د دوکتورانو او د منځنی طب د پرسونل د تربیتی او روزلو چاری.

د دې انستیتوت په تشکیل کې د اپیدیمولوژی، احصائیی، د توبرکلوز د ارزیابی او کنترول، د کلچر تحقیقات، د خلکو په منځ کې د صحی زده کړو د خپرولو په منظور، بصری تنویر، تبلیغ او تریننګ څانګی شاملی دی.

په ۱۳۵۷ د ۹۳۰۰۰ ناروغانو په شاوخوا کې ناروغان د امبولاتور په شکل په وړیا توګه تداوی شول او وړیا خوراکی مواد ورته وویشل شو.

د ۱۳۵۷ د ثور د انقلاب د لومړیو کلونو را وروسته د یوه میلون اشخاصو په شاوخوا کې او ۱۴۰۰۰۰ کوچنینانو ته د بی سی جی واکسین تطبیق شو او د هېواد ۴۸۰۰۰ تنو اوسیدونکی په شاوخوا کې د نری رنځ د ناروغی په غرض معاینه شول، او له زرو تنو زیاتو طبی پرسونل په سیمینارونو کې ګډون کړی دی.

په ۱۳۵۸ د لومړنی پنځه کلن پلان بنسټ کیښودل شو چې په دې پلان کې د (۱۳۵۸-۱۳۶۲) د نری رنځ پر ضد د مبارزی ملی پروګرام د نوموړی موسسی په غاړه کیښودل شو.

په ۱۳۶۰ د نری رنځ د ناروغی د اهمیت له کبله چې یوه ټولنیزه نارغی ده وپټیل شوه چې د کابل د طب په انستیتوت کې د نری رنځ د یوه ځانګړی مضمون په توګه تدریس شی.

لکه چې یادونه وشوه دا ناروغی یوه ټولنیزه ناروغی ده، د معافیت، تداوی او نورو پوری مربوط مسایل او د هغی د خپریدلو څخه د مخنیوی تدبیرونه د توبرکلوز د ملی انستیتوت په غاړه دی. او د بلې خوانه د نری رنځ هغه ناروغان چې په فعال توبرکلوز اخته دی په وسله وال پوځ کې له خدمت څخه معافیږی. نوله دی کبله د وسله وال پوځ د منسوبانو په نزد د دی ناروغی د تثبیت او تشخیص نه وروسته وسله وال په صفوفو کې له شمولیته معاف شمیرل کیږی او د نری رنځ سره د مبارزی ارګان ته ور پیژندل کیږی.

په ۱۳۵۷-۱۳۵۸ کلونو کې د اردو د صحیی ریاست په نری رنځ اخته ناروغان به یې د کابل په مرکز کې رسماً د توبرکلوز ملی انستیتوت ته ور معرفی کول او هغو چې په ولسوالیو او اطرافو کې هستوګنه درلودله برسیره پرهغه پیژندلیک (معرفی خط) چې د ولایتونو او ولسوالیو صحی مرکزونو ته به ناروغ سړی ته ورکول کیده او د رسمی مکتوب پواسطه به ور معرفی کیده. د ولایتونو او ولسوالیو د صحی ارګانونو له لاری به هغه تعقبیدل او د تداوی او کنترول لاندې به نیول کیدل.

د روغتیا په اړوند خپرونی او د کلونو له مخی واقعات

که چیرته د هېواد د صحی جریدو تاریخ ته مراجعه وشی لیدل کیږی چې «مجموعه صحیه» لومړی د ۱۳۰۶ د لیندی په لومړۍ نیټه تاسیس شوه خو د یو وخت د پاره په تعویق ولویدله چې د دوهمی نشراتی دوری پیل یې د ۱۳۱۰ د غبرګولی ۳۰ وه چې د عبدالرشید لطیفی په مدیریت تدوین او خپریدله[۱].

موږ د ۱۳۱۱ کال د لاس ته راوړنی په اړوند مخکی لنډ معلومات وړاندی کړل. تر دی وروسته هڅه کیږی ترڅو چې د طبی جریاناتو او پیښو په باب د امکان په صورت سال وار وړاندی شی.

۱ - ۱۳۱۱ کال سالنامه ، ص-۱۵۶

لکه چې په ۱۳۱۲هـ ش کې طبیه مستقل مدیریت د روغتیا ریاست ته لوړ کړی شو چې رئیس یی جلالتماب محمد اکبر خان، د ملکی روغتون مدیر ص عبدالغفار خان او د طبی مکتب منتظم ص غلام سرور خان ؤ. په دې کال کې مشاورین له رفقی بیګ، فواد بیګ (سرطبیب) او دلسو دوکتورانو څخه عبارت وو، چې یو یې ترکی ربیع حکمت بیګ و.

په دې کال (۱۳۱۲ زمری میاشت) د رفقی بیګ سناتوریم افتتاح شو (د سالنامی ۱۳۱۲ کال ۱۸۲ مخ).

په ۱۳۱۳ د پاچا د ارادی له مخی د صحیی ریاست وزارت ته پورته شو (د ۱۳۱۳ سالنامی ۱۰۰ مخ). د صحیی وزارت تشکیلات په دې کال کې دومره پراخ نه ؤ:

- وزیر ع،ج غلام یحیٰ خان
- معین
- د مشاوریت او ترجمانۍ د دایری مدیر
- د محاسبی مدیر – محمد محسن خان
- د مامورینو د دایری سرکاتب – ص محمد ابراهیم خان
- د تفتیش د دایری سرکاتب – ص فقیر محمد خان
- د اوراقو د دایری سرکاتب – ص عبدالرووف خان

په همدی شان د پوهنی وزارت د صحیه تشکیل هم دومره پراخ نه و:

- د لابراتوار د دایری مامور – داکتر انور علی خان
- د پوهنی د روغتون داکتر – عزتمند احمد علی خان
- د طبی پوهنځی رئیس – عزتمند دوکتور حسن رشاد بیګ
- د طبیه مکتب منتظم – ص عبدالله خان

په دې کال کې د هېواد په یو شمیر ولایتونو کې روغتونونه موجود وو:

- د قندهار په ولایت کې – د روغتون مدیر ص میرولی خان
- د هرات په ولایت کې – د روغتون مدیر حاجی عبدالرحمن خان

- ☜ د مزار شريف په ولايت کې – د روغتون مدير ص محمد رحيم خان
- ☜ د مشرقى اعلى حكومت كې – د روغتون مدير ص موجود نه و
- ☜ د جنوبى اعلى حكومت او د ميمنى د روغتون طبيه مديران نه وټاكل شوى.
- ☜ د فراه او چخانسور د طبيه مامور – ص محمد ابراهيم خان و

افغانستان په دې کال د ترياکو او مخدره درملو د نړيوال کنفرانس په مشاورتى کوميټه کې شامل شو، چې په نړيوالو سازمانونو کې او د جهان خلکو ته د افغانستان د پيژندنى په باره کې يو لوى قدم واخستل شو. همداشان لکه چې څرګنده ده د افغانستان پخوانى حکومتونو د مخدره موادو د استعمال پر ضد مبارزه يې په خپل قوت وړاندى بيولى ده.

په کال ۱۳۱۳ د پوهنى وزارت چې د عمومى روغتيا او موجوده نسل روزنى په ترقى کې، حتى د نباتاتو او حيواناتو په روزلو کې خاصه پاملرنه درلودله، په پام کې درلوده چې د هغو د مکتبونو شمير زيات کړى او مخصوص ښوونځى ورته اصلاح کړى، له دى امله د کرنى د مکتب، د طبى مکتب، دواسازى او کيمياګرى مکتب په تکامل کې لازم ترتيبات ونيول شو.

د طبى نباتاتو له پلوه افغانستان ډير شتمن دى ځکه چې د ټولو تودو سيمو، مديترانه يې، برى او بحرى نباتات را ټو کيدلى چې تنوع يى هم زياته ده. نو ځکه سپيرکۍ (جواني)، باديان، زوف، ترخ، جدوار، بيش، کچه ماچو (سګ انګورک)، خطمى، خبازى، شاه تره، ګاوزبان، بيدمشک، داتوره، کاکوتى، ژاوله (ساجق)، اسفرزه، خاکشير (جلال آباد)، شير خشت (هرات)، هنګ (شمالى ولايتونه)، ګندلى (چې د فروزى ګنده ترى لاس ته راځى) او داسى نور چې له دې جملى څخه د افغانستان طبى نباتات دى.

د افغانستان خود روى حبوبات او نباتات چې په طبابت کې له هغو څخه استفاده کيږى راټول شوى او نمونى يې بهرته ليږل شوى.

بايد وويل شى چې زيره (ځنکۍ) د افغانستان د صادراتو له ډيرو غورو اقلامو څخه دى. ترياک (اپين)، شير خشت او تر نجبين، هنګ (انګوزه) او نور طبى نباتات لکه سرغڼى (عناب)، جوانى، باديان، خريږى

(سمارق)، ژاوله (ساجق)، توره مۍ، د زردالو زړی او داسې نور په پراګنده ډول بهرته صادرېږي[1].

د پورتنی مأخذ په ۱۰۰ مخ کې د روغتیایی چارو په هکله داسې راغلی دی.

طبی ښوونځی چې په ۱۳۱۰ تاسیس او پرانستل شوی و په دې کال کې له محصلینو څخه ازموینه واخستل شوه او برې لیکونه ورته ورکړ شو.

د قابلګۍ کورس څخه هم ازموینه واخستل شوه، ۱۴ تنه فارغ او د برې لیک په اخستلو بریالی شول. د کمیستی ښوونځی په مرکزی درملتون کې تاسیس چې اوس یې محصلین لس تنه دی. دې زده کوونکی د کیمیاګری او کیمیا د فن په ځانګه کې په نظری او عملی صورت زده کړه کړی. د دې ښوونځی د تنظیم چاری د پوهنی وزارت او روغتیا وزارت تر نظر لاندې په ګډه سره پرمخ بیول شوی دی.

د درمل جوړولو کورس د هغو محصلینو د پاره چې په روغتونونو کې یې د درمل جوړولو شغل درلود او له دی فن څخه اګاه نه وو، نو په مرکزی درملتون کې یو اساسی کورس د جناب پروفیسور عمر شوکت بیګ په معلمۍ او د کمیستی د ښوونځی د معلمینو له خوا تاسیس شو، چې نوموړو محصلینو د درمل جوړولو د فن نظری برخه په نوموړی کورس کې بشپړه کړی او په دې وسیله ګویا په نظری او عملی ډول په دې فن کې د معلوماتو درلودونکی شوی دی. په دې کورس کې شل تنه شامل وو چې په په راتلونکی کې د هغه د پراختیا پلان سنجول شوی دی.

په همدې توګه د مرکز او ولایتونو د روغتیایی موسساتو د تفتیش او بررسۍ په خاطر د صحیی په وزارت کې د پلټنی یوه نوی اداره تشکیله شوه چې د روغتیایی چارو په لا ښه کولو کې یې د یادونی وړ رول لوبولی دی.

همداشان څرګنده شوی ده چې د نسوانو د سناتوریم کار چې په افغانستان کې یې وجود نه درلود او د علی آباد ملکی روغتون چې د رفقی سناتوریم په خواکی جوړیږی بشپړ شوی او په نژدی وخت کې پرانستل کیږی.

برسیره په هغو معاینه خانو چې د مخه د کابل په ښار کې موجودې وی، څلور کتنځی د ښار په ګوښه کې نوی په عصری توګه تاسیس شوی.

---

۱ - مجله سالنامه کابل ۱۳۱۳، جغرافیه اقتصادی افغانستان، ص-۱۷۱

په دې کتنځو کې هغه ناروغان چې روغتونونو ته تلای نه شی، معاینه او تر درملنی لاندې نیول کیدل.

په نوموړی مجله کې زیات شویدي: چې اوس په ټولو ولایتونو او اعلی حکومتونو کې منظمی شفاخانی جوړی شوی او هر ډول ناروغی پکې معالجه کیږی.

په همدې توګه د (انتانی د ناروغۍ) کتاب چې ۶۰۰ مخونه او تصویرونه لری او تر دی وخته پوری زمونږ په وطن کې يې ساری نه دی چاپ شوی په همدی کال کې چاپ شو او مولف يی بای دوکتور ربیع حکمت دی. دا کتاب د وخت د روغتیا وزارت په لګښت چاپ شوی ؤ.

د لومړی ځل د پاره د درملتونونو د چارو تنظیم په خاطر د درملتونونو د اصولنامی په نوم اصولنامه د روغتیا وزارت له خوا تدوین شوی ده.

هغه څه چې په ۱۳۱۴ کال د بحثونو وړ و او د روغتیا وزارت نور فعالیتونه د خپل شعاع لاندې نیسی د درمل جوړولو د ښوونځی تاسیس دی چې دی موضوع د ۱۳۱۴ د ثور د میاشتی د آئینه عرفان د مجلی له ۵۱-۵۲ مخونو پوری پوره انعکاس موندلی دی او څه رنګه چې دا عالی ښوونحی (چې د مخه د درمل جوړولو کورسونه موجود وو) د درمل جوړولو د عصری زده کړو درلودونکی لومړنی موسسه ده، چې د هغی په باب تفصیل سره بحث بې مورده نه دی.

نن ورځ بیا د مملکت د اړتیاو د لیری کولو په سلسله کې یوه بله کړۍ ور زیاته شوه او د المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د ځلانده عصر د عمومی صحت په نوم د مملکت په روغتیایی او ملی موسسو باندې یوه بله موسسه هم منځ ته راغله چې د دواسازی او کیمیاګری د ښوونځی له تاسیس څخه عبارت دی.

د دې ښوونځی څخه د تاسیسیدلو موخه دا ده چې پر اوسنیو دواسازانو باندې د درمل جوړولو یوه بله ډله د اسپنچاری د فن مطابق چمتو کوی او د بلې خوانه د اوسنیو درمل جوړونکو شمیر به پری زیات شی.

...د ضرورت په وخت کې فوراً د وطن د نباتی او معدنی مالزمی څخه ګټوره دوا استحصالول، درملو معافیت او صحت د کیمیاوی تحلیل او معاینی له مخی پیژندل، او د هغو ضررونو څخه د دوا ساتنه چې د نور او د وخت په تیریدلو سره په ځینو دواګانو کې پیدا کیږی. او د مرکبه درملو په

نسبت د ناروغانو د نه اطمینان څخه مخنیوی کول، او د هغه نظافت تامینول چې د اوسنۍ حفظ الصحی او طبابت قانون غوښتنه ده. او د هغی ورځنی دوا تیارول چې د یوه ناروغ د وجود د پاره مشخصه ده او داسی نور.

دا هغه نکتی دی چې هر دواساز یې په ټاکلی وخت کې په اساسی او سمه توګه زده کړی. د غویی په ۲۷ د شنبی په ورځ تر ماسپښین وروسته په دروبجو دا ښوونځی د دواسازی په پرتمینه موسسه کې پرانستل شو.

محترم عمر شوکت بیګ د دې فن متخصص، د درسونو او د تحصیل د مودی او د زده کوونکو د دندو په باب زیاتی علمی او فنی څرګندونی وکړی.

د لوستونو اساسی مواد یی داسی وښودل:

غیر عضوی کیمیا، تحلیلی کیمیا، عضوی کیمیا، د طبی نباتاتو او حیواناتو د اسپنچاری فن، فارمقوقنوزی (فارمکوګنوزی)، حیاتی کیمیا، غذایی کیمیا او غذایی تحلیلات، شیمی، فزیک، توکسیکولوژی او اسپنچاری تحلیلات.

دې ښوونځی دوی شعبی درلودلی یوه یې درمل جوړول او کیمیاګری او بله یې یوازی عملی دواسازی وه، د دواسازی او کیمیاګری په څانګه کې د تحصیل موده دری کاله او د عملی دواسازی په څانګه کې د زده کړی موده نه میاشتی وه.

د حیاتی، غذایی، صنعتی کیمیا، شیمی او فزیک په استثنا پورتنی مضمونونه په ګډه سره د دوو شعبو د پاره تدریس کیږی او دا مضمونونه به د دویمی شعبی د پاره تدریس شی.

شوکت بیګ په اخر کې زده کوونکو ته وویل: ای د افغان ذکی اولاده ستاسی راتلونکی وظیفه د زده کړی په موده کې دا ده که چیرته غواړئ چې په دې برخه ستاسی مهربان حکومت او غیور ملت ممنون او پخپله تاسی په دې مملکت کې بریالی شئ لومړئ باید د حاضرئ پابندو اوسئ او دوهم د مکتب د قوانینو او دریم د هغو افکارو پابند اوسئ چې مستقیماً ستاسی په مسلک تکیه کوی.

دا لیسه چې د طب د پوهنځی سره تاسیس شوی وه تر ۱۳۲۷ پوری یې لس دوری درمل جوړونکی ټولنی ته وړاندی کړی دی.

تردی د مخه یوه شخص چې محمد حسین خان نومیده او بیا په خلیفه محمد حسین مسمیٰ شو د قلعه باغر خان په روغتون (میوند روغتون) کې د کمپودرۍ او د دواخانی د چارو کورس بیرته کړی و. دا سړی د هندی متخصصینو په واسطه چې د دفاع وزارت د صحیه او وترنری په مدیریت کې (پل محمود خان روغتون) وظیفه درلودله. او د نور محمد خان او داکتر قریشی په نومونو ښخه یی زده کړه کړی وه.

ښه رنګه چې د فارغانو سویه ټیټه وه هماغه و چې د طب د پوهنځی په خواکی د دواسازی عالی ښوونځی افتتاح شو.

دا به ډیره ګرانه وی چې د طبی او دواسازی مسایلو ټول جریانات په هر کال کې تعقیب شی خو ښایی په افغانستان کې د طبابت ځینی پیښی او لویې لاس ته راوړنی تر بررسۍ لاندې ونیول شی چې له دی جملی ښخه د ۱۳۱۵ کال پیښی د کابل د سالنامی په حواله اقتباس شی.

د عامی روغتیا د وزارت په تشکیل کې بدلونونه رامنځ ته شول چې د تیرو کلونو په نسبت زیات پراخ وو چې په لاندې ډول دي:

- وزیر: ع،ج غلام یحیٰ خان
- د ملکی روغتون مدیر: ص عبدالغفار خان
- د ملکی روغتون سرطبیب: ص دوکتور ربیع حکمت بیګ
- د مستوراتو د روغتون مدیره: ص زینب بیګم
- د عمومی دواخانی د مدیر کفیل: ص محمد علی خان
- د اکسریز او رادیولوژی د شعبی مرستیال: ص عزیز الله خان
- د غاښونو دوکتور: عزتمند محی الدین بیګ
- د غاښونو دوکتورس: عزتمند خانم بای محی الدین
- د غاښونو دوکتور: ص عبدالله خان
- د رفقی سناتوریم د سرطبیب کفیل: عزتمند خانم نوزاد بیګ
- د رفقی سناتوریم فنی او اداری معاون: ص محمد عمر خان
- د عقلیه او عصبیه ناروغیو د روغتون سر طبیب: ص قیوم خان

- د مستوراتو د سناتوریم فنی او اداری معاون: ص محمد موسی خان
- د مستوراتو د سناتوریم ماموره: ص روح افزا بیګم
- په شهرارا کې واقع کتنځی مرستیال: ص محمد ابراهیم خان
- د چنداول د هزاره ګانو قلعه کې واقع کتنځی مرستیال: عزتمند داکتر کرم الهی خان
- په بالاحصار کې پروت کتنځی مرستیال: ص محمد موسی خان

په ګردو ولایتونو او اعلی حکومتونو او حتی په اسمار کې (چی د لویی ولسوالی په دولتی تشکیل کې و) د صحیه مدیریتونه موجود وو چې د صحیی د دغو مدیریتونو د کفیلانو نومونه هم ذکر شوی دی.

د افغانستان نماینده د ۱۳۱۵ کال د جوزا له ۱۸ د سرطان تر ۴ نیټی (۸-۲۶ جون ۱۹۳۶) په هغه کنفرانس کې چې د مخدره درملو د غیر مشروع تجارت د انسداد په باره کې منعقد شوی شامل شو.

همداشان هغه قرارداد چې نوموړی کنفرانس کې د مخدره ادویی د نامشروع تجارت د مخنیوی د پاره عقد شوی دی د افغانستان د مطبوعه حکومت تر غور لاندې دی.

په همدې کال ۱۳۱۵ د تریاکو شرکت د یو ملیون پنځه سوو زرو افغانیو په پانګه د تریاکو د اصولی صادراتو د پاره په فعالیت پیل کړی دی. دا شرکت د نړیوالو مقرراتو مطابق ؤ او په هرات کې تاسیس شوی ؤ چې ټول صادرات یې نوی ټنه ؤ. هغه مکتبی علمی آثار چې په دې کال کې تالیف شوی دي:

- پسیکولوژی «علم الروح» عسکری کتاب د محترم احمد الله پوپلزایی تالیف اوژباړه.
- تحلیلی کیمیا کتاب: لیکوال پروفیسور توماس انګیزی – د طب د فاکولتی د متعلم محمد عظیم خان ژباړه.
- فزیولوژی (علم تشریح): د انګریزی عالم سترلنګ تالیف په دوو جلدو کې، د طب د فاکولتی د متعلم محترم عبدالرحمن خان ژباړه.

- د عمومي او مرکزي لابراتوار (کیمیاوي تجزیه خانه) تعمیر چې له درو کالو را پدې خوا تر کار لاندې ؤ جوړیدنه یې بشپړه شوی ده.
- همداشان د طبي پوهنځی د تعمیر بنا او دارالفنون چې څلور کاله یې د دارالفنون په بیلا بیلو بناګانو کې خپلی لوست خونی، لابراتوارونه دایر کړی او اجراکول د ټولو ملحقاتو سره یې کار شروع شوی دی.
- د دې د پاره چې زمونږ ګران هېواد افراد د ساری ناروغیو لکه سفلیس، وبا، شری او نورو وخیمو اثراتو څخه آګاه شی او د هغوی په مقابل کې د دفاع په طریقه وپوهیږی د عامې روغتیا وزارت داسی وپتیله چې په هره میاشت کې د متخصصو ډاکترانو له خوا دی بی له انقطاع څخه کنفرانسونه دایر او خپلو ګډون کوونکو ته دی لازم توضیحات ورکړل شی. په کال ۱۳۱۵ کې دوه صحی کنفرانسونه ورکړ شو او د هغوی نسخی او طبع شوی نقلونه یې د هېواد ولایتونو او اعلی حکومتونو او نورو ته ولیږل شول.

همداشان څه رنګه چې ساری ناروغۍ لکه وچکۍ (تیفوئید – محرقه)، شری (سرخکان)، کوی (چیچک) او نوری په بشری کتلو کې د کال په هره موقع کې موجودی وی او د ځینو کورنیو غړی تر حملی لاندې نیسی، نو د دې لپاره چې کورنۍ وپوهیږی د دی ډول ناروغانو سره څنګه چلند وشی نو تجویز ونیول شو، چې د قابله ګۍ د ټولګی یو شمیر متعلمانی د صحی نماینده ګانو په نوم تر تعلیم لاندې ونیسی.

د دوی د کورس د پاره دری میاشتنی ټاکل شوی او د دوی وظیفه په دی ناروغیو اخته کورنیو ته صحی تبلیغ او ارشاد وکړی ترڅو چې د ناروغ سره لازم رفتار وکړای شی.

باید وویل شی چې په ایبک کې حمای لکه دار خپره شوی او د هغی د دفع کولو خبر د ۱۳۱۵ د ثور په شلمه خبر ورکړی شو ؤ د ایبکود ځینو خلکو کالی سوزول شوی چې د هغوی بیه (قیمت) ورته ورکړ شو.

همداشان د وبا (کولرا) ناروغی په زرمت کې خپره شوه خو ډیر ژر یې مخه ونیول شوه. په دې کال کې د عامې روغتیا د وزارت له مهمو اقداماتو څخه دا دي:

☜ په ټول افغانستان کې د ملاریا د ناروغی سروی پیل شوه.

☜ د وچکۍ، وبا او لیونی سپی د واکسینونو په خواکی چې د دارالفنون په یوه ودانۍ کې پخوا تهیه کیدل اوس د کوی واکسین هم اعمالیږی. او د چیچکو د اوبو په تطبیق سره په ټولو ولایتونو او اعلی حکومتونو کې تر یوی اندازی د دی موزی ناروغی د تلفاتو څخه مخنیوی شوی دی.

په دې کال کې د کابل ښار ۱۲۴۶ تنو کسبه کارانو صحی معاینه ترسره شوی، معدنی اوبه د تجزیی لاندې نیول شوی او خلکو ته د استفادی د پاره ورکړ شوی دی، د حمامونو د ښه والی په غرض تدبیرونه نیول شوی د عملو په گذر او ده افغانانو د میدانی د حمام شاه ته دوه حلقی کوهیان کندل شوی، د قلعه باغر خان او باغ علی مردان حمامونه په عصری ډول بشپړ شوی دی.

همداشان وپتیله شوه چې د کابل په ښار کې درملتونونه دی ۲۴ ساعته بیرته وی، او په شاهی جاده کې په عمومی دواخانه کې یو باب مرکزی درملتون پرانستل شو او د عامی روغتیا وزارت د خلکو د ضرورت له مخی درملتونونه اوغاښ جوړونکی معاینه خانی د کابل ښار په بیلا بیلو ځایونو کې ویشل شوی دی.

د درملتونونو اصولنامی د اصولی مرحلو تر تیرولو او د ملوکانه اعلحضرت تر توشیح وروسته د هېواد ټولو برخو ته ولیږل شوی او د نوموړی اصولنامی د مندرجو موادو د تطبیقیدل عمومو درملتونو ته توصیه او تر اجرا لاندې ونیول شوی.

همداشان د مخدره درملو د کنترول په باره کې چې تر دی وروسته سوداگر واردولای نه شی د عامی روغتیا د وزارت له خوا مقررات وضع شوی دی. او د مخدره درملو د تورید او د هغی د مصرفولو د صورت په هکله د عامی روغتیا وزارت یوه اصولنامه ترتیب کړی ده.

د هغو داکترانو لست چې د نسخی ورکولو اجازه لری درملتونونو ته لیږل شوی دی.

په عمومی درملتونونو کې د مقطرو اوبو جوړول پیل شوی او په ښاری درملتونونو کې خرځیږی. څرنگه چې درملتونونو د ضرورت له مخی یو شمیر درمل جوړونکو ته احساسیده، له دی امله یی کمپودری شاگردان له ملکی روغتون او اوسنیو مرکزی روغتونونو څخه د دوکتور

انور علی خان د تعلیم لاندې ونیول او په ټاکلو ورځو د کمپودری کورس یې مجدداً په عمومی درملتون کې پرانستلی دی.

په ولایتونو کې مستعد اشخاص وهڅول شول چې درملتونونه جوړ کړی او په دې اساس په دی کال کې د هرات، قندهار، مشرقی، جنوبی، میمنی، شمالی او غزنی ولایتونو په مرکزونو کې درملتونونه افتتاح او په کار یې پیل وکړ.

د اعلحضرت محمد ظاهر شاه د فرمان په اساس یو سل زره افغانۍ د روغتیایی چارو او روغتون د پاره بخښل شوی. او د علیا حضرتی ملکی معظمی د فرمان له مخی په پام کې دی د مملکت روغتیایی چاری په ډیره لویه پیمانه تامین شی، تصمیم می نیولی دی یو سلو شپږ دیرش زره افغانۍ خپل او د اعلحضرت د خویندو معاشونه د دربار له وزارت څخه واخلم او د مستوراتو د روغتون د ضروریاتو د رفع کولو د پاره دی ولګیږی.

په همدې توګه د صدارت عظمی د تشویق او د روغتیا وزارت د تحریک او اقداماتو په اثر یوه زیاته اندازه روپۍ د اعانی په ډول د عصری روغتونونو د جوړولو په خاطر له ولایتونو او حکومتونو څخه راټولی شوی دی، چې په دې اساس د کندهار په ولایت او د هغه په مربوطه حکومت کې (ارزګان، قلات او پشت رود)، د هرات په ولایت او حکومتونو کې (بادغیستان، غورات، غوریان او سبزوار)، مزار شریف، شبرغان، قطغن، مشرقی، کونړونو، میمنی، لوګر د شمالی لوی حکومت او دایزنګی کې روغتیایی مرکزونه او روغتونونه په کال ۱۳۱۶ په فعالیت شروع وکړی.

څه رنګه چې د مملکت زیاترو سیمو کې وطنی جراحانو په غیر فنی صورت د جراحی مهم عملیات اجرا کول نو د روغتیا وزارت دوی تر ازموینی لاندې ونیول، هغه چا چې د دی کار وړتیا نه درلودله، د شغل کولو مخنیوی یې وشو او هغه کسان چې نسبتاً پخپله یې زده کړه کړی وه هغوی یی د تحصیل د پاره متخصصینو ته کښینول ترڅو چې تر زده کړی وروسته اجازه نامه ترلاسه کړی.

په همدې ترتیب په ۱۳۱۵ کال کې په لغمان کې یو روغتون او په علی آباد کې د ۱۳۱۵ کال د عقرب ۹ د یکشنبی په ورځ د عقلیه او عصبیه روغتون نوی ودانی پرانستل شوه.

د دې کال د غبرګولی په ۲۵ د دارالفنون (دارالامان) په سیمه کې د میرمنو سناتوریم افتتاح شو. د ښځو د غاښ جوړولو موسسه د کابل په ده

افغانانو کې پرانستل شوه او د دی موسسو مامورین او مستخدمین مقرر شول.

باید زیاته شی چې د روغتیا وزارت په مرکز کې یوه کتابخانه جوړه شوه.

د داخل بستر ناروغانو فیس کم کړی شو، د طبی مکتب دوهمه دوره فارغه او په ولایتونو وویشل شول. د هغو له جملی څخه دوه تنه د لوړو زده کړو په خاطر د طب په پوهنځی کې شامل او د نوی او عصری اکسریز د تورید د پاره اقدامات تر سره شول چې په راتلونکی کال کې وارد شی.

د ګرشک، بدخشان، کونړونو او اسمار په لویو حکومتونو کې صحیه ماموریتونه افتتاح شول، او د مستوراتو د روغتون د پاره المانی دوکتورس اوشو یستر (پرستار) استخدام شوه. په دې سنه کې د «د درمل خرڅولو د ملی افغان شرکت په نوم» د درمل خرڅولو یو شرکت د لب دریا د خیابان د نوی جادی په بازار کې چې د ښار یوه مرکزی نقطه شمیرل کیږی تاسیس شو.

د ۱۳۱۶ هغه مهمی پیښی د دی کال د کلیزی په ۶۶۶ مخ کې تری یادونه شوی ده په لاندې ډول دي:

☜ د عظمی صدارت په عمارت کې د دی کال د لیندی ۲۹ د سه شنبی په ورځ د طبی پوهنځی د فارغ التحصیلانو شهادتنامی وویشل شوی چې په دی هکله د مخه مفصل معلومات وړاندی شوی دی.

«لکه چې مخکی ورته اشاره وشوه زموږ په هېواد کې د جراحی عملیات په ابتدایی شکل اجرا کیدل او زیاترو سلمانیانو دا دندی په تیره بیا د سنت کولو وظیفی په غاړه درلودلی، چې د دی ستونزی د لیری کولو او عصری جراحۍ د ایجادولو په خاطر په ۱۳۱۷ کې یو تن ترکی جراح چې خپل تحصیلات یې په المان کې بشپړ کړی و استخدام شو»[1].

دې دوکتور عصری جراحی په افغانستان کې رامنځ ته کړه، د جراحی ستاف په هغه وخت کې د درو تنو د طب د پوهنځی د فارغ التحصیلانو افغانی دوکتورانو څخه عبارت ؤ لکه دوکتور اسلم، دوکتور عظیم، دوکتور میر حسین او دوکتور کرام الدین چې د طب د دریم ټولګی

۱ - داکتر محمد نادر هادی، جراحی عمومی، ۱۳۶۴ ص۱ـ ۸

محصل و او په همدې ترتیب په دې ډله کې ترکی دوکتور فاروق بیگ هم شامل و.

د جراحی مختلفی شعبی لکه غوږ اوستونی او سترگی چې تردی وخته پوری سره یو ځای وی یو د بل څخه جلا کړی شوی. په دې وخت کې مهم عملیاتونه لکه گسترو انسترو ستومی اجرا کیدل.

همدارنگه په ۱۳۱۷ (۱۹۳۸) کال کې د امراض چشم په نوم یو کتاب چې شل فصلونه او ۷۸۷ مخونه لری په رنگه توگه د ترکی داکتر (دوقتور فواد اسمعیل طوغار) له خوا تالیف شوی او د وزارت معارف له خوا د کابل ښار په مطبعه عمومی کې چاپ شو دی. (دغه کتاب د دوچنت جنرال متین دیلی چې د ترکیی د ستردرستیز د روغتیایی چارو رئیس وو ماته په کال ۱۳۸۲ کې ډالی شوی دی - مولف، مومنی)

هغه موضوعات چې د نادری دولت او د محمد ظاهر شاه تر وخته پوری (۱۳۱۱-۱۳۱۸) نظام نامی خپری شوی وی په ۱۳۱۸ کال چاپ شول. همداشان د دی کال د وری د میاشتی په ۱۹ نیټه په افغانستان کې د درملتونونو اصولنامه د دری سوو ټوکو په تعداد چاپ شوه. دغه اصولنامه څلور فصله او دوه څلویښت مادی لری چې نمره یې ۳۰/۲۹ وه.

په دې اصولنامه کې ټول هغه مسایل طرح شوی وو چې د فارمسی مسلک له نظره د درملتونونو د خلاصولو، د درملتون کړنی او نورشیان پکې لیکل شوی و چې تر ډیری مودی پوری د تطبیق وړ وه.

د ډیرو کلونو په اوږدو کې، د اقتصادی شرایطو او د فنی د کادرونو د موجودیت په اثر د طبابت او درمل جوړولو په چارو کې نسبی پراختیاوی منځ ته راغلی دی.

د پوهنتون د ریاست په هکله باید وویل شی چې د طب پوهنځی د ۱۳۱۱ کال د عقرب په میاشت کې افتتاح او د هغه د تاسیس په لومړیو کلونو کې یعنی د ۱۳۲۵ کال د جدی تر میاشتی پوری د ۱۴ کلونو د پاره د طب د پوهنځی اداری او تدریسی چاری د ترکی پروفیسورانو له خوا اداره کیدلی.

خو په نوموړی نیټه فرانسوی پروفیسوران رویکار شول او د پروژی لایحه چې د وزیرانو د عالی مجلس د تصویب او د پاچا د منظوری په اساس د ۱۳۳۲ تر پای پوری یې لازم فعالیتونه تر سره کول مرعی الاجرا وه.

د وخت د ذیصلاح مقاماتو د ثوابدید له مخی پخوانۍ پروژه د جدی میاشت کې لغو او نوی لایحه رویکار شوه چې د دی په اساس د طب پخوانی

پوهنځی تجزیه شو او دوه ځانګړی ریاستونه چې یو یی د پوهنتون د روغتیایی موسساتو او بل یې د طب د پوهنځی د ریاست په نوم چې د ښځینه او نارینه پرستاری مکتب او د پوهنځی د لوست خونو برخه، لابراتوارونه، اداری او تدریسی دایری پکې شاملی وی تشکیل شو.

د طب د فاکولتی ریاست تر ۱۳۳۲ کال پوری ۱۵۴ تنه دوکتوران فارغ کړی دی. د دې کال د تلی میاشتی په وروستیو کې د ترکی د جمهوری حکومت څلور تنه پروفیسوران د طب د پوهنځی تعلیمی کرسۍ د اشغال د پاره استخدام شوی چې دوچنت ندار برکن د فارمکولوژی پروفیسور په دې جمله کې شامل وو.

د تشکیلاتو له نقطه نظره د مخکنیو کلونو په پرتله پراختیاوی په کې شته دی. خو د ټولو برخو یې یادونه شوی نه ده، چې دلته د ۱۳۳۳ کال د عامی روغتیا وزارت تشکیل په دې ډول و.

د روغتیا وزیر: ع،ج داکتر غلام فاروق

معین: ع،ص داکتر عبدالظاهر

د ملاریا د مجادلی رئیس: ع، ص داکتر عبدالرحیم

د پوهنی وزارت سرطبیب: ع سید غلام رضا او داکتران یې ص عبدالغنی او ص محمد یونس دی.

د پوهنی په وزارت کې په دې سنه کې ۱۲۹٦۸ تنه متعلمان او متعلمانی معاینه او تداوی شوی، د ۸۲۹۴ په شمیر متعلمین او متعلمانی د محرقی ضد واکسیناسیون، ۱۸۱۱ تنه پانسمان او ۲۴۱۹۲ تنه د پوهنی وزارت په روغتون کې معاینه، تداوی او معالجه شوی دی. او همداشان د ۱۱۲۵ تنو د پاره د ویتامین ګولۍ ورکړ شوی دی.

بل ریاست یې چې د روغتیایی (صحی) موسساتو په نامه بیل شوی دی چې د کالنی په ۲۱۰ مخ کې تری یادونه شوی ده د هغه په سرکې محمد عمر خان درمل جوړونکی وظیفه اجرا کوله.

په دې موسسه کې زرقی محلولات هم تهیه کیدل او د صحی موسساتو روغتونونو ته توزیع کیدل. دا ستره دواخانه د ریاست د ګردو روغتونونو سره کلی ارتباط درلود او د اړوندو څانګو د ضرورت وړ مواد له همدې دیپو څخه تهیه او تر اجرا لاندې نیول کیدل.

د ۱۳۳۳ کال د تلې په میاشت کې د روغتیا په وزارت کې د فنی محاسبې مدیریت په کار پیل کړی چې درمل او لوازم یې ولایتونو ته لیږلی دی.

د بلخی ابن سینا د درملو عمومی دیپو د ۱۳۳۳ کال لومړۍ ځخه د یوی تجارتی موسسی په شکل تبدیل او د یوی ځانګړی اساسنامی په اساس چې د وزیرانو د عالی شورا له خوا تصویب او د پاچا له خوا صحه شوی وه د نوموړی موسسی په واک کې ورکړ شو چې اړوندی دندی اجرا کړی.

د فارمسی د چارو ریاست د خپل کار په پیل کې د درملو او طبی استهلاکی سامان آلاتو د تورید د پاره چې د وخت د عامی روغتیا پوری تړاو درلود په ۱۳۳۱ کې د درمل واکی په نوم مدیریت ایجاد کړ او ورو ورو یې د ضرورت له مخی په ۱۳۳۳ په لومړنی پانګی چې ۳۱ ملیونه افغانی کیدلی د درملو د عمومی دیپو په نوم د یوی دولتی بشپړی تصدی په صورت د وخت د عامی روغتیا وزارت تر اثر لاندې تغییر شکل وموند چې په هغه وخت کې دی تصدۍ د روغتونونو او دولتی روغتیایی ځانګو د درملو طبی استهلاکی سامان آلاتو د اکمال وظیفه په غاړه درلودله.

دغه موسسه کې لاندې کمیتو فعالیت درلود:

الف: د موسسی عالی شورا له پنځو تنو ځخه متشکله وه چې د عامی روغتیا وزیر د رئیس په توګه، د مالیی وزیر، د موسسی رئیس دوکتور عبدالظاهر، د صحی موسساتو رئیس دوکتور فقیر محمد شفا او همدارنګه د قوای مرکز د روغتون د جراحی دوکتور محمد قاسم عسکریار د غړو په توګه.

ب: د اداری مجلس: د ۱۳۳۳ کال د غبرګولی په میاشت کې یې غړی شپږ تنه مقرر شول.

ج: د نظار هئیت: په دې هئیت کې ځلور تنه شامل وو، چې د ملی دفاع وزارت د عینیاتو مدیر دواساز ټولمیشر محمد یاسین هم په دې هئیت کې شامل و.

د معامله لرونکی کمپنی ګانو سره د درملو او صحی مالزمی تورید په هسی شان و چې د مشهورو کمپنیو سره به مفاهمه کیدله لومړی به یې د درملو او صحی مالزمی قیمت ځانته معلوماوه او بیایې د اداری مجلس تر تصویب وروسته د دیپو ګانو د ریاست د کمیت او کیفیت له مخی اجرات کول.

د موسسی په اداری تشکیل کې د پلټنی مدیریت، د خرڅلاو مدیریت، د تحریراتو ماموریت، د پانو ماموریت او د لابراتوار مدیریت شامل و.

دې موسسی په ۱۳۳۳ کې پنځه لکه دوه اتیا زره افغانۍ د بازار او خارج د خریداری په نسبت د زرقی محلولاتو له بابته ګټه ښودلی وه. چې ټول تولیدات یې په دې ډول وو:

- ګلوکوز سیروم ۲۰ سی سی شل فیصده ۸۰۰۰ امپول
- ګلوکوز سیروم ۵۰ سی سی پنځه فیصده ۲۰۰۰ امپول
- فزیولوژیک سیروم ۵۰۰ سی سی اته فی هزار ۸۰۰۰ بوتل
- د انتی بیوتیک او سلفامیدونو لګښت په ۱۳۳۳ کې په لاندې ډول محاسبه شوی دي:
  - ستریپتومایسین ۱۲ کیلو ګرام
  - پنسلین ۸۰۰۰ ملیون
  - ارومایسین ۲۵۰ ملی ګرامه ۳۰۰ بوتله
  - تیرامایسین ۲۵۰ ملی ګرامه ۲۵۰ بوتله
  - کلورمایسین ۲۵۰ ملی ګرامه ۱۵۰ بوتله
  - سلفامید تابلیت ۲۰۰۰۰۰ دانی
  - سلفامید امپول ۴۰۰۰۰ دانی

پر دې برسیره یوه زیاته اندازه ویتامینونه، هورمونونه او نور چې له بهر څخه تورید شوی و هم مصرف شوی دی.

له ۱۳۳۰-۱۳۳۳ پوری د ادویی د دیپو ریاست دوه لوی تعمیرونه یویی د میوند د جادی په لومړۍ برخه کې د سردار محمد هاشم خان د ادویه فروشی په نوم او بل یې چې د ادویی د دیپو ریاست الحاقیه وه (د ځلورمی کارتی درملتون) تکمیل شوی وو.

په دې درملتونونو کې د هغو د تاسیس له وخته تر اوږدو کلونو پوری د ترکیبی درملو زیات اقلام جوړشوی دی. په دې ودانیو کې چې پراخه ساحه یې درلودله او ټول هغه موازین او مقررات چې د یوه درملتون د پاره لازم دی په نظر کې نیول شوی وو.

افغانستان د یوه هغسې اقلیم درلودونکی دی چې د حاری، مدیترانی اوو چې سیمی نباتات پکې راټو کیدلی او د افغانستان طبی نباتات له یوه پلوه ډول ډول دی او د بلې خوانه د ښه کیفیت درلودونکی دی، نو له دی امله د طبی نباتاتو صادارت د سوادگری د عمده اقلامو څخه گڼل کیږی. د نمونی په ډول د ۱۳۳۵ کال د جدی د میاشتی د اردو د مجلی کالنی کتلای شو چې د افغانستان د مختصری جغرافیه د موضوع په ۱۹ مخ کې یې انعکاس موندلی دي[۱].

په دې برخه کې د افغانستان د صادراتو او وارداتو په هکله داسی نظر اچول شوی دی.

صادرات:

درمل او طبی نباتات: له دې ډول نباتاتو او درملو څخه له بدخشان، جلال آباد او هرات څخه تریاک، شیرخشت او ترنجبین، له هرات څخه هنگ (انجه)، له شمالی ولایتونو څخه د کابل په لار صادریږی.

پردې برسیره غرني خود رویه نباتات او بوټی چې د خلکو له خوانه راټولیږی او بهرته لیږل کیږی. په دې وروستیو کې (۱۳۳۵) د همدې منظور د پاره «د بوټو شرکت» په نوم یو شرکت تاسیس چې د اداری مرکز یې په کابل کې دی.

واردات: آلات، طبی او کیمیاوی درمل، له انگلستان، المان، فرانسی، جاپان، امریکا او نورو څخه واردیږی.

لکه چې مخکې یادونه شوی چې د درمل جوړولو کورسونو او ښوونځیو ډیر کلونه دوام درلود ترڅو چې په کال ۱۳۳۸ کې د کابل د طب پوهنځی په څنگ کې د لومړنی پنځه کلن پلان د تطبیق په خاطر چې د هغه وخت دولت لسانسه فارمسستانو ته مبرم ضرورت درلود، د فارمسی پوهنځی تاسیس شو.

پوهنځی د لاندې اهدافو د سرته رسولو په موخه تاسیس شو:

۱- په عصری، علمی او تخنیکی اصولو د درملو په تورید، تولید، توزیع او کنترول کې فعاله برخه اخستل.

---

۱ - سالنامه صحیه اردو ماه جدی سال ۱۳۳۵ ص-۱۹

۲- د دولتی، روغتونونو، ښاری روغتونونو او نورو موسساتو مسلکی او فنی چارو پرمخ بیول.

۳- د ناروغیو د تشخیص د لاربښوونی او مرستی په خاطر د بیولوژیکی موادو تجزیه او تحلیل، باکترلوژیکی معاینات، میکروبیولوژی او پرازیتی لابراتوارونو کې فنی او مسلکی چاری پرمخ بیول.

۴- په لابراتوارونو کې د غذایی موادو، سمی، معدنی او طبی اوبو د عامی روغتیا له نظره تجزیه کولو کې فعالیت.

۵- د هېواد طبی بوټو مطالعه او ښی عرضی او بهره برداری طریقی لټول چې په نیتجه کې د هېواد د ملی اقتصاد تقویه کولو په خاطر د بوټو فعال پرنسیبونه استخراج او د طبی بوټو صنایع منځ ته راوړل.

پوهنځی د طبی بوټو، فارمسوتیک، میکروبیولوژی، توکسیکولوژی، تحلیلی او عضوی کیمیا، بیوشیمی او تغذی، فارمسوتیک او میکروبیولوژی دیپاتمنتونو څخه عبارت و.

لومړی دوره فارغان یې په کال ۱۳۴۱ کې صورت موندلی او د ۱۳۸۱ کال تر آخره پوری (جنوری ۲۰۰۳) ۱۷۶۴ تنه فارغان یې ټولنی ته وړاندی کړی دی.

په دې پوهنځی کې برسیره پر افغانی هلکانو او نجونو فلسطینی، ایرانی، عراقی او د دیورېند د کرښی پوری غاړه محصلینو تحصیل کړی دی.

که چیرته په فشرده توګه د عامی روغتیا وزارت دندی وشمیرو هغه عبارت دی د روغتونونو د شبکو له تاسیس، د سناتوریمو د تاسیس، حفظ الصحوی تبلیغات، او د طبیبانو او طبی منځنی پرسونل روزنه او استخدام دی.

مونږ دلته د پورتنی موضوع په اړوند د افغانستان د طبابت او فارمسی منظره تر سیموو «په افغانستان کې د پنځلسو ملیونو د عامی روغتیا تر نظر لاندې د ۱۳۴۰ (۱۹۶۱م) د رسمی احصائیی مطابق د ۵۹ روغتونونو، پنځو زایشګاوو، د توبرکلوز د پنځو سناتوریمونو، ۱۹ لابراتوارونو، ۱۸ اکسریز، ۱۵۷ درملتونونو، ۲۱۱۱ بسترو، ۲۵۰

داکترانو، ۶۹ معاون داکترانو (روغتیا پالانو) په واسطه مراقبت او تداوی کیږي»[۱].

دلته د ځنی نورو هېوادونو په پرتله ګورو چې یو طبیب د څومره وګړو په خدمت کې دی:

- ☜ هر طبیب د روغتیا پالانو (معاون طبیب) په شمول د هېواد ۵۰۰۰۰ تنو ته رسیږی
- ☜ په پاکستان کې هر طبیب ته ۱۴/۸ زره تنه
- ☜ په ایران کې هر طبیب ته ۸/۶ زره تنه
- ☜ په هندوستان کې هر طبیب ته ۴/۹ زره تنه
- ☜ په ترکیه کې هر طبیب ته ۴۰۰۰ تنه

د افغانستان ټول روغتیایی فنی پرسونل ۱۳۰۰ تنه دی.

د عامی روغتیا وزارت بودجه په کال ۱۳۴۰ کې ۹۶ ملیونه افغانی وی او د صحی موسساتو ریاست بودجه ۲۰/۴ ملیونه افغانی وی.

د هېواد عمومی مصارف پنځه ملیارده او دری دیرش ملیونه افغانی وی چې د هغه جملی څخه عمومی صحت ته ۲/۶۳ فیصده مصارف په کال ۱۳۴۰ کې منل شوی وو.

د بهرنۍ سوداګری په هکله باید وویل شی چې دغلی د تهیی موسسات، د درملو دیپو، د دولتی انحصاراتو ریاست شرکت او ټولو موسسو زیاتره په تجارت کې د دولت لاس دخیل ساتلی دی.

د میوو، غالیو، غوړی درلودونکو حبوباتو، طبی نباتاتو، لرګو او داسی نورو صادریدل چې د دولتی پانګی په ګډون په شخصی خصوصی شرکتونو پوری مربوط دی ترسره کیږی.

له ۱۳۴۰ کال د مخه د کولمو صادراتی ګمرکی تعرفه پنځه فیصده او د طبی نباتاتو دیرش فیصده وه طبی نباتات تر ۲۰۰۰ ټنو پوری هند او ایران ته او د هنګ یوکم مقدار چین ته صادریدل، د افغانستان د وارداتی مالونو عمده صنایع په کال ۱۳۴۰ کې درمل او طبی سامان آلات د غربی اروپا هېوادونو څخه وو.

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل ۱۳۴۶ مطبعه دولتی ص-۱۶

ځرنګه چې زمونږ په وطن فارمکوپیا (کودکس) نشته او د دی د پاره چې درمل صرف د سوداګرۍ د مالونو په توګه کتل شوی نه وی او درمل د دی د پاره چې د درملنی او د ناروغیو د مخنیوی د پاره اغیزمنه شوی وی او تجارتی جنبی یې په نظر کې نه وی په همدې منظور په کال ۱۳۴۵ د عامی روغتیا وزارت د پوهنتون د صحی موسساتو او د ملی دفاع وزارت د استازو څخه یوه مرکبه کمیته تشکیله شوه چې په مملکت کې د تولیدی او توریدی درملو اقلام مطالعه شی. هماغه و چې نوموړی کمیټی افغان لومړنی فورمولیر تدوین کړ او له درو تر پنځو کلونو تر تیریدلو پورې یې دا هدف تعقیب کړی دی.

تر ۱۳۵۲ کال پورې په فورمولیر کې عمدتاً پتنت درمل شامل و ترڅو چې په همدې کال د جنریک درملو روحیه منځ ته راغله او وروستی فورمولیرونه په همدغه روحیه تدوین او طبع شول چې اوم طبع یې په کال ۱۳۸۶ وطنوالو ته وړاندی شو.

د نړۍ روغتیایی اداری په کال ۱۳۵۵ کې اعلان وکړ چې د کوی (چیچک) ناروغی په کلی توګه له منځه تللی ده.

د جمهوریت څخه تر لنډ مهالی دوری پورې د افغانستان طبابت

محمد داود خان د صدارت او هم د جمهوریت په دوره کې د افغانستان روغتیایي حالت ته پراختیا ورکړه او په ولسوالیو کې د روغتیایی مرکزونو تعداد زیات شو.

هغه ډیر مهم کار چې د عامی روغتیا او د مسلحو قواو د روغتیا په برخه کې صورت موندلی د جمهوریت روغتون بنسټ کیښودل او د اردو مرکزی روغتون (۴۰۰ بستر) پرانیستل وو. دغه دواړه روغتونونه د هغه وخت ډیر مختللی طبی سامان آلات او تخنیک سره مجهز شوی وو.

د روغتونونو د تاسیس له مخی ویلای شو چې په کابل او ولایتونو کې روغتونونه موجود و او حتی تر ۱۳۵۷ کال د مخه هیڅ یوه داسی ولسوالۍ نه وه چې اساسی صحی مرکزونه او حتی ځینی فرعی مرکزونه نه درلودل. چې په ګردو روغتونونو او صحی مرکزونو کې د تحصیلی مختلفو سویو درلودونکو طبی کارکوونکو فعالیت درلود او درملتونونه په دې موسسو کې پرانستل شوی وو.

خو بیا هم ویلای شو چې افغانستان د صحی خدمتونو د عرضه کولو له مخی په ډیره ټیټه سطحه کې موقعیت درلود. لکه چې د ملګرو ملتونو د امارو په اساس افغانستان په ۱۳۵۴ کال د صحی خدماتو له مخی په نړۍ کې ۱۱۹ مقام نیولی و.

دلته د ۱۳۵۶ کال په اړوند یو شمیر ارقام چې (موفقیت مردم افغانستان) په مقاله کې چاپ شوی دی نقل کیږی:

- د طب د دوکتورانو شمیر ۸۸۶ تنه
- د فارمسستانو شمیر ۱۲۸ تنه
- د دولتی درملتونونو شمیر ۴۲ بابه
- د روغتونونو شمیر ۵۴ بابه
- د بسترو شمیر ۳۱۹۵ پایی
- د اساسی صحی مرکزونو شمیر ۱۴۸ باب
- د فرعی مرکزونو شمیر ۷۵ بابه
- د دولتی لابراتوارونو شمیر ۱۶۰ بابه
- د کورنیو د لاربښوونو انجمنونو کلنیکونو شمیر ۴۲ بابه
- د مور او ماشوم حمایی د مرکزونو شمیر ۱۲ بابه
- د غاښونو کلنیکونو ۵۲ بابه
- د وینی د بانک نمایندګی ۱۲ بابه

د ۱۳۵۷ احصائیه دا ښئ چې د داکترانو تعداد ۸۸۶ تنه دی چې د هېواد د نفوس په پرتله یو داکتر ۱۷۰۰۰ تنو ته تصادف کوی. همدارنګه ۹۹۷ تنه نرسان موجود وو چې یو نرس ۱۵۰۰۰ تنو ته تصادف کوی.

که چیرته د ۱۳۵۷ کلونو را وروسته نظر واچول شی متأسفانه لکه څنګه چې د ټولنی انسانی ځواک. مادی او معنوی نیرو د وحشیانه ګوزارونو لاندې راغله «په تیره بیا د شوروی د پوځی مداخلی راوروسته چې د افغانستان جنګ زور واخیست او سراسری شکل یې ونیو چې د دوو ملیونو انسانانو د له منځه تللو، یو ملیون معیوبینو، د پنځه ملیونو او ارګانو ګاونډیو هېوادونو ته باعث شو» دوی ځان له نه وو بلکې طبی او فارمسی مستعد کادرونه هم له کاره ګوښه شول او ځینی زندان ته واچول شول.

د دې جګړی څخه را پیدا شوی زیانونه ۴۸ روغتونونه او ۱۱۷ صحی مرکزونه دی د دی ناخوالو با وجود د طب د ودی او تکامل ساه په چلیدلو کې وه.

که چیرته تر ۱۳۵۷ کال را وروسته کلونو کې د طب پراختیا په فشرده ډول ارزیابی کړو ویلای شو:

☜ د دولتی شبکو، روغتونونو، کلینیکونو، درملتونونو، د طبی لومړنیو مرستو مرکزونو او همداشان د ښاریانو او د کلیو د اوسیدونکو د وړیا درملنی په خاطر د لازمو زمینو د برابرولو چې ناڅیز عواید لری د هراړخیزی ودی او پراختیا لپاره کومکونه او د ۱۳۶۰-۱۳۶۴ کلونو په اوږدو کې د روغتونونو د بسترو شمیر ۳۲%، د داکترانو شمیر تقریباً دوه مراتبه زیاتښت موندلی دی[1].

☜ د دولتی د سرتاسری او همګانی سیستم ایجاد، د مامورینو او مستخدمینو د پاره د صحی بیمی، د دولتی سیستم وده، د زړو او معلولینو او متقاعدینو لپاره ټولنیز تامینات.

☜ د کار مصئونیت د ساتنی د سیستم، د مور او ماشوم د حمایی د سیستم او د وړکتونونو او شیر خوار ګاوو د سیستم ایجاد.

☜ د طبی لوړو زده کړو په باب باید وویل شی چې په منځنی ډول هر کال له ۱۵۰ تنو داکترانو څخه زیات ټولنی ته وړاندی شوی دی.

لکه چې په ۱۳۶۴ کې ۱۸۹۶ تنه محصلین د طب په پوهنځی کې او ۶۸۲ تنه د ننګرهار د طب په پوهنځی کې په زده کړه لګیاوو.

☜ د مرکز په روغتونونو کې د جراحی او داخله په څانګو کې تخصصی تربیوی پروګرامونه په تیره بیا د جمهوریت په روغتون، د سلو بسترونو په حجم د ابن سینا د عاجل روغتون فعالیدل، د کندهار په ولایت کې ۱۰ بستری، په هرات کې ۴۰ بستری د نور د څانګو ایجادیدل. د اندراګاندی روغتون (د ماشوم د روغتیا موسسی) پراختیا ۲۵۰ بسترو ته، د فزیکی معیوبونو د

---

۱ - پلان گذاری علمی اقتصاد ملی و جهات اساسی رشد اقتصاد ملی – اجتماعی ۱۳۶۵-۱۳۶۹ ص-۱۵

پاره د سل بستریز روغتون ایجاد په مرکز کې، د ۴۰ بسترو په ظرفیت په ننګرهار کې، په بدخشان کې د معتادینو د پروژې ایجاد، په رحمن مینه، خیرخانه مینه کې د ۵۰۰ تنو په قبلولو د مستقلو پولی کلنیکونو پرانستل او همداشان د ورته کلنیکونو پرانستل د قندهار په ښار کې، د ۶۰۰ لیترو وینې په ظرفیت د وینې د مرکزی بانک فعال کیدل، په ورځ کې د ۶۰۰ ناروغانو پرمنلو د ښار مرکزی کلنیک پرانستل او د هرات دوه سوه بستریز حوضوی روغتون تاسیس کیدل.

- ☜ د اساسی صحی مرکزونو شمیر ۱۵۷ او د فرعی ۱۳۲ بابو ته زیاتښت موندلی دی.
- ☜ د کندز د روغتون د بانک د وینې عمارت، مرکزی پولی کلنیک، د ماشوم د روغتیا روغتون، نسایی ولادی روغتون او د ستونی اوغوږ و روغتون د ودانیو لپاره د مرستو جلبول.
- ☜ د سلو ماشومانو په ګنجایش په کارګری قصبه کې د ۲۵۰ ماشومانو د پاره په خوشحال مینه کې د ۲۵۰ ماشومانو لپاره په خیرخانه او د کابل د ښار په نورو سیمو کې په تیره بیا د ښار په موسساتو او فابریکو کې وړکتونونو ایجادول.

په لاندې جدولونو کې یو لړ ارقام په ۱۳۶۴ کې وړاندی کیږي:

- ➢ د طب د دوکتورانو شمیر ۱۱۵۰ تنه
- ➢ د فارمسستانو شمیر ۲۶۴ تنه
- ➢ روغتونونو شمیر ۶۴ بابه
- ➢ دولتی درملتونونه شمیر ۵۳ بابه
- ➢ بستری شمیر ۴۷۰۶ پایی
- ➢ اساسی صحی مرکزونه شمیر ۱۵۷بابه
- ➢ فرعی صحی مرکزونه شمیر ۱۲۲ بابه
- ➢ د انجمن رهنمای خانواده کلنیکونه شمیر ۴۹ بابه
- ➢ د مور او ماشوم د حمایی مرکزونه ۲۰ بابه
- ➢ د غابښونو کلنیکونه شمیر ۵۸ بابه

- د وینې د بانک نمایندگۍ شمیر ۲۰ بابه

په متوالی ډول د بسترو شمیر په لاندې ډول دي:

- په ۱۳۵۵ کال کې ۲۸۶۷
- په ۱۳۵۶ کال کې ۳۱۹۵
- په ۱۳۵۷ کال کې ۳۲۳۷
- په ۱۳۵۸ کال کې ۳۹۴۴
- په ۱۳۵۹ کال کې ۴۰۴۰
- په ۱۳۶۰ کال کې ۴۳۰۸
- په ۱۳۶۱ کال کې ۴۳۰۸
- په ۱۳۶۲ کال کې ۴۴۲۱
- په ۱۳۶۳ کال کې ۴۷۱۶

په لاندې جدول کې د روغتونونو او د هغو د بسترو پراختیـــا او تیتوالی له ۱۳۶۴-۱۳۶۷ کلونو پورې تر ارزیابی لاندې نیول کیږي

ګڼه	د روغتون نوم	د ۱۳۶۴ کال د بسترو شمیر	د ۱۳۶۷ کال بسترو شمیر
۱	وزیر اکبر خان	۲۵۰	۲۵۰
۲	جمهوریت	۲۵۰	۳۰۰
۳	ملالۍ زیږنتون	۲۷۰	۳۷۰
۴	صدری کلنیک	۸۰	۹۰
۵	موسسه نور (چشم)	۱۱۵	۱۲۴
۶	صحت طفل اندراګاندي	۲۵۰	۳۰۰
۷	د ماشومانو دولتی روغتون (اتاترک)	۱۱۰	۱۳۰
۸	د میرمنو سناتوریم	۷۵	۷۰
۹	عاجل روغتون	۱۳۰	۱۱۱
۱۰	ساری روغتون	۱۴۰	۱۲۰
۱۱	علی آباد روغتون	۵۸۸	۶۲۱
۱۲	میوند روغتون	۳۵۰	۳۱۶
۱۳	ستوماتولوژي	۱۵	۱۵
۱۴	احیای مجدد	۱۰۰	۱۰۰
۱۵	پغمان	۱۰	۱۰
۱۶	میربچه کوټ	۱۰	۰

ګڼه	د روغتون نوم	د ۱۳۶۴ کال د بسترو شمیر	د ۱۳۶۷ کال بسترو شمیر
۱۷	صحت رواني	۱۰۰	۰
۱۸	چاریکار	۳۰	۴۰
۱۹	کاپیسا	۱۰	۰
۲۰	غزني	۴۰	۴۰
۲۱	ګردیز	۲۰	۲۰
۲۲	خوست	۴۵	۴۵
۲۳	جاجي	۱۰	۰
۲۴	چمکني	۲۰	۰
۲۵	کټواز	۱۰	۰
۲۶	ارګون	۱۵	۰
۲۷	شرن	۱۰	۰
۲۸	جلال آباد	۴۰۰	۴۰۰
۲۹	شینوار	۱۰	۵۰
۳۰	صحت دماغی	۶۰	۶۰
۳۱	میترلام	۲۰	۲۰
۳۲	اسد آباد	۲۰	۲۰
۳۳	فیض آباد	۳۰	۳۰
۳۴	تخار	۲۰	۱۰
۳۵	رستاق	۱۰	۷۵
۳۶	بغلان	۶۰	۱۰
۳۷	پلخمری	۱۰	۱۰
۳۸	قندوز	۱۵	۲۰
۳۹	خان آباد	۲۰	۲۰
۴۰	دشت ارچی	۲۰	۲۰
۴۱	سمنګان	۳۰	۴۰
۴۲	د بلخ ولسوالی	۱۰۵	۱۴۰
۴۳	شبرغان	۲۵	۲۵
۴۴	آقچه	۲۰	۲۰
۴۵	میمنه	۳۰	۶۰
۴۶	اندخوی	۲۰	۲۰
۴۷	قلعه نو	۲۰	۲۰
۴۸	بالا مرغاب	۱۰	۱۰
۴۹	هرات	۲۰۰	۲۴۰
۵۰	غوریان	۱۰	۰
۵۱	نور هرات	۴۰	۴۰
۵۲	شیندند	۱۰	۱۰
۵۳	فراه	۳۰	۵۰

ګڼه	د روغتون نوم	د ۱۳۶۴ کال د بسترو شمیر	د ۱۳۶۷ کال بسترو شمیر
۵۴	نیمروز	۲۰	۵۰
۵۵	هلمند (بست)	۹۰	۱۰۰
۵۶	قندهار	۲۶۰	۲۶۰
۵۷	قلات	۲۰	۲۰
۵۸	ارزگان	۲۰	۳۰
۵۹	چغچران	۲۰	۳۰
۶۰	بامیان	۵	۱۵
۶۱	میدان وردګ	۱۰	۰
۶۲	د جلریز جذام	۸	۰

د طب د کارمندانو په لومړنی کنګره کې (۱۳۵۹ جوزا) د فارمسی د مرستو د عرضی د بهبود او د دولتی د درملتونونو د شبکی د پراختیا په برخه کې د فارمسی د چارو رئیس پوهاند دوکتور سید الف شاه غضنفر پنځه کلن پلان په درو مادو کې خلاصه کړ.

۱- په مرکز، ولایتونو او ولسوالیو کې د دولتی درملتونونو تاسیس.

۲- د بلخ، قندهار، بغلان، پکتیا، هرات او ننګرهار په ولایتونو کې په عمده ډول د درملو د خرڅولو د مرکزونو تاسیس.

۳- په هغو صحی مرکزونو کې چې دولتی عصری ودانۍ لری د بلخی ابن سینا د درمل پلورلو د ځانګو پرانستل.

تر کومه ځایه چې اسناد لاس ته راغلی د فارمسی د چارو ریاست او خصوصی سکتور د درملی موادو پلورل او پیرودل او درملتونونو تعداد په لاندې ډول دي:

په ۱۳۵۶ کال کې دری بابه دولتی درملتونونه په کابل او ۱۵ بابه په ولایاتو کې موجود وو چې دا ارقام په ۱۳۵۹ کې په کابل کې ۱۵ بابه او په ولایاتونو کې ۳۳ بابه چې له دی جملی څخه ۱۱ بابه په روغتیایی مرکزونو او ولسوالیو کې موجود وو.

الف: د دولتی سکتور په بخش کې

۱- د دولتی سکتور په واسطه د درملو تولید

گڼه	شاخصونه	پلان	د پلان تطبيق	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	-	۸۸۷۹۵۲۵۹	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	-	۱۱۹۹۳۵۶۲۴	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	-	۱۲۱۵۶۸۵۹۳	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۱۱۱۸۵۲۵۹۶	۵۷۴۱۷۱۴۰	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۶۲۵۸۶۱۸۰	۵۲۵۶۲۷۱۹	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۹۶۷۳۲۱۱۰	۱۰۲۸۰۴۷۱۵	
۷	په ۱۳۶۳ کال کې	۱۲۹۶۴۳۶۵۰	۱۳۳۸۱۶۲۰۸	
۸	په ۱۳۶۴ کال کې	۱۲۸۶۴۱۸۴۵	۱۴۷۳۲۶۵۲۹	
۹	په ۱۳۶۵ کال کې	۱۵۲۹۰۸۴۵۰	۱۶۹۳۳۹۷۴۵	
۱۰	په ۱۳۶۶ کال کې	۱۷۴۶۶۴۱۵۰	۲۱۶۷۶۹۴۷۲	
۱۱	په ۱۳۶۷ کال کې	۲۴۴۱۹۹۴۵۰	۲۲۰۸۱۵۱۰۹	
۱۲	په ۱۳۶۸ کال کې	۲۴۹۷۳۷۳۳۰	۰۳۱۰۴۶۳۴2	
۱۳	په ۱۳۶۹ کال کې	۲۵۲۶۳۸۹۱۰	۱۹۹۷۶۷۰۸۶	

۲- د دولتی سکتور په واسطه د درملو او ځینی طبی استهلاکی تجهیزاتو تورید

گڼه	شاخصونه	پلان	حقیقی اجرأت	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	-	۱۴۵۳۰۷۸۱۹	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	-	۳۴۳۷۱۸۸۲۲	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	-	۵۱۹۸۹۶۹۸۴	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۲۴۵۸۱۵۰۰۰	۱۲۵۳۸۱۷۳۴	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۲۸۴۰۶۰۰۰	۷۴۰۰۰۰۰۰	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۳۵۵۲۶۸۰۰۰	۳۷۲۶۹۷۲۱۴	
۷	په ۱۳۶۴ کال کې	۴۴۲۲۱۲۰۰۰	۲۶۱۰۰۴۰۵۲	
۸	په ۱۳۶۵ کال کې	۵۰۲۳۳۴۰۰۰	۵۴۰۷۱۱۳۵۶	
۹	په ۱۳۶۶ کال کې	۶۸۸۹۰۰۰۰۰	۷۸۲۳۳۹۲۰۲	
۱۰	په ۱۳۶۷ کال کې	۶۹۰۰۰۰۰۰۰	۷۹۸۰۷۶۵۷۷	
۱۱	په ۱۳۶۸ کال کې	۸۰۰۶۰۵۰۰۰	۸۰۱۰۰۰۰۰۰	
۱۲	په ۱۳۶۹ کال کې	۱۰۰۹۴۵۸۰۰	۲۲۰۳۳۶۱۴۹۱	

۳- د دولتی سکتور په واسطه د درملو او ځینی طبی ملزمو عرضه

ګڼه	شاخصونه	پلان	حقیقی اجرأت	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	-	۳۲۹۳۶۳۰۷۱	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	-	۳۲۲۰۹۱۴۱۳	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	-	۴۱۳۹۴۷۶۷۰	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۴۰۸۰۶۸۰۰۰	۳۱۱۹۵۴۲۶۴	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۳۷۳۳۱۰۰۰۰	۳۷۵۳۷۱۳۷۸	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۴۹۰۳۷۰۰۰۰	۵۴۹۲۱۵۶۷۳	
۷	په ۱۳۶۳ کال کې	۵۷۰۳۶۰۰۰۰	۶۴۵۶۴۴۴۱۲	
۸	په ۱۳۶۴ کال کې	۶۶۰۶۶۲۰۰۰	۷۲۲۵۳۱۹۸۶	
۹	په ۱۳۶۵ کال کې	۷۴۴۹۵۰۰۰۰	۸۷۹۹۱۲۳۳۷	
۱۰	په ۱۳۶۶ کال کې	۹۰۳۱۵۸۰۰۰	۱۱۰۹۷۶۰۱۷	
۱۱	په ۱۳۶۷ کال کې	۹۸۰۰۰۰۰۰۰	۱۲۱۴۹۸۸۹۹۶	
۱۲	په ۱۳۶۸ کال کې	۱۱۲۱۲۵۰۰۰	۱۷۸۰۴۸۵۸۶۶	
۱۳	په ۱۳۶۹ کال کې	۱۴۱۳۷۵۰۰۰۰	۲۰۱۴۷۳۸۸۳۹	

ب: د خصوصی سکتور په برخه کې

۱- د افغانستان د هوخست په سهامی شرکت کې تولید.

د افغانستان د هوخست فابریکه په ۱۳۵۱هـ.ش په ۱۰۳ ملیونه افغانیو دورانی پانګی چې ۴۹% المان او ۵۱% افغانستان تشکیلوله، تاسیس شوی دی. په دې فابریکه کې له پنځوس قلمونو زیات درمل تولید شوی چې کلنی فعالیت یې په اوسنی وخت کې دری ملیارده افغانی کیږی. دا موسسه د ۱۳۷۰هـ.ش د جدی تر میاشتی پوری یو اعشاریه څلور ملیارده افغانی فروشات درلودلی دی. دا فابریکه د عصری فابریکو څخه ده چې په نیمه اتومات او اتومات دستګاو باندې فعالیت کوی او درملی مواد یې لوړ کیفیت لری.

ګڼه	شاخصونه	پلان	حقیقی اجرأت	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	۲۲۵۰۰۰۰۰۰	۲۹۷۲۶۶۱۵۲	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	۳۳۰۰۰۰۰۰۰	۲۸۵۷۵۹۱۵۴	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	۳۸۵۰۰۰۰۰۰	۳۵۰۰۱۶۳۵۵	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۴۶۰۰۰۰۰۰۰	۴۱۸۳۰۷۲۸۲	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۵۵۰۰۰۰۰۰۰	۴۹۲۲۷۱۹۱۵	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۵۵۰۰۰۰۰۰۰	۴۹۳۴۱۶۰۷۵	
۷	په ۱۳۶۳ کال کې	۵۵۰۰۰۰۰۰۰	۴۴۶۷۷۰۳۶۰	
۸	په ۱۳۶۴ کال کې	۷۵۰۰۰۰۰۰۰	۶۴۸۴۱۷۱۰۷	
۹	په ۱۳۶۵ کال کې	۷۵۰۰۰۰۰۰۰	۶۲۵۹۰۶۳۹	
۱۰	په ۱۳۶۶ کال کې	۷۵۰۰۰۰۰۰۰	۷۳۰۹۰۴۲۱۹	
۱۱	په ۱۳۶۷ کال کې	۸۰۰۰۰۰۰۰۰	۶۹۹۷۲۶۸۷۱	
۱۲	په ۱۳۶۸ کال کې	۸۰۰۰۰۰۰۰۰	۶۷۴۵۵۶۷۵۷	
۱۳	په ۱۳۶۹ کال کې	۱۸۰۰۰۰۰۰۰	۱۳۴۸۰۰۰۰۰	

۲- د صدیق لابراتوار تولید

ګڼه	شاخصونه	پلان	حقیقی اجرأت	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	۱۲۸۴۲۰۰۰	۸۵۴۱۱۸۵	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	۱۱۵۲۳۰۰۰	۴۴۷۷۵۲۸	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	۹۵۳۲۶۰۰	۴۳۴۳۱۰۹	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۹۸۲۴۱۰۰	۶۲۸۸۷۲۶	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۸۳۸۲۰۰۰	۸۱۲۰۶۵۰	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۹۸۲۶۰۰۰	۷۹۷۰۴۵۵	
۷	په ۱۳۶۳ کال کې	۹۹۵۱۴۰۰	۹۰۴۸۹۵۶	
۸	په ۱۳۶۴ کال کې	۹۹۸۷۰۰۰	۱۰۹۴۲۶۳۷	
۹	په ۱۳۶۵ کال کې	۱۰۵۷۶۳۰۰	۱۳۲۶۴۴۷۵	
۱۰	په ۱۳۶۶ کال کې	۱۱۴۹۶۷۰۰	۱۲۴۵۲۶۰۰	
۱۱	په ۱۳۶۷ کال کې	۱۲۵۷۴۹۵۰	۹۴۹۱۴۱۵	
۱۲	په ۱۳۶۸ کال کې	۱۲۷۹۸۳۰۰	۶۰۸۲۰۶۰	
۱۳	په ۱۳۶۹ کال کې	۱۳۲۲۶۷۰۰	۱۳۸۴۶۱۴۲	

۳- د عمده فروشانو د درملو او ځینو طبی استهلاکی ملزمو تورید او اجازه اخستنه

ګڼه	شاخصونه	اجازه اخستنه	حقیقی اجرأت	کتنی
۱	په ۱۳۵۷ کال کې	۱۱۷۲۷۷۵۰دالر	۶۴۷۳۸۹۱دالر	
۲	په ۱۳۵۸ کال کې	۹۹۲۲۶۷دالر	۴۵۱۲۱۸دالر	
۳	په ۱۳۵۹ کال کې	۱۷۵۱۹۰۰دالر	۶۲۰۷۹ دالر	
۴	په ۱۳۶۰ کال کې	۲۲۱۶۵۳۱ دالر	۵۲۷۶۲۰ دالر	
۵	په ۱۳۶۱ کال کې	۱۵۳۰۸۴۱ دالر	۱۳۳۸۷۹۳ دالر	
۶	په ۱۳۶۲ کال کې	۶۳۰۷۳۰۰ دالر	۱۶۴۱۷۱۷ دالر	
۷	په ۱۳۶۳ کال کې	۱۱۰۱۲۹۵۴ دالر	۳۳۱۱۴۵۶ دالر	
۸	په ۱۳۶۴ کال کې	۱۱۹۵۰۴۸۴ دالر	۴۸۷۲۳۲۹ دالر	
۹	په ۱۳۶۵ کال کې	۹۹۳۶۸۸۷ دالر	۵۷۲۸۲۲۰ دالر	
۱۰	په ۱۳۶۶ کال کې	۱۷۱۸۰۲۷۹ دالر	۶۸۷۵۵۸۵ دالر	
۱۱	په ۱۳۶۷ کال کې	۲۲۸۵۶۶۰۱ دالر	۷۲۵۹۵۷۳ دالر	
۱۲	په ۱۳۶۸ کال کې	۲۲۶۷۷۱۳۰ دالر	۹۳۲۵۱۶۸ دالر	

د درملتونونو، لابراتوارونو، شخصی معاینه خانو او عمده فروشیو شمیر ۲۰ ثور ۱۳۷۰ هـ.ش ۱۹۹۱م

الف: دولتی درملتونونه:

مجموعاً څلوېښت بابه دی چې ۳۶ بابه یی په کابل او یو یو یې په هرات، قندهار، جلال آباد او بلخ (مزار شریف) کې دی.

ب: شخصی درملتونونه:

کابل ۶۸۷ بابه	پروان ۳۶ بابه
کاپیسا ۳۱ بابه	وردگ ۴ بابه
لوګر ۲۸ بابه	غزنی ۵۳ بابه
پکتیا ۵۳ بابه	ننګرهار ۸۴ بابه
کونړونه ۳۲ بابه	لغمان ۲۲ بابه
بدخشان ۱۷ بابه	سمنګان ۱۲ بابه
بلخ ۷۹ بابه	کندز ۵۵ بابه
جوزجان ۵۴ بابه	ارزګان ۴ بابه
تخار ۴۳ بابه	بغلان ۷۷ بابه
سرپل ۱۲ بابه	فاریاب ۵۴ بابه
بادغیس ۲۲ بابه	فراه ۱۶ بابه
نیمروز ۷ بابه	کندهار ۷۶ بابه
هلمند ۲۷ بابه	زابل ۱۳ بابه
غورات ۳ بابه	پکتیکا ۲۶ بابه
بامیان۲ بابه	

ج: شخصی لابراتوارونه:

کابل	۸۰ بابه
ولایتونه	۱۲۵ بابه

د: د طبیبانو شخصی معاینه خانی:

کابل	۱۶۷۱ بابه
ولایتونه	۲۳۹۶ بابه

هـ: د درملو او طبی لوازمو عمده فروشی:

کابل	۱۸۶ بابه

د مجاهدینو د حاکمیت او طالبانو په دوره کې د یادونی وړ پرمختګ نه لیدل کیږی او د جنګ د جګړی له کبله یو زیات شمیر اساسی او فرعی صحی مرکزونه او روغتونونه له منځه لاړل او یا د جنګ له کبله د یو ځای څخه بل ځای ته انتقال شوی دی. خو د ولایاتو په مرکزونو او په کابل ښار کې طبی تسهیلات فعال وو او طبی کارکوونکو په ډیره میړانه سره د ټپیانو او ناروغانو خدمت کړی دی.

بیا هم د طالبانو د حاکمیت په دوره کې ۲۴ تقنینی اسناد د عامی روغتیا وزارت له خوا تدوین شول چې یوه مقرره یې د (طبی تخصصی کدرونو حقوق او امتیازات) و چې د هغی له مخی طبیبانو د مقرری د محتوا په نظر کې نیولو سره علمی درجی لاس ته راوړلی.

همدارنګه د تکنیشن درمل جوړونکو لایحه تدوین او تطبیق شوه. د روغتیایی علومو انستیتوت په یولسو مرکزونو کې نوی کوریکولیم تدوین شو چې د عامی روغتیا وزارت او نړیوالی روغتیایی اداری له خوا چاپ شو.

د پورتنی کوریکولیم پر بنسټ ۷۸ عنوان کتابونه چاپ او د محصلینو د استفادی وړ وګرځیدل.

پنځم څپرکی

طبابت د لنډ مهالی دوری څخه تر نن ورځی۱۳۸۰-۱۳۸۹

د عامې روغتیا وزارت دنده لری چې په ټول کیفیت سره ټولو افغانانو ته روغتیایی څارنی (مراقبتونه)، په ځانګړی توګه د هېواد د ګوټ ګوټ کوچنیان او ښځو ته چې تر اوسه یې د روغتیایی خدمتونو څخه ګټه نه ده اخیستی، د یو موثر کار له طریقه د ټولنو روغتیایی همکارانو له خوا، د دغه امر په اجرا کې بریالی شی.

دغه هدف ته د رسیدلو د پاره لازم دی چې ترڅو ډیری سختی لاری او د علمی اجرأتو د تطبیق په خاطر هلی ځلی وشی، ترڅو د هېواد ټولو خلکو لپاره روغتیا تعمیم شی چې موخه یې د ټولنی د ښه اقتصاد او ټولنیزه پراختیا ده.

په دې توګه د عامې روغتیا وزارت لوړه کړی چې د مؤثر کار له طریقه د ټولنو او روغتیایی همکارانو په واسطه خپلی دندی سرته ورسوی.

ډیری خلکو ته د روغتیایی سکتور پراختیا، د روغتیا د ښه والی لپاره په ځانګړی توګه ښځو او ماشومانو ته د روغتیایی اساسی خدمتونو مجموعه، د روغتونونو اساسی خدمتونو مجموعه او ځانګړی پروګرامونو د ستندرد په شکل په ټولو سطحو کې په مساوی توګه، عدالت او د برابری اصل په نظر کې نیولو سره د تطبیق وړ ده.

د عامې روغتیا وزارت بنسټیزی دندې:

د عامی روغتیا وزارت د هېواد د اتباعو د روغتیا د تأمینولو لپاره لاندې تدبیرونه نیسی:

۱- د مور او ماشوم د روغتیا تأمینولو ته په زیاتې پاملرنې سره د ساری او انتانی ناروغیو د مخنیوی او د خپرېدو د را کمولو په منظور وقایوی تدبیرونه.

۲- د وقایوی او معالجوی طبی خدمتونو د لومړنیو مرستو وړاندې کول.

۳- په دولتی او غیر دولتی ادارو کې د کارکوونکو لپاره د وقایوی طب او د ژوند چاپېریال د روغتیا ساتنې د خدمتونو د تأمینولو لپاره تدبیرونه.

۴- د هېواد د اتباعو لپاره د اوبو د رسولو او د څښلو د اوبو د شبکو او د روغتیایی کیفیت لرونکو غذایی توکو څخه څارنه.

۵- د روغتیایی ښوونو پرمخ بېول او د فردی سلامتۍ د سطحې د ښه کولو لپاره د معلوماتو او خبرتیا خپرول او له وژونکو ساری ناروغیو څخه وقایه.

۶- د روغتیایی آســــانتیا وو، کلینیکونو، روغتونونو، روغتیایی مرکزونو او درملتونونو پراختیا او پرمختیا.

۷- د هېواد د اتباعو د روغتیایی اړتیا وو د لرې کولو لپاره د طبی تجهیزاتو او دوایی توکو برابرول او تدارک کول او په دې برخه کې د روغتیایی آسانتیا وو برابرول.

۸- د طبی کارکوونکو د روزنې د نظام پراختیا او بشپړول، د طبیبانو د تخصصی سویې لوړول او د وقایوی او معالجوی طب په مختلفو برخو کې د علمی څېړنو پرمختیا.

۹- د خلکو د تغذۍ په هکله د روغتیا ساتنې (حفظ الصحوی) د علمی اساساتو طرح کول.

۱۰-د ماشومانو او مېندو د امېندوارۍ د روغتیا د تأمینولو په هکله د روغتیا ساتنې د علمی اساساتو طرح کول.

۱۱-د لومړنیو روغتیایی مرستو او روغتیایی خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کې د روغتیایی ستونزو د لرې کولو په منظور، د دولتی او غیر دولتی تاسیساتو د کوښښونو شریکول.

د پورتنیو اهدافو او دندو د لاس ته راوړلو لپاره ضروري بریښنې چې:

- ☜ د ټولو خلکو سره صادقانه او احترامانه برخورد او دا چې ښه روغتیا د هر شخص مسلم حق دی په نظر کې نیول.
- ☜ د شواهدو پر اساس د تصامیمو نیول.
- ☜ په عادلانه توګه روغتیایي اساسي خدمتونو ته د رسیدلو تضمین.
- ☜ په اجرأتو کې صادق، روښانه (شفاف) او مسئولیت منل.
- ☜ د روغتیایي خدمتونو د عرضې موثریت ښه والی او باکفایته چې د مصارفو او د صحي خدمتونو سره متناسب وي.
- ☜ هغو پروګرامونو ته لومړی توب ورکول چې شدیداً ورته نیاز لیدل کیږي لکه ماشومانو، معیوبینو او بې وزلو ته.
- ☜ د ژوند د ښه صحت د روش ترویج او تشویق او خلک د هغو اعمالو له سرته رسولو چې روغتیا ته مضر ثابت شوي وي، لیري ساتل.

د عامې روغتیا وزارت کاري ارزښتونه په لاندې ډول ارزول کیږي:

- ☜ د ښه روغتیا لرلو حق.
- ☜ د روغتیایي خدمتونو په توزیع کې د عدالت رعایتول.
- ☜ د ښځو، ماشومانو او آسیب پذیره ګروپونو ته لاس رسی. لکه په هېواد کې بېځایه شوي خلک، معیوبین او بې وزلو خلکو ضرورتونه.
- ☜ هغو خلکوته زیاته پاملرنه چې لیري پرتو ځایونو کې ژوند کوي او لږ امکانات لري.
- ☜ د روغتیایي کار کوونکو له خوا د ناروغانو سره بشري کرامت خوندي ساتل.

د عامې روغتیا وزارت اساسی لومړی توبونه په لاندې ډول بررسی کیږي:

د باکیفیته، موثره او ګردو خلکوته د خدماتو د عرضه کولو په موخه د عامی روغتیا وزارت پالیسی او استراتیژی ګانی تصویب کړی دی چې د هغو له جملی څخه ۱۸ استراتیژی او ۶ مهم لومړیتوبونه دی، چې په لنډ ډول ورڅخه یادونه کیږي:

- ☜ د ماشومانو د لوړی مړینی کمول.
- ☜ د میندو مړینی کمول.
- ☜ د انتانی ناروغیو لکه نری رنځ، ملاریا، ایدز کمول او د واکسینونو په واسطه د د وقایې وړ ناروغیو وقایه.
- ☜ د هېواد روغتیایی سیستم ښه کول، په ځانګړی توګه د مجربو او کاری بشری قواو زیاتوالی.
- ☜ د روانی ناروغیو او د مخدره توکو معتادینو کمول.
- ☜ د خوار ځواکی واقعاتو کمول.

استراتیژیکی برنامی په لاندې ډول ښودل شوی دي:

- ☜ د پالیسیو، استراتیژیو، رهنمودونو او روغتیایی سکتور لپاره د افغانستان ملی انکشاف استراتیژی ترتیبول.
- ☜ د روغتیایی اساسی خدمتونو د پوښښ پراختیا.
- ☜ د روغتونونو له پاره د اساسی خدمتونو مجموعی تطبیق.
- ☜ نهادی انکشاف لپاره د اداری اصلاحاتو مستقل کمیسیون په همکاری د اداری اصلاحاتو د پروسی د تطبیق ادامه.
- ☜ د نوی پیدا شوی ناروغیو، ساری او غیر ساری ناروغیو موثر کنترول.
- ☜ په ملی سطحه د عامی روغتیا وزارت د کاری ظرفیت ارتقا (لوړ والی) پلان تطبیق.
- ☜ د روغتیایی پروژو د تمویلولو د برنامو جوړول.
- ☜ د روغتیایی خدمتونو د حالت څرنګوالی مؤثره ارزیابی.

- ☜ د معاصرې تکنالوژۍ په استفادې سره د معلوماتو اخستلو لپاره د ۳۴ ولایتونو سره د ارتباط تامینول.
- ☜ د برنامو د لاښه تطبیق په خاطر د سکتوری وزارتونو سره هر اړخیزه همکاری.
- ☜ ځانګړو ګروپونو ته د روغتیایی خدمتونو عرضه کول؛ لکه کوچیان.

د عامې روغتیا وزارت اداری تشکیلات:

د کارونو د ښه تنظیم په خاطر د عامې روغتیا وزارت په تشکیلاتو کې یو لړ تغییرات منځ ته راغلی دی. یو ډیر مهم تحول هم د افغانستان د عامې روغتیا انستیتوت ایجادول دی چې د شلو کالو څخه زیاته موده کې په مطلق رکود کې واقع ؤ او اوس د عامې روغتیا وزارت په چوکاټ کې د یو فکری او اکاډمیک مرکز په توګه بیارغونی لپاره بیرته په کار پیل وکړ.

همدارنګه د درملی چارو د ښه تنظیم او کنترول په خاطر د فارمسی ریاست عمومی ریاست ته ارتقا وکړه او توقع کیږی چې په دې عرصه کې کارونه په ښه او موثر شکل تنظیم او اداره شی.

برسیره پردې د مخدره توکو د تقاضا د کموالی په خاطر دیپارتمنت منځ ته راغی او د جنسیت او بلاربښت روغتیایی حقوق دیپارتمنت او د کوچیانو د روغتیا دیپارتمنت ایجاد شول.

د ۱۳۸۵ کال تشکیل په لنډ ډول داسی ښودل شوی دی.

معینتونه	مرکزی ریاستونه	مشاوریتونه	ولایتی نمایندګي	تصدي	کتنی
۳	۵۴	۱۲	۳۴	۱	

په کال ۱۳۸۵ کې منظور شوی تشکیل	مامورین	اجیران	د ولایتی کارکنانو مجموع		د کارکنانو مجموع		کتنی
			مامورین	اجیران	مامورین	اجیران	
۱۴۵۰۰	۱۰۰۹۰	۴۴۱۰	۵۱۱۰	۲۴۷۳	۴۹۸۰	۲۴۷۳	

په مجموع کې په سلوکي ۷۶/۶۸ نارینه کارکوونکی او ۲۳/۳۲ په سلو کې یې ښځینه کارکوونکی تشکیلوی.

په هېواد کې د روغتیا د عمده شاخصونو شاه لید او لاس ته راوړنی:

د دوه لسیزو جګړونه یوازی د ملیونونو افغانانو د مړینی او معلولیت سبب ګرځیدلی بلکې د هېواد روغتیایی چارو بنسټ یې هم له منځه وړی دی.

په دغه برخه کې د هېواد په سطحه لاندې ارقام او احصائیی د جدی بحران بیانوونکی دی:

- ☜ د میندو مړینه: ۱۶۰۰ تنه په هرو ۱۰۰۰۰۰ ژوندیو ولادتونو کې.
- ☜ د پنځو کالو څخه ښکته د ماشومانو مړینه: ۲۵۷ ماشوم په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو ولادیتونو کې.
- ☜ د نوی زیږیدنی ماشومانو مړینه: ۱۶۵ تنه په هرو ۱۰۰۰ نوی زیږیدلی کې.
- ☜ په ماشومانو کې مزمنه خوار ځواکي: تر ۶۰ په سلو کې.
- ☜ په منځنی ډول د ژوند توقع ۴۲ کاله.
- ☜ د هېواد په سطحه د بشری قواو او مالی منابعو غیر عادلانه ویش.
- ☜ د روغتیا په ډګر کې د استراتیژیو او لومړی توبونو نه مشخص والی.
- ☜ د برنامو د موثر تطبیق په خاطر د رهنمودونو نشتوالی.
- ☜ په غیر حکومتی مؤسساتو کې د فعالیتونو تیت او پرک والی.
- ☜ په مختلفو سطوحو کې د خدمتونو عرضه کولو د تنظیم چوکاټ نه موجودیت.
- ☜ د خدمتونو د کیفیت او شفافیت د سطحی ټیټوالی.

د افغانستان په روغتیایي چارو کې لویې لاس ته راوړنې

شاخصونه	مخکې د ۲۰۰۱ کال څخه	د ۲۰۰۶ کال تخمین	کتنې
د پنځو کالو څخه ښکته ماشومانو مړینه	۲۵۷ ماشوم په ۱۰۰۰ ژوندی زیږیدل شویو کې	۱۹۱ ماشوم په هر ۱۰۰۰ ژوندی زیږیدل شویو کې	د شاخصونو تخمیني تحلیل، یونسیف، د جان هایکنز پوهنتون / عامې روغتیا وزارت
د یو کال څخه ښکته نوي زیږیدلي ماشومانو مړینه	۱۶۵ نوي زیږیدلي په هر ۱۰۰۰ ژوندی زیږیدلي شویو کې	۱۲۹ نوي زیږیدلي په هر ۱۰۰۰ ژوندي زیږیدلي شوي کې	د شاخصونو تخمیني تحلیل، یونسیف، د جان هایکنز پوهنتون / عامې روغتیا وزارت
د میندو مړیني	۱۶۰۰ مور په هرو ۱۰۰۰۰۰ ژوندي ولادت کې	وروستی مطالعه صورت نه دی موندلي	۲۰۰۲ یونسیف / سی دی سی. د میندو مړینی مطالعه
د ژوند منځنی توقع	۴۲ کاله	۴۶ کال (۴۵ د ښځو لپاره) او ۴۷ کاله د نارینه و لپاره	د شاخصونو تخمیني تحلیل، یونسیف

په لنډ ډول باید وویل شي چې د یوه کال څخه د ماشومانو مجموعی وفیات په یو کال کې چې پخوا ۱۶۵ په هر یو ۱۰۰۰ ژوندی تولد ته رسیده ۱۲۹ په ۱۰۰۰ ژوندی ولادت ته را ښکته شو. او د پنځو کالو څخه ښکته ماشومانو مړینه د ۲۵۷ څخه ۱۹۱ ته په ۱۰۰۰ ژوندی ولادت ته رسیدلی چې ښې لاس ته راوړنی تلقی کیږی.

همدارنګه په ۲۰۰۶ کال کې د داکترانو شمیر ۷۱۰۰ تنه ښودل شوی چې د ۲۲ ملیونو وګړو کې یو داکتر ۳۱۰۰ تنو ته رسیږی.

په لنډه توګه باید وویل شي چې د عامې روغتیا وزارت په لاندې عرصو کې پرمختګونه موجود دي:

۱- د پالیسیو، قوانینو، کاری رهنمودونو د ایجاد او پرمختیا په عرصه کې:

د ۳۰۰ څخه زیاتی پالیسی، قوانین، استراتیژی، لوایح، رهنمودونه تدوین او یا تجدید شوی دی چې ځنی مثالونه یې دا دی:

☜ د روغتیا ملی پالیسی ۱۳۸۴-۱۳۸۸.
☜ ملی پراختیایی استراتیژی ۱۳۸۴-۱۳۸۸.
☜ د روغتیایی خدمتونو بنسټیزی مجموعی پالیسی.
☜ د روغتونونو بنسټیزی مجموعی پالیسی.
☜ د مصئونی مور او روغتیایی بلار ښت پالیسی.
☜ د ماشومانو روغتیایی ملی پالیسی.
☜ د انتاناتو د کنترول او مخنیوی (وقایی) ملی پالیسی.
☜ د ملاریا او نری رنځ د کنترول پالیسی.
☜ د روغتیایی تعلیماتو استراتیژی او پالیسی گانی.
☜ د ټولنیزو رسنیو د گټی اخستنی استراتیژی.
☜ د ښوونځیو روغتیایی ملی پالیسی.
☜ د مجازو درملو د لست تهیه کول.
☜ د بشری قواو د توسعی پالیسی.
☜ د محلی روغتیایی کارمندانو د فعالیت پالیسی.
☜ د غیر حکومتی موسسو د معاشونو ملی پالیسی.
☜ د روغتیایی معلوماتو سیستم د رهنمود پراختیا.
☜ د عامه تغذی پالیسی.
☜ د ایدس او مقاربتی ناروغیو استراتیژی.
☜ د معیوبیتونو اداری پالیسی.
☜ د او کسی توسین درملو د استعمال پالیسی.
☜ د عامی روغتیا قانون.
☜ د لابراتوارونو مقرره.

- ☜ د درملو قانون.
- ☜ د درملتونونو قانون او مقرره.
- ☜ د مور د شیدو پرځای قانون.
- ☜ د شخصي اکسیریزونو مقرره.

۲- د روغتیایي خدمتونو د ښه والي په عرصه کې:

د هېواد په نفوس کې د روغتیایي خدمتونو د عرضې پوښښ په ۲۰۰۲ کال کې د ۹ فیصدو څخه ۸۲ فیصد ته زیاتوالی موندلی دی او په کال ۱۳۸۷ کې دا رقم ۸۵ فیصدو ته رسیدلی دی. دغه ارقام په ۳۱ ولایتونو کې د غیر حکومتي موسسو له خوا او دری ولایتونو کې د عامې روغتیا وزارت له خوا تامین شوی دی.

- ☜ د روغتیایي سکتور له پاره د ۲۰۰ صحي مرکزونو او ۸۰ سیار کلنیکونو ته مرستې جلب شوې دي، چې ایجاد یې عملاً شروع شوی دی.
- ☜ د کوچیانو له پاره ۱۸ سیار کلنیکونه په کابل، هرات، ننګرهار، بادغیس، لغمان، پکتیا، بغلان، فاریاب، خوست، کندز ولایتونو کې تاسیس کړی دي چې دغه رقم ډیر ژر ۳۰ سیارو کلنیکونو ته ارتقا کوي.
- ☜ په کابل کې په ازمایښتي ډول د ښاري روغتیایي پروژې په کار پیل کړی دی چې د ولسوالۍ دوو روغتونو او ۸ جامع روغتیایي مرکزونو سره مرسته کیږي. دغه پروژه په تدریج سره پراختیا مومي.
- ☜ د نري رنځ د تشخیصي او درملني مرکزونو تعداد د ۲۰۰ څخه ۸۰۰ مرکزو ته رسیدلی دی. او د نري رنځ واقعات ۵۰% نسبت پخوانیو کلونو او ملاریا ۹۰% نسبت ۱۳۸۴ کال تر کم شوی ده. د نري رنځ ناروغۍ ضد مرکزونه چې ایجاد شوی د ۴۲۰ څخه زیات دي چې تشخیصي او معالجوي دي او نور یې یوازې د درملني مرکزونه دي.

په ولسوالیو کې د نري رنځ په مقابل کې مجادله د ۲۰% څخه ۱۰۰% ته زیاتوالی موندلی دی.

- ☜ د ماشومانو د جامع ناروغیو شیوی (IMCI) د هېواد په ۲۸ ولایتونو او په ۲۳۷ ولسوالیو کې د ۱۶۷۵ تنو صحی کارکوونکو له خوا د تطبیق په حال کې دی.

د دغی شیوی د تطبیق هدف دا دی چې پخوا په مجزا ډول په صحی تسهیل کې خدمت عرضه کیده او اوس ټول په یو وخت کې عرضه کیږی.

- ☜ د روغتیایی رضاکارانو تعداد ۱۶۰۰۰ تنو ته رسیږی چې په ۸۰۰۰ روغتیایی پوستو کې مصروف دی.
- ☜ په وړیا توګه د جراحی سیار پروګرامونه او د سترګو د ناروغیو درملنه په څو ولایتونو کې د اجرا وړ دی.
- ☜ د دې د پاره چې په روغتیایی اوضاعو باندې ښه حاکمیت تامین شی، د عامی روغتیا وزارت په نظر کې لری چې په هره ولسوالی کې یو تن د ولسوالی روغتیایی آفیسر استخدام کړی چې دغی پروسی عملاً په کار پیل کړی دی.
- ☜ په مجموع کې د ۷۰۰ څخه زیات د صحی سهولتونو تعمیرونه اعمار، توسعه او یا بیاروغونه شوی دی.
- ☜ د تور زیړی واکسین معرفی شوی دی. او د واکسیناسیون ډول ډول کمپاینونه په منظمه توګه تطبیق شوی دی چې په هر ځلی کې قابو ۷.۳ ملیونه کوچنیان واکسین شوی چې د ۴۰۰۰۰ تنو څخه زیات رضاکارانو له خوا تطبیق شوی.

د ۲۰۰۰ تنو څخه زیات د آزاد رقابت په اساس استخدام شوی.

د قابله ګۍ ۲۱ باب ښوونځی تاسیس شوی چې په سل هاو تنه د محل قابلی د دی ښوونځیو څخه فارغی شوی او په دنده ګمارل شوی.

په سل هاو تنه د مرستی موادو طبیعی حوادثو آسیب رسیدلو، بې وزلو کورنیو ته د هېواد په مختلفو ولایتونو کې توزیع شوی دی.

د لومړی ځل لپاره د مخدره توکو د تقاضا کموالی پروګرام د عامی روغتیا په وزارت کې ایجاد شوی چې اوس ۶ سیار کلنیکونه، ۸ کلنیکونه، ۳ روغتونونه په ۱۷ ولایتونو کې د معتادینو د درملنی تسهیلات ایجاد شوی دی.

په کال ۱۳۸۵ کې د دری وروستیو کلونو لپاره د عامی روغتیا وزارت د نړۍ روغتیایی اداری د اجرائیوی بورد غړیتوب یې لاس ته راوړ چې دغه بورد ۳۴ هېوادونه غړی لری. دغه بورد د نړۍ روغتیایی اداری د تصمیم نیولو ډیره عالی مرجع ده.

همدارنگه په ۱۳۸۵ کال کې افغانستان د نړۍ روغتیایی ادارې د اداري او بودجی اجرائیوی کمیټی غړیتوب حاصل کړ چې ۱۲ غړی لری.

په هېواد کې د لومړی ځل لپاره د اوسپنی لرونکی اوړه د غذایی متمم په توگه د هېواد په پنځو سیلوگانو کې تولید شروع شوی دی.

د آیودین لرونکی مالگی ۱۸ دستگاوی نصب شوی دی. له نیکه مرغه افغانستان دا ظرفیت لری چې آیودین لرونکی ډیره مالگه د خلکو د ضرورت لپاره تولید کړی.

په سل هاو ټنه بې کیفیته او تاریخ تیرشوی غذایی مواد او درمل له منځه وړل شوی دی. د عامی روغتیا وزارت وکولای شو چې په لس هاو ملیونه ډالر مرستی جذب کړی.

په ۲۰۰۷ کال کې د روغتیایی خدمتونو پرمختگ:

۱- هغه روغتیایی کارمندانو چې زده کړه یی کړی او دندی ته توظیف شوی ۱۷۰۰۰ تنه

۲- هغه قابله گانی چې زده کړه یې کړی او دندو ته توظیف شو دی ۱۸۶۴ تنه

۳- بنسټیز روغتیایی مرکزونو شمیر ۶۶۷ بابه

۴- معلوماتی روغتیایی مرکزونو شمیر ۳۸۷ بابه

۵- ولسوالی (ناحیوی) روغتونونو شمیر ۴۹ بابه

د افغانستان روغتیایی تسهیلاتو د څېړنو نتیجی

کال	۲۰۰۴	۲۰۰۵	۲۰۰۶
لابراتواری خدمتونه	۱۸.۳	۳۶.۳	۴۳.۳
د نری رنځ کلنیکونه چې معلومات یی ثبت کړی دي	۱۵.۸	۲۰/۶	۳۷.۴
کال	۲۰۰۴	۲۰۰۵	۲۰۰۶
هغه صحی تسهیلات چې د بلاربو ښځو څارنی کړی دي	۶۲	۷۹.۳	۸۴.۹
په سراپا کې د نویو ښځو د شمیر فیصدي	۵۵.۲	۵۳.۳	۵۷.۸

کال	۲۰۰۴	۲۰۰۵	۲۰۰۶
د روغتیایی خدمتونو څخه راضی ټول ناروغان	۸۳.۳	۸۳.۳	۸۶
روغتیایی فعال تجهیزاتو ته لاس رسي	۶۵.۷	۶۷	۸۷.۷
بنسټیز درملو موجودیت	۷۱.۱	۸۳.۷	۸۵.۷

کال	۲۰۰۴	۲۰۰۵	۲۰۰۶
د روغتیایی کارمندانو د معلوماتو د زده کړی سطحه	۵۳.۵	۶۹	۶۸.۷
د ناروغانو تاریخچی اخستل او روغتیایی معایناتو اجرا	۷۰.۶	۷۳.۵	۸۲.۲
د ناروغانو په مورد کې بیا معلوماتونه (بازنگری)	۲۹.۶	۳۵.۱	۳۶.۶

کال	۲۰۰۷
د روغتونونو د تجهیزاتو تعداد	۶۷.۲
د روغتیایی کارکوونکو مهارت	۶۱.۴

کال	۲۰۰۳	۲۰۰۵	۲۰۰۶
د افغانستان په کلو باندو کې د ښځو فیصدی چې مخکی له ولادت څخه روغتیایی مرستی اجرا شوی دي	۴.۶	۱۲.۶	۳۲.۲
د افغانستان په کلو باندو کې د ښځو فیصدی چې په وروستی بلاربنت یی داکتر، نرس، قابلی ته لاس رسی درلودلی	۶	۸.۴	۱۸.۹

کال	۲۰۰۰	۲۰۰۴-۲۰۰۵
په ۱۰۰۰ کسو کې د ماشومانو د مړینی اندازه	۱۶۵	۱۲۹
په ۱۰۰۰ کسو کې د پنځو کالو څخه پورته ماشومانو کې د مړینی شمیر	۲۵۷	۱۹۱

کال	۲۰۰۳	۲۰۰۵	۲۰۰۶
د افغانستان په کلو بانډو کې د نری رنځ په مقابل کې د ماشومانو واکسین شوی فیصدی	۵۶.۶	۵۸.۸	۷۰.۲
د افغانستان په کلو بانډو کې د پولیو په مقابل کې د ماشومانو واکسین شوی فیصدی	۲۹.۹	۴۹.۲	۶۹.۷

په لنډه توگه ویلای شوی چې د نوی نظام د راتگ سره چې د هېواد په ډیرو برخو کې صلح او آرامی برقراره شوی ده، د عامی روغتیا وزارت د مختلفو برخو پالیسیو پر اساس په سلو کې دوه اتیا خلک د عامی روغتیا بنسټیزو خدمتونو تر پوښښ لاندې راغلی دی چې په دومره لنډه موده کې ډیری لویی بریاوی زمونږ د خلکو په برخه شوی دی.

د افغانستان لپاره د بنسټیزو خدمتونو مجموعه، د افغانستان لپاره د روغتونونو بنسټیزو خدمتونو مجموعه، د درملو پالیسی، د بنسټیزو درملو او د افغانستان لپاره د مجازو درملو لست او په لس هاو نور رهبری کوونکی اسناد لکه قوانین او مقرری، د تشکیلاتی پالیسی او نور داسی مکمل اسناد دی چې د کلو او بانډو څخه نیولی تر لویو ښارونو او پلازمینی پوری د درملی او روغتیایی لاری چاری په ډیره ښه روښانه او عملی توگه منځ ته راغلی او د هری قدمی (د صحی پوستی څخه تر ساحوی او ملی روغتونونو پوري) تشکیل، دندی، درملی او طبی خدمتونه، تجهیزات او طبی وسایل په ښه توگه روښانه شوی دی.

د درملتونونو، عمده خرڅوونکو او تشخیصیه لابراتوارونو تعداد د لړم میاشت ۱۳۸۱هـ.ش (۲۰۰۲م) کال

الف: د درملتونونو احصائیه:

۱- کابل ولایت ۲۰۲۸
۲- هرات ولایت ۵۶۹
۳- بلخ ولایت ۵۲۱
۴- ننگرهار ولایت ۵۴۵
۵- غزنی ولایت ۳۴۱
۶- کندهار ولایت ۲۶۳
۷- بغلان ولایت ۲۱۸
۸- کندز ولایت ۲۲۲
۹- پکتیکا ولایت ۱۷۹
۱۰- هلمند ولایت ۱۶۳
۱۱- ارزگان ولایت ۱۲۲
۱۲- خوست ولایت ۱۵۳
۱۳- کاپیسا ولایت ۱۳۳
۱۴- جوزجان ولایت ۱۲۲
۱۵- پکتیا ولایت ۱۲۱
۱۶- فاریاب ولایت ۱۶۱
۱۷- پروان ولایت ۱۵۱
۱۸- لوگر ولایت ۱۳۷
۱۹- تخار ولایت ۹۱
۲۰- لغمان ولایت ۹۱
۲۱- بادغیس ولایت ۸۲
۲۲- کنړونو ولایت ۸۸
۲۳- وردگ ولایت ۷۹
۲۴- فراه ولایت ۷۲
۲۵- بدخشان ولایت ۶۹
۲۶- زابل ولایت ۴۹
۲۷- نیمروز ولایت ۴۳
۲۸- سمنگان ولایت ۳۳
۲۹- سرپل ولایت ۳۵
۳۰- غور ولایت ۱۶
۳۱- بامیان ولایت ۹

ب: د تشخیصه لابراتوارونو تعداد:

۱- کابل ۲۴۴
۲- بغلان ۱۰
۳- پکتیکا ۵
۴- کندز ۳
۵- کندهار ۱
۶- هلمند ۱
۷- بلخ ۱۷
۸- هرات ۳
۹- غزنی ۲
۱۰- کنرها ۶
۱۱- پروان ۱
۱۲- سمنگان ۱
۱۳- ننگرهار ۴۰
۱۴- پکتیا ۵
۱۵- خوست ۳
۱۶- لوگر ۱
۱۷- میدان شهر ۱

ج: د دولتی سکتور درمل پلورنکي:

۱- کابل ښار ۱۷
۲- په ولایاتو کې ۲۱

د: عمده پلورنکي د کابل په مرکز کې ۳۱۴

هـ: فابریکی او تولیدی لابراتوارونه:

الف: دولتی درمل جوړوونکی فابریکه – قرغه کې واقع ده نسبی فعال شوی ده.

ب: هوخست فابریکه چې نیمه دولتی ده – پل چرخی کې واقع ده ځینی اقلام تولیدوی.

ج: شخصی درمل جوړوونکی فابریکی:

۱- سیلون فابریکه – دریم پروان – تولیدیی مقطری اوبه، ځینی تابلیتونه او گلنیکی درمل.

۲- روشان فابریکه – د خیرخانی لمړی برخی گولایی – گلنیکی درمل.

۳- هیواد خسرو فابریکه – د مریم لیسی څلور لاری – مقطری اوبه گلنیکی درمل او شربتونه او نور.

۴- تراجمیر فابریکه – پنځه سوه فامیلی – گلینکی درمل.

۵- حسن خان ملاخیل فابریکه – کلوله پشته – گلینکی درمل.

۶- همدرد فابریکه – جلال آباد – غیر فعال.

۷- افسر فابریکه – جلال آباد – غیر فعال.

د ۱۳۸۸ کال احصایې له مخې د فارمسستانو او درملتونونو شمېر په لاندې ډول ښودل کېږی:

۱- د ۱۳۳۳-۱۳۸۷ کال تر وروستی پوری د متوسطو تعلیمی درمل جوړولو (تکنیشن، مرستیال دواساز او دواساز) مؤسسو څخه ۲۳۶۶ تنه فارغ شوی دی.

۲- د ۱۳۴۱-۱۳۸۸ کال تر وروستی پوری د لوړو زده کړو مؤسسو څخه ۲۲۱۱ تنه پرووېزان (فارمسستان) فارغ التحصیل شوی دی.

۳- د ۱۳۸۹ تر لومړیو شپږو میاشتو پوری په ټول هېواد کې ۱۰۳۳۹ باب خصوصی درملتونونه موجود وو.

د عامی روغتیا وزارت د ۱۳۸۹/۱۱/۱۱ نېټی ارقام په لاندې ډول دی

- ملی روغتونونه ۲۳
- حوزوی روغتونونه ۵
- ولایتی روغتونونه ۲۹
- ولسوالی روغتونونه ۶۸
- جامع روغتیایی مرکز ۳۷۸
- اساسی روغتیایی مرکز ۷۹۷

- ☜ د معتادینو د درملنی مرکز ۲۶
- ☜ فرعی روغتیایی مرکز ۴۴۱
- ☜ گرځنده روغتیایی تیمونه ۱۰۰
- ☜ روغتیایی پوستی ۱۳۱۵۲
- ☜ نور مرکزونه ۹۱
- ☜ د روغتیایی مرکزونو مجموعی تعداد ۱۹۵۸
- ☜ د ټولنی روغتیایی کارکوونکی ۱۸۷۴۳
- ☜ متخصص ډاکترانو تعداد ۳۳۵
- ☜ عمومی ډاکتران ۲۳۲۱
- ☜ د قابلو تعداد ۱۷۹۴
- ☜ نرسونو تعداد ۳۱۵۷
- ☜ واکسیناتورانو تعداد ۲۳۵۷
- ☜ لابرانتو تعداد ۴۵۹
- ☜ فارمسستان ۱۳۹
- ☜ تکنیشن فارمسستان ۱۵۱
- ☜ خدماتی کارکوونکی ۴۷۷۸
- ☜ امبولانسونه ۵۲۵
- ☜ موټرسایکل ۴۶۳
- ☜ بایسکل ۲۶۴

د عمده روغتیایی شاخصونو پر بنسټ د عامی روغتیا وزارت کړنی او لاس ته راوړنی ۱۳۸۴-۱۳۸۹						
	د سروی وخت او ډول یې	۲۰۰۳	۲۰۰۵	۲۰۰۶	۲۰۰۸	۲۰۰۸
شمیر	د سروی سطح	کلیوالي	کلیوالي	کلیوالي	کلیوالي	ملي
۱	د زوجینو په واسطه د ولادتونو وقفه	۵.۱	۱۰.۴	۱۵.۴	۱۳	۱۵
۲	د ماهرانو له خوا مخکی له ولادت څخه د مراقبت میزان	۴.۶	۱۲.۶	۳۰.۳	۳۰	۳۶
۳	د ولادی ماهر په خوا د ولادتونو میزان	۶	۸.۴	۱۸.۹	۱۵	۲۴
۴	د BCG واکسین پوښښ لاندی	۵۶.۵	۵۸.۸	۷۰.۲	۷۳	۷۴
۵	د Measle واکسین پوښښ لاندی	۷۵.۶	۵۲.۸	۶۲.۶	۵۴	۵۶
۶	د Polio واکسین پوښښ لاندی	۲۹.۹	۴۹.۲	۶۹.۷	۶۸	۷۱
۷	د DPT3 واکسین پوښښ لاندی	۱۹.۵	۱۶.۷	۳۴.۶	۳۹	۴۳
۸	تکمیل شوی معافیت پوښښ لاندی	۱۵.۵	۱۱.۲	۲۷.۱	۳۳	۳۷
شمیر	د جانزهاپکنز سروی	۲۰۰۴	۲۰۰۵	۲۰۰۶	۲۰۰۷	۲۰۰۸
۱	د صحی خدماتو په ارتباط د ناروغانو او ټولنی ضاخص	۶۴.۴	۷۲.۳	۷۷.۶	۸۰.۴	۸۴.۳
۲	د باکیفیته روغتیایی خدمتونو ظرفیت	۴۸.۵	۵۷.۵	۶۵.۳	۷۲.۵	۷۶.۴
شمیر	د مړینی نتایجو سروی			۲۰۰۳	۲۰۰۶	۲۰۰۸
۱	په ۱۰۰۰ ژوندیو ولادتونو کې د پنځو کالو څخه ښکته ماشومانو مړینه			۲۵۷	۱۹۱	۱۶۱
۲	په ۱۰۰۰ ژوندیو ولادتونو کې د یو کال څخه ښکته ماشومانو مړینه			۱۶۵	۱۲۹	۱۱۱
شمیر	د اسهالاتو او تنفسی ناروغیو تعداد	۱۳۸۴	۱۳۸۵	۱۳۸۶	۱۳۸۷	۱۳۸۸
۱	درملنی شوی اسهالاتو تعداد	**۱۳۱۳۵۸۴**	**۱۷۵۵۹۴۹**	**۲۰۸۹۸۶۱**	**۳۰۱۳۳۴۴**	**۳۲۸۱۰۶۳**
۲	درملنی شوی تنفسی ناروغیو تعداد	**۳۶۷۴۲۹۹**	**۴۶۳۸۸۵۷**	**۵۷۰۹۳۸۷**	**۸۱۰۲۸۳۱**	**۹۵۴۳۸۲۹**

دريمه برخه

په افغانستان کې د نظامی طبابت ځلانده تاريخ

لومړی څپرکی

په تاریخ کې د نظامی طبابت ریښی

د تاریخ د پاڼو څخه داسی معلومیږی چې د نړۍ په مختلفو ځایونو او د زمانی په راز راز پړاوونو کې قابو څوارلس زره جګړۍ تیرۍ شوی دی.

حتیٰ مخکې تردی چې دولت منځ ته راشی د قبیلو ترمنځه د څړځایونو، سیندونو ته څیرمی ځایونو او داسی محلات چې هلته د دوی ژوند بسیا کیده، پرسر جګړۍ سرته رسیدلی دی.

د زمانی د تیریدو سره جګړی هم ډول ډول شکلونه نیولی دی د بیلګی په توګه په لومړیو مرحلو کې د پهلوانانو جګړه وه چې په لویو میدانو کې د غیرۍ نیولو په نیتجه کې غالب او مغلوب قوتونه منځ ته راتلل.

په دې زمانه کې د سړی او تودی اسلحی نوم او نښان نشته. وروسته د سیقل د تیرو څخه پیل ورپسی نیزه، لنیدۍ اوغشی، مانجنیق (د مستحکمو حصارونو د تخریبولو لپاره ورڅخه استفاده کیدله). توره او ډال، ټوپک، طوپ، راکتی سیستم، طیاری او بالاخره اتوم بمب او داسی نور منځ ته راغلل چې د وسلو د ډولونو له مخی په هماغه سویه په اردوګانو کې د مصدومینو او ناروغانو د نجات او درملنی شکلونه جریان درلود.

په دې ډول ویلای شو چې د جګړو په مختلفو اشکالو کې ناروغان، ټپیان، د هډوکو ماتیدل، ترضیضات، د بندونو وتل یا خلع، سوځیدل، اوبو کې ډوبیدل او داسی نور مصیبتونه منځ ته راتلل چې د زمانی په تیریدلو سره د مصیبت رسیدلو سره طبی مرستی هم پرمختیا موندلی.

څرګندونی ښئ چې په لرغونو پیړیو کې د نظامی طبابت ښی نښانی لیدلی شوی دی او بیا وروسته د اسلحی د تکامل او د جنګونو د شکلونو سره روغتیایی تجهیزات هم تکامل موندلی او روغتیایي مرستی هم لوړو مدارجو ته رسیدلی دی.

هغه اسناد چې زمونږ لاس ته راغلي تر ټولو لومړني سند په لرغوني مصر کې درې تر څلور زره کاله مخکې له میلاد څخه د نظامي طبابت کړه وړه مونږ ته بیانوي. د مصر قواو نظامي طبیبان درلودل چې د اردو د قطعاتو سره یو ځای حرکت کاوه ترڅو د جګړې په وخت کې پیدا شوي زخمونه اود هډوکو خلع او کسرونه تداوي کړي او دا را ښيي چې په حقیقت کې مصریانو په نړۍ کې د نظامي طبابت بنسټ ایښودونکي دي. «سینوهه» د فرعون خاص طبیب د هایتي هېواد د لښکرو په جګړه کې چې هورم هوپ د مصر د لښکرو مشر ؤ، نوموړی د طبیب په حیث د هورم هوپ سره د جګړې جبهې ته ولیږل شو او ټپي او ناروغ سرتیري یې تداوي او معالجه کول. سینوهه په خپل کتاب کې لیکي «د جګړې په صحنه کې د طبیب قرارګاه باید تل د جګړې د جبهې شاه ته قرار ولرې او ما په هغه قرارګاه کې مجروحین تداوي کول»[۱].

د اسلام مقدس دین په لومړیو کې به چې جګړې پیښیدې نو د ښځو ونډه هم ډیره زیاته وه چې د هغو له جملې څخه یوه هم زمیده وه. دغه پوهه او سرتیره میرمن د اسلامي نړۍ د تاریخ یوه ځلانده مشره ده چې د لومړنی اسلامي طبیبې په توګه پیژندل کیږي. نوموړې د جراحي ناروغیو د علاج او درملنې په ځانګه کې لوی مهارت درلود.

د جګړې په وخت کې د ټپي ناروغانو درملنې له پاره خیمې درول شوې دې. نو هغې به له خپلو نورو همکارانو سره طبابت او درملنې ته ملا وتړله او په ډیره سرښندنه به یې خپلې دندې ته دوام ورکاوه.

همدارنګه له افئده څخه یادونه کیږي چې په جګړه کې د ټپي سرتیرو د درملنې لپاره مخصوصې کیږدۍ درول کیدې، چې ټپیان د وخت له ضایع کیدو پرته علاج شي. د بیلګې په توګه د خندق د جګړې په وخت کې د مدینې جومات ته څیرمه یوه لویه کیږدۍ درول شوې وه، چې دغه کیږدۍ د موقعیت او کیفیت له اړخه هغو روغتونونو ته ورته وه، چې په اوس وخت کې په میدانونو کې درول کیږي.

په دغه روغتون کې د یوې پوهې او تکړه ډاکترې ښځې چې افئده نومیده په لارښوونه د ټپیانو د درملنې چارې پرمخ بیول کیدې او هم یو شمیر اصحابو ښځو به د هغې مرستې ته ملاتړلې وې او په روغتون کې یې د هغې له لارښوونې سره سم کار کاوه.

---

۱ - پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی، طب در گسترده تاریخ، طبع شاهمامه هالند ۱۳۸۵، ص-۴۸

«همدارنګه ښځو نه یوائی په جګړه کې مستقیماً اشتراک کاوه بلکې، د جګړې میدان ته به یې خواړه او اوبه رسولې، ټپیانو سره مرستی کولی پر زخمونو باندې ملهم او پټۍ ایښودی او د جګړی شهیدان به یې د جګړې له میدان څخه ایستل، قبرونه به یې کیندل او خاورو ته به یې سپارل...»[1].

همدارنګه که د تاریخ پاڼی واړوو ګورو چې د ساسانیانو په وخت کې روغتونونه په دوه ډوله یعنی ثابت او ګرځنده (سیار) موجود وو، چې ګرځنده روغتونونو فعالیت د معالجوی وسایلو، چې په اس، قچره، اوښ او داسی نورو باندې په همیشنۍ ډول له یوه محل څخه بل محل ته انتقالیده، عبارت ؤ. او که ضرورت یې ایجاباوه، دغه ګرځنده روغتونونه تر یوه وخته پوری په هغو سیمو کې چې ساری ناروغیو شیوع پیدا کړی ؤ پاتی کیدل.

د ګرځنده روغتونونو د فعالیت له زمینو څخه په لشکر کشیو او د سپاهیانو سره په ملګرتیا کې ګډون ؤ. په دې باب بشپړه شرح چې زمونږ په واک کې ده هغه د غزنوی سلطان محمود د پوځونو د ګرځنده روغتون په باره کې دی (بندری اثر ۱۳۷ مخ په حواله).

نوموړی روغتون د تشکیل او سازمان ورکولو مسئولیت د مستوفی عزیز الدین (هغه څوک چې د لومړی ځل د پاره یې د یتیم خانی (دارلایتام) جوړولو ته اقدام وکړ) په غاړه واچول شو. نوموړی په پوره دور اندیشی او بشپړ کفایت سره ټول ضروریات، وسایل، تجهیزات، درمل، کیږدۍ، د ضرورت وړ طبیبان، د حمل و نقل لازم وسایل تهیه کړل. «هغه ډیره زیاته مهمه نکته چې مستوفی عزیز الدین د نوموړی روغتون په مقرراتو کې ځای کړه او په ډیر جدیت یې تر اجرا لاندې ونیوله هغه دا وه چې د دښمن بندیانو او ټپیانو هم په مساوی ډول د هغه روغتون د آسانتیا وو څخه ګټه اخستله»[2].

د تاریخ په یوه بله پاڼه کې ګورو چې ابوالحکم المغربی چې په طب او هندسه کې ډیر مهارت درلود او تالیفات هم لری.

نوموړی د سلطان محمود بن ملک شاه په خدمت کې قرار ونیو او په معسکرو کې یو ګرځنده درملتون پرانیست چې پر څلوېښتو اوښانو د هغه

---

۱ - جرګی مجله – ۲۵ ګڼه – ۱۳۸۵ کال ص-۱۸-۱۹

۲ - عبدالحی مومنی، تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان، ۱۳۸۴ مطبعه ازادی، ص-۸۰-۸۱

سامان او آلات انتقال مونده او نوموړی د هغه طبیب ؤ. نوموړی په ۴۸۶هـ د اندلس په مرسیه کې زیږیدلی او په ۵۴۹هـ.ق په دمشق کې مړ شوی دی[۱].

کله چې بهرني هېوادونو پر افغانستان یرغل کړی دی زمونږ پر دین او وطن مینو خویندو د جګړی په ډګر کې په مېړانه سره مرستی کړی. دوی د جګړی په ډګر کې د حماسی لنډیو په ویلو د ځوانانو احساسات پارولی او تر وروستی سلګیو پوری د خپلی خاوری په ساتنه کې قربانی ور کړې ده. همدارنګه د جنګ ډګر ته خواړه، اوبه او نور لوازم یې رسولی او حتی د وطن د آزادی لپاره خپلی ګانی او زیورات یې بسپنه کړی دی. مونږ د ملالی او نورو افغانی خویندو فداکارۍ او قربانۍ نه هیر وو او د تاریخ په زرینو پاڼو کې د هغوی قدردانی کوو.

د امیر امان الله خان له نطقونو څخه چې په قندهار کې ایراد کړی داسی څرګندیږی چې د افغانستان په اردو کې پوځی ګرځنده روغتونونه هم موجود وو. نوموړی په یوه خطبه کې داسی وایي «هغه څوک چې زخمیان کیږی بې له ځنډه په پوځی ګرځنده روغتونونو کې تر معالجی لاندې نیول کیږی»[۲].

په نړۍ کې نظامی طبابت د نولسمی پیړۍ له لومړیو څخه ورو ورو پراختیا مومی خو د لومړی او دویمی نړیوالی جګړی په نتیجه کې په دغه برخه کې زیاتی بریاوی لاس ته راغلی او واقعاً د یو ځانګړی علم په توګه پیژندل شوی دی. او احتمال لری چې د یوویشتمی پیړۍ له پیل څخه چې د جګړو شکل او محتوی تغییر موندلی دی نوری لاس ته راوړنی نړیوالو ته وړاندی شی.

په افغانستان کې د معاصر نظامی طبابت تکامل او پراختیا په وروستیو څپرکیو کې کتلای شو.

---

۱ - پورتنی اثر، ص-۱۴۹

۲ - پوهنوال رازقی نړیوال، د فارمسی او طبابت د ودی او پراختیا لنډ تاریخ، د ژباړی نیټه ۱۳۷۸، ص-۲۲۸

دویم څپرکی

نظامی طبابت او د هغه پرنسیپونه

د نظامی روغتیایی کارکوونکو له پاره د نظامی فن او نظامی طبابت مطالعه او زده کړه ډیره ضروری او لازمی ګڼل کیږی، چې په بریالیتوب سره د دندی په اجرا کیدلو کې زیات اهمیت لری، ځکه د نظامی طبیب او نورو روغتیایی غړو دندی ډیری پیچلی او سختی دی چې په حقیقت کې دغه دندی د یو لړتدابیرو له مجموعی څخه عبارت دی چې نه یوازی د منسوبینو د روغتیا تحکیم او حفاظت (ساتني) ته متوجه دی بلکې حیات او ژوند چې د انسان عالیترینه توقع ده د نابودۍ څخه نجات ورکولای شی.

پورتنی دندی په هغه صورت کې بریالیتوب سره سرته رسیدلای شی چې نظامی کارکوونکی د مسلکی عالی زده کړی، متانت، انسیاتیف، ابتکار، د وطن دوستۍ حس، د وظیفی سره علاقمندی لرونکی وی، او له بلې خوا د نظامی طبابت پر اساساتو چې د روغتیایی خدمتونو عرضه کول په ښه شکل تنظیموي په مکمل ډول آشنایی ولری.

د نظامی زده کړی د مجموعی او نظامی طبابت د حاصلولو هدف او موخه دا ده چې مسلکی طبی غړی د روغتیایی خدمتونو د تاميناتو اورګانزیشن په قطعاتو، جزوتامونو او روغتیایی موسسو کې د حضر، سفر او محاربوی شرایط یې ښه زده وی.

په دې توګه نظامی طبابت د تدابیرو یوه سلسله مجموعه ده چې د مسلحو قواو منسوبینو د روغتیا تحکیم او فزیکی وضعی ښه کول، د حفظ الصحوی او وقایوی وضعی پورته بیول او مصدومینو، ناروغانو او مجروحینو ته د ښو طبی مرستو او په لوړه کچه درملنی په خاطر اتخاذ کیږی.

نظامی طبابت د یو مستقل او مکمل برخی په صفت او د پراکتیکی فعالیتونو د زده کړی یوې برخی په حیث کله چې اردوګانو منظم او دایمی شکل ځان ته غوره کړ، منځ ته راغلی او خاص رونق یې پیدا کړی دی. نو د نظامی طبابت د علمی زده کړی په سیستم کې یو مشترکه پوله د طب علم

او د حرب د فن په منځ کې قرار لری او د هغو عام قوانین د یو او بل په پراخوالی او تکامل باندې تاثیر لری.

پدې توګه له اجتماعی او تاریخی نظره د نظامی طبابت مفهوم د علومو د مجموعی په حیث د بحث لاندې قرار نیولی چې د نظامی طبابت په ټولو رشتو کې خپلی ریښی لری او د یو او بل په پراخوالی او تکامل کې قاطع نقش لری.

په دې توګه د نظامی طبابت د پراختیا او تکامل عمومی قوانینو پوهیدل دا امکان منځ ته راوړی ترڅو د مختلفو ځانګو خصوصی قوانین کشف، او د روغتیایي خدمتونو عرضه (وړاندی کول) ډیر عالی شکل ځان ته غوره کړی.

هغه فکتورونه چې د نظامی طبابت په پراختیا او تکامل کې رول لری زیات دی خو دلته د ډیرو عمده و څخه یادونه کیږي:

۱- د بشری جوامعو سیاسی او اقتصادی فکتورونه.

۲- د ټولنی اقتصادی فکتورونه.

۳- د ټولنی د علم او پوهی درجه.

۴- نظامی تخنیکی وضع.

۵- د ټولنی حفظ الصحوی وضع او د هېواد د روغتیایی موسسو علمی سویه.

۶- د اردوګانو د موجوده اسلحی اوصاف او د هغو د استعمال ډول.

۷- د محاربوی عملیاتونو د وړاندی بیولو شکل.

څرنګه چې د نظامی طبابت د هېواد د عامی روغتیا د سیستم یو جز دی بهتره ده چې د عامی روغتیا یو لړ پرنسیبونه روښانه شی:

الف: د حفظ الصحوی، وقایوی، معالجوی تامیناتو اورګانیزاسیون پرنسیب دا ایجابوی چې د هېواد په روغتیایی تسهیلاتو او لومړنی طبی مرستو کې د نړیوالی روغتیایی اداری پرنسیبونه چې د افغانستان په شان هېوادونو ته اماده شوی، تاسیس او پراختیا ومومی.

ب: د ټولنی د روغتیا د تامینولو په خاطر ایجاب کوی چې د مسلکی کادرونو روزنه په هېواد او باندنی هېوادونو کې په عالی سویه صورت ومومی.

همدارنګه منځنی طبی پرسونل له پاره هم په هېواد یا خارج کې د تحصیل زمینه مساعده شی ترڅو د هېواد اړتیا وی رفع شی.

ج: د روغتیایی خدمتونو د لا ښه وړاندی کولو او د طب د علم د لا انکشاف او تکامل په خاطر علمی او تحقیقاتی کارونه او فعالیتونه ډېر ارزښت لری.

د: د ټولنیزی روغتیا د تامین په خاطر د یو لړ تقنینی اسنادو تدوین او نافذول ضروری بریښی.

هـ: د ټولنیزی روغتیا په تامین کې د هېواد د وګړو انفرادی کار ترتیب او تنظیم کول چې د عامی روغتیا مقررات مراعات کړی عمده رول لری. ترڅو وګړی د ژوند او کار او فعالیت په چاپیریال کې په کومه اندازه حفظ الصحوی قوانین مراعتوي. نو دلته صحی تبلیغات اساسی نقش لوبولای شی.

د پورتنی معلوماتو په اړوند باید وویل شی چې د افغانستان عامه روغتیا دری بنسټیزی دندی لري:

۱- د طبابت پراکتیک چې د وقایوی، حفظ الصحوی او معالجوی فعالیتونو ټول اشکال په کې شامل دی.

۲- د علمی او تحقیقاتی فعالیتونه.

۳- مسلکی کادرونو روزنه.

د عامی روغتیا د تامین په ارتباط د دولت له پالیسی څخه جوتیږی چې ټولی پلان ګذاریٔ کاملاً په علمی طرز طرحریزی شوی او د عامی روغتیا په مختلفو برخو کې د پلان انکشاف او رشد او د کیفی او کمی له پلوه عملی تطبیق یې په ټولو برخو کې واضح دی چې د هېواد د اقتصاد سطحه غتښتلی کیږی.

د معالجوی موسساتو ایجاد او هغوی په مدرنو طبی عینیاتو او ورزیده کادرونو مجهز کول د کار موثریت د عامی روغتیا د تعمیم په لوری ښه والی مومی او بالاخره په هېواد کې په توحیدی ډول د صحی خدمتونو عرضه کول دا امکان میسر کوی ترڅو د هېواد د نوی کولو په لوری د حل مناسبی لاری منځ ته راشی.

هغه څه چې نظامی طبابت د ملکی طبابت څخه بیلوی هماغه د جزوتامونو او قطعاتو روغتیایی مرکزونو کې د روغتیایی لازمی مرستی په

معینو قدمو کې ترتیب او تنظیم (اورگانیزاسیون) دی. دا په دې بیان چې هره معینه قدمه کې د ناروغانو او مجروحینو له پاره لازمی مرستی ترسره کیږی او دغه امر داکترانو ته اجازه ورکوی چې لازمی مرستی د لوایحو په نظر کې نیولو سره د خپلی قدمی دندی سرته ورسوی. د کار دغه ترتیب او تنظیم بعدی قدمی ته مرسته کیږی ترڅو خپلی دندی د مخکینی انجام شوی مرستی په نظر کې نیولو سره تنظیم کړی. دغه پروسه قدمه په قدمه د مسلحو قواو تر روغتونونو او موسسو ادامه پیدا کوی.

خو له نیکه مرغه د اتیایمی لسیزی را په دی خوا چې نسبی کراری منځ ته راغلی د نړیوالی روغتیایی اداری هغه پرنسیبونه چې افغانستان له پاره ټاکلی دی د نظامی طبابت د پرنسیبونو سره ډیر لږ تفاوت لیدل کیږی چې عمومی پرنسیبونه یې په لاندی ډول دي:

- په محاربوی شرایطو کې د مختلفو ناروغیو د منځ ته راتلو په برخه کې د واحدی مفکوری پرنسیب.
- د روغتیایی مرستو د میتودونو د اجرا کولو په برخه کې د مشترک واحد نظر پرنسیب.
- د ضد اپیدیمکی او حفظ الصحوی تدابیرو د پرمخ بیولو له پاره د واحد سیستم موجودیت پرنسیب.
- د قواو او روغتیایی خدمتونو وسایط او وسایل استعمال او د لوژستیکی روغتیایی خدمتونو او د محاربوی معینو شرایطو له نظره د مختلفو اشکالو فعالیتونو د تطبیق پرنسیب.
- د مجروحینو او ناروغانو د معالجی او تخلیی میتودونو په برخه کې د مشترک واحد نظر پرنسیب.
- دغه پرنسیبونه د محاربی په وخت کې د روغتیایي خدمتونو په ټولو قدمو کې په نظر کې نیول کیږی.

په دې توگه ویلای شو چې په مجموع کې نظامی طبابت د عامی روغتیا تیوریکی او پراکتیکی شکل د حضر او سفر په شرایطو کې دی، او د پراکتیک په ساحه کې د یوی علمی زده کړی سیستم څخه عبارت دی چې موخه یی د مسلحو قواو د منسوبینو د روغتیا محافظه او تحکیم، او د حربی مصدومیتونو او ناروغیو درملنه، د ناروغیو وقایه ده چې د منسوبینو محاربوی قدرت لوړیږی او مسلح قوتونه لا تقویه کیږی.

په دې ترتيب نظامی طبابت انسانی اهداف عملاً تعقيبوی او د خپلو مختلفو څانګو په واسطه په پراخه امکاناتو سره د روغتيايی تاميناتو ډير پيچلی پرابلمونه د حضر او سفر په وخت کې د خلکو او دولت د خواستو مطابق سرته رسولای شی.

نظامی طبابت ډير پراخه مفاهيم او موضوعات احتوا کوی چې د وظيفوی ارتباط او مساعی مشترکه له نظره دری عمده برخی يې دا دي:

الف: د نظامی طبابت علمی تحقيقات: په هغه کې علمی انکشافات، علمی تيوری ګانی، د مسلحو قواو صحی تاميناتو ميتودونه او سيستمونه په مختلفو اوضاعو او شرايطو کې د دغو ټولو وظايفو د اجرا طرز شامل دی.

ب: د نظامی طبابت اورګانيزاسيون: د سيستماتيک صحی تاميناتو په منظور يو لړ وظايف او مشخص پرنسيبونه دی چې د مسلحو قواو روغتيايی خدمتونو په نامه يادېږی.

ج: د نظامی طبابت پراتيک: په مسلحو قواو کې د صحی تاميناتو د ميتودونو او سيستمونو تحقق ورکول پکې شامل دی. يعنی ټول هغه معالجوی او وقايوی وظايفو اجرأت او سرته رسول دی چې په ورځنی فعاليتونو که په حضر او سفر کې وی په نظامی طبابت پراتيک کې شامل دی.

نظامی طبابت په مرتب ډول د عملی کارونو اورګانزيشن او ميتوديک اساسات يې د مسلحو قواو د عامی روغتيا په سيستم کې تنظيم وی.

د دغه منظور له پاره په مسلحو قواو کې عامه روغتيا اصطلاح ډيره جامع او وسيع مفهوم سره رواج موندلی چې هغه عبارت دی له مسلحو قواو روغتيايی خدمتونو تامينول، د فزيکی وضعی بهبود، د مسلحو قواو د منسوبينو د روغتيا تحکيم، په عسکری منسوبينو کې حفظ الصحوی وضعی لوړول او د ناروغيو مخنيوی (وقايه) او مصابينو، ناروغانو او زخميانو ته د مرستی رسولو او ښه درملنی د ښو نتايجو منځ ته راتک تدابير دی چې اتخاذ کيږی.

په اوسنيو شرايطو کې نظامی طبابت لاندی څانګی لري:

- ☜ د روغتيايی خدمتونو تکتيک او اورګانيزاسيون.
- ☜ حربی جراحی.

- ☜ حربی داخله.
- ☜ حربی حفظ الصحه او اپیدیمولوژی.
- ☜ د حربی استاتستیک (احصائیه).
- ☜ نظامی روغتیایی خدمتونو اکمالات.
- ☜ د حربی فعالیت فزیولوژی.
- ☜ د حربی طبابت جغرافیا او تاریخ.
- ☜ حربی توکسیکولوژی.
- ☜ حربی رادیولوژی.
- ☜ هوایی طبابت.

برسیره پر دې اناتوموپتالوژی، ستوماتولوژی، غوږ، ستونی او پوزی، نورو پتالوژی، جلدی، عصبی جراحی او نوری څانګی د وظیفوی د ارتباط له نظره د نظامی طبابت څانګو سره مشترکه مساعی عملی کوی.

د مختلفو څانګو مشترکه مساعی هدف دا دی چې په موثره توګه د نظامی طبابت په پراتیک کې برخه واخلی او د معالجوی او وقایوی امکانات ډیر ښه میسر شی. او په مختلفو محاربوی فعالیتونو کې طبی مرستی په ښه توګه تامین شوی وی. په دی توګه هره څانګه یو معیین هدف، تحقیقاتی میتودونه، عملی ضمایم د نظامی طبابت د تامیناتو په سیستم کې لری. په دی توګه د پورتنیو ذکر شویو په نظر کې نیولو سره د نظامی طبابت محتوی او اهداف ډیر وسیع او همه جانبه تعریف په لاندی ډول منځ ته راځی.

نظامی طبابت د یو علمی تیوری په صفت د مسلحو قواو د روغتیایي تامین له پاره منځ ته راغلی چې د حربی مصیبتونو د پیدایښت، خصوصیات، سیر په مورد کې او د قطعاتو او جزوتامونو د ناروغیو او پتالوژی څخه بحث کوی.

همدارنګه د دغو پتالوژیو وقایه او درملنه او په مختلفو شرایطو یعنی حضر او سفر کې د قطعاتو روغتیایی خدمتونو د تامیناتو اورګانیزاسیون له وظایفو څخه محسوبیږی.

دریم څپرکی

د نظامی طبابت تشکیلات، ښوونه او روزنه

د اسلام ترمخه نظامی طبی تشکیلات

د افغانستان د طبابت د تاریخ له تحلیل او بررسی څخه داسی ځرگندیږی چې اردو (منظم او غیر منظم) د افغانستان د دولت له تشکیلیدوله وخته موجود و او گام په گام یی وده او تکامل موندلې دې دا ځکه چې اریایی قبایلو د ژوندانه په لومړیو کې جگړو او د هغو وسایلو ته ضرورت نه درلود، خو کله چې د وگړو تعداد زیاتیږی مجبوریږی چې له بخدۍ څخه د هندوکش لمنو او لویدیز خواوته مهاجرت وکړی او د دوی او د بومی قومونو ترمنځ جگړی پیښیږی او د اریانا پراخی ځمکی تر ولکو لاندې راځی نو پدې توگه مخکې لدې چې دولت هم تشکیل شی شخړی او جنگونه منځ ته راغلی دی چې دغه پیښی په ویدی عصر کې لیدلاې شو.

د هند پیاوړی تاریخ لیکونکی دولافوز لیکی «د ویدی عصر د کشمکش او جگړو عصر بلل کیږی او په دې زمانه کې هر څوک باید په عین حال کې سرباز واوسی، ځکه چې هغوی مجبور وو چې خپل حاصلات، رمې او هستوگنځی له بومی لوټمارانو څخه خوندی وساتی. او د دی ترڅنگه په خپله د دوی ترمنځه ذات البینی اقتصادی توپیرونه هم موجود وو. یعنی د دوی د ساحی او نفوذ په زیاتیدو سره ورو ورو سرداران منځ ته راغلل او د خپلو متصرفاتو پراختیا ته یې لاسونه واچول.

نو دا ده چې د همیشنی دفاع او جگړی د پاره یې د وسلی د ودی او حربی آلاتو لاښو جوړولو باندې شروع وکړه»[1] او د پوځی مفکوری هسته

---

۱ - دولاقوز، تاریخ هند، فارسی ترجمه، ص ۷-۸ په حواله.

منځ ته راغله. ګورو چې د ویدی په عصر کې د اردو مسلکونه چې ریګوید کې ورته اشاره کړی ده لاندې صنفونه موجود و:

- پیاده صنف.
- سواری صنف چې اسان او پیلان په دغه صنف کې شامل و.
- د مخابری صنف چې ډول وهونکی څخه عبارت و.

په جګړو کې په اعظمی توګه چټکو ګاډیو څخه استفاده کیدله «په جګړه کې د ګاډیو د چټکتیا څخه په اعظمی ډول استفاده کیدله لکه د ننۍ زرهدارو قوت، دی واسطی دښمن تر پښو لاندې کاوه»[1].

د ویدی دورې وسلې چې د ریګوید په سرودونو کې معرفی شوی دی ډیره ښه وسله لیندۍ وه چې په ویدی ادبیاتو کې ډیره سپیڅلی وسله ګڼل کیدله.

«همداشان توری، دودمه، تبرزین، نیزی، ژوبین (لنډی نیزي)، فلاخن، پیش قبضه، خود (خول)، زره، او د ولو د ساتلو زره په آریایانو کې ۴۰۰۰ کاله دمخه رواج درلود»[2].

که د اوستایی عصر پوځی تشکیلاتو ته نظر واچوو ګورو چې په دې عصر کې هم پیاده، سواری او جنګی ګاډۍ صنفونه موجود دی، خو په دغه وخت کې مدافعی وسلو ته ډیر اهمیت ورکول کیږی چې عبارت و له زرادهه خود (خول)، خودهه، ایوخودهه، زرا بنوه خوده، کویری، پیتی دانه، کامره (کمربند چې توره پکې ځړول کیږي)، رانه پانه، سپاره داشته او نور.

تعرضی وسله یی عبارت وه له:

ګرز، وجره، چکوشه، لینده (د جنګ د فاتح لقب یې اخستی دی).

په دغه دروه کې سفری اردو هم منځ ته راغلۍ چې په غیر منتظره واقعاتو کې همیشه د اماده باش (تیارسۍ) په حالت کې وو.

---

۱ - جلالی علی احمد، مطالعه تاریخ افغانستان از نګاه عسکری ج ا، مطبعه اردو ۱۳۴۳ کابل، ص ۴۶.
۲ - نړیوال رازقی، پوهنوال محمد صدیق، د افغانستان پوځی تشکیلات، اردو مطبعه ۱۳۸۸، ص ۲۵.

په اوستایی دوره کې پهلوانانو توره او خنجر هم استعمالاوه نو ځکه د اوستا د وسلو اهمیت په دې کې دې چې په دی دوره کې پهلوانانو له نژدی څخه محاربه کوله.

په دغه برخه کې داسی جوتیږی چې که د وسلی په توګه د تیرو او صیقلی تیرو څخه نیولی تر پورتنیو وسلو استفاده شوی چې ټپ، ترضیض او خلع یې منځ ته راوړی او د هغو سره روغتیایی مرستی شویدی او هرو مرو روغتیایی پرسونل د جګړو په صفونو کې ګډون کړې دې. او د تاریخی اسنادو له مخی ویلای شو چې د روغتیایی مرستو لپاره یو کس چې هم طبیب او هم درمل جوړونکی و ګډون کړی چې تر منځنیو پیړیو (اسلامی دوری) پوری دوام درلود او وروسته جراح (زخم ګنډونکی) او درمل جوړونکی د اردو په تشکیل کې زیات شوی دی.

په اسلامی دوره (منځنیو پیړیو) کې د نظامی طبابت تشکیلات:

د اسلام (منځنیو پیړیو) د اردو وسلی عبارت وی له توره، نیزه، فلاخن، غشی او لینده، مقوس محرک منجنیق، نیم مقوس محرک منجنیق، اورغور ځوونکی ماشینونه او نور دی. په دغه دوره کې سړه جارحه وسله ورځ په ورځ انکشاف پیدا کوی.

«په دې زمانه کې درندو ماشینونو او اورنی وسلی زیاته پراختیا ومونده ترڅو چې د محترقه او انفلاقی موادو چې دمخه یواځی باروت و مهم وسایط ایجاد شول»[۱].

په دې توګه که هر څومره وسلی مدرنی کیږی په هماغه اندازه د روغتیایی مرستو حجم هم پراخیږی او د سوختګیو مقابل کې هم راز راز لاری چاری نیول کیږی. روښانه ده چې د طبی مرستو پرسونل کې هم د رشتی له کبله او هم د تعداد له کبله زیاتوالی منځ ته راځی.

همدارنګه د صفاریانو (۲۵۳-۲۹۱هـ)، ســــامانیانو (۲۹۵-۳۸۹هـ) نظامی تشکیلات او وسلو په برخه کې چې غشی، لینده، توره، نیزه، ګرز، قمه، کمند، سیر، زره، برګتوان (داس زره) او همدارنګه د لرګیو محرک ټانکونه، منجنیق او جنګی قچ او نورو څخه استفاده شوی.

---

۱ - جلالی علی احمد، مطالعه تاریخ افغانستان از نګاه عسکری ج ا، مطبعه اردو ۱۳۴۳ کابل، ص ۲۰۷-۲۰۸.

خو د غزنویانو (۳۵۱-۵۹۸هـ) د دوری اردو په تشکیلاتو کې د پخوانیو په پرتله ډیر زیات توپیر لری. پدې صورت کې چې دلته منظم او غیر منظم اردو تشکیلیږی او پنځه وزارتونه منځ ته راځی چې د حربیی وزارت (د عرض وزارت) هم په دولتی تشکیل کې موجود دی. د اردو مسلکونه هم پراخیږی لکه پلی، سواری، فیل سواران، د عسکری انجینرانو ډله (استحکام)، لوژستیک (د اکمال جزوتامونه) او نور.

هغه څه چې په دغه دوره کې د یادونی وړ ده ګرځنده روغتون تشکیل دی چې په لومړی څپرکی کې ور څخه یادونه شوی ده.

د غوریانو (۵۰۳-۶۱۱هـ) په دوره کې د مؤرخانو له قوله د غزنویانو د دوری ځنی پوځی تشکیلات د غوریانو په دوره کې هم پخپل حال پاتی لیدل شوی دی. او په ختیز کې د وسلو په جوړولو کې زیات شهرت درلود اوعمده صادرات یې د وسلی څخه عبارت وو.

د مغلو (۸۰۷-۹۲۰هـ) د دوری پوځی تشکیلات په هکله باید وویل شی چې مغولو په لومړي سرکې د بدوی وسلی څخه استفاده کوله، خو د یوی خوانه د فتوحاتو پراختیا او د بلې خوانه په مستعمره هېوادونو کې د پوځی انجینرانو سره د هغوی بلدیت د دوی وسلی ته په متنوع ډول وده ورکړه چې د دوی ډیره مهمه وسله لینده وه او د منجنیق څخه په لویه پیمانه استفاده کیدله په جنګونو کې د نفتو او لرګیو ټانکونو نه استفاده شوی ده.

د ګوډ تیمور وسله هم توره، لینده، غشی، نفت او منجنیق و چې ورځنی استفاده کیدله.

د سدوزایانو(۱۱۶۰-۱۲۵۹هـ) دوری روغتیایی تشکیلات:

د تیر بحث څخه معلومیږی چې د اردو په تشکیلاتو کې مختلف صنفونه او وسلی شاملې وې چې د صیقل له تیرو څخه پیل او ورپسی نیزه، لینده او غشی، مانجنیق، سره وسله او نور منځ ته راغلی چې د وسلو د ډولونو له مخی په هماغه سویه په اردوګانو کې د مصدومینو او ناروغانو د نجات او درملنی شکل جریان درلودلی دی.

نو له دې کبله په افغانستان کې عسکری تشکیلات چې د آریانا د لرغونو مدنیتونو پسی رامنځ ته شویدی او د مختلفو پیړیو په تیریدو سره د افغانستان ملی تشکیلات چې د اتلسمی پیړۍ وروسته لکه د سدوزایی (ابدالی) او محمد زایی دوری روغتیایي تشکیلات په روښانه توګه څېړل کیږی. څرګنده ده چې نظامی تشکیلات تر زیاتی اندازی پوری په ملی اقتصاد تکیه لری او د اردوګانو د حضر او سفر ګرده تشکیلات د همغه د امکاناتو په اساس سنجش کیږی.

د دې نه په غیر نظامی تشکیلات د هغه په واقعی مفهوم رامنځ ته کیدای نه شی او په ځینو مواردو کې سرابی بڼه نیسی. نو پدې تشکیلاتو کې که څه هم ډیر ناځیزوی د صحیی څانګه شامل دی او د اردو د ودی او تکامل سره طبابت هم د هغه په خواکی وده او پرمختیا کوی.

«که د بلې زاویی څخه وکتل شی وسله وال پوځ په لویو مصیبتونو او آفتونو کې د هېواد او خلکو مرستندویه دی، ځکه چې وسله وال پوځ د وظیفی د غوښتنی له مخی د مکفی او رسیدلی پرسونل برسیره یو لړ مکفی تسهیلات لکه د کشف، پلان ګذارۍ، انتقالاتو، اعاشی، البسی، وقایوی، معالجوی او حفظ الصحه او داسی نورو لرونکی وی، او دا تشکیلات د تل د پاره د احضاراتو په حالت کې ساتل کیږی. نو ځکه د آسمانی تباه کوونکو واقعاتو لکه زلزلی، سیلاب، لویی اورلګیدنی، وچکالی، د اپیدیمکو ناروغیو سره مجادله او داسی نورو پیښو په مقابل کې خدمتونه چې د بلی هیڅ ډول دستګاه له وسی پوره نه دی د ملت د پاره ترسره کړی او کوی یې»[۱].

له دې امله د وسله والو قواو په منځ ته راتلو سره څرګنده چې صحیه د هغی سره یوځای ایجاد شوی ده.

---

۱ - نوروز محمد یحی ارکانحرب ډګروال، د اردو مجلی، ۱۳۴۹ کالنی، ص ۵۱.

همدارنګه که چیرته د حفظ الصحی تاریخچی ته کتنه وشی داسی نتیجه لاس ته راځی چې د حفظ الصحی تاریخچه په طبعیت کې د ژوند د راڅرګندیدو سره یوځای شروع کیږی.

د عسکری حفظ الصحی تاریخچه له هغه تاریخ څخه پیل کیږی چې ملتونو د افزارو په واسطه د خپل هر ډول ملی حقوقو د مدافعی او د یوی حربی مکملی قوی په وضع کولو سره د ملت د افرادو له منځه شروع کیږی، منځ ته راځی.

نو د اردوګانو روغتیایی تشکیلات یوازی د جګړی په وختونو او د حرب په زخمیانو پوری مختص نه دی بلکې د عمومو ناروغیو په مقابله کې چې په هر وخت کې د اردو هر غړی پری اخته کیږی د خدمت کولو علاقمند دی او داهم له حقیقته لیری نه ده چې ساری ناروغۍ د حرب او سفربرۍ په شرایطو کې د جګړی د وخت د زخمیانو په نسبت ډیری زیاتی مهمی دی.

که چیرته په افغانستان کې د وسله والو ځواکونو تشکیلاتو ته نظر واچول شی نو د تاریخ له پاڼو څخه به ښکاره شی چې د ابدالیانو د دولت د وسله والو ځواکونو د بیلا بیلو څانګو د داخله، جراحی، کمپودری (دواسازی)، بیطاریه او نورو صحیه پرسونل وظیفه اجرا کوله او په هغو کې له طبابت او طبی مرستو څخه یادونه شویده چې دا دی دا موضوع د تاریخی اسنادو له مخی تر کتنی لاندې نیسو:

د اردو کالنۍ د ۱۳۴۹ د دلوی په میاشت کې «بنیان ګذاران قوای مدافعه ملی افغانستان»[۱] تر عنوان لاندې داسی لولو:

د احمد شاه اردو د منظمو او غیر منظمو قواو (ملی قواو) څخه تشکیل شوی و چې په منظمو قواو کې:

۱- پلی.

۲- سواری.

۳- توپچی.

۴- لوژستیک او نور شامل وو.

---

۱ - تورنجنرال عبدالرسول، سالنامه مجله اردو، دلو ۱۳۴۹، ص-۵۰.

...چې هره قوه د ارتباطی، انشأاتی، روغتیایی مرستو، تعمیراتی، اردو بازار او نورو د تشکیل سره د عامه اړتیا وو د ناظر په نوم مقام لاندې اداره کیدل.

که د نولسمی پیړۍ نظامی تشکیلاتو مراجعه وکړو ګورو چې امیر دوست محمد خان (۱۲۵۹هـ/۱۸۳۶م) په زمانه کې په ۱۲ لویو ښارونو کې عسکری قطعات تشکیل شوی وو او روښانه ده چې په غونډونو کې روغتیایی تشکیلات هم موجود وو چې په حضر او سفر کې ناروغانو او ټپیانو سره مرستی رسولی.

کله چې امیر شیرعلی خان (۱۲۸۵هـ/۱۸۶۸م) د دویم ځل لپاره پاچا شونو د هغه وخت د تاریخی پېښو د څېړنو او تحلیل په اساس دی نتیجی ته ورسید «ترڅو پوری چې د یوه هېواد خلک د ملی قوت، ملی شتمنۍ او قومی پوځ له پلوه ښه منظم نه وی هیڅکله ورسره د نړۍ نور ولسونه، نه یوازی همدردی او خواخوږی نه شی کولای بلکې د ده سره د ددوستۍ ټینګولو او یووالی د منځ ته راوستلو خیال هم نه شی کولای» (د پښتو تاریخ دریم ټوک). د امیر شیرعلی خان په وخت کې د عسکری اصطلاحات او افسرانو رتبوی نومونه او نور منځ ته راغلل او په اتو ولایتونو کې نظامی قطعات درلودل.

امیر شیرعلی خان د لومړی ځل لپاره د افغانستان د وسلی جوړولو لویه فابریکه په بالاحصار کې جوړه کړه چې افغانی توپونه، ټوپکی او تومانچې پکې تولیدلی.

مرحوم پوهاند عبدالحی حبیبی د تاریخ مختصر افغانستان کتاب کې داسی معلومات ورکوی.

د امیر شیرعلی خان په دویمه دوره کې لاندنۍ چاری سرته رسیدلی دي:

۱- په کابل کې یوه چاپ خانه پرانستل شوه.

۲- عسکری ښوونځی پرانستل شو.

۳- یو منظم اردو یې تشکیل کړ.

او په اتو ځایونو کې پوځی قوماندانی او قرارګاوی تشکیلی کړی چې په قطعاتو او غونډونو کې د روغتیایی چارو تشکیلات هم موجود وؤ.

کله چې امیر عبدالرحمن خان په ۱۲۹۷هـ.ق کې د پاچهی پر تخت کښیناست منظم او غیر منظم عسکری قوتونه یی تنظیم کړل او روغتیایی مرستو رسولو له پاره په قطعاتو کې طبی تشکیلات هم موجود وو.

په کال ۱۸۸۶ حربی فابریکه یې خریداری کړه چې د بخار په قوه فعالیت کاوه او د ماشین خانی په نوم کابل کې تاسیس شوه. په دې فابریکه کې ۴.۰۰۰ تنو کارګرانو کار کاوه چې اکثره تولیدات یی نظامی برخه کې مصرفیدل، نو ځکه صحی تشکیلات که څه هم ابتدایی و خو موجود وو.

د افغـان او انګلیس د جنګونو څخه داسی نتیجه واخستله شوه چې طبی مرستی باید په یوه ځانګړی محل او د څو کسو له خوا اجرا شی. همدا و چې په کال ۱۲۵۹هـ/۱۸۸۰م د افغان او انګلیس د دویمی جګړی څخه وروسته امیر عبدالرحمن خان عصری طبابت او د ملکی او نظامی روغتونو ته پاملرنه وکړه او په باغ بالا کې پنځوس بستریز نظامی روغتون یې تاسیس کړ. د روغتون اداره د بهجت او چرک په نوم د یوه ترکی دوکتور په غاړه وه.

د امیر حبیب الله خان تقریباً د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان د عسکری تشکیلاتو په چوکات اکتفا وکړ او د ضرورت له مخی یې یکې سرسری بدلونونه رامنځ ته کړل. «په هر غونډ کې یو روغتون تشکیل شو چې (یو داکتر، دوه جراح او کمپودر)، آشپز، دهولی، سقاو او جاروکش موجود وو»[1] البته دی طبی پرسونل د طب او درمل جوړولو عالی تحصیلات نه درلودل.

په کال ۱۹۰۹ کې حربی ښوونځی تاسیس شو چې په هغه کې ترکی او افغانی استادانو تدریس کاوه او د جمناستیک یو تن هندی ښوونکی چې شاه جی نومیده درس ورکاوه. همدارنګه دغه ښوونځی لوی او پراخه باغ درلود چې په هغه کې یو روغتون موجود ؤ. احتمال دا دی چې د دې روغتون مسلکی غړی په منځنی سویه وو او د هندی اطباو څخه زده کړه کړی دی.

په کال ۱۲۸۹هـ/۱۹۱۱م کې په پل محمود خان کې یو ملکی روغتون تاسیس شوی چې په دې توګه د امیر حبیب الله خان د سلطنت په دوره کې د کابل په ښار کې دوه روغتونونه موجود وو.

---

۱ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، مطبعه دولتی ۱۳۴۶ کابل، ص-۶۸۰.

«د امیر حبیب الله خان د سلطنت په وخت کې یو ترکی نظامی داکتر چې مسلک یې جراحی وه د منیر بیگ په نامه یادونه شوی ده. نوموړی دوکتور د جراحی په عملیاتو کې د فوق العاده ستونزو سره مخامخ و او خپل عملیاتونه یې پر هغه میز باندې چې شهزادگانو پوری مربوط و تر سره کاوه»[۱].

د غازی امان الله خان د سلطنت په وخت کې باید وویل شی د لومړی ځل لپاره د دفاع په وزارت کې د طبیه مدیریت تشکیل شو چې «د امانی دولت د نظام نامو په اثر کې (در بخش نظام نامه تشکیلات اساسیه افغانستان ۱۵ دلو ۱۳۰۲ در ماده ۷ وزارت حربیه) داسی لیکل شوی دی چې د هغو له دوایرو څخه یکې یادونه شوی او د دی مادی په ۶ بند کې د طبیه مدیریت نوم اخستل شوی دی»[۲].

د دفاع وزارت د تشکیلاتو او سفربرۍ د مدیریت د ۱۳۰۳-۱۳۰۴ کال کالنۍ کې د روغتیایی پرسونل د یو شمیر کسانو له تغیر، تبدیل او ترفیع څخه یادونه شوی ده. او همداشان په مکتوبونو کې د منسوبینو د تغیر او تبدیل کې د میاشتنی او کلنی معاش اندازه لیکل شوی دی. د بیلگی په توگه د ۴۶ – ۷سرطان ۱۳۰۳ مکتوب پر اساس شهنواز خان جراح د څلورم غونډ طبیب مقرر شؤ د ده میاشتنی معاش اوه سوه روپۍ سمی دی او یا د همدی مکتوب مطابق، ملا جمعه خان د روغتیا طبیب له څلورم غونډه دریم غونډ کې مقرر شو او د ده معاش دری شپیته روپۍ دی.

له دې مثالونو څخه جوته کېږی چې د اردو په قطعاتو کې د صحی تشکیل نیول شوی خو د هماغه وخت د امکاناتو له مخی دومره پراخ نه و. د مثال په ډول، د طیاری د قوماندانی د صحی تشکیل چې د ۱۳۰۴ د وری په ۲۲ پیشنهاد او منظور شوی، یو تن کمپودر، ټپ گندونکی (جراح)، د ناروغ تخلیه کوونکی او تحویلدار ته ځای ورکړ شوی دی چې دا څلورو اړه د طیاری د قوماندانۍ د درستیزوال تر اداري لاندې وظیفه اجرا کوله او هم د دوی د پاره د شیرپور په هوایی ډگر کې یوه کوچنۍ کوټه ورکړ شوی وه.

د اردو د روغتیایی خدماتو د برخی د لاربنودو اسنادو او وثایقو په باب حتی په ډیرو لیریو زمانو کې اقدامات شویدی چې د مثال په توگه په یقین سره باید وویل شی چې دا به د افغانستان د اردو د طبابت لومړنۍ لایحه

۱ - مجله کار، شماره ۶-۷، ۱۳۶۹.
۲ - میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، مطبعه دولتی ۱۳۴۶ کابل، ص-۷۹۵.

وی، چې د دې لايحی د رسمی چارو په اړوند چې د تشکيلاتو د رياست د ۱۳۰۶ په کالنۍ کې تری يادونه شويده داسی ويل شوی دي:

د حربيه وزارت د مکتوب عنوان – د هغی لاندې طبيه دايره ليکل شوی. د مکتوب نمره ۵۹ او تاريخ ۲۶ وری ۱۳۰۶ دی. د مکتوب متن په لاندې ډول دی:

«ص داکتر بهجت بيګ قبل ازينکه به وطن خود نرفته بود يک لايحه برای اداره و اجرات داخلی شفاخانه قول اردو ترتيب و تنظيم نموده بود. از طرف مجلس عسکری وزارت تصويب و جهت پيدا نمودن صورت قانونی به رياست شورای دولت فرستاده شده بود که رياست شورا بچند مواد آن تعديلات لازمه ديده فکر خود را به وزارت حربيه ارقام کرده بود، چون آنوقت شفاخانه قول اردو مربوط به مديريت مستقله طبيه بود که برای ج محمد اکبرخان مدير مستقله طبيه فرستاده شده بود.

اينکه لايحه داکتر موصوف که عبارت ازهشت ورق است برای تان فرستاده شد تا به توسط داکتران شفاخانه های مربوط قول اردو دران غور نموده جواب داکتران را به وزارت حربيه مرقوم داريد که بعد به ملاحظه رياست شورا فرستاده شود».

د پورتنی مکتوب له متن څخه معلوميږی چې په دې وخت کې قول اردو يو روغتون درلود او د دفاع وزارت په چوکاټ کې کوم مستقل روغتون وجود نه درلود. لکه چې د ۳۱۲۰ – ۱۳۰۶/۲/۲۴ د مکتوب په اساس چې د دفاع وزارت د طبيه دايری له خوا ليکل شوی و په هغه کې يادونه شوی وه چې د ښوونځيو او نور ناروغان د قول اردو په مرکزی روغتون کې بستر او تداوی کيږی. ځکه چې حربيه وزارت له ځانه روغتون نه لری. يواځی په مستعجله ښوونځی او پياده تعليم ګاه کې يو يو کتنځی موجود دی.

د ۱۳۰۶ کال له اسنادو څخه همداشان جوتيږی چې ش محمد آصف خان طبيه مدير او د عسکری روغتون مدير هم و. او په همدی کال کې د روغتيايی يو شمير پرکمشران تر تعليم لاندې نيول شوی او په همدی نيټه تر فراغت وروسته د شاهی ماشيندار ټوليو په بست کې نيول شوی وو.

په همدې توګه په دې کال (۱۳۰۶) کې د حربيه د ښوونځی په پروګرام کې په اونی کې څلور ورځی د طلابو د پاره انسانی او حيوانی حفظ الصحوی لوستونه نيول شوی او بهجت بيګ د مرکز د روغتون داکتر او سر بيطار سيد دلاور علی شاه خان د تدريس چاری په غاړه درلودلی.

په همدې شان افغانی هیئت چې د ۱۳۰۵ د مرغومی په ۱۸ نیټه شوروی اتحاد ته روان شو ؤ، د دوی په پلان کې د فابریکو، موسساتو او نورو په جمله کې د ګرځندو (سیارو) او ثابتو عسکری روغتونونو څخه کتنه هم شامله وه چې د ماسکو په ښار کې یې د عسکری د دریم نمبر روغتون څخه کتنه کړې ده.

د روغتیایی خدمتونو د تشکیلات جوړښت له نقطه نظره باید وویل شی چې یو شمیر اسناد شته دی چې له هغو څخه یادونه او نتیجه ګیری کیدلای شی.

امیر امان الله خان روغتیایی چارو ته ډیره پاملرنه درلوده او کله چې په ۱۳۰۴ کال یې کندهار ته سفر وکړ نو د ولایت د نورو چارو د تفتیش په جمله کې ملکی او نظامی روغتونونه هم کنترول شوی دی. نوموړی په ۱۳۰۴ کال د لړم ۲۱ د جمعی ورځې په خطبه کې داسی وویل «اشخاصیکه مجروح میګردند علی الفور به شفاخانه های سیار نظامی تحت معالجه قرار ګرفته میشود»[1] او د پوځی چارو د طبابت په باره کې ویلی چې محمد سرور خان کمپودر چې د ده کارونه هیڅ اساس او ترتیب نه درلود ...د نظامی خدمت څخه طرد شو او د روغتون تحویلدار ۴۰ ورځې حبس شو.

---

۱ - سرمحقق نصرالله سوکمن و فرهاد محقق ظریفی، نطق های اعلحضرت امان الله، ۱۳۷۰، ص-۴۷.

په نظامی طبابت کې د هندی او ترکی ډاکترانو ونډه:

د افغانستان او ترکيې جمهوريت ترمنځه دوستانه اړيکی په تيره بيا کلتوری، فرهنګی او نظامی مناسبات له انګليس څخه د افغانستان د استقلال تر استرداد او د ترکيې د جمهوری رژيم تر تاسيس وروسته شروع شول.

د دواړو هېوادونو د اړيکو د لا ښه کولو په خاطر يو لوړ رتبه پلاوی چې د هغه په ترکيب کې دکتور حيدر بيګ (حيدر اوزاق) هم شامل و او د ترکيې د دفاع وزرات د روغتيايی چارو په دايره کې يې د مديريت دنده درلودله افغانستان ته راوليږل شو. نوموړی جګړن په افغانستان کې د طبی پرسونل د روزنی په باره کې د نظرياتو ورکولو او همدارنګه د هغو روغتيايی تاسيساتو په اړوند چې د جوړېدو په حال کې وو د ځيرنی په خاطر نسبتاً ډېره موده په کابل کې تيره کړه.

په ۱۳۰۱هـ/۱۹۲۲م کې د افغانستان د هغه وخت د حکومت د غوښتنی له مخی په کابل کې د طب پوهنځی د تاسيسولو لپاره د جبجی د روغتون د جراحی متخصص دګروال دوکتور رفقی بيګ (رفقی اورګا) يی کابل ته راوليږه نوموړی د جراحی په څانګه کې مهارت درلود.

«په دې ترتيب د دواړو هېوادونو (افغانستان او ترکيه) دوستانه ژور اړيکو لاقوت او تينګښت وموند او ترکانو د افغانستان د اردو د پوځی زده کړو او روغتيايی چارو کې د يادونی وړ ونډه واخستله. په دې وخت کې جمال پاشاه، بدری بيګ، ضيأ بيګ، جنرال فخرالدين پاشاه، جواد بيګ، او جنرال کاظم پاشاه داګرده د ترکيې کار پوه شخصيتونه وو چې افغانستان ته يې خدمت کاوه»[۱].

په ۱۹۳۶-۱۹۳۷ کال په سمت جنوبی کې ښورښ اواله ګوله را پيدا شوه چې د وخت پاچا پروفيسور زهتو برګه، دوکتور ربيعی بيګ د يوه تن هندی داکتر سره مؤظف کړل چې د هغو افسرانو او عسکرو روغتيايی وضع له نظره تير کړی چې په عسکری سوقياتو کې يې برخه اخستی وو، چې په اخير کې دغو داکترانو يو راپور ترتيب او پاچا ته يې وړاندی کړی و. په دې راپور کې د حربيې وزارت په تشکيلاتو کې د يو مشاور دوکتور موجوديت لزوم هم په ګوته شوی و.

بايد وويل شی چې د امير حبيب الله خان سراج تر سلطنت وروسته د دفاع وزارت په تشکيلاتو کې د پاچا په امر د اردو روغتيايی چارو

۱ - مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد اول، مطبعه دولتی ۱۳۴۶ کابل، ص-۷۸۸.

مشاوریت منظور شوی دی. د دې پُست د اشغالولو لپاره د استنبول د روغتون پروفیسور سوریـــا تانـــای نومیده چې په ۱۳۰۸هـ/۱۹۳۹م کال په افغانستان کې دغه دنده واخیست. نوموړی په حربی وزارت کې د اردو د روغتیایی چارو د مشاوریت تر څنګه د حربیی په ښوونځی کې د حفظ الصحی د معلم په حیث هم تدریس کاوه.

ترکی داکترانو له ۲-۳ کلونو پوری په افغانستان کې خدمت کاوه او په ترکیه کې یې رتبه، معاش او نور امتیازات شخصاً په خپله ده ته او یا یی کورنۍ ته ورکول کیده. افغانی لوری پرته د تګ راتګ له لګښته چې د یو کس لپاره ۱۰۰ انګلیسی پونډه کیدل او د یو کور څخه نور څه نه ورکول.

په افغانستان کې ترکی افسرانو افغانی یونیفورم اغوسته او د هغې رتبی نه یوه رتبه پورته چې په ترکیه کې درلودله قبلیده.

په لومړی سرکې د دوکتورانو انتخاب د ترکیی د حکومت له خوا ؤ چې د وخت د تیریدلو سره ورو ورو د استخدام شرایط د افغانستان له خوا وضع شول.

لومړی هغه داکتر چې تردی شرایطو لاندې د وسله وال پوځ د خدمت په خاطر کابل ته راغی تورن داکتر غالب صبری ګوکړ د ولادی نسایی متخصص و. تر ده وروسته بیا نور متخصصین لکه د جراحی دوکتور سلامی «اهاد»، جګړن دوکتور عابدالدین آغا انګیس شوی، جګړن دوکتور تاج الدین امیز، جګړن دوکتور خلیل ګورون، تورن دوکتور طالب روز دولای، جګړن دوکتور حلیمی اوزګون، جګړن دوکتور کپتیان اوغلو (دغه وروستی دوکتور په کال ۱۳۳۹ د حربی پوهنتون (مکتب حربیه) چې دا وخت یې د کابل په بالاحصار کې موقعیت درلود د لومړی ټولګی د عسکری کیمیاو ګاز (A.B.C- اتومی، بیولوژیکی او کیمیاوی وسله) درس پرمخ بیوه چې پوهاند عبدالحی مؤمنی او پروفیسور دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل هم د ده شاګردان وو).

همدارنګه جګړن دوکتور توفیق اوسر، جګړن دوکتور نورالدین اوزل، جګړن دوکتور خیری، جګړن دوکتور صبری اونات، جګړن دوکتور اژدت التان، ډګرمن دوکتور همزه واحد ګوغم، تورن دوکتور شوکت تکسیمان او درمل جوړولو جګړن شکری بیګ وو.

جګړن پروفیسور شکری بیګ د اوسنی روغتیایی چارو د ودانیو کومپلکس (دیپوګانی، د درملو د اعمال لابراتوارونه، د الکولو د استحصال د ستګاه او نور)، د صحیی عینیاتو تعلیمات نامه (۱۳۲۸)، نور لارښوونکی

اسناد يې منځ ته راوړل او د نظامی درمل جوړونکو روزنه د شکری بیگ د زحمتونو مرهون دی.

(باید وویل شی چې د ۱۳۸۱ کال په وروستیو کې د روغتیایی چارو ټولی ودانۍ او د شیرپور تاریخی ودانۍ ړنگی شوی او ځمکی يې د انتقالی دولت رهبری او قوماندانانو خپل منځ کې و وویشلی. په شیرپور کې چې دیپوگانی موجودی وی داسی اعمار شوی وی چې د کال په ټولو موسمونو کې د درملو او لوازمو ساتنی او محافظی ټول تدابیر نیول شوی وو. همدارنگه په لابراتوارونو کې راز راز تابلیتونه، بندیچونه، سیرومونه، زرقی محلولونه او نور لوازم جوړیدل چې بیرته احیا نه شول او د ودانیو او دیپوگانو ټول د انتقال په وخت لوټ او تالان شول– مولفین).

نوموړو دوکتورانو به د استانبول، بغداد، بصری، کراچی، پیښور له لاری کابل ته راتلل او د بیرته ستنیدلو لاری يې هم داوی.

د اعلحضرت محمد نادر خان په وخت کې چې شاه محمود خان د حربیی وزیر په حیث وټاکل شو او د پل محمود خان ملکی روغتون يې په عسکری روغتون بدل کړ او اداره يې د هندی دوکتورانو په غاړه وه. چې د اردو روغتیایی چارو د مشاوریت خدمت دوکتور قریشی، دوکتور عبدالغنی او دوکتور هاشم خان په دې روغتون کې تر سره کاوه. په ۱۳۱۰ کال داکتر قریشی د روغتون د سرطبیب په توگه دنده اجرا کاوه.

د افغانی نظامی طبابت لومړی ډله عبارت له مرحوم غلام حسین خان جراح، دوکتور فقیر محمد خان، دوکتور حاجی غلام حسین خان د غوږ،استونی او پوزی داکتر او دوکتور عزیزالدین خان څخه و چې په دې روغتون کې مؤظف شوی وو.

په کال ۱۳۲۳ کې دغه روغتون نیمه اختصاصی روغتون ته ارتقا وکړ چې زیات داکتران يې تربیه کړی او اوس یو تخصصی روغتون دی. په دغه روغتون کې اوس د نری رنځ، جلدی، عقلی او اعصابو او داخلی ناروغان تر درملنی لاندې نیول کیږی.

د پل محمود خان روغتون چې د دویم لمبر روغتون په نامه نومول شوی و اوس د نظامی طبی علومو اکادمی ضمیموی روغتون په نامه یادیږی چې څلور څانگی یعنی داخله، جلدی، غوږ،ستونی او پوزی، عقلی او عصبی او نری رنځ لری.

په کال ۱۳۱۸هـ/۱۹۳۹م د حربیې وزیر شاه محمود خان او د مرکزی قواو قوماندان جنرال محمد داود خان د نظامی روغتون د پراختیا په هڅه کې شول، دا وه چې د کابل د هوایی ډګر ته څیرمه ودانۍ چې هلته موجودی وی لاپراخی کړی. او په دې توګه نظامی روغتون د کابل ښار په شمالی برخه کې جوړ شو چې د دی روغتون په جوړولو کې د جګړن دوکتور غالب ګوکر خدمتونه د هیریدلو نه دی. دغه روغتون د قوای مرکز روغتون په نامه ونومول شو. باید وویل شی چې پخوا د قول اردو مرکزی روغتون چې د کابل ښار په باغ بالا کې یې موقعیت درلود د قوای مرکز د روغتون دندی په غاړه درلودلی.

د روغتون او د اردو د جزوتامونو د طبی کادرونو د بشپړتیا په خاطر د طب د پوهنځی فارغانو ته نظامی رتبی ورکړ شوی او د داکتر په حیث یې په نظامی خدمت پیل وکړ په دې وخت کې ترکی داکترانو د حربیه وزارت د روغتیایی چارو د مشاوریت او د مرکزی قوا د دری سوه بستریز روغتون چې د کابل ښار په شمالی برخه کې جوړ شوی و د معالجو داکترانو په توګه وظیفه اجرا کوله.

هندی داکترانو د پل محمود خان د روغتون چې ډیر لومړنی (ابتدایی) و چاری اجرا کولی په دې روغتون کې انګلیسی او امریکایی دوکتورانو هم دندی درلودی.

د نظر وړ مقررو او تعلیمات نامو تدوین هم د دوی له خوانه تهیه کیده چې د اردو په مختلفو جزوتامونو کې د روغتیایی خدمتونو د عملی کولو د پاره زمینه برابره کړه.

د ترکی نظامی دوکتورانو خدمتونه چې د افغانستان په اردو کې ترسره کول د ډیری قدردانۍ وړ دی ځکه په دغه وخت کې په کابل کې دوه قول اردوګانی، یو شاهی ګارد او یو شمیر نظامی ښوونځی هم موجود وو. د دوی د روغتیایی چارو د بررسۍ په خاطر د نظامی روغتون چاری باید مرتبی او منظمی وی، چې د دی مقصد د پاره جګړن دوکتور صبری اناث د مرکزی قوا د سرطبیب به حیث استخدام شو. نوموړی یو زیارکښ شخص و او د ده د وظیفی د تصدی په وخت کې د قوای مرکز روغتون د ودانۍ ساختمان او ملحقاتو په کار کې چې وروسته د لومړی لمبر روغتون په نوم یاد شو او شهرارا ته نژدی پروت و اقدام وکړ ځکه دغه ودانۍ په لومړی سرکې د آسانو طویلی وی. په همدې ډول د هغو ځوانو داکترانو د علمی

سویې په لوړولو کې چې د ده تر امر لاندې ورکړ شوی وو زیات زحمتونه وګالل.

په همدې وخت کې ډګرمن دوکتور نورالدین جمیل اوزل د حربیه وزرات د روغتیا د مشاور په حیث وظیفه اجرا کوله او د دی ترڅنګه یې په روغتیایی چارو کې د مرستندویه پرسونل د روزلو په خاطر لکه نرسنګ، جراح، واکسناتور او داسی نور لازم کورسونه پرانسیتل د حفظ الصحی مضمون یې د حربیه مکتب شاګردانو ته تدریس کاوه.

تر دې وروسته دوکتور توفیق اوسر د قوای مرکز د سرطبیب په حیث کابل ته راغی. ترکی نظامی داکترانو په افغانستان کې لکه د داخلی دوکتورانو په شان د کتنځیو د پرانستلو حق درلودل. د دوی د معاینی فیس (۱۰) افغانی چې د ترکیی د دوه لیرو سره برابره دی ټاکل شوی و.

په همداشان وړاندیز وشو چې نظامی دوکتورانو د پاره د ستاژ یوه دوره تر تطبیق لاندې ونیول شی. د ستـــاژ په دې دوره کې به دوکتورانو په حضر او سفر کې د اردو د جزوتامونو په مختلفو قدمو کې وظیفی درلودلی، همداشان د اکمالاتو طریقی او روغتیایی خدماتو د اکمالاتو قدمی او داسی نور علاقی وړ مسایل لکه د تشخیص په مورد کې، د لابراتواری وسایلو استعمالول، د عدلی طب او د طبابت تاریخ پرنسیبونه او د ساری ناروغیو سره د مجادلی طریقی زده کول.

په دې اړوند هغه تعلیمات نامه چې د ډګرمن دوکتور کامل کپیتان اوغلو له خوا تهیه او د اړوندو مقاماتو له خوا تسجیل شوی وه په هر اړخیز ډول یې په دې مورد کې قانونی خلاوی ډکول.

په عین وخت کې یو شمیر افغانی نظامی دوکتوران د تخصص د بشپړولو په خاطر بیاهم ترکیی ته لیږل کیدل. په همدی ډول د نظامی محصلینو څو دوری هم ترکیی ته لیږل شوی چې تر تحصیل وروسته به د تخصص په سویه افغانستان ته راستنیدل. محصلین د طب په څانګو، درمل جوړولو، او وترنرۍ په مسلک کې د تحصیل لپاره ترکیی ته لیږل کیدل، چې د دوی لومړی دوره (د طب د څانګو د داخله، جراحی)، دواسازی او وترنری محصلین په ۱۳۳۸ کال چې شمیر یې یولس تنه وو او د حربی ښوونځی څخه د زده کړو لپاره ترکیی ته روان شول.

نظامی طبابت د محمد نادر شاه په دوره کې:

په ۱۳۰۸ کال کې د افغانستان ټولی اقتصادی او فرهنګی منابع دوباره په اعاده کولو پیل کوی او په دی ډګرونو کې اضافی پراختیاوی شروع کېږی. مرحوم ظریف صدیقی د ۱۳۴۹ کال د کالنۍ په ۹۶ مخ کې د (نظری به اردوی افغانستان در سال ۱۳۰۸) تر عنوان لاندې مقاله لیکی.

د حربیه په وزارت کې د طبیه مدیریت تشکیل و چې د طبیه مدیر یې کندکمشر قطب الدین خان و.

همداشان نظامی روغتونونه بیرته فعال کړی شول لکه چې دی مهم کارته د پوره پاملرنی له مخی د یو کال په موده کې چې حربیه وزارت تشکیل شو په مرکزی روغتون کې ۲۵.۶۴۱ تنه نظامی ناروغان او ۸.۵۳۰ تنه ملکی ناروغان تداوی شول.

نوموړی د پورتنی مجلی په ۶۵ مخ کې د ۱۳۱۲-۱۳۱۷ کلونو په اړوند لیکی: په ۱۳۱۲ کال د دفاع وزارت یو ثابت تشکیل درلود چې د صحیه او بیطاریه مدیریت د هغه په تشکیل کې موجود وو. پخوا تردی چې د اردو د روغتون (پل محمودخان) د طبی پرسونل د روزنی په باره کې بحث وشی بهتره به وی چې د نظامی طبابت تشکیلاتو ته اړوند (په ۱۳۰۸ کال) کتنه وشی.

په ۱۳۰۸ کې د حربیه وزارت د صحیی مدیر شجاعت مند (ش) سردار قطب الدین کندکمشر او غیرتمند (غ) عبدالطیف خان ټولیمشر د صحیه سرکاتب و.

د عسکری مجلس د فیصلی په اساس د قول اردو د مرکزی روغتون تشکیل په لاندې ډول دي:

نمبر	تفصیلات	میاشتنی معاش (تنخواه)	کلنی معاش (تنخواه)	کتنی
۱	سرطبیب یو نفر د غونډ مشر په رتبه	۲.۰۰۰	۲۴.۰۰۰	
۲	د سرطبیب مرستیال د کندکمشر په رتبه دوه کسه			
	- یوتن سارجن اسیستانت	۱.۵۰۰	۱۸.۰۰۰	
	- یوتن د سارجن سب	۶۰۰	۷.۲۰۰	
۳	درمل جوړونکي د تولیمشر په رتبه- د درملو په تحویلۍ مکلف دي	۱۵۰	۱.۸۰۰	
۴	درمل جوړونکي دوه تنه د بلوکمشر په رتبه د فی نفر معاش سل افغانۍ	۲۰۰	۲.۴۰۰	
۵	سرجراح یوتن د تولیمشر په رتبه- د جراح خانی په تحویلدارۍ مکلف دي	۱۵۰	۱.۸۰۰	
۶	جراح دوه تنه د بلوکمشری په رتبه- د یوتن معاش سل افغانی	۲۰۰	۲.۴۰۰	
۷	د اعاشی او البسی تحویلدار د تولیمشر په رتبه	۷۰	۸۴۰	
۸	پرستار ۵۰ تنه د فی نفر معاش ۳۵ افغانۍ	۱.۷۵۰	۲۱.۰۰۰	
۹	خدمتی ۷ تنه د فی نفر معاش ۲۳ افغانۍ	۱۶۱	۱.۹۳۲	
۱۰	اشپز دوه تنه د فی نفر معاش ۳۵ افغانۍ	۷۰	۸۴۰	
۱۱	سقاو دوه تنه	۴۶	۵۵۲	
۱۲	جاروکش دوه تنه	۶۹	۸۲۸	
۱۳	باغوان(باغبان) دری تنه فی نفر معاش ۲۳افغانۍ	۶۹	۸۲۸	
۱۴	خرکار یوتن	۲۳	۲۷۴	
۱۵	دوبی دوه تنه د فی نفر معاش ۵۰ افغانۍ	۱۰۰	۱.۲۰۰	
۱۶	دلاک یوتن	۴۴	۵۲۸	
۱۷	د روغتون مدیر د کندکمشر په رتبه یوتن	۱۵۴،۵۵	۱.۸۵۰،۶	
۱۸	د روغتون سرکاتب د تولیمشر په رتبه یوتن	۱۱۳،۶۴	۱.۳۶۳،۶	
۱۹	د روغتون کاتب د بلوکمشر په رتبه یوتن	۶۸،۹	۸۱۸،۲۸	

(د قندهار، هرات، مزارشریف، مشرقی سمت، جنوبی سمت) د هریوه ولایت د مرکزی روغتون هیئت:

نمبر	تفصیلات	میاشتنی معاش (تنخواه)	کلنی معاش (تنخواه)	کتنی
۱	داکتر یوتن د کندکمشر په رتبه	۱.۰۰۰	۱۲.۰۰۰	
۲	سرکاتب یوتن د تولیمشر په رتبه	۸۳،۹۰	۱۰۰۹	

نمبر	تفصيلات	میاشتنی معاش (تنخواه)	کلنی معاش (تنخواه)	کتنی
۳	کاتب یوتن د بلوکمشر په رتبه	۵۴،۵	۶۴۵	
۴	کمپودر دوه تنه د بلوکمشر په رتبه د فی نفر معاش ۱۲۰ افغانۍ د درملو په تحویلدار مؤظف او د یوتن ۸۰ افغانی، د دوو نفر	۲۰۰	۲.۴۰۰	
۵	محافظ (پرستار) ۶تنه د یوتن معاش ۳۵ افغانۍ	۲۱۰	۲.۵۲۰	
۶	د داکتر د پاره خدمتی ۲تنه د یوتن معاش ۲۳ افغانۍ	۴۶	۵۵۲	
۷	د اعاشی او البسی تحویلدار یوتن د بلوکمشر په رتبه	۵۰	۶۰۰	
۸	آشپز دوه تنه یو طباخ او بل یی لاس لاندې د دواړو معاش	۶۰	۷۲۰	
۹	جاروکش یوتن	۲۳	۲۷۶	
۱۰	سقاؤ یوتن	۲۳	۲۷۶	
۱۱	باغوان دوتنه د یوتن معاش ۲۳ افغانۍ	۴۶	۵۵۲	
۱۲	خرکار یوتن	۲۰	۲۴۰	
۱۳	جراح یوتن د بلوکمشر په رتبه د جراحی د سامان د تحویلداری موظف	۱۰۰	۱.۲۰۰	
	ټول	۲۳.۰۸۰		

د میمنی او فراه د اعلی حکومتونو د مرکزی روغتونونو هیئت:

نمبر	تفصيلات	میاشتنی معاش	کلنی معاش	کتنی
۱	داکتر د کندکمشر په رتبه یوتن	۱.۰۰۰	۱۲.۰۰۰	
۲	کاتب د بلوکمشر په رتبه یوتن	۵۴،۵	۶۴۵	
۳	کمپودر د بلوکمشر په رتبه یوتن د ادویی تحویلداری یی هم په غاړه لري	۱۰۰	۱.۲۰۰	
۴	جراح د بلوکمشر په رتبه یوتن د جراح خانی د سامان تحویلداری په غاړه لري	۱۰۰	۱.۲۰۰	
۵	محافظ (پرستار) دری تنه د یوتن معاش ۳۵ افغانۍ	۱۰۵	۱.۲۶۰	
۶	خدمتی یوتن	۲۳	۱۷۶	
۷	تحویلدار بلوکمشر یوتن د البسی او اغذیی تحویلدار	۵۰	۶۰۰	
۸	طباخ یوتن	۳۰	۳۶۰	
۹	سقاؤ یوتن	۲۳	۲۷۶	
۱۰	باغوان یوتن	۲۳	۲۷۶	
۱۱	خرکار یوتن	۲۰	۲۴۰	
۱۲	جاروکش یوتن	۲۳	۲۷۶	
	ټول	۱۸.۶۱۸		

د غونډ د روغتون هیئت:

نمبر	تفصیلات	میاشتنی معاش	کلنی معاش	کتنی
۱	طبیب تولیمشر یوتن	۶۰۰	۷.۲۰۰	
۲	درمل جوړونکی بلوکمشر یوتن	۱۰۰	۱.۲۰۰	
۳	جراح بلوکمشر یوتن	۹۰	۱.۰۸۰	
۴	خدمتی د سایرپه درجه یوتن	۲۳	۲۷۶	
	ټول	۹.۷۵۶		

د طوپچی د غونډ تشکیل:

- طبیب او کمپودر دوه تنه

د سواری غونډ تشکیل:

- طبیب او کمپودر دوه تنه

د گردو کسانو یعنی داکترانو، جراحانو او دواسازانو عموم معاش د قرارداد په توگه دی چې د لیاقت په اساس د سرطبیب د تصویب نه وروسته کم او زیات کیدای شی.

د قول اردو، ولایتونو او اعلی حکومتونو د داکترانو معاش د حربیه وزیر د تصویب او منظوری او د غونډونو د داکترانو او د ولایتونو او اعلی حکومتونو د مرکز د عمومو جراحانو او دواسازانو معاش د سرطبیب د تصویب په اساس تاکل کیږی.

د طبی پرسونل د روزنی په باره کې ښایی یادونه وشی چې روغتیایی افراد، واړه ضابطان (بریدملان) او منځنی طب پرسونل د داکتر مرستیال او دواساز، د صحیه او بیطاریه د مدیریت د تشکیل له لومړی وخت سره سم پیل کیږی.

«کتاب نتیجه، امتحان و تعیین درجه لیاقت داکتران وغیره به همین تفصیلات شهادتنامه برای شان داده می شود» د کتاب له مخی چې زما (مومنی) په واک کې قرار درلود چې د اردو د روغتون (پل محمود خان) د لومړی دوری فارغان په ۱۳۰۸ کال کې وو.

تر تولو دمخه د دې کتاب د خصوصیتونو په باب داسی ویل کیدای شی. د کتاب په لومړی مخ کې د افغانستان د دولت نښان مهر شوی او په چوکاټ کې یې داسی لیکل شوی دی.

این کتاب دارای ۲۰۰ صحیفه و مساوی از (۱۰۰) ورق است. یگانه جهت تحریرات امور رسمی دولت مرتب شده است. مورخه ۶ میزان ۱۳۰۸.

تر دی وروسته په نورو مخونو کې مسایل ذکر شوی چې په همدې شکل لیکل شوی دی.

مخ (   ) د حربیه جلیله وزارت د مجله متعلق ۱۳۴۸هـ.ق/۱۳۰۸هـ.ش

شماره	اسم	ولد	قوم	سکونت	عکس	تاریخ	نتیجه امتحان، درجه لیاقت	تسلیمی شهادتنامه	ملاحظات
	علی محمد خان ۳۰ ساله	فتح محمد خان	ارائین	شهر پشاور، باشنده گذر منډوی کابل		۹ شوال ۱۳۴۸ ۲۰ حوت ۱۳۰۸	معاون داکتری ابتدایی به امراض داخلی و خارجی بدرجه اول امضای داکتر قریشي عبدالغنی شاه	بمورخ ۲۱ عقرب ۱۳۱۱ شهادتنامه را تسلیم شلم. امضای علی محمد	نظربه مکتوب ۹۳۷ مورخه ۱۶ مرغومی سنه ۱۳۰۹ مدیریت مستقله طبیه ملکی در اثر فرمان ۱۷۰۹ صدارت عظمی محتوی برای مجلس عالی وزرا و منظوری حضور شاهانه بوده. داکتران داخلی و خارجی افغانستان که دیپلومه رسمی نداشته اند معاون داکتر شناخته می شود و به اسم معاون داکتر یاد می شود. قید ۱۶۵۱

په دې کتاب کې ۳۲۶ قطعی فوتو د دوی د شهرت سره موجود دی چې د کتاب ۹۳ مخونه یې ډک کړی دی. او ۹۵ مخونه یې خانه پوری شوی نه دی او سپین پاتی دی.

په دې کتاب کې معاون داکتران، کمپودران (دواسازان) او بیطاران ذکر شوی دی چې د دوی یو شمیرو څخه واړه ضابطان وو او دوباره د دی

مکتبونو تابع شوی دی او افسران منل شوی دی، د دوی د بری لیک امتیاز ۴۰ افغانۍ و. هغه وروستۍ دوره چې زیاتره یې د دوباره کورس تابع شوی په ۱۳۵۱ کې دی چې شمیری ۱۹ ته رسیږی، چې د صحیه د منسوبانو د فراغت د کلونو په موده کې به له هغوی څخه یادونه وشی.

په ۱۳۰۸هـ.ش د ۲۸ تنو په شمیر فارغ شوی (د حوت میاشت ۱۳۰۸) چې ۱۲ تنه ابتدایی معاون دوکتوران د داخلی او خارجی ناروغیو په رشته کې و، ۱۲ تنه یې ابتدایی جراحان او ۴ تنه یې لومړنی دواسازان و. د مسلک لاندې یې د ټولګی درجه د داکتر قریشی او داکتر عبدالغنی لاسلیکونه ښکل شوی دی.

د بری لیک د تسلیمدو نیټه متفاوته ده. په بری لیک کې لیکل شوی و: نظربه امتحانیکه از (   ) ولد (   ) قوم (   ) عمر (   ) ساکن (   ) گرفته شده، نامبرده به درجه (   ) دواسازی ابتدایی را حایز است. لهذا این شهادتنامه برایش اعطا گردید. تاریخ امضا ها په ۱۳۰۹هـ.ش چې د اردو د مجلی د خپریدلو لومړنی کال دی او د اسد له میاشتی پیل شوی ده. دوباره اعاده شوه ځکه چې د تاسیس کال یې ۱۲۹۸ دی. په هغی کې طبی نشرات هم ترسره کیږی چې په دی کلونو او راتلونکو کلونو کې زیاتره طبی مقالی د محترم محمد اکبر دی. د بیلګی په توګه «حرب در کوه» مقاله یې ژباړلی او د ۱۳۰۹ د سلواغی د میاشت په ۲۷ مخ کې خپره شوی ده.

د ۱۳۰۹ کال کې یوشمیر ارقام او اسناد چې په ملګروملتونو کې ثبت شوی یو هم د مسلحو قواو تشکیل او بودجه دی په دی ترتیب چې د اردو تعداد ۷۲.۰۰۰ تنه افسر او سرباز دی. پولیس ۹.۸۴۵ تنه و. په دې کال کې نظامی بودجه ۴۵.۰۰۰.۰۰۰ افغانی وی.

د روغتیا مدیر شجاعت مند قطب الدین خان و او داکتر انظار الاسلام قریشی د حربیه وزارت سرطبیب و. د ۴۱۱۷ لمبر (۷میزان ۱۳۰۹) فرمان له مخی د توپچی د غونډ د هیئت نوی تشکیل چې له ۳۶ ضرب څخه مرکب دی په لاندې ډول دي:

- داکتر تولیمشر یوتن.
- سربیطار تولیمشر یوتن.
- بیطار بلوکمشر یوتن.
- کمپودر بلوکمشر یوتن.

☜ جراح بلوکمشر یوتن.

همداشان په دې کالنۍ کې د طبی ځانګو او پرسونل د دندو په اړوند معلومات وړاندی شوی چې د وظایفو د لومړنی لایحی په توګه تری په لنډ ډول یادونه کېږی.

د قول اردو د مربوطو ځانګو مربوطی دندی

د قول اردو سرطبابت او مرستیال یې:

قاعدتاً د هری قول اردو په قرارګاه کې د غندمشر په رتبه یوتن سرطبیب اود کندکمشر نه تر غندمشره پوری یو معاون او کاتب شته دی.

د دوی دندی:

۱- ذاتیه معاون، صحیه مامورین د ذاتیی مامورینو سره یوځای د ځانګو د (شعباتو) متفقاً معاملات.

۲- د قول اردو ټول قطعات څو ځلی په خاصه توګه په مختلفو موسمونو کې تفتیش کړی او نتیجه یې مربوطه مقام ته راپور ورکول (قشلی، ارزاق او د افرادو ماکولات).

۳- د قول اردو د روغتونونو تفتیش او پلټنه.

۴- د مسئوله (ساری) ناروغیو د ظاهریدو په وخت کې د لازمو تدابیرو نیول.

۵- د سفر او یا سفربرۍ په وخت کې د قول اردو د صحیه خدمت (د صحیی د تولی او ګرځنده روغتونونو تشکیل) او د استخدام صورت.

سربیطار او د هغه مرستیال:

د صحیی په خیر د هری قول اردو په قرارګاه کې قاعدتاً د غندمشر په رتبه یو سربیطار او د کندکمشر په رتبه یو مرستیال او یوتن کاتب موجود دی.

دندی یی:

۱- د ذاتیه معاملاتو د څانګو سره یوځای د بیطاریه مامورینو شخصیه (ذاتی) معاملات.

۲- د قول اردو د حیواناتو د صحیه احوالو تفتیش لکه د آسانو، یابوګانو او د کراچی آسانو (په خاصه توګه د هغوی د اوبو څښلو ځایونه او د حیواناتو د سطبل معاینه).

۳- د قول اردو د حیواناتو د روغتونونو تفتیش.

۴- د مسئوله (ساری) ناروغیو د ظهور په وخت کې د لازمو تدبیرونو نیول.

۵- د قول اردو د حیواناتو د سفربرئ د روغتونونو او دیپوګانو احضار او د بیطاریه خدماتو له نظره تنظیم.

۶- د بیطاریه هیئت د معلوماتو د پراختیا د پاره لازم تدبیرونه.

۷- د حضر او سفر په وخت کې د معلولو بیطاریه ضابطانو د استخدام صورت او د بیطاریه مامورینو تبدیل هوا.

۸- د تقاعد او اخراج راپورونو تدقیق او تصدیق په باب معلومات.

۹- په هغه سیمه کې چې قول اردو سوق الجیش لری د حیوانی ناروغیو او اوبو په باب لازمی څېړنی.

د یوې فرقې د قرارګاه تشکیل او دندی

د فرقی سرطبابت:

قاعدتاً په حضر کې فرقه د غونډ مشر په رتبه یو سرطبیب او دوه تنه ټولی مشران الحاقی او اخراجی دوکتوران ورکول کیږی. خو زمونږ په مملکت کې څه رنګه چې د صحیه تشکیلات دومره پراخ او حقیقی نه دی نو ځکه د صحی چارو د پاره د کندکمشر په رتبه یو سرطبیب او دوه نفر اخراجی کافی دی.

دندی په لاندې ډول دی:

۱- د فرقی همدا سرطبیب مؤظف دی چې د حضر په وخت کې د فرقی د روغتیایی تشکیلاتو له مخی د روغتیا اړوند چاری ترسره کړی.

۲- د هغو افسرانو او ضابطانو درملنه چې د غونډ په روغتونونو کې کیدای نه شی باید چې د فرقی په روغتون کې د فرقی د سرطبابت له خوا تر درملنی لاندې ونیول شی.

۳- د فرقی سرطبابت مجبور دی چې د یوه کال په اوردو کې د ټولی فرقی د روغتیایی حالاتو په خصوص کې څو پلا د قول اردو سرطبابت ته لازم معلومات وړاندی کړی.

۴- د فرقی سرطبابت په هغه سیمه کې چې د فرقی سوق الجیش وی د صحیه حالاتو او اوبو په باره کې د صحیی لازمی څېړنی اجرا او خپلو مربوطو مقاماتو ته وړاندی کړی.

۵- د فرقی سرطبابت هغه ضابطان چې د ارکان حربی او یا طیاره چې (پیلوټ) د پاره تفریق کېږی باید په ډیر اساسی ډول یې طبی معاینه کړی.

سربیطاری:

د انسانی سرطبابت په شان د کندکمشر په رتبه سربیطار او دوه تنه ټولیمشران بیطاران لری.

د دوی دندی:

۱- د حضر او سفر په وخت کې د فرقی د ټولو حیواناتو د عمومی روغتیا له احواله مسئولیت لری.

۲- هغه حیوانات چې د ننه په فرقه کې معالجه کېږی هغه دی د بیطارۍ او عسکری له پلوه وګوری.

۳- هغه حیوانات چې په غونډ او یا نورو مرکزونو کې نه تداوی کېږی هغه دی د فرقی خسته خانی ته راولی او دلته تداوی کېږی.

۴- سربیطار مجبور دی چې په یوه کال کې څو پلا په بیلا بیلو موسمونو کې د فرقی گرده حیوانات تفتیش او نتیجه دی، د راپور په شکل مربوطو مقاماتو ته عرض کړی.

۵- په هغه سیمه کې چې فرقه او سپړی د حیوانیه او نورو ناروغیو په باب دی لازمی څېړنی اجرا او مربوطو مقاماتو ته دی راپور ورکړی.

د طبی منځنی کادر د ښوونی او روزنی په باب باید وویل شی چې په دې کال کې ۷۶ تنه فارغ التحصیل شوی دی. د ۱۳۰۹ د وری د میاشتی له دویمی نېټی څخه د هغوی فراغت پیل کېږی د مسلک له مخی په لاندې ډول طبقه بندی شوی ده:

- ابتدایی جراحی ۲۱تنه.
- ابتدایی دواسازی ۲۱تنه.
- ابتدایی معاون داکتری د داخله او خارجی ناروغیو په رشته کې ۲۵تنه.
- ابتدایی سربیطاری ۱تن.
- ابتدایی بیطاری ۸تنه.

د پورتنی کتاب د مسلک او امتحان د درجی په جدولونو کې د داکتر قریشی او داکتر عبدالغنی خان امضاگانی او د بیطارانو د مقابلو خانه پوریو برسیره د دی دوو داکترانو پرته ملک خان د صحیه او بیطاریه د مدیریت د بیطاریه د بخش سربیطار هم لاس لیک کړی و.

د اردو مجلی د ۱۳۱۰ کالنی په دویم کال کې د محرقی د تبی د حفظ الصحی د ماهیت او اهمیت په باب لنډی او ضروری لارښوونی د ورځنیو خوراک او څښاک په نسبت او د پیاده ټولی د تشکیلاتو (صحیه، د صحیی یو خوردضابط، دوه تذکری او اته تنه تذکره وړونکی وي) او نورو وسایلو په باب یادونه شوی چې بالترتیب د خارجه وزارت د فخری کاتب محمد حسین خان (په ۴۵ مخ) او د داکتر عبدالروف قریشی په (۳۵) او (۵۰) مخونو کې لیکل شوی دی.

داکتر قریشی په دې وخت کې د حربیه وزارت (پل محمود خان) د روغتون سرطبیب ؤ.

د صحی او بیطاری تشکیل په کال ۱۳۱۰ کې پخوانی تشکیل سره زیات تفاوت نه لری چې د ۱۳۱۰ کالنی کې د دفاع وزارت دایری په لاندې ډول مشاهده کیږي:

د حربیه وزارت د دایرو تشکیل د اردو ریاست صحیه او بیطاریه

الف: د روغتیا ځانګه، ب: د بیطاریی ځانګه، ج: دطبیه مدیریت. دغه مدیریت د وزارت په تشکیل کې موجود و.

<table dir="rtl">
<tr><td rowspan="3">د اردو ریاست تعبیه</td><td rowspan="3">د صحی او بیطاری مدیریت</td><td rowspan="2">صحیه</td><td>مدیر د آمر په درجه یوتن کندکمشر امیر محمد خان</td></tr>
<tr><td>- سرطبیب یوتن دوکتور قریشي
- سرکاتب یوتن
- لمړی درجه کاتب یوتن
- دویمه درجه کاتب یوتن</td></tr>
<tr><td>بیطاریه</td><td>- سربیطار یوتن
- سرکاتب یوتن
- کاتب یوتن
ټول ۳تنه
د صحی او بیطاریی ټول پرسونل ۸تنه</td></tr>
</table>

د تشکیل گراف په لاندې ډول ذکر شوی دي



په دغه کال کې د سفرى فرقى تشکیل ترتیب شوى چې د ۱۳۱۰ کال کالنى کې داسى ثبت شوى دى.

<u>د سفرى د قرارگاه تشکیل</u>

سرطبابت:

- ☜ سرطبیب د کندکمشر په رتبه یوتن.
- ☜ جراح د تولیمشر په رتبه یوتن.
- ☜ کمپودر د تولیمشر په رتبه یوتن.

سربیطار:

- ☜ سربیطار د کندکمشر په رتبه یوتن.
- ☜ بیطار دوه تنه.

<u>د سفرى پیادى غونډ د هیئت تشکیل</u>

- ☜ سرطبیب د غونډمشر په رتبه یوتن.
- ☜ جراح دوه تنه.
- ☜ کمپودر یوتن.

<u>د پیاده کندک تشکیل</u>

- ☜ طبیب د کندکمشر په رتبه یوتن.
- ☜ جراح درى تنه.
- ☜ کمپودر یوتن.

<u>د پیاده تولى تشکیل</u>

- ☜ د روغتیا پرکمشر یوتن.

<u>د ثقیل ماشیندار تولى</u>

- ☜ د طویلى پرکمشر او د روغتیا پرکمشر دوه تنه.

د سواری غونډ هیئت

☜ سرطبیب د غندمشر په رتبه یوتن.

☜ سرجراح دوه تنه.

☜ کمپودر یوتن.

☜ جراح یوتن.

☜ مهتر دوه تنه.

سواری ټولی

☜ د روغتیا پرکمشر یوتن.

☜ د طویلی پرکمشر یوتن.

د طویچی غونډ

	انسانی	حیوانی
- داکتر د غونډمشر په درجه	یوتن	یوتن
- جراح	یوتن	یوتن
- کمپودر	یوتن	یوتن
- بیطار	یوتن	یوتن
- د بیطار لاس لاندی	یوتن	یوتن

د استحکام کندک

☜ کمپودر او جراح دوه تنه.

د استحکام ټولی

☜ د روغتیا پرکمشر یوتن.

☜ د روغتیا نفر څلور تنه.

د مخابرې د کندک هيئت

- ☜ جراح يوتن.
- ☜ کمپودر يوتن.
- ☜ د طويلې سر پرکمشر يوتن.

د بې سيم د مخابرې ټولې

- ☜ روغتيا پرکمشر يوتن.
- ☜ تذکره چې دوه تنه.

د مخابرې ټولې

- ☜ روغتيا پرکمشر يوتن.
- ☜ تذکره چې اته تنه.

د ۱۳۱۰ کال کالنۍ کې د هوايي تشکيلات داسې ښودل شوي دي.

د هوايي قول اردو د هيئت تشکيل

روغتون	- داکتر	کندکمشر	يوتن
	- جراح	بلوکمشر	يوتن
	- کمپودر	بلوکمشر	يوتن
	- پرستار	ساير (سرباز)	څلور تنه

د هوايي فرقې د هيئت تشکيل

روغتون	- داکتر	توليمشر	يوتن
	- جراح	بلوکمشر	يوتن
	- کمپودر	بلوکمشر	يوتن
	- پرستار	ساير (سرباز)	څلور تنه

هوايي غونډ

- داکتر	توليمشر	يوتن
- جراح	بلوکمشر	يوتن
- کمپودر	بلوکمشر	يوتن
- پرستار	ساير (سرباز)	درې تنه

همدارنگه په کال ۱۳۱۰ د طیاری د قوماندانیت تشکیل په دی ډول راغلی دی.

روغتون
- معاون داکتر تولیمشر یوتن
- جراح بلوکمشر یوتن
- کمپودر بلوکمشر یوتن

د یوی دستی کشف طیارو په تجهیزاتو کې ویلی شوی دی چې یو روغتون او داکتر د ۱.۰۰۰ افغانیو معاش سره او د روغتون یو عراده موتر موجود وی.

د روغتیا مدیریت د طیاری د قوماندانی په چوکات کې د تورنجنرال محمد احسان له خوا په کال ۱۳۱۴ کې تشکیل شوی او په کال ۱۳۱۸ د هوایی قواو نوی تشکیل جوړ شو چې د روغتیا مدیریت یې لاندې تشکیل درلود.

روغتون
- داکتر یوتن
- جراح یوتن
- کمپودر یوتن
-پیاده خدمتی یوتن
د روغتون ټول پرسونل څلور تنه

هغو اشخاصو چې د هوایی صحی په مدیریت کې دنده اجرا کړی په لاندې ډول دي:

- ح محمد شریف خان ولد گل محمد خان کابل
- ح محمد نصیر خان ډگروال کنر
- ح عبدالصمد خان ډگروال کابل
- ح سید اسدالله خان ډگروال لوگر
- ح علی محمد خان دگرمن کابل
- ح مسافر خان دگرمن کنر
- ح نورالحق خان دگرمن بگرام
- ح محمد سعید خان غریبمل جبارخیل ډگروال حصارک ننگرهار
-ح عبیدالله خان ډگروال کاپیسا
-ح عبدالرسول ډگروال لغمان

<u>د ولايتونو د پوليسو د قرارگاه تشکيل</u>

- ☜ کمپودر يوتن.
- ☜ جراح يوتن.

<u>د پياده ژاندارم غونډ د هيئت تشکيل</u>

- ☜ داکتر توليمشر يوتن.
- ☜ جراح يوتن.
- ☜ کمپودر يوتن.

<u>د پياده ژاندارمی ټولی تشکيل</u>

- ☜ د روغتيا پرکمشر يوتن.
- ☜ سقاؤ دوه تنه.

<u>د ژاندارم سواری غونډ</u>

- ☜ داکتر توليمشر يوتن.
- ☜ کمپودر يوتن.
- ☜ جراح يوتن.

<u>د ژاندارم سواری ټولی</u>

- ☜ د روغتيا پرکمشر يوتن.
- ☜ د طويلی پرکمشر يوتن.

په دې سنه کې (۱۳۱۰) کې د صحيی مدير ش قطب الدين خان و.

د مرکز او ولايتونو منظور شوی بودجه په ۱۳۱۰ کال کې:

د عسکری روغتونونو معاش ۹۰.۰۷۸ افغانی

مصرف ۱۰۳.۰۹۲

ميزان ۱۹۳.۱۷۱

همداشان د روغتيايی مديريت معاشونه په لاندې ډول وو.

سرطبيب ۹.۶۳۶ افغانۍ

مدیر ۲.۰۱۷ افغانۍ

سرکاتب ۱.۰۹۰ افغانۍ

لومړی کاتب ۹۰۵ افغانۍ

دویم کاتب ۸۱۸ افغانۍ

د لومړی ځل د پاره صحیی تکتیکی اشارات (۱۳۱۰) په لاندې ډول ټاکل شوی وو.



د ۱۳۱۰ کال د فارغ التحصیلانو په باب باید وویل شی چې د مختلفو مسلکونو څخه د ۳۲ تنو په شمیر په لاندنی ترکیب سره فارغ شوی دي:

- ابتدایی معاون داکتری ۱۱تنه.
- ابتدایی دواساز (درمل جوړونکی) ۱۱تنه.
- ابتدایی جراح ۷تنه.
- ابتدایی بیطار ۳تنه.

د ۱۲تنو اسناد عبدالغنی شاه خان او سید رشیدالدین خان لاسلیک کړی او د ۱۳تنو نورو عبدالغنی شاه خان او داکتر قریشی لاسلیک کړی او د بیطارانو اسناد د عبدالغنی شاه خان، قریشی او فقیر محمد خان څخه علاوه سربیطار ملک خان لاسلیک کړی دی.

د کابل ۱۳۱۱ کالنی له مخی د صحیه شعبی مدیر شجاعت مند امیر محمد خان کندکمشر او د حیواناتو د شعبی مدیر شجاعت مند محمد حسن کندکمشر و او هغه اجرأت چې په حربیه وزارت کې ترسره شوی د اردو د صحیه تشکیلات، د ښوونی او روزنی تشکیلات، په مرکز او ولایتونو کې د عسکری روغتونونو له جوړولو څخه عبارت دی.

همداشان لکه چې په تیرو فصلونو کې یادونه وشوه د طبی پوهنځی تاسیس، د داکتری د معاون طبی ښوونځی د دوه کلنی زده کړی د دوری سره، د کمپودری او پرستاری د مکتبونو تاسیس او نور ترسره شوی چې په دی تحصیلی موسسو کې نظامی پرسونل هم شامل شوی او تحصیل یې کړی دی او یا دا چې ملکیان وو او تر تحصیل وروسته عسکری ساحی ته ورکړ شوی دی. د اعلحضرت محمد نادر د دوری په اصولنامو کې – د افغانستان د عالیه دولت د اساسی اصولو په (۱۰۸) ماده کې (۳ مرغومی ۱۳۱۱) راغلی دي:

خارجه تبعه په عسکری مسلک کې د داکتری د صنف او حربی معلمی نه په استثنا سره نه منل کیږی. له همدې کبله و چې د طبی پوهنځی استادان د اردو د صحی خدماتو په بخش کې نه هیریدونکی کارنامی په یادګار پریښوولی دی. هغوی د صحیی په مختلفو بخشونو کې د صحیی کورسونه د حربیه وزارت په روغتون کې تاسیس کړی او ځینویی د تدریس چاری پرمخ بیولی دی.

د صحیی د تعمیراتو ساختمان، ترتیب او تنظیم، د دیپوګانو، لابراتوارونو په تجهیزولو، د درملو په اکمال د الکولو د تهیی دستګاه او د صحی تعلیم نامو په ترتیبولو کې په تیره بیا د روغتیایی عینیاتو، او نورو تعلیمنامو ترتیب، د صحیه خدماتو د تشکیل ترتیب او تنظیم، د حربیه وزارت د قطعاتو او جزوتامونو د روغتیا د مدیریت د تشکیل او تنظیم په چارو کې ټولو مشاورینو په تیره بیا شکری بیګ فارمسست نه ستړی کیدونکی فعالیتونه د قدر وړ دی.

د دې کلنی په عکسونو کې د عسکری روغتون د سرطبیب محترم داکتر علی شاه خان او د دی روغتون د داکتر محترم نور محمد خان عکسونه هم موجود و.

په عسکری روغتون کې د صحیه پرسونل د ښوونی او روزنی له نقطه نظره باید وویل شی چې د ۱۳۱۱ کال په اوږدو کې د ۱۸ تنو په شمیر فارغ شوی چې ۱۳ تنه یې درمل جوړونکی، دوه تنه جراح، دوه تنه بیطار او یوتن معاون داکتر و، چې د دوی د فراغت اسناد داکتر قریشی، عبدالغنی شاه خان او نور محمد خان لاسلیک کړی دی.

د تشکیلاتی نقطه نظره د (غزنی د فرقی) د یو روغتون او بیطاریی د یو تشکیل د نمونی په توګه ذکر کولای شو:

	تفصیلات	شمیر	کتني
د روغتون	داکتر	۱	
	سرکاتب	۱	
	کاتب	۱	
	کمپودر	۲	
	محافظ	۴	
	تحویلدار	۱	
	نفر خدمت	۲	
	آشپز	۱	
	د آشپز لاس لاندی	۱	
	جاروکش	۱	
	سقاو	۱	
	باغوان او خرکار	۳	باغوان ۲تنه او خرکار ۱ تن
	جراح	۱	
	جمع	۲۰	
بیطاریه	بیطار	۲	
	کاتب	۱	
	پیاده	۱	
	جمع کل	۲۴	

هغه موضوع چې د یادونی وړ ده ۳۵۸- ۱۷میزان ۱۳۱۱ له مکتوب څخه عبارت دی چې د حربیه ریاست ارکان له خوا حرکاتو ته لیکل شوی دي: «صاحب منصبان و عایله شان که بخارج مریض می باشند (در منزل) داکتران شفاخانه عسکری ملکف اند که بدون فیس مریض را نظر به اطلاع ریاست به خانه شان معاینه و تداوی نمایند، ادویه تداوی مذکور از شفاخانه تادیه می شود. در معاوضه این تکلیف از معاش کندکمشران الی سپه سالار

به قرار ذیل ماهوار وضع شود، تولیمشران و بلوکمشران مستثنا اند از گردانیدن پول:

۱- سپه سالار ۵ افغانۍ.

۲- شهزاده وکیل وزارت ۵ افغانۍ.

۳- نایب سالار و فرقه مشران ۲ افغانۍ.

۴- غندمشران و کندکمشران ۱ افغانۍ.

مدیریت صحیه اقدام نماید» (د دفاع وزارت د تشکیلاتو او سفربری د ریاست د کالنۍ په حواله).

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په دوره کې نظامی طبابت:

په ۱۳۱۲ کې مستقل مدیریت چې د وزیرانو د شورا په چوکاټ کې مستقل و د صحی ریاست ته یی ارتقا وکړ چې رئیس یی ج محمد اکبر خان و. د حربیه وزارت د صحیه او بیطـاریه د مدیریت په باب باید وویل شی چې مدیر یې ش عبدالباقی خان کندکمشر او سرطبیب یې عزتمند انظار الاسلام قریشی و او په دې کال کې سربیطار نه و مقرر شوی.

همداشان د حربیه وزارت په چوکاټ کې د عسکری گردو روغتونونو په مرکز او ولایتونو کې تنظیمدلی او په فراه کې د عصری روغتون ودانی او د جنوبی سمت د قول اردو د لومړی او دوهمی فرقو یو یو روغتون منظوری په نظر کې نیول شوی ده. د تشکیلاتی له پلوه باید وویل شی چې د تیرو کلونو په نسبت دومره زیات تغییرات نه دی راغلی لکه چې د فرقی او غوندونو په روغتون او بیطاری په تشکیل کې د یادونی وړ بدلون منځ ته نه دی راغلی. یوازی د لومړی ځل د پاره د صحی مرکزونو او د مرکز په موسسو او قطعاتو کې د خدمتگار په نوم یو مرکز ورزیات شو چې د صفاکار په توگه یی په عسکری ساحه کې د ښځو او نارینه وو د پاره په کار کې د منلو زمینه برابره کړه. (پخوا په نظامی بخش کې ملکی پرسونل موجود نه و)

په ۱۳۱۲ کې د حربیه وزارت د صحیه له کورسونو څخه ۲۱تنه فارغ شول چې ۴تنه یې بیطار، ۱۰تنه یې دواساز، ۴تنه یې جراح او یوتن یې معاون داکتر و. د هغوی په اسنادو کې داکتر قریشی، عبدالغنی خان، نور

محمد خان او د ځینو په اسنادو کې د اسمعیل جوړی او هاشمی او بیطارانو په اسنادو کې سربیطار فقیر محمد خان لاسلیکونه کړی وو.

په ۱۳۱۳ کې د صحیه او بیطاریه مدیر ش عبدالباقی خان، سرطبیب قریشی و او سربیطار نه لری. په عسکری روغتون کې سرطبیب داکتر سید عبدالغنی شاه خان، سرجراح داکتر نور محمد خان او معاون یې سید محمد صالح خان و.

په دې سنه کې د صحیی ریاست، د صحیی وزارت ته ارتقا وکړه چې وزیر یې غلام یحیٰ خان ؤ.

د ګردیز د عسکری روغتون تعمیر تکمیل شوی او د حربیه وزارت د صحیه او کمپودری له کورس څخه ۱۲تنو طلابو د خپلی زده کړی دوره پوره کړی او فارغ التحصیل شول چې ۱۰تنه یې درمل جوړونکی او دوه تنه یې جراح ؤ د هغوی د فراغت په اسنادو کې داکتر قریشی، سید عبدالغنی شاه خان او نور محمد خان لاسلیکونه کړی دی.

د تشکیلاتی نقطه نظره باید وویل شی چې په دې کال کې د صحیه تشکیل د رشدیه په مکتب کې عبارت و له یوتن کمپودر او محافظ څخه، د روغتون د پاره دوه تنه او د پیاده د عالی کورس په تشکیل کې یوتن داکتر د تولیمشر په درجه د میاشتنی ۲.۴۰۰ افغانۍ په معاش، یو کمپودر د بلوکمشر په رتبه په ۱.۲۰۰ افغانۍ معاش او یوتن د صحیی افراد د ۲۹۴ افغانۍ په معاش شامل و.

په ۱۳۱۴ کې د صحیه وزارت په چوکاټ کې د دواسازی او کیمیاګرۍ مکتب تاسیس شو چې نظامی محصلینو هم پکی زده کړه کوله. د طبی منځنۍ ښوونی او روزنی پرسونل د عامی روغتیا وزارت په چوکاټ (د عامی روغتیا وزارت د طبی منځنیو تعلیماتو انستیتوت یا د غضنفر د صحی علومو انستیتوت) کې تر ۱۳۷۰ کال پوری جریان درلود چې د دواسازی، معاون داکتری، نرسنګ، اکسریز، لابراتوار، غاښ جوړولو، وقایوی طب او نورو په څانګو کې مساعدت کړی چې د دی انستیتوت یو شمیر فارغان تر اوسه پوری په اردو کې هم دندی اجرا کوی.

په دې سنه (۱۳۱۴) کې د حربیه وزارت د روغتون په چوکاټ کې د طبی متوسط پرسونل ۲۶تنه فارغ شوی چې ۱۳تنه یې درمل جوړونکی، ۴تنه یې بیطار، ۵تنه یې جراح او ۴تنه یې معاون داکتر و. د دې فارغانو د اسنادو په پای کې عبدالغنی شاه خان، قریشی، نورمحمد، هاشمی او محمد صادق خان لاسلیکونه کړی دی.

په دې کال کې د صحيه او بيطاريه مدير حسين على خان غونډمشر او سرطبيب داکتر قريشى او د عسکرى روغتون سرطبيب عبدالغنى شاه خان، سرجراح نور محمد خان او د هغه معاون سيد محمد صالح خان و.

د پياده د يوه غونډ د صحيه پرسونل معاشونه په دې سنه کې په لاندې ډول و:

- داکتر توليمشر ۷.۲۰۰ افغانۍ.
- جراح بلوکمشر ۱.۰۸۰ افغانۍ.
- کمپودر بلوکمشر ۱.۲۰۰ افغانۍ.
- صحيه پرکمشر ۳۱۵ افغانۍ.

د سوارى غونډ معاشونه په لاندې ډول ورکول کيدل:

- داکتر توليمشر ۷.۳۶۳ افغانۍ.
- جراح بلوکمشر ۱.۲۴۳ افغانۍ.
- کمپودر بلوکمشر ۱.۳۶۳ افغانۍ.
- د صحيه پرکمشر ۴۷۸ افغانۍ.

په ۱۳۱۴ کې د معاون داکترانو لومړنۍ ډله او په ۱۳۱۶ کې د طب د داکترانو او دواسازانو لومړنۍ ډله فارغ شوى ده چې د دوى له جملې څخه مرحوم دوکتور ميرغلام حسين خان، دوکتور حاجى غلام حسين خان او دوکتور عزيزالدين خان د پل محمود خان په روغتون کې مقرر شول او نظامى طب ښه رونق وموند (د مرحوم دوکتور نور محمد خلمى د مرکى په حواله).

په ۱۳۱۵ کې د تشکيلاتى له مخى د صحيه او بيطاريه مدير حسين على خان دويم غونډمشر، سرطبيب عزتمند انظار الاسلام دوکتور قريشى و او په عسکرى روغتون کې سرطبيب عزتمند دوکتور عبدالغنى شاه خان، سرجراح داکتر نور محمد خان، معاون داکتر سيد صالح خان او جراح داکتر اسمعيل جوهرى و.

د صحيه په برخه کې د حربيه وزارت اجرأت د عسکرى روغتون ترميم څخه عبارت و او د دى په ترڅ کې په دې کال کې د پسيکولوژى (علم الروح) کتاب چاپ شوى چې د محترم احمد الله خان پوپلزايى له خوا تاليف او ترجمه شوى و.

د ملکی روغتون او د مرکزی روغتونونو د کمپودرانو یو شمیر د دوکتور انور علی خان تر زده کړی لاندې په معینو ورځو کې زده کړه کاوه او د کمپودرۍ کورس یی بیا له سره په عمومی درملتون کې پرانست چې په هغه کې نظامی پرسونل هم زده کړه کوله.

په همدې شان د حربیه وزارت د روغتون په چوکاټ کې د مختلفو کورسونو څخه ۳۶تنه یعنی د درمل جوړونکی څخه ۱۲تنه، د معاون داکتری څخه ۵تنه د جراحی څخه ۶تنه، د بیطاریه څخه ۹تنه فارغ او اردو ته تقدیم شوی دی. د څلورو نورو تنو مسلک د جدول د نه خانه پرۍ له امله معلوم نه کړای شو.

د فراغت په اسنادو کې محترم قریشی، عبدالغنی شاه، هاشمی، نورمحمد او اسمعیل جوهری لاسلیکونه کړی دی.

په ۱۳۱۵ سنه کې د صحیه تشکیلاتو په اړوند یوشمیر نظامی موسسی لکه د موزیک مکتب، حربیه مکتب، رشدیه مکتب، احضاریه مکتب او د قطعاتو د صحیه په تشکیل کې جزیی تغییرات راغلل، خو څه چې د یادونی وړ دی هغه د دفاع وزارت د قوا او بودجی راپور دی چې د دفاع وزارت له خوا د بهرنیو چارو وزارت او له هغه ځایه جنیوا (ژنو) ته لیږل کیده چې په لاندې ډول دي:

- پرسونل ۱۰۳.۱۱۹تنه.
- کلنۍ بودجه ۷۰.۲۷۰.۲۲۹ افغانۍ.

دا دواړه موضوعګانی د جنیوا په کالنۍ کې درج شوی دی.

همداشان د اردو د روغتون د سامان آلاتو مصرف ۵.۰۰۰ افغانۍ ښودل شوی دی. په عین وخت کې د هرات په فرقه کې ۱۵ بستره او د ۱۰ ناروغانو د پاره خوراک منظور شوی دی.

په ۱۳۱۶ د طب پوهنځی د فارغانو څخه دوه تنه دوکتور فقیر محمد خان (چی په توتله فقیر مشهور و) او دوکتور میرغلام حسین خان نظامی جراح و چې د حربیه وزارت روغتون چې په پل محمود خان کې پروت او د عسکری روغتون په نوم یادیده مقرر شول.

په دې کال کې د صحیه او بیطاریه مدیر حسین علی خان دویم غونډمشر او سرطبیب داکتر قریشی دی او په عسکری روغتون کې

سرطبيب عبدالغنی شاه خان، سرجراح نور محمد خان، معاون يی سيد صالح خان او جراح يی اسمعيل جوهری و.

هغه اجرأت چې په دې کال شوی دی د مرکز او ولايتونو د فرقو د افرادو د تکميلولو د نفوس په اندازه او صحی معايناتو په اساس و.

پردې برسيره په دی کال کې د عسکری صحيه کورسونو ځخه ۲۶تنه چې د دواسازی ۱۴تنه، جراحی ۹تنه، معاون داکتر ۳تنه فارغ التحصيل شوی دی او د هغوی تحصيلی اسناد هاشمی، نورمحمد، عبدالغنی شاه او اسمعيل جوهری لاسليکونه کړی دی.

په همدې شان د دفاع وزارت د تشکيلاتو او سفربری ۱۳۱۶ کال کالنۍ له مخی د عسکری ښوونځيو د قوماندانيو تشکيلات او تعليمات ترتيب شوی چې د دی ځينی برخی په لنډه توګه تر بحث لاندې نيول کېږی.

د صحيه د پنځمی ځانګی وظيفه:

د قوماندانی د صحيی د احوالوسره ضابط، معلم، طلبه او مستخدمين چې د مکتب او موسسو په ټولو ځانګو کې د قوماندانی تحت الامروی، له نژدی سره علاقه درلودل. او په قيدو قبول کې د طلبه معاينه، د ده د صحت په باب او هغه مستخدمين چې د بدنيه قابليت د تعليمات نامی سره موافق نه وی، معامله کول. هغه ناروغۍ چې د طلابو په منځ کې ليدل کېږی د مجادلی د پاره د تدبيرونو نيول او د ناروغيو د ظهور د مخنيوی. د روغتون او روير (پولی کلنيک) د انتظام حالت کنترول. (د ۱۳۴۵-۱۳۴۶ پوری د پکتيا په ۱۲ فرقه کې روير موجود و چې هلته د سراپا ناروغان معاينه کيدل او لازم درمل يې ترلاسه کول. هلته د ناروغانو د پاره بستری موجودی نه وی چې دا ځای د روير په نوم يادېده چې اوسنی نوم يې پولی کلنيک بللای شو – پوهاند مومنی) د ښوونځيو د عموميه نظافت او ظهارت ځارنه، د صحيی استاتستيک او ګرافيک تنظيم، د صحيی غوښتنو له مخی د ماکولاتو او مشروباتو او عمومی پاکيو کنترول او د قوماندانی په مقابل کې د لازمو تدبيرونو نيول او د لازمی تکليفونو اجرا کول د دی شعبی وظيفه ده.

د «روير» روغتون:

د حربی ښوونځی، عسکری ليسی، د منځنيو او ابتدايی ښوونځيو د ناروغو طلابو او ضابطانو د معاينی او درملنی د پاره روير تشکيل شوی دی.

دلته یوپنځوس بستری روغتون موجود و او د پنځمی شعبی د مدیر په واسطه قوماندانی پوری مربوط دی. د هغی اداره د یوی ځانګړی تعلیمات نامی په واسطه تدویر کیدله.

د ښوونځیو د روغتون تشکیل:

- سرطبیب کندکمشر ۱تن.
- انضباط ضابط تولیمشر ۱تن.
- د حساب مامور ۱تن.
- داکتر تولیمشر ۳تنه.
- جراح مامور ۱تن.
- د پنځمی شعبی مدیر کندکمشر ۱تن.
- ملحق ضابط تولیمشر ۱تن.
- پرستار مامور ۳تنه.
- د روغتون د خدمت افراد ۱۰تنه.
- آشپز ۲تنه.

د رشدیه په مکتب کې د حفظ الصحی مضمون په هفته کې دوه پلا تدریس کیده.

په همدې ډول په نوموړی سند کې د یوی عصری فرقی د تشکیل په هکله یادونه شوی ده چې د صحیی کندک د صحیی د یو ټولی سره، دوه ګرځنده روغتونونه د ناروغانو د پاره، د وړلو راوړلو د لاریویو بلوک شامل و. ضابطان یې ۴۱تنه، واړه ضابطان یې ۹۰تنه، افراد یې ۴۴۶تنه پرسونل درج شوی دی.

د یو عصری فرقی تجهیزات

- بندچ ۳۱.۲۴۴ دانی.
- کلورکلک ۱۵.۶۲۰ پوری.

- کلورکلک پودر ۱۵.۶۲۰ قطۍ.

د گاز د محافظی مالزمه:

- ماسکه گاز د فلتر او د پوش د قطۍ سره ۱.۸۰۰
- د هایدروجن آله ۵۰

د خیمی تجهیزات:

- - د ۱۵-۲۰ تنو د پاره مخصوصه خیمه ۴۰بابه.

صحیی تجهیزات:

- د صحیه بکس (جوره) ۴۵۰
- چانته ۱۳۰
- د بندچ بکس ۱۲۰
- تسکره ۱۲۰
- د صحیی صندوق ۲۵

په همدې ډول د روغتون مخصوص موټرونه ۵ عرادی په عصری فرقه کې درج دی.

د فضایی ټولی تشکیل:

د روغتون هیئت:

- معاون داکتر ۱تن.
- کمپودر ۱تن.
- جراح ۱تن.
- نفر خدمت ۲تنه.
- د صحیی د عرادی موټر چلونکی ۱تن.

د ۱۳۱۶ کال له تشکیل څخه څرگندیږی چې د لومړی ځل د پاره موټری وسایط د صحیی په تشکیل کې نیول شوی دی.

د احضاریه مکتب د روغتون تشکیل:

- سرطبیب مامور ۱تن.

- معاون داکتر مامور ۱تن.
- جراح او کمپودر مامور ۴تنه د هر یو دوه دوه تنه.
- تحویلدار ۱تن.
- پرستار ۱تن.
- د روغتون د پاره بستری ۳۰دسته.

د حربیه رشدیه مکتب د روغتون په تشکیل کې لاندې پرسونل ته ځای ورکړ شوی دی.

- معاون داکتر مامور ۱تن.
- کمپودر مامور ۱تن.
- پرستار مامور ۱تن.
- بستری ۱۰جوړی.
- د حفظ الصحی معلم (خارجی) ۱تن.

که چیرته د ۱۳۱۷ کال وکتل شی، لیدل کېږی چې د صحیه او بیطاریه مدیر دویم غونډمشر محمد سعید خان او سرطبیب داکتر قریشی و او د عسکری روغتون سرطبیب عبدالغنی شاه خان، سرجراح نور محمد خان، معاون یی سید صالح خان او جراح اسمعیل جوهری و.

په دې کال کې د اردو د صحیی د چارو تنظیم او تدویر ترسره شوی او د طبی، جراحی او بیطاریه موسساتو څخه جدی څارنه عملی شوی ده. په دې سنه کې د عسکری روغتون له کورسونو څخه په مختلفو څانګو کې ۳۰تنه فارغ شوی دي: جراحی ۱۲ تنه، دواسازی ۱۲ تنه، معاون داکتری ۶ تنه او بیطاریه یو تن. د دو تحصیلی اسناد داکتر قریشی، داکتر هاشمی، داکتر نور محمد خان او داکتر عبدالغنی شاه خان په واسطه امضا شوی دی.

په دې کال کې د حربی وزارت (اردو) په تشکیل کې لاندنی اداری شاملی دي:

«د اردو د چارو عمومي مديريت (د اردو رياست) چې په دی کې مامورين، د عسکر ونيول، عسکری صحيه او بيطاريه، حربيه تعميرات او د نقليه وسايطو تهيه شامل وو»[1].

دلته کولای شو چې يو تاريخی ټکی ومومو او هغه دادی چې د ننګرهار د کهی د صحيه او بيطاريه ضروری درملو د اکمالولو په خصوص کې د وخت دفاع وزير داسی امر کړی و:

«۱- ملاحظه شد ۲۶ دلو ۱۳۱۷ يکصدوسی و يک قلم ادويه کار آمد شفاخانه مفرزه کهی منظور از طرف رياست اردو تکميل شود، قلماتيکه موجود نباشد از دواخانه های حکومتی وزارت صحيه اکمال شود.

۲- ملاحظه شد ۲۶ دلو ۱۳۱۷ نودو هشت قلم ادويه کار آمد بيطاريه مفرزه کهی شينوار طرف رياست اردو تکميل و فوری فرستاده شود».

څرګنده ده چې د صحيی او بيطاری مديريت د لوازماتو د عمومی رياست په تشکيل کې شامل نه و او له ۱۳۲۲ کال راهيسی يی د اردو د صحيی رياست په نوم فعاليت کاوه، خو کله چې شوروی وسلی او تخنيک په ۱۳۴۰هـ کې افغانستان ته وارد شول د هغی تکتيک هم تر اجرا لاندې ونيول شو چې د صحيه خدماتو د آمريت په نوم د لوژستيک په تشکيل کې شامل شوی دی. بايد يادونه وشی چې د لوژستيک رياست د مسلکی او اکمالاتی په ارتباط او د معالجوی او وقايوی او همدارنګه د ناروغانو او زخميانو په تخليه کې هم مرسته نشو کولای. پدې ترتيب وپتيله شوه چې د صحی رياست په مستقل ډول د دفاع وزارت په چوکاټ کې فعاليت وکړی. په ۱۳۷۰ کال د اردو صحيه خدماتو آمريت د صحيه رياست په توګه د لوژستيک د رياست له تشکيل څخه وايستل شو او په مستقلانه ډول يی خپلی دندی د ملی دفاع وزارت په چوکاټ کې اجرا کولی. چې په دغه برخه کې د جنرال دوکتور عبدالقيوم طوطاخيل هڅی د قدر وړ دی.

د ۴۴۳۵- ۲۶ دلو ۱۳۱۷ مکتوب پر اساس د صحيه او بيطاريه مديريت د سل بستری يو مرکزی روغتون او د سل بستری ګرځنده روغتون تشکيل جوړ کړی دی.

په ۱۳۱۷ کال د امراض چشم يو رنګه کتاب د دوقتور فواد اسمعيل طوغار له خوا په عمومی مطبعه کې چاپ شوی دی چې په ۷۸۵ مخ کې د

---

۱ - د دفاع وزارت د تشکيلاتو او سفربرۍ د رياست د ۱۳۱۷ کالنۍ په حواله.

قابلیت بدنیه عسکریه نظام نامی یوه برخه د سترګو د ناروغیو د معاملی په هکله داسی لیکل شوی دي:

بعضی مواد نظام نامه قابلیت بدنیه عسکریه[1]

A: عوارضی که قابلیت خدمت مسلحه را اخلال نمی کند:

۱- تراخومیکه در آن کثافت قرنیه موجود ولی قوه رویت را در هر دو چشم تنقیص نکرده باشد.

۲- حول خفیفی که مانع فعالیت هر دو چشم نمی شود. کثافت قرنیه که بعد از تصحیح با عدسیه، قوۀ رویت چشم از ۱/۲ کم نباشد.

۳- نقصانیت رویت در یک چشم که بعد از تصحیح، مساوی نصف قوۀ رویت چشم سالم گردد (شخصیکه چشم راست موؤف باشد ترجیحاً به صنف پیاده داخل نشود).

۴- قصرالبصریکه با عدسیه مقعره ۵-۶ د یو پتری قوۀ رویت ۱/۲ را حاصل کند.

B: عوارض که برای خدمت غیر مسلحه مساعد است:

۱- امراض جفنیه، غشاء منضمی و طرق د معیه یکه در یک چشم بوده و خدمت عسکریه را بقدر اهمیت خلل دار نمی سازد.

۲- تراخومیکه کثافت قرنیه تولید کرده قوۀ رویت هر دو چشم را ربع و یا کمتر از آن تنقیص کند.

۳- حولیکه در اثنای نظر مستقیم، محیط طبقه قرنیه به زاویه انسیه و یا وحشیه تماس بکند و تشنج عین.

۴- تناقص قوه رویتکه بعد ازت تصحیح قوۀ رویت از ۱/۲ یا ۱/۴ اضافه نشود.

۵- قصرالبصری که قوۀ رویت آن بعد از تصحیح با عدسیه مقعره ۵-۶ د یو پتری از ۱/۴ اضافه نشود.

۶- عمی تام در یک چشم و رویت چشم دیگر بدون تصحیح از ۱/۲ اضافه نباشد.

---

۱ - دوقتور قواد اسمعیل طوغار، امراض چشم، ۱۳۱۷ مطبعه عمومی کابل، ص-۷۸۵.

C: امراضیکه یک عدم قابلیت موقت تولید کرده با مرور زمان قسماً و یا بصورت تام شفایاب گردیده قابلیت خدمت مسلحه واپس تأسس می کند:

۱- امراض مهم و موقتۀ اجفان، منضمه و طریق د معیه.

۲- هجمات تراخومیکه مترافق با افراز مبذول قیحی بوده اختلاط قرنی تولید نکند.

۳- امراض و خیمۀ موقتۀ عضلات چشم، جهاز انکسار و غشای داخل کرۀ عین.

D: عوارض که قابلیت عسکریه را برای همیشه غیرممکن می سازد:

۱- امراض اجفان و غشای منضمۀ هر دو چشم.

۲- التصاقات دایمی و واسعه در بین منضمۀ صلبه و اجفان.

۳- شتر داخلی مترقی که از سبب تماس اهداب بالای کرۀ عین حرکات فعالۀ عین را خلل دار بسازد.

۴- تراخومیکه کثافت قرنیه تولید کرده قوۀ رویت هر دو چشم را ۱/۴ و یا کمتر از آن تنقیص کند.

۵- اعراض و خیمۀ اعضا دمعیه که غیر قابل شفأ میباشند مانند ناسور دمعی.

۶- فلج عضلات عینیۀ هر دو چشم که غیر قابل تداوی و مانع قابلیت حرکات عینیۀ می باشد.

۷- تناقص قوۀ رویت که بعد از تصحیح قوۀ رویت ۱/۴ و یا کمتر می باشد و یا مادۀ یک عمی قابل اثبات داشته باشد.

۸- موجودیت عمی در هر دو چشم و یا یک چشم در صورتی که قوۀ رویت چشم دیگر بدون عدسه مصححه نصف رویت طبیعی و یا کمتر از آن باشد.

په ۱۳۱۸ د صحیه عمومی مدیر میر محمد سعید خان دویم غونډمشر و. او د هغه اجرأت د دی سنی د کابل د کالنی له مخی د اردو د صحی چارو تنظیم او اداره، د طبی، جراحی، بیطاریه او د ټولو روغتونونو د لازمو موادو د اکمالولو جدی مراقبت ؤ.

په دې کالنۍ کې له ۱۳۱۸ کال وروسته د حربیه وزارت د تشکیل او اجرأتو په اړوند څه لیکل شوی نه دی او د محرمو اسنادو په شکل – په راتلونکو کلونو کې په جریدو او مجلو کې تری یادونه شوی نه ده.

په دې سنه کې د صحیی په کورسونو کې ۳۲تنه یعنی دواساز ۱۱تنه، معاون داکتر ۱۰تنه، جراح ۱۱تنه زده کړه کړی او فارغ شوی دی چې اسناد یی داکتر قریشی، عبدالغنی شاه خان او نورمحمد خان لاسلیکونه کړی دی.

په دې سنه کې د یو شمیر قطعاتو او جزوتامونو تشکیل منظور شوی چې ځنی یی په دی ډول دي:

د یوسف خیل د روغتون تشکیل:

ګڼه	تفصیلات	اصل بست	منظوری	کتنی
۱	داکتر	۱	۰	د صحیه وزارت څخه دی ونیول شي
۲	معاون داکتر	۳	۰	د صحیه وزارت څخه دی ونیول شي
۳	کمپودر	۲	۰	د هغه ځای د قطعاتو څخه خدمتی دی واخستل شي
۴	جراح	۳	۰	د هغه ځای د قطعاتو څخه خدمتی دی واخستل شي
۵	سرکاتب	۱	۱.۵۰۰افغانۍ	
۶	دوهم درجه کاتب	۱	۱.۰۸۰افغانۍ	
۷	تحویلدار	۱	۱.۲۰۰ افغانۍ	
۸	د تحویلدار لاس لاندی	۱	۶۰۰ افغانۍ	
۹	آشپز	۱	۷۲۰ افغانۍ	
۱۰	د آشپز لاس لاندې	۱	۴۸۰ افغانۍ	
۱۱	سرمحافظ	۲	۱.۲۰۰ افغانۍ	
۱۲	دلاک	۱	۴۸۰ افغانۍ	
۱۳	سقاو	۲	۶۰۰ افغانۍ	
۱۴	محافظ	۳۵	۱۰.۵۰۰افغانۍ	
۱۵	پیاده	۴	۱.۲۰۰ افغانۍ	
۱۶	جاروکش	۲	۶۰۰ افغانۍ	
۱۷	خرکار	۲	۶۰۰ افغانۍ	
۱۸	دوبی	۲	۱.۹۲۰ افغانۍ	
جمع			**۲۲.۶۸۰افغانۍ**	

د ټولیو او بطریو په تشکیل کې بدلون نه دی راغلی. د مرکز او اطرافو په غونډونو کې ډاکتر تولیمشر یوتن، کمپودر بلوکمشر یوتن، او جراحی بلوکمشر یوتن نیول شوی دی.

په همدې ډول د هوايی قوماندانی د نوی روغتون تشکيل ترتيب شوی چې په لاندې ډول دي:

- داکتر ١تن.
- کمپودر ١تن.
- جراح ١تن.
- پياده خدمتی ١تن.

په کال ١٣١٩ د هغه په کورسونو کې اته تنه (معاون داکتر ۴تنه، دواساز ٢تنه او جراح ٢تنه) تر زده کړې وروسته فارغ شوی چې د هغوی په اسنادو کې داکتر قريشی، عبدالغنی شاه خان او نور محمد خان لاسليکونه کړی دی.

دا کورسونه د ١٣١٩ کال وروسته وځنډيدل او يواځی په ١٣۵١ کې دوباره (هغه هم له ملکيانو جذب شوی) او د صحيه د خورد ظابطانو روزل شوی هم هلته شامل شوی – دا کورس فعال شوی چې ټول ١٩تنه وو او له يوه دوو تنو په استثنا نور پاتی ټول درمل جوړونکی وو.

په ١٣١٩ کې د کورسونو پرځای چې په عسکری روغتون کې يې درس لوسته ځانګړی تشکيل ترتيب او تردی وروسته د عسکری روغتون مربوط نه و.

د صحيه ضابطانو د کورس انسانی تشکيل ۴٠تنه او د وړو ضابطانو مکتب ١٠٠تنه او بيطاريه ٢٠تنه و.

- انضباط ضابط توليمشر ١
- د اعاشی (لوازم) ضابط بلوکمشر ١
- د ټولګی ضابط بلوکمشر ١
- د حساب کاتب اول ١
- عمومی تحويلدار ١
- د تحويلدار لاس لاندې ١
- د تحويلخانی پياده ١
- خانه سامان باشی ١

- چایدار ۱
- اشپز ۱
- د خانه سامان لاس لاندې ۱
- د چایدار لاس لاندې ۱
- د اشپز لاس لاندې ۱
- د صحیه خوردضابطانو مداوم ۱۰۰
- د معاون داکتر، کمپودر او د قطعی د جراح مداوم ۴۰تنه د دوی معاش د دوی له قطعاتو ورکړل شی.
- له افرادو نعلبندی مداوم ۵۰
- د بیطاریه د وړوضابطانو مداوم ۲۰
- خاصه تراش ۲
- دوبی ۲
- سقاو ۲
- باغوان ۱
- امربر ۴
- کراچی وان ۳
- خیاط ۱
- سراج ۱
- نجار ۱

د صحی د ضابطانو د کورس او د صحیی وړوضابطانو د ښوونځی د تعلیمی سامان تشکیل:

- پلانس او جودیرونه ۱
- د هدوکو اسکلیت ۱
- جهاز دوران ۱
- جهاز عصبیه ۱

- ☜ جهاز تنفس ۱
- ☜ جهاز احشاء ۱
- ☜ جهاز عضلات ۱
- ☜ د صحیه نفر د جیب اسطونج ۱
- ☜ د صحیه ښځلو اسطونج ۱
- ☜ د تسکره چې اسطونج ۱
- ☜ د صحیه ریانس چانته ۱
- ☜ د صحیه شپی چانته ۱
- ☜ د قطعاتو ضد و قچه ۱

د یو شمیر قطعاتو په تشکیل کې طبی تجهیزات هم شامل شوی دی.

د حربیه وزارت د قوماندانۍ د هیئت تشکیل:

- ☜ جراح بلوکمشر ۱
- ☜ د صحیی دلګیمشر ۱
- ☜ تسکره وړونکی ۱

تجهیزات:

- ☜ چانته ۱۲

په ۱۳۲۰ کې د صحیه او بیطاریه مدیر میر محمد سعید خان غونډمشر و چې د دی مدیریت اجرأت په کورسونو کې د صحیی او بیطاریی د ضابطانو، وړوضابطانو له ښوونی او روزنی رسولو څخه عبارت وو. چې ۱۳۲۰ کال د تلی په لومړی نېټه د صحیی د کورس لومړۍ دوره فارغ التحصیل شوی دی.

په دې کال کې د رشدیه مکتب چې د قوای مرکز روغتون په تعمیرونو کې موجود و لیسی ته ارتقا وموندله او له دی ځای څخه مهتاب قلعه (د اوسنی حربی ښوونځی مقر) ته انتقال وموند او د رشدیه د مکتب

پخوانی محل د يوی روغتون د پاره د ترميم او تجهيز لاندې ونيول شو چې د قوای مرکز په روغتون ونومول شو.

همداشان په ۱۳۲۱ کال کې د صحيه او بيطاريه مدير غونډمشر مير محمد سعيد خان و او د دی مديريت اجرأت عبارت و له:

- د صحيه او بيطاريه له کورسونو څخه د تحصيل اکمالول او د يو شمير نورو داکترانو مقررول.
- د طبی پوهنځی د هغو فارغ التحصيلو دوکتورانو د عسکری ستاژ دپاره د تعليم ګاه تاسيس چې اردو ته راغلی دی.
- په مشرقی سمت کې (د غنی خيلو په قشله کې) د يوه روغتون د تعمير کار تکميلول چې له هر پلوه د ناروغانو اړتيا وو ته ځواب وويلای شی.

په دې کال کې خارجی مستخدمين يعنی ترکی مستخدمين چې د صحيه خدماتو په ساحه کې يې وظيفی اخستی وی چې د اردو د صحيی د رياست مسلکی تاسيسات په همدغه وخت کې د ساختمان چاری شروع او تکميل شوی دی.

د ترکی متخصصينو په مرسته د احضاريی مکتب د روغتون په شرايطو برابر شو. چې په ۱۳۲۲ کال کې سرطبيب او جراح يی له ملکی ساحی څخه و چې په امريکا کې يې تحصيل کړی او مرحوم داکتر محمد يوسف ټاکل شوی او دی روغتون چې په شهرارا کې موقعيت درلود د قوای مرکز د روغتون په نوم ونومول شو.

په دې وخت (۱۳۲۲) کې د صحيی او بيطاريی مديريت د اردو د رياست اداری لاندې و. د دی مديريت کفالت د جګړن (کندکمشر) عبدالواحد خان په غاړه و (په ترکی اسنادو کې يې عبدالواحد خان د اردو د صحيی رئيس معرفی کړی دی چې لومړی يی په کفالت کار کاوه او بيايې رياست اشغال کړ). دا رياست د شوروی تکتيک په راننوتلو د لوژستيک رياست په تشکيل کې د اردو د صحيه خدماتو د آمريت په نوم شامل شو.

په ۱۳۲۲ کې د حربيه وزارت اجرأت په لاندې ډول دي: د صحيه، بيطاريه او نعلبندی د وړوضابطانو فارغول، د صحيی د ضابطانو د دريمی دوری ختمول، د يو شمير د طبی فارغ التحصيلو داکترانو د ستاژ د دوری بشپړول و چې اردو ته راغلی وو.

د درملنی او ناروغو حیواناتو د عملیاتو د پاره د یوی حیوانی دایری تاسیسول دی.

په ۱۳۲۳ کال کې د نظامی محصلینو څخه دوه تنه محترم دوکتور نور محمد خلمی او دوکتور عبدالله فراهی د طب په پوهنځی کې شامل شول او په ۱۳۲۸ کې له فاکولتی څخه فارغ او اردو په روغتونونو کې یې په کار پیل وکړ.

په دې کال (۱۳۲۳) کې د اردو د مفتشیت په چوکاټ کې د صحیه مفتشیت هم شامل شو او د صحیه او بیطاریه مدیریت د اردو ریاست په چوکاټ کې فعالیت درلود. د دی کال اجرأت داسی ښودلای شو:

دواړه روغتونونه (قوای مرکز او پل محمود خان) د نیمه اختصاصی روغتونونو په شکل چې یوازی داخله او جراحی څانګو ته مختصی وی فعالیت درلودل.

د قوای مرکز روغتون د خپل تاسیس له وخته د دوه تنو ترکی داخله او جراحی متخصصینو په واسطه په فعالیت شروع وکړ.

د پل محمود خان روغتون تصدی د هندیانو په غاړه وه. په دې کال لاندنی چاری ترسره شوی دي:

☜ د بیطاری کورس د تشکیل تهیه کیدل.

☜ د صحیه او بیطاریه د مکتب د دوهمی دوری د طلابو فارغیدل.

☜ د غاښونو جوړولو د موسسی د سامان تورید او د هغو په کار اچول.

☜ د اردو په ټولو قطعاتو کې د موسمی واکسینو واکسیناسیون.

☜ د عسکری روغتون د لابراتوار تنظیم.

☜ د فارمکولوژی د موسسی تنظیمول.

د صحیی په ریاست کې د درملو جوړولو لابراتوارونو او د الکولو د تقطیر دستګاه په فعالیت پیل وکړ چې تولیدات یې دا و:

☜ زرقی محلولات (امپول او ویال)، تابلیتونه، پومادونه، ټینچرونه، سلوشنونه او نور.

په ۱۳۲۳ کال کې د لومړی ځل د پاره د حربیه وزارت په اجرأتو کې روغتیایی چاری مستقلی عنوان شوی دی.

د نظامی روغتیایی ښوونځی فارغ التحصیلان ۷۱تنه وو چې په دویمه دوره کې یې بری لیکونه ترلاسه کړل او د صحیه ضابطانو په حیث د اردو په قطعاتو کې وویشل شول.

د دی دوری د طلابو د لیاقت درجه په لاندې ډول وه:

۱- ډیرښه ۲۰تنه.

۲- ښه ۲۱تنه.

۳- منځنی ۳۰تنه.

په ۱۳۲۴-۱۳۲۵ کلونو کې د صحیه او بیطاریه مدیریت د اردو د ریاست په چوکاټ کې و چې اجرأت یی په لاندې ډول وو:

☜ د دواسازی د کورس تشکیل.

☜ د صحیه او بیطاریه مکتب، د وړوضابطانو او د صحیې ضابطانو د دریمی دورې فراغت.

☜ د یوی اندازی مکفی درملو او د جراحی د سامان تورید.

☜ د اردو په قطعاتو او موسساتو کې د اجباری او موسمی واکسیناسیونونو ترسره کول.

☜ د یوی زیاتی اندازی د انتی لاؤس پودر او د انتی ملاریا د کریم تورید او د هغو د استعمال د طرز په باب د صحی لارښوونو سره په قطعاتو کې د هغو ویشل.

☜ د ملاریا پرضد د مجادلی د زده کړې په غرض د صحیه یو هیئت ټاکل او هند ته لیږل.

☜ په اردو کې د صحیې د استاتستیکو د اخستلو په چارو کې لازم اصلاحات.

☜ د اردو د بدنیه قابلیتونو تعلیماتنامې ترتیب.

☜ د عسکری روغتون د درملو په حسابی چارو کې تجدد.

☜ د درملو د مختلفو او زانو بدلول د متریک سیستم په اوزانو.

☜ د حربيه وزارت او قوای مرکز د پاره د روغتونونو د وسايطو تهيه کول او رانيول.

نظامی طبابت هغه وخت خپل حقيقی فعاليت ته دوام ورکړ چې هغه ځوان عسکری دوکتوران چې په داخله او جراحی په څانګو کې يې تخصص درلود تر لوړو زده کړو وروسته فارغ التحصيل او له ترکيی څخه خپل وطن ته راستانه شول لکه مرحوم دوکتور منصور شرق، مرحوم دوکتور محمد قاسم عسکريار د پل محمود خان په روغتون او د قوای مرکز په روغتون کې په فعاليت پيل وکړ.

په دې وخت کې د پل محمود خان او قوای مرکز په روغتونونو کې د عمومی جراحی او عمومی داخله پر څانګو (ديپارتمنتونو) برسيره د جراحی، اورتوپيدی، اکسريز، يورولوژی، غوږ او ستونی، سترګو، نسايي، عقلی او اعصاب، انتانی او نور بخشونه رامنځ ته شول.

په نظامی روغتونونو کې د درملتون او درمل جوړولو چارو رونق پيدا کړ، زرقی محلولات (نواکيئن په مختلفو فيصديو، سيروم ګلوکوز او فزيولوژيک)، پومادونه، ترکيبی پودرونه، عصاری، پيلولونه، مختلف شربتونه، جوشاندی، سلوشنونه تهيه او اعماليږی.

نظامی طب هغه وخت خپل ارزښت لوړې درجې ته ورساوه چې د طبی او فارمسی چارو رسمی او لارښوونکی اسناد لکه تعليماتنامی، رهنماګانی او نور د طبابت د چارو او نظامی طبی اکمالاتو د تنظيمدلو په خاطر منځ ته راغلل. چې د اردو د بدنيي قابليت له تعليماتنامی او نورو څخه يادونه شوی او يو نور شمير اسناد چې زمونږ لاس کې دی له هغو څخه په لنډه توګه يادونه کيږي:

د زمانی قدامت له مخی لومړنی کتاب د «صحيه عينياتو د محاسبی تعليماتنامی» څخه عبارت دی چې د ۱۳۲۸ د غويی په شلمه طبع او خپور شوی ده.

د دې تعليمات نامی په ليکنه او تجديد نظر کې داخلی افسرانو (لوژستيک او صحيی) او ترکی افسرانو او دواسازی او لوژستيک متخصصينو برخه اخستلی ده. دا تعليمات نامه ۱۶۴ مادی لری چې له څلورو فصلونو څخه مرکب دی. دغه کتاب د کابل په عمومی مطبعه د پنځه سوو په تيراژ طبع شو او دوه برخی لري:

☜ په لومړی برخه کې د محاسبوی اسناد مسايل توضيح شوی.

☜ په دویمه برخه کې د جدولونو، دفترونو او لستونو نمونی لیکلی شوی دی.

په لومړی برخه کې لاندنۍ موضوعګانی لکه متفرقه احکام، د موجود یو متعلقه حکمونه، د لوازمو جنسونه، حربی جنسونه، د جنسونو د استعمال موده او میعاد، د پلټنی او حساب اخستلو مسایل شامل و. او په دویمه برخه کې ځانګړی فصلونه شامل دی لکه:

لومړۍ فصل: د صحیی جنسونو له نقطه نظره صحیه تشکیلات.

دویم فصل: د اردو د صحیې جنسونه.

دریم فصل: دندی:

☜ دصحیه د جنسونو د محاسبی د رئیس وظیفی.

☜ د محاسبی د مدیر په صفت د صحیه او بیطاریه د ریاست د لومړی څانګی وظیفی.

☜ د اردو د صحیی د جنسی محاسبینو وظیفی.

☜ د صحیه جنسی معتمدینو وظیفی.

څلورم فصل: د جنسی محاسبی د چارو متعلق د صحی جدولونو دفترونه او د هغوی د استعمال صورت.

دلته ښایی چې د ۱۴۶ مادی د ځینو برخو چې د نسخی موضوع تشکیلوی درج کړو:

☜ هغه درمل چې ناروغانو ته به ورکړ شی باید چې د ۲۴ ساعته احتیاج او یا د داکتر د لزوم دید له مخی د ضرورت په اساس د دری ورځنی احتیاج په اندازه وی (مرهم، د غړغړی دوا، او قطری چې د غوږ او ستونی او یا هغه قطره درمل چې د خوراکی د پاره ورکړ کیږی له دی حکمه مستثنی وی، دا ډول درمل له ۲۴ ساعتونه د زیاتی مودی د پاره هم ورکول کیدای شي).

پورتنی مسایل د افرادو د پاره وی د ضابطانو او د هغوی د کورنۍ د پاره په لاندې ډول اجرأت کیږی.

☜ درمل باید په روغتون کې موجود وی.

- درمل د درۍ ورځو او یا د ضرورت په اساس پنځه ورځنی ورکول کیږي.
- نسخه باید د درملتون د آمر، سرطبیب او په ځینو حالاتو کې د هماغی قطعی د قوماندان په امضا رسیدلی وی. نو بیا د روغتون له درملتون څخه اجرأ کیدایی شی.
- که چیرته درمل په روغتون کې موجود نه وی، پورتنی (لوړ مقام) دیپوته بنایی مراجعه وشی.
- که چیرته سرطبیب او یا قوماندان شکمن شی چې د نسخی درمل د صاحب منصب یا مامور د ضرورت له مخی نه ده او د نورو د پاره یی رانیسې، کولای شی چې هغه مسترد کړی.

که چیرته درمل په درملتون کې موجود نه وی او د هغی معادل درمل موجود وی باید چې اجرأ شی او که معادل یې موجود نه وی باید له بازاره واخستل شی.

- د نسخو د اجرأت صلاحیت لرونکی آمرین شخصاً په ځیر سره (دقت) کیږی او موقع نه ورکوی چې ځینی کسان له هغی څخه ناوړه ګټه واخلی. د یوه ناروغ د حقیقی احتیاج نه علاوه درمل ورکړ شی، بلکی دا ډول اجرأت داسی دی چې شخصاً د امر ورکوونکی آمرین مسئولیت لری د قانونی تعقیبونو برسیره د هغی تاوان هم ورکوونکی دی.

بله تعلیماتنامه کې چې په ۱۳۲۸ کال کې خپره شوی ده «د قطعاتو د دوکتورانو وظیفو له تعلیماتنامی» څخه عبارت ده.

دا تعلیماتنامه چې په ۵۱ مخونو چاپ شوی ۲۲۳ مادی لری چې د موضوعګانی فهرست په لاندې ډول دي:

الف: د کندک د دوکتورانو د وظیفو تعلیمات.

ب: د غونډ د سرطبیبانو وظیفی.

ج: د فرقی د سرطبیب وظیفی.

د: د قول اردو د سرطبیب وظیفی.

هـ: د اردو یا اردوګانو د سرطبیبانو وظیفی.

و: د فرقی، د قول اردو او اردو د سردواسازانو وظیفی.

په همدې شان په ۱۳۲۸ کال کې «د صحیی د هیئتونو تعلیماتنامه» چې ۱۵ فصلونه لری چاپ شوی ده.

په ۱۳۳۳ کې «په سفر کې د اردو د صحی خدمتونو تعلیماتنامه» د ۲۰۰ ټوکو په تیراژ چاپ شوی ده. دا تعلیمات نامه له ۲۰۰ مادو څخه تشکیل شوی چې مهمی موضوعګانی یې په لاندې ډول دی:

- عمومی اساسات:

هغه چاری چې د سفربری د اعلان سره اجرا کیږی:

☜ په قطعاتو کې صحیه خدمتونه.

☜ په جګړه کې د فرقی صحیه خدمات.

☜ په قول اردو کې صحیه خدمات.

☜ ګرځنده روغتونونه.

☜ په اردوګانو کې صحیه خدمات.

☜ د اردو د حرب روغتونونه.

☜ د اردو لابراتوارونه.

☜ د اردو د صحیی دیپوګان.

☜ د اردو د داخلی سیمی د تخلیی چاری.

☜ د مملکت په د ننه کې صحیه خدمات.

☜ هغه چاری چې د ترخیص په وخت کې اجرا کیږی.

د دی تعلیمات نامی ۴۷ ماده د دلچسپی له مخې د هغی یوه برخه دلته د مینه والو په واک کې ورکول کیږی.

د جنیوا د ۱۹۳۹ د جون د ۲۹ نیټی د تاریخی معاهدی له مخی چې په هغې کې د نړی ټولو هېوادونو ګډون کړی و د لاندې موادو د تطبیقیدلو غوښتنه شوی ده.

الف: د اردو پرسونل چې هرڅه تابعیت یې دی که چیرته زخمی، ناروغ او مصیبت ځپلی وی، د حمایی لاندې دی.

ب: د دښمن ټول مړی د یوی عمومی او خصوصی معاینی په تعقیب د درناوۍ په مراسمو ښخیږی.

په ۱۳۳۲ کال د سفلیس د تداوی د کتابچی جزودان د صحیه او بیطاریه د عمومی مدیریت له خوا په ۲۰۰ ټوکو تیراژه چاپ شوی دی. د پنسلین پواسطه د هغی د تداوی زمان، بسموت (څلور دوری) او بیا د سیمابو سره په نیم منحله بسموت (یوه دوره) تداوی کیږی.

د هرې دورې تر ختمیدو وروسته ناروغ ته یوه میاشت استراحت ورکول کیده او بیایې راتلونکی دورې پیل کیدلی.

په ۱۳۳۲ کال په اردو کې د سفلیس سره د مجادلی او درملنی تعلیمنامه چې دوه فصله یې درلودل د صحیه او بیطاریه عمومی مدیریت له خوا د ۲۰۰ ټوکو په تیراژ طبع شوه.

لومړۍ فصل: د وقایی او درملنی صورت.

دویم فصل: د سرایت د څرنګوالی، د مختلفو دورو او د تداوی د عوارضو په باب لنډ معلومات.

په ۱۳۳۳ کال لومړنی نظامی جراح داکتر محمد قاسم عسکریار تر تحصیلاتو وروسته له ترکی څخه د جراحی د متخصص په توګه افغانستان ته راستون شو او د قوای مرکز په روغتون کې د جراحی د متخصص په توګه یې په کار پیل وکړ او وروسته ډاکتر نور محمد خان خلمی هم له ترکیی څخه تخصص راوړ. تر مرحوم عسکریار د مخه یوازنی عسکری جراح مرحوم میر غلام حسین خان و.

د ۱۳۳۴ د کابل په کالنۍ کې د طبی لارښونو مسایلو څخه برسیره «په غرنیو حرکاتو کې د لوژستیک فعالیتونو» په باب چې د لوازمو د ټولیمشر تورن شیر محمد له خوا ترجمه شوی دی (ص – ٦۹ د غویی میاشت ۱۳۳۴) «په غرنیو شرایطو کې د طبی مرستو» په هکله په پوره تفصیل سره توضیح شوی او د ټولی د صحیی د قسم دندی، د غونډ د داکتر وظیفی او په غرنیو سیمو کې د روغتیا ساتنه چې د خاص اهمیت درلودونکی دی تشریح شوی دی.

نوموړی د نوموړی کالنۍ په ۲٦ مخ کې د امریکا په اردو کې د عینیاتو د محاسبی په باره کې یوه مقاله ژباړلی چې د محاسبیت قدمی له لوا او فرقی څخه پیل شوی. خو په تولی او د هغه معادلو مفرزو کې – لوژستیکی تشکیلات «محاسب» نه لری.

د ۱۳۳۵ کال د سرطان د میاشتی د اردو د مجلی کالنۍ په ۱۲ مخ کې یوه په زړه پوری موضوع چې د اوسنیو شرایطو سره ډیر نږدی مطابقت لری یعنی د ناروغانو د انتقال او تخلیی په باب چې ارزښتناکه ده او اساسی مسایل یی په لاندې ډول دي:

لومړۍ فصل: د لاس په واسطه د ناروغانو وړل راوړل.

دویم فصل: د تسکری پواسطه د ناروغانو وړل راوړل.

دریم فصل: په تسکره کې د حمل و نقل مرستی.

څلورم فصل: د امبولانس د موټرونو په واسطه وړل راوړل.

پنځم فصل: د حربی عمومی عراده جاتو بدلول د ناروغانو د وړونکو عرادو په شکل.

شپږم فصل: د ریل پواسطه د ناروغانو وړل راوړل.

اوم فصل: د هوا له لاری د ناروغانو حمل و نقل.

اتم فصل: په اوبو کې د ناروغانو حمل و نقل.

دا موضوع (۱۱۳) مادی لری.

همدارنګه د نوموړی کال د قوس د میاشتی د دغه کالنۍ په ۶۱ مخ کې د تورن شیر محمد له خوا یوه څېړنه او لیکنه شوی چې پر له پسی توګه یې د حوت میاشتی پوری دوام کړی دی، چې عبارت دی له «د عینیاتو د محاسبی په شاوخوا کې» مطالبو څخه عبارت دی چې عمده برخی یې په لاندې ډول دي:

- محاسبه
- حساب
- د تجارت محاسبه
- د دولت محاسبه
- د اردو محاسبه
- وثیقی
- اجمالات

- ☜ محاسب او د عینیاتو محاسب
- ☜ امر اعطا، د عینیاتو د اعطا آمر، لومړی درجه او دوهمه درجه امر اعطا
- ☜ معتمد
- ☜ عینیات
- ☜ د عینیاتو د محاسبی مراقبت او تشکیلات
- ☜ په حضر او سفر کې د عینیاتو محاسبین
  - د محاسبینو وظیفی او مسئولیتونه
  - د اکمال د آمرینو دندی
- ☜ د محاسبینو د حساب ورکولو صورت
- ☜ د محاسبینو دورتسلیم
- ☜ معتمد او د هغه دندی
- ☜ موجودی ګانی
- ☜ هغه باقیات چې د پلټنی په نتیجه کې رامنځ ته کیږي

په هر صورت دا اثر د نظامی طبی اکمالاتو له مخی د پوره اهمیت وړ بلل کیږی.

په ۱۳۳۶ «د اردو د منسوبینو درملنی» تر عنوان لاندې یوه تعلیماتنامه د زرو ټوکو په تیراژ له چاپه راووتله چې (۲۰) مادی یې درلودلی.

په دې تعلیماتنامه کې هغه مستحقین چې باید اردو هغه تداوی کړی او همداشان هغه مستحقین چې باید په بهر کې تداوی شی توضیح او تشریح شوی چې دا یو ارزښتناک اثر دی او حتی په اوسنیو شرایطو کې هم د تطبیق وړ ده.

د دې تعلیماتنامی په دوهمه ماده کې ویل شوی دي: هغه اشخاص چې په اردو کې له معاینی او تداوۍ ځخه ګټه اخستلای شی په لاندې ډول دي:

الف: صاحب منصبان او د کورنۍ غړی یې.

ب: همردیفان او کورنۍ یې.

ج: عسکری مامورین او کورنۍ یې.

د: عسکری متقاعدین (صاحب منصب، همردیفان او مامور).

هـ: واړه ضابطان.

و: عسکری طلاب.

ز: افراد.

ح: مستخدمین او اجیران.

تبصره:

کورنۍ د صاحب منصب یا همردیف یا مامور عبارت دی له ښځی، مور او پلار، زوی، لور، ورور او خور څخه او یا د هغو څخه عبارت ده چې د معشیت متکفل یې وی.

هغه زوی، لور، ورور یا خور چې عایله یې تشکیله کړی وی او یا هغه زوی او ورور چې عمر یې له ۱۸ څخه زیات چې په تحصیل کې شامل نه وی او دایمی معلول نه وی او یا پلار او مور، ورور، خور چې د دوی معشیت د زوی او یا نورو متعلقینو په واسطه تامینږی د دی تعلیماتنامی د مندرجاتو له مخی له معاینی او تداوي څخه استفاده کولای نه شی.

د دې تعلیماتنامی په څلورمه ماده کې د معاینی او درملنی هغه شکلونه یې رعایت کېږی ښودل شوی چې په څلورو شکلونو دي:

الف: په رویرونو، روغتونونو او عسکری کتنځیو کې د سراپا په شکل.

ب: په کور کې د عسکری داکترانو له خوا.

ج: په رویرونو یا عسکری او ملکی روغتونونو کې د بستر په شکل.

د: د هېواد نه د باندی.

د دې تعلیماتنامی اتلسمه ماده داسی تصریح شوی ده:

د دولت د مالی وضعی د مساعدت تر وخته پوری د هغو کسانو د معاش څخه چې د معاینی او درملنی حقوق لری په لاندې ډول د میاشتنۍ روپۍ اخستل کېږي:

الف: له صاحب منصبانو، همردیفانو او عسکری مامورینو څخه:

۱- پخپله له دوی څخه په هره میاشت کې (۱۰) افغانۍ.

۲- د دوی د کورنۍ د هر غړی څخه چې په بیان نامه کې تثبیت شوی دی (۲) افغانۍ.

ب: له وړو ضابطانو، مستخدمینو او اجیرانو څخه (۵) افغانۍ.

په دې تعلیماتنامه کې د هغو کسانو جدول چې باید خارج کې تداوی شی او د صحیه هیئت فورمه هم موجوده وی.

د اردو روغتون (قوای مرکز او پل محمود خان) کال په کال پراختیا کړی او نوی څانگی پکې فعال کیدل او د داخلی متخصصینو شمیر هم مخ په زیاتښت وو.

درملتون او د درمل جوړولو چاری د اردو د صحیی په ریاست کې او هم په روغتونونو کې له زیاتو ښیگڼو درلودونکی وو اود عسکری طبابت کیفیت هم تکامل کړی. د داخله ناروغیو تداوی ښه رونق موندلی او د جراحی عملیات هم تر سره کیدل.

په ۱۳۳۸ کې د توراکس لومړی عملیات چې د «CARDIOMYOTOMIE de HELLER» څخه عبارت و د کارد یو سپازم په واقعه کې ترسره شو.

په هغه وخت کې انستیزی دلو کال، لومبیر او قطره یی په انستیزی منحصره وه. داخلی انستزیولوگ موجود نه و. د ترکی انستیزیولوگ په مرسته د اندو تر خیال د انستیزی سره د هائیدبرنگ د جهاز په واسطه نوموړی عملیات ترسره کیدل (د دوکتور خلمی له قوله).

(که څه هم د اوسنی زمانی له مخی پورتنی عملیات د عملیاتو د سیستم او انستیزی تجهیزات یې په ډیر وروسته پاتی حالت کې و خو په عین وخت کې د نظامی دوکتورانو او نظامی طبابت دپاره ستر بری ؤ – مولفین).

په ۱۳۳۹ کې «د حرکاتو په ساحه کې د اردو د صحیه خدماتو تعلیماتنامه» کتاب د اردو د صحیه خدماتو د ریاست له خوا له چاپه راووت. دا کتاب چې د ۹۸ مخونو درلودونکی دی صحیه خدمتونه په مختلفو قدمو کې توضیح کوی لکه:

لومړی قدمه: غونډ او مستقل کنډکونه.

دویمه قدمه: فرقه.

دریمه قدمه: د اردو قدمه او د اردو ګرځنده روغتون.

څلورمه قدمه: د صحیه خدماتو د منزل د ساحی قدمه.

پنځمه قدمه: د هېواد د ننه قدمه.

د دې اثر په وروستیو مخونو کې د صحیی تکتیکی اشاری رسم شوی دی.

د تحصیل له وتلو څخه داخلی دوکتورانو او دواسازانو په زیاتښت سره د روغتونونو وضع ډېره ښه شوی په قطعاتو او جزوتامونو کې صحیه تشکیلاتو ښه رونق پیدا کړی، د غونډ او فرقی په سویه سارايي تطبیقاتونو کم کم په علمی شکل د تطبیق په ډګر کې پلی شوی دی.

د صحیی د برخی لومړنی صحرایی (سارايي) تطبیقات چې په اسنادو کې ثبت دی په ۱۳۴۰ کې دی. دا تطبیقات د ۱۳۴۰ د وری د میاشتی د اردو د مجلی د کالنی په ۷۰ مخ کې خپور شوی دی چې د بریدمن نورالحق عبادی (البته دا وخت د عسکری نوی اصطلاحات رواج شوی وو) د هغه راپورتاژ تهیه کړی دی. څرنګه چې دا تطبیقات د پوځیانو د پاره تاریخی اهمیت لری نو له دی امله یې محتویات دلته اقتباس کېږي: «بیست و هفتمین تطبیقات آشدار حربی پوهنځی در تپه ټولواک ساعت ۱۰-۸ تاریخ دوشنبه ۱۳۴۰/۵/۲ شروع گردیده و ساعت ۱۱:۴۵ لوی درستیز و سایر جنرالان و صاحب منصبان از مرکز حمایت نخستین دیدن فرموده و راپور اجرأت صحی مراکز نخستین کندک از طرف دگروال دوکتور محمد قاسم عسکریار رئیس صحیه به حضورشان عرض گردید. سپس دوکتور اردوغان عزت ادروال (مشاور و استاد ترکی در حربی پوهنځی – مولفین) اجرای معاونیت های نخستین را چنین توضیح نمودند.

در هر کندک یک بلوک صحیه موجود بوده که بلوک صحیه اکمال صحی کندک را اجرا می نماید. وظیفه بلوک صحیه استاسیون معاونیت نخستین کندک را تاسیس و بکار انداختن آن می باشد.

در بلوک صحیه قسم های ذیل موجود است:

۱- قسم تسکره چی ها:

این تسکره چی ها در هر تولی ۸ نفر بوده که عبارت از دو گروپ تسکره می باشد. در اثنای محاربه گروپ های تسکره به امر تولی ها داده شده و این تسکره چی ها – زخمی ها و مریض ها را الی استاسیون (شعبه مرکز صحیه) معاونیت نخستین نقل و تخلیه می نماید.

۲- در هر تولی یک اکیب (گروپ) صحیه موجود بوده که عبارتند از یک دلگی مشر صحیه و یک نفر نرس صحیه است. وظیفه آنها در داخل تولی اجرای معاونیت نخستین صحی است، بعد از کمک مریض و زخمی ها توسط گروپ های تسکره به استاسیون معاونیت نخستین کندک تسلیم می نماید. علاوتاً این ها فش (کارت ابتدایی – مولف، مومني) مریض و زخمی ها را خانه پوری می نمایند. یعنی نوع مریضی و مریض و زخم و اینکه چگونه مداخله صحی اجرا شده و کدام نوع ادویه در فش ها تثبیت کرده، بعد از آن این اشخاص مریضان و زخمی ها را بواسطه گروپ های تسکره به استاسیون نخستین معاونیت کندک نقل می نمایند.

درینجا باید ایضاح گردد که غایه تاسیس استاسیون معاونیت نخستین کندک، صریحاً تخلیه مریض و زخمی ها بوده و از همین سبب است که تحت امر استاسیون مذکور ۱-۲ جیپ تسکره بردار نیز موجود بوده بواسطه آن به سرعت، مریضان از جبهه الی استاسیون مذکور در تخلیه مریضان و زخمی ها وظیفه می بیند.

قوماندان بلوک صحیه که عبارت از دوکتور کندک می باشد این استاسیون (استیشن – مرکز صحیه کندک) معاونیت نخستین را نظر به وضعیت محاربه در یک محل مناسب تاسیس می کند.

در استاسیون معاونیت نخستین تحت نظارت داکتر کندک یک تکنیشن جراحی، یک تکنیشن طبی و تکنیشن دواسازی و یک خورد ضابط انضباط با افراد لازمه موجود می باشد.

استاسیون معاونیت نخستین کندک از چهار قسم متشکل است:

۱- قسم قبول و قید مریضان: مریضانیکه درین قسم می آیند احصائیه شان گرفته شده و وضعیت شان از طرف دوکتور تدقیق گردیده بعد از آن این مریضان را بدیگر قسم های استاسیون معاونت صحی کندک تسلیم می نمایند.

۲- قسم جراحی سنگین: این قسم زخمی های سنگین را بعد از معاینه داکتر می پذیرد.

۳- قسم جراحی ضعیف: عیناً مانند قسم جراحی سنگین وظیفه می بیند.

۴- قسم تخلیه: این قسم مریضان و زخمی هایکه تخلیه آن به غنډ ایجاب می کند کندک توسط امبولانس های غنډ و هلی کوپتر تخلیه می نمایند».

(لکه چې لیدل کېږی پورتنی راپورتاژ د ژورنالیستی ژانر د اصولو سره سم لیکل شوی نه دی، خو اهمیت یې په دې کې دی چې د هغه وخت د نوموړی پېښی معلومات یې تردی وخته را ورسول) (پوهنوال رازقی نړیوال).

په ۱۳۴۰ کې صحی نشرات د طب د دوکتورانو او د نظامی محصلینو له خوا په ورځپاڼو، جریدو او مجلو کې شروع کېږی، چې په زړه پوری او گټوری مقالی د اردو په مجله کې چاپ شوی دی. دلته گرانه ده چې د هغو ټولو لیکوالانو د نومونو یادونه وشی، خو د دوکتور قمرالدین اکسیر د اردو د دویم لمبر روغتون د رادیولوژی د متخصص څخه یادونه کولای شو. نوموړی د تحصیل په وخت کې او یا ځوان نظامی ډاکتر و چې د نورو په نسبت یې زیاتی مقالی چاپ ته رسیدلی دی.

د فارمسستانو له جملی څخه د عبدالوهاب ترین (وروسته د صحی ریاست د اکمالاتو د مدیر په توگه) څخه یادونه کولای شو.

د اردو صحیه خدماتو کال په کال وده او پراختیا موندله او د خپل فعالیت له محدودی څخه د باندې وتلی او په ملی او نړیوالو کنفرانسونو کې یې گډون کاوه.

دا وخت افغانستان د نړیوالی نظامی صحی مجلی غړی و چې دوکتور محمد قاسم عسکریار د نوموړی مجلی د لیکنی د هیئت (پلاوی) غړی هم و او د افغانستان د اردو د صحیه خدماتو استازی هم و. د دې مجلی سره په ۱۳۵۸ کال د اقتصادی ستونزو له کبله قطع شوی چې بیا وروسته دوباره احیا شوی دی.

مجربو دوکتورانو او متخصصینو هر کال په داخل او بهر کې په بیلا بیلو کنفرانسونو کې گډون درلود چې د نمونی په ډول د نړیوالی روغتیا د ورځی چې ۱۳۴۳ کال د وری میاشتی ۱۸ نیټه په حربی پوهنتون کې

ونمانځل شوه (محترم رازقی نړیوال چې په هغه وخت کې محصل و خپل یو روغتیایی شعر یې لوستلی دی).

په دې محفل کې لاندینو ذواتو ګډون کړی او مقالی یې ایراد کړی دي:

- تورنجنرال دوکتور محمد قاسم عسکریار د اردو د صحیه خدماتو آمر.
- دوکتور سید منصور شرق د اردو د روغتون د داخله رنځونو متخصص.
- دوکتور محمد نعیم ننګرهاری د اردو د روغتون د داخله رنځونو متخصص.
- دوکتور محمد افضل امان زی د حربی پوهنتون سرطبیب.
- ډګروال دوکتور محمد نصیر د صحیه آمریت د تداوی مدیر.
- دوکتور محمد یوسف بختیار.
- دوکتور عبدالقیوم نیازمند د اردو د روغتون د ساری ناروغیو متخصص.
- دوکتور عبدالفتاح ایازی د حربی ښوونځی د روغتون سرطبیب.

دا عنعنه تر اوسه پوری جریان لری د اردو طبیبان د روغتیا نړیواله ورځ، د ماشومانو د روغتیا نړیواله ورځ، د سری میاشتی نړیواله اونۍ او داسی نورو ملي او نړوالو مراسمو کې ګډون کړی دی.

په ۱۳۴۴ کال «په صحرا کې د صحی خدمتونو نوټونه» کتاب د دفاع وزارت له خوا چاپ شوی دی. دا کتاب چې ۱۰۸ مخونو درلودونکی دی. دا لومړی اثر دی چې په افغانستان کې د شوروی اتحاد د نظامی تکتیک د پیاده کولو وروسته طبع شوی دی. هغه آثار چې تردی د مخه لکه چې ورته مخکې اشاره شوېده نشر شوی هغه د ترکیی د جمهوریت او د امریکا متحده اضلاعو له تکتیک څخه اقتباس شوی وو.

افغانستان ته د شوروی اتحاد د وسلی او تخنیک د واردیدلو سره جوخت په حربی پوهنتون او د افسرانو په عالی کورس (کورس آ) کې د شوروی اتحادیو شمیر نظامی استادان استخدام شول او په نظامی موسساتو کې د ترکانو نقش ته خاتمه ورکړه شوه.

د دې کتاب مفردات او موضوعات د افسرانو په عالی کورس کې د ۴۵ ورځو د پاره د شوروی اتحاد مشاورینو له خوا د اردو دوکتورانو او فارمسستانو ته درس ورکړی دی.

دا کتاب د خاص اهمیت درلودونکی او دتطبیق وړ وو. موضوعات یې عبارت دی له:

- صحیه خدماتو دندی.
- په حرب کې د صحیه خدمات.
- د صحیه تشکیلات.
- د غونډ صحیه مرکز.
- د فرقی لوژستیکی قدمی.
- د فرقی صحیه قسم.
- د صحیه پرسونل او د صحیه جزوتامونو دندی.
- د لومړی خط صحرایی ګرځنده روغتونونه.
- د چانتی محتویات.
- طبی مرستی.
- د حمل و نقل او تخلیی وسایط.
- صحی تلفات او د ډله ایز اسلحی تاثیر.
- صحیه تامینات د دسته جمعی اسلحی تاثیر د چاودنی په اجاق کې.
- د حفظ الصحی او د ساری امراضو پر ضد تدابیر.
- په تعرض، تدافعی او د رفتار د وخت په محاربه کې صحیه تامینات.
- صحیه اکمالات او د لوژستیکی خدماتو سوق او اداره.
- د صحیه تامیناتو پلان او محاربوی فعالیت.
- او بالاخره د بندیانو سره معامله او په لس ګونو واړه واړه مطلبونه پکی ځای شوی دی چې د دوکتورانو فارمسستانو او آمرانو دپاره ډیر ښه لارښود دی.

په همدې کال (۱۳۴۴) د حوت په میاشت کې د طب د پوهنځی د فارغ التحصیلانو شمیر ۲۵ تنه وو چې د نوو دوکتورانو په حیث اردو ته معرفی شول. د شپږو تنو په شمیر چې د حربی ښوونځی تر فراغت وروسته

د حربی پوهنتون په لومړی ټولګی کې نه وو شامل شوی او له ملکی ساحی څخه نظامی ساحی ته راغلی وو د همردیف په توګه معرفی شوی دی.

تر ۱۳۵۷ کاله پوری هغه داکتران او فارمسستان چې د کابل یا ننګرهار پوهنتونونو څخه فارغ التحصیل کیدل که چیرته یې تر پوهنځی د مخه یې شپږ میاشتنی په حربی پوهنتون کې درس لوستلی او بیا په ملکی پوهنتونونو کې شاملیدل تر فراغت وروسته د خپلو همصنفانو د رتبو مطابق په افسری منل کیدل.

خو هغو کسانو چې د حربی پوهنتون په درسونو کې یې ګډون کړی نه وو او یا د ملکی ښوونځیو له دولسم ټولګی څخه په ملکی پوهنتونونو کې د نظامی محصل په حیث شاملیدل نو تر فراغت وروسته د همردیف په حیث (همردیف د یو شمیر امتیازاتو لکه نفر خدمت، منظم ترفیعات، مادی امتیازات او نور څخه محروم وو او حتی یونیفورم یې هم باید د نورو افسرانو سره فرق درلودلای) په اردو کې شاملیدل او هغه وخت یې چې په حربی پوهنتون کې یو سمستر کورس پای ته رساوه د صاحب منصب په حیث پیژندل کیده.

خو د دغه ټکی د پای ته رسولو په خاطر د ۱۳۵۷ په وروستیو کې د طب یو شمیر داکتران، فارمسستان، او طبی منځنی پرسونل چې همردیف شمیرل کیده په حربی ښوونځی کې د یوی میاشتنی کورس اخستلو وروسته د اردو د صحیی ریاست تر لاښوونی لاندې د افسر په توګه وپیژندل شول او د همردیف کته ګوری د تل لپاره په اردو کې له منځه لاړ. په دغه برخه کې د جګړن عبدالحی مومنی ابتکار د قدر وړ دی.

په ۱۳۴۶ کې یو مهم او ارزښتناکه اثر «لومړنی مرستی» تر عنوان لاندې چې مولف یې ډګرمن ارکانحرب محمد یحیٰ نوروز ؤ چاپ شو.

د دې اثر د مندرجاتو په فهرست کې، د لومړنی مرستی تعریف او اهمیت، زخمونه، سوختګی، کسرونه، په وجود کې بهرنی اجسام، اسفیکسی، بیهوشی، مصنوعی تنفس، د ناروغانو او مجروحینو انتقال او انفرادی حفظ الصحه شامله ده (که څه هم محترم ارکانحرب محمد یحیٰ نوروز طبیب نه ؤ خو خپل مهم او ارزښتناک اثار او مقالی یې د صحیه خدماتو په بخش کې د اردو په مجلو او د هغه وخت په نورو نشراتو کې چاپ کړی دی – مؤمنی).

همداشان په ۱۳۴۶ کال کې «د اردو د بدنیه قابلیت تعلیمات نامه» طبع شوی چې ۹ فصلونه، ۷۱ مادو او یو شمیر جدولونو درلودونکی ده.

په ۱۳۵۷ کال کې د هغه وخت د شرایطو مطابق په دی تعلیمات نامه کې یو لړ تغییرات منځ ته راغلل یعنی په حقیقت کې پراختیا یې وموندله چې د یوه رهنمود په شکل د جلب او احضار ټولو صحی ګروپونو ته چې په ولایاتو کې توظیف شوی وو هغوی ته یوه یوه کاپی ورکول شوی او د هغو په اساس اجرأت کیدل.

په راتلونکو کلونو یعنی د جګړی په سختو په شرایطو کې د اردو د بدنیه قابلیت تعلیمات نامه، فوق العاده محدوده شوه او د جګړی دشرایطو سره سم د داکتر عبدالقیوم طوطاخیل په مرسته په یوه تعلیماتنامه بدله شوه. او له ۱۳۶۵ کال را وروسته دغه محدودیتونه تر یوه حده پوری لیری شول او په ۱۳۷۰ کال کې پر هغی یو بل نوی نظر وشو.

د اردو په روغتونونو (لومړی نمبر – قوای مرکز، دوهم نمبر – پل محمود خان) کې اختصاصی شعبو پراختیا وموندله او ورو ورو د دی دواړو روغتونو تر منځه وظیفی لامشخصی شوی لکه د جراحی برخی د لمړی نمبر روغتون پوری وتړل شو او د داخله عمده برخی په دوهم نمبر روغتون کې تداوی کیدل.

دا دواړه روغتونونه د یو واحد تشکیل درلودونکی و او پنځه سوه بستری یې درلودل چې ۳۰۰ بستری یې په لومړی روغتون کې (په ۱۳۵۰ کال کې یې ۲۷۰ بستری درلودلی چې د جراحی، داخله، ساری ناروغی، عقلی او سترګی سرویسونه په هغه کې فعال و) او ۲۰۰ بستره په دویم نمبر روغتون کې فعالیت درلود.

په همداشان د ننګرهار، د یولسمی فرقی روغتون په جلال آباد کې په مجهز صورت تقویه شو چې ۱۳۴۸ کال راوروسته یې زخمیانو او ناروغانو سره تخصصی او اختصاصی مرستی کولی. زرقی محلولات (نواکئین، سیروم ګلوکوز او فزیولوژیک) د هغه په دواخانه کې همدارنګه ترکیبی دواګانی هم تهیه او اعمال کیدلی. (د درملتون متخصص جګړن عبدالحی مؤمنی او مؤلفین).

د افغانستان د اردو د اړتیاوو د طبی مرستو د تطبیق حجم په کابل کې د دوو روغتونو په محدوده نه ترسره کیده، هماغه و چې د ۱۳۴۹ کال د غویی په میاشت کې د چارصد بستر روغتون (د اردو مرکزی روغتون) بنسټ کیښودل شو او د جوړولو کار یې پیل شو.

په ۱۳۴۹ کال کې یو بل رهنمودی اثر د «افغانستان د شاهی اردو، د لوژستیک د صحیه خدماتو د وقایوی طب تعلیمات» په نوم چې پنځه فصلونه

یې درلودل له چاپه راووته چې خاص ارزښت یې درلود او په اوسنیو شرایطو کې هم د تطبیق وړ دی.

په ۱۳۵۰ کال «د افغانستان د شاهی اردو د مشترکو عینیاتو د محاسبی تعلیماتنامه» خپره شوه. د ملی دفاع د وزیر په لومړنۍ امر کې ویل شوی دي: «هر صنف خدمت تعلیماتنامه اکمال صنف مربوط خود را با تمام تفصیلات و خصوصیات بحیث متمم این تعلیماتنامه حاضر نموده و بعد از منظوری بمعرض تطبیق بگذارد».

باید وویل شی چې تراوسه پوری د عینیاتو د محاسبی تعلیماتنامه نه ده تدوین شوی او قسماً د ۱۳۲۸ کال د صحیه د عینیاتو د محاسبی تعلیماتنامی څخه چې د اوسنی وخت او شرایطو سره مطابقت نلری، استفاده کېږی.

هغه عوامل چې د صحیی خاصه تعلیماتنامه موجوده نه ده په دې ډول دي:

۱- د مشترکو عینیاتو د محاسبی تعلیماتنامه تریوی اندازی پوری مشکلات لیری کوی.

۲- د مربوطو کدرونو نشتوالی، د مشترکو عینیاتو د تعلیماتنامی د تدوین راهیسی مو په دې اوږدو مودو کې – او همداشان دی مامول ته نه پاملرنه.

۳- د جګړو شرایطو هم مربوطو کدرونو ته ډیر کم مجال ورکړ.

۴- څه رنګه چې د طبابت او فارمسی ساحه ډیره پراخه ده، چې اصلاً د یوی تعلیماتنامی حجم هومره باید پنډ شی چې وړل یې ډیر ګران دی، نوځکه د صحیه عینیاتو د محاسبی لارښودونکی اسناد د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې د رهنمودونو، د دفاع وزیر د اوامرو، تعلیماتنامو او نورو کې خپرېږی. لکه چې د سولی او جګړی د وخت د طبی عینیاتو نورم، یوه ډیره لویه مجموعه ده چې د دفاع د وزیر د امر په حیث له هغه څخه استفاده کیدلای شی. او د طبی عینیاتو د استعمال د معیاد سره، د طبی عینیاتو د ساتنی، د وسله والو قواوو د درملتونونو د فعالیت طرز او داسی نور په ځانګړی ډول تنظیم، د رهنما، دیرکتیف او نورو په شکل د یوه رسمی سند په توګه له هغه څخه استفاده کېږی.

د افغانستان د شاهی اردو د مشترکو عینیاتو د محاسبی تعلیماتنامه چې ۹ فصلونه او ۲۹۲ مادی او ضمایم لری او د محاسبی د نوی سیستم په اساس رامنځ ته شوی ده په وسلوالو قواو کې د تطبیق وړ ده، کنترول او تفتیش د همدې تعلیماتنامی په اساس صورت مومی، د صحیی د اکمال آمرینو، د درملتونونو د آمرینو، سرطبیبانو او د صحیي مرکزونو د آمرانو د کار پر میز د دی تعلیماتنامی موجودیت حتمی او ضروری ګڼل کیږی.

د اردو د مرکزی روغتون د ودانولو کار د وخت د دولتی حاکمیت د خاصی پاملرنی لاندې قرار درلود او همیشه د دولتی مشرانو د څارنی لاندې وو. لکه چې د ۱۳۵۱ د مرغومی په ۱۲ نیټه اعلحضرت محمد ظاهر شاه د افغانستان پاچا د دې روغتون د کار جریان وکوت، او محمد موسی شفیق صدراعظم هم د دې کال د مرغومی په ۱۹ نیټه د دی روغتون د کار جریان څخه کتنه وکړه. (*د مرکزی روغتون او د هغه د پراختیا پړاوونه په ځانګړی څپرکی کې وړاندی کیږی – مولفین*)

لومړی نمبر او دوهم نمبر روغتونونه همیشه د ودی او پراختیا په حال کې وو او تل نوی څانګی د وخت د غوښتنی او د کادری او اقتصادی امکان په اساس پرانستل کیدلی. لکه چې د اردو په لومړی نمبر روغتون کې د ۱۳۵۲ کال د غبرګولی په ۹ نیټه د چارشنبی په ورځ نسایی او د کوچنیانو څانګی (سرویسونه) پرانستلی شوی.

د پورتنی موضوع په اړوند د اردو د مجلی د ۱۳۵۲ کال د وری د میاشتی د ګڼی په ۷ مخ کې داسی مطلب چاپ شوی چې دلته کټ مټ اقتباس کیږی.

«اردوی شاهی افغان که در تامین وقایه صحت صاحب منصبان، افراد و سایر منسوبین عسکری با تاسیس کلنیک های مختلف در شفاخانه های اردو و تربیه دوکتوران و متخصصین همواره وظیفه مهم خود را از پیش برده است، به مناسبت شعار روز جهانی صحت (که خانه کانون صحت است) در سال ۱۳۵۲ سرویس های نسایی و اطفال در شفاخانه نمبر یک اردو افتتاح و فعال ساخته است».

د دی دواړو څانګو د افتتاح تاریخ داسی ښئ چې د نظامی طب په برخه کې وروستنی ګام د اعلحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې پورته شوی دی ځکه چې د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ نیټه دولتی حاکمیت سردار محمد داود خان ته منتقل شو (مؤلف، مومنی).

نظامی طبابت د محمد داود خان د جمهوریت نه تر ۱۳۸۰

مرحوم محمد داود خان کله چې د صدراعظم په توګه دنده اجرا کوله نظامی طبابت سره یې ډیره مینه درلودله او په دغه برخه کې لویې لاس ته راوړنی او پرمختګ شوی دی. او د جمهوریت په دوره کې باید وویل شی چې هم د ښوونی او روزنی او هم د روغتونونو د پراختیا په برخه کې ارزښتناک کارونه شوی دی د بیلګی په توګه باید وویل شی چې:

د منځنی طب د منسوبینو تعلیم او تربیه د اردو د صحیه ریـــاست او د هغه په روغتونونو کې له اوږدو کلونو راهیسی ادامه درلودله او تراوسه پوری دوام لری چې د مختلفو دورو د فارغانو په هکله یادونی شوی دی. دا دی یو ځل بیا د فارغانو یوه بله دوره تر نظر تیروو.

«د ۱۳۵۲ کال د وری ۲۷ پنجشنبی ورځ په ۱۱ بجو او ۳۰ دقیقو د عسکری کورس د اردو د روغتونونو د نرسانو تصدیق نامی او جوایز د ډګرجنرال محمد نذیر کبیر سراج د ملی دفاع وزارت د لوژستیک د رئیس له خوا فارغانو ته وویشل شول»[۱].

دا کورسونه په ۱۳۵۱ کال کې پیل شوی او نهه میاشتی دوام وکړ. کورس په دوو سمسترو تقسیم شوی چې لومړی سمستر څلور میاشتی او په دی کې توپوګرافی، خریطی، کیمیا و ګاز، خدمات داخله، پښتو او روسی ژبو مضمونونه او په دویم سمستر کې چې پنځه میاشتی یې دوام درلود، د صحیه خدماتو د حرب جراحی، ساری ناروغی، مشترک عینیاتو او د پښتو او روسی ژبو تدریس شوی دی. له کورس څخه ۱۲تنه فارغ شوی چې تورپیکۍ شیرزی په لومړی درجه، پیغله نادره حکیمی په دویمه درجه او پیغله شکریه غفور په دریمه درجه بریالی شوی دی.

نور فارغان لکه پیغله ماری، ګل مکۍ، ذکیه، نذیره، عایشه، صدیقه، میرمن نادره، پیغله راحله او حبیبه دی.

د حرب طبابت د ودی او پراختیا لکه (اورګانزیشن او د صحیه خدماتو تکتیک، نظامی طبی احصائیه، نظامی طبی اکمالات، جراحی حرب، داخله حرب، اپیدیمولوژی او د حرب حفظ الصحه، رادیو لوژی، د حرب توکسیکولوژی او نور) په باب باید وویل شی چې دا پروسه په لومړنۍ شکل د صحیه ریاست د کورسونو د مدیریت په واسطه (په لومړی وخت کې د

---

۱ - د اردو مجلی کالنی د ۱۳۵۲ کال د لړم میاشت ۱۰۰مخ.

قوای مرکز په روغتون او بیا د صحیه ریاست په قرارگاه او د افسرانو عالی کورس کې) پرمخ بیول کیدل.

طبیبانو او فارمسستانو د کابل او ننگرهار په پوهنتونونو کې تحصیل کاوه او یوازی مسلکی مضمونونه یې زده کول او د حرب د طبابت په نوم یې کوم مشخص مضمون نه لوستل، فارغ التحصیلانو تر فراغت وروسته د ستاژ یوه کلنه دوره د مرکز په اختصاصی روغتونونو او په صحیه ریاست کې تیروله او د مسلک د ستاژ کورس یې په دې موده کې (هره ورځ تر دولسو بجو وروسته) هم پای ته رساوه، دا کورس تر ۱۳۵۲ کال پوری دوام درلود.

عسکری طبیبانو او درمل جوړونکو په دی کورس کې د جراحی صحرا، داخله صحرا، انتانی، حفظ الصحه، د طبی عینیاتو محاسبه (نظامی اکمالات) مضمونونه هغه هم په ډیره نامنظمه توگه لوستل، چې د مسلکی کیفیت له مخی په ډیره ټیټه سطحه کې یې قرار درلود.

د پورتنی کورس ترڅنگه د ۱۳۴۰ کال له لومړیو څخه راهیسی کله چې په اردو کې شوروی عسکری تکتیک وارد شو نو یوشمیر داکتران او فارمسیستان د لینن گراد (سن پطرز بورگ) طبی اکادمی ته ولیږل شول چې ځینی یې نظامی طبی اکمالاتو په برخو کې او یوشمیر یې د صحیه خدماتو د اورگانزیشن په برخه کې تحصیل وکړ او یوشمیر ځوانو دوکتورانو د لیننگراد د طبی اکادمی د طب په پوهنځی کې تحصیل کړی و، او کله چې هېواد ته راستانه شول د حرب د طبابت په وده یې پوره اغیزه واچوله، کله چې له ۱۳۵۰ کال را په دیخوا په نظامی نشراتو (اردو مجله) کې په دې هکله مضمونونه چاپ شوی دی.

له همدې ځایه و چې له ۱۳۴۸ په تیره بیا د ۱۳۵۲-۱۳۵۷ کلونو ترمنځه ده چې له ۱۳۵۴ کاله را په دیخوا د اردو د صحیی ریاست ته د شوروی صحیه مشاورین راتگ پیل کیږی. د حرب طبابت پلان گذاری او ترویج، د مسلکی او محاربوی تعلیم او تربیی پرمخ بیول، د زده کړی د تقویمی پلانونو ترتیب و تنظیم، د صحیه خدماتو سوق و اداره، د جزوتامونو او معالجوی موسسو او د صحیی د اداری بخشونو د تشکیلاتو نوی کول او پراختیا، په ژمنی او دوبی تعلیمی دورو کې (په کال کې دوه ځلی) د قطعاتو او روغتونونو د صحی خدماتو د سرطبیبانو او امرینو د قصیر المدتو کورسونو تدویرول، د قطعاتو او جزوتامونو په صحی مرکزونو کې د چارو د ښه والی سازمان دهی، د طبی احصائیوی او محاسبوی اسنادو ترتیب او

خانه پوری. د غونډ او فرقی په سطح د صحیه خدماتو د تکتیکی تطبیقاتونو پرمخ بیول. د لکچر نوټونو تهیه کول، د لویو جزوتامونو په صحی مرکزونو او روغتونونو باندې تکثیرول او ویشل، او همداشان یو نور شمیر تدبیرونه د حرب د طبابت د ودی او پراختیا د پاره نیول کیدل.

هغه ستر ګام چې د نظامی طبابت په پراختیا کې یې نوی نقش ولوباوه هغه د اردو د مرکزی روغتون (۴۰۰بستر روغتون) و چې د ۱۳۵۵ کال د لیندۍ د میاشتی په لومړۍ نیټه پرانستل شوه، هغه چې د شوروی اتحاد د دولت په مادی او تخنیکی مرسته ودانه او تجهیز شوی ده، دی روغتون په سیمه کې ساری نه درلود.

په دې روغتون کې چې تشکیل یې لکه د طبی علومو اکادمی په شان جوړ شوی و. په دې کې معالجوی او تشخیصوی څانګی او دیپارتمنتونه پرانستل شول چې مستقیماً د نظامی طبابت سره تړاو درلود. په دې روغتون کې تقریباً یوسل بستری د جراحی د مختلفو څانګو د پاره تشکیل شوی او نور پاتی څانګی یې د داخله د پاره وو. نو ځکه په دې اثر کې مخکې له دی چې د اردو مرکزی روغتون په ۱۳۶۹ کال کې د مسلحو قواو د طبی علومو اکادمی ته ارتقا وکړه د طبی علومو اکادمی په نوم هم یاد شوی دی.

د وخت د شوروی اتحاد تحصیل یافته نظامی متخصصینو دوکتورانو فارمسستانو د نورو نظامی داکترانو او متخصصانو ترڅنګه په اردو کې د نظامی طبابت او اکمالاتو د ودی او پراختیا پروسی ته چټکتیا ورکوله، د مرکزی او اطرافو فرقو په تطبیقاتونو کې د دی روغتون متخصصینو ګډون کاوه.

په قطعاتو او جزوتامونو کې صحیه تشکیلات تنظیم شول، په یوشمیر غونډونو کې د فرقی د وضع الجیش څخه لیری پراته وو یوشمیر صحی مرکزونه فعال شول. د طبی عینیاتو اکمال بهتره بڼه ونیوله او یوشمیر فرقی او حتی غونډونه د صحرایي کامپلیتونو له پلوه اکمال شول.

د قندهار د قواو د اړتیاوو د لیری کولو په خاطر د ۱۳۵۵ کال په وری میاشت کې دریم نمبر اختصاصی روغتون د ۱۵۰ بسترو په ظرفیت تاسیس شو چې د داخله او جراحی څانګی او مجهز درملتون یې درلود.

د ۱۳۵۷ کال د غویی د اومی نېټی له پېښی راهیسی د نظامی صحی خدماتو په تامیناتو او عرضه کولو کې بدلونونه رامنځ ته شول. خو نه ښایي چې د دې نېټی څخه د مخه کلونو په لاس ته راوړنو چې د اردو د صحیه خدماتو په برخه کې ترسره شوی د بطلان کرښه وایستل شی، بلکی باید

وويل شی چې په هغه وخت کې د شرايطو، ايجاباتو، اقتصاد (پولی تخصيص) او د مسلکی کادرونو د نه شته والی له مخی ستر کارونه ترسره شوی او اغيزمن کارونه سرته رسيدلی دی. خو ډيره گرانه وه چې ټولی چاری په مطلوبه توگه اجرا شوی وای. د نمونی په ډول بايد يادونه وشی کله چې په ۱۳۵۷ کې د صحيی رياست اسناد له نظره تيريدل څرگنده شوه چې محترم مرحوم دوکتور خلمی ځومره زياتی هلی ځلی کړی دی چې يو لړ ستونزی په تيره بيا د صحيی رياست د معتمدينو او محاسبينو، حسابات چې د کلونو راهيسی لاينحله پاتی وو حل و فصل کړی، خو د ده په وړاندی خنډونه موجود وو، ترڅو چې دا زمينه مساعده شوه چې د ۱۳۵۷ را وروسته يوشمير ستونزی له منځه يووړل شوی.

هغه څه چې د ۱۳۵۷ کال د غويی له اومی نيتی را وروسته د صحيه خدماتو په برخه کې ترسره شول او د انتقاد گوته ور باندې بايد کيښودل شی هغه په لاندې توگه دي:

۱- د اداری او مسلکی کادرونو تعويض په ژوره توگه صورت وموند چې بايد داسی شوی نه وای.

۲- په نظامی طبابت کې سياست ور داخل شوی يا په واضحه توگه وويل شی چې هم سياستمدار، هم اداره چې هم معالج، هم متخصص او هم درمل جوړونکی نور او نور. دا په دی معنی وو چې لکه دوه دانی هندوانی په يو لاس کې ونيول شی.

خو څه بايد شوی وای د هماغه وخت او زمان، ملی او بين المللی شرايط و چې په اصطلاح په مترقی هېوادونو کې بايد چې يو حزبی سيستم موجود وی. سياست په ټولو شئوناتو لکه اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی، کلتوری نور او نورو کې، سردمدار وی. له دې ځايه ده چې هغه په مطلق ډول اشتباه شميرل کيدای نه شی ځکه په هماغه وخت کې هماغه غوښتنی لازمی گڼل کيږی ځکه له يوی خوا د حزبی کادرونو د کموالی په صورت کې کيدای شی چې يو کادر په دوه دری ځايونو کې کار وکړی. له بلې خوا مونږ نه غواړو د واقعيت نه د باندې برتری او يا که په گزاف گويی سره وويل شی او تر دی دوری پوری ورته لا لوړه جلوه ورکړو، خو بيا هم هغه څه چې پيښ شوی هغه به وليکو:

۱- د کابل او ننگرهار د نظامی طب محصلينو په شمير کې زياتوالی. (هر کال ۷۵ تنه د کابل په طب او ۲۵ تنه د ننگرهار په طب کې).

۲- له پنځو سو تنو محصلینو چې ۴۰ تنه یې ځمکنی طب او ۱۰ تنه په هوایی طب کې د دوستو هېوادونو ته لیږل کیدل.

۳- هر کال سل تنه ښځینه او نارینه نرسان – ۱۰ تنه په ننګرهار، ۲۰ تنه په قندهار، ۷۰ تنه د عامی روغتیا وزارت په مرکز او نور پاتی نظر په لزوم دید د مرکزی روغتون کې تر تدریس لاندې نیول کیږی.

۴- د عامی روغتیا په لوړو کورسونو (منځنی تعلیمات) کې په دواسازی، لابراتوار، اکسریز هر یوه کې لس لس تنه – د غاښونو او وقایوی طب کې پنځه پنځه تنه هر کال روزل کیږی.

۵- د طبی آلاتو د ترمیم په برخه کې د امکان په صورت ۲۰ تنه د تخنیک د ښوونځی او یا بکلوریا فارغ التحصیلان په یوه دوست هېواد کې (د هر هېواد چې طبی تخنیک په صحیه کې ډېر زیات دی، لکه شوروی یا چکوسلواکیا) د روزنی لاندې نیول کیږی.

۶- د دیپو داری، درمل پیژندنی، طبی سامان، مالزمی او آلاتو او د طبی عینیاتو د ساتنی د طریقو په رشتو کې د دولسمو ټولګیو فارغانو ۲۰تنه په دوستو هېوادونو کې تر روزنی لاندې نیول کیږی.

۷- د مخکنۍ طب، هوایی طب (بالخاصه د پارا کلنیک څانګی) په برخو کې هر کال د دوکتورانو او دواسازانو لس لس تنه د اوردنیا توری د تحصیلاتو په غرض دوستو هېوادونو ته لیږل کیږی.

۸- د علمی کادرونو د شمیر د زیاتښت په غرض او د دوکتورا (Ph.D) د اخستلو د پاره د طبابت په مختلفو څانګو کې هر کال یو یو نفر دوستو هېوادونو ته لیږل کیږی.

۹- د ګرده صحی پرسونل د معلوماتو د لوړولو د پاره، دری میاشتی، شپږ میاشتنی کورسونه پای ته رسول چې پلان یې دوستو هېوادونو ته ورکړل شوی دی ترڅو چې مستقیماً د هغو هېوادونو په صحی موسساتو کې عملی فعالیت وکړی.

۱۰- دعلمی توأمیت یو تړون د صحیی ریاست (مرکزی روغتون) او د شوروی اتحاد د لیننګراد د نظامی طبی علومو اکادمی ترمنځه او یا نورو هېوادونو ورته صحی موسسو ترمنځه لاسلیک کیږی.

۱۱- په یوه پنځه کلنه دوره کې له ۱۵-۲۰ تنو پوری د طب دوکتوران او دواسازان پخپله د مرکزی روغتون کې د تخصصی تربیی لاندې نیول کیږی.

۱۲- د مرکزی روغتون په چوکات کې د نظامی طب پوهنځی پرانستل د ۱۳۶۲ کال تر لومړنیو پوری تر څیړنی لاندې نیول.

۱۳- د ضرورت له مخی د دوستو هېوادونو مشاورین په روغتونونو او د صحیه خدماتو او هوايي په آمریت کې ګمارل کیږی.

۱۴- د صحیه خدماتو د قرارګاه، دیپوګانو او د هغو د ملحقاتو د پاره ۲۰-۲۵ جریبه مځکی استملاک او د هغوی د تعمیراتو جوړول (په هغه ساحه کې چې اوس (۱۳۵۷) د صحیه ریاست موقعیت لری په ۱۳۵۵-۱۳۵۶ کلونو کې د هغی مځکه د نومرو د ودانولو په خاطر خلکوته توزیع شوی وه. د صحیی ریاست د هغه وخت د پالیسی له مخی مجبور و چې د خپلو شعباتو د پاره بل چیرته یو ځای تدارک کړی چې په دې غرض د هوخست د فابریکی لویدیزه ساحه انتخاب او استملاک شوه).

۱۵- د مرکزی روغتون پراختیا – د تعمیراتو او د علمی ریسرچ د لابراتوارونو له مخی.

۱۶- د وسله وال پوځ د دویم نمبر روغتون د بلاکونو ودانول د اطفالو، نسایی او ولادی ۲۰۰ بسترو د پاره.

۱۷- د وسله وال پوځ د لمړی نمبر روغتون د بلاکونو تجهیزول د ۵۰۰ بسترو د پاره.

۱۸- په ۱۱-۱۲-۱۴-۲۵- او ۱۸ فرقو کې د اړتیا وړ بلاکونه ترمیم او جوړول او له ۷۵ څخه تر ۱۰۰ بسترو ته د هغو لوړول.

۱۹- د هغو غونډونو د صحی مرکزونو انکشاف چې د فرقی د وضع الجیش څخه یې مسافه له ۵۰ کیلو مترو لیری وی، د ۲۰بسترو په ګنجایش – د غاښونو او لابراتوار د ځانګو سره.

۲۰- د ۱۰۰-۱۵۰ بسترو په ظرفیت د عقلی او عصبی ناروغانو د پاره د یوه روغتون ودانول او تجهیزول.

۲۱- د ۱۰۰-۱۵۰ بسترو په ظرفیت د یوه سناتوریم تدارک او ودانول.

۲۲- د ۱۰۰-۱۵۰ بسترو په ظرفیت د هوایی قواو د پاره د یوه روغتون ودانول چې په عصری آلاتو (باروکامر) مجهز وی.

۲۳- د قندهار د ۱۵۰ بستریز روغتون ۳۰۰ بسترو ته لوړول. د اداری او پرسونل د پاره او نور چې په طبی آلاتو مجهز وی د بلاکونو ترمیم او جوړول.

۲۴- په جلال آباد (ختیز زون)، پکتیا (جنوبی زون)، شین ډنډ (لویدیز زون) او د شمال په زون، هر یوه کې د ۲۰۰-۲۵۰ بسترو په ظرفیت د روغتونونو ودانول، او د مرکزی قول اردو د قطعاتو د پاره د یوه روغتون جوړول. (د دی روغتونونو ټیپیکی نقشی د تعمیراتو په ریاست کې تکمیلی شوی دي). پر دی برسیره په دغه روغتونونو کې مجهز پولی کلنیکونه هم په پام کې نیول شوی دی.

۲۵- د فرقو د صحی مرکزونو په شمیر د اکسریز، غاښونو، نرکوز، مقطری اوبه او تعقیم د دستګا وو اکمال.

۲۶- د فرقو د صحی مرکزونو په شمیر د طبی، جراحی او تشخیصی سامان آلاتو او لوازم اکمالول.

۲۷- د فرقو په صحی مرکزونو کې د لابراتواری سامان آلاتو اکمال.

۲۸- د اردو د تشکیل له مخی د سفربرۍ د طبی عینیاتو (سفری کامپلیتونو) اکمال.

۲۹- د اردو د تشکیل له مخی د سیارو لابراتوارونو، ګرځنده اکسریز او ګرځنده جراحی موټر اکمال.

۳۰- په پنځه کلن پلان کې د بودجی زیاتوالی.

۳۱- د هغو طبی آلاتو د فالتو پرزه جاتو اکمال چې له کاره لویدلی وی.

۳۲- د طبی آلاتو د ترمیم د یوه مکمل ورکشاپ اکمالول.

۳۳- د مرکزی روغتون په واک کې د یوی پایی ګستدنرماشین ورکول.

۳۴- د مرکزی روغتون په چوکات کې د یوه طبی ژورنال (مجلی) تاسیسول.

۳۵- د مرکزی روغتون د افرادو د پاره د استراحت د کوټو، طعامخانه، آشپزخانی ودانول او د مرکزی روغتون د کورسونو د مداومینو د پاره یو لړ ودانی جوړول[1].

☜ د تشکیلاتی موضوع له مخی باید وویل شی چې په دې کال (۱۳۵۷) کې لومړی دومره ستر بدلونونه رانغلل، منتها د صحیه خدماتو په تشکیل کې د ترانسپورت یو ټولی فعال کړی شو، چې د هېواد له زیاترو سیمو څخه یې نــاروغان او ټپیان (لکه د پروان، غزنی، میدان ښار، گردیز، جلال آباد، سروبی او نورو څخه) په مرکزی ډول همدې ټولی په واسطه تخلیه ترسره کیدله. همداشان یو شمیر الوتکی لکه ان-۲، می-۴، اومی-۸ هم د صحی خدماتو په خدمت کې گمارل شوی وو.

☜ د اردو د مرکزی پولی کلنیک تشکیل تکمیل او د ۱۳۵۸ کال د غبرگولی په ۱۵ نیټه یې په فعالیت پیل وکړ.

☜ د کادرونو د تکمیل د پاره ۱۹تنه د طب داکتران، ۲تنه فارمسستان او ۳۰تنه نرسان د عامی روغتیا وزارت څخه د اردو د صحیه خدماتو په لست کې ورکړ شول.

☜ د ښوونی او روزنی په باره کې ویل کیدای شی، چې د طبی علومو په اکادمی، د لوژستیک د لوی ریاست په تربیوی مرکز او د قندهار په روغتون کې طبی منځنی کورسونو پرانستل شو.

☜ دوکتوران، طبی او وترنری پرسونل چې تر دی وخته د (۱۳۵۷) پوری همردیف وو د کورس په اخستلو سره د افسر په حیث وپیژندل شول او د افسری ترفیعاتو او امتیازاتو څخه برخوردار شول.

☜ د روغتونونو، فرقو او مستقلو قطعاتو د صحی مرکزونو سرطبیبانو او صحیه امرانو د پاره او ړنی او ژمنی قصیرالمدت کورسونه تدویر او هغوی په دی وسیله د قدموی تخلیوی پرنسیبونو، په قدمو کې د طبی مرستو د تطبیق طریقی او حجم، د ساری ناروغیو پر ضد د وقایوی تدبیررونو، د طبی علومو اکادمی او پولی کلنیک د فعالیت طرز او د دوی ترمنځه وظیفوی ارتباط، د طب نوی حضری او سفری او عصری تخنیک، د سفربری د

---

۱ - د خلکو د وسله وال پوځ د طبی علومو اکادمی د ۱۳۵۸ کال کالنی – ۸مخ.

صحی کمپلیتونو، د درملو او طبی تجهیزاتو تولید، د دیپوګانو د ترتیب او تظیم شکل، او د صحیه خدماتو د سوق او اداری د چارو سره آشنایی پیدا کړی شوه.

- د محاسبوی چارو (طبی احصایی) د ترتیب او تظیم په برخه کې باید وویل شی چې د طبی عینیاتو اکمال لومړنی پلان هومره پراخ و خوله نیکه مرغه تطبیق شو چې صحیه خدمات د خپل موجودیت په موده کې دومره طبی عینیات نه واکمال کړی.
- د محاسبی په چارو کې اصلاحات رامنځ ته شول، په لس ګونو معتمدین محاسبین چې په کلونو کلونو یې حسابی چاری لاینحلی پاتی وی او په ملیونونو افغانۍ یې را نیول تصفیه شولی.
- ډیپوګان په عصری ډول تجهیز، تنظیم او ترتیب شول. اضافی او د استفادی غیر قابل عینیات تصفیه او قید یی کړل. د یو شمیر طبی عینیاتو څخه د حرب پاکټونه، د C.B.A کمپلیتونه ترتیب شول چې د غونډ د صحیه مرکز د طبی مرستو حجم یی (دوکتوري) د صحرا به شرایطو کې تکافو کاوه او په قطعاتو وویشل شو.
- د مقطرو اوبو او د صحرایی تعقیم دستګاوی، د دوش (وینځلو) او عفونی ضد دستګاوی اکمال او د تشکیل له مخی په قطعاتو وویشل شوی.
- د پانسمان او د جراحی موتر فعال او په لس ګونو محاربوی فعالیتونو کې تری ګټه واخستل شوه او سیار صحرایی لابراتوار هم فعال شو.

د پورتنیو دستګاوو په اړوند د صحیه خدماتو په آمریت کې د زده کړی کورسونه جوړ شول.

- د پلان ګذاری سیستم منځ ته راغی او د پلان په مدیریت کې د طبی عینیاتو محاسبیت رامنځ ته شو. سفری کمپلیتونه اکمال او په غونډونو او فرقو وویشل شول.
- د وقایی، معالجی او تشخیص په هکله باید وویل شی، چې معالجوی پروسه په روغتونونو او صحی مرکزونو کې خاص کیفیت درلود. هغو طبی کادرونو چې پخپلو مسلکونو کې پیاوړی وو په موقتی ډول په اطرافو کې توظیف شول او په دې توګه صحی مرکزونه فعال کړی شول.

- ☜ د وقایی په باب باید ووایو چې موجز تدبیرونه په دې هکله ونیول شول. او د تشخیص په برخه کې نوی میتودونه (انجیو ګرافی، اندوسکوپی او نور) رویکار شول.
- ☜ د طبی عینیاتو د تولید په برخه کې ښایی یادونه وشی چې د اردو صحیه ریاست د اعمال لابراتوارونه بیا احیا او یوه پایه د تابلیت جوړولو مدرن ماشین چې د مخی پېرودل شوی و د هغه د ملحقاتو سره نصب شو، د الکولو د تقطیر دستګاه د ۲.۵۰۰ لیترو په کلنۍ تولید فعالیت درلود او د ضرورت وړ ممیز (کشمش) له موسسو او د میوی د سمون شرکت څخه په وړیا ډول مرسته کیدله.
- ☜ په همدې شان د طبی علومو اکادمی د روغتون، مرکزی پولی کلنیک او د نورو روغتونونو درملتونونه به لس ګونو قلمونه زرقی او غیر زرقی درمل اعمال کولی.
- ☜ د اردو د صحیه خدماتو آمریت، داخله وزارت او د کار د قواو روغتیایی ارګانونو ترمنځه نږدی ارتباط تامین شو چې د دوی په سرکې د اردو صحیه خدماتو قرار درلود او د هغوی سره مرسته او کومک کاوه.
- ☜ د علمی څېړنو په باب باید وویل شی چې د ۱۳۵۷ کال یکشنبه د وری د میاشتی ۲۷ نیټه د لومړی ځل د پاره د هېواد په یو ستر معالجوی او علمی مرکز کې علمی او پراتیکی کنفرانس جوړ شو، چې دی پروسی په عنعنوی ډول تر ډیر وخت پوری دوام درلود.

متخصصینو، دوکتورانو او فارمسستانو د شوروی اتحاد د محدودو مشاورینو سره یو ځای په دی موسسه کې علمی او پراکتیکی فعالیتونه پیل کړل چې د خپل علمی فعالیتونو د کار محصول یې په دغه علمی او پراکتیکی کنفرانس کې منعکس کړل.

څه رنګه چې دا کنفرانس د اردو د صحیه خدماتو لومړنی کنفرانس و او تاریخی حیثیت لری نو ښایی چې یو څه لازم بحث پری وشی.

د کنفرانس په پیل کې چې د عامی روغتیا وزارت، د لوړو زده کړو وزارت د کابل پوهنتون او د کابل د پوهنتون د روغتونونو عالمانو، پوهانو، متخصصینو او ډاکترانو ګډون درلود، د اردو مرکزی روغتون په تالار کې د وخت د انقلابی شورا پیغام ولوستل شو.

وروسته د عامې روغتيا وزير، د لوژستيک عمومي رئيس، د صحيې رئيس او د اردو مرکزي روغتون قوماندان خپلې بيانې و اوړولې.

تر دې وروسته کنفرانس په دوو برخو خپل فعاليت تنظيم کړ او د جراحۍ او داخلې په برخو کې ادامه ومونده. په دې کنفرانس کې د اردو د مرکز د نظامي متخصصانو برسيره، د روغتونونو سرطبيبانو، د فرقو او مستقلو قطعاتو د صحي مرکزونو آمرانو او داکترانو، د کورنيو چارو د وزارت او د کار د قواوو د روغتونونو آمرين او دوکتوران هم را بلل شوي وو.

په دې کنفرانس کې په بيلا بيلو بخشونو کې ۳۵ عنوانه علمي او مسلکي مقالې ولوستل شوې او په ډير شور او شعف پرې بحث وشو او د ګډون کوونکو د زياتې دلچسپۍ وړ وګرځيدلې.

دا کنفرانس د ملکي د ساحې پوهانو دومره زيات خوښ شو چې يادونه يې ګرانه ده. لکه چې د نسايي ناروغيو پروفيسور، د طب د پوهنځي استاد او د عامې روغتيا وزير محترم پروفيسور محمد عثمان انوري په دې برخه کې ژور احساسات وښودل او د کنفرانس ستاينه او درناوي يې وکړ.

په کنفرانس کې د اردو د صحيې رئيس جګړن عبدالحي مومني د راتلونکي پنځه کلن پلان (لکه چې مخکې ليکل شوي) او د اجرا شويو کارونو په هکله معلومات وړاندې کړ، او د اردو مرکزي روغتون قوماندان ډګرمن دوکتور محمد غني اندړ د اکادمۍ د دوو کلونو اجراتو په هکله او د هغو اساسي پرابلمونو په باب چې کار پرې روان و او په راتلونکي کې پرې ځېړنې کيدلې توضيحات ورکړل چې په لاندې ډول وو.

- د جراحۍ په ساحه کې:

۱- په وسله وال پوځ کې د تراوماتيزم مطالعه، احصائيه او د پرابلمونو تدقيق او د هغه د وقايې د لارو پيشنهاد.

۲- د بيلا بيلو پريتونيتونو د مدهش پرابلم مطالعه، د روغتون تر قدمو پورې د هغو د سم اورګانيزاسيون سره د عاجلو مرستو تشخيص.

۳- د مود ديفيکاسيون مطالعه او احصائيه. د وسله وال پوځ د منسوبانو او د هغوی د کورنۍ د غړو په نزد توبرکلوزيک پريتونيت کامپلکسي معالجه.

۴- په ټول وسله وال پوځ کې د یو واحد سیستم په شکل د نظامی طبابت د اساسی دکترینو ترتیب، تنظیم او د عمل په ساحه کې د هغو پلی کول.

۵- په حادو او مزمنو واقعاتو (کسور متعدد در واقعات حاد و تشکیل کل های معیوبه توأم با کوتاهی و درازي) کې د خارج عظمی د اوستیوسنتیز له میتودونو څخه د پراتیک پراخه استعمال.

۶- د عاجلو مرستو د پرابلمونو د مطالعی تکامل، د بی ځنډو مرستو د تطبیق د سیستم ترتیب او تنظیم له لومړی قدمی څخه تر روغتون پوری.

۷- د شپږ میاشتینو کورسونو ترتیب او تنظیم او بیا د مختلفو قطعاتو د دوکتورانو د پاره د دوو کلونو تخصصی کورسونو جوړول.

۸- د پریودیک په شکل نورو جراحی موسساتو او د وسله وال پوځ قطعاتو ته د لازمو هدایاتو د کانسلتیشن ورکول.

- په داخله ساحه کې:

۱- د افغانستان د شرایطو له مخی په وسله وال پوځ کې د قلبی اسکمیکو ناروغیو پرابلم او د هغو د عاجلو او مدرنو لارو بررسی.

۲- په وسله وال پوځ کې د سږیو د مزمنو او غیر وصفی ناروغیو علمی او عملی کار، د هغوی احصائیه، تشخیص او تداوی د بین المللی سویې په مدرنو وسایلو سره.

۳- د افغانستان په شرایطو کې د طحال او کبدی ناروغیو پرابلم چې په وسله وال پوځ کې یې ډیری سرآیت کوونکی ناروغی تشکیلی کړی دی.

۴- د داخلی غړیو او مفصلونو د روماتیزم علمی او پراکتیکی کار، او په وسله وال پوځ کې د فزیوتراپۍ په مدرنو وسایلو سره د هغوی تداوی او د مسلحو قواو د جګړه ایزی وړتیا لوړول.

۵- د افغانستان په شرایطو کې د اندوکرین په تیره بیا د شکری ناروغۍ او د درقیه غدی د سیستم علمی او پراکتیکی کار او د درقیه د غدی د ناروغی د اندمیکی سیمو احصائیه او تعیین.

۶- په وسله وال پوځ کې د معدی او معایی ناروغیو علمی تحقیقات او د هغو د تداوی شکل.

۷- د ځوانانو د فانکسیونل ناروغیو په تیره بیا په وعایی قلبی سیستم او معایی معدی جهاز کې.

۸- د هیپوویتامینوز او د غذایی موادو د کمښت څخه را پیدا شوی د وینی او فقرالدم د ناروغیو پرابلم.

۹- د استمأ برانشیل او نورو الرژیکی ناروغیو او د ضد حساسیت د انتی ژنیک د موادو د تامین او پرابلم د حل کولو په برخه کې علمی څېړنی.

۱۰- د تنفسی د مزمنو او د ریتان د غیر وصفی ناروغیو انسانی تداوی.

۱۱- د معدی په ناروغیو کې د ګاستروګرافی په معایناتو کې د علمی کار تحقیقات.

۱۲- د بیوشمیک د معایی باکتریاوو د وصف په کلاسیک او سریع میتود سره د معایناتو د نتیجو نسبتی ارزش.

۱۳- د برونکوګرافی اجرا د مزمنی پنومونی تشخیص.

۱۴- د فوتومتریک په اصولو د هیموګلوبین د مقدار او د وینو د سرو کرویاتو د شیمر تامینول.

۱۵- د اکادمی د روغتون د متریال له مخی د استما برانشیل د ناروغانو په تشخیص او تداوی کې د تنفس د تعیینولو اهمیت.

۱۶- په وسله وال پوځ کې د جلدی ناروغیو د خصوصیاتو په برخه کې علمی کار.

۱۷- په وسله وال پوځ کې د انتانی ناروغیو او د هغو د مخنیوی پرابلم.

۱۸- د وسله وال پوځ او د هغوی د متعلقینو توبرکلوز د پرابلم په نظر کې نیولو سره او د عسکری سناتوریم تاسیس او د توبرکلوز سره د مجادلی د نورو مرکزونو سره د هغو اړیکی[1].

۱ - د طبی علومو د اکادمی د ۱۳۵۸ کالنی ۱۴ مخ په حواله.

د ۱۳۵۷ کال د غويي د اومی پېښی وروسته د وخت د ضرورت او غوښتنو له مخی لازم شول چې د مرکزی روغتون او د هغه په تشکیلاتو کې تغییرات رامنځ ته شی چې دا تدابیر په لاندې ډول دي:

په دوامداره توګه د اردو مرکزی روغتون ته د ۱۳۵۸ کال د وری له پیل کیدو څخه راهیسی په کتلوی توګه د ناریه جروحاتو مجروحین چې د دی کال تر پایه پوری د هغوی شمیر ۴.۵۰۰ تنو ته رسیده مراجعه کړی ده. په دی وخت کې د اردو مرکزی روغتون (د طبی علومو اکادمی روغتون) د تداوی تر پایه پوری د وسله وال پوځ د زخمیانو د جراحی د تصنیف او د عاجلو او تخصصی مرستو د اجرا کولو د مرکز په توګه تاکل شوی و، او پورتنیو شرایطو ایجابوله چې د روغتون چاری او تداوی او تشخیصی فعالیت په یو بل شکل تغییر ومومی او د هغی د بسترو شمیر له ۴۰۰ څخه ۱.۱۰۰ بسترو ته ورپورته شی. نو له دی امله لاندنی دیپارتمنتونه (سرویسونه) یا څانګی ترتیب شول.

- ☜ د قحف، عنق، شمزیو (ستون فقرات)، غوږ او ستونی، سترګو او ستوماتولوژی د ناروغانو څانګه د ۱۳۵ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د فخذ او کبیره مفاصلو د زخمیانو د پاره د تراوماتولوژی ۱ نمبر څانګه د ۱۶۰ بسترو په لرلو.
- ☜ د هډوکو د ناریه کسورو د پاره د تراوماتولوژی ۲ نمبر څانګه د ۱۸۰ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د تقیحی اختلاطاتو سره د ناریه جروحاتو څانګه د ۱۴۵ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د سپکو ناریه جروحاتو څانګه د ۲۰۰ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د شوک ضد او ریانیماسیون څانګه د ۲۰ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د ساری څانګه د ۵۰ بسترو په ظرفیت.
- ☜ داخله څانګه د ۵۵ بسترو په ظرفیت.
- ☜ د قید او قبول څانګه د ۱۰ بسترو په ظرفیت.

په دې هر یو سرویس (څانګه) کې له ۲-۳ پوری د پانسمان میزونه او د تراوماتولوژی په څانګو کې ۴-۵ پوری میزونه د پلستر د پاره ترتیب شوی وو.

د ګسترو انترولوژی، وعایی قلبی، کوچنیانو، نسایی ولادی، او جلدی څانګو پخپله په مرکزی روغتون کې خپل فعالیت ته خاتمه ورکړه.

همداشان د ۷۰ بسترو په شمیر د تداوی په حوض کې ترتیب او هلته هغه زخمیان چې تپونه یی التیام شوی او یوازی فزیکی او میخانیکی تداوی ته یې ضرورت درلود تنظیم شوی وی.

په ۱۳۶۴ کال کې د ناروغانو دا برخه ساری تعمیر ته انتقال شوه او د ساری سرویس د وزیر اکبرخان مینی په ۱۵ سرک کې ځای پر ځای شو چې د اورګانزیشن له مخی معقول کار نه و ځکه د خلکو د کورونو په منځ کې ساری دیپارتمنت ځای پر ځای شوی و. ترڅو چې په ۱۳۷۰ کال کې دوباره خپل اصلی تعمیر ته را انتقال شو.

د ۱۳۵۸ چنګاښ په میاشت کې د اردو لومړی نمبر روغتون (قوای مرکز) د سپکو ټپیانو د پاره ۳۰۰ بستری ترتیب او د همدې کال د تلی په میاشت کې د وزیر اکبر خان روغتون د ۲۰۰ بسترو په ظرفیت د عامی روغتیا وزارت له خوا د دفاع وزارت په خدمت کې ورکړ شو، چې زیاتره د تراوماتولوژۍ د روغتون په توګه د اطرافو د غیر ناریه ټړلو او خلاص (باز و بسته) کسرونو، د قحف، صدر او بطن مصدومینو د درملنی د پاره چې جراحی مداخلی یې نه ایجابول د استفادی وړ وګرزیدله. او په دی توګه یو ۱.۶۰۰ بستریز روغتون بیز چې په هغه کې مرکزی روغتون د جراحی د تخصصی یو شمیر څانګو روغتون په حیث د تصنیف دندی یې هم په غاړه درلودلی تشکیل شو.

د مصدومینو او ناروغانو د قبلولو او تصنیف د پاره په لومړی سرکې دوه ګروپه او بیا وروسته د تصنیف دری ګروپه پکې ترتیب شول چې په هغه کې یو داکتر، دوه نرسان او څلور تنه تسکره وړونکی موجود وو. دی ګروپونو د ۲۴ ساعته نوکریوالی کې خپلی دندی ترسره کولی او په قید و قبول کې د مراجعینو تصنیف او په حتمی توګه د پانسمان تبدیل او د مخصوصو علایمو نصبول تر سره کول.

د نوکریوالی په ګروپ کې د انتانی ناروغیو د تجرید له مخی د زخمیانو د معاینی په مقصد د همیشه دپاره یو تن د انتانی داکتر او یو تن د داخله داکتر برخه اخستله او دا اقدامات په خپل ذات کې، د جګړه ایزو شرایطو سره سره د داسی ناروغیو د مخنیوی د حفظ الصحوی مرکزونو د نشتوالی یا وجود د انتانی ناروغیو په مخنیوی کې بیخی زیات اغیزمن تمامیدل.

د شوک ضد کوټو کې د دوکتورانو د کمبود په نسبت د داخله دوکتورانو څخه کار اخستل کیده په لومړی سرکی د روغتون د محاربوی چمتووالی د پلان مطابق د زخمیانو سره د جراحی د مرستو د اجرا کولو په خاطر په لاندې ډول ۷ ګروپه تنظیم شوی وو.

۱- د قحف د عملیاتو د پاره ۲ ګروپه.

۲- د صدر، بطن او حوصلی عملیاتو د پاره ۲ ګروپه.

۳- د اطرافو د ناریه جروحاتو د عملیاتو د پاره ۳ ګروپه.

خو په وروستی مرحله کې د ستونزو په نسبت د جراحی مرستو تغیر وموند.

- د جراحی ټول دوکتوران په درو ګروپونو باندې تقسیم شوی وو چې خپله ۲۴ ساعته نوکریوالی یی یو د بل پسی په غاړه درلودله. د نوکریوالی د ګروپ د نه کفایت په نسبت د هغوی د دغی نوکریوالی ورځنی ګروپ چې خلاصیده نو د ورځی له خوا یې د مرستندویه ګروپ په حیث د نورو ۲۴ ساعتونو د پاره په روغتون کې پاتی کیدل.

د شپی له خوا د عمومی جراحی، تراوماتولوژی او انستیزی دوکتورانو د کورونو څخه راغوښتل او د یو ترتیب شوی لست له مخی تنظیم او په حقیقت کې دا ډول متخصصین په خپلو کورونو کې هم د نوکریوال په توګه اوسیدل او د کار د زیات حجم په نسبت وظیفی ته احضاریدل.

په روغتونونو کې د کار د حجم د زیاتښت په سبب او علت د ۱۳۵۸ کال په لومړیو او له هغه مخه کال د مجروحینو د قدموی تداوی د نشتوالی عبارت وی. همداشان د طبی کادرونو کمبود هم د کار په اغیزمن توپ هم پوره نقش درلود.

- د اردو د صحیه پرسونل اکمال عبارت ؤ:

د ۲۸ فیصده هغو دوکتورانو، متخصصینو او فارمسستانو څخه چې عالی تحصیلات یې درلودل، او ۵۶ فیصده طبی متویط پرسونل د تشکیل له مخی اکمال و، خو ۶۰ فیصده د پورتنی پرسونل څخه په مرکز کې وظیفه اجرا کوله.

- د ټپیانو تخلیه په لومړی سرکې د امبولانسونو په واسطه وه او ټاکلی طبی پرسونل یې نه درلود، عادتاً په منځنی ډول هره ورځ ۲۰ تنو

زخميانو روغتون ته مراجعه کوله او د جراحی يو ګروپ په عملياتخانه کې د دوو تنو دوکتورانو په تشکيل سره په يو ه ساعت کې په منځنی توګه يو عمليات او د جراحی يو ګروپ د يوه داکتر سره د دوو ساعتو په جريان کې د جراحی دری تطيره سرته رسول. په پيچلو وختونو کې د يوی اونۍ په موده کې د ناريه جراحی تر ۳۰۰ زيات عمليات په مرکزی روغتون کې اجرا شوی دی.

په راتلونکو تدبيرونو کې د قطعاتو د جګړه ايز فعاليتونو د تجربو په اساس ۱۵ عملياتخانی او ۱۵ د جراحی ګروپونه چې په هغو کې يو او يا دوو تنو دوکتورانو مساعی اجرا کوله.

په نظر کې نيول شوی چې د هغو په نتيجه کې د جراحی دوکتورانو کولای شول د ۱۰۰ ټپيانو د پاره په ۱۲ ساعتو کې د هغو مکمل حجم سره د جراحی مرستی سرته ورسوی.

د اردو د صحی تامیناتو د لا ښه والی په برخه کې له رهنمودونو، دستورونو او امرونو په غير چې قطعاتو ته ورکول کيدل او په قصيرالمدتو کورسونو کې آمرينو او سرطبيبانو ته ويشل کيدل يو لړ نور شمير اسناد، فورمونه او جدولونه چې يا نوی تهيه کيدل او يا قسماً اصلاح کيدل، په تشخيصی، لابراتواری، معالجوی، توليدی، محاسبوی او د احصائيی په پروسه کې کار اخستل کيده او ۶۵ قلمونو څخه به يې زيات اقلام تشکيلول چې د طبی علومو اکادمی په روغتون، مرکزی پولی کلنيک، صحيی رياست او په نورو معالجوی موسساتو کې له هغو څخه ګټه اخستل کيدله، دغه اسناد د ۱۳۵۶، ۱۳۵۷ او ۱۳۵۸ کلونو کې منځ ته راغلل.

لومړنی اثر چې ۱۳۵۷ کال کې چاپ شو يو ارزښتناک اثر د «رهنمای فعاليت های روغتون های قوای مسلح» په نوم و چې د دوکتورانو، امرينو، سرطبيبانو او د ګردو طبی پرسونل د پاره يو ډيره ښه رهنما شميرل کيدله. دی کتاب اته فصلونه درلودل چې د روغتون ټولو اړخونو يی محتوا تشکيلوله.

- په همدې شان د نقری د تصفيی دستګاه، د اوکسيجن د توليد دستګاه، د مصنوعی پښتورګو دستګاه، د طبی آلاتو د ترميم ورکشاپ د بازار موندنی او خريداری د پاره اجرات ترسره شول چې وروسته يې يوه برخه اکمال او له نيکه مرغه د اردو صحيه د رياست د فعاليت په اساس په ۱۳۶۹-۱۳۷۰ کلونو کې د مصنوعی پښتورګی دستګاه، د اوکسيجن د توليد

دستګاه خریداری چې لومړی یې د طبی علومو اکادمی په واک کې ورکړ شو او دویمه دستګاه په پل چرخی کې نصب شوه.

باید یادونه وشی چې د خپل منځی جګړو له کبله چې د ۱۳۷۱ کال څخه پیل شو پورتنی دستګاوی په فعالیت پیل نشو کړای. دا ځکه چې د اوکسیجن د تولید دستګاه چور شوه او د مسلکی کادرونو مهاجرت نورو هېوادونو ته مصنوعی پښتورګی دستګاه هم فعاله نه شوه.

- د صحیه خدماتو آمریت په ۱۳۵۸ کال کې د یوه مرکزی لابراتوار د تاسیسولو او د لوژستیک د عمومی ریاست په چوکاټ کې د یو مرکزی ورکشاپ د ایجادیدلو په باره کې پیشنهادونه وړاندی کړل چې د صحیه خدمات هم په هغو کې ځانګی ولری. خو دا پیشنهادونه ونه منل شو او بیا وروسته د لوژستیک ریاست ځان ته یو ورکشاپ ایجاد کړ چې د اقتصاد او مسلکی کدرونو د مصروفیت له پلوه یې دومره معقولیت نه درلود او هغه لابراتوار چې د اردو په اعمالات خانه کې موجود و متأسفانه له منځه لاړ.

- د صحیه خدماتو آمریت د اردو د صحی خدماتو د وړاندی کولو د چټکتیا او ښه والی په خاطر مجبور شو ترڅو دوه پیشنهادونه د وخت د وزیرانو شورا ته د ۱۳۵۸ کال په دویم نیمایی کې وړاندی کړی.

۱- د دفاع وزارت یوه ریاست په توګه د لوژستیک عمومی ریاست له چوکات څخه د صحیه خدماتو د آمریت مستقل کیدل.

۲- لکه څنګه چې د صحیه خدماتو آمریت په مستقیم ډول طبی آلات، دستګاوی، سامان، وسایط او وسایل له خارجی کمپنیو څخه اکمالوی باید چې په همدی توګه درمل، ریاکتیفونه او نور مستقیماً خریداری او اکمال کړی.

پورتنی پیشنهادات تر بررسۍ لاندې وو چې د ۱۳۵۸ کال د مرغومی شپږمه نیټه را ورسیدله او د هغو د تطبیقیدلو مجال یې ورنکړ.

۳- هغه طبی کادرونه چې په مختلفو نومونو په بندی خانو کې شپی او ورځی تیرولی ژر تر ژره دی د بندی خانو څخه خلاص او خپلو دندو ته وګمارل شی، چې دا هم د مرغومی تر شپږمی نیټی وځنډوله.

«دغه جدول کله چې د مرغومی په شپږمه نېټه د مازدګر په وخت د مسلحو قواو لوی درستیز محمد یعقوب د سوزوی افسرانو له خوا په شهادت رسیږی د نوموړی په دوسیه کې موجود ؤ – مومنی».

په دې توګه د حرب د طبابت او د طبابت د ودې او پراختيا په پروسه کې څېړنې، تتبعات او علمي تحقيقات پيل شول او کال په کال نوی نوی نوښتونه او علمي ارزښتناکې احصائيې ترلاس لاندې ونيول شوی. دا تدبيرونه هغومره د حرب د طبابت په پراختيا او تکامل کې ارزښتمن تلقی کېږي چې د علمي او نظامي کار او فعاليتونو په اثر بالخاصه ځوک چې په مرکز کې وظيفه اجرا کوي د صحي خدماتو د اورګانزيشن او مختلفو حربي پتالوژيو په برخه کې خاصه ملکه او ممارثه حاصل کړه، او په وروستنی تحليل سره د تشخيص او تداوي او د وقايوي تدبيرونو د نيولو له نظره هر اړخيزه فعاليتونه او پراخه پوهه منځ ته راغله.

د اردو مرکزی روغتون کې د صحي اسنادو ارشيف د عسکري طبي پرسونل د پاره د پژوهش، تتبع او څېړنې ډېر لوی مرکز وګرزيد.

په يوځې ساحه کې علمي – پراکتيکي کنفرانسونه په ملي او بين المللي سويه د حرب د طبابت، د حربي طبي اکمالاتو او حربي پتالوژۍ د تحليل، ارزيابي، مناقشې او نتيجه ګيرۍ په لور د طبيبانو او فارمسستانو د تجمع ډېر لوی مرکز وګرزيد.

د کنفرانسونو مواد د کالنيو، ژورنالونو او مجلو په شکل په پښتو، دری، روسي او انګليسي ژبو په ډېر زيات تيراژ او زيات شمير طبع او د طبيبانو په واک کې ورکړ شو.

د نرسنګ، معاون دوکتوری، لابراتوار، د وينې بانک، فزيوتراپۍ او داسې نورو کورسونو جوړيدل او د ښځينه او نارينه صحيه پرسونل د افسرۍ قصيرالمدت کورسونو تاسيسيدل او په دی کورسونو کې مسلکي او د حرب د طبابت د مختلفو د سپلينونو د مضمونونو تدريس، د حرب د طبابت د ودی او تکامل يوه بله نمونه ګڼل کېږي.

د اردو د مرکزي پولي کلنيک پرانستل (د ۱۳۵۸ کال د غبرګولی ۱۵) او په دې موسسه کې د متخصصينو او داکترانو فعاليتونه ارزښتناک ارقام او احصائيې، د حرب د طبابت د تتبع او علمي تحقيق په لوری مهيا کړ.

په پوره وياړ بايد وويل شي چې د پورتنيو مسايلو ادامه او داسې په لس ګونو نوری نمونې د ۱۳۵۷ کال د پلانونو د تدابيرو ښودونکی دی.

- د تشکيلاتو په هکله بايد وويل شي چې د صحيه خدماتو آمريت د فرقې، غونډ، او هغو غونډونو چې د فرقې د سوق الجيش مسافه يې ليرې

وه، د کندک او د يوی تحصيلی موسسی تشکيل په تيپک شکل جوړ شو چې وروسته کلونو کې ځنی يې د تطبيق وړ وگرځيدل.

- د کارگرانو، مستخدمينو او د سربازانو د کورنيو د غړو د تداوی په باره کې چې دمخه نه اجرا کيدله وپتيله شوه چې د هغوی تداوی د دفاع وزارت د موسساتو او صحی مرکزونو له خوا په وړيا توگه ترسره شی.

- په هغو سيمو کې چې د اردو قطعات پراته وو او د عامی روغتيا وزارت د مرستو امکانات هلته محدود وو، ملکی خلک د اردو د صحی پرسونل له خوا معاينی او تداوی لاندې نيول کيدل. همداشان د کونړ په ولايت کې چې د اسعد آباد د ښار روغتون مجهز و، د عامی روغيتا وزارت مرستی د جراحی او اورتوپيدی له بابته تقويه شوی وو، دی روغتون د اردو سره زياتی مرستی وکړی.

همدا پروسه د هرات او خوست د ښارونو په ملکی روغتونونو کې هم روانه وه. په دی روغتونونو کې نظامی طبی کادرونه فعاليت کاوه. د بدخشان، ارگون، ځاځی، څمکنی او بريکوت کې پوځيانو د ملکی خلکو سره مرستی کولی.

- د تيرو کلونو د حساباتو تصفيه کول ډير لوی کارو او د راتلونکی محاسبوی مشکلاتو دليری کولو په خاطر تصميم ونيول شو چې هره ورځ بايد د صحيی اسنادی تفتيشونه اجرا شی، څو راتلونکی ته حسابی ستونزی پاتی نه شی چې دا پروسه تر اوسه پوری ادامه لری.

- د طبی عينياتو د اکمال په لا ښه والی سره څرگنده ده چې د صحی خدماتو عرضه (وړاندی کول) هم ډير ښه شکل ځانته ونيو او ضمناً وپتيله شوه چې د مزمنو ناروغانو د پاره پنځه ورځنۍ دوا نه بلکی د يوی مياشتی د پاره درمل ورته ورکړ شی، ترڅو چې د ناروغانو د زياتی سرگردانۍ سبب نه شی.

د دولتی او گوندی لوړ رتبه اشخاصو او د هغوی د کورنۍ د غړو، که پوځيان دی او يا ملکيان تداوی يې د صحيی رياست په غاړه شوه چې تر اوسه پوری دا پروسه دوام لری.

د هېواد د داخلی موسساتو (د بهرنيو چارو وزارت، د پيښو ضد رياست، د سری مياشتی عالی ټولنه) مرستی په پراخه توگه را جلب شوی. همدارنگه د بهرنيو هېوادونو په جمله کې شوروی اتحاد د نمايشگاه ۱۳۵۸ کال چې کابل کې په لاره شوی وه، د آلاتو او دستگاو برسيره يو مقدار زياد

سامان او مالزمه د صحيه خدماتو په واک کې ورکړ شو. همدارنګه د يو سلو پنځوس زرو روبلو معادل درمل او رياکتيفونه هم پرته له عوضه مساعدت وکړ.

د سياسی نمايندګانو سره پروتوکولونه لکه دموکراتيک المان، هنګری، چکوسلواکيا او شوروی هېوادونو سره د ناروغانو او ټپيانو د تداوۍ او پروتيز په برخه کې لاسليک شول، چې له دې هېوادونو څخه ځينو زمونږ د هېواد ناروغان او زخميان ومنل او د هندوستان له خوانه د ناروغانو د بهتری تداوی امکانات ومنل شو. په دې برخه کې د دا ډول ناروغانو شمير له ۱۴ تنو څخه ۵۰ تنو ته په کال کې ور زيات شو.

د تخليوی قدموی تداوی په برخه کې چې د قطعاتو او جزوتامونو زياترو طبی پرسونلو د هغی سره بلدتيا نه درلودله پاملرنه وشوه او د دې په ترڅ کې د تقوی ګروپونه د پانسمان د موټر سره هميشه له مرکز څخه خدمتی کيده.

د نری رنځ هغه ناروغان چې د عسکری څخه معاف کيدل د رسمی مکتوبونو سره د نری رنځ سره د مبارزی رياست ته په مرکز او ولايتونو کې د صحيی آمريت ته او حتی ولسواليو ته معرفی کيدل ترڅو چې د دوی تداوی په برخه کې ځنډرانه شی. او له بلې خوا نه د اهاليو په منځ کې د نری رنځ د خپريدلو څخه زيات مخنيوی وشی.

- د هغو اشتباهاتو له جملی څخه چې دمخه ورته اشاره وشوه بايد وويل شی چې د هماغو خلاګانو له مخی يو شمير طبی پرسونل د ايديالوژيکی تضادونو، شخصی تناقضاتو او حتی د درونی دښمن په لمسون بندی خانو کې واچول شول چې د مرغومی د شپږمی نيټی دمخه دوکتور نبی حسن، دوکتور زهير، دوکتور علی احمد صدری، دوکتور زرغون او دوکتور رحمت الله کونړی له بده مرغه خپلو کورونو ته راستانه نه شول او دوکتور محمد غنی اندړ ځان وواژه. سره د دې هم طبی نظامی پرسونل سره د هېواد څخه بهر ته د فرار روحيه ډيره ضعيفه وه يواځی دوکتور محمد اسمعيل وردګ د وطن پريښودنی ته مجبور شو او دوکتور شاه محمود چوپان چې د خپلی رخصتۍ ورځی يې تيرولی د مرغومی د شپږمی په رارسيدلو وظيفی ته را نه غی او وطن يې پريښود.

اړين بريښی چې د مرغومی شپږمی يعنی پر افغانستان باندې د شوروی ځواکونو د هجوم له پيل څخه د ځانګړی پاراګراف په شکل صحی مسايل د ارزيابی لاندې ونيول شی.

لکه چې د غوبي د اومی دمخه د احترام په سترګه واقعیتونو ته انعکاس ورکړی شوی دی دلته به هم زمونږ ادعا بې ځایه وی که چیری ووایو چې د شوروی اتحاد د عسکرو د یرغل نه وروسته د نظامی طبابت، او د طبابت د علم د پراختیا او د علمی – تحقیقاتی چارو په برخه کې چوتپیا رامنځ ته شوه، بلکې مثبت کارونه په دې باب ترسره شوی دی. خو د دی سره جوخت نه شی کیدلای چې د دی نوری او تیاری دوری د خالیګاو او ناخوالیو څخه سترګی پټی شی.

خو مخکې تر هغه باید وویل شی چې په دې ورځو کې (د ١٣٧٠ کال دریم ربع) د هېواد په دولتی او آزادو مطبوعاتو او همدارنګه په ناسته او ولاړه کې ځنی اشخاص د شوروی د ځواکونو د راننوتلو په باب دلته او هلته د ننه او بهر له سلولونو او آزادی هوا څخه پراخی ویناوی او اوریدنی وشوی، خو زمونږ د تعجب ځای دا دی هغه ځوک چې د مرغومی شپږمه د وطن پالونکو په مقابل کې د انتی سویتیست، ضد شوروی، خاین نور او نور په حیث د تیره تیغ په توګه کار اخستل او د دی وطن په زرګونو زامن په یوه تومت سره دی تیغ ته راښکل کیدل او له منځه تللی دی. زندانونو ته بوتلل شول او ډیر یې وطن پرېښودنی ته مجبور شول. خو همدی اشخاصو چې شوروی ځواکونه یې خپل ډیر عالی او ډیر لوړ ویاړ باله او هغه یې په پراخه پیمانه تبلیغاوه، اوس افغانستان ته د شوروی ځواکونو راننوتل په ژبه زمزمه کوی، نشخوار کوی او غندی یې. زمونږ په اند دا چټیاټ بل ځای نیولی نه شی او دا محض دروغ خبری به نوری د افغانستان د خلکو په زړونو کې ځای و نه لری پرته له دی چې مختوری او شرمساری یې په برخه شی.

دا هغه اشخاص او افراد دی چې ځنی یې د مجاهدینو په دوره کې لوړو مقامونو ته ورسیدل او په وطن کې د جنګ ګرمولو کې یې نقش لوباوه او ځنی یې د ١٣٨١ کال را وروسته د لویدیزی هېوادونو څخه سرونه راپورته کړل او بیا هېواد ته را وستل شول او دولتی لوړ مقامونه یې ورته ورکړل چې له یوی خوا یو ځلی بیا د دی خاوری بچیان په وینو ولړی، له بلې خوا د ګوداګی په ډول د هغه هېواد سیاسی او اقتصادی ګټو لټون وکړی او ویې ساتی، فساد ته لمن ووهی او د دی لیاری څخه یو ځل بیا د دغه هېواد شته لوټ او تالان کړی.

د شوروی ځواکونو را ننوتل نه یوازی د شوروی خلکو د پاره ننګین او مذموم و، بلکې د هغه وخت د لوحه سرایانو د پاره او د دې وخت د یاوه

سرایانو د لعنت طوق، هغه چې د افغانستان په ټولنی کې یو محدود او مردو د قشروو او وی به، د دې وضعی څخه به څه نتیجه واخستلای شو:

زمونږ په عقیده هغه وخت چې یې شخصی او ډله ایزی ګټی په توافق کې دی ټول شیان سم وو او «شوروی د افغانستان د خلکو د ننګ او ناموس ساتونکی و» او بیا څه وخت چې شخصی او ګروهی ګټی یې په ټکر کې شوی نو بیا شوروی د افغانستان د خلکو مقابل کې خائنانه عمل ترسره کړی دی، دلته دا پوښتنه رامنځ ته کېږی چې دوه ملیون شهیدان، یو ملیون معیوب او معلول او پنځه ملیونه اوارګان او د هېواد د اقتصاد او فرهنګ خرابۍ د دی لرغونی وطن د یو موټی رټل شوو کسانو د شخصی ګټو صدقه نه ده؟ ځواب روښانه او څرګند دی او نه شی کیدای چې بل ډول توجیه شی، د نمونی په ډول د افغانستان د جمهور رئیس داکتر نجیب الله دا جملی د ملی مصالحی د مشی دا علامولو د پنځمه تلین د نمانځنی په مناسبت یعنی د مرغومی پنځه ویشتمه را په زړه کوو.

«ورود نیروهای شوروی به افغانستان طی سالهای ۱۹۸۰ و حضور آنان تا سال ۱۹۸۹ باعث قیام ملی و تشدید جنگ و خونرزیزی گردید که در نتیجه صدها هزار هموطن شهید و معیوب و ملیون ها افغان در کشور های بیگانه پناهنده شد و خسارات غیر قابل تصور اقتصادی به کشور ما وارد آمده است».

د شوروی د ځواکونو په راننوتلو، په افغانستان کې، د افغانستان د جمهوری اردو صحیه خدمات د نورو پوځی او ملکی اورګانونو غوندی هم د بدلونونو سره مخامخ شو چې له ځینو څخه یادونه کوو:

١- ګرده لاربښونکی اسناد او پلانونه (بالخاصه د اردو د صحیه خدماتو پنځه کلن پلان) د صحیه خدماتو له څانګو څخه راټول او له منځه یووړل شول او په لاس ته راوړنو باندې خاوری وشیندلی.

٢- لکه چې کادری سیاست په لومړی سرکې اشتباهات درلودل، له بده مرغه په دې دوره کې «د افغانستان د خلکو نجات» هم د ژورو اشتباه ګانو څخه خالی نه و.

شوروی سلاکاران په پوځی شئوناتو باندې هغو مره مسلط وو چې حتی د اردو د صحیه پرسونل د تبدیلۍ، ارتقا، په ډیره ټیټه رتبه د تقرر او ترفیع به فورمه کې یعنی د صحیه بریدګی (بریدمل) څخه تر ډګروال او

جنرال پوری په فورم کې د مشاورینو امضا باید موجود وای. له دی نه په غیر د پورتنی قدمی څخه یې فورم دوباره مستردیدله.

تعینیات هم د شورویانو په لاس وو، د صحیه خدماتو آمر او نورو آمرینو د تغیر او تبدیل صلاحیت نه درلود. د همدې اشتباهاتو له مخی وو چې متأسفانه په دی مرحله کې هم محبسونه له بندیانو څخه ډک وو. په سل ها و طبی او فارمسی کادرونه بهرنیو هېوادونو ته وتښتیدل.

په افغانستان کې د جګړی د سختوالی له کبله د دوکتورانو، دواسازانو او د طبی منځنی پرسونل په لس ګونو تنه په جګړه کې ووژل شول، اسیران او معیوب شول.

٣- د طبی کادرونو د اکمال د سطحی د پورته بیولو په خاطر (حال دا چې پرسونل همیشه مخ په کمیدو و) د صحیه خدماتو په تشکیل کې بدلون رامنځ ته شو او حتی هر کال تشکیل نوی کیده.

دا عمل یوازی د کاغذ پرمخ ترسره کیده او داسی ښودل کیده چې ګواکی د طبی پرسونل اکمال په بشپړ ډول تطبیق شوی دی. په دې ځای کې له یوی خوا د مشاورینو درجه لوړیدله او د بلې خوانه د طبی پرسونل د اکمال درجه په هغه کې مغشوش او مجهول کیده.

۴- د اردو لومړی نمبر روغتون (قوای مرکز) چې د اردو د پاره یې تاریخی ویاړونه درلودل او د بلې خوانه د هغوی بنسټ ایښودونکی ترکان وو، د شوروی ځواکونو په واک کې ورکړ شوه ترڅو چې د تاریخ په دې پاڼه هم خاوری وغورځول شی.

له پامه باید پټ نه شی چې د طبی کادرونو د روزنی په پلان ګذاری کې د راپور ورکولو په سیستم او د صحیه خدماتو په احصائیه، د طبی علومو په اکادمی او د اردو په نورو روغتونونو کې د تشخیصی، معالجوی او تداوی د کیفیت په لوړتیا کې کیفی بدلونونه منځ ته راغلل. د طبی پرسونل احصائیه بشپړه او د صحیه خدماتو آمرینو او سرطبیبانو په شوروی اتحاد کې د مسلک د تقویې د شپږ میاشتنیو کورسونو څخه استفاده وکړه او ځینی لوړو تحصیلاتو ته ولیږل شول او د حرب طبابت په خپلو لوړو مدارجو کې واقع شو.

☜ د ستر درستیز په چوکاټ کې د صحیی مرکزی کمیسیون ایجاد شو، د اردو د بدنیه قابلیت په تعلیماتنامه (١٣۶٢) کې د جګړی د

شرايطو له مخې او د سلاح د تغيراتو نيولو سره تغيرات راغلل او همداشان په اردو مرکزی روغتون کې په لس ها و علمی آثار تاليف او ترجمه او چاپ شول.

☜ په ۱۳۶۱ کال کې د اردو لومړنی نمبر روغتون تشکيل په ختيځ زون يعنی د جلال آباد ښار ته انتقال او هلته د اردو د لومړی نمبر روغتون په نوم د سردار محمد داود خان په بڼ کې د جراحی، داخلی او پراکلنيک څانګو سره تاسيس شو.

همداشان د دې کال له لومړيو څخه د کابل د طب په دولتی انستيتوت کې د حربی طبابت د آمادګی کافدرا په کار پيل وکړ او د دی کافدرا څخه تاسيس هدف د صحيه خدماتو د احتياط د افسرانو تربيه وه. په دې کافدرا کې د صحيه خدماتو د تکتيک او اورګانزيشن، راديولوژی، حربی توکسيکولوژی، د حرب جراحی، داخله حرب او د حرب اپيديمولوژی مضمونونه تدريس کيدل.

د اردو د صحيه خدماتو په برخه کې له سترو لاس ته راوړنو څخه يو هم په ۱۳۶۴ کال کې د نظامی طب د پوهنځی تاسيسيدل دی. چې د وزيرانو شورا د ۳۶ لمبر مصوبی ۱۳۶۴/۲/۲۳ پر اساس د دفاع وزارت په چوکاټ تاسيس شو. چې هر کال وزارت دفاع ته ۴۰ تر ۷۰ محصل، وزارت داخلی ته ۲۰-۳۰ تنه او د اطلاعاتو عمومی رياست ته ۱۰ تر ۲۰ تنه محصلين پوهنځی ته جذب شی. تدريسی بيز يې د مرکزی روغتون په غاړه و او د پنځم او شپږم ټولګی محصلين دغه روغتون ته د تحصيل لپاره استول کيدل. دغه پوهنځی د کابل طبی انستيتوت په چوکاټ کې په فعاليت پيل وکړ. د پوهنځی د فعاليدلو لپاره د کابل دولتی طبی انستيتوت او د ننګرهار د طب پوهنځی څخه محصلين جذب شول چې په دغه برخه کې اکاديمسن دوکتور محمد موسی وردګ او ډګرمن محمد محسن اقبال د کابل طبی دولتی انستيتوت څخه او عبدالحی مومنی د ننګرهار د طب پوهنځی څخه محصلين جذب کړل.

همدارنګه د اردو روغتيايی چارو رياست د ځوانو کدرونو د روزنی او جذب کې زيات کار کړی دی چې د شپږو کالو په درشل کې ۳۰ د افسری صحی کورسونه او ۲۴ د پرکمشری صحی کورسونه تدوير کړی چې ۹۶۴ تنه فارغ او تقسيمات شوی دی. همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت او د عامې روغتيا وزارت څخه د طب داکتران، د غاښو داکتران، فارمسستان،

انجينران او طبی متوسط پرسونل جذب شوی چې تعداد يې ۹۸۴ تنو ته رسيږی.

همدارنگه په شوروی اتحاد، چكوسلواكيا، پولند، هنگری او بلغاريا كې هم محصلين او داكتران استول شوی چې وروسته له تحصيل څخه وطن ته راستون شوی دی.

لكه چې يادونه شوی ده د وزيرانو د شورا د ۳۴۵-۶۹/۱۰/۱۷ مصوبی پر اساس د اردو مركزی روغتون د مسلحو قواو د طبی علومو اكاډمی ته ارتقا وكړه. او د اكمال تخصص پروگرام هم د جراحی او داخلی په كافدرا وو كې تشكيل شو چې ځوان ډاكتران د تخصص د بشپړولو لپاره جذب شی.

همدارنگه د هغو قراردادونو چې خارجی هېوادونو په نتيجه كې روغتونونه او د فرقو صحی مركزونه په عصری وسايلو په ځانگړی توگه د اكسری ماشينونه، د غاښو ماشينونه، امبولانسونه، د تعقيم او مقطرو اوبو دستگاوی باندې تجهيز شول او د درملو او كيمياوی موادو كمبود نه احساس كيده.

همدارنگه د درملو د توليد په لاربراتوار كې تابليتونه توليديږی چې په سلو كې ۵۱ ضرورت اكمال كړی، د مختلفو سيرومونو توليد د روغتونونو احتياج يې ترسره كاوه، د حرب پاكټ او ځنی طبی سامان هم توليد كيږی. د صحی مركزونو او روغتونونو د فعاليت او اجراتو په هكله تل كنترول، تفتيش او نظارت لاندې نيول شوی دی.

هغه څه چې د اهميت وړ وو د ساری ناروغيو ثبت او احصائيه وه چې د هغه له رويه كلنی پلانونه تنظيم كيدل چې څرنگه د هغو څخه مخنيوی وشی او په څه ډول درملنه يې وشی.

همدارنگه د روغتونونو او صحی مركزونو تشكيل باندې له سره غور وشو چې د هغه په نتيجه كې مثبت برياوی لاس ته راغلی دی. دغه ټول لاس راوړنی د دوكتور عبدالقيوم طوطاخيل د وخت صحی رئيس په زيار سره منځ ته راغلی دی.

دا پوهنځی دوه ټولگی (پنځم او شپږم) لری او د پنځو كافدراو او يا ديپارتمنتونو (څانگو) درلودونكی و. لكه داخله حرب، جراحی حرب، حربی تراوماتولوژی او اورتوپيدی، حربی اپيديمولوژی، د تكتيک او صحيه خدماتو د اوركانزيشن څانگو درلودونكی و. دې پوهنځی په ډيرو لنډه موده

کې ډېر مهم کارونه لکه د درسی بیزونو تکمیل د درسی او علمی کتابونو تدوین، په داخلی او خارجی علمی – میتودیکی کنفرانسونو کې ګډون، او داسی نور سرته رسولی دی.

له ۱۳۶۴ کال را وروسته چې ورو ورو د افغانستان سیاسی فضا له جګړی څخه د سولی خواته روښانه شوه د صحیه خدماتو په ساحه کې ښکاره تغیرات رامنځ ته شول.

په ۱۳۶۴ کال کې د کابل د دولتی انستیتوت په چوکاټ کې د نظامی طب پوهنځی د پنځو څانګو په تشکیل سره په مرکزی روغتون کې تاسیس شو چې استادان یې تر ۱۳۶۸ کال پوری د طبی دولتی انستیتوت څخه حق الزحمه ترلاسه کاوه او په کال ۱۳۶۸ کې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د پوهنتونونو، اکادمیو او پوهنځیو د علمی کدر د غړو د حقوقو او امتیازونو دقانون (۱۳۶۶/۹/۳) د اتمی مادی پر شرایطو برابر پنځه تنه د پوهنځی استادان علمی درجی ترلاسه کړل.

د صحیه خدماتو آمریت، د صحیه خدماتو ریاست ته ارتقا وکړه چې په رښتیا سره د اردو د صحیه خدماتو د فعالیت او کار کیفیت ته یې لوړتیا ورکړه.

په شیندند کې د ۴ نمبر اختصاصی روغتون، په کابل کې د ۵ نمبر (په ۱۳۷۰ کې دا روغتون چې د هوایی طبابت پوری مربوط ؤ په دوو څانګو – کوچنیانو او نسایی او ولادی باندې تبدیل او د طبی علومو اکادمی پوری وتړل شو) تاسیس شو.

د شمال د زون د ۶ نمبر اختصاصی روغتون هم تاسیس شو. همدارنګه د معالجی او تداوی له بابته د فرقو د صحی مرکزونو تقویه کول، د کندهار د ۳ نمبر او د کابل د دوهم نمبر د اختصاصی روغتونونو تقویه کول د حرب د طبابت په تعمیم او پراختیا کې ستر نقش لوبولی دی.

په دې کلونو کې پلان ګذاری لا دقیقه شوی، طبی اکمالات بیا احیا شوی او اختصاصی روغتونونه د مدرنو او عصری الاتو او دستګاوو په واسطه تجهیز شول.

په منظمه توګه د تقویی ګروپونه محاربوی فعالیتونو ته لیږل کیدل چې د کار او فعالیت نتیجه یی متخصصینو او داکترانو ته کنفرانس تدویر کیدل چې د بحث او شور څخه وروسته ارزښتناکی نتیجی لاس ته راتللی او

همدارنګه دقیق راپورونه یې د صحیه خدماتو وروستیو اقداماتو لپاره د صحیه خدماتو ریاست ته سپارل کیدل.

د صحیه خدماتو د آمریت په لابراتوارونو کې د درملو اعمال ځانته غوره بڼه ونیوله. د اوکسیجن د تولید دستګاه تورید، د اردو د صحیه خدماتو له سترو اقداماتو څخه ګڼل کېږی.

د مسلکی کادرونو د لا ښی روزنی په خاطر د وزیرانو شورا د ۳۴۵ لمبر مصوبی پر اساس په ۱۳۶۹ کال کې د اردو د صحیه خدماتو ریاست د پیشنهاد له مخی د دوو کافدراو په داخل کې (داخله او جراحی) د تخصص د اکمال پروګرام د اردو په مرکزی روغتون کې تشکیل او د همدې پیشنهاد له مخی وو چې د اردو مرکزی روغتون د وسله وال پوځ د طبی علومو اکادمی ته ورپوته شو.

په دې کال کې د صحیه خدماتو په ریاست کې د طبی آلاتو د ترمیم آمریت تشکیلدل په رښتیا سره لوی ګام ګڼل کېږی، ځکه چې مرکزی دیپوګانی د طبی آلاتو د ترمیم له ورکشاپه، او د درملو د کیفی او مقداری تحلیل له لابراتواره پرته کوم مفهوم نه درلود.

د هرات په ښار کې د یو سل بستریز په کال ۱۳۷۰ کې روغتون تاسیس او د لوژستیک د عمومی ریاست څخه د صحیه خدماتو د ریاست استقلالیت په برخه کې اقدام په ۱۳۷۰ کال کې یو لوی قدم دی.

د طبی علومو اکادمی د وظایفو لایحه چې د ډیر معتبرو منابعو او زمونږ د شرایطو په نظر کې نیولو سره تدوین شو د اردو د صحیه د سترو کارونو په جمله کې راځی.

همداشان باید وویل شی چې په وروستیو کلونو (۱۳۷۰ کال ترمخه) کې د اردو د صحیه خدماتو طبی علومو اکادمی په ساحه کې یوشمیر علمی او تحقیقاتی مقالی چاپ شوی دی چې د ځوان نسل د روزلو په برخه کې لازمی مرستی کړی دی.

د صحیه خدماتو د فعالیت اساس او محتوا د وسله وال پوځ د منسوبینو د روغتیا ساتنه، تحکیم او اعاده کول تشکیلوی چې ډیر مهم او ارزښتناک اصل دی. د دې اصل په تطبیق سره د قوتونو محاربوی پیاوړتیا او محاربوی چمتووالی په لوړه سطحه میلاوه وی. همداشان د صحیه خدماتو د اردو د دندو په موفقانه اجرا کې د دولتی مقاماتو، د قطعاتو او جزوتامونو قوماندانان او وسله وال پوځ منسوبین نقش ډیر ارزښتناک او څرګند دی.

دلته په لنډ ډول د وسله وال پوځ د صحیه خدماتو دندی په اوسنیو شرایطو کې په لاندې ډول بررسی کیږی.

۱- د ټپیانو او ناروغانو سره د روغتیایی مرستو د اجرا د بشپړ اغیزمنو تدبیرونو د پرمخ بیولو اورګانیزاسیون، د هغوی د ژوندانه د اعظمی حد د ساتنی، د محاربوی قدرت او د هغوی د کار او فعالیت د چټک احیا کولو په منظور.

۲- د منسوبینو په منځ کې د ناروغیو د خپریدلو د مخنیوی په منظور د وقایوی تدبیرونو نیول.

۳- د منسوبینو د روغتیا د ساتنی او تحکیم په منظور د قطعاتو د ژوندانه د معشیت د طرز، د هستوګنی د محل او محاربوی فعالیت سیستماتیک د هر اړخیز کنترول پرمخ بیول.

۴- د حربی مصیبتونو د لا څرګندیدو او سیر مطالعه او تدقیق، د جګړه ایز فعالیتونو په بیلا بیلو شرایطو د قطعاتو د صحی تاميناتو د ترلاسه شوو تجربو بررسی او نتیجه اخستنه. د معالجوی، وقایوی او نور تشکیلاتی مسایلو د تدبیرونو د نیولو او ایجادولو په منظور.

د پورتنیو چارو د پرمخ بیولو د پاره د خدماتو تشکیلاتو او تجهیزاتو ته د ضرورت احساس کیږی چې د صحیه خدماتو تشکیل په زیاترو مواردو د هغو د هدفونو او دندو او همدارنګه د وسله وال پوځ د تشکیلا او جوړښت مطابق عیاریږی.

د وسله وال پوځ د صحیه خدماتو په چوکاټ کې صحیه جزوتامونه، صحیه قطعات او معالجوی موسسات شامل دی، چې د هغو د طبی عینیاتو د تشکیل او تجهیزاتو تعداد د یو لړ مشخصو شرایطو له مخی ټاکل کیږی. د دې شرایطو له جملی څخه د جګړه ایزو عملیاتو د پرمخ بیولو طریقی، د صحی تلفاتو اوصاف، د صحی تلفاتو د سطح د ټیټولو امکانات، د حرب د طبابت د پراختیا سطح، او په هېواد کې د بیرغ لاندې د خدمتونو امکانات او خصوصیتونه دی.

- د صحی مرستو د ځانګړتیاوو او حجم له نظره د صحی خدماتو تشکیلات په لاندې ډول تنظیم شوی دی:

١- د صحی خدماتو جزوتامونه د صحی خدماتو هغه تشکیل ته اطلاق کېږی چې د قطعاتو په تشکیل کې ورته ځای ورکړ شوی دی چې د کندکونو، غونډونو او لواګانو د روغتیایی مرکزونو څخه عبارت دی.

د صحی خدماتو جزوتامونه په خپل تشکیل کې دوکتوران، نرسان، د صحیه واړه ضابطان، د صحیی سربازان او یو شمیر غیر مسلکی پرسونل لکه لوژستیکی او اداری پرسونل لری.

په همدې شان صحی جزوتامونه (بلوک، تولی) د ټاکلو او ضرورت وړ طبی عینیات درلودونکی هم دی. چې د هغو په سرکې د هغو مسول آمر وظیفه اجرا کوی چې د طبی منځنی پرسونل او یا د طب د داکتر څخه عبارت دی.

٢- د صحی خدماتو قطعات د یوه ځانګړی او مستقل د صحیه خدماتو د تشکیل څخه عبارت دی چې د فرقی په چوکات کې ورته ځای ورکړ شوی او د فرقی د صحیه کندک په نوم یادیږی.

د فرقی صحیه کندک د صحیه کندک قوماندان اداره کوی چې په تشکیل کې یې د طب دوکتوران، دواسازان، طبی منځنی پرسونل، صحیه سربازان او غیر مسلکی پرسونل وظیفه اجرا کوی.

د فرقی صحیه کندک د تشکیل په داخل کې طبی مواد، مالزمه، تخنیکی وسایط او وسایل لری.

٣- معالجوی مؤسسات چې د وسله وال پوځ د صحی خدماتو په تشکیل کې موجود دی د تشخیص او معالجوی چارو د دندو برسیره د لوړو زده کړو او د طبی منځنی پرسونل د روزنی د ارګانونو درلودونکی دی. چې دا موسسات د طبی علومو اکادمی، د ١،٢،٣،۴ او نورو روغتونونو څخه عبارت دی.

۴- د اردو د صحیه د ریاست قرارګاه – د صحیه خدماتو د سوق او اداری، د طبی عینیاتو د اکمال او د طبی کادرونو د ښوونی او روزنی په خاطر د ارګانونو درلودونکی دی.

د معالجوی او تخلیوی تاميناتو په نوی سیستم کې د تخلیی سره د قدموی تداوی د سیستم اساسات او پرنسیبونه د ټپیانو او ناروغانو د معالجی او تخلیی د دقیقو صحی مرستو او انقسام د توحید د اصل سره په نظر کې نیول کېږی. نو صحی تخلیوی قدمه له قواوو، د صحیه خدماتو د وسایلو او وسایطو څخه عبارت ده چې د ټپیانو او ناروغانو سره د صحی مرستو د

قبلولو، تصنیف او اجرا کولو په منظور د تخلیې د لارو په اوږدو کې تاسیس شوی ده. لکه د غونډ، لوا او فرقی صحی مرکزونه، ګرځنده صحرايي روغتون او د مرکز اختصاصی روغتونونه.

د مدرنو معالجوی او تخلیوی تامیناتو د سیستم یو بل خصوصیت د طبی مرستو له انقسام او معالجوی تدبیرونو څخه عبارت دی چې دا مرستی او تدبیرونه په صحی تخلیوی قدمو کې د هری قدمی د خصوصیت په پام کې نیولو سره ویشل کیږی، ټپیان او ناروغان باید له ټولو قدمو څخه تیر شی او په دې قدمو کې طبی تصنیف ترسره شی.

د قطعاتو د معالجوی او تخلیوی تامیناتو معاصر او کلاسیک سیستم د اساساتو په جمله کې د پتوجنیز د منشأ، د پتولوژیک د پروسو د کلنیک او تداوی او په جګړه ایزو شرایطو کې د صحی خدماتو د فعالیت د اورګانیزاسیون د واحدو پرنسیبونو له مخی دی. یعنی په کومو مرکزو کې، کوم ټپی او ناروغ سره څوک څه ډول مرسته ترسره کړی.

نو له دې امله په اوسنی وخت کې د محاربی له لومړی خط څخه د مملکت تر مرکزه پوری پنځه ډوله صحی مرستی د تطبیق او اجرا لاندې نیول کیدای شوی.

١- صحی لومړنی مرستی.

٢- تر دوکتوری دمخه (معاون دوکتوری) صحی کومکونه.

٣- دوکتوری صحی مرستی.

۴- عمومی تخصصی کومکونه.

۵- اختصاصی صحی کومکونه.

د دې مرستو څلور مخکینی ډوله مرستی د قطعاتو په عقبی سیمو کې تر اجرا او استفادی لاندې نیول کېدلی او پنځمی اختصاصی مرستی په صحرايي ګرځنده روغتونونو او د ګارنیزیونونو او مرکز په ثابتو روغتونونو کې اجرا کیدلی.

په اردو کې د طبی اکمالاتو خصوصیتونه:

که څه هم د نظامی طبی اکمالاتو وده د طبابت د ودی سره په یو وخت کې تر بحث لاندې نیول شوی ده، خو په فشرده ډول ښایی وویل شی

چې د شلمی پیړۍ نه دمخه په اردو کې طبیب او درمل جوړونکی نه سره جلا کیدل او د دې پیړۍ په لومړیو کې طبابت او فارمسی پراختیا ومونده او تجربی هم وښودله چې ښايي طبابت په یو مناسب او مساعد ځای کې د څو تنو په همکاری صورت ومومی چې په دې ترتیب صحی مرکزونه او روغتونونه په پام کې نیول شوی او لومړنی نظامی روغتون د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په باغ بالا کې تاسیس شوی چې وروسته د پل محمود خان د اردو نظامی روغتون او بیا وروسته د قوای مرکز روغتون تاسیس شو. د پل محمود خان په روغتون کې طبی متخصصین، هندی، برتانوی، او امریکایی داکټران او دواسازان استخدام شوی وو. د قوای مرکز په روغتون کې ترکی داکتران او درمل جوړونکی فعالیت درلود.

په دې وخت کې د صحیی او وترنری په مدیریت کې د کورنیو درمل جوړونکو په خوا کې ترکی متخصصینو او دواسازانو کار کاوه د دوی (په تیره بیا ش بای شکری بیګ د دواسازی معلم او متخصص) په مرسته د اردو د صحیی ریاست مرکزی دیپوګانی، د درملو د اعمال لابراتوار (امپول، تابلیت، پوماد، سلوشن او معقم محلولات او نور) او د الکولو د تقطیر دستګاه جوړه شوی ده. د دې سره جوخت د روغتونونو درملتونونه ښه رونق پیدا کړ کلنیکی درملونه او زرقی محلولات بالخاصه د نووکتئین محلولات په مختلفو فیصدیو د قوای مرکز په شفاخانه کې تهیه او اعمال کیدل.

د پوځی درمل جوړوله کورسونو څخه د فارغانو لومړۍ دوره د ١٣٠٨ کال د وری په میاشت کې فارغه شوه چې تر ١٣٥١ کال پوری څو دوری د وقفو سره سره ادامه درلودله او له ١٣٥٧ کال را وروسته دا کورسونه دوباره احیا شول، چې د عامی روغتیا وزارت د منځنیو زده کړو لرونکو دواسازانو په روزنه کې د یادونی وړ مرسته کړی ده.

د عامی تحصیلاتو لرونکو پوځی فارمسستانو د فارغ التحصیلانو لومړۍ دوره په ١٣٤١ کې د طب او فارمسی له پوهنځی د هغه وخت د کابل له پوهنتون څخه فارغ شول.

که څه هم په ١٣٤٠ کال کې د فارمسی یو شمیر متخصصین له ترکیی څخه هم دیپلوم اخستلی او وطن ته راستانه شول خو هغوی په اردو کې د کم وخت دپاره د وظیفی د اجراکولو وروسته نور خپل خدمت ته دوام ورنه کړ شو. په اوسنیو شرایطو کې د فارمسی عالی تحصیلات درلودونکی

کادرونه د کابل پوهنتون د فارمسی په پوهنځی کې د څلورو کلنو د پاره تحصیل کوی.

د درمل جوړونکو د مسلکی پوهی په لوړولو کې د ترکیی، شوروی اتحاد او د هندوستان جهوریت زیاتی مرستی کړی دی.

د دواسازی کادرونه اوس د اردو په ټولو برخو کې یعنی د اردو په صحیی ریاست، روغتونونو، د فرقی په صحی مرکزونو او د یو شمیر لواګانو او غونډونو په روغتیایی مرکزونو، په تعلیمی او تحصیلی موسسو، د دفاع وزارت په تفتیش او صحیه خدماتو په ریاست کې دندی اجرا کوی.

د طبی عینیاتو اکمال په مرکزی صورت او یوه برخه یې په غیر مرکزی ډول ترسره کیږی. د طبی عینیاتو د اکمال مراجع داخلی منابع (د فارمسی د چارو ریاست، د عامی روغتیا وزارت، د هېواد د درمل جوړولو فابریکی او لابراتوارونه) او بهرنی منابع دی.

د صحیه خدماتو ریاست په خپل تشکیل کې د اکمالاتو مدیریت لری چې د پلان ګذارۍ، د طبی عینیاتو د اکمال او توزیع دندی په غاړه لری.

د اردو د صحیی ریاست د مرکزی دیپوګانی چې د طبی عینیاتو اخستلو، تسلیمی، ساتنی، توزیع او محاسبی دندی اجرا کوی.

د درملو یو شمیر قلمونه، طبی سامان او مالزم (انفرادی پاکت، پانسمان میزونه، میزابه، د سیروم پایی، د درملو او د جراحی د سامان میزونه، طبی الماری او نور) هم اعمالوی.

په هوایی او هوایی مدافعی په قواو، سرحدی عمومی قواو، د طبی علومو اکادمی په روغتون او په یو شمیر بیزونو کې هم د طبی عینیاتو دیپوګانی موجود دی.

د روغتونونو په درملتونونو، د فرقی په صحی مرکزونو کې د درملو یو شمیر اقلام لکه زرقی او غیر زرقی محلولات، پومادونه، سلوشنونه، پودرونه او نور تهیه کیږی.

د طبی علومو په اکادمی او د اردو د مرکزی پولی کلنیک په درملتونونو کې د څلویښتو قلمو په حدودو ترکیبی درمل اعمال او تهیه کیږی.

مركزی ديپوګان د درملو د كنترول او انالیز لابراتوار درلودونكی نه دی. خو له نيكه مرغه په دې وروستيو كې (د ۱۳۶۴ نه وروسته)د طبی آلاتو د ترميم څانګه تشكيل شوې ده.

د طبی عينياتو ترميم چاری (ورځنی) ترميم چاری په شعبو (ديپارتمنتونو) او منځنی ترميم د طبی علومو اكادمی د وركشاپ په واسطه ترسره كيږی.

د طبی عينياتو د ساتنی، محاسبی او اقتصادی لګښتونو له صورت نه تفتيش او كنترول د صحيی رياست د اكمالاتو او پلان د مديريتونو او اسنادی پلټنی د موسساتو د داخلی تفتيشونو په واسطه، د صحيه رياست، د دفاع وزارت د داخلی عينياتو د تفتيش رياست او د عظمی صدارت د مقام د تفتيش له خوا ترسره كيږی.

د فارمسی چارو او طبی اكمالاتو په هكله علمی او تحقيقاتی چاری د صحيه خدماتو د تكتيک او اورګانزيش د كافدرا (د طبی علومو اكادمی علمی مرستيالی)، د طبی علومو د اكادمی د درملتون د پرسونل او د اردو د صحيی رياست د ارګانونو له خوا پرمخ بيول كيږی.

د اردو د صحيه خدماتو رياست غوری او اساسی دندو په جمله كې يو هم د طبی عينياتو (درملو، باكترلوژی موادو، رياكتيفونو، رنګونو، د ديزانفكشن موادو، د پانسمان او خياطه لوازمو، دوكتوری طبی شيانو، د جراحی سامان، طبی ماشين الات او وسايل، طبی موبل، حفظ الصحوی (سنيتاری) او د ديزانفكشن سامان او لوازم، طبی سنيتاری تخنيک چې په موټرونو او تريلرونو باروی، د درملتون اشيا او الات، لابراتواری شيان او الات، انفرادی تجهيزات لكه د ادوي انفرادی پاكت، د پانسمان انفرادی پاكت، د حرب پاكت، انفرادی كيمياوی ضد پاكت، باكتريوسيد تابليتونه، ګروپی تجهيزات لكه د تانک او طياری طبی تجهيزات، د صحيی چـــانتی، سيټونه، كامپليټونه، اسناد، وثايق او طبی كارتونه، غير مصرفی «لكه طبی سامان الات او دستګاوی»، طبی عينياتو په موقع ترميم او تخليه چې له استهلاک نه لويدلی وی). د پورتنيو اقلامو د اكمال يعنی توليد، تورید، بازار ميندنه، داخلی او بهرنی خريداری ګانی، محافظه او نګهبانی، توزيع، محاسبوی چارو، د اكمالاتو د پلان ګذاری پرمخ بيول او د طبی عينياتو له معقوله مصرفونو او استعمال له كنترول او تفتيش څخه عبارت دی.

که چیرته پورتنی ګروپ بندی ته وکتل شی هر یو ګروپ کې د عینیاتو په لس ګونو او سل ګونو قلمونه احتوا کوی چې په حضر کې هغه ۵.۰۰۰ اقلامو ته او په سفر کې ۳.۰۰۰ قلمونو ته رسیدلای شی.

یو شمیر نور طبی عینیات هم شته دی چې د محاربوی فعالیت د تامین کوونکو یا سفری تجهیزاتو په نوم یادیږی چې د دی ډول طبی عینیاتو اقلام د ۳۰۰-۳۵۰ په اندازه د وسله وال پوځ د تشکیلاتی جوړښت، ودی او تکامل او د هېواد د تولیداتو له مخی متغییر دی او په عمومی ډول پورتنی مواد پخپله د مملکت د تولیدی موسساتو یا فابریکو او یا د دوستو هېوادونو څخه چې د هغو په ترانسپورتیشن او یا واردیدلو کې ستونزی رامنځ ته نه شی، اکمالیږی. طبی عینیات د ټاکلو نورمونو له مخی د قطعاتو او جزوتامونو د تشکیل او روغتیایی موسساتو د بسترو له مخی اکمال او توزیع کیږی.

د حضر په وخت کې د طبی عینیاتو نورم د یوه کلن لګښت په اساس د یو کال د پاره ټاکل کیږی خو حقیقی شکل یې په داسی توګه لاس ته راځی چې د سولی د شرایطو لږ تر لږه دری کلن یا پنځه کلن لګښتونه په پام کې نیول کیږی.

د نورم په ټاکلو کې یو لړ عوامل لکه د یوی قطعی د نارغانو عمومی شمیر، د طبی او تخنیک وده او تکامل، د تشخیصی او معالجوی متودونو څرنګوالی او په هېواد کې د طبی عینیاتو د تولید امکانات، د مسلکی کادرونو شته والی او هغه بودجه چې دولت له خوا ټاکل کیږی، عمده رول لوبوی.

د طبی عینیاتو د اکمال نورم په ټاکلو کې د اکمالاتو مدیریت، د صحی موسسو، قطعاتو او جزوتامونو متخصصین او د صحیه ریاست د قرارګاه نور ارګانونه ګډون کوی. خو د جګړی د ستونزو او شرایطو په نسبت طبی عینیات نورم موجود نه وی بلکې د طبی عینیاتو، طبی نوو سامان آلاتو د یوه کلن ضرورت فهرست چې په هغه کې د پلان، اکمال مدیریتونه، د دیپوګانو قوماندانی او د اردو سر متخصصین ګډون کوی، ترتیب شوی او د دفاع وزارت د مقام منظوری اخستل کیږی.

د ترتیب شوی فهرست په اساس د نوموړو اقلامو فیات پیشبینی شوی او د طبی عینیاتو مجموعی قیمت د بهرنیو اسعارو او افغانی پیسو په شکل د دفاع وزارت د مالی د عمومی ریاست څخه د صحیه د ریاست د مالی مدیریت په واسطه غوښتل کیږی.

د اردو د صحیی ریاست د خپل اکمالاتو د مدیریت پواسطه طبی عینیات په مرکزی شکل د لاندنیو مراجعو څخه اکمال خریداری او ترلاسه کیږي:

- د وزیرانو د شورا د مصوبی او د افغانستان د جمهوریت د جنریک درملو د قانون له مخی مصرفی طبی عینیات (درمل، ریاکتیفونه، باکترلوژیکی مواد، دیزانفکیسونی مواد، او د طبی مالزمی یو شمیر اقلام) د عامی روغتیا وزارت د فارمسی د چارو د ریاست له خوا پیرودل کیږی. دلته د اردو د صحی خدماتو د یو کلن ضرورت وړ پلان چې د مخه د فارمسی ریاست ته لیږل شوی او د کـــــال په اوږدو کې د اړتیا وړ مواد (د پسرلی او منی فصلونو کې) اکمال کیږی.

- طبی غیر مصرفی عینیات لکه سامان، الات، دستګاوی او سفری عینیات او د طبی مالزمی یو شمیر قلمونه د بهرنیو هېوادونو څخه اخستل کیږی.

- یو شمیر اقلام په تیره بیا سفری طبی عینیات د دفاع وزارت د خارجه ارتباط د ریاست په واسطه د صحیه ریاست د پیشنهاد له مخی د بهرنیو هېوادونو څخه راغوښتل کیږی او په دې باب د دواړه له خوا پروتوکول امضا کیږی.

مګر د عینیاتو پاتی ګروپونو زیاتره اقلام په مستقیم ډول د صحیه ریاست په واسطه بهرنیو هېوادونو ته غوښتنلیک ورکړ شوی او د نړۍ د مختلفو کمپنیو د اسنادو، د راټولولو وروسته په مقایسوی فهرست کې درج کیږی. د صحیه ریاست منتخب هیئت (د اردو سر متخصصین، د اردو د صحیی د ریاست د قرارګاه د څانګو د آمرانو سره) د هغو اقلامو د کیفیت او قیمت له مخی د مقایسوی فهرست له مخی انتخابوی او بیا د اړوندو کمپنیو څخه د هغه پیرودلو او د اسعارو د انتقال په برخه کې اقدام کیږی.

- که چیرته د فارمسی چارو ریاست د صحیی ریاست ضرورت د درملو له پلوه تکافوونه کړای شی او یا ور سره موجود نه وی د پورتنی مقام تر استیذان وروسته د داخلی خصوصی توریدی شرکتونو او موسسو څخه د «جګړی» په اساس د هیئت پواسطه درمل پیرول کیږی.

- که چیرته د درملو او طبی نور عینیاتو مقدار زیات وی او د ریاست صحیی د صلاحیت څخه پورته وی یعنی زښته زیاتی روپۍ ایجاب کړی د پیریدلو دا پروسه د دفاع وزارت د خریداری د ریاست په واسطه پرمخ بیول کیږی.

- همداشان د درملو د اقلامو د یو شمیر د ډیر چټک اکمال په خاطر او هغه درمل چې د یوه کلن ضرورت په فهرست کې د مقدار د کموالی او یا د هغو د میعاد د استعمال لنډوالی په نسبت نه دی ځای شوی نو په غیر مرکزی ډول اکمالیږی. لکه چې د دی مقصد لپاره یو موټی روپۍ قطعاتو، جزوتامونو او صحی موسسو ته پولی تخصیص ورکول کیږی ترڅو د خپل سوق الجیش له سیمی څخه د خپل اړتیا وړ موادو پیرودلای شی.

- د اردو صحیه ریاست او د اردو ځینی صحی قطعات، جزوتامونه او صحی موسسی د طبی عینیاتو د اقلامو یوه اندازه د بهرنیو هېوادونو او د دولتی او خصوصی داخلی موسسو څخه په وړیا ډول ترلاسه کوی، همداشان هغه غنیمتونه د وسله والو مخالفینو څخه ترلاسه کیږی، تر معاینی او تدقیق وروسته د پرنسیب له مخی تر محاسبی لاندې نیول کیږی. خو په هر شکل چې طبی عینیات د اردو د صحی موسسی او جزوتامونه ترلاسه کوی له یوی خوا تر محاسبی لاندې نیول کیږی او له بلې خوانه د صحیی ریاست د اکمالاتو مدیریت په جریان کې اچول کیږی.

- د درملو او طبی مالزمی د اقلامو یوه اندازه د صحیی ریاست د مرکزی دیپوګانو په لابراتوار کې اعمالیږی.

- هغه طبی عینیات چې صحیی ریاست ته راوړل کیږی د معاینی د هیئت له خوا تشریح شوی او په ۸ نمبر فورم کې ثبتیږی. نوموړی مواد وروسته د صحیی په مرکزی دیپوګانو کې د عینیاتو د ځانګړتیاوو له مخی ځای پر ځای کیږی او محاسبه یې هم د اکمالاتو په مدیریت او هم د مرکزی دیپوګانو د قوماندانی د ساتنی د مدیریتونو په واسطه پرمخ بیول کیږی. د پرنسیب له مخی دا ایجابوی چې د صحیی ریاست د پلان په مدیریت کې یو اوپراتیفی محاسبیت تعقیب شی.

د صحی مرکزی دیپوګان د عینیاتو د تسلیمی د هغو د ساتنی ترتیب او تنظیم، د کیفیت څخه د کنترول، او د طبی الاتو له ترمیم څخه په قطعاتو او روغتونونو کې سازماندهی کوی.

همداشان د طبی عینیاتو توزیع د صحیی د اکمالاتو د شعبی د امر یې په اساس د دیپوګانو د قومانوانۍ له لاری صورت نیسی.

مستقل قطعات، لوی جزوتامونه، تعلیمی موسسات او روغتونونه راپوری درخواستونه یعنی فورم ۱۴ راساً د صحیی ریاست د اکمالاتو مدیریت ته لیږی. قطعات او کوچنی جزوتامونه لومړی خپل درخواستونه

لوی جزوتام (فرقی) ته لیږی او بیایی له توحید وروسته د صحیی ریاست ته استوی.

د طبی عینیاتو درخواست د یوه مکتوب، استعلام او د عرض د پاڼی په واسطه نه اجرا کیږی او همداشان په درخواست کې باید اخستل شوی مقدار، لګښت، دیپو موجود او د احتیاج بقیه مقدار درج شی. راپوری درخواستونه د طبی عینیاتو د هر ډول وظیفی له مخی لکه مالزمه، سامان الات، پاتنت درمل، درګ (د درملو خام مواد) او نور په ځانګړی توګه ترتیب او تیاریږی.

د صحیی مرکزی دیپوګانو څخه د طبی عینیاتو توزیع لویو جزوتامونو او روغتونونو ته د فورم ۹ یعنی د عینیاتو د اعطا د امر له مخی اجرا کیږی، هغه عینیات چې د پورتنی فورم په اساس توزیع کیږی د لیږلو په مجرد د توزیع کوونکو دیپوګانو په خرڅ مجرا کیږی او د اکمال په خدمت کې تر را رسیدلو وروسته د نوموړو او امرو مصدقی نقل د ورلیږل شوی له خوا نه د ورلیږونکی دیپو په خرڅ مجرا او د ورلیږل شوی په ذمت قیدیږی. ورلیږل شوی مرجع مجبور او مکلفه ده چې نهایت د پنځلسو ورځو په موده کې مصدقه نقل، مربوط اکمال خدمت ته وسپاری. هغه قطعات او موسسی چې تر ۳۰ کیلو مترو پوری مسافه ولری په ۴۸ ساعتو کې باید یو نقل د دفترونو له قید څخه وروسته دوباره مسترد کړی.

قطعات، لوی جزوتامونه او صحی موسسات د خپل ګارنیزیون د ننه توزیع ګانی په ۹، او ۱۱ فورم کې اجرا کیږی او مصرفی لوازم په داسی شرط چې نورم یې تثبیت شوی وی د توزیعاتو په ۱۰ نمبر فورم کې ترسره کیږی.

طبی اکمالات له لویو جزوتامونو (دفرقی صحیه کندک) څخه غونډونو ته معمولاً په دریو صورتو اجرا کیږي:

۱- د جګړه ایز فعالیت تامینوونکی اکمالات: دا ډول اکمال د محاربی په جریان کې پرته له درخواستی څخه صورت نیسی.
۲- اتوماتیکی اکمالات: دا ډول اکمال هم د جګړی په جریان کې په داسی صورت کې چې ټپیان او ناروغان په کتلوی او متواتر شکل راځی پرته له درخواستی صورت نیسی.
۳- جاری اکمالات: جاری اکمالات د پلان او نورم له مخی په میاشت کې یوکرت د درخواستی د ترتیب په واسطه ترسره کیږی.

د افغانستان په جمهوري اردو کې د صحيي د اکمالاتو سیستم



د صحيی د مرکزی ديپوګانو څخه د طبی عينياتو اکمالوونکی اورګانونه



د محاربې په شرايطو کې د فرقې د اکمالاتو طرز



نظامی طبابت د مجاهدینو د قدرت په وخت کې

د مجاهدینو په دوره کې د اردو په تشکیل کې خاص تغییرات منځ ته رانغی او مجاهدین په پخوانی تشکیل کې تنظیم شول. په ١٣٧٢ کال کې کله چې د دولتی طبی انستیتوت ودانی په علی آباد کې د جنګونو له کبله ویجاړی شوی نو د دولت د تصمیم په اساس دولتی طبی انستیتوت د خپل ټول اداری او تدریسی تشکیل سره د طبی علومو اکادمی ساحی ته انتقال شو او د تدریسی کادرونو د کموالی سره هم مخامخ و چې د طبی علومو اکادمی تکړه متخصصین دغه خالیګاه ډکه کړه او د پنځم ټولګی د نظامی مضامینو برسیره هغه مضامین چې ملکی استادانو پرمخ بیوه دوی په غاړه واخستله.

په همدې کال کې د طبی علومو اکادمی په تشکیل کې هم تغییرات رامنځ ته شو چې د نظامی طب پوهنځی پنځه څانګی (دیپارتمنتونو) یوویشت دیپارتمنتونو ته ارتقا وکړ او د افغانستان د وسله وال پوځ د پوهنتونونو، اکادمیو او پوهنځیو د علمی کادر د غړو د حقوقو او امتیازونو د قانون اتمه ماده د یو فرمان له مخی دویم ځل د تطبیق وړ ګرځید او هغه استادان چې نظامی طب پوهنځی کې یې درسونه مخی ته بیول علمی درجی یې تثبیت شوی.

د جنګونو د زور اخستلو او د چور او چپاول له کبله د اردو اکثریت روغتونونه غیر فعال شول او یواځی د طبی علومو د اکادمی روغتون ټپیان او ناروغان منل او درملنه یې کاوه. په دې دوره کې نظامی پوهنځی طب او منځنی طب درسونه دوام درلودل او د «تعلیمات موسسات عالی و تعلیمی اردو» کتاب نشر شو چې څلور فصلونه یې نظامی طبابت پوری تړاو درلود.

د طالبانو نظامی تشکیلات ډیر محرم او مرموز و خو سره د دی هم ځینی نظامی روغتونونه لکه د طبی علومو اکادمی، قندوز او قندهار فعال وو.

هغه څه چې د یادونی وړ دی د زخمیانو بې له دی چې قدموی مرستی ورسره وشی په ډیر سرعت او چالاکی سره روغتونونو ته تخلیه کیدل.

د اکمال تخصص پروګرام چې ١٣٦٩ کې منظور شوی و لس کاله وروسته یعنی په ١٣٧٩ کال کې په فعالیت شروع وکړ. د اکمال تخصص پروګرام درسی کوریکولیم جوړ شو چې حتی د عامی روغتیا وزارت داسی یو درسی پلان او کوریکولیم نه درلود.

نو په دې دوره کې د اکمال تخصص پروګرام، نظامی پوهنځی او منځنی طبی کورسونو درسونه په ښه توګه جریان درلود.

هغه څه چې په دې ځپرکی کې د یادونی وړ دی هغه دا چې د نظامی طبابت د ټولو کته کوریو پرسونل په تیرو شوو دورو کې خپل ایمانی او وجدانی دندی یې اجرا کړی دی خو سره د دی هم ډیری نیمګړتیاوی هم موجودی وی چې ځنی یې په ګوته کیږي:

١- اقتصادی کمزورتیا: د نظامی طبابت چاری مستقیماً د هېواد اقتصاد پوری ارتباط لری نو څرنګه چې زمونږ د هېواد اقتصاد په ډیره ټیټه سطح کې قرار درلود، په دی کې شک نشته چې په نظامی طبابت کې هم د کادرونو، طبی عینیاتو او عالی طبی تخنیک په ټیټه سطح قرار درلود.

زما ښه په یاد دی کله چې په کال ١٣٥٧ کې مرکزی روغتون ته مصدومینو او ټپیانو تعداد زیات شو د طبی آلاتو کمبود ډیر احساس کیده حتی مونږ د پلستر غوڅولو دپاره قیچی (بیاتی) نه درلود. خو د صحیی ریاست څنډی ته یو لړ دیپوګانی موجود وی چې د هجری شمسی پیړۍ شلمو کلونو د ترکانو له وخته راهیسی مهراولاک واو هیچا تردی مه نه وخلاص کړی. د یو هیئت په موجودیت کله چې دیپوګانی خلاصیږی ځنی اسناد او د صحیه او وترنری ځنی سامانونه هم په صندوقونو که موجود ؤ چې له نیکه مرغه د پلستر د غوڅولو یوه قیچی هم موجوده وه، مرحوم دوکتور علی محمد صدری چې مرکزی روغتون د سر جراح په توګه کار کاوه دومره خوشحاله شو لکه چې یوه مهمه تحفه ورته ورکړل شوی وی.

٢- د نظامی طبی کادرونو کموالی: د داکترانو او متخصصینو تعداد په سلو کې ٢٨ او د منځنی طب پرسونل په سلو کې ٥٦ تشکیلاوه چې د هغو له جملی څخه یواځی په سلو کې ٦٠ یې په مرکز کې فعالیت کاوه. واضح ده چې دومره پرسونل سره د طبی خدماتو عرضه کولو کې څه نیمګړتیاوی باید موجودی وی.

٣- په نظامی طبابت پرنسیبونو باندې د طبی کادرونو نه پوهیدل. واقعاً چې اکثریت پرسونل هغه پرنسیبونو باندې چې د جنګ په وخت کې په نظر کې ونیول شی نه پوهیدل نو ځکه په لومړیو کې زمونږ تلفات او معیوبتونه څه ناڅه زیات ښودل شوی دی.

٤- په طبی کادرونو باندې د جنګ ناوړه اغیزی جنګ او جګړه د وطن ټول بشری مادی او معنوی ارزښتونه له منځه وړی – واضح ده چې د جنګ په وخت کې نظامی طبابت ډیر کادرونه شهیدان شول، اسیران شول او

وطن یی پرېښود او نورو هېوادونو کې خواره واره شول. چې دا هم د نظامی طبابت په کړو وړو باندې ناوړه ژور تاثیر وکړ.

٥- په احزابو او تنظیمونو کې ذات البینی تناقصات: دغه بدبختی نه یوازې د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند کې موجود و حتی په مجاهدینو کې لا زیات ژور تناقضات موجود ؤ چې د دغه ناوړه دود له کبله نظامی طبی کادرونو او مادی او معنوی ارزښتونو باندې ناوړه اغیزه اچولی ده.

خو یوه موضوع د پام وړ ده هغه ځوک چې الله تعالی بندګی ته او خپل وطن او خلکو ته متعهد وی شک نشته چې په هر حالت کې خدای (ج)، وطن او خلک له یاده نه وباسی.

نو د نظامی طبابت په غړو کې ډېر زیات داسی اشخاص موجود وو او اوس هم ځنی یې ژوندی دی چې نه یی وطن پرېښود، نه یی وظیفه پرېښودله او نه یې په پاکو احساساتو کې یې کومه تغیر منځ ته راغی. ممکن د بدنی طاقت له کبله په دنده کې کمزورتیا موجوده شوی وی خو پاسنی احساس یې هیڅکله له منځه نه ده تللی.

په دې توګه نظامی طبی کادرونو د ټولو نا خوالیو سره سره په ډېر صداقت او ایمان داری سره خپله دنده او وظیفه پرمخ بیولی ده.

د نظامی طبی کادرونو نه یوازې په پوځی چارو کې دندی اجرا کړی بلکی په داخل او خارج کې د هغو مرستی روښانه دی. نظامی طبی کادرونه په هېواد کې د طبعی حوادثو کې لکه د هېواد په شمالی برخو خصوصاً د رستاق د زلزلی ځپلو خلکو سره مرسته کړی. همدارنګه کله چې په پاکستان کې سلابونو ډېری ورانی منځ ته راوړ زمونږ تکړه پیلوتان او طبی کادرونه د رغونی او طبی مرستی رسولی دی. په اندونیزیا کې د سونامی په ناوړه پېښه کې نظامی طبی کادرونه د قدر وړ مرستی رسولی چې د دیپلوماتیکو له لیاری د هغو څخه مننه او قدردانی شوی ده.

نظامی طبی کادرونه په هېواد کې د عامی روغتیا وزارت، د افغانستان د علومو اکادمی او نورو ارګانونو سره خپلی مرستی رسولی دی. نظامی طبی کادرونه په دی ښه پوهیږی هرځومره چې د روغتیایی او تحصیلی چارو په منځ کې هم غږی موجوده وی په هماغه اندازه د خلکو خصوصاً ناروغانو پکې ګټه ده له همدی کبله نظامی طبی کادرونه زیار باسی ترڅو د عامی روغتیا وزارت، د طبی علومو پوهنتون او د نظامی طبی علومو اکادمی ترمنځه ټینګی اړیکی موجودی وی ترڅو د علمی – تحقیقی، معالجوی او زده کړی چارو کې لا ښه والی منځ ته راشی.

زمونږ نظامی طبی کادرونه نه یوائې په هېواد کې د اړوندو ارګانونو سره اړیکی لری بلکې په نړیواله سطح هم نظامی کادرونه د اتحادیو او سازمانونو غړی دی او په کنفرانسونو، کې یې فعاله ونډه اخلی او خپلی برياوی نړیوالو ته وړاندی کوی.

همدا اوس د ملی دفاع وزارت، عامی روغتیا وزارت او د افغانستان علومو اکادمی سره د روغتیایی چارو په برخه کې د همکاریو تړونونه موجود دی.

څلورم څپرکی

د مسلحو قواو طبی علومو اکادمی

د افغانستان د مسلحو قواو طبی علومو اکادمی زموږ د هېواد ډېره ستره او لویه موسسه ده چې په روغتون کې یې تشخیصی، معالجوی، وقایوی، تدریسی، تربیوی، علمی او تحقیقاتی چاری پرمخ بېول کیږل.

څرنګه چې دغه موسسه نه یواځی په افغانستان کې بلکې په ډېرو هېوادونو خصوصاً منطقه کې ساری نه لری ضرورت بریښی چې نور هم معلوماتونه را ټول شی او یوه مکمله څېره یې د اړوندو اشخاصو په واسطه روښانه شی.

«د افغانستان د وخت اردو، سلطنتی کورنۍ او د اردو د عالی رتبه افسرانو د درملنی په موخه د یو مجهز مرکزی روغتون د ایجادولو مفکوره په کال ۱۳۴۴ کې دولتی مسئولو مقاماتو سره منځ ته راغله»[۱].

د دغه روغتون د جوړولو په خاطر د افغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ پروتوکول عقد شو چې د نوموړی هېواد مادی او تخنیکی مرستې سره په کال ۱۳۴۸ کې د مرکزی روغتون په نامه اعمار یې رسماً پیل شو.

د اردو د مرکزی روغتون (۴۰۰بستر) د ودانولو کار د وخت د دولتی حاکمیت د خاصی پاملرنی لاندې و او همیشه د دولتی مشرانو تر څارنی لاندې قرار درلود. لکه چې د ۱۳۵۱ کال د مرغومی په ۱۲ نیټه اعلحضرت محمد ظاهر شاه د افغانستان پاچا د دې روغتون د کار جریان وکوت. او محمد موسی شفیق صدراعظم هم د دې کال د مرغومی په ۱۹ نیټه د دې روغتون د کار د جریان څخه کتنه وکړه.

---

۱ - دوکتور سیاووش تاریخچه اورتوپیدی در افغانستان و جهان کابل ۲۰۰۶.

دغه موسسه چې د اردو مرکزی روغتون په نامه نومول شوی ده او د ځلور سوه بستریز روغتون هم ورته ویل کیده، خو د مرحوم تورنجنرال داکتر محمد قاسم عسکریار چې د اردو د صحی چارو ریاست بې پر غاړه و غوښتل یی چې دغه موسسه د طبی علومو اکادمی ونومول شی او تشکیل یې هم باید اکادمیک وی، خو شوروی سلاکار (پروفیسور شیشکین) چې د تشکیلاتی چارو د مرستی لپاره افغانستان ته راغلی و او مرحوم عبدالودود غفاری چې وروسته د دوکتورا او د پوهاند علمی درجی ته ورسید د سلاکار سره د ترجمان او تشکیلاتی چارو کې همکاری درلود، د مرحوم عسکریار او سلاکار ترمنځ د تشکیل په برخه کې اختلاف پیدا شو دا ځکه چې شوروی سلاکار د دولتینو د پروتوکول پر اساس ټینګار کاوه چې د روغتون په کچه یو تشکیل جوړ شی او بیا وروسته په تدریج سره اکادمی ته ارتقا وکړی. «د دغه اختلاف په پایله کې شوروی سلاکار یا دا چې پخپله خوښه خپل وطن ته ستون شو او یا دا چې د افغانستان څخه وویستل شو»[١].

کله چې مرحوم سردار محمد داود خان جمهوریت اعلان کړ د وطن پیاوړی جراح مرحوم جنرال داکتر نور محمد خلمی د اردو د روغتیایی چارو د رئیس په توګه وټاکل شو. مرحوم خلمی هم په دې عقیده و چې د روغتون تشکیل د اکادمی په څیر جوړ شی، هماغه و چې نوموړی د دفاع وزارت له لیاری د دولت ریاست ته یې پیشنهاد وکړ چې د روغتون په چوکاټ کې علمی – تحقیقاتی او تدریسی بیز فعال شی او د مسلحو قواو د طبی علومو اکادمی په نامه پخپل کامل مفهوم باندې تعدیل او تبدیل شی. هماغه و چې دولت دغه پیشنهاد قبول کړ او د روغتیایی چارو ریاست ته هدایت ورکړ شو ترڅو یو علمی کمیسیون جوړ شی او د هغه د علمی – تحقیقاتی او معالجوی د فعالیت طرز مطالعه شی او د کار په ختم کې د دفاع وزارت له خوا دولت ته یې وسپاری.

د کمیسیون په غړیتوب کې د عامی روغتیا، کابل پوهنتون پوهانو او د اردو د صحی ریاست مختلفو کته ګوریو مسلکی غړی او د اردو ځنی افسران هم شامل شول. او د دولت د ریاست له خوا د کمیسیون اعضا تائید او خپل کار باندې شروع وکړ.

د کمیسیون کار د ١٣٥۴ کال په نیمایی کې شروع شو چې د هری پنجشبی په ورځ د روغتون په اداری برخه کې فعالیت کاوه چې څه ناڅه یو کال یې په برکی ونیو.

---

١ - مجله صحت در افغانستان دوهمه ګڼه ١٣٨٧ لمریز کال ٢١مخ.

د دغه کمیسیون غړی په دې ډول و:

۱- مرحوم دګروال دوکتور نورمحمد خلمی – د اردو صحی چارو رئیس د کمیسیون رئیس.

۲- دګروال دوکتور محمد نعیم ننګرهاری – د اردو د ۱نمبر روغتون د داخلی څانګو سرداخله – غړی.

۳- دګرمن دوکتور عبدالغفور نورستانی – د اردو ۱نمبر روغتون سرجراح او د عمومی جراحی او صدری څانګی آمر – غړی.

۴- جګړن دوکتور عبدالمنیر شینواری – د اردو ۱نمبر روغتون د ولادی او نسایی متخصص – عضو.

۵- جګړن دوکتور محمد عمر عسکریار – د اردو ۱نمبر روغتون د سترګو متخصص او د سترګو څانګی مرستیال – عضو.

برسیره پردی نوموړی د صحی اسنادو په جوړولو او تعلیماتنامو او نورو اړوندو اسنادو په ټولولو کې د قدر وړ خدمت کړی دی.

۶- تورن دوکتور عبدالودود قیومی د اومی فرقی د ۵۵ غونډ سرطبیب او د روغتیایی کندک آمر – د کمیسیون سکرتر.

۷- دګروال دیپلوم انجینر عبدالقدیر نجرابی د روغتون د ساختمانی پروژی آمر – غړی.

۸- دوکتور عبدالباقی شالیزی د ۱نمبر روغتون د عقلی او عصبی متخصص – غړی.

هغه غیر نظامی پروفیسورانو چې د عامی روغتیا وزارت او د کابل د پوهنتون څخه په کمیسیون کې غړیتوب درلودل په لاندې ډول دی:

۱- پوهاند دوکتور محمد عثمان انوری (د عامی روغتیا پخوانی وزیر) د نسایی او ولادی پروفیسور او د طب پوهنځی استاد – غړی.

۲- دوکتور سید عبدالقادر بها د اناتومی پروفیسور د طب د پوهنځی استاد –غړی.

۳- پوهاند عبدالعزیز سراج د کوچنیانو پروفیسور د طب د پوهنځی استاد – غړی.

۴- دوکتور سید الف شاه غضنفر طب پوهنځی کې د بیوشمی استاد – غړی.

۵- پوهاند دوکتور محمدنادرعمر دفزیولوژی پروفیسور دطب پوهنځی استادغړی.

۶- پوهاند دوکتور محمد حبیب دل د طب پوهنځی فارمکولوژی استاد – غړی.

۷- دوکتور محمد رؤوف روشان د کوچنیانو د روغتون رئیس – غړی.

۸- دوکتور ضامن علی د علی آباد د صحی موسسو رئیس – غړی.

۹- دوکتور محمد نبی کامیار د وزیر اکبر خان روغتون رئیس – غړی.

همدارنګه د ۱۳۵۴ په نیمایي کې یو تعداد نور مسلکی غړی چې برسیره پر تشکیلاتی موضوعاتو باندې کار او مرستی کولی د خدمتی په توګه وغوښتل شول ترڅو د روغتون پر فعالیت، د اسنادو منځ ته راوړل، د ناروغانو دوسیه، تشخیصیه پانی، د طبی عینیاتو اکمال، د طبی سامان الاتو او دستګاو منتاژ، د صحی او لوژستیکی محاسبوی او غذایی رژیم چارو باندې کار وکړی چې په لومړی سرکې دغه متخصصین جذب شول دوکتور محمد عمر عسکریار، جګړن وترنر دوکتور غلام بهاءالدین نجرابی، جګړن فارمسست عبدالحی مومنی، د لوژستیک انجینر تورن غلام دستګیر، د تخنیک جګړن عبدالقیوم او جګړن عبدالوکیل نورستانی.

همدارنګه باید وویل شی چې د ساختمانی چارو د آمریت په تشکیل کې د فارمسست درانی، فارمسست الحاج عبدالله، بریدګی محمد عثمان او انجینر محمد صدیق حلیم هلی ځلی د قدر وړ دی.

د ۱۳۵۴ کال په نیمایي کې د شوروی اتحاد پنځه تنه مشاورین (د قوماندان، سرطبیب، سرجراح، فارمسی او نرسنګ) د تشکیلاتی او نورو اداری او مسلکی چارو لپاره افغانستان ته راغلل.

او په ۱۳۵۵ کال په لومړیو کې یو تعداد تکړه متخصصین د رهبری په برخه او د څانګو (دیپارتمنتونو) په خاصه توګه اداری او انضباطی په برخه کې د آمرینو په توګه وتاکل شول چې په هغو کې:

- ☜ مرحوم دګروال (وروسته جنرال) دوکتور نور محمد خلمی چې د روغتیایی چارو رئیس و د طبی علومو اکادمی د قوماندان په توګه.
- ☜ مرحوم دګروال دوکتور سورګل اسعدی د روغتون د سرطبیب په توګه.
- ☜ دګروال (وروسته جنرال) دوکتور محمد نعیم ننګرهاری د علمی مرستیال په توګه.
- ☜ دګروال دوکتور محمد انور نوزاد د اداری معاون په توګه.
- ☜ جګړن فارمسست عبدالحی مومنی د فارمسی او اکمالاتو د څانګی د آمر په توګه.

- جګړن وترنر دوکتور غلام بهاءالدین د غذایی رژیم د مسئول په توګه.
- تورن انجینر غلام دستګیر د اعاشی د آمر په توګه.
- جګړن عبدالقیوم د تخنیک د مدیر په توګه.
- جګړن عبدالوکیل نورستانی د انضباط د کندک د قوماندان په توګه.
- جګړن دین محمد د پیژند د مدیر په توګه.
- انجینر محمد صدیق حلیم د حفظ او مراقبت د آمر په توګه.
- دوکتور شیرزوی د تشخیص وظیفوی د څانګی آمر په توګه.
- دوکتور محمد عمر سلام د رادیولوژی د څانګی د آمر په توګه.
- دوکتور محمد ناصر نوابی د لابراتوارونو د آمر په توګه.

وروسته ورو ورو د معالجوی څانګو آمرین وټاکل شول او په تدریج سره تشکیل څه ناڅه ډک شو.

بالاخره د لړم د میاشتی په ۲۷ مه په کال ۱۳۵۵ کې د جمهور رئیس محمد داود، د عامی روغتیا وزیر مرحوم پوهاند دوکتور نظر محمد سکندر، د شوروی اتحاد د عامی روغتیا وزیر، د ملی دفاع وزیر، د کابینی غړو په ګډون د دوستی د دیوال څیرمی ته چې څلور تنه ناروغان د داخلی په څانګه کې بستر وو د نوار په قطع کولو سره رسماً افتتاح او په کار یې پیل وکړ.

د مرکزی روغتون په تشکیل کې ۲۷ څانګی (دیپارتمنتونه) موجود وو چې نه یواځی د اردو پرسونل یې تداوی کاوه بلکې د دولتی لوړ رتبه مامورین، د داخلی وزارت او ملی امنیت صعب العلاج ناروغان، د باندنی هېوادونو د کور دیپلوماتیکو غړو درملنه یې کاوه.

د جنګ په کلونو کې د دغه روغتون تشکیل تغیر موندلی له ۴۰۰ څخه تر ۱.۰۰۰ بسترو ته ارتقا ورکړ شوی او ځنی وختونه د ناروغانو تعداد ۱.۲۰۰ تنوته رسیدل.

د روغتون د فعالیدو سره جوخت ۲۵ تنه پروفیسوران اکادمیک او تکړه دوکتوران د شوروی اتحاد څخه د عقد شوی پروتوکول له مخی افغانستان ته راغلل چې عملاً د مسلکی کادرونو د روزنی په برخه کې مصروف وو چې د حربی مدرن طبابت د بنیاد ایښودونکو واقعی استادانو په توګه ورته ویلای شو.

هغه څه چې د یادونی وړ ده هغه د ښوونی او روزنی تحصیلی چاری او د نظامی طبابت پراختیا په مرکزی روغتون کې وو چې په ۱۳۵۷ کال د منځنی طب تعلیماتو کورس ایجادیدل و او په تدریج سره دغه کورس پراختیا وموند چې د طب د مسلک په ټولو رشتو کې متوسط پرسونل تربیه کړی او دغه لړۍ تر اوسه دوام لری.

همدارنګه د وری په ۲۵ مه ۱۳۵۷ کال په مرکزی روغتون کې د لمړی ځل د پاره علمی – میتودیکی کنفرانس جوړ شو چې دوه ورځی دوام وموند او په مختلفو رشتو کې ۳۵ مقالی ولوستلی شوی چې زمونږ د ملکی پوهانو، متخصصینو او داکترانو له خوا ډیر وستایل شو. دغه کنفرانس د عنعنی شکل یې ونیو او هر کال د روغتون کالنامه له چاپه راوځی چې په هغو کې د علمی کنفرانسونو مقالی او د نظامی طبابت مبرم مسایل پکې انعکاس موندلی دی.

د ۱۳۵۸ کال د غبرګولی په ۱۵مه مرکزی پولی کلنیک پرانستل شو چې د مرحوم جنرال داکتر آدم درمل هلی ځلی نه هیریدونکی دی.

په ۱۳۶۱ کال د کابل د طب په انستیتوت کې د حربی طبابت کافدرا پرانستل شوه چې د دغه کورس فارغان د صحی احتیاط ضابطانو په توګه وپیژندل شول او په دغه کافدار کې د مرکزی روغتون متخصصینو او پروفیسورانو تدریس کاوه.

د جدی ضرورتونو په اساس د وزیرانو شورا د ۱۳۶۴/۲/۲۳ مصوبی پر اساس نظامی طب پوهنځی د ملی دفاع وزارت په چوکاټ کې چې میتودیکی علمی او تدریسی چاری د دولتی طب د انستیتوت پر غاړه و پرانستل شو چې په لومړی سرکې پنځه څانګی (کافدراوی) لرلی.

په دې پوهنځی کې د پنځم او شپږم ټولګی شامل و چې د طب د انستیتوت د ځلورم صنف په تکمیلیدلو سره نظامی طب پوهنځی ته معرفی کیدل، په هر ټولګی کې ۱۰۰ تر ۱۲۰ پوری محصلین شامل وو چې ۴۰-۷۰ تنو پوری ملی دفاع وزارت، ۲۰-۳۰ تنو پوری د داخلی وزارت او ۱۰-۲۰ پوری محصلین د عمومی ملی امنیت وو.

د نظامی طب پوهنځی په پرانستلو او په پښودرولو کې د پرفیسور محمد موسی وردګ چې د دې موسسی قوماندان او د اورتوپیدی او تراوماتولوژی د کافدرا آمر هم و په دواړو برخو کې د نوموړی هلی ځلی نه هیریدونکی دی.

د دې د پاره چې په لوړو نظامی تحصیلی موسسو کې علمی کادرونه منځ ته راشی د وخت د انقلابی شورا د رئیسی هیئت د ۳۱۴- ۱۳۶۶/۹/۳ مصوبی پر اساس د مسلحو قواو د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د وسله وال پوځ د پوهنتونونو، اکادمیو او پوهنځیو د علمی کادرو د غړو د حقوقو او امتیازونو قانون توشیح شو.

په دغو لوړو تحصیلی موسسو کې د نظامی طب پوهنځی هم شامل و چې د قانون د اتمی مادی پر اساس پنځه تنه د پوهنځی استادان د ټاکل شویو نورمونو د پوره کولو سره د علمی درجی مستحق وپیژندل شول. د وزیرانو د شورا ۳۳۲- ۱۳۶۶/۱۲/۱۲ مصوبی پر اساس د پوهنتونونو، اکادمیو او پوهنځیو علمی کادرونو مقرره تصویب شوه چې د دی مقرری د محتوا پر اساس د پوهنځی استادان علمی درجی ته شاملیدل او ارتقایې کول.

څرنګه چې له یوی خوا د ځوانو داکترانو او نور طبی پرسونل لپاره د باندنیو هېوادونو د تحصیل امکانات له منځه لاړ، ضرورت و چې د مسلحو قواو د داکترانو د مسلکی پوهی د لوړتیا لپاره د اکمال تخصص پروګرام منځ ته راشی. همداو چې د وزیرانو شورا د ۳۴۵- مرغومی میاشت کال ۱۳۶۹ د مصوبی پر اساس د تخصص پروګرام د داخلی او جراحی څانګو لپاره منځ ته راغی.

د اکمال تخصص پروګرام او د روغتون ارتقا په اکادمی باندې د تورنجنرال پروفیسور دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل منډی رامنډی او هلی ځلی د طبی علومو اکادمی په ځلانده تاریخ کې به ثبت وی.

همدارنګه په همدې کال د وسله وال پوځ طبی علومو اکادمی «لایحه وظایف» د پوهنوال عبدالحی مومنی له خوا او د روغتیایی چارو رئیس جنرال دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل په لارښوونه تدوین چې د ډیرو معتبرو لوایحو او د خپلو شرایطو په نظر کې نیولو سره په ۱۳ فصلونو کې ټایپ او د اکمال تخصص پروګرام مصوبی سره یو ځای د طبی علومو اکادمی قوماندان جنرال پروفیسور دوکتور ولایت حبیبی ته د تطبیق د پاره وسپارل شو.

کله چې جنګونو شدت وموند او د کابل دولتی طبی انستیتوت د متخاصمو قواو د تصادم مرکز وګرزید نو د کابل طب انستیتوت د خپل ټول اداری او تدریسی تشکیل سره د ۱۳۷۱ کال په وروستیو کې د مسلحو قواو طبی علومو اکادمی ته انتقال شو. په دغه کار کې د پروفیسور وردک هلی ځلی د ستاینی وړ دی. په دغه ووخت کې پوهندوی محمد صدیق رازقی د

نظامی طب د تدریسی چارو مدیر په توګه دنده اجرا کوله چې د دواړو تدریسی چارو په هم آهنګی کې لوی نقش لوبولی دی.

د ۱۳۷۲ کال د غویی د میاشتی مشترکی جلسی چې طبی علومو اکادمی او دولتی طبی انستیتوت د رهبری ترمنځ وشوی د انستیتوت د استادانو د کمبود د خلا د ډکوالو له پاره یو تعداد نظامی استادان ور وپیژندل شول چې نه یواځی د پنځم او شپږم ټولګی درسونه یې مخی ته بیول بلکې هغه مضامین چې ملکی استادانو پرمخ بیوه دوی په غاړه واخستله په دی ترتیب د کابل د طب انستیتوت ټول نظری او عملی درسونه په طبی علومو اکادمی کې پرمخ بیول کیدل.

په دې وخت کې ضرورت و چې د نظامی طبی علومو اکادمی تشکیل کې تغیرات منځ ته راشی ترڅو وکړای شی د تخصص پروګرام، د نظامی طب پوهنځی او منځنی طبی تعلیماتو درسونه په ښه صورت سره پرمخ ولاړ شی. په دې توګه په کال ۱۳۷۲ کې د افغانستان د مسلحو قواو د طبی علومو اکادمی نوی تشکیل جوړ شو چې د پنځو څانګو په عوض یوویشت څانګی (دیپارتمنتونه) منځ ته راغلل. چې په دې برخه کې د مرحوم تورنجنرال دوکتور عبدالواسع رنجبر او ډګرجنرال دوکتور سهیلا صدیق لاس ته راوړنی د قدر وړ دی.

څرنګه چې جنګونو زور اخستی و اکادمی ونشو کړای چې په ۱۳۶۹ یا ۱۳۷۰ کال کې د اکمال تخصص پروګرام پیل کړی خو په کال ۱۳۷۹ کې لومړی دوره ځوان ډاکتران د جراحی او داخلی مختلفو څانګو کې په درسونو پیل وکړ چې په همدې کال کې د اکمال تخصص کوریکولم تدوین شو حال دا چې په دې وخت کې د عامی روغتیا وزارت د اکمال تخصص ریاست هیڅ کوم درسی کوریکولم نه درلود.

د کوریکولم په جوړولو کې ټولو استادانو ونډه لرله خو د پوهاند عبدالحی مومنی او علمی مرستیال جنرال پوهندوی داکتر محمد او د پروګرام په فعالولو کې د پوهنوال جنرال دوکتور محمد اسمعیل ذبیح هلی ځلی د ستاینی وړ دی.

د نوی نظام د راتګ سره په یوه اړخیزه توګه د نظامی طب پوهنځی د کابل د طبی پوهنتون له تشکیل څخه وغورځېد. حال دا چې همدا اوس اوس د سلو شاوخوا ځوان داکتران د لوړو تحصیلاتو وزارت له خوا طبی علومو اکادمی ته چې د ولایتونو د طبی پوهنځیو څخه فارغ کیږی معرفی شوی چې خپل د ستاژ دوره تیره کړی او همدارنګه د افغانستان د علومو

اکادمی علمی کادرونه د څیړنو د پاره نظامی طبی علومو اکادمی ته معرفی شوی او د یو پروتوکول له مخی دا لړۍ روانه ده.

څرنګه چې د نظامی طبی علومو اکادمی د عالی لوړ تخنیک څخه برخورداره دی نو د دغه مجبوریت له مخی په ۱۳۸۷ کال کې د لوړو زده کړو وزارت چاروکی او بالخاصه د کابل طبی علومو پوهنتون مجبور شول چې نظامی طبابت پوهنځی بیاورغول شی او له نیکه مرغه محصلین یې په درسونو پیل وکړ.

د طبی علومو اکادمی علمی غړی په لس هاو درسی، میتودیکی، درسی ممد، علمی او تحقیقی آثار مسلحو قواو او ټولنی ته وړاندی کړی دی.

د تخلیی سیستم او د زخمیانو او ناروغانو درملنه د نړیوالی روغتیایی سازمان پر پرنسیبونو صورت نیولی چې د هېواد عامی روغتیا کې یې له اهمیته ډک رول لوبولی دی.

د طبی علومو اکادمی د خپل د تاسیس څخه د ۲۸ کلونو په درشل کې ۲۳۵.۰۰۰ ټپیان او ناروغان معالجه کړی دی چې په سلو کې یې ۹۰ بیرته قطعاتو ته سوق شوی دی. د تلفاتو تعداد په وسطی ډول روغتون کې په سلو کې ۳.۵ دی چې د تلفاتو ډیر کم رقم ښئی.

د طبی علومو اکادمی د خپل تاسیس د پیل څخه تر ۱۳۸۲ کال پوری په مختلفو رشتو کې ۱۹ تنه د متخصص په توګه ۷۰۹ تنه ځوان داکتران او ۱.۰۴۶ تنه طبی منځنی پرسونل یې په مختلفو رشتو کې مسلحو قواو ته وړاندی کړی دی.

«در طی ۲۵ سال جنګ در حدود ۱۲ ملیون مریض، مصدوم و مجروح جهت تداوی به اکادمی علوم طبی مراجعه و بصورت سراپا و داخل بستر تحت تداوی قرار ګرفته اند و نزد تقریباً ۱۱۰.۰۰۰ مجروح، مصدوم و یا مریض عملیات های مختلف جراحی اجرا شده است. این کمیت بالا نشان دهنده حجم فعالیت های اکادمی علوم طبی را که در حقیقت تمام بار جنګ داخلی ۲۵ ساله را بدوش کشیده است. نشان میدهد»[۱].

په اوسنی حالت کې ډیر ښه مناسبات د طبی علومو اکادمی د عامی روغتیا وزارت، لوړو زده کړو وزارت په خاصه توګه د کابل طبی پوهنتون، د افغانستان د علومو اکادمی د طبی علومو مرکز سره لری او د

۱ - دوکتور سیاووش تاریخچه اورتوپیدی در افغانستان و جهان کابل ۲۰۰۶.

تجاربو د تعمیم او نیازمندو خلکوته د صحی خدماتو د لاښه عرضه کولو په خاطر متقابلو مرستو ته ادامه ورکوی.

د مسلحو قواو د طبی علومو اکادمی قوماندانان په لاندې معرفی کیږي:

۱- مرحوم جنرال دوکتور نور محمد خلمی ۱۳۵۲-۱۳۵۵

۲- جنرال دوکتور نیک محمد عزیزی ۱۳۵۵-۱۳۵۷

۳- مرحوم ډگرمن دوکتور محمد غنی اندړ ۱۳۵۷-۱۳۵۸

۴- جگړن عبدالحی مومنی برای مدت سه ماه

۵- جگړن دوکتور ولایت حبیبی ۱۳۵۸-۱۳۷۱

۶- پوهاند جنرال دوکتور محمد موسی وردگ ۱۳۷۱-۱۳۷۳

۷- جنرال دوکتور سهیلا صدیق ۱۳۷۳-۱۳۷۶

۸- ملا محمد شریف ۱۳۷۶-۱۳۸۱

۹- جنرال پوهندوی دوکتور عبدالرازق سیاووش ۱۳۸۱-۱۳۸۳

۱۰- دگرجنرال پروفیسور دوکتور عبدالقاسم احمدی ۱۳۸۳-۱۳۹۳

د طبی علومو اکادمی مرکزی پولی کلنیک د غبرگولی ۱۵ کال ۱۳۵۸ کې په فعالیت شروع وکړ او څرنگه چې دا موسسه له یوی خوا طبی علومو اکادمی پوری تړلی ده او له بلې خوا د درملنی خصوصیت یی هم فرق لری یعنی سروپا مریضان او زخمیان تشخیص، تداوی کوی او یا روغتونونو ته معرفی کوی نو ضرورت دی چې د دی موسسی په فعالیتونو څه ناڅه رڼا واچوله شی.

د پولی کلنیک آمریت اوس شل ځانگی لری چې تشکیل یی دری ځلی تغیر موندلی دی.

«په لومړی تشکیل کې یي: دوکتوران ۴۰تنه، نرس ۴۶تنه، پارامدیکل ۲۴تنه، سرباز ۱۸تنه، اجیران ۶۹تنه، مامور ۱تن، اداری افسران ۴ تنه، اداری پرکمشر ۳تنه او ټول پرسونل ۲۰۷تنه په

دویم تشکیل کې یي: دوکتوران ۳۲تنه، نرس ۲۸تنه، پارامدیکل ۳۳تنه، اجیران ۵۵تنه، مامورین ۲تنه، اداری افسران ۵تنه، درایور ۱تن، جمله پرسونل ۱۶۶تنه.

دریم تشکیل یي: دوکتوران ۲۷تنه، نرس ۲۶تنه، پارامدیکل ۲۰تنه، اجیران ۲۵تنه، دریور ۱تن ټول پرسونل ۹۹تنه»[۱].

د پولی کلنیک د تاسیس څخه تر ۱۳۸۶ کال پوری په لاندې ډول فعالیت کړی دی.

شمیر	کلونه	د ناروغانو شمیر	شمیر	کلونه	د ناروغانو شمیر	کتنی
۱	۱۳۵۸	۲۳۹.۲۸۸	۱۶	۱۳۷۳	۱۱۹.۳۵۵	
۲	۱۳۵۹	۲۵۳.۶۵۱	۱۷	۱۳۷۴	۱۳۹.۴۴۹	
۳	۱۳۶۰	۲۵۴.۳۴۸	۱۸	۱۳۷۵	۵۱.۱۵۶	
۴	۱۳۶۱	۲۲۲.۲۰۹	۱۹	۱۳۷۶	۸۳.۱۹۸	
۵	۱۳۶۲	۲۲۳.۴۰۵	۲۰	۱۳۷۷	۵۴.۹۱۲	
۶	۱۳۶۳	۲۲۴.۴۰۷	۲۱	۱۳۷۸	۵۴.۲۳۶	
۷	۱۳۶۴	۲۲۴.۶۰۳	۲۲	۱۳۷۹	۵۵.۸۷۹	
۸	۱۳۶۵	۲۱۷.۸۰۵	۲۳	۱۳۸۰	۱۰۹.۹۶۸	
۹	۱۳۶۶	۲۲۵.۴۸۴	۲۴	۱۳۸۱	۳۳.۶۶۲	
۱۰	۱۳۶۷	۱۹۴.۰۰۲	۲۵	۱۳۸۲	۵۱.۰۰۵	
۱۱	۱۳۶۸	۲۰۹.۰۷۰	۲۶	۱۳۸۳	۵۱.۸۵۴	
۱۲	۱۳۶۹	۱۹۳.۳۱۷	۲۷	۱۳۸۴	۵۱.۱۸۴	
۱۳	۱۳۷۰	۱۹۷.۴۱۲	۲۸	۱۳۸۵	۵۸.۶۶۶	
۱۴	۱۳۷۱	۱۱۶.۹۷۵	۲۹	۱۳۸۶	۸۱.۱۵۱	
۱۵	۱۳۷۲	۱۰۲.۲۱۹				

د وخت د تیریدلو سره د طبی علومو اکادمی پولی کلنیک کې د درملنی، معایناتو او د پرسونل په کړنو کې زیات تغیرات راغلی دی چې د ذکر کولو وړ دی.

- ☜ لومړنی د CTScan مـــاشین، د ITT لابراتوار، ECO د وهاج د کلنیک په همکاری سره تر هغه پوری چې د طبی علومو اکادمی په روغتون کې CTScan او MRI فعال شول.
- ☜ په هره پنجشبه کې د علمی کنفرانسونو پرمخ بیول او د ستاژیرانو سره په مختلفو څانګو د درسونو پرمخ بیول.
- ☜ د مجهز مشترک لابراتوار Eleza-PCR د اکادمی په روغتون او عامی روغتیا وزارت کې افتتاح چې د پرمختللی ماشینونو د

۱ - مجله اردو دریم ګڼه ۱۳۸۷ هجری شمسی کال او ۲۰۰۸ میلادی کال ۴۴مخ.

ریسرج لپاره د ایدز او زیړی ډولونو (HCV, HBS, HIV) د عامی روغتیا په مرسته د پولی کلنیک په چوکات کې.

- په ټولو څانګو په خاصه توګه د راجستریشن او د کلنیک آمریت کې کمپیوتری مکمل د Databese ایجاد چې د صحی مرستی او احصایوی ټول ارقام بنئی.
- د اکسریز دیجیتل ماشینونو نصب او د سراپا ناروغانو لپاره د التراسوند څانګی ایجادول.
- د غوږ او ستونی په څانګه کې د اوتوګرام ماشین نصبول.
- په هره څانګه کې د تشخیصی وسایلو نصبول.
- د وینی په بانک کې د مدرن ماشین آلات نصبول، د وینی د ساتنی په موخه کافی مواد تهیه کول او د وینی (HCV, HBS, HIV) ټول لابراتواری معاینات سرته رسول او د ملی اردو لیری قطعاتو ته د هغه لیږل.

پنځم څپرکی

د ملکی مدافعی عمومی ریاست روغتیایی څانګه

کله چې په افغانستان کې جنګ زور واخیست نونه یوازی انسانان تر ډیری سختی ضربی لاندې راغلل بلکې د هېواد مادی او معنوی شتمنۍ هم تر ډیری ناوړی حملی راغلی او فابریکی، کارخانی، فارمونه او نور له نابودۍ سره مخامخ شول.

د پورتنیو زیرمو د خوندی ساتلو په موخه د وخت دولت د ۱۳۶۰ کال په وروستیو کې تصمیم ونیو چې د افغانستان د ملی دفاع وزارت په چوکاټ کې د ملکی مدافعی عمومی ریاست تشکیل منځ ته راوړی. دغه ریاست دهېواد د تدافعی قدرت د پیاوړتیا په موخه منځ ته راغی چې بنسټیز اهداف یې عبارت وو له – په مسلحانه ډول د خلکو او تولیدی موسسو، زراعتی فارمونو او د کلو څخه دفاع او په محلاتو کې د دولتی حاکمیت ټینګول وو. په عین وخت کې ملکی مدافعه دنده درلودله ترڅو چې د حیواناتو، نباتاتو، ارتزاقی موادو، د اوبو منابعو او د اوبو رسولو شبکو د خوندی ساتلو په خاطر لازمی لاری چاری وسنجوی. د ملکی مدافعی بشری قواوی او وسایل د پورتنیو دندو د اجرا په خاطر او په مصیبت رسیدلو مناطقو او مرکزونو کې د نجات او رغونی چاری پرمخ بیولو کې مهارت ولری. په عین حال کې ملکی مدافعی ته اړین دی چې د دښمن ضرر رسوونکی وسایلو څخه د محافظی چاری دهېواد ټولو خلکو ته زده کړه ورکړی. او د خلکو په خاصه توګه د تولیدی موسسو او زراعتی فارمونو کارګرانو د روحی معنوی وضعی او د مورال د ارتقا (اوچتیا) په خاطر وسیع تبلیغی او ترویجی فعالیت وکړی.

باید په یاد ولرو چې د ملکی مدافعی اساسی، بنسټیزه او ډیره مهمه وظیفه د خلکو تحفظ دی، دا دنده په دې علت اساسی شمیرل کیږی چې دولت د انسان مواظبت او مراقبت ته په ځانګړی توګه تل پاملرنه لری.

دهېواد د خلکو، حیواناتو او نباتاتو مؤثر حفاظت د ملکی مدافعی اساسی دنده ده، چې د دغو چارو په پرمخ بیولو کې د کار استقراریت تامینیدل دی چې د ملی اقتصاد رشد باندې عمده نقش لری.

د پورتنیو ضرورتونو پر بنسټ په کال ۱۳۶۱ کې د حکومت تصمیم تحقق وموند او د مختلفو څانگو اړتیاو پر بنسټ د ملکی مدافعی عمومی ریاست په جوړښت کې د نورو څانگو په څنگ کې د «د روغتیا او وترنری مدیریت» تشکیل هم منځ ته راغی.

د ۱۳۶۱ کال د لړم په میاشت کې زه (ډگرمن عبدالحی مومنی) د ملی دفاع وزارت د لوژستیک عمومی ریاست د تفتیش د عمومی مدیریت څخه د ملکی مدافعی د روغتیا او وترنرۍ مدیریت د مدیر په توگه وټاکل شوم.

د ملکی مدافعی ریاست چې د ملی دفاع په چوکاټ کې منځ ته راغی نو اصلی کار یې د هېواد په فاربریکو، کارخانو او زراعتی فارمونو کې وو چې له یوی خوا دغه موسسی وکړای شی په مسقلانه ډول د ځان څخه دفاع وکړی د تولیدی موادو اندازه خپل نورم وساتی او په عین وخت کې مسلح قوتونه د هېواد د ساتنی چاری پرمخ بوزی.

د ملکی مدافعی موسسه د افغانستان په تاریخ کې د لومړی ځل له پاره منځ ته راغله. په دې توگه د دغی موسسی د اهدافو د پرمخ بیولو په کار کې باید د مسلحو قواو (ملی دفاع وزارت) تکړه او باتجربه کادرونه جذب شوی وای چې همداسی هم وشوه.

سره د دی چې د روغتیا او وترنرۍ مدیریت تشکیل پراخ ؤ خو ما تر وروستی یعنی د ۱۳۶۴ کال لیندی میاشتی پوری په یوازی توگه کارونه پرمخ بوتلل.

په کارخانو، فابریکو، زراعتی فارمونو او د معارف په لیسو کې د روغتیایي همکارانو جذب د پنځو تر اتو فیصده ټولو کارمندانو، کارگرانو او متعلمینو څخه صورت نیوه، د دوی اساسی دنده عبارت له د زخمیانو، مصیبت رسیدلو لټول، نجات ورکول، طبی لومړنی مرستی رسول او د هغو د انتقال او تخلیی کول روغتیایي کلینکونو ته وو.

په دې صورت اړین و چې ټولو تاسیساتو ته څو څو ځلی سفرونه سرته ورسیږی د روغتیایي واحدونو تشکیل جوړ او د زده کړی پروگرامونه یې ترتیب او هغو تاسیساتو کې چې کلنیک وجود نه درلود نوی کلنیک جوړ

او ټول کلنيکونه د طبی تجهيزاتو له کبله اکمال شی او همدارنګه روغتيايي کلنيکونه د نړدی روغتونونو سره د مرستی پروتوکولونه امضا شی ترڅو د تاسيساتو ټول ناروغان او زخميان ومنی او لازمی مرستی ورسره وکړی.

د مسلکی تجربی د لا ارتقا په خاطر په کال ۱۳۶۲-۱۲۶۳ کې دری مياشتی د سوق او اداری عالی کورس می په ماسکو کې واخيست.

د روغتيايي همکارانو د نظری د زده کړی په ځنګ کې عملی درسونو ته ډير ارزښت ورکول کيده او ځو ځو ځلی تطبيقاتونه يې اجرا کول. دوی ديری ښۍ تجربۍ لاس ته راوړۍ چې نه يوازی د خپلی موسسی مصيبت ځپلو سره مرستی کولی، بلکې په خپل استوګنځی يعنی کلو او بانډو کې هم د زخميانو او سوزول شويو سره په زړه پوری مرستی کړی دی.

د تشکيل پر اساس روغتيايی همکارانو پوستی د ۳-۵ کسو څخه جوړۍ شوي چې په مختلفو برخو کې د ضرورت پر اساس منځ ته راغلی او د لومړنی روغتيايی مرستی چانټی (روغتيايی چانټی) په مخصوص ځای کې ځړول شوی وو.

د ملکی مدافعی ټول مديريتونه پخپلو دندو کې ډير بريالی وو خو کله چې د شوروی اتحاد سياست تغيير وموند دغه موسسه هم کورنيو چارو وزارت ته د دفاع خودی په نامه يوه رياست ته وسپارله شوه چې ورو ورو له منځه ولاړه.

خو که دغه رياست پخپل حال پاتی شوی وای دهېواد وروستيو جنګونو کې به يی ډير ستر کارونه په خاصه توګه طب، انجينری (ماين پاکی) د موسسو څخه په دفاع کې سرته رسولی وای.

بايد يادونه وشی چې يو عنوان کتاب می د «خدمات صحيه مدافعه ملکی جمهوری دموکراتيک افغانستان» په نوم په ۱۴۵ مخونو او څوارلسو څپرکيو کې تاليف او د ملی دفاع وزارت په مطبعه کې چاپ کړ.

دا کتاب په ډيره ساده دری ژبه ليکل شوی چې اکثره خلک او حتی کورنيو کې هم ورڅخه ډيره استفاده کيدلای شی.

مخکې تردی چې ملکی مدافعی رياست داخلی وزارت ته تسليم شی زه د ضرورت پر اساس په کال ۱۳۶۴ کې د نظامی طب پوهنځی چې د کابل د طب انستيتوت پوری تړاو درلود، د استاد په توګه وټاکل شوم.

د دې د پاره چې د روغتیا او وترنری مدیریت په هکله معلومات حاصل شی دا دی په شماتیک ډول د البوم په توگه د هغه وظایف، جوړښت (تشکیلات) او داسی نور مسایل وړاندی کیږی.

هدف:

د روغتیایی واحدونو اماده کول (زده کړه)، د حیواناتو، نباتاتو او د هغو وسایل محافظه کول، د روغتیایی چارو او حیواناتو او نباتاتو د حفاظت په تامینولو کې هغوی د امادگی په وضعیت ساتل، د ساری ناروغیو د منځ ته راتگ څخه مخنیوی، د اوسیدونکي د کار قابلیت په بیړه سره احیا کول، د کارگرانو او د هغو کورنیو، کارمندانو، دهقانانو او دهېواد خلکو ته روغتیایی مرستی رسول، روغتیایي تطهیر سرته رسول، او د څښلو اوبو د منابعو، غذایي موادو، واښه (علیق) د کیمیاوی او باکترلوژیکی موادو د تاثیراتو کنترولول.

I- د ملکی مدافعی د روغتیایی چارو دندی

د صلحی په وخت کې	د احضاراتیو په وخت کې (د دښمن د حملی خطر)	د دښمن د حملی او د هغه څخه وروسته (کله چې د ضایعاتو مراکز منځ ته راځي)
۱- د سوق او اداری ارګانونو منځ ته راوړل او احضارول. ۲- معالجوی او وقایوی تدابیرو نیول. ۳- د اهالیو روغتیایی تامیناتو پلان ګذاری. ۴- د روغتیایی مرتبه واحدونو ښوونه او روزنه او د هغو اماده کول دندو ته. ۵- دهیواد ټول خلک آماده کول د لومړنی روغتیایی مرستی رسول خپل ځان او متقابل ته. ۶- خلکو ته د انفرادی تحفظ لپاره د طبی وسایلو تامینول او د هغو څخه په عملی توګه استفاده کول. ۷- د طبی لوازمو او نورو ضروری وسایلو په واسطه د روغتیایی موسساتو تجهیزول. ۸- د خلکو روحی مورال ته ارتقا ورکول. ۹- د جګړی لپاره د بشری قواو او وسایلو امادګی نیول. ۱۰- د درملو ذخیری، طبی سامان او لوازم او وقایوی موادو د دښمن د عصری وسلو د تخریب څخه ساتنه او محافظه.	۱- د روغتیایی مرتبه واحدونو او سوق او اداری ارګانونو د اماده باش په حالت کې ساتل. ۲- د ټولو وسایلو، درمل او مالزمی تحفظ د کیمیاوی او باکترلوژیکی موادو له تاثیراتو څخه. ۳- د ساری ناروغیو د وقایی او ضد په موخه کومپلکسی تدابیرو نیول. ۴- د ضایعاتو له مراکزو څخه لیری د روغتیایی موسساتو تاسیس. ۵- د روغتیایی تدابیرو پلانونه تدقیقول. ۶- د مصیبت رسیدلو د تخلیی او درملنی لپاره تامینات. ۷- د مرتبه واحدونو د وظایفو توضیح او د هغو د وظایفو لپاره تقسیمول.	۱- د منځ ته راغلی وضعیت ارزیابی او قیمت ورکول. ۲- د روغتیایی کشف ترتیب او تنظیم. ۳- د ضایعاتو مراکزو ته د واحدونو د انتقال ترتیب او تظیم. ۴- د مرتبه واحدونو او صحی موسساتو د طبی کومکونو د تطبیق لپاره د هغو فعالیت ترتیب او تنظیم. ۵- د آسیب رسیدلو د تخلیی ترتیب او تنظیم. ۶- د کیمیاوی او بیولوژیکی موادو د مسمومیت څخه د غذایی موادو او اوبو کنترول. ۷- د تخریب شوی محلاتو او د حرکت په خط السیر کې د اپیدیمی ضد اقداماتو نیول. ۸- د کیمیاوی او بیولوژیکی موادو له تاثیر څخه د خلکو، ناروغانو، طبی موسسو، مرتبه واحدونو د محافظوی تدابیرو اتخاذول.

نوت:

د قواو احضاراتو ته راتگ ساعتونه:

- ☜ د روغتیایی چارو قرارگاوی د ۲-۴ ساعتونو په موده کې.
- ☜ د روغتونو د اداری بیز د ۱۲ ساعتونه په موده کې.
- ☜ د روغتیایی مرتبه واحدونو عالی احضاراتو لپاره د ۶-۸ ساعتونو په موده کې.
- ☜ د اپیدیمولوژی او روغتیایی استیشنونو او لابراتواری کنترول لپاره ۳-۴ ساعتو په موده کې.
- ☜ د روغتیایی طبی لوازمو او درملو تحفظ په ۱۲ ساعتونو کې.

II- د ملکی مدافعی د روغتیایی او وترنری مدیریت جوړښت



III- د ملکی مدافعی صحی واحدونو تشکیل او امکانات

۱- روغتیایی پوسته: تشکیل ۳-۴ تنه، تجهیزات- صحی چانته، صحی تسکره، دکش تسمه، د کیمیا ضد انفرادی پاکت، درملتونکه، ګاز ماسکه.

امکانات: په یو ساعت کې د لسو آسیب رسیدلو ته لومړنی مرستو رسول.

۲- روغتیایی همکاران: ۲۴ تنه، تجهیزات- صحی چانته، صحی تسکره، دکش تسمه، د کیمیا ضد انفرادی پاکت، درملتونکه، ګاز ماسکه.

امکانات: په یو ساعت کې پنځوسو آسیب رسیدلو ته لومړنی طبی مرستی رسول.

۳- د روغتیایی همکارانو مفرزه: ۱۲۵ تنه ټول پاسنی تجهیزات.

امکانات: په یو ساعت کې د صحی همکارانو په پرتله پنځه برابره لومړنی طبی مرستی رسول.

۴- د لومړنی طبی مرستو مفرزه: تشکیل ۱۴۶ تنه، تجهیزات- قبول او تصنیف څانګه، تخلیی څانګه، صحی همکارانو څانګه، تهطیر څانګه، تجرید څانګه، بستر څانګه، درملتون، لابراتوار، مادی او تخنیکی څانګه.

امکانات: په ۲۴ ساعتو کې لومړنی داکتری مرستی د ۱۰۰۰ تنو آسیب رسیدلو لپاره.

۵- تخصصی روغتیایي بریګاد: تشکیل ۵ تنه- د هغه دنده لازمی مشوری ورکول دوکتورانو، طبی تخصصی مرستی او روغتونونو ته.

۶- تخصصی روغتیایی مفرزه: تشکیل ۴۲ تنه- پورتنی دندی لری.

۷- ګرځنده اپیدیمکی ضد مفرزه: تشکیل ۶۵ تنه.

امکانات: په لسو ساعتونو کې په هغه ساحه کې چې ۲۰-۲۵ زره نفوس ولری ضد اپیدیمکی اقداماتو اجرا، همدارنګه د ۱۴۴۰-۲۱۶۰ مصابینو وینځل، د ۲۱۰-۴۲۰ لباس واحدونو دیزانفکشن او په ۲۴ ساعتو کې د محیط څخه ۳۰ نمونی اخستل.

۸- د ساری ناروغیو ضد تخصصی بریګاد: تشکیل یې ۳۰ تنه. ځنی اقدامات اجرا کوی چې د کولرا، کوی او نور آسیبونو خنثی کول دی همدارنګه د ساری ناروغیو د عامل تثبیتول دی.

امکانات: په یوه شپه او ورځ کې ۲۵ نمونی تجزیه او تحلیلوی او په پنځه شپو ورځو کې ۴۵ نمونی ارزیابی کوی.

۹- ګرځنده ساری روغتون: تشکیل ۱۳۸ تنه. یو لږ تشخیصی او معالجوی ځانګی لری.

امکانات: په یوه میاشت کې ۲۰۰ ساری ناروغان تداوی کوی. په خطرناکه ساری منطقه کې ۱۰۰ تنه مصاب قبلولای شی.

۱۰- اپیدیمولوژی کشف ګروپ: تشکیل ۳ تنه. تجهیزات یې په کامپلت کې د نمونی د اخستلو لپاره لوازم.

امکانات: په یوه ساعت کې کولای شی دوه کیلو متره مربع ساحه تدقیق کړی او د دی ناحیې څخه لس نمونی واخلی.

۱۱- د روغتیایی ترانسپورت مفرزه: تشکیل ۱۹۰-۲۲۶تنه. تجهیزات-۹۰ عراده موټر.

امکانات: په یو سفر کې کولای شی چې ۱۰۰۰ تنه آسیب رسیدل انتقال کړی.

۱۲- ترانسپورتی قطار: تشکیل ۶۱-۷۳. تجهیزات ۲۴-۳۰ عراده موټر.

امکانات: په یو ځلی کولای شی ۳۵۰ تنه آسیب رسیدل انتقال کړی.

۱۳- روغتیایی هوایی کنډک: ۱۰ طیاری چې مختلف مارکونه لری او آسیب رسیدلو ناروغان اړوندو مراکزو ته تخلیه کوی.

IV- د معالجوی او تخلیوی د تامینولو بنسټیز پرنسیبونه

I- په دوو مرحلو کې د طبی تخلیې قدمی موجودیت:

- په لومړی مرحله کې یوازی لومړنی طبی مرستی، د دوکتوری نه مخکی او د دوکتوری مرستو اجرا کول – دغه مرستی د صحی همکارانو، د صحی همکارانو مفرزه، د لومړنی طبی مرستی مفرزه، روغتونونه او هغه روغتیایی موسسی چې د آسیب لیدلو منطقو کې روغی پاتی شویدی اجرا کیږی.

- په دویمه مرحله کې طبی تخصصی مرستی ترسره کیږی چې په روغتونونو کې اجرا کیږی.

II- دریمه مرحله یې روغتیایی تخلیوی قدمی. دری ډوله طبی مرستی سرته رسیږي:

- لومړنی روغتیایی مرستی.
- لومړنی دوکتوری مرستی.
- تخصصی مرستی.

III- هر ډول روغتیایی مرستی باید په معیین وخت او معیین حجم سره اجرا شی. مثلاً لومړنی طبی مرستی د ضایعاتو په مرکزونو کې د لسو ساعتونو څخه وروسته اجرا نه شی. دوکتوری مرستی د ۲۴ ساعتو څخه ناوخته صورت و نه مومی او تخصصی طبی مرستی د ۲-۳ ورځو څخه په تاخیر کې صورت و نه مومي: یعنی لومړنی طبی مرستی په لسو ساعتو، دوکتوری په ۲۴ ساعتو او تخصصی طبی مرستی په ۲-۳ ورځو کې تطبیق شی.

IV- د هری مرحلی دندی باید معیین وی او د هغه مراعاتول په بعدی مرحلو کې- په لومړنی طبی مرستی، دوکتوری او تخصصی کې هر یو یې باید خپل دندی د صلاحیت په حدودو کې سرته ورسوی.

۷- د ملی اقتصاد په صحی مرکزونو او صحی معالجوی موسساتو کې د روغتیایی عاجلی مرستی ترتیب او تنظیم

د طبی مرستو ډولونه او د تطبیق ځایونه	د عاجلو طبی مرستو د تطبیق اساسی پرنسیبونه
۱- لومړنی طبی مرستی : لومړنی طبی مرستی د حادثی د منځ ته راتلو په محل کې صورت مومی. تجهیزات: د صحی چانته، تسکره، میزابی. د لومړنی طبی مرستو حجم: پخپله د ځان سره مرسته، متقابله مرسته او د صحی همکار په موجودیت کې د مؤقتی خونریزی توقف، د اسفکسی له منځه وړل، د کسرونو تثبیتول د تختو یا میزابو په واسطه، د ریوی قلبی مجددی احیا مرستی (مصنوعی تنفس او د زړه ترلی مساژ)، د پانسمان ایښودل.	۱- لومړنی طبی مرستی په جرحه (زخم)، د هډوکو کسر (مات شوی)، ترضیض (ضربی)، تسمم، د زړه او تنفس توقف کې اجرا کیږی چې دا مرستی کیدای شی پخپله شخص یا متقابل لوری او یا صحی همکار له لوری عملی شی.
۲- د دوکتوری نه مخکی او دوکتوری روغتیایی مرستی د انتقال او تخلیی په لارو کې تر روغتیایی مرکز پوری. تجهیزات: د روغتیا موتر، د صحیی چانته، طبی سامان و مالزمی، او ستندردی میزابی.	۲- معالجوی او یا روغتیایی مرکزونو ته د عاجلی تخلیی او انتقال چاری تنظیمول. د تخلیی او انتقال په وخت د حیاتی مهمو اعضاو د درملو په تطبیق سره محافظه کول. لکه د زړه مقوی درمل، انلجزیکونه او داسی نور.
۳- د موسسی په صحی مرکز کې لومړنی دوکتوری مرستی. تجهیزات: د عاجلو درملو الماری، د مصنوعی تنفس دستگاه، د تراخیوتومی سامان، کاتدون، پونکسیون پلورا، نقل الدم درملنه او نور په مکمل ډول آماده اوسی.	۳- په عاجله توگه لومړنی دوکتوری طبی مرستی د پانسمان، پیچکاری کولو او یا د دوکتور په کوټه کې د آسیب رسیدلو د بعدی تخلیی لپاره د هغه د قدرت لوړوالی لپاره تدابیر نیول کیږی. د عاجلو طبی مرستو حجم: د حادو، تسمماتو او ترضیضاتو ناروغیو عاجلو مرستو تابلو سره توافق وکړی. طبیب باید خارجی خونریزی ته توقف ورکړی، انتوبیشن، تراخیوتومی، وریدی زرقی محلولاتو تطبیق، ترانسپورتی تثبیت باید اجرا کړای شی. او همدارنگه د زړه- سږو بیارغونه او بعدی تخلیوی تدابیر په ښه صورت سره اجرا کړای شی.

د طبی مرستو ډولونه او د تطبیق ځایونه	د عاجلو طبی مرستو د تطبیق اساسی پرنسیبونه
۴- د تخلیی په لاره کې تر معالجوی موسسو پوری د طبیب مرسته.	۴- د مصددمینو، مجروحینو او ناروغانو عاجله تخلیه معالجوی موسسو ته په روغتیایی موتر (امبولانس) کې چې د درملو کامپلیت، هغه سامان آلات چې د تخصصی او اختصاصی مرستو لپاره په کار راځی مجهز وی، او په مختلفو وختونو کې د هغو څخه استفاده وکړای شی، تخلیه شی.
۵- روغتیایی تخصصی او اختصاصی مرستی: د روغتیایی تر ټولو لوړه مرسته ده چې د متخصصینو له خوا اجرا کیږی. د دغی مرستی رسولو په وخت کې د مخصوصو تجهیزاتو څخه کار اخستل کیږی. دغه مرستی د دویمی مرحلی د طبی مرستو د تطبیق پوری اړه لری چې د روغتونونو په بیز او روغتیایی موسسو کې اجرا کیږی. په اوسنی شرایطو کې چې د وګړو تخلیه صورت نه نیسی، نو د ولایاتو او زونونو او کابل ښار د روغتونونو څخه استفاده کیږی.	۵- لاندې دندی لری: - قبول، تصنیف او تخصصی مرستی رسول. - د دوز یمتری کنترول اجرا کول او د اسیب رسیدلو ته روغتیایی تطهیر پرمخ بیول. - د ساری ناروغانو معلومول، تجریدول او د هغه تخلیه کول انتانی روغتونونو ته.

VI- د نباتاتو او حیواناتو د حفاظی تشکیلاتی روغتیایی اورګانونه



د حیواناتو د تحفظ تیم

د تیم قوماندان وترنر			
تامیناتو پوسته	د حیواناتو د تحفظ څانګي	وترنری پوسته	د وترنری کشف پوسته
۶	۳×۱۳	۳	۳
قوماندان-۱	قوماندان-۱	قوماندان-۱	قوماندان معاون وترنر
دوزیمتریست-۲	د حیواناتو روزونکي-۱۱	سنیتار-۲	لابرانت-۱
مادی معاون-۱	دریور دوزیمتر-۱		سنیتار-۱
دریور-۱	دیزانفکشن دستگاه-۱		دریور-۱
تراکتوریست-۱	د اوبو تانک-۱		جیب-۱
لاري-۱	په لسو ساعتونو موده کي: - واکسناسیون ۲۰۰-۳۰۰ راس حیوان - وترنری تطهیر ۱۶۰-۲۰۰ راس - د طویلی پاک کاری ۱۰۰۰۰ متر مکعبه - د طویلو گرمتیک کول ۲۰۰۰-۴۰۰۰ متر مکعب		تول پرسونل-۴
تراکتور-۱			جیب-۱
پرسونل-۵۰ تنه			
تخنیک-۷واحد			

د حیواناتو د تحفظ مفرزه	
تامیناتو پوسته	د مفرزی قوماندان وترنر -۱
۶	۳×۸
قوماندان-۱	د حیواناتو د تحفظ څانگی
کیمیادوزیمتر-۲	قوماندان-۱
د اکمالاتو معاون-۱	پرسونل-۷
لاري-۱	د لسو ساعتو په موده کي: - واکسین ۱۵۰۰ راس - تداوی مرستي۴۰۰ راس - د حیواناتو تطهیر ۱۶۰-۲۰۰ راس - وترنری تصنیف ۵۰۰-۶۰۰ راس - دیزانفکشن، دیگازاسیون او دیزاکیتواسیون ۴۰۰۰ متر مربع
جیب-۲	
پرسونل-۳۲	
تخنیک-۲	

وترنری تخصصی گروپ						
معاون		د گروپ قوماندان				تامیناتو پوسته
داکتر وترنر-۱		دوکتور وترنر-۱				۵
پوستي						قوماندان-۱
ایپیدمي	۳	اکسپرتیز	رادیو لوژي	توکسیکولوژي	باکترلوژي	دوزیمتریست-۲
داکتر وترنر-۱	پارازیتولوژي	روغتیایی وترنر	داکتر وترنر-۱	داکتر وترنري-۱	داکتر وترنر-۱	دریور-۲
لابرانت-۱	داکتروترنر-۱	داکتر وترنر-۱	لابرانت-۱	لابرانت-۱	لابرانت-۱	لاري-۱
وترنر-۱	لابرانت-۱	لابرانت-۱	دوزیمتریست-۱	وترنر-۱	سنیتار-۱	جیب-۱
	وترنر-۱	وترنر-۱				
پرسونل-۲۵						
وسایط-۳						
په لسوساعتونو کې تشخیص او معاینه: - باکترلوژی ۸-۱۰ نمونی - رادیولوژی ۵۰ نمونی - سمی ۱۰-۱۵ نمونی						

د نباتاتو د تحفظ تیم		
د نباتاتو پوسته	د نباتاتو د تحفظ ځانگی	د نباتی ناروغیو د کشف پوسته
۶	۳×۱۴	۳
قوماندان -۱	قوماندان اگرونوم	پوستی قوماندان اگرونوم
دوزیمتریست -۱		لابرانت -۱
معتمد -۱	قوماندان -۱	کارگر -۱
دریور -۱	میخانیک -۱	دریور -۱
حمال -۱	دهقان -۱	جیب -۱
لاری -۱	تراکتور -۱	په لسو ساعتونو کې: ۳۰ نمونی اخلی ۲-۳ فارمونه کنترولولای شي
	ایروزول دستگاه -۱	
پرسونل -۵۰		
تراکتور -۳		
ایروزول اله -۳		
لاری -۳		
په لسو ساعتونو کې: - د دیپوگانو گرمتیک کول ۱۵۰۰-۲۰۰۰ متر مکعبه - کیمیاوی تطهیر ۱۴۰ زراعتی هکتار - دیپوگانو غیر سمی کول ۱۰۰۰۰ متر مکعبه		

د نباتاتو د تخصصی تحفظ ګروپ

تامیناتو پوسته	قوماندان اګرونوم					مرستیال اګرونوم
۵	پوستی					
قوماندان -۱	اګرو کیمیاوي	رادیولوژي	توکسیکولوژي	اکتومولوژي	فیتوتولوژي	
دوزیمتریست -۱	۳	۳	۳	۳	۶	
تامیناتو معاون -۱	قوماندان اګرونوم -۱	قوماندان اګرونوم -۱	قوماندان -۱	قوماندان -۱	قوماندان اګرونوم -۱	
دریور -۱	اګرونوم -۱	اګرونوم -۱	اګرونوم -۱	لابرانت -۱	اګرونوم -۱	
لاری -۱	لابرانت -۱	لابرانت -۱	لابرانت -۱	تکنیشن -۳	لابرانت -۱	
جیپ -۱	تکنیشن -۱	تکنیشن -۱	تکنیشن -۱		تکنیشن -۳	
پرسونل -۲۵						
تخنیک -۲						

په لسو ساعتونو کې:
- د سمی موادو تشخیص او معاینه ۱۰ نمونی
- باکترلوژی ۱۰ نمونی
- ریاکتیف ۲۵ نمونی

د نباتاتو د تحفظ بریګاد

تامیناتو پوسته	قوماندان
۶	اګرونومیت - معلم
قوماندان -۱	د نباتاتو د تحفظ ځانګی
مادی مرستیال -۱	۳×۸
دریور -۱	قوماندان اګرونومیت -۱
تراکتوریست -۱	پرسونل -۷
دوزیمتریست -۱	
لاری موتر -۱	
پرسونل -۳۱	
تخنیک -۵ واحده	

په لسو ساعتونو په مدت کې:
۱۰۰۰-۱۵۰۰ متر مکعبو د دیپوګانو ګرمتیک کول
تر ۷۰ هکتاره ځمکه کیمیاوی تطهیر

VII- د حیواناتو پر عضویت ېباندی د کیمیاوی موادو تاثیر او د لومړنیو طبی مرستو تطبیقول

کتنی	پسیکوشمیک	ساه لنډی	عمومی	جلدی	د اعصابو فلج	
۷	۶	۵	۴	۳	۲	۱
	B-Z	فوسگین، دی فوسگین	اسید سینل	ایپریت، آزوت لرونکی ایپریت او لیوزیت	زرین، زمان تابون، ۷ گاز	سمی مواد
	د حیواناتو ټول اشکال متاژر کوی (په انسان کې د تنفسی له لاري)	د سږو او پوستکی له لاری ټول حیوانات متاژر کوي	د جلد او سږو له لاری د حیواناتو ټول اشکال متاژر کوي	د پوستکی له لاری د حیواناتو ټول اشکال متضرر کوی	په عضویت کې د هغه د انتشار په صورت کې د سره کریواتو تخریب او د مرکزی عصبی سیستم تخریب منځ ته راوړي	د پورتنی موادو تخریبی تاثیر (مسمومیت)
	پر عصبی مرکزی سیستم تاثیر چې د هغه په اثر موقتی روحی تشوشات منځ ته راځي	د سږو او ودم، دعصبی سیستم تخریب (د واگوس عصب) تماکو ته علاقه	ساه لنډی، د وینی فشار لوړوالی، د حدقی توسع، تکی کار دی، صرع، د تنفسی مرکز فلج کیدل	مخفی دوریی ۱-۸ ساعتو نا آرامی، د پوستکی هغه برخی نیکروز چې مواد پری لویدلی وی او د عصبی مرکزی سیستم متاژر کیدل	د قرنیی وچوالی، دهشت، ویره او انحطاط، د سږو تشنج، د زړه د ضربان سرعت، د وینی د فشار لوړوالی او صرع	د مسمومیت علایم
	غیر مقاوم	غیر مقاوم	لږ مقاوم	مقاوم	اوړی څو اونۍ ژمی یوه اونۍ	د موادو د مقاومت درجه
		- ۵% د وینی معادل پلازما مایعات - ۱۰% کلسیم کلوراید - لوبلین - اوکسیجن او داسی نور	- امیل نیتریت - پروپیل نیتریت - سودیم نایتریت انتی دوت	د ۱۰% یو نیتول او ضد ایپریت پوماد انتی دوت	د اتروپین او K۶۵ انتی دوتونه	لومړنی طبی مرستی تطبیق

VIII- پر نباتاتو د کیمیاوی موادو تاثیر

دی سیکانت ها Disicants		دی فلویانت ها Difluants		ادویه ضد گیاهان طفیلی Gerbecides				مواد کیمیاوي
سودیم ارسیند	پنتاکلورفینول	بوتیفوس	فولکس (میرفوس)	پیکلورام	پرکوات (گراموکسان)	فلورینول	اسید کوکودیل	
پنبه او نور	پنبه او نور	پنبه، لبلبو او نور	پنبه او نور	لبلبو، انگور، پنبه، سابه	تخم لرونکی بوټی (حبوبات)	لبلبو، سابه، آفتاب پرست گل، تماکو، انگور، او تخم لرونکی ونی	ټول نباتات په خاصه توگه د وریجی دانی ډیری حساسی دي	مسمومیت (تخریب کوونکی تاثیر)
د پانو کوچنی کیدل او وچیدل	د پانو کوچنی کیدل او وچیدل	د پانو وچیدل او توئیدل	پانی خاکی رنگ نیسي	د پانو کوچنی کیدل او غیر منظم کیدل	د پانو ژر وچیدل، پانی ژیړیږي	د پانو عرض کمیدل، پانی غیر مستقیم کیږی او گل ژر صورت نه نیسی	پانی ډیر ژر وچیږی او توئیږي	د تخریب علایم (مسمومیت)
مقاوم	غیر مقاوم	غیر مقاوم	غیر مقاوم	مقاوم پر حبوباتو تاثیر کوي	غیر مقاوم	غیر مقاوم	په خاوره کی مقاومت ۲-۳ کاله (د وریجو لپاره)	د موادو د مقاومت درجه
ډیر قوی سمی دي	سمی دي	متوسط سمی دي	متوسط سمی دي	لږ سمی دی	قوی سمی دي	لږ سمی دي	سمی دي	د انسان او حیوان لپاره سمی والي

شېرم ځپرکی

د ۱۳۸۰ کال راهیسی د نظامی طبابت څرنګوالی

د طالبانو له ماتی څخه وروسته د نوی نظام د راتګ سره په ملی دفاع وزارت کې د تشکیلاتو له نظره بنسټیز بدلون راغی چې بالترتیب په ریاستونو کې او ملی اردو تشکیلاتو کې هم بدلون راغی چې د ملی اردو د روغتیایی چارو ریاست په تشکیل کې په کلی توګه بدلون راغی او نوی تشکیل یې په ښنوو درید.

هغه څه چې د اردو په هکله وویل شی هغه دا چې بلوک، تولی، کندک، لوا او قول اردو تشکیل په نظر کې نیول شویدی چې په لوا کې د تامیناتو یو کندک موجود دی چې په هغه کې یو تولی صحی چارو پوری ارتباط لری.

قول اردوګانو ته څېرمه د زون (ساحوی) روغتونونه د ۱۰۰ بسترو په تشکیل کې په فعالیت بوخت دی، او په ګارنیزونونو کې صحی کلنیکونه فعالیت لری.

همدارنګه د کابل په ښار کې نظامی طبی علومو اکادمی موجوده ده چې د هغه په تشکیل کې بدلون راغلی او د بسترو تعداد یې ۶۰۰ ته رسیږی او دویم نمبر روغتون د ضمیموی روغتون په توګه طبی علومو اکادمی پوری تړاو لری.

د طبی علومو اکادمی روغتون او نور روغتونونه او صحی مرکزونه بیارغول شوی دی او د مدرن طبی تخنیک سره مجهز شوی دی چې په افغانستان کې ساری نه لری. همدارنګه په دې وروستیو کې د تیلی مدیسن سیستم چې د لېری څخه درملنه صورت مومی هم فعال شوی دی.

په طبی علومو اکادمی کې اوس د منځنی طب کورسونه او د اکمال تخصص پروګرام په بریالی سره مخ په وړاندی روان دی او له نیکه مرغه

په دې وروستیو کې (د ۱۳۸۷ کال د لړم د میاشتې) نظامی طبی پوهنځی وروسته د څو کلونو ځنډ څخه بیرته په فعالیت شروع وکړ.

هغه څه چې د یادولو وړ دی هغه د صحی سربازانو (میدیک) روزنه ده چې په پخوا کلونو کې په فرقو کې داسی پرسونل روزل کیده، خو د نوی نظام د راتگ سره هغه سربازان چې دولسم ټولگی یې لوستلی وی د کابل نظامی تعلیمی مرکز کې څو موده لمړنی دوره تیروی او بیا د طبی علومو په اکادمی کې تر روزنی لاندی نیول کیږی او د اړوندو قطعاتو د ضرورت په اساس تقسیمیږی. د صحی سربازانو (میدیکانو) د ښی روزنی له پاره یو کتاب چې «طب عاجل تکتیکی» نومیږی په کال ۱۳۸۲ کې له چاپه راوتلی دی.

د قابلیت بدنیه تعلیماتنامه چې په کال ۱۳۶۲ کې د تطبیق لاندی نیول شوی وه په جنگی شرایطو کې ډیره ښه تعلیماتنامه وه، خو وروسته و پتیل شوه چې د سولی په شرایطو باندی نوی تعلیماتنامه جوړه شی چې په کال ۱۳۸۲ کې هم نوی تعلیماتنامه له چاپه راووته. د دی تعلیماتنامی سره جوخت باید د ژنو (جینوا) څخه کود راغوښتل شوی وای داځکه کله چې ناروغی ثابته شی نو د کود نمبر کې د ناروغ د معاملی څرنگوالی (معاف، غیر محارب، د وظیفی دوام) ښئی خو له بده مرغه دغه سند تر اوسه لاس ته نده راغلی. همدارنگه د تعلیماتنامی د تدوین کمیسیون د یو کلنیک تشکیل او د هغه تشخیصه سامان الاتو جدول هم د جوړولو وړاندیزو شو چې د تجمع په مرکز کې په فعالیت شروع وکړی چې دا کار هم تر اوسه ندی شوی او شکمن ناروغان پولی کلنیک او یا د طبی علومو اکادمی روغتون ته راجع کیږی.

د ټپیانو او ناروغانو د لاښه او په گړندی سره د تخلیی په موخه د مسلحو قواو طبی علومو اکادمی روغتون ته څیرمه د الوتکو یو میدان جوړ شوی دی.

اخځلیک

۱- اردو مجلی کالنی، ۱۳۵۲ کال لړم میاشت، مطبعه اردو.

۲- افغانستان در قرون وسطی، ۱۳۶۹، مطبعه دولتی.

۳- براون، ادوارد، طب اسلامی، ۱۳۳۷، تهران.

۴- پارزادگاه، داکتر بهاوالدین، مکتب های سیاسی، ۱۳۴۴، تهران.

۵- پښتو آریانا دایرة المعارف، لومړی ټوک، ۱۳۲۹، دولتی مطبعه کابل.

۶- پښتو آریانا دایرة المعارف، دوهم ټوک، ۱۳۳۲، مطبعه ملی کابل.

۷- پښتو آریانا دایرة المعارف، دریم ټوک، ۱۳۳۷، مطبعه ملی کابل.

۸- پښتو آریانا دایرة المعارف، څلورم ټوک، ۱۳۴۴، مطبعه ملی کابل.

۹- پښتو آریانا دایرة المعارف، پنځم ټوک، ۱۳۵۴، مطبعه ملی کابل.

۱۰-پښتو آریانا دایرة المعارف، شپږم ټوک، ۱۳۵۵، مطبعه ملی کابل.

۱۱-پښتو آریانا دایرة المعارف، اووم ټوک، ۱۳۵۵، مطبعه ملی کابل.

۱۲-پلان گذاری، علمی اقتصادی ملی و جهات اساسی رشد اقتصادی ملی، اجتماعی، ۱۳۶۹ کابل.

۱۳-تاراسوا، سمینوا، اورگانزیشن و اقتصاد فارمسی، ۱۹۷۷، ماسکو.

۱۴-ترابی، پوهندوی دوکتور محمد انور، طب در گسترده تاریخ، ۱۳۸۵، هالیند.

۱۵-ترابی، پوهندوی دوکتور محمد انور، اندیشمندان و دانشمندان علوم طب، ۱۳۸۵، هرات.

۱۶-ترابی، دوکتور محمد انور و گروپ مولفین، اورگانیزاسیون و تکتیک خدمات صحیه، قسمت اول، ۱۳۶۷، مطبعه اردو.

۱۷-حبیبی، پوهاند عبدالحی، تاریخ مختصر افغانستان از زمان قدیم تا خروج چنگیز حدود ۶۰۰هـ، جلد اول، ۱۳۴۶، مطبعه دولتی کابل.

۱۸-حبیبی، پوهاند عبدالحی، پنجاه مقاله، ۱۳۶۲، مطبعه دولتی کابل.

۱۹-خیاط، داکتر محمد هیثم، د چاپیریال روغتیا د اسلام په میزان کې، پښتو ژباړه پوهندوی داکتر بشیر نورمل، نړیواله روغتیایی اداره، ۱۹۹۶، کابل.

۲۰-خیاط، داکتر محمد هیثم، د روغتیا فقه، روغتیایی اداره، ۱۹۹۷، کابل

۲۱-جلالی، علی احمد، مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکری ج.ا، ۱۳۴۳، مطبعه اردو کابل.

۲۲-داکتر سریل الکود، تاریخ پزشکی ایران، ۱۹۷۱، تهران.

۲۳-د افغانستان د علیه دولت اساسی نظام نامه، لړم ۱۴-۱۳۰۲، کابل.

۲۴-دفاع وزارت تشکیلاتو او سفربری ریاست کالنی، ۱۳۰۳-۱۳۱۹هـ، وزارت دفاع کابل.

۲۵-د خلکو وسله وال پوځ د طبی علومو اکادمی، ۱۳۵۸ کال کالنۍ، مطبعه اردو کابل.

۲۶-رسول، تورنجنرال عبدالروف، اردو مجله کالنی سلواغی میاشت، ۱۳۴۹، مطبعه اردو.

۲۷-ریاست عمومی پلان و پالیسي- گزارش وزارت صحت عامه از آغاز دوره مؤقت الی ۱۳۸۶.

۲۸-رفیع زاده، دوکتور محمود، دارو های جالینوسی، ۱۳۴۰، تهران.

۲۹-زاهدی، دوکتور شیر احمد، نقش موثر تربیه خودی در حیات مسلکی یک طبیب، ۱۳۶۹، مطبعه اردو.

۳۰-زومر د اسلام زانگو، ۲۸۰-۲۸۴ مخ.

۳۱-سالنامه مجله اردو، ۱۳۰۹-۱۳۵۲، مطبعه اردو.
۳۲-سالنامه کابل، ۱۳۱۱-۱۳۳۳، مطبعه دولتی.
۳۳-سباوون مجله، ۱۳۶۱، مطبعه دولتی.
۳۴-سوبمن، سرمحقق نصرالله و محقق فرهاد ظریفی، نطق های امیر امان الله خان، ۱۳۷۰، مطبعه دولتی.
۳۵-سالنامه، نظری به اردوی افغانستان در سال ۱۳۰۸- سال۱۳۴۹، مطبعه اردو.
۳۶-سیاووش، پوهندوی دوکتور عبدالرزاق، اورتوپیدی در افغانستان و جهان، ۲۰۰۶، کابل.
۳۷-سیستانی، محمد اعظم، سرزمین ماسه ها و حماسه ها، مطبعه دولتی.
۳۸-سرفریز، تنلر، وزیر مختار بریتانیه در کابل، ۱۹۴۱، طبع ۱۹۵۰ لندن.
۳۹-شرق، دوکتور محمد حسن، کرباس پوش های برهنه پا از ۱۳۱۰-۱۳۷۰ طبع سبا، پشاور.
۴۰-طوغار، دوقتور فواد اسمعیل، امراض چشم، ۱۳۷۱-۱۹۳۸، مطبعه عمومی کابل.
۴۱-علی محمد حسن العماری، فشرده شرح حال و آثار امام فخرالدین رازی، ۱۳۶۷.
۴۲-غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، ۱۳۴۶، مطبعه عمومی کابل.
۴۳-کریم، پوهنوال عبدالعلیم و گروپ مولفین، کتاب توبرکلوز، ۱۳۶۱، کابل.
۴۴-کتاب افغانستان امروز از ۱۳۰۴-۱۳۶۸، کابل.
۴۵-کابل مجله، ۴۳ کال ۸ گنه، ۱۳۵۲ کابل.
۴۶-مثنوی مولوی، طبع ۱۲۸۲هـ.ق، پشاور.
۴۷-مجله اریانا، ۱۰-۱۱گنه انجمن تاریخ، ۱۳۴۰، مطبعه دولتی کابل.
۴۸-مجله خراسان، سال ۲۷ – میزان، عقرب ۱۳۸۶، کابل.

۴۹-مجله ژوندون، ۱۳۵۹ شماره ۳۳-۳۴، کابل.
۵۰-مجله اردو، ماه ثور ۱۳۵۰، مطبعه اردو، ۱۳۶۱ کابل.
۵۱-مجله سباوون ۱۳۶۱.
۵۲-مجله سالنامه سال ۱۳۱۱.
۵۳-مجله اردو، شماره دلو ۱۳۳۵، مطبعه اردو.
۵۴-مجله اریانا، شماره ۱۳۷۶-۱۳۸۱ کابل.
۵۵-مجله آئینه عرفان، قوس-حوت،۱۳۱۶، مطبعه دولتی.
۵۶-مجله کار، شماره ۶-۷، ۱۳۶۹.
۵۷-مجله سالنامه کابل، جغرافیه اقتصادی افغانستان،۱۳۱۳.
۵۸-مجله جرگه، شماره میزان – عقرب، ۱۳۸۵.
۵۹-مجله طبی اردو، شماره سوم، ۱۳۸۵ مطبعه اردو.
۶۰-مجله صحت در افغانستان، شماره دوم، ۱۳۸۷.
۶۱-مجله طبی اردو، شماره دوم، ۱۳۸۷ مطبعه اردو.
۶۲-موفقیت های مردم افغانستان در ساختمان زندگی نوین، ۱۳۶۴.
۶۳-مسایل پلان گذاری علمی اقتصادی ملی، ۶۵- ۱۳۶۹.
۶۴-ماهیت و خصوصیات رشد انقلاب ثور، ۱۳۶۵.
۶۵-ملی نی چنکو تارا سووا، سیمینووا – اورگانزیشن فارمسی، ۱۹۷۲ ماسکو.
۶۶-مومنی، پوهاند عبدالحی، تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکامی آن در افغانستان، ۱۳۸۴ مطبعه آزادی.
۶۷-مومنی، عبدالحی، خدمات صحیه مدافعه ملکی جمهوری دموکراتیک افغانستان، ۱۳۶۶ مطبعه اردو.
۶۸-مومنی، دگروال عبدالحی، اکمالات صحی نظامی، ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

٦٩-نړۍ وال رازقی، پوهنوال محمد صدیق، د فارمسی او طبابت د ودی او پراختیا لنډ تاریخ، ۱۳۷۸.

۷۰-نړۍ وال رازقی، پوهنوال محمد صدیق، د افغانستان پوځی تشکیلات، ۱۳۸۸ اردو مطبعه.

۷۱-نوروز، دګروال ارکانحرب محمد یحيٰ، ۱۳۴۹ اردو مجله کلنی، مطبعه اردو.

۷۲-نظام نامه های دولت امانی، ۱۳۰۲.

۷۳-وردګ، اکادمیسن پوهاند محمد موسی، جراحی حرب، ۱۳۶۷ مطبعه اریانا.

۷۴-و.ی کریکوف، اورګانزیشن اقتصادی فارمسی، ۱۹۷۴ ماسکو.

۷۵-وزارت صحت عامه، پروفایل صحی ولایتی افغانستان، ۱۱ جدی ۱۳۸۹.

۷۶-هادی، محمد نادر و مولفین، جراحی عمومی، ۱۳۶۴ مطبعه دولتی.

۷۷-یوسف، کتاب یوسفی، چاپ سنګی در هند، مارچ ۱۹۱۳.

همدارنګه د لاندی اثارو څخه هم استفاده شوې ده:

- د ابن سینا قانون، څلورم کتاب، شپږ فصل.
- الحاوی نهم کتاب.
- پروفایل صحی ولایتی افغانستان، وزارت صحت عامه ۱۱جدی ۱۳۸۹.
- ذخیره خوارزم شاهی، سید اسماعیل ګرګانی.
- افغانستان له ۱۵۰۴ تر نن ورځی پوری کتاب ۱۳۴۸.
- جرګی مجله ۲۵ ګڼه ۱۳۸۵.
- دولافوز، تاریخ هند.
- د وسله وال پوځ طبی علومو اکادمی اسناد.

مرکی:

- مرحوم محترم بریدجنرال دوکتور نور محمد خلمی.
- مرحوم محترم کاندید اکادمیسن پوهاند دوکتور عبدالرحیم خوشدل.
- محترم الحاج عبدالغنی خان د فارمسی چارو ریاست فنی مشاور.
- مرحوم محترم متقاعد ډگروال فیض محمد.

ضمایم (نښلولی):

لومړی ضمیمه (نښلولی):

په اردو کې د روغتیایي چارو مدیران، آمران او رئیسان.

١- ش محمد آصف خان د طبیه مدیر او د نظامی روغتون مدیر ١٣٠٦-١٣٠٧هـ.ل

٢- ش محمد آصف خان د طبیه (صحیي) مدیر ١٣٠٨-١٣٠٩هـ.ل

٣- ش امیر محمد خان د طبیه او بیطاریه مدیر ١٣١٠-١٣١٢ هـ.ل

٤- ش عبدالباقی خان د طبیه او بیطاریه مدیر ١٣١٢-١٣١٣ هـ.ل

٥- ح غندمشر ثانی حسین علی خان د طبیه او بیطاریه مدیر ١٣١٤-١٣١٦ هـ.ل

٦- ح غندمشر ثانی محمد سعید خان د طبیه او بیطاریه مدیر ١٣١٧-١٣٢١ هـ.ل

٧- کندکمشر عبدالواحد خان د صحیی رئیس ١٣٢٢-١٣٣٩ هـ.ل

نوت: د ترکی په آثارو کې رئیس معرفی شوی دی.

٨- ډګروال داکتر محمد قاسم عسکریار د صحی خدماتو آمر ١٣٤٠-١٣٥٢ هـ.ل

٩- بریدجنرال دوکتور نورمحمد خلمی د روغتیایی چارو آمر ١٣٥٢-١٣٥٧ هـ.ل

١٠- جګړن عبدالحی مؤمنی د روغتیایی چارو آمر د غویی ١٤مه ١٣٥٧-١٥سلواغی١٣٥٨ هـ.ل

۱۱- جگړن دوکتور رحمت الله همدرد د روغتیایی چارو آمر ۱۳۵۸-۱۳۶۴ هـ.ل

۱۲- ډگروال دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل د روغتیایی چارو آمر او وروسته د روغتیایی چارو رئیس ۱۳۶۴-۱۳۷۱ هـ.ل

۱۳- ډگروال دوکتور عبدالواسع رنجبر روغتیایی چارو رئیس ۱۳۷۱-۱۳۷۶ هـ.ل

۱۴- ملا عبدالنافع
ملا سید عبدالمالک } روغتیایی چارو رئیسان ۱۳۷۶-۱۳۸۰ هـ.ل
ملا محمد اسمعیل

۱۵- دوکتور فیروزالدین فیروز روغتیایی چارو رئیس ۱۳۸۰ هـ.ل

۱۶- ډگروال دوکتور محمد قاسم رسولی روغتیایی چارو رئیس ۱۳۸۰-۱۳۸۲ هـ.ل

۱۷- تورنجنرال پوهنمل احمد ضیأ یفتلی روغتیایی چارو رئیس ۱۳۸۲- ۱۳۸۹ هـ.ل.

۱۸- تورنجنرال دوکتور الحاج عبدالقیوم طوطاخیل د ستردرستیز روغتیا رئیس ۱۳۸۹-۱۳۹۰.

۱۹- اکادمیسن پوهاند دوکتور محمد موسی وردگ د ستردرستیز صحی چارو رئیس ۱۳۹۰ – ۱۳۹۳.

۲۰- تورنجنرال دوکتور الحاج عبدالقیوم طوطاخیل د دفاع وزارت صحيې رئیس ۱۳۹۰ – ۱۳۹۳.

۲۱- جنرال پوهندوی دوکتور عبدالرازق سیاووش د ستر درستیز د صحيې رئیس ۱۳۹۳- دوام لری.

۲۲- بریدجنرال پوهنوال دوکتور غلام بهاء الدین نجرابی د دفاع وزارت صحی رئیس ۱۳۹۳ – دوام لری.

دویمه ضمیمه (نښلولي):

د کتابونو او آثارو فهرست چې د نظامی طبابت کادرونو له خوا لیکل شوی دی.

۱- کتاب عاجل تکتیکی، بریدجنرال دوکتور سید حفیظ ظهور و مولفین ۱۳۸۲ مطبعه اردو.

۲- کتاب اورگانیزاسیون تکتیک خدمات صحیه قسمت اول، دوکتور ترابی و مولفین ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۳- کتاب طب در گستردهٔ تاریخ، پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی ۱۳۸۵ هالیند.

۴- کتاب اندیشمندان و دانشمندان علوم طب، پوهندوی دوکتور محمد انور ترابی ۱۳۸۵ هرات.

۵- کتاب رهنمای داکتر قطعه، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل و مولفین، ۱۳۶۳ مطبعه اردو.

۶- کتاب تعلیمات نامه قابلیت بدینه اردو، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل و مولفین، ۱۳۶۲ مطبعه اردو.

۷- کتاب اسناد واحد طبی، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل ۱۳۶۲ مطبعه اردو.

۸- کتاب جراحی حرب و پرنسیب های معالجوی مجروحین، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل ۱۳۸۵ مطبعه اردو.

۹- کتاب تعلیمات حقوق معلولین و معیوبین، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل ۱۳۶۲ مطبعه اردو.

۱۰- کتاب دستور احصائیه طبی، دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل و مولفین ۱۳۶۴ مطبعه اردو.

۱۱- کتاب تاریخچه اورتوپیدی در افغانستان و جهان، دوکتور سیاووش ۲۰۰۶م پشاور.

۱۲- کتاب نقش موثر تربیه خودی در حیات مسلکی یک طبیب، دگروال دوکتور شیر احمد زاهدی ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۱۳- کتاب امراض عقلی و عصبی، دوکتور شیر احمد زاهدی و مولفین ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۱۴- کتاب امراض عصبی عقلی، دگروال دوکتور شیر احمد زاهدی ۱۳۷۰ مطبعه اردو.

۱۵- کتاب جراحی حرب، اکادمیسن دوکتور عالی طب جنرال محمد موسی وردگ ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۱۶- کتاب شوک تراوماتیک، اکادمیسن دوکتور عالی طب محمد موسيٰ وردگ ۱۳۶۸ مطبعه دولتی.

۱۷- کتاب اورتوپیدی و تراوماتولوژی، اکادمیسن دوکتور عالی طب محمد موسيٰ وردگ ۲۰۰۱م پشاور.

۱۸- کتاب تراوماتولوژی حربی و اورتوپیدی، اکادمیسن محمد موسيٰ وردگ و مولفین ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۱۹- کتاب تراوماتولوژی انفلاقی و سایر اسباب امپوتیشن اطراف، اکادمیسن محمد موسيٰ وردگ و دوکتور محمد رحمن ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۲۰- کتاب نقش اوستیوسنتیز خارج محراقی در اورتوپیدی و تراوماتولوژی معاصر، دوکتور محمد موسيٰ وردگ و دوکتور عبدالرزاق سیاووش ۱۳۶۸ مطبعه اردو.

۲۱- کتاب د پزی او جیبونو، ستونی، حنجری او غوږو ناروغی، دوکتور لعل پادشاه ژوندون ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۲۲- کتاب د غوږ، ستونی او پزی ناروغی، پوهنمل دوکتور غلام سخی سلیمی ۱۳۷۹ پشاور.

۲۳- کتاب امبریولوژی، اناتومی، فزیولوژی و میتود های معاینات گوش – گلو، دوکتور غلام سخی سلیمی و مولفین ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۲۴- کتاب احصائیه طبی نظامی، پوهنیار دوکتور عبدالمتین صافی و دوکتور عبدالرحمن غفوری ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۲۵- کتاب د بولی او تناسلی غړو اورنی (ناریه) ټپونه، دوکتور روح الله عمرزوی ۱۳۶۵ مطبعه اردو.

۲۶- کتاب امراض چشم، دوکتور محمد نادر لعل زوی ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۲۷- کتاب د فزیوتراپی اساسات، دوکتور نظر محمد وردگ ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۲۸- کتاب جراحی عصبی، دوکتور گل محمد سوری ۱۳۶۵ مطبعه اردو.

۲۹- کتاب منوال تراپی، دوکتور گل محمد سوری و مولفین ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۳۰- کتاب جراحی حرب، دوکتور سید احمد جهش ۱۳۸۲ جرمنی.

۳۱- کتاب امراض سیستم تنفسی، دوکتور عبدالفتاح خسروی ۱۳۶۸ مطبعه اردو.

۳۲- کتاب تصنیف نمونه های تشخیصی و اوصاف برازنده امراض داخله، عقلی، عصبی و انتانی، دوکتور عبدالفتاح خسروی ۱۳۶۵ مطبعه اردو.

۳۳- کتاب طب اساسی هوایی، دوکتور عبدالقدیر مهمند حلیمزی ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۳۴- کتاب جروح ناریه و ترضیضات گوش، گلو و بینی، دوکتور برات علی رضایی و مولفین ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۳۵- کتاب پتالوژی جهاز بصری، دوکتور غوث الدین فایق ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۳۶- کتاب د عملی جراحی بنسټونه، پوهنیار دوکتور نصیر احمد ځدران ۱۳۸۷ د افغان کلتوری ټولنو جرگه.

۳۷- کتاب سالنامه های اکادمی علوم طبی از سال ۱۳۵۷ الی سال ۱۳۷۱ مطبعه اردو.

۳۸- کتاب مجموعه کنفرانس های علمی در مورد تکتیک و اورگانیزیشن خدمات صحیه، داخله، جراحی و اورتوپیدی ۱۳۶۲ مطبعه اردو.

۳۹- کتاب رهنمای روغتون های قوای مسلح، دوکتور میرا جان ناصر ۱۳۵۷ مطبعه اردو.

۴۰- کتاب خدمات صحیه مدافعه ملکی جمهوری افغانستان، ډگروال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۴۱- کتاب اکمالات صحی نظامی، ډگروال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۶ مطبعه اردو.

۴۲- کتاب رساله مدت استعمال و معیاد ترمیم عینیات طبی، ډگروال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۷ مطبعه اردو.

۴۳- کتاب رهنمای دواخانه های قوای مسلح، پوهنوال دگروال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۴۴- کتاب محافظه و نگهبانی عینیات طبی در دیپو ها و جزوتام های اردو، پوهنوال ډگروال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۹ مطبعه اردو.

۴۵- کتاب تعلیمات موسسات تحصیلی و تعلیمی نظامی وزارت دفاع، پوهاند عبدالحی مؤمنی و مولفین ۱۳۷۵ مطبعه اردو.

۴۶- کتاب فارمسی گلنیک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۷۹ وزارت صحت عامه.

۴۷- کتاب تعلیمات نامه قابلیت بدنیه اردو، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۲ مطبعه اردو.

۴۸- کتاب تاریخچه طبابت و فارمسی و سیر تکاملی آن در افغانستان، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۴ مطبعه آزادی.

نوت: کتاب مذکور جایزه درجه اول مطبوعاتی سال ۱۳۸۵ را بدست آورده است.

۴۹- کتاب آریانا دایرة المعارف جلد اول، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۶ اکادمی علوم مشترک.

۵۰- کتاب پښتو آریانا دایرة المعارف لومړی ټوک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۶ اکادمی علوم مشترک.

۵۱- کتاب آریانا دایرة المعارف جلد دوم، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۷ اکادمی علوم مشترک.

۵۲- کتاب پښتو آریانا دایرة المعارف دوهم ټوک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۷ اکادمی علوم مشترک.

۵۳- کتاب آریانا دایرة المعارف جلد سوم، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۹ اکادمی علوم مشترک.

۵۴- کتاب پښتو آریانا دایرة المعارف دریم ټوک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۹ اکادمی علوم مشترک.

۵۵- کتاب آریانا دایرة المعارف جلد چهارم، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۰ اکادمی علوم مشترک.

۵۶- کتاب پښتو آریانا دایرة المعارف څلورم ټوک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۰ اکادمی علوم مشترک.

۵۷- کتاب آریانا دایرة المعارف جلد پنجم، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۳ اکادمی علوم مشترک.

۵۸- کتاب پښتو آریانا دایرة المعارف پنځم ټوک، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۳ اکادمی علوم مشترک.

۵۹- کتاب اداره و منجمنت صحت عامه افغانستان، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۸ وزارت صحت عامه.

۶۰- کتاب روغتیایی لارښوونی، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۹ د اریک گرځنده کتابتون.

۶۱- کتاب د افغانستان طبابت ته لنډه کتنه، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۹ د العباد خیروندویه موسسه.

۶۲- کتاب سګرټ او نسوار ستاسو د روغتیا دښمن، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۰ د العباد خیروندویه موسسه.

۶۳- کتاب تاریخ تکامل فارمسی در جهان و افغانستان، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۰ د العباد خیروندویه موسسه.

۶۴- اوسنی کتاب، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۳.

۶۵- کتاب لست ادویه مجاز، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۶ وزارت صحت عامه مشترک.

۶۶- کتاب لست ملی ادویه اساسی، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۶ وزارت صحت عامه مشترک.

۶۷- کتاب لایحه اکادمی علوم طبی قوای مسلح، پوهنوال عبدالحی مؤمنی ۱۳۶۹.

۶۸- کتاب مقرره حقوق و امتیازات کادر های تخصصی وزارت صحت عامه، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۷۸.

۶۹- لایحه کوریکولیم تکنیشن دواسازی، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۷۸.

۷۰- کوریکولیم پروگرام اکمال تخصص اکادمی علوم طبی قوای مسلح، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۷۹.

۷۱- لوایح، رهنمود ها و کوریکولیم درسی برای اکمال تخصص دوکتوران، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۳.

۷۲- کتاب مراقبت های صحیه افسران، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۳ مشترک.

۷۳- لایحه وظایف مدیریت تحقیقاتی علمی و نشرات اکادمی علوم طبی قوای مسلح، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۳.

۷۴- لایحه وظایف مدیریت تحقیقات علمی ریاست صحیه اردو، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۶.

۷۵- لایحه اکمال تخصص فارمسست ها، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۸ وزارت صحت عامه.

۷۶- کوریکولیم درسی معاون فارمسست ها، پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۸۸.

۷۷- کوریکولیم درسی انستیتوت علوم صحی وزارت صحت عامه پوهاند عبدالحی مؤمنی (انستیتوت علوم صحی پوهاند استاد غضنفر) ۱۳۷۸.

۷۸- کتاب تعلیمات صحی برای نهاد های تعلیمی کشور پوهاند عبدالحی مؤمنی ۱۳۹۳.

۷۹- کتاب روغتیا نعمت او پانکه ده، ترجمه پوهاند عبدالحی مومنی ۱۳۹۳.

۸۰- کتاب رهنمود های صحی، ترجمه پوهاند عبدالحی مومنی ۱۳۹۳.

اثار طبع ناشده پوهاند عبدالحی مؤمنی:

١- آریانا دایرة المعارف دری و پشتوی جلد ششم، ١٣٨٩ مشترک.

یادښت: د اریانا دایرة المعارف د دویمې دورې کتابونو کې د لیکوال، اډیتور او ژباړن په توګه کار کړی دی.

٢- د بنستیزو درملو فارمکولوژی کتاب، ١٣٨٠.

٣- کتاب اساسات اورگانزیشن اکمالات طبی قوای مسلح، ١٣٦٩.

٤- کتاب نورم عینیات طبی، ١٣٧٠.

٥- کتاب قانون طبابت عنعنوی افغانستان، ١٣٨١.

٦- کتاب فارمکولوژی، ١٣٨٠.

٧- کتاب سالنامه دیپارتمنت کلنیک و اورگانزیشن خدمات صحیه، ١٣٧٧.

٨- کتاب رهنمود تطبیق کمک های اولیه طبی (برای نهاد های تعلیمی کشور)

٩- کتاب کرونولوژی بعضی از واقعات سال ١٣٩٣.

١٠-د بنستیزو درملو کارونې لارښود.

تبصره:

- الـی اخیـر سـال ۱۳۹۳ بـه تعـداد ۲۲۰ مقـالات علمـی و تحقیقـاتی موصوف به چاپ رسیده است.
- بالای آثار ده ها دانشمندان تقریظ تحریر نموده است.
- بحیث استاد رهنمـای ده هـا کـادر هـای علمـی وظـایف را پیشبرده و اکنون هم ادامه دارد.

د پوهاند استاد عبدالحی مؤمنی لنډه پېژندنه

عبدالحی د عبدالرحمن زوی په ۱۳۱۸/۱۲/۱۸هـ.ل کال د ننګرهار ولایت، سرخرود ولسوالی د بالاباغ په کلی کې د یو متدین بزګر کورنۍ کې زیږیدلی دی.

نوموړی ابتدایه ښوونځی پخپل کلی کې په بریالیتوب سره سرته رسولی چې په دغه موده کې یې د فقهی او دری نظم کتابونه د خپل پلار او د کلی دینی عالمانو څخه زده کړل. نوموړی په کال ۱۳۳۲هـ کې حربی ښوونځی کې شامل شوی چې په کال ۱۳۳۹هـ کې د هغې موسسی د دولسم ټولګی څخه په اعلی درجه فارغ شوی دی.

په حربی پوهنتون (کابل بالاحصار کې) د شپږو میاشتو تحصیل څخه وروسته نوموړی د لیاقت د درجې په نظر کې نیولو سره د ۱۳۴۰ هـ کال د وری په میاشت کې، د کابل پوهنتون د طب او فارمسی پوهنځی د فارمسی په رشته کې شامل او په ۱۳۴۳/۱۰/۱۰ کال د پوهنځی څخه په عالی درجه فارغ شوی او د اردو د روغتیا په ریاست کې د یو کلن ستاژ څخه وروسته په وظیفه کې شامل شوی دی.

برسېره پر هغه د هېواد څخه بهر هم تحصیل لری چې د ۱۳۴۶هـ تر ۱۳۴۸هـ کال پوری د تخصص د سند اخستلو لپاره د لیننګراد (سن پطرزبورګ) نظامی طبي اکادمی کې د وخت شوروی اتحاد ته سفر کړی دی.

په ۱۳۵۳-۱۳۵۴هـ کې د ماسکو په ښار کې د صحت عامی د اداری اته میاشتنی کورس یې تعقیب کړی دی او په ۱۳۶۲-۱۳۶۳هـ کال دری میاشتنی کورس یې د ملکی مدافعی اوپراتیفی سوق و اداری په برخه کې د ماسکو په ښار کې تعقیب کړی دی.

همدرانګه په ۱۳۶۷هـ کال د فارمسی علومو د دوکتورا اخستلو لپاره تحقیقاتی پلان جوړ چې د محترم تورنجنرال دوکتور عبدالقیوم طوطاخیل او محترم تورنجنرال اکادمیسن او د طبي علومو عالی داکتر محمد موسی وردګ په لارښوونه سرته ورسیږی او په داخل یا خارج کې ور څخه دفاع وکړی. چې یو څه زیات کار هم ور باندی وشو خو د سیاسی حالاتو له بدلون سره نومړی په دغه کار بریالی نه شو.

وظایف:

- ۱۳۴۴-۱۳۴۶هـ کال د پکتیا دریم لمبر قول اردو د دافع هوا د کندک د صحیي مرکز آمر.
- ۱۳۴۶-۱۳۴۸هـ کال په سابقه شوروی اتحاد کې عالی تحصیلات.
- ۱۳۴۸-۱۳۵۳هـ کال د ننګرهار د یولسمي فرقې د روغتون د درملتون آمر.
- ۱۳۵۳-۱۳۵۴هـ کال د قرغي اتمي فرقې د صحیي مرکز آمر.
- ۱۳۵۴-۱۳۵۷هـ کال د اردو مرکزي روغتون (۴۰۰بستر) د فارمسي او طبي اکمالاتو د دیپارتمنت آمر.
- ۱۳۵۷-۱۳۵۹هـ کال د ملی دفاع وزارت د صحیي رئیس.
- ۱۳۵۹-۱۳۶۰هـ کال د دفاع وزارت پیژنتون کې احتیاط او د نهرین شلمۍ فرقې د صحیي مرکز آمر.
- ۱۳۶۰-۱۳۶۱هـ کال د دفاع وزارت د لوژستیک عمومي ریاست د تفتیش د څانګې غړی.
- ۱۳۶۱-۱۳۶۴هـ کال د افغانستان جمهوري دولت د ملکي مدافعې عمومي ریاست د صحیي او وترنري مدیر.
- ۱۳۶۴-۱۳۷۹هـ کال د کابل طبي انستیتوت نظامي طب پوهنځي د صحیي خدماتو د تکتیک او اورګانزیشن کافدرا کې استاد، سرمعلم او تدریسی آمر.
- ۱۳۷۹-۱۳۸۱هـ کال د افسرانو عالي کورس سرطبیب.

- ۱۳۸۱-۱۳۸۳هـ کال د ستردرستیز صحیي ریاست د علمي تحقیقاتو او نشریاتو مدیریت مسئول.
- ۱۳۸۱-۱۳۸۳هـ کال د افغانستان د موقتې محترمې اداري ریاست د ۷۵۸-۱۳۸۱/۲/۷ حکم مطابق د افغانستان د علومو اکادمی د طبي علومو د مرکز افتخاري رئیس.
- ۱۳۸۳-۱۳۸۷هـ کال د افغانستان د علومو اکادمي د طب د مرکز رئیس.

سره د دې چې د علومو اکادمي د قانون پر اساس لس کاله نور هم د نوموړي د خدمت موده پاتې وه خو د ځیني ملحوظاتو له کبله په ۱۳۸۷ کال تقاعد ته سوق شوی دی.

رتبوي ترفیعات:

- د کابل د پوهنتون د نشئت له تاریخ یعنی ۱۳۴۳/۱۰/۱۰ څخه په یو کال اوه میاشتی او شل ورځو قدم سره د دوهم بریدمن په رتبه د پاچا د فرمان پراساس منظور شوی دی.
- په ۱۳۴۵هـ کال لومړی بریدمن رتبې ته ترفیع کړې ده.
- په ۱۳۴۸هـ کال تورن رتبې ته ترفیع کړې ده.
- په ۱۳۵۲هـ کال جګتورن رتبې ته ترفیع کړې ده.
- په ۱۳۵۵هـ کال جګړن رتبې ته ترفیع کړې ده.
- په ۱۳۵۹هـ کال ډګرمن رتبې ته ترفیع کړې ده.
- په ۱۳۶۲هـ کال ډګروال رتبې ته ترفیع کړې ده.

په ۱۳۶۸ کال کې ۲۰فیصده، ۱۳۷۲کال ۲۰فیصده، ۱۳۷۲ کال ۱۵فیصده او په ۱۴۱۹ کال کې ۲۰فیصده؛ ټول ۷۵فیصده بریدجنرالی رتبې معاش تفاوتونه یې اخستي دي او په ۱۳۸۳ کال د ملی دفاع وزارت څخه تقاعد ته سوق شوی دی.

نوموړی د ۱۳۷۹ کال له لومړیو څخه د افغانستان علومو اکادمي سره په رسمي توګه همکارۍ درلود دا ځکه چې د طبي علومو په مرکز کې علمي کادرونه موجود نه وو. او د ۱۳۸۱ کال څخه وروسته د طب د مرکز

افتخاري رئيس په توګه دنده اجرا کړې ده. د ښو خدمتونو پر اساس د دولت د مامورينو د ۶۹ مادی د دويم بند مطابق چې نوموړی د ۶۵ کالو د سن تکميليدو څخه مخکې تقاعد ته سوق شوی و او د علومو اکادمي رياست په پيشنهاد د دولت د محترم رياست مقام د ۲۱۷-۱۳۸۳/۷/۲۱ کال حکم پر اساس په لومړي بست کې د طبي علومو د مرکز د رئيس په توګه منظور شوی دی. نوموړی د طبي علومو د مرکز په بيا رغولو او تنظيمولو، د کادرونو په جذب او د هغو په لارښوونه کې د قدر وړ کارونه سرته ورسول.

د ۲۹۳-۱۳۸۴/۱/۲۲ کال د دولت د محترم رياست د مقام حکم پر اساس د ۱۳۸۴/۵/۲۸ تاريخ اعتبار څخه د دريمی رتبې څخه مافوق رتبې ته يې ارتقا منظور شوی دی.

د ۱۳۸۵-۱۳۸۶ کلونو کې ۲۵-۲۵فيصده د معاش تفاوتونه يې هم اخستی دی.

علمي ترفيع ګانی:

د مسلحو قواو د پوهنتونونو، اکادميو او پوهنځيو علمي کادرونو حقوق او امتيازاتو د قانون د اتمې مادې مطابق چې تر هغه وخته شپږ عنوانه کتابونه يې چاپ شوی وو، د وزيرانو د شورا مصوبې پر اساس د پوهنوالی علمي رتبه يې په ۱۳۶۸ کال تثبيت شوه. او د وزيرانو شورا د ۱۶۱-۱۳۷۳/۷/۲۷ مصوبې پر اساس چې د پوهاند رتبې ټول معيارونه يې پوره کړي و د پوهاند رتبې ته ارتقا کړی ده.

په ۱۳۸۷ کال کې د رياست دولت محترم مقام حکم پر اساس د پوهاند علمي رتبه په سرمحقق (څېړنپوه) علمي رتبې تعديل شوه.

مکافات:

نوموړی د دندی په جريان کې په نقدی مکافاتو، ستاين ليکونو، تقدير نامو، مدالونو او نشانونو مفتخر شوی دی.

اثار:

الف- مطبوع تطبيق او عملی شوی آثار ۴۰

ب- نا مطبوع آثار ۱۲

ج- چاپ شوی مقالی ۲۲۰

يو عنوان کتاب چې «تاريخچه طبابت و فارمسی و سير تکامی آن در افغانستان» نوميړی د زمری ۲۸مه ۱۳۸۵ کال د افغانستان د استقلال اوه اتيايمی کلنې په افتخار د فرهنگ د وزارت لومړۍ درجه جايزه گټلی ده.

نوموړی هڅه وکړه چې دغه اثر د ايکو د غړو جلسی ته وړاندې شی دا ځکه په هره غونډه کې د پوهانو کتابونه وړاندی کيږی او جايزی ورکول کيږی. خو دغه مرسته ورسره ونه شوه او د خاصو روابطو په اساس د بل چا اثر د علومو اکادمی له خوا معرفی شو.

نوموړی په لس گونو داخلي سيمينارونو او علمي کنفرانسونو کې ونډه اخستی او خپلې علمي او تحقيقی مقالې يې وړاندې کړي دي.

همدارنگه د ابو علی سينا ۱۰۲۵ کليزی جشن ته يوه خپله مقاله تاجکستان ليږلی وه چې د فلسفی او حقوقو انستيتوت کميسيون هغه تائيد کړی وه چې په دی اړوند د ۲۰۰۵/۸/۹م کال د تاجکستان پورتنی انستيتوت د افغانستان سفارت ته ليږلی و چې په هغه کې د نوموړی څخه دعوت شوی و ترڅو د ابن سينا او نړيوال تمدن په علمي بين المللی کنفرانس کې اشتراک وکړی، خو بيا هم د ځينو عواملو له کبله گويا چې د لاری پيسې نشته اشتراک يې ونشو کړای حالانکه غير د طياری تکت مصرف څخه نور ټول مصارف تاجکستان دولت په غاړه اخستی و.

د دولتی مؤسسو سره همکاری:

نوموړی برسيره په خپلو وظايفو له کوم مادی پاداش څخه لاندی موسسو سره مساعدت او همکاری کړی دی.

۱- د عامی روغتيا وزارت:

د ۱۳۷۵ کال نيمايي څخه راهيسي د رسمي تقاضا پر بنا عامی روغتيا وزارت سره يې همکاري شروع کړې ده چې په لومړي سرکې د عامی روغتيا وزارت د روغتيايي تعليماتو انستيتوت (د غضنفر روغتيايي

علومو انستیتوت) د مرکزونو درسی کوریکولم باندی د نوموړي له خوا تجدید نظر وشو چې په هغه ضمن کې ۷۸ عنوانه درسي کتابونه هم د هغه تر نظر لاندې چاپ شول.

همدارنګه د آموزش او انکشاف ریاست سره د علمي تخصصي کادرونو مقرره، د اکمال تخصص په برخه کې د لوایحو او رهنمودونو ایجاد چې د هغو په رڼا کې د یو طرزالعمل په تطبیقولو ۱۰۳تنه متخصصین د رنځورپوه تر رنځوریار رتبو پورې رتبې تثبیتې شوې. او هره پنجشنبه د دیپارتمنتونو آمرینو په جلساتو کې په دوامداره توګه فعاله برخه اخستې وه.

د فارمسی عمومی ریاست (د ابن سینا علمي ریاست) سره په مختلفو موضوعاتو لکه د مدیریتونو وظایف، علمي مسایلو پلان ګذاری، د فارمسستانو د ظرفیت لوړول، د فارمسستانو د تخصص لایحه، په فعاله توګه د بنسټیزو درملو لست او مجازو درملو لست جوړولو او نورو لس ګونو اسنادو جوړولو کې فعاله برخه اخستی دی.

د عامی روغتیا وزارت او د افغانستان د علومو اکادمي ترمنځه د همکاری پروتوکول ایجاد چې د هغه په رڼا کې د علومو اکادمي کادرونه د عامی روغتیا وزارت په روغتونونو کې څېړنی کوي او د تخصص د سند د لاس ته راوړلو لپاره هم کار کوی. د عامی روغتیا وزارت لوړپوړی غړی د علومو اکادمی په علمي کنفرانسونو کې اشتراک کول او د هېواد وګړو ته د لا ښه روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په هکله د تجاربو تبادله یې کول.

دغه همکاري د ۱۳۸۸ کال تر وروستیو یعنی د فارمسستانو د تخصص تدوین پوری ادامه درلود.

۲- د علومو اکاډمي:

څرنګه چې طبي علومو ریاست کې علمي کادرونو وجود نه درلود. د علومو اکادمي د رسمی پیشنهاد پر اساس د ۱۳۷۹ کال د غویي میاشتی راهیسی د هیئت رئیسه په جلسو کې اشتراک کاوه او د روغتیایې مسایلو په برخه کې همکاري کاوه چې بالاخره د ۱۳۸۱ تر ۱۳۸۳ کال پوری د علومو اکادمي د طب د مرکز د افتخاری رئیس په توګه وظیفه اجرای کړی ده.

اوس اوس د علومو اکادمي د دایرة المعارف محترم ریاست، په نشراتو کې او همدارنګه د علمي کاردونو د لاربښود استاد په توګه مرستو ته دوام ورکوی.

۳- د ملی دفاع وزارت:

د ۱۳۶۶ کال راهیسی د دفاع وزارت د علمي بورد غړی و چې د کلونو په درشل کې د هغه وزارت ښوونې او روزنې ریاست سره د مسلحو قواو د پوهنتونونو، اکادمیو او پوهنځیو قانون او مقررې د محتوا په تطبیق کې د علمي کادرونو د علمي رتبې تثبیت او ترفیع په اړوند او د یو لړ رهنمودونو، لوایحو او اسنادو د علمي بورد په ارتباط د منځ ته راوړلو لپاره همکاري کړی دی.

او د ۱۳۸۳ کال راهیسی د وسله وال پوځ طبي علومو اکادمي (د شهید سردار محمد داود خان روغتون) او روغتیایي چارو ریاست د نشراتو او ریسرچ مدیریتونو د لوایحو په تدوین کې مرسته کړی او اوس د صحیې راست د علمي کمیټې غړیتوب لری چې په فعاله توگه په هغه کې برخه اخلی.

همدارنگه د مشترکی همکاری پروتوکول یې د افغانستان د علومو اکادمی او د مسلحو قواو د طبي علومو اکادمی منځ ته راوړلو لپاره هاند او کوښښ کړی دی چې دواړه لورو ته ښه لاس ته راوړنی لری.

۴- داخلی نشراتو سره همکاری:

د ۱۳۴۲ راهیسی چې د پوهنتون محصل و د یادداشتونو په لیکنه یې اقدام کړی او لومړنی یادداشت یې په ۱۳۴۲/۶/۶ کال کې د پروین اعتصامی شعر وو. نوموړی به چې هر کتاب او یا اثر مطالعه کاوه مهم او په زړه پوری ټکي په یې یادداشت کاوه او په ۱۳۵۹ کال چې د دفاع وزارت د پیژنتون په احتیاط کې و خپل یادداشتونه یې د «غوره فلسفی، اقتصادی، سیاسی، اجتماعی» کتاب چې ۴۱۹ پاڼی لرلی په خپل قلم یې ولیکل خو د ځینو شرایطو له کبله څو صفحې یې پاتی دي.

په لومړی ځل نشر شوی مقالی یې په ۱۳۴۵ کال په گردیز کې د وړانگی ورځپانه کې دی چې د روغتیا نړیوال ورځ او د سری میاشتی اوونی په ویاړ او نور صحی مسایل یې په بر کې نیول.

د کلونو په درشل کې یې ملی دفاع وزارت روغتیا یې چارو ریاست جریده کې، شریعت اوونیزه، د علومو اکادمی طبعیت او تبیان مجلو، د پوهنې وزارت عرفان مجله، د ستر درستیز د صحی چارو ریاست طبي مجله، د عامی روغتیا وزارت د صحت مجله، د اکادمیسن پروفیسور دوکتور محمد موسی وردگ د روغتیا مجله، د اقوامو او قبایلو وزارت د

هموطن مجله، د ایلبند مجله، د وطن جریده، د فارمسستانو د سرتاسری اتحادیې د فارمسي مجله او نورو نشریاتي ارګانو د تقاضا پر اساس مسلکي، علمي، تحقیقي، تاریخي او معلوماتي مقالې چاپ شوی دی. چې ځینو یې لکه د جرګې مجله، د وطن جریدی، د فارمسی مجلی، د ملی اردو د عسکر جریدی او نورو سره همکاری جریان لری.

د یادونې وړ ده کله چې نوموړی د افغانستان علومو اکادمی کې مؤظف و انسان او وطن دوست شخصیت محترم دیپلوم انجینر الحاج عبدالطیف غیور څو ځله ورته پیشنهاد وکړ ترڅو په کابل کې یو څېړنیز مرکز تاسیس کړو خو د ځینو اقتصادي او نور معاذیرو له کبله ورسره موافقه ونکړه، بلکې پیشنهاد یې وکړ چې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د هېواد بچیانو روزنه او ښوونه کې هاند او کوښښ وکړی او کیدای شي چې په دغو تعلیمي موسسو کې څېړنې هم وشي.

له نیکه مرغه دغه نظر د انجینر صاحب د تائید وړ وګرځید او د تعلیمی خصوصی موسسو د اسراء په نامه یې موسسی یې پرانستلي چې د هغو د ریاست مسئولیت یې خپله انجینر صاحب په غاړه واخیست.

پوهاند مؤمنی چې د ځوانۍ له دوران څخه یې ځان د خدای (ج) بنده ګی او وطن او خلکو د خدمت لپاره متعهد کړی دی سره د دې چې تقاعد یې کړی او د یو لړ نشراتی ارګانو سره هم مصروف دی لازم وګڼلو چې له یوی خوا د هېواد ماشومانو سالمۍ روزنې کې سهیم شي او له بلې خوا د هېواد شریفو خلکو اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، رسم او عنعنات په نظر کې نیولو سره د پوهنې وزارت تعلیمی نصاب کې هاند او کوښښ وکړی. په دی توګه بې له کوم مادي امتیاز څخه د اسراء دوهم لمبر خصوصي عالی لیسه چې احمد شاه بابا مینه کې موقعیت لري د مدیریت مسئولیت په غاړه واخیست او د ١٣٨٧ د وروستیو څخه تر اوسه په دغه تعلیمی موسسه کې مصروف دی.

د ١٣٨٨ په وروستیو کې (د ژمی په رخصتی کې) د اصول صنفی پر لس عنوانه کتابونو، یو عنوان کتاب کمپیوتر او یو عنوان کتاب تجوید باندی د لیسی استادانو له خوا کار وشو او د تقویتی کتابونو په شکل تحریر چې وروسته له چاپ څخه د پوهنی محترم وزارت ته به وړاندی شی.

د زده کوونکو د ښی روزنی او روغتیا لپاره صحی پیامونه او یو لړ مقالې نشر شوي دی چې دغه پروسه دوام لري. همدارنګه د عامې روغتیا محترم وزارت د قانون پر اساس د پوهنې وزارت سره د مرستو هلې ځلې

شوي امید چې د عامې روغتیا محترم وزارت د قانون پر اساس دولتی او خصوصی تعلیمی موسسو، تعلیمی نصاب او د زده کړو ساعتونو او هغه تعلیمی موسسې چې د صحي مرکزونو، روغتونونو تر پوښښ لاندې قرار ولري د قانون په رڼا کې مرستې وشي چې نوموړي په دې برخه کې منډې رامنډې هم کړي دي. د احمد شاه بابا مینه ځان ته ځانګړتیاوې لري چې ځنی کارونه باید ترسره شوي وای.

لومړی دا چې په دولسمه ناحیه کې باید دارالمعلمین بیرته فعال شی، د خصوصي تعلیمي موسسو بکلوریا معلمین باید په دارالمعلمین کې شامل شي او د یو لړ خصوصي موسسو مدیران د همدغی محیط څخه چې د دولتي تعلیمي موسسو چاري خنډ سره مخامخ نه شي، مقرر شي.

له نیکه مرغه دغه وړاندیزونه د پوهنې محترم وزارت له خوا ومنل شو چې نوموړی هم په پیشنهادی ډله کې فعال رول درلود. په دغه پروسه کې د پوهنې وزارت معین محترم پتمن صاحب نقش د اهمیت وړ دی. د معارف په چوکاټ کې هلی ځلی د ۱۳۸۹ کال تر وروستیو پوری دوام درلود.

همدارنګه نوموړی (پوهاند مؤمنی) د احمد شاه بابا مینی دولتي تعلیمی موسسو په نوم اینسودلو کې هم فعاله ونډه اخستې او د نامتو پوهانو لنډ ژوند لیک یې د دولسمې تعلیمي حوزی محترم آمریت ته وړاندی کړ.

نوموړی متاهل دي اوه اولادونه لري چې څلوریې نجونی او درې یې هلکان دي.

Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!
The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine. For this reason, we have published 223 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics and Agriculture (96 medical books funded by German Academic Exchange Service, 100 medical with 20 non-medical books funded by German Aid for Afghan Children and 4 non-medical books funded by German-Afghan University Society) from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Kapisa, Kabul and Kabul Medical universities. It should be mentioned that all these books have been distributed among the medical and non-medical colleges of the country for free. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:
"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit."

The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 100 medical and 20 non-medical textbooks in the past.

I am especially grateful to **GIZ** (German Society for International Cooperation) and **CIM** (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me during the past five years in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Minister of Higher Education Prof Dr Farida Momand, Academic Deputy Minister Prof M Osman Babury, Deputy Minister for Administrative & Financial Affairs Prof Dr Gul Hassan Walizai, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project.

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz, Ahmad Fahim Habibi and Fazel Rahim in the office for publishing books.

Dr Yahya Wardak
CIM-Expert & Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul, Afghanistan, April, 2016
Office: 0756014640
Email: textbooks@afghanic.org

Message from the Ministry of Higher Education

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and educational process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally I am very grateful to German Aid for Afghan Children and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing textbooks of our lecturers and authors.

I am hopeful that this project should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,
Prof. Dr. Farida Momand
Minister of Higher Education
Kabul, 2016

Book Name	A Short History of Medicine
Author	Prof A Hai Momeni
Publisher	Nangarhar University, Medical Faculty
Website	www.nu.edu.af
Copies	1000
Published	2016
Download	www.ecampus-afghanistan.org
Printed at	Afghanistan Times Printing Press, Kabul

This puplecation was financed by German Aid for Afghan Children a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it. Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Kabul
Office 0756014640
Email textbooks@afghanic.org

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2016

ISBN 978 – 0 – 9873172 – 0 – 9